# د قرآن
# ژباره

# د قرآن ژباړه

مولانا وحیدالدین خان

# سریزه

قرآن د الله کتاب دی چې پېغمبر (ص) ته ورکول شوی دی. قرآن د یوې ټولګې په بڼه نه دی نازل شوی، بلکې د ۲۳ کالو په موده کې د متفرقو برخو په بڼه نازل شوی دی. د اسلام پېغمبر (ص) لا په مکه کې و چې په ۶۱۰ز کال د قرآن لومړۍ برخه نازله شوه. ورپسې بیا همداسې نورې برخې نازلېدلې. د قرآن وروستۍ برخه په ۶۳۲ز کال کې نازله شوه، هغه وخت رسول (ص) په مدینه کې و. د قرآن دا نزول د جبریل ملایکې په وسیله شوی و. په آخره کې پخپله د جبریل له ښوونې سره سم، د قرآن بېلابېلې برخې د یوې ټولګې په بڼه ترتیب شوې .

په قرآن کې ټول ۱۱۴ سورتونه دي، ځینې یې اوږده او ځینې لنډ دي. آیتونه یې ټول ۶۲۳۶ دي. د تلاوت د اړتیا لپاره قرآن ټول په ۳۰ سیپارو او ۷ منزلونو وېشل شوی دی. قرآن د ۷مې میلادي پېړۍ په لومړي پاو (ربع) کې نازل شو. هغه وخت کاغذ اختراع شوی و او د بېلابېلو ونو د ریښو نه په لاسي صنعت جوړېده. هغه کاغذ به یې پاپیورس (Papyrus)باله. د قرآن هره برخه چې نازلېدله، په کاغذ به لیکل کېده او په عربي ژبه به یې قِرطاس (الانعام: ۷) باله. د همدې په مرسته به خلکو قرآن په خپله حافظه کې خوندي کاوه، ځکه هغه وخت قرآن د هغوی لپاره یوازینی اسلامي ادب و. قرآن په لمونځونو کې ویل کېده او د دعوت د کار لپاره خلکو ته لوستل کېده. په دې توګه قرآن په یوه وخت کې هم لیکل کېده او هم په یادو زده کېده .

د پېغمبر (ص) د ژوند تر وروستۍ زمانې پورې د قرآن د ساتلو همدا طریقه روانه وه. هغه (ص) چې په ۶۳۲ز کال کې وفات شو، نو ورپسې ابوبکر صدیق (رض) د اسلام لومړی خلیفه شو. هغه د یوه منظم اهتمام

له مخې د قرآن يوه مجلده نسخه سازه کړله. دا نسخه د لرغونې زمانې په کاغذ يا قرطاس سازه شوې وه .
هغه مجلد قرآن په څلورګُنجه (مربع) شکل و په دې خاطر يې رَبعه (Square)باله. په دې توګه قرآن د اسلام د لومړي خليفه په وخت کې د مجلد کتاب په بڼه خوندي شو. د درېيم خليفه عثمان بن عفان په زمانه کې د دې مجلد قران نورې نسخې سازې او بېلابېلو ښارونو ته ولېږل شوې. دا نسخې به د ښار په جامع جوماتونو کې ايښې وې، خلکو به هغه هم لوستلې او هم به يې ترې نورې نسخې جوړولې .
د قرآن د کتابت دا سلسله تر نولسمې ميلادي پېړۍ روانه وه. په نولسمه پېړۍ کې د چاپ ماشين اختراع شو او ورسره په صنعتي طريقه د کاغذ پراخه توليد هم پيل شو. په دې توګه نولسمه پېړۍ کې د چاپ ماشينونو (مطبعو) په وسيله د قرآن منظم چاپ پيل شو. د چاپ طريقو پرلپسې وده کوله، دې سره د قرآن چاپي نسخې هم ډېرې چاپ کېدلې. اوس د قرآن چاپي نسخې دومره عامې شوي چې په هر کور، هر جومات، هره کتابتون او هر بازار کې په پراخه اندازه موجودې دي. هر انسان چې د دنيا په هر ځای کې وي د قرآن ښاېسته چاپ شوې نسخې موندلای شي .
قرآن د الله کتاب دی. په خپله اصلي عربي ژبه خوندي دی. د داسې يوه کتاب ژباړه هېڅکله د اصلي کتاب بديل نه دی. د قرآن د ترجمې مقصد يوازې د پوهې نږدېوالی دی، خو دا په دې معنی نه ده چې څوک په عربي نه پوهېږي، هغه به په قرآن نه پوهېږي. قرآن د هغو لپاره هم د پوهېدو وړ دی چې په عربي نه پوهېږي. قرآن ظاهراً په عربي ژبه دی، خو د خپل حقيقت له مخې د طبيعت ژبه ده، يعنې هغه ژبه چې الله پرې د تخليق پر وخت ټول انسانان مستقيم مخاطب کړي وو. دغه خطاب په هرې ښځه او هر سړي کې په لاشعوري توګه ټل موجود وي. په دې

خاطر قرآن هر انسان لپاره د پوهېدو وړ کتاب دی، چاته په شعوري ډول او چاته په غیرشعوري ډول .
دا حقیقت قرآن کې په دې الفاظو بیان شوی دی: «بَلْ هُوَ آيَاتٌ بَيِّنَاتٌ فِي صُدُورِ الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ» (العنکبوت: ۴۹). یعنې دا واضح آیتونه دي د هغو خلکو په سینو کې چې علم ورته عطا شوی دی، دا په دې معنی چې قرآن کوم ربّاني حقیقت د شعور په ژبه بیانوي، هغه په لاشعوري ژبه له مخکې په انسان کې موجود دی. د قرآن پیغام انسان لپاره نابلده نه دی، دا د هغه معرفت لفظي اظهار دی چې انسان ورسره د فطرت په کچه له مخکې نه بلد دی .
قرآن کې ویل شوي کوم انسانان چې په وروسته زمانه کې پیدا کېږي، هغوی ټول په لومړنی بڼه د آدم د پېداېښت پر وخت پیدا کړی شوي وو. هغه وخت الله هغو انساني روحونو ته مستقیم خطاب وکړ. دا مسئله قرآن کې په دې توګه بیان شوې ده :
»او کله چې ستا د رب د بني آدم له خېټو د هغوی اولادونه را وویستل او هغه یې ګواهان کړل پخپله په هغوی (ایا زه ستاسې رب نه یم). هغوی وویل هو، موږ اقرار کوو. دا په دې خاطر چې تاسې د قیامت په ورځ ونه وایئ چې موږ خو په دې خبر نه وو. «(الاعراف: ۱۷۲) د الله او بنده تر منځ د یوې بلې مکالمې یادونه په قرآن کې داسې شوې ده :
»موږ امانت (اختیاري عمل) آسمانونو او ځمکې او غرونو ته وړاندې کړ، هغوی یې له پورته کولو انکار وکړ او ترې ووېرېدل، او انسان پورته کړ. بېشکه هغه ظالم او جاهل و.» (الاحزاب: ۷۲)
له دې دواړو آیتونو معلومېږي چې د تخلیق په پیل کې الله ټول انسانان په مستقیم ډول مخاطب کړي وو. په هغه خطاب چې کومې خبرې شوې وې، هغه د ټولو انسانانو په لاشعور کې خوندي کړې شوې دي. یعنې

انسان چې د قرآن په بڼه د الله کوم کلام لولي، دا يې له دې مخکې د الله له لوري په خطاب مستقيماً اورېدلي او پرې پوهېدلی دی. قرآن د انسان لپاره د کومې نوې خبرې ناڅاپي اورېدل نه دي، بلکې دا په يوې معلومې (بلدي) خبرې پوهېدل دي. حقيقت دا دی چې قرآن د انساني ذهن بيا را پرانيستل (Unfolding) دي .
که دا موضوع په نظر کې ونيسو، نو په دې خبره پوهېدل سخت نه دي چې د قرآن ژباړه (ترجمه) هم د يوې کافي وسيلې حيثيت لري. د کوم انسان طبيعت يا فطرت چې ژوندی وي او وروسته يې ځان (د بل چا له لوري) له عيارېدو (Conditioning) ساتلی وي، هغه چې کله د قرآن ژباړه ولولي نو د ذهن هغه خانې به يې را پرانيستل شي چې د الله لومړنی خطاب په کې له مخکې موجود دی. «عهدِ اَلَست» که د الله لومړی خطاب دی، نو قرآن د الله دويم خطاب دی. دواړه يو بل لپاره د تصديق حيثيت لري. که څوک په عربي نه پوهيږي يا لږ پوهيږي او هغه يوازې د قرآن ژباړه لوستلی شي، نو په قرآن پوهېدو کې به نه نهيلی کيږي. د قرآن دغه تصور په اوسنۍ زمانه کې ساينسي حقيقت شوی دی. په اوسنۍ زما کې د جنيټيک کوډ علم او انتراپولوجي دواړه د دې قرآني ليدلوري مکمل تائيد کوي .
د هر کتاب يوه موضوع (Subject) وي. د قرآن موضوع دا ده چې انسان د الله په تخليقي پلان (Creation plan of Allah) پوه کړي، يعني انسان ته دا وويل شي چې الله دا دنيا ولې جوړه کړې ده؟ په ځمکه د انسان د اوسېدو مقصد څه دی؟ له مرګ مخکې ژوند کې له انسانه څه تمه ده او له مرګ وروسته ژوند کې له انسان سره څه کېدونکي دي؟ انسان ابدي مخلوق دی. د ژوند سفر يې له مرګ وروسته هم دوام کوي. قرآن د ژوند د دې ټول سفر لپاره د يوه لارښود حيثيت لري. په دغه

حقیقت د انسان خبرول د قرآن مقصد هم دی او همدا یې د کلام موضوع هم ده .
الله انسان د یوه ابدي مخلوق په توګه پیدا کړی. بیا یې د هغه د ژوند موده په دوو برخو وېشلې ده. لږه برخه یې له مرګه مخکې موده کې ایښې ده او ډېره برخه یې له مرګه وروسته موده کې ایښې ده. له مرګ مخکې دوره د امتحان دوره ده او له مرګ وروسته دوره امتحان ته په کتو د ښه یا بد انجام موندلو دوره ده. قرآن د ژوند د همدې حقیقت د یوه پېژندګلو کتاب حیثیت لري .
قرآن په یوه اعتبار د مُنعم له اړخه د انعام یادونه ده. الله انسان له استثنایي ځانګړنو سره پیدا کړ. بیا یې هغه د ځمکې په څېر سیاره کې مېشت کړ چې د هغه د ژوند هر ډول ملاتړی سیستم موجود دی. د قرآن مقصد دا دی چې انسان د طبیعت له دې انعاماتو د ګټې اخیستو پر وخت مُنعم یاد وساتي. د انعاماتو د خالق اعتراف وکړي. د انعاماتو د کارونې پر وخت د منعم اعتراف کول او د هغه غوښتنې پوره کول، د ابدي جنت تصدیق دی. د انعاماتو د کارولو پر وخت مُنعم هېرول انسان د ابدي دوزخ مستحق کوي. قرآن په اصل کې د دغه لوی حقیقت یادونه ده .
تاسې چې قرآن لولئ نو په تکرار ډول به په کې داسې بیانات وګورئ چې دا د الله نازل کړی کلام دی. دا ظاهراً ساده خبره ده، خو که په پرتلیز ډول وکتل شي نو معلومېږي چې دا ډېره غیرمعمولي خبره ده. په دنیا کې ډېر داسې کتابونه شته چې خلک یې مقدس کتابونه ګڼي، خو له قرآن بغیر بل هېڅ مقدس دیني کتاب کې به دا ونه ګورئ چې لیکل شوي وي دا د خدای کلام دی. دغه ډول بیان په استثنایي ډول یوازې قرآن کې شته دی. په قرآن کې د دغه ډول بیان شتون د دې لوستونکي ته د پیل یو ټکی

(Starting point)ورکوي. هغه یې بیا مطالعه د عام انساني کتاب په توګه نه، بلکې د یوه استثنایي کتاب په توګه کوي .
د قرآن د بیان سبک هم ځانګړی دی. په عامو انساني کتابونو کې مسایل د تصنیفي ترتیب له مخې درج شوي وي. څېزونه په کې له الف تر ی په سلسله وار ډول بیانېږي، خو په قرآن کې دا سبک نشته. عام انسان ته به قرآن ظاهراً نامرتب کلام ښکاره شي، خو که د حقیقت له مخې ولیدل شي نو دا ډېر زیات مربوط او مرتب کلام ښکارېږي. د قرآن د کلام د سبک په اړه دا خبره کول سم دي چې سبک یې شاهانه سبک دی. قرآن چې لولئ داسې احساسېږي لکه د دې مصنف چې په یوه داسې لوړ مقام کې وي چې له هغه ځایه ټول انسانیت ګوري. ټول انسانیت یې احاطه کړی دی. هغه له خپل لوړ مقامه ټول انسانیت ته خطاب کوي. البته د دې خطاب پر وخت یې رُخ کله یوې ډلې ته اوړي او کله بلې ډلې ته .
د قرآن یوه ځانګړنه دا ده چې لوستونکی یې هره شېبه له مصنف سره خبرې کولای شي. د قرآن مصنف الله دی. هغه ژوندی دی. ټول انسانان یې احاطه کړي دی. مستقیماً د انسان هره خبره اوري او د هغه ځواب ورکوي. په دې خاطر د قرآن لوستونکو ته هره شېبه دا ممکنه وي چې الله سره رابطه قایمه کړي. له الله پوښتنه وکړي او هغه یې پوښتنه ځواب کړي .
څوک چې یوازې د رسنیو له لارې قرآن پېژني، هغوی عموماً داسې فکر کوي چې قرآن د جهاد کتاب دی او جهاد د هغوی په نزد: د تاوتریخوالي له لارې خپل هدف ترلاسه کول دی. مګر دا یوازې سوءتفاهم دی. هر څوک چې قرآن مستقیماً پخپله ولولي هغه به په دې پوهېدو کې ستونزې سره مخ نه شي چې قرآن له تاوتریخوالي سره هېڅ تعلق نه لري. قرآن د امن کتاب دی، نه د تاوتریخوالی او تشدد .

دا سمه ده چې د قرآن په تعليماتو کې يو تعليم هغه دی چې جهاد يې بولي، خو جهاد د سوله‌ايزو جدوجهد نامه ده، نه د متشدد عمل. په قرآن کې د جهاد تصور له دې آيته معلومېږي: « وَجَاهِدْهُمْ بِهِ جِهَادًا كَبِيرًا». (الفرقان: ۵۲)
د قرآن په دې آيت کې د قرآن په وسيله د جهاد کولو تعليم ورکول شوی دی. دا ښکاره خبره ده چې قرآن وسله نه ده، بلکې يو نظرياتي کتاب دی. قرآن د خدايي ايډيالوژی پېژندنه ده. له دې په قرآن کې د جهاد تصور په واضح ډول څرګندېږي. د قرآن له مخې جهاد په اصل کې د پُرامنه ايډيالوژيک جدوجهد (Peaceful ideological struggle) نامه ده. د دغه ايډيالوژيک جدوجهد نښه په قرآن کې دا ښودل شوې چې د قرآن پيغام د خلکو زړونو ته ښکته شي. (النساء: ۶۳)
د دې آيت له مخې د قرآن مطلوب قول هغه دی چې «قول بليغ» وي، يعنې داسې کلام چې د خلکو ذهن مخاطب کړي، خلک مطمئين کړي، خلک يې له امله د قرآن په صداقت باور وکړي او په خلکو کې فکري انقلاب را پورته کړي. دا د قرآن ماموريت دی او دغه ډول ماموريت يوازې د دلايلو په وسيله ترسره کېدای شي. د تاوتريخوالي، تشدد يا بل هر ډول مسلح جدوجهد په مرسته دغه نښه موندل ناممکن دي .
دا سهي ده چې په قرآن کې ځينې داسې آيتونه شته چې د قتال (War) اجازه ورکوي، خو دا آيتونه يوازې د جنګي حالاتو لپاره دي، يوازې د حملې پر وخت د دفاع په معنی دي. له دفاع پرته هېڅ جنګ په اسلام کې جايز نه دی. دغه دفاع هم يوازې يو قايم شوی دولت (Established state)کولای شي. له دولت بغير يوه فرد يا ډلې ته د جهاد پيلولو اجازه نشته .

د قرآن لوستو لپاره په دې خبره هم پوهېدل په کار دي چې دا کوم قانوني کتاب نه دی، بلکې دعوتي کتاب دی. د قران د کلام سبق قانوني نه دی، بلکې دعوتي دی. د قرآن ژبه د تعيناتو ژبه ده. په قانوني متن کې ځيزونه په لطفي ډول مطلوب وي، خو په دعوتي متن کې داسې نه وي. دعوتي متن کې يې ټينګار په معنی وي. په دعوتي کتاب کې د الفاظو حيثيت يوازې د وسيلې وي، خو په قانوني کتاب کې بيا الفاظ پخپله مقصود بالذات کيږي .
د دې يو اړخ دا دی چې په دعوتي متن کې د ټينګار د مقصد ترلاسه کولو لپاره د شدت سبک اختياريږي. په دعوتي متن کې داسې الفاظ کاريږي چې ظاهراً ډېر سخت ښکاريږي، خو په دعوتي کلام کې دغه سختي د تدبير پر بناء وي. په داسې کلام کې شدت ليدل او بيا هغه د قانوني شدت په معنی اخيستل به د ناپوهۍ خبره وي. د دې حکمت نتيجه دا ده چې په دعوتي کلام کې زياتره وخت داسې کيږي چې په دې کې داسې يوه خبره کيږي چې د قانوني سبک له پلوه ډېره سخته ښکاريږي، خو د دعوت سبک له مخې يوازې د ازمايلو لپاره وي، يوازې په دې خاطر وي چې د انسان طبيعت را ويښ شي او په هغه کې پټ احساسات متحرک شي. د دې وضاحت په يوه مثال کې کيږي .
د پيغمبر (ص) په زمانه کې د بدر غزوة (۲ هجري) پيښه شوه. دا غزوة رسول الله (ص) د دفاع په توګه وکړله. بريا يې په کې ومونده‌له. بيا يې د مخالفينو اويا کسه ونيول. بيا دا خلک د جنګي اسيرانو په توګه مدينې ته راوستل شول. د دې پيښې په اړه د قرآن دا آيت نازل شو: « مَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَنْ يَكُونَ لَهُ أَسْرَىٰ حَتَّىٰ يُثْخِنَ فِي الْأَرْضِ» (الانفال: ۶۷) يعنې کوم نبي ته دا جايزه نه ده چې هغه سره بنديان وي، تر هغې چې هغه په ځمکه ښه وينې تويې نه کړي .

که چېرې د دې آیت الفاظو ته د قانوني مفهوم له مخې وکتل شي نو د دې آیت معنی د اسیرانو حتماً وژل راځي. لکه څنګه چې معلومه ده چې دغه جنګي اسیران د آیت د نزول پر وخت د رسول (ص) په ولکه کې وو.
که چېرې د دې آیت قانوني ژبه وای نو ښایي داسې به وو چې: تا چې کوم اویا تنه د جنګ په میدان کې نیولي او مدینې ته دې راوستي، هغوی ټول د خپل جرم په اساس د سر پرې کولو دي، په دې خاطر یې زر ووژنه او ختم یې کړه. خو نه په قرآن کې داسې آیت راغلی او نه رسول دغه آیت قانوني ایت ګڼلی او د دې لفظي تعمیل یې کړی دی .
له دې پېښې واضح ښکاري چې دا آیت د ظاهري الفاظو په اعتبار مطلوب نه و، بلکې د خپل حقیقي اعتبار له مخې مطلوب و. دا د کلام د شدت مسئله وه او په دې خاطر وه چې جنګي اسیران په ځان کې د اصلاح جذبه پیدا کړي. په بل عبارت دا چې د قرآن په دې آیت کې چې کومه خبره راغلې، هغه قانوني حکم نه و بلکې یوازې د فشار ژبه (Language of hammering)وه. د دې آیت مطلب د مجرمانو اصلاح وه، نه د هغوی وژل. همدې بندیانو کې بیا وروسته ډېرو اسلام ومانه، لکه سهیل بن عامر او نور . ...
څوک چې د قرآن په وسیله حقیقت ومومي قران ورته د عمل دوه اړخیزه پروګرام ورکوي. په خپل ژوند کې د الله د هدایت کامله پیروي، او نور خلک د الله له دې هدایته خبرو. د الله د هدایت پیروي د معرفت له پیله یا د خدایي حقیقت له موندلو کیږي. کوم انسان چې د قرآن په وسیله حقیقت ته ورسیږي نو یو ذهني انقلاب په کې را پورته کیږي. فکر یې بدلیږي. د خوښېدو او نه خوښېدو معیار یې بدلیږي. او ژوند یې له باطنه تر ظاهره ټول نوي رباني چوکاټ کې راځي .

د خداوندي معرفت دغه اظهار چې په کومو بڼو کېږي، هغوی د ذکر، عبادت، نېک سلوک او تقوادار ژوند په عبارتونو بلل شوي دي. حقیقت ته رسېدل یا د حقیقت کشف تخنیکي کشف نه دی او کوم انسان چې د ژوند په حقیقت پوه شي هغه پخپله د خپل فطرت یا طبیعت په زور نوی انسان کېږي. د حقیقت موندل د انسان لپاره له یوه ژوند وروسته بل ژوند موندل دي. دا نوی ژوند د داسې نیالګي مثال لري چې تل وده کوي او د ودې او پرمختګ دا سفر یې هېڅکله نه ختمېږي .

د قران په وسیله چې څوک حقیقت ته ورسېږي، د هغوی د ژوند د پروګرام دویم اړخ هغه دی چې په قرآن کې دعوت الی الله بلل شوی دی. یعنې نور خلک په خدایي حقیقت پوهول. د دعوت دغه کار ډېر زیات سنجیده کار دی. د مکمل وقف کېدو په معنی دی. له همدې پلوه دا جهاد هم بلل شوی دی .

د قرآن له مخې، جهاد په مکمل ډول غیرسیاسي عمل دی. د دعوتي جهاد هدف د انسان زړه او ذهن بدلول دي. او په زړه او ذهن کې بدلون یوازې د سوله ایز تبلیغ په وسیله راځي، نه د کوم جبر یا تاوتریخوالي په وسیله .

د قرآن مطلوب انسان، رباني انسان (آل عمران: ۷۹) دی، یعنې هغه انسان چې په دې دنیا د رب بنده انسان شي او د رب‌رُخی ژوند وکړي. د رباني انسان کېدو دغه پروسه تزکیه (البقرة: ۱۲۹) بلل شوې ده. د قرآن له مخې، جنت د هغو خلکو لپاره دی چې په دې دنیا کې د ځان تزکیه وکړي، چې د مزګّی انسان په توګه بلې دنیا ته داخل شي. (طه: ۷۶)

تزکیه د تطهیر (Purification) یا سوچه کیدو په معنی ده، یعنې له خپل شخصیته نامطلوب څیزونه لرې کول. د شخصیت د پاکولو دا پروسه،

مسلسله پروسه ده. دا هېڅکله نه ختمېږي. د قران په مومن کې به دغه پروسه د هغه د ژوند تر وروستۍ شېبې روانه وي .
اصل دا دی چې هر انسان د سم فطرت خاوند پیدا کېږي. د زېږون پر وخت هر انسان طبیعي وي، خو د دنیا ژوند او ورځنۍ پېښې یې پر طبیعي شخصیت منفي خاپونه جوړوي. غوسه، کرکه، حسد، رخه، تعصب،کبر، بې‌اعترافي او انتقام ... دا ټول منفي خاپونه دي چې د انسان طبیعي شخصیت ناپاکه کوي. په داسې حالت کې هر انسان په خپل ځان کې فکر کوي او په دې طریقه د ځان تزکیه کوي، په همدې طریقه ناپاکه شخصیت په طبیعي شخصیت بدلوي. د هر انسان چاپېریال له هغه عیار شوی شخصیت جوړوي. اوس باید هر انسان ځان له دغه عیار کېدو خلاص کړي او بېرته طبیعي شخصیت شي. د همداسې طبیعي شخصیت قرآني نوم ربّاني انسان دی .

نوی ډیلی، ۳ جون، ۲۰۱۰

وحیدالدین خان

www.mwkhan.com

## د سورتونو فهرست


سوره الفاتحه ۱ ........................................ 19
سوره البقره ۲ ........................................ 19
آل عمران سوره ۳ ........................................ 60
سوره النساء ۴ ........................................ 83
سوره المائده ۵ ........................................ 107
سوره الانعام ۶ ........................................ 126
سوره الاعراف ۷ ........................................ 147
سوره الانفال ۸ ........................................ 170
سوره التوبة ۹ ........................................ 178
سوره یونس ۱۰ ........................................ 195
سوره هود ۱۱ ........................................ 207
سوره یوسف ۱۲ ........................................ 220
سوره الرعد ۱۳ ........................................ 232
سوره ابراهیم ۱۴ ........................................ 238
سوره الحجر ۱۵ ........................................ 244
سوره النحل ۱۶ ........................................ 249
سوره بني اسرائیل ۱۷ ........................................ 263
سوره الکهف ۱۸ ........................................ 274
سوره مریم ۱۹ ........................................ 285
سوره طه ۲۰ ........................................ 293
سوره الانبیاء ۲۱ ........................................ 303
سوره الحج ۲۲ ........................................ 311
سوره المومنون ۲۳ ........................................ 320
سوره النور ۲۴ ........................................ 328
سوره الفرقان ۲۵ ........................................ 337

سوره الشعراء ۲۶ ........................................................ 343
سوره النمل ۲۷ ........................................................ 353
سوره القصص ۲۸ ........................................................ 361
سوره العنکبوت ۲۹ ........................................................ 371
سوره الروم ۳۰ ........................................................ 377
سوره لقمان ۳۱ ........................................................ 383
سوره السجده ۳۲ ........................................................ 387
سوره الاحزاب ۳۳ ........................................................ 390
سوره سبا ۳۴ ........................................................ 398
سوره فاطر ۳۵ ........................................................ 404
سوره یس ۳۶ ........................................................ 410
سوره الصافات ۳۷ ........................................................ 415
سوره ص ۳۸ ........................................................ 422
سوره الزمر ۳۹ ........................................................ 427
سوره المومن ۴۰ ........................................................ 435
سوره حم السجده ۴۱ ........................................................ 444
سوره الشوری ۴۲ ........................................................ 449
سوره الزخرف ۴۳ ........................................................ 455
سوره الدخان ۴۴ ........................................................ 462
سوره الجاثیه ۴۵ ........................................................ 464
سوره الاحقاف ۴۶ ........................................................ 468
سوره محمد ۴۷ ........................................................ 472
سوره الفتح ۴۸ ........................................................ 477
سوره الحجرات ۴۹ ........................................................ 481
سوره ق ۵۰ ........................................................ 483
سوره الذاریات ۵۱ ........................................................ 486

سوره الطور ۵۲ ........................................................ 489
سوره النجم ۵۳ ........................................................ 491
سوره القمر ۵۴ ........................................................ 494
سوره الرحمان ۵۵ ........................................................ 497
سوره الواقعه ۵۶ ........................................................ 500
سوره الحدید ۵۷ ........................................................ 503
سوره المجادله ۵۸ ........................................................ 507
سوره الحشر ۵۹ ........................................................ 510
سوره الممتحنه ۶۰ ........................................................ 513
سوره الصّف ۶۱ ........................................................ 515
سوره الجمعه ۶۲ ........................................................ 517
سوره المنافقون ۶۳ ........................................................ 518
سوره التغابن ۶۴ ........................................................ 519
سوره الطلاق ۶۵ ........................................................ 521
سوره التحریم ۶۶ ........................................................ 523
سوره الملک ۶۷ ........................................................ 525
سوره القلم ۶۸ ........................................................ 528
سوره الحاقه ۶۹ ........................................................ 530
سوره المعارج ۷۰ ........................................................ 532
سوره نوح ۷۱ ........................................................ 534
سوره الجن ۷۲ ........................................................ 536
سوره المزمل ۷۳ ........................................................ 538
سوره المدثر ۷۴ ........................................................ 539
سوره القیامه ۷۵ ........................................................ 541
سوره الدهر ۷۶ ........................................................ 542
سوره المرسلت ۷۷ ........................................................ 544

سوره النبا ۷۸ ............................................................ 546
سوره النازعات ۷۹............................................................ 547
سوره عبس ۸۰............................................................ 549
سوره التكوير ۸۱............................................................ 550
سوره انفطار ۸۲ ............................................................ 551
سوره التطفيف ۸۳ ............................................................ 552
سوره الانشقاق ۸۴............................................................ 553
سوره البروج ۸۵ ............................................................ 554
سوره الطارق ۸۶............................................................ 555
سوره الاعلى ۸۷............................................................ 556
سوره الغاشيه ۸۸ ............................................................ 556
سوره الفجر ۸۹ ............................................................ 557
سوره البلد ۹۰ ............................................................ 558
سوره الشّمس ۹۱ ............................................................ 559
سوره الليل ۹۲ ............................................................ 559
سوره الضحى ۹۳ ............................................................ 560
سوره النشراح ۹۴ ............................................................ 561
سوره التين ۹۵ ............................................................ 561
سوره العلق ۹۶............................................................ 561
سوره القدر ۹۷ ............................................................ 562
سوره البينه ۹۸............................................................ 562
سوره الزلزال ۹۹............................................................ 563
سوره العاديات ۱۰۰............................................................ 563
سوره القارعه ۱۰۱............................................................ 564
سوره التكاثر ۱۰۲ ............................................................ 564
سوره العصر ۱۰۳ ............................................................ 564

سوره الهمزه ۱۰۴ ........................................................................ 565
سوره الفیل ۱۰۵ ........................................................................ 565
سوره قریش ۱۰۶ ........................................................................ 565
سوره الماعون ۱۰۷ ........................................................................ 566
سوره الکوثر ۱۰۸ ........................................................................ 566
سوره الکافرون ۱۰۹ ........................................................................ 566
سوره النصر ۱۱۰ ........................................................................ 567
سوره اللهب ۱۱۱ ........................................................................ 567
سوره الاخلاص ۱۱۲ ........................................................................ 567
سوره الفلق ۱۱۳ ........................................................................ 567
سوره الناس ۱۱۴ ........................................................................ 568

## سوره الفاتحه ۱

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- ټول تعریفونه الله لره دي چې د ټول جهان مالک دی. ۲- ډېر مهربان او د ډېر رحم خاوند دی. ۳- د عدل د ورځې مالک دی. ۴- موږ ستا عبادت کوو او له تا مرسته غواړو. ۵- موږ ته سمه لاره نساء ۴ خلکو لاره نه چې ستا غضب پرې شوی او نه د هغو خلکو لاره چې بې‌لارې شوي دي.

## -سوره البقره ۲

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱ الف لام میم. ۲- دا د الله کتاب دی. په دې کې هېڅ شک نشته. لاره ښیي وېرېدونکو ته. ۳- هغه خلک چې ایمان لري بې له لیدلو، او لمونځ کوي او څه چې موږ ورکړي له هغې مصرف کوي. ۴- او هغو چې ایمان لري په هغه څه چې په تاسې نازل شوي او په هغو چې له تاسې مخکې نازل شوي، او په آخرت ایمان لري. ۵- هماغو خلکو د خپل رب لاره موندلې ده او هماغه بریالیتوب ته رسېدونکي دي.
۶- کومو خلکو چې انکار کړی، هغوی ته یو ډول دی، که یې ووېروې او که یې ونه وېروې، هغوی یې -نه مني. ۷- الله د هغوی په زړونو او د هغوی په غوږونو مهر لګولی دی، او د هغوی په سترګو پرده ده، او د هغوی لپاره لوی عذاب دی.
۸ -او په خلکو کې ځینې داسې هم شته چې وایي موږ په الله او د آخرت په ورځ ایمان راوړی، خو هغوی د ایمان خاوندان نه دي. ۹- هغوی الله او مومنان تېرایستل غواړي، خو هغوی یوازې خپل ځان تېرباسي او د

دې شعور ورسره نشته. ۱۰- د هغوی په زړه کې مرض دی او الله دغه مرض لوی کړی دی. او د هغوی لپاره دردناک عذاب دی، په دې خاطر چې دروغ وايي. ۱۱- او کله چې هغوی ته وويل شي چې په ځمکه فساد مه کوئ، نو وايي چې موږ خو اصلاحکونکي یوو. ۱۲- خبردار، همدا خلک فساد کونکي دي، خو هغوی نه دي خبر. ۱۳ او کله چې ورته وويل شي چې داسې ايمان راوړئ لکه نور خلک يې چې راوړي، نو وايي ايا موږ هغسې ايمان راوړو لکه بېعقله خلک يې چې راوړي. خبردار، چې کمعقل خلک دوی دي، خو نه پوهيږي. ۱۴- او کله چې د ايمان خاوندانو سره مخ شي نو وايي چې موږ ايمان راوړی دی، او کله چې د خپلو شیطانانو مجلس ته ورسيږي، نو وايي چې موږ له تاسې سره یوو، هغوی سره خو یوازې خندا کوو. ۱۵- الله په دوی استهزا کوي او دوی ته د دوی په سرکشۍ کې موقع ورکوي، دوی سرګردانه ګرځي. ۱۶- دا هغه خلک دي چې د لارې پرځای يې ګمراهي واخيستله، د دوی تجارت ګټور ثابت نه شو، نه دوی لار موندونکي شول.
۱۷- د دوی مثال داسې دی لکه يو کس چې اور بل کړي، کله چې اور د هغوی شاوخوا روښانه کړه، نو الله ترې د سترګو رڼا واخيستله او هغوی يې په تیاره کې پرېښودل چې هېڅ ورته نه ښکاريږي. ۱۸- هغوی کاڼه دي، ګونګي دي، ړانده دي. اوس بېرته ګرځېدونکي نه دی. ۱۹- یا يې مثال داسې دی لکه له آسمانه چې باران را وريږي او په هغه کې تیاره هم وي او برېښنا هم پرقيږی. دوی د تندر له وېرې، د مرګ نه د خلاصون لپاره خپلې ګوتې په خپلو غوږونو کې ږدي. حال دا چې الله منکرين په خپله ولکه کې نيولي دي. ۲۰- زر ده چې برېښنا د دوی نظر واخلي. کله چې په هغوی برېښنا پرقيږي، هغوی په کې ځي او کله چې

پرې تياره خپرېږي، نو هغوی ودرېږي. او كه الله وغواړي، د هغوی غوږونه او سترګې به ترې واخلي. يقيناً الله په هر څه قادر دی.
۲۱- ای خلكو! د خپل رب عبادت وكړئ چې تاسې يې پيدا كړي يئ او هغه خلک هم چې تر تاسې مخكې تېر شوي، چې تاسې له دوزخ نه وساتل شئ. ۲۲- هغه ذات چې ځمكه يې تاسې ته فرش كړه او آسمان يې چت كړ، او له آسمانه يې اوبه را بښكته كړې، او له هغې يې ميوه پيدا كړه، ستاسې د خوراک لپاره. نو تاسې هېڅوک له الله سره مه برابروئ، حال دا چې تاسې پوهېږئ. ۲۳- كه تاسې په دې كلام كې شک لرئ چې موږ په خپل بنده نازل كړی، نو راوړئ د دې په شان يو سورة او را وغواړئ خپل مرستيالان هم له الله پرته، كه تاسې رښتيني يئ. ۲۴- نو كه تاسې دا ونه كړی شول او هېڅكله يې نه شئ كولای، نو ووېرېږئ له هغه اوره چې خاشاک به يې شي انسانان او تيږې. هغه تيار شوی دی د منكرانو لپاره. ۲۵- او زېری وكړه په هغو خلكو چې ايمان راوړي او هغه خلک چې نېک كار كوي، د دې خبرې چې د هغوی لپاره به داسې باغونه وي چې ور لاندې به نهرونه بهېږي. كله چې هغوی ته د خوراک لپاره له دې باغونو ميوه وركړل شي، نو هغوی به وايي: دا هغه ميوه ده چې له دې مخكې هم موږ ته راكړل شوې وه. او وركړل به شي هغوی ته د يو بل په شان. او د هغوی لپاره به پاكې جوړې (زوج) وي. او هغوی به په هغه (جنت) كې تل اوسېږي.
۲۶- الله په دې نه شرمېږي چې د ماشي يا له هغه هم د كوم واړه شي مثال راوړي. چې څوک ايمان لري، هغوی پوهېږي چې دا د هغوی د رب له طرفه حق دی. او څوک چې منكر دي هغوی وايي چې د دې مثال په ويلو الله څه غوښتي دي. الله د دې په وسيله ډېر خلک ګمراه كوي او ډېرو خلكو ته پرې لاره ښيي. او هغه خلک ګمراه كوي چې نافرمانه

دي. ۲۷- څوک چې له الله سره کړې وعده ماتوي او هغه څه ماتوي چې الله یې د پوره کولو حکم کړی دی، او په ځمکه فساد پیدا کوي. هغه خلک تاواني دي. ۲۸- ته څنګه له الله انکار کوې، حال دا چې ته بې ساه وې، نو هغه درته ژوند درکړ او بیا به هغه مرګ درکړي. بیا به ژوند درکړي. بیا به تاسې هغه ته ور وګرځئ. ۲۹ - همهغه دی هغه چې تاسې ته یې هغه ټول پیدا کړل چې په ځمکه کې دي. بیا یې آسمان خوا ته توجه وکړه او اووه[۷] آسمانونه یې جوړ کړل. او هغه په هر څه پوهېدونکی دی.
۳۰- او بیا چې ستا رب ملایکو ته وویل چې زه په ځمکه یو خلیفه پیدا کوم. ملایکو وویل: ایا ته په ځمکه داسې خلک آبادوې چې هلته فساد وکړي او وینې تویې کړي. او موږ ستا حمد وایوو او پاکي دې بیانوو. الله وویل زه په هغه (څه) پوهېږم چې تاسې پرې نه پوهېږئ. ۳۱- او الله آدم ته ټول نومونه وښودل، بیا یې هغه د ملایکو مخې ته وړاندې کړل او ویې ویل چې که تاسې رښتینی یئ، نو ماته د دې نومونه واخلئ. ۳۲- ملایکو وویل چې ته پاک یې. موږ خو په هغه څه پوهېږو چې تا راته ویلي دي. بېشکه چې ته د علم او حکمت خاوند یې. ۳۳- الله وویل ای آدمه، دوی ته د هغو نومونه ووایه. کله چې آدم نومونه وویل، نو الله وویل ما درته نه وویل چې د ځمکې او آسمانونو په راز زه پوهېږم. او ماته معلوم دي هغه چې تاسې یې ښکاره کوئ او هغه چې تاسې یې پټوئ. ۳۴- او کله چې موږ ملایکو ته وویل چې آدم ته سجده وکړئ، نو هغوی سجده وکړله، خو ابلیس ونه کړله. هغه انکار وکړ، غرور یې وکړ او له منکرانو شو. ۳۵- او موږ وویل ای آدمه! ته او ستا مېرمن دواړه په جنت کې اوسئ، له همدې خوراک کوئ، ښه په آسانه چې له هر ځایه یې غواړئ. او هغې ونې ته مه نږدې کېږئ ګني په ظالمانو کې به حساب

شئ. ۳۶- بیا شیطان د هغې ونې په مرسته هغوی تېرایستل او له هغه خوشحالۍ یې راوویستل چې په کې وو. او موږ وویل چې تاسې له دې ځایه ښکته شئ. تاسې د یو بل دښمنان شوئ.او تاسې لپاره په ځمکه د یوې مودې لپاره پاتې کېدل او ژوند کول شوو. ۳۷- بیا ادم له خپل رب څو ټکي زده کړل، نو الله ورته متوجه شو. بېشکه هغه توبه قبلونکی او د رحم خاوند دی. ۳۸- موږ وویل تاسې ټول ښکته شئ. بیا چې تاسې ته زما له اړخه کوم هدایت درشي، نو کوم خلک چې زما د هدایت پیروي کوي، د هغوی لپاره به وېره نه وي او نه به خفه وي. ۳۹- او کوم خلک چې انکار کوي او زموږ نښې دروغ بولي، نو هماغه خلک دوزخیان دي او په هغه کې به همېشه وي.
۴۰- ای بني اسرائیلو! را یاد کړئ زما هغه احسان چې په تاسې مې کړی و. او ماسره کړې وعده پوره کړئ، زه به ستاسې وعده پوره کړم او له ما ووېرېږئ. ۴۱- او ایمان راوړئ په هغه څه چې ما نازل کړی. تصدیق کوي د هغه څه چې له تاسې سره دی. او تاسې تر ټولو مخکې له دې انکار کونکي مه جوړېږئ. زما آیتونه په ناڅیزه بیه مه خرڅوئ. او له ما ووېرېږئ.۴۲- او سم او غلط سره مه ګډوئ او رښتیا مه پټوئ کله چې تاسې پوهېږئ. ۴۳- او لمونځ کوئ او زکات ورکوئ او له ټیټېدونکو سره ټیټ شئ. ۴۴- تاسې نور خلک نېکۍ ته را بولئ او خپل ځان هېروئ. سره د دې چې تاسې کتاب لولئ، نو تاسې نه پوهېږئ ۴۵- او مرسته وغواړئ په صبر او لمانځه او بېشکه هغه سخت دی، خو په هغو خلکو نه دی چې وېرېږي. ۴۶- هغه کسان چې یقین لري په دې چې له خپل رب سره به ګوري او هغه ته ستنېدونکي دي.
۴۷- ای بني اسرائیلو! زما هغه احسان را یاد کړئ چې ما په تاسې کړی او دا خبره هم چې ما تاسې ته د نړۍ په مخلوق فضیلت درکړ. ۴۸- او

ووېرېږئ له هغې ورځې چې يو نفس به د بل نفس هېڅ په کار نه راځي. نه به د هغه له اړخه کوم شفاعت قبلېږي. او نه به ترې په بدله کې څه اخيستل کېږي او نه به ورسره څه مرسته کېږي. ۴۹- او بيا چې موږ تاسې د فرعون له خلکو وساتلئ، هغوی تاسې ته ډېر تکليف درکاوه، ستاسې زامن يې حلالول او ستاسې ښځې يې ژوندۍ ساتلې. او په هغه کې ستاسې د رب له طرفه درووند امتحان و. ۵۰- او کله چې موږ سيند بېل کړ او تاسې مو پورې ويستئ. بيا مو تاسې وساتلئ او د فرعون خلک مو ډوب کړل او تاسې ورته ليدل.۵۱- او بيا چې موږ موسی سره د څلوېښتو[۴۰] شپو وعده وکړله. بيا تاسې له هغې وروسته خوسی خپل معبود کړ او تاسې ظالمان وئ. ۵۲- بيا مو له هغې وروسته تاسې وبښلئ چې تاسې شکر کونکي شئ.
۵۳- او کله چې موږ موسی ته کتاب او د سم او غلط د فرق څيز (معجزه) ورکړه چې تاسې سمه لار ومومئ. ۵۴- کله چې موسی خپلو خلکو ته وويل: تاسې د خوسي په عبادت کولو ځانونه ګمراهان کړي دي. اوس خپل خالق ته متوجه شئ او خپل مجرمان په خپلو لاسونو ووژنئ. دا ستاسې لپاره ستاسې د خالق په نزد غوره ده. نو الله ستاسې توبه قبوله کړه. بېشکه چې هغه د توبې قبلونکی او رحم کونکی دی. ۵۵- ياد کړئ چې تاسې وويل: موږ تا تر هغې نه منوو چې الله په خپلو سترګو ونه وينوو. نو تاسې وليدل چې برېښنا وپرقېدله. ۵۶- بيا موږ تاسې له مړينې وروسته بېرته را پورته کړئ چې تاسې شکرکونکي شئ. ۵۷- بيا موږ په تاسې د وريځو سيوری وکړ او تاسې ته مو من و سلوی در ولېږله، ومو ويل: وخورئ له هغو پاکو شيانو چې موږ تاسې ته درکړي دي، او هغوی زموږ هېڅ تاوان ونه کړ، بلکې خپل تاوان يې کاوه.

۵۸- یاد کړئ چې بیا موږ وویل: دې ښار ته ننوځئ او څه مو چې خوښه وي، هغه آزاد وخورئ. او ننوځئ دروازو باندې په ټيټ سر او ووايئ چې: ای ربه! زموږ ګناهونه وبښه. موږ به ستاسې ګناهونه وبښوو او نېکی کونکو ته به زياته هم ورکړو. ۵۹-بيا هغوی ته چې کومه خبره شوې وه، هغه خبره يې بدله کړه. نو کومو خلکو چې ظلم کړی و، د هغوی د نافرمانئ له وجې مو پرې له آسمانه عذاب نازل کړ. ۶۰- او کله چې موسی د خپلو خلکو لپاره اوبه وغوښتلې، نو موږ ورته وويل چې خپله امساء په تيږې ووهه! او له هغې دولس چينې را وخوټېدلې. هرې قبيلې خپل خپل ګودر وپېژنده. (موږ وويل) وخورئ او وڅښئ د الله له رزق څخه او په ځمکه فساد کونکي مه جوړېږئ. ۶۱- کله چې تاسې وويل: موسی، موږ په يو ډول خوړو صبر نه شوو کولای، نو د الله نه وغواړه چې موږ ته هغه څه راکړي چې له ځمکې راشنه کيږي، سابه او خټکی او اوږه اوکلول، او پياز. هغه وويل: تاسې ادنی شی اخلئ او په اعلی شي يې بدلوئ. يوه ښار ته لاړ شئ او هلته به تاسې هغه ټول شيان پيدا کړئ چې تاسې يې غواړئ. او په هغوی ذلت او محتاجي نازل شول او د الهي غضب وړ وګرځېدل. دا په دې خاطر وشول چې (هغوی) د الله له نښو انکار کاوه او نبيان يې ناحقه وژل. دا له دې امله (وشول) چې هغوی نافرماني کوله او له حده وتل.
۶۲- نو کومو خلکو چې ايمان راوړی، او کوم چې يهوديان، نصرانيان او صابيان دي، په هغوی کې چې چا په الله او د آخرت په ورځ ايمان راوړ، او نيکي يې وکړله، د هغوی لپاره له الله سره اجر دی. او هغوی به نه وېرېږي او نه به خفه وي.
۶۳- (ای بني اسرائيلو)، موږ له تاسې يوه وعده واخيستله، په تاسې مو يو لوی غر را پورته کړ او ومو ويل: څه چې موږ درکړي، هغه کلک

ونیسئ او په دې کې چې څه دي هغه یاد وساتئ چې وساتل شئ. ۶۴- له
هغې وروسته ترې تاسې سرغړونه وکړله. که د الله فضل او رحمت نه
وای، نو ضرور به هلاک شوي وای. ۶۵- او د هغو خلکو په حال تاسې
خبر یئ چې د سبت په مسئله کې د الله له حکم نه ووتل، نو موږ ورته
وویل چې تاسې ذلیلې بیزوګانې شئ. ۶۶- موږ د هغوی برخلیک د هغوی
د خپل نسل او راتلونکو لپاره یو مثال او عبرت کړ او په دی کې موږ د
وېرېدونکو لپاره نصیحت کېښود.
۶۷- کله چې موسی خپلو خلکو ته وویل چې الله تاسې ته د یوې غوا د
حلالولو حکم کوي. هغوی وویل: ایا ته له موږ سره ټوکې کوې. هغه
ورته وویل: زه له داسې ناپوه کېدو له الله پناه غواړم. ۶۸- هغوی وویل:
له خپل رب پوښتنه وکړه چې څه ډول غوا باید وي. هغه ورته وویل: الله
فرمایي چې نه باید ډېره ځوانه وي او نه ډېره زړه، منځنۍ دې وي، نو
څنګه حکم چې درته شوی هغسې وکړئ. ۶۹- هغوی وویل: له خپل رب
نه زموږ لپاره پوښتنه وکړه چې وواېي کوم رنګ باید وي. هغه وویل:
الله فرمایي چې روښانه ژېړه غوا وي او په کتونکو ته ښه ښکارېږي.
۷۰- هغوی وویل: له خپل رب نه زموږ لپاره پوښتنه وکړه چې موږ ته
وواېي غوا باید څه ډول وي، موږ ته خو ټولې غواګانې یو رنګه ښکاري.
که د الله رضا وي، موږ ته به سمه لار وښودل شي. ۷۱- موسی وویل:
ستاسې رب وایي غوا باید داسې وي چې قولبه یې نه وي کړي، پټي یې
نه وي اوبه کړي، بلکل روغه وي او داغ په کې نه وي. هغوی ورته
وویل اوس دې راته سمه خبره وکړله او بیا یې غوا قرباني کړله. که څه
هم هغوی به داسې نه وای کړي. ۷۲- بیا چې تاسې (بني اسرائیلو) یو
کس وواژه او په یو بل مو یې تور پورې کړ، سره د دې چې تاسې څه
پټول، الله ته یې را ښکاره کول منظور وو. ۷۳ نو موږ حکم وکړ چې

(مړی) د دې (غوا) په يوې ټوټې ووهئ. په دې ډول الله مړي را ژوندي کوي او تاسې ته خپلې نښې ښيي چې تاسې پوه شئ.
۷۴- بيا ستاسې زړونه د تيږو په شان او تر هغې هم ډېر کلک شول. په تيږو کې هم ځينې داسې وي چې نهرونه ترې بهيږي. ځينې تيږي چوي او اوبه ترې راوځي. او ځينې تيږې داسې هم وي چې د الله له وېرې غورځيږي. او تاسې چې څه کوئ، الله له هغو بې خبره نه دی.
۷۵- او بيا تاسې دا تمه لرئ چې هغوی (يهوديان) به ستاسې په وينا ايمان راوړي سره د دې چې په دوی کې ځينې خلک داسې دي چې د الله کلام يې اورېده او بيا يې هغه له پوهېدو وروسته بدلاوه، او هغوی پوهيږي. ۷۶- دوی چې کله د ايمان خاوندانو سره مخ کيږي، نو وايي چې موږ ايمان راوړی دی. او کله چې په خپلو کې له يو بل سره مخ کيږي، نو وايي: ته ورته هغه خبرې کوې چې الله موږ ته ښودلې ده. دا به هغوی يوازې د الله په مخ کې ستا په وړاندې د دليل په توګه وکاروي. ايا ته نه پوهيږې. ۷۷- ايا دوی نه پوهيږي چې الله په هغو ټولو پوهيږي چې دوی يې پټوي او ښکاره کوي.
۷۸- او په هغوی کې داسې نالوستي خلک هم شته چې د کتاب په هکله سمه پوهه نه لري، يوازې د خپلو خواهشاتو فکر لري او په ګومانونو پسې ځي. ۷۹- غضب دی په هغو خلکو چې په خپلو لاسونو کتاب ليکي او بيا يې په ناڅيزه بيه خرڅولو لپاره د الله کتاب بولي. غضب دې وي په هغوی د هغه څه له وجې چې په خپلو لاسونو يې ليکلي او غضب دې وي په هغوی د هغه څه لپاره چې هغوی ګټلي.۸۰- هغوی وايي چې د دوزخ اور په موږ نه لګيږي (او که چېرې ولګيږي)، يوازې يو څو ورځې به وي! ووايه (هغوی ته): ايا تاسې له الله کومه وعده اخيستې- چې الله خپله وعده هېڅکله نه ماتوي- که په الله پورې داسې خبره کوئ

چې تاسې پرې نه پوهېږئ. ۸۱- په یقین سره، چا چې بدي کړې او خپلې ګناه په ولکه کې نیولي، هماغه خلک دوزخیان دي چې تل به په کې اوسیږي. ۸۲- او څوک چې ایمان راوړي او چا چې نیک عمل کړی وي، هغوی به جنت ته ځي او تل به په کې اوسیږي.
۸۳- (یاد کړئ) چې موږ له بني اسرائیلو وعده واخیستله چې تاسې به له الله بغیر د بل چا عبادت نه کوئ او له خپل مور او پلار، خپلوانو، یتیمانو او مسکینانو سره به ښه چلند کوئ، او دا چې خلکو سره په نرمې خبرې وکړئ، لمونځ کوئ او زکات ورکوئ. بیا له لږو کسانو بغیر، تاسې له هغې (وعدې) سرغړونه وکړله او اعتناء مو ونه کړه.
۸۴- او کله چې موږ له تاسې وعده واخیستله چې د خپلو خلکو وینه به نه تویوئ، او خپل خلک به له کورونو نه، نه وباسئ، بیا تاسې (په دې وعدې) اقرار وکړ او تاسې یې ګواهان یئ. ۸۵- اوس همدا تاسې د یو بل وینه تویوئ او ځینې خپل خلک د هغوی له ځمکو وباسئ، د یو په مقابل کې له بل سره مرسته په ظلم او ګناه کوئ، خو که بیا هغوی تاسې ته د بندیانو په توګه راشي، نو تاسې د فدیې په ورکولو هغوی آزادوئ. سره د دې چې پخپله (له کورونو) د هغوی ویستل په تاسې حرام وو. ایا تاسې د الهي کتاب یوه برخه منئ او له یوې برخې انکار کوئ. نو په تاسې کې که څوک داسې کوي، د هغوی لپاره تر دې لویه جزا څه ده چې په دنیا کې د رسوایۍ ژوند وکړي او د قیامت په ورځ په سخت عذاب کې واچول شي. او الله له هغه څه ناخبره نه دی چې تاسې یې کوئ. ۸۶- همدا هغه خلک دي چې د آخرت د ژوند په بیه د دنیا ژوند اخلي. نو نه به د دوی عذاب کم شي او نه به ورسره مرسته وشي.
۸۷- موږ موسی ته کتاب ورکړ او په هغه پسې مو پرله پسې رسولان ولیږل. او عیسی د مریم زوی ته مو ښکاره نښې ورکړې او په روح

القدس مو د هغه تایید وکړ. نو هرکله چې کوم رسول تاسې ته هغه څه
در وړي چې ستاسې زړه نه دي غوښتي، نو تاسې کبر کړی، یوه ډله مو
دروغجنه وبلله او یوه ډله مو ووژله. ۸۸- او یهود وایي چې زموږ زړه
بند دی. نه، بلکې الله د هغوی د انکار له وجې پرې لعنت ویلی دی. په
دې خاطر هغوی ډېر لږ ایمان راوړي. ۸۹- او بیا چې د الله له طرفه
هغوی ته یو کتاب راغی چې رښتیا کونکی د هغه څه دی چې هغوی
سره دی او هغوی له مخکې په منکرانو فتح غوښتله. بیا چې هغوی ته
هغه څه راغلل چې دوی پېژندل، نو هغوی ترې انکار وکړ. نو د الله
لعنت دی په منکرینو. ۹۰- هغه څومره بد شی دی چې هغوی پرې
ځانونه خرڅ کړل او د الله د نازل کړي کلام نه انکار کوي د دغه ضد
له وجې چې الله يې په خپل فضل په هر بنده چې وغواړي نازلوي. نو
هغو په غضب پسې غضب وګاټه او منکرانو ته د ذلت عذاب دی.
۹۱- او کله چې هغوی ته وویل شي چې په هغه کلام ایمان راوړئ چې
الله نازل کړی دی، نو هغوی وایي موږ په هغه ایمان لرو چې په موږ
نازل شوی دی. او هغوی له هغه کلام نه انکار کوي چې دې پسې راغلی
دی. سره د دې چې هغه حق دی او رښتیا کونکی دی د هغه څه چې له
هغوی سره دی. (ورته) ووایه، که تاسې د ایمان خاوندان یئ، نو د الله
پیغمران مو له هغه مخکې ولې وژلي دي. ۹۲- او موسی تاسې ته ښکاره
نښې راوړلې. بیا د هغه په غیابت کې خوسی معبود کړ او ظالمان شوئ.
۹۳- او بیا چې موږ له تاسې وعده واخیسته او د طور غر مو درباندې
را پورته کړ. کوم حکم چې موږ درته کړی دی نو هغه په کلکه ونیسئ
او واورئ. هغوی وویل: موږ واورېدل او موږ ونه منل. او د هغوی د
کفر له وجې یې زړه د خوسي له مینې ډک شو. ووایه، که تاسې رښتیا د
ایمان خاوندان یئ، نو څومره بد دی هغه شی چې ستاسې ایمان یې تاسې

ته درښيي. ۹۴- ووايه، که د الله په نزد د آخرت کور يوازې ستاسې لپاره
دی، نو نور پرېږدئ او که تاسې رښتينئ يئ، نو د مړينې هيله وکړئ.
۹۵- خو هغوی به هېڅکله د دې هيله ونه کړي، د هغو له وجې چې
هغوی له ځانه مخکې لېږلي دي. او الله ظالمان ښه پېژني. ۹۶- او وبه
ګورې چې د هغوی ژوند تر نورو ډېر حريص دی، حتی تر مشرکينو
هم ډېر. په هغوی کې هر يو زر ۱۰۰۰کاله عمر غواړي، سره د دې چې
دومره ژوند هم هغوی له عذابه نه شي ساتلی. او هغوی چې څه کوي،
الله يې ګوري.
۹۷- ووايه، هر هغه چاته چې د جبرائيل مخالف دی، چې هغه دا کلام د
الله په حکم ستا په زړه نازل کړی دی، دا تصديق کونکی دی د هغو
(کتابونو) چې تر دې مخکې (راغلي) دي. او دا هدايت او زېری دی د
ايمان خاوندانو ته. ۹۸- هر څوک چې د الله، د هغه د ملايکو، رسولانو
او جبرائيل او ميکائيل دښمن وي، نو الله د داسې منکرانو دښمن دی.
۹۹- او موږ په تا ښکاره نښې نازلې کړي دي او هېڅوک ترې انکار نه
شي کولای، خو يوازې هغه خلک (انکار کوي) چې له حده تېرېدونکي
دي. ۱۰۰- ولې چې هغوی يوه وعده کوي، نو د هغوی يوه ډله يې ماتوي.
په هغوی کې زياتره د ايمان خاوندان نه دي. ۱۰۱ او کله چې هغوی ته
د الله له طرفه يو رسول راغی او هغه څه يې تصديقول چې هغوی سره
له مخکې وو، نو کومو خلکو ته چې کتاب ورکول شو، هغوی د الله کتاب
داسې شاته وغورځاوه، لکه بيخي يې چې نه پېژني.
۱۰۲- او هغوی په هغه څه پسې شول چې شيطانانو ورته د سليمان له
پاچاهۍ سره نسبت ورکاوه، که څه هم سليمان کفر نه دی کړی، بلکې دا
شيطانان وو چې کفر يې وکړ. هغوی خلکو ته جادې ور زده کولې. په
هغه څه اخته شول چې په بابل کې په دوو ملايکو هاروت او ماروت

نازل شوي وو. د دوی حال دا و چې چاته به يې خپل دغه فن ښوده، نو ورته به يې ويل چې موږ خو د امتحان لپاره يوو، نو تاسې مه منکران کيږئ. خو هغوی له دوی هغه شيان زده کول چې د ښځې او مېړه ترمنځ پرې بېلتون راوړي. سره د دې چې هغوی د الله له اجازې بغير په دې (جادو) چاته هېڅ تاوان نه شي رسولای. او هغوی داسې شيان زده کول چې تاوان يې ور رساوه او ګټه يې ورته نه لرله. او هغوی پوهېدل چې هر څوک د دې شي (جادو) خريدار وي، په آخرت کې يې هېڅ برخه نشته. څومره بد شی دی هغه چې په بدل کې يې هغوی خپل ځانونه خرڅ کړل. کاشکې هغوی په دې پوهېدای. ۱۰۳- او که هغوی ايمان راوړی وای او تقوی يې اختيار کړې وای، نو د الله بدله ورته تر دې غوره وه، کاش هغوی په دې پوهېدای.
۱۰۴- ای د ايمان خاوندانو، تاسې راعِنا مه وايئ، بلکې اُنظرنا ووايئ او واورئ. او منکرينو لپاره دردناک عذاب دی. ۱۰۵- کومو خلکو چې انکار کړی، که هغوی اهل کتاب دي او که مشرکين، دا نه غواړي چې په تاسې له خپل اړخه ښېګڼه نازله شي. او الله چې څوک وغواړي هغه د خپل رحمت لپاره ټاکي. الله د لوی فضل خاوند دی. ۱۰۶- موږ چې کوم آيت منسوخوو يا يې (له چا) هېروو، نو په ځای يې تر هغه غوره يا د هغه په شان بل (آيت) راوړو. ايا تاسې نه پوهيږئ چې الله په هر څه قادر دی. ۱۰۷- ايا تاسې نه پوهيږئ چې د آسمانونو او ځمکې پاچاهي يوازې د الله لپاره ده، او تاسې لپاره د الله بغير نه کوم ملګری شته او نه کوم مرستندوی. ۱۰۸- ايا تاسې غواړئ له خپل رسول نه (هغسې) پوښتنې وکړئ، لکه تر ده مخکې چې له موسی نه پوښتنې شوې، او چا چې له ايمان راوړلو انکار وکړ، هغه يقيناً له سمې لارې واوښته.

۱۰۹- ډېر اهل کتاب دا غواړي چې ستاسې له مومن کېدو وروسته مو د خپل حسد له وجې، په يو طريقه بېرته منکر کړي، سره د دې چې دغه حق هغوی ته روښانه شوی دی. نو ښښنه وکړئ او ګذشت وکړئ، تر هغې چې د الله فيصله راشي. بېشکه چې الله په هر څه قادر دی. ۱۱۰- او لمونځ کوئ او زکات ورکوئ. او تاسې چې کومې نېکۍ له ځانه مخکې لېږئ، هغه به له الله سره ومومئ. تاسې چې هر څه کوئ، الله يې يقيناً ګوري. ۱۱۱- او هغوی وايي جنت ته به يوازې هغه خلک ځي چې يهوديان يا عيسويان وي، خو دا يوازې د هغوی هيله ده. (ورته) ووايه، راوړئ خپل دليل که تاسې رښتيني يئ. ۱۱۲- بلکې هر چا چې ځان الله ته وسپاره او مخلص هم وي، نو د داسې کس لپاره له خپل رب سره اجر دی، د هغوی لپاره نه وېره شته او نه خفګان.
۱۱۳- يهودو وويل چې نصارى په څه دليل نه دي او نصارى وويل چې يهود په څه دليل نه دي، او هغوی ټول آسماني کتابونه لولي. په دې توګه د دوی د هغه خلکو په شان خبره وکړله چې نه پوهېدل. نو الله به د قيامت په ورځ د هغه خبرې فيصله وکړي چې دوی پرې جنګونه کول. ۱۱۴- او تر هغه لوی ظالم به څوک وي چې د الله جوماتونه له دې منع کړي چې هلته د الله نوم ياد شي او د ورانولو کوشش يې وکړي. هغوی ته په دنيا کې عذاب او په آخرت کې درنه سزا ده. ۱۱۵- او مشرق او مغرب د الله لره دي. تاسې چې هره خوا مخه کړئ، هغه خوا الله دی. يقيناً الله د پراختيا او علم لرونکی دی. ۱۱۶- او هغوی وايي چې الله زوی زېږولی دی. هغه (الله) د دې نه پاک دی، بلکې په ځمکې او آسمانونو کې چې هر څه دي، د هغه دي. ټول د هغه د حکم منونکي دي. ۱۱۷- هغه د آسمانونو او ځمکې پيدا کونکی دی. هغه چې د چا کار کول غواړي، نو بس ورته فرمايي چې وشه، نو هغه (کار) وشي.

۱۱۸- څوک چې علم نه لري، هغو وویل: الله ولې له موږ سره کلام نه کوي یا موږ ته ولې کومه نښه نه راځي. همداسې تر هغوی مخکې هم داسې خبرې کړې دي، د دوی ټولو زړونه یو ډول دي، موږ هغو ته نښې وړاندې کړې چې باور کونکي دي. ۱۱۹- موږ ته له سمې خبرې سره د زېرې ورکونکی او وېرونکی لېږلی یې. او له تا به د دوزخ ته تلونکو په هکله هېڅ پوښتنه نه کېږي. ۱۲۰- او یهود او نصارى به هېڅکله له تا راضي نه شي، تر څو چې ته د هغوی د امت پیرو نه شې. ته (ورته) ووایه چې الله کومه لار ښیي، هماغه اصلي لاره ده. او تاته چې کوم علم درکول شوی دی، که له دې وروسته هم ته د هغوی د غوښتنو پیروي وکړې، نو د الله په وړاندې به نه ستا دوست وي او نه مرستندوی. ۱۲۱- کومو خلکو ته چې موږ کتاب ورکړی، هغوی یې لولي، لکه څنګه یې چې د لوستلو حق دی. همدا خلک پرې ایمان راوړي. او څوک چې له دې انکار کوي، نو هماغه خلک په تاوان کې پاتې کېدونکي دي.

۱۲۲- ای بني اسرائیلو، زما هغه احسان را یاد کړئ چې ما په تاسې کړی او دا هم چې ما تاسې ته د دنیا په ټولو خلکو فضیلت درکړ. ۱۲۳- او له هغې ورځې ووېرېږئ چې هېڅوک به په کې د چا نه په کار یږي او نه به د چا له اړخه کومه معاوضه قبلیږي. نه به کوم واسطه ګټه کوي او نه به ورته له کومې خوا مرسته را رسیږي. ۱۲۴- او کله چې ابراهیم الله په څو خبرو کې وازمایه، نو هغه خبرې یې پوره کړې. الله (ورته) وویل چې زه به تا د ټولو خلکو امام کړم. ابراهیم وویل: او زما په اولاد کې هم. الله وویل: زما وعده تر ظالمانو نه رسیږي.

۱۲۵- او موږ چې کعبه د خلکو د راټولېدو ځای او د امن مقام کړ او حکم مو وکړ چې مقام ابراهیم د لمانځه ځای کړئ. او په ابراهیم او اسماعیل مو ټینګار وکړ چې زما کور طواف کونکو، اعتکاف کونکو،

رکوع کونکو او سجده کونکو لپاره پاک وساتئ. ۱۲۶- او کله چې ابراهيم وويل چې ای زما ربه، دا ښار د امن ښار کړه، او ددې اوسېدونکو ته چې په الله او د آخرت په ورځ ايمان لري، د ميوو روزي ورکړه. الله وويل، څوک چې انکار وکړي، زه به هغوی ته هم د څو ورځو فايده ورکړم. بيا به هغوی د اور د عذاب خوا ته ور ټېل وهم او هغه ډېر بد ځای دی.

۱۲۷- او بيا چې ابراهيم او اسماعيل د بيت الله ديوالونه پورته کول او دا يې ويل چې: ای زموږ ربه، له موږ يې قبول کړه، يقيناً ته اورېدونکی او پوهېدونکی يې. ۱۲۸- ای زموږ ربه، موږ خپل فرمانبردار کړه او زموږ له نسل نه خپل يو فرمانبرداره امت را پورته کړه، او موږ ته زموږ د عبادت طريقې وښيه او موږ وبښه، ته ښونکی او رحم کونکی يې. ۱۲۹- ای زموږ ربه، او په دوی کې، هم د دوی يو پيغمبر را پورته کړه، چې دوی ته ستا آيتونه واوروي او دوی ته د کتاب او حکمت تعليم ورکړي او د دوی تزکيه وکړي. بېشکه ته قوي او د حکمت خاوند يې.

۱۳۰- او څوک دي چې د ابراهيم دين خوښ نه کړي، مګر هغه چې ځان يې پخپله ناپوه کړی وي. سره د دې چې موږ هغه په دنيا کې غوره کړی و او په آخرت کې به په نېکو خلکو کې وي. ۱۳۱- د هغه رب چې وويل ځان وسپاره، نو هغه وويل: ما ځان رب العالمين ته سپارلی دی. ۱۳۲- او همدا نصيحت ابراهيم خپل اولاد ته وکړ او همدا نصيحت يعقوب خپل اولاد ته وکړ. ای زما بچو! الله تاسې لپاره دا دين غوره کړی دی، نو (پام کوئ) چې له ايمان بغير په بل حالت کې درته مرګ را نه شي. ۱۳۳- ايا ته وې کله چې د يعقوب د مرګ وخت را ورسېده. کله چې هغه خپلو بچو ته وويل تر ما وروسته به د چا عبادت کوئ. هغوی

وويل: موږ به د هماغه الله عبادت كوو د كوم عبادت چې تاسې، ستاسې مشرانو ابراهيم، اسماعيل او اسحاق كړى دى، هماغه يو معبود دى او موږ د هغه فرمانبردار يوو. ۱۳۴- دا يوه ډله وه چې تېره شوه. هغوى ته به هغه څه وركړل شي چې هغوى ګټلي او تاته به هغه څه دركړل شي چې تا ګټلي. او له تا به د هغوى د اعمالو پوښتنه نه كېږي.
۱۳۵- او هغوى وايي چې يهودي يا نصراني شه، نو هدايت به ومومي. (ورته) ووايه چې نه، بلكې موږ د ابراهيم د دين پيروي كوو چې يوازې د الله له طرفه وو، هغه هم په مشركينو كې نه و. ۱۳۶- (ورته) ووايه چې موږ په الله ايمان راوړى او په هغه څه مو ايمان راوړى چې په موږ نازل شوى، او په هغه څه هم چې په ابراهيم، اسماعيل، اسحاق او يعقوب او د هغه په اولاد نازل شوى، او هغه چې وركړل شوى عيسى او موسى ته او هغه چې ټولو نبيانو ته د هغوى د رب له طرفه وركړل شوي. موږ د هغوى ترمنځ په هېڅ يوه كې فرق نه كوو او موږ د الله فرمانبردار يوو. ۱۳۷- كه بيا هغوى هغسې ايمان راوړي لكه تا چې راوړى، نو بې شكه چې لاره به ومومي او كه سرغړونه وكړي، نو هغوى په ضد كې دي. نو ستا له اړخه الله د هغوى لپاره كافي دى او هغه اورېدونكى او پوهېدونكى دى. ۱۳۸- (ورته) ووايه موږ د الله رنګ اخيستى او د الله رنګ تر هر رنګه غوره دى او موږ د هماغه عبادت كونكي يوو. ۱۳۹ ووايه، ايا تاسې د الله په هكله له موږ سره جنګېږئ، سره د دې چې هغه زموږ رب هم دى او ستاسې رب هم. زموږ لپاره زموږ اعمال دي او ستاسې لپاره ستاسې اعمال، او موږ يوازې د هغه لپاره يوو. ۱۴۰- ايا تاسې وايئ چې ابراهيم، اسماعيل، او اسحاق او يعقوب او د هغوى اولاد ټول يهوديان يا نصرانيان وو، (ورته) ووايه، تاسې ډېر پوهېږئ كه الله. او تر هغه لوى ظالم څوک دى چې هغه ګواهي پټه كړي چې د الله له

طرفه ورته راغلي ده. او تاسې چې څه کوئ، الله ترې بې‌خبره نه دی.
۱۴۱- دا يوه ډله وه چې تېره شوه. دوی ته به هغه ورکړل شي چې دوی ګټلي او تاته به هغه درکړل شي چې تا ګټلي. او له تا به د دوی د اعمالو پوښتنه نه کیږي.
* ۱۴۲- اوس بې‌عقله خلک وايي چې مسلمانان په څه له خپلې قبلې واوښتل. (ورته) ووايه چې ختيځ او لويديځ (دواړه) د الله دي. هغه چې چاته وغواړي سمه لار ور ښودلای شي. ۱۴۳- او په دې توګه موږ تاسې منځنی امت کړئ چې تاسې په خلکو ګواه شئ او رسولان په تاسې ګواهان شي. او تاسې چې په کومه قبله وئ، هغه موږ يوازې د دې لپاره پرېښې وه چې موږ وګورو چې څوک د رسول پيروي کوي او څوک ترې په شا ځي. او بېشکه دا خبره درنه ده، مګر په هغو خلکو (نه ده) چې الله ورته هدايت کړی دی. او الله داسې نه دی چې ستاسې ايمان ضايع کړي. بېشکه چې الله په خلکو د شفقت خاوند او مهربانه دی.
۱۴۴- موږ آسمان ته ستا بيا بيا مخ پورته کول ګورو. نو موږ به تاسې د هغه قبلې خوا ته تاو کړو چې تاسې يې خوښوئ، اوس خپل مخ د مسجد حرام خوا ته واړوئ. او تاسې چې هر ځای کې يئ، خپل مخ همدې خوا ته کړئ. او اهل کتاب ښه پوهيږي چې دا حق دی او د هغوی د رب له طرفه دی. او الله بې خبره نه دی، له هغه څه چې کوي يې. ۱۴۵- او که ته دې اهل کتابو ته ټول دلايل وړاندې کړې، بيا به هم هغوی ستا قبله ونه مني او نه ته د هغوی د قبلې پيروي کولای شې. او نه هغوی پخپله د يو بل قبله مني. تا چې کوم علم موندلای دی، که له دې وروسته هم ته د هغوی د غوښتنو پيروي کوې، نو يقيناً په ظالمانو کې به شمار شې.
۱۴۶- چا ته چې موږ کتاب ورکړی، هغوی دا داسې پېژني لکه خپل بچي چې پېژني. او په هغوی کې يوه ډله حق پټوي، سره د دې چې په

دې پوهېږي. حق هغه دی چې ستا رب يې وايي. ۱۴۷- نو ته هېڅ وخت د شک کونکو په ډله کې مه راځه.

۱۴۸- هر چا لپاره يو رُخ دی، چې مخه ورته کوي. نو ته د نېکۍ خوا ته منډه کړه. ته چې هر ځای کې يې، الله به تاسې ټول هغه طرف ته راولي. بېشکه الله هر څه کولای شي. ۱۴۹- او ته چې له هرې خوا راوځې، خپل مخ مسجد حرام خوا ته کړه. بېشکه چې همدا حق دی، ستا د رب له طرفه دی. او ته چې هر څه کوې، الله ترې بې خبره نه دی. ۱۵۰- او ته چې له هرې خوا راوځې، خپل مخ مسجد حرام طرف ته کوه او ته چې په هر ځای کې يې خپل مخ همدې طرف ته ساته، چې په تا د خلکو څه حجت پاتې نه شي، بې له هغو خلکو چې په دوی کې بې عدله دي. نو ته له هغوی مه وېرېږه، له ما ووېرېږه. تر هغې چې موږ خپل نعمت په تا پوره کړو او تر هغې چې ته لاره ومومې. ۱۵۱- لکه څنګه چې موږ تاسې ته، ستاسې له منځه يو رسول درلېږلی دی چې تاسې ته زموږ آيتونه وايي، تاسې پاکوي او تاسې ته د کتاب او حکمت تعليم درکوي. او تاسې ته هغه څه در زده کوي چې مخکې پرې نه پوهېدئ. ۱۵۲- نو ته ما ياد ساته، زه به تا ياد ساتم. او زما احسان ومنئ او زما ناشکري مه کوئ.

۱۵۳- ای د ايمان خاوندانو، په صبر او لمونځ مرسته ترلاسه کړئ. يقيناً چې الله له صبر کونکو سره دی. ۱۵۴- او څوک چې د الله په لاره کې مړ شي، هغوی مړي مه بولئ، هغوی ژوندي دي، خو تاسې پرې نه پوهېږئ. ۱۵۵- او موږ به حتماً تاسې امتحانوو په صبر او وېرې او د مالونو، څارويو او ميوو په کمي. او د استقامت خاوندانو ته زېری ورکړه. ۱۵۶- څوک چې داسې دي چې مصيبت ور ورسېږي، نو وايي:

موږ د الله یوو او هغه ته به ور ګرځېږو. ۱۵۷- په همدې خلکو د الله شاباسی او رحمت دی. او همدا خلک دي چې په لاره سم دي.
۱۵۸- صفا او مروه بېشکه د الله یادګارونه دي. نو څوک چې د بیت الله حج کوي یا عمره کوي، نو په دې کې هېڅ ستونزه نشته چې هغوی د دې طواف وکړي، او څوک چې په خپل خوښه څه نېکي کوي، نو الله قدردان دی او پوه دی. ۱۵۹- څوک چې زموږ ښکاره نښې او زموږ هدایت پټوي، وروسته له هغې چې موږ دا د خلکو لپاره په کتاب کې روښانه کړي دي، نو دا هغه خلک دي چې الله پرې لعنت وايي او په هغوی لعنت ویونکي لعنت وايي. ۱۶۰- البته چا چې توبه وویسته، او اصلاح یې وکړه او په واضح ډول یې بیان کړه، نو زه به هغوی ښنم او زه ښونکی او مهربان یم. ۱۶۱- بېشکه کومو خلکو چې انکار وکړ او په همدې حال کې مړه شول، نو دا هغه خلک دي چې پرې د الله، او د ملایکو او د انسانانو، ټولو لعنت دی. ۱۶۲- دوی به تل په همدې حال وي. له دوی به نه عذاب کم شي او نه به ورته آساني ورکړل شي.
۱۶۳- او ستا معبود یوازینی معبود دی. له هغه بغیر بل معبود نشته.
۱۶۴- هغه ډېر مهربان او د رحم خاوند دی. بې شکه د آسمانونو او ځمکې په جوړولو کې، او د شپې او ورځې په تګ راتګ کې، او په هغو کښتیو کې چې د انسانانو په کار راتلونکي څیزونه وړي او په سمندر کې چلیږي او په هغو اوبو کې چې الله له آسمان نه راښکته کړي. بیا له هغې مړې ځمکې ته ژوند ورکړ. او هغه په ځمکه مختلف ځناور خپاره کړل. او د بادونو په لګېدلو کې او په وریځو کې چې د ځمکې او آسمان ترمنځ د حکم تابع دي، د هغو خلکو لپاره نښې دي چې له عقل نه کار اخلي.
۱۶۵- او ځینې خلک داسې دي چې له الله بغیر نور، له هغه سره برابروي. له هغوی سره داسې مینه کوي، کومه مینه چې باید له الله سره

وشي. او ځوک چې د ایمان خاوندان وي، هغوی الله سره تر ټولو ډېره مینه لري. او که دا ظالمان هغه وخت وګوري چې کله دوی له عذاب سره مخ وي، چې ټول زور د الله دی او الله ډېر سخت عذاب ورکونکی دی. ۱۶۶- هغه خلک چې خبره یې منل کېدله، دوی له هغو خلکو بېل شي چې د دوی خبره یې منله. عذاب به د دوی په وړاندې وي او د دوی هره خوا رشتې به ختمې شوې وي. ۱۶۷- ځوک چې ورپسې تللي، هغوی به وایي، کاشکې موږ بیا یو ځل دنیا ته ستانېدلای شوی، موږ به هم له هغوی داسې بېل شوي وای، لکه هغوی چې له موږ بېل شوي دي. په دې توګه به الله د هغوی اعمال هغوی ته د حسرت په بڼه ښیي او هغوی به له اوره نه شي راوتلی.
۱۶۸- ای خلکو! د ځمکې په شیانو کې حلال او پاک شیان خورئ او د شیطان په پلونو مه ځئ، بېشکه چې هغه ستاسې ښکاره دښمن دی. ۱۶۹- هغه تاسې ته یوازې د بدو کارونو او بې حیایۍ تلقین کوي، او دې ته هم چې الله ته هغه خبرې منسوبې کړئ چې په هکله یې تاسې نه پوهېږئ.
۱۷۰- او کله چې دوی ته وویل چې په هغه (لاره) لاړ شئ چې الله نازل کړي، نو هغوی وایي موږ په هغې (لارې) ځو چې موږ پرې زموږ پلار نیکه لیدلي دي. ایا په هغه صورت کې هم، که د دوی پلار نیکه نه عقل لري او نه سمه لار پېژني.
۱۷۱- او د دې منکرانو مثال داسې دی لکه ځوک چې په هغو ځناورو پسې غږ کوي چې یوازې له غږ کولو او بلل بغیر نور څه نه اوري. دوی کاڼه دي، ګونګي، ړانده دي او په هېڅ نه پوهېږي.
۱۷۲- ای د ایمان خاوندانو، زموږ درکړل شوي پاک څیزونه وخورئ او د الله شکر وکړئ، که تاسې د هغه عبادت کونکي یئ. ۱۷۳- الله په تاسې یوازې مردار، وینه او د خنځیر (خوګ) غوښه حرام کړي دي. او

هغه شیان چې د الله بغیر د بل چا نوم پرې اخیستل شوی وي. او که بیا
څوک مجبور شي، او زړه یې نه غواړي او له حده مخکې تلونکي نه
وي، نو په هغوی ګناه نشته. بېشکه الله بښونکی او مهربان دی. ۱۷۴-
کوم خلک چې هغه څه پټوي چې الله په خپل کتاب کې نازل کړي او په
بدل کې یې ناڅیزه بیه اخلي، هغوی یوازې خپلې خېټې په اور ډکوي. د
قیامت په ورځ به ورسره الله نه خبرې کوي او نه به یې پاکوي او د
هغوی لپاره دردناک عذاب دی. ۱۷۵- دا هغه خلک دي چې د هدایت په
بدل کې یې د ګمراهۍ سودا کړې او د بښنې پرځای د عذاب. دوی له
اوره لږ وېرېږي. ۱۷۶- دا په دې خاطر چې الله خپل کتاب سم دم نازل
کړی او کومو خلکو چې په کتاب کې لارې را ویستې دي، هغوی په ضد
کې مخکې تللي دي.
۱۷۷- نیکي دا نه ده چې تاسې خپل مخ ختیځ او لویدیځ ته کړئ، بلکې
نېکي دا ده چې انسان په الله، د آخرت په ورځ، په ملایکو، په کتابونو او
په پیغمبرانو ایمان راوړي. او د الله په مینه کې خپلوانو، یتیمانو، محتاجو،
مسافرو او سوالګرو ته او د غلامانو آزادولو لپاره، مال ورکړي. او
لمونځ وکړي، زکات ورکړي او کله چې وعده وکړي، هغه پوره کړي.
او صبر وکړي د سختۍ، تکلیف او جګړې په وخت. همدا خلک رښتیني
او همدوی وېرېدونکي دي.
۱۷۸- ای د ایمان خاوندانو، په تاسې د وژل شویو قصاص اخیستل فرض
کېږي. د آزاد په بدل کې آزاد. د غلام په بدل کې غلام. د ښځې په بدل
کې ښځه. او بیا چې چاته د خپل ورور له اړخه څه ښننه وشي، نو هغه
باید د معروف پیروي وکړي او په ښه شان یې ادا کړي. دا ستاسې د رب
له طرفه یوه آساني او مهرباني ده. اوس چې له دې وروسته هر څوک
ظلم وکړي، د هغه لپاره دردناکه عذاب دی. ۱۷۹- او ای د عقل

خاوندانو، په قصاص کې ستاسې لپاره ژوند دی چې تاسې خوندي شئ.
۱۸۰- په تاسې فرض کېږي، چې کله په تاسې کې د چا د مرګ وخت
را ورسېږي، او هغه په ځان پسې شتمني پرېږدي، نو هغه دې د معروف
سره سم وصیت وکړي خپل مور او پلار او خپلو خپلوانو ته. دا له الله
وېرېدونکو ته اړینه ده. ۱۸۱- بیا چې څوک وصیت له اورېدو وروسته
بدل کړي، نو ګناه به یې په هغه وي چې بدل کړی یې دی، یقیناً چې الله
اورېدونکی او پوه دی. ۱۸۲- البته که څوک د وصیت کونکي په هکله
دا اندېښنه لري چې هغه جانبداري یا حق تلفي کړې ده، او هغه تر منځه
سوله کوي، نو په هغه څه ګناه نشته. الله بښونکی او مهربان دی.
۱۸۳- ای د ایمان خاوندانو، په تاسې روژه فرض شوې، لکه څنګه چې
له تاسې مخکې هغو باندې فرض شوې وه، د دې لپاره چې تاسې
پرهېزګار شئ. ۱۸۴- دا د شمار څو ورځې دي، خو که په تاسې کې
څوک ناروغ وي یا په سفر وي، نو هغه یې په نورو ورځو کې شمېر
پوره کولای شي. او څوک یې چې په سختۍ وزغمي، نو د یوې روژې
بدل د یوه مسکین خواړه دي. څوک چې ډېره نېکي وکړي، د هغه لپاره
بهتره ده. او (که) تاسې روژه ونیسئ، نو دا ستاسې لپاره ډېره غوره ده،
که تاسې پوه شئ. ۱۸۵- د روژې میاشت چې قرآن په کې نازل شوی،
دا د خلکو لپاره هدایت او د لارې ښکاره نښې دي او د حق او باطل
ترمنځ فیصله کونکې ده. نو په تاسې کې چې هر څوک دا میاشت ووینې،
روژه دې په کې ونیسي. او څوک چې ناروغ یا په سفر وي، هغوی دې
په نورو ورځو کې شمېر پوره کړي. الله ستاسې لپاره آساني غواړي،
هغه له تاسې سره سختي کول نه غواړي. او که چېرې تاسې (د روژو)
شمېر پوره کړئ او د الله لویي په دې خاطر بیان کړئ چې تاسې ته یې
لاره ښودلې او د دې لپاره چې تاسې شکرګزار شئ.

۱۸۶- نو کله چې زما بندهګان له تا زما په هکله پوښتنه وکړي، نو زه نږدې یم، کله مې چې څوک را بولي، د هغه د غږ ځواب ورکوم. نو بیا دې هغوی هم زما حکم ومني، په ما دې ایمان ولري چې هدایت ورته وشي. ۱۸۷- تاسې لپاره د روژې په شپو کې خپلو مېرمنو ته ورتګ جایز شوی دی. هغوی ستاسې لپاره لباس دی او تاسې د هغوی لپاره لباس یئ. الله پوه شو چې تاسې له خپل ځان سره خیانت کوئ، نو هغه په تاسې عنایت وکړ او تاسې یې وبښلئ. نو اوس تاسې هغوی سره یو ځای کیږئ او هغه څه غواړئ چې الله درته لیکلي دي. او وخورئ او وڅښئ تر هغې چې د سهار سپینه رڼا له تیارې جدا ښکاره شي. بیا روژه تر شپې پوره کړئ. او کله چې تاسې په جوماتونو کې په اعتکاف یئ، نو خپلو مېرمنو ته مه نږدې کیږئ. دا د الله حد دی، دې ته مه نږدې کیږئ. په دې توګه الله خپل آیتونه خلکو ته بیانوي چې هغوی وساتل شي. ۱۸۸- او تاسې په خپلو منځونو کې د یو بل مال په ناحقه مه خورئ او هغه تر حاکمانو مه رسوئ چې د نورو خلکو د مال کومه برخه د ګناه په طریقه وخورئ. سره د دې چې تاسې په دې پوهیږئ.
۱۸۹- هغه له تا د سپوږمۍ په هکله پوښتنه کوي. (ورته) ووایه چې دا د خلکو لپاره او د حج لپاره وختونه دي. او نېکي دا نه ده چې تاسې کورونو ته په شاتنۍ دروازې دننه شئ، بلکې نیکې دا ده چې انسان پرهېزګاري وکړي. او کورونو ته په دروازو دننه شئ، او له الله ووېرېږئ چې کامیاب شئ. او د الله په لاره کې له هغو خلکو سره وجنګیږئ چې له تاسې سره جنګیږي. ۱۹۰- او زیاتی مه کوئ، الله زیاتی کونکي نه خوښوي. ۱۹۱- او ووژنئ هغوی چې هر ځای کې یې ومومئ او ویې باسئ له هغه ځایونو چې هغوی ترې تاسې ویستلي یئ. او فتنه تر قتل سخته ده. او هغوی سره مسجد حرام سره (نږدې) مه

جنګیږئ، تر هغې چې هغوی درسره جګړه پیل نه کړي. نو که هغوی درسره جنګ وکړ، بیا یې ووژنئ. همدا د منکرانو جزا ده. ۱۹۲- بیا که هغوی (له جنګ) را وګرځي، نو الله ښښونکی او مهربان دی. ۱۹۳- او له هغوی سره وجنګیږئ، تر هغې چې فتنه پاتې نه شي او دین د الله شي، بیا که هغوی (له جنګ) را وګرځي، نو له هغې وروسته سختي نشته، مګر په ظالمانو (شته).
۱۹۴- د حرمت میاشت د حرمت د میاشتې بدل دی او د حرمتونو هم قصاص شته. نو که چا په تاسې زیاتی وکړ، تاسې هم پرې هغسې زیاتی وکړئ لکه په تاسې یې چې کړی. او له الله ووېرېږئ او پوه شئ چې الله له پرهېزګارانو سره دی. ۱۹۵- او د الله په لاره کې مصرف وکړئ او ځان په هلاکت کې مه اچوئ. او ښه کارونه وکړئ، بېشکه چې الله د ښه کار (نېکۍ) کونکي خوښوي.
۱۹۶- او د الله لپاره حج او عمره پوره کړئ. او بیا که تاسې کور ته لاړئ، نو د قربانۍ لپاره چې کوم څاروی وي، هغه قرباني کړئ او سر تر هغې مه خریئ (کلوئ) چې تر څو قرباني خپل ځای ته نه وي رسېدلې. په تاسې کې چې څوک ناروغ وي یا یې په سر کې تکلیف وي، هغه دې د روژې، صدقې یا قربانۍ فدیه ورکړي. کله چې امنیت وي او څوک د حج یا عمرې ګټه اخیستل غواړي، نو هغه قربانې دې وکړي چې ورته میسره وي. او چاته چې (قرباني) میسره نه وي، هغه دې حج په موده کې درې ورځې روژه ونیسي او چې کور ته ستانه شئ اووه ورځې روژه ونیسئ. دا ټولې لس ورځې شوې. دا د هغو خلکو لپاره ده چې کورنۍ یې مسجد حرام ته نږدې نه اوسیږي. له الله ووېرېږئ او پوه شئ چې الله سخت عذاب ورکونکی دی. ۱۹۷- د حج ټاکل شوې میاشتې دي. نو چا چې د حج نیت وکړ، هغه به د حج په موده کې نه کنځلې کوي،

نه دې ګناه کوي او نه دې جنګ جګړه کوي. او تاسې چې کوم نېک کار کوئ، الله به پرې پوه شي. او تاسې (له ځان سره) د لارې توښه واخلئ. ښه توښه د تقوی توښه ده. او ای د عقل خاوندانو، له ما ووېرېږئ.
۱۹۸- که تاسې د خپل رب فضل هم ولټوئ، په دې کې هېڅ ګناه نشته. بیا چې تاسې له عرفات نه راستانه شئ، نو مشعرِ حرام سره الله یاد کړئ. او هغسې یې یاد کړئ، لکه څنګه چې الله ویلي دي. له دې مخکې تاسې واقعاً په بې لارې شویو خلکو کې وئ. ۱۹۹- او له کوم ځایه چې خلک را ستنېږي، له هغه ځایه تاسې هم طواف ته لاړ شئ او له الله ښښنه وغواړئ. یقیناً الله ښښونکی او مهربان دی.
۲۰۰- بیا چې تاسې د خپل حج اعمال پوره کړئ، نو الله داسې یاد کړئ لکه څنګه چې تاسې پلار نیکه یادول، بلکې تر هغوی هم ډېر. نو ځینې خلک وایي: ای زموږ ربه، موږ ته په همدې دنیا (آسانتیا) راکړه. او په آخرت کې د هغوی هېڅ برخه نشته. ۲۰۱- او ځینې خلک وایي چې ای زموږ ربه، موږ ته په دنیا کې هم کامیابي راکړه او په آخرت کې هم کامیابي راکړه او موږ د اور له عذابه وساته.۲۰۲- همدې خلکو لپاره د دوی د کارونو برخه ده او الله زر حساب کونکی دی. ۲۰۳- او الله په ټاکلو ورځو کې یاد کړئ. او که بیا څوک تادي وکړي او په دوو ورځو کې مکې ته راستون شي، نو په هغه هېڅ ګناه نشته. او څوک چې پاتې شي، په هغه هم ګناه نشته. دا د هغو لپاره ده چې له الله وېرېږي. او له الله ووېرېږئ او ښه پوه شئ چې تاسې به هغه ته بېرته ګرځول کېږئ.
۲۰۴- او په خلکو کې ځینې داسې دي چې خبرې به یې د دنیا په ژوند کې په تاسې ښې لګېږي او هغوی د خپل زړه په خبره الله ګواه نیسي. حال دا چې هغوی سخت جنګېرک دي. ۲۰۵- او کله چې هغوی ستنېږي، نو په دې هڅه وي چې په ځمکه فساد خپور کړي او ژوندي (موجودات)

او کروندې هلاکې کړي. حال دا چې الله فساد نه خوښوي. ۲۰۶- او کله چې هغوی ته وویل شي چې له الله نه ووېرېږئ، نو خپل وقار هغوی ګناه کولو ته لمسوي. نو د داسې خلکو لپاره دوزخ کافي دی او هغه ډېر لوی ځای دی. ۲۰۷- او په خلکو کې داسې هم شته چې د الله د رضا په لټون خپل ځان خرڅوي او الله په خپلو بندهګانو ډېر مهربانه دی.
۲۰۸- ای د ایمان خاوندانو، اسلام ته په پوره ډول ننوځئ او د شیطان په پلونو مه ځئ، هغه ستاسې ښکاره دښمن دی. ۲۰۹- که تاسې ته راغلو واضح دلیلونو نه وروسته هم تاسې وښوېږئ، نو پوه شئ چې الله غالب او د حکمت خاوند دی. ۲۱۰- ایا خلک په دې تمه دي چې الله د وریځو سیوري ته راشي او ملایکې هم راشي او د معاملې فیصله وشي، او ټولې چارې الله لره دي. ۲۱۱- له بني اسرائیلو پوښتنه وکړئ چې موږ هغوی ته څومره ښکاره نښې ورکړې وې. او چاته چې د الله نعمت راغلی وي، او هغه یې بدل کړي، نو یقیناً الله ورته سخت عذاب ورکونکی دی. ۲۱۲- د دنیا ژوند د هغوی لپاره ښایسته کړی شوی دی چې منکر دي او هغوی د ایمان خاوندانو پورې خاندي. حال دا چې څوک پرهېزګار دي، هغوی به د قیامت په ورځ تر دوی لوړ وي. او الله چې چاته وغواړي، بې حسابه رزق ورکوي.
۲۱۳- خلک یو امت وو. هغوی چې اختلاف وکړ، نو الله د زېري ورکونکي او وېروونکي پېغمبران (ور) ولېږل. او هغوی سره یې په حقه کتاب نازل کړ چې د هغو خبرو فیصله وکړي چې خلک په کې اختلاف کوي. دا اختلافات په خپلو منځو کې ضد له وجې هغو خلکو وکړل چې حق ورکول شوی و او وروسته ورته ښکاره ښکاره هدایتونه راغلي وو. نو الله په خپل توفیق د حق په معامله کې د ایمان خاوندانو ته لاره وښودله، چې هغوی پرې جنګېدل او الله چې چاته وغواړي، هغه ته

سمه لار ښيي. ۲۱۴- ایا تاسې دا ګڼئ چې جنت ته به ننوځئ، سره د دې چې په تاسې هغه حالات نه دي تېر شوي چې ستاسې دمخه (په خلکو) تېر شوي وو. هغوی ته سختي او تکلیف ورسېده او ټکان ورکړل شول. تر دې چې رسول او په هغه ایمان راوړونکو چیغې کړې چې د الله مرسته به کله راځي. یاد ساتئ، د الله مرسته نږدې ده.

۲۱۵- خلک له تا پوښتنه کوي چې مصرف کړي. (ورته) ووایه چې تاسې کوم مال مصرفوئ، په هغه کې ستاسې د مور او پلار، خپلوانو، یتیمانو، محتاجو او مسافرو حق دی. او تاسې چې کومه ښېګڼه کوئ، هغه الله ته معلومه ده. ۲۱۶- تاسې ته د جګړې حکم شوی او هغه تاسې ته سخت ښکارېږي. کېدای شي چې تاسې یو شی ښه ونه ګڼئ او هغه تاسې لپاره ښه وي. او کېدای شي چې تاسې یو شی خوښ کړئ، او هغه تاسې لپاره ښه نه وي. او الله پوهېږي او تاسې نه پوهېږئ.

۲۱۷- خلک له تا د حرمت د میاشتو په هکله پوښتنه کوي چې په دې جګړه څنګه ده. (ورته) ووایه چې په دې کې جنګ ډېر بد دی، مګر که څوک (مو) د الله له لارې منع کوي، له هغه انکار کوي، د مسجد حرام منع کوي او له هغه ځایه خلک وباسي. (دا) د الله په نزد تر هغې هم ډېر بد دي. او فتنه تر قتل هم لویه ګناه ده. او دا خلک به تا سره پرله پسې جنګېږي، تر هغې چې هغوی به تا، ستا له دینه واړوي، که یې وس ورسېږي. او په تاسې کې چې هر څوک له خپل دین نه ګرځېږي او د کفر په حالت کې مړ شي، نو د داسې خلکو عمل په دنیا او آخرت کې ضایع شو. او هغوی اور ته غورځېدونکي دي او تل به په کې اوسېږي.

۲۱۸- چا چې ایمان راوړی او چا چې هجرت کړی او د الله په لاره کې یې جهاد کړی، هغوی د الله د رحمت امیدوار دي. او الله ښنونکی او مهربان دی.

۲۱۹- خلک له تا د شراب او جوارۍ په هکله پوښتنه کوي. (ورته) ووايه چې په دې دواړو شيانو کې ډېره ګناه ده، او خلکو ته يې ځينې ګټې هم دي. او د دې ګناه يې تر ګټې ډېره ده. او هغوی له تا پوښتنه کوي چې څه مصرف کړي. ورته (ووايه) چې څه مو له حاجته زيات وي. په دې توګه الله تاسې ته احکام بيانوي چې ستاسې ورته پام وکړئ.
۲۲۰- د دنيا او آخرت په اړه. او هغوی له تا د يتيمانو په هکله پوښتنه کوي. (ورته) ووايه چې په څه کې د هغوی وده وي، هغه ښه ده. او که تاسې هغوی له ځان سره شامل کړئ، نو هغوی ستاسې ورونه دي. او الله پوهېږي چې څوک ورانی پيدا کوي او څوک سمون پيدا کوي. او که الله غوښتی وای، نو تاسې يې ستونزو کې اچولئ. الله قوي او د حکمت خاوند دی.
۲۲۱- او مشرکو ښځو سره تر هغې نکاح مه کوئ چې ايمان را نه وړي، او مومنه وينځه تر مشرکې ښځې غوره ده، که څه هم تاسې ته ښه معلومه وي. او خپلې ښځې مشرکو سړيو ته مه نکاح ګوئ تر هغې چې هغوی ايمان را نه وړي. مومن غلام تر آزاد مشرک غوره دی، که څه هم تاسې ته سم معلوم وي. دا خلک مو اور ته بولي او الله مو جنت او د خپل بخشش لور ته بولي. هغه خپل احکام خلکو ته ښکاره بيانوي چې هغوی نصيحت ومومي.
۲۲۲- او هغوی له تا د حيض حکم پوښتي. (ورته) ووايه چې هغه يوه ناپاکي ده. په هغه کې له ښځو لرې اوسئ. او تر څو چې هغوی پاکې نه شي، مه ور نږدې کېږئ. بيا چې هغوی ښې پاکې شي، نو په هغه طريقه ورته نږدې کېږئ چې الله يې درته حکم کړی دی. الله هغه خلک خوښوي چې توبه کوي او خوښوي هغه خلک چې پاک اوسېږي. ۲۲۳- ستاسې ښځې ستاسې پټي دي. نو خپل پټي ته چې څنګه غواړئ لاړ شئ، د ځان

لپاره څه مخکې ولېږئ او له الله ووېرېږئ او پوه شئ چې تاسې به هغه سره حتماً مخ کېږئ.
۲۲۴- او الله د خپلو قسمونو نښه مه ګرځوئ، که تاسې ښېګڼه نه کوئ، او پرهېزګاري نه کوئ او د خلکو ترمنځ سوله نه کوئ. الله اورېدونکی او پوهېدونکی دی. ۲۲۵- الله تاسې ستاسې په غیرارادي قسمونو نه نیسي، بلکې په هغه کار مو نیسي چې ستاسې زړه یې کوي.او الله بښونکی او د زغم لرونکی دی. ۲۲۶- کوم خلک چې خپلو مېرمنو ته د نه نږدې کېدو قسم وخوري، د هغوی لپاره څلور میاشتې مهلت دی. بیا که هغوی رجوع وکړي، نو الله بښونکی او مهربان دی. ۲۲۷- که هغوی د طلاق فیصله وکړي، نو یقیناً الله اورېدونکی او پوهېدونکی دی. ۲۲۸- او طلاقې شوې ښځې دې ځان تر درېیو حیضونو وساتي، او که هغوی په الله او د آخرت په ورځ ایمان لري، نو جایزه ورته نه ده چې هغه شي پټ کړي چې الله د هغوی په خېټه کې پیدا کړی دی. او په دې موده کې د هغوی مېړه، هغوی ته د بېرته را ستنېدو حق لري، که هغوی سوله کول وغواړي. او هغو ښځو ته له دستور سره سم، هغه ډول حقوق دي لکه څنګه چې له دستور سره سم د هغوی مسوولیتونه دي. او د سړیو درجه د دوی په پرتله لوړه شوې ده. او الله قوي او د حکمت خاوند دی.
۲۲۹- طلاق دوه ځله دی. بیا یې یا له قاعدې سره سم ساتل دي یا په ښه طریقه رخصتول دي. او تاسې ته دا جایزه نه ده چې هغو ښځو ته مو څه (مال) ورکړي، له هغه بېرته څه واخلئ، مګر په هغه حالت کې چې دواړو سره دا وېره وي چې د الله په حدونو به قایم پاتې نه شي، بیا که چېرې تاسې سره دا وېره وي چې دواړه به د الله په حدونو قایم پاتې نه شئ، نو په دواړو ګناه نشته، په هغه مال کې چې ښځه یې په فدیه کې ورکړي. دا د الله حدونه دي، نو له دې بهر مه وځئ. او څوک چې د الله

له حدونو بهر وځي، هغوی ظالمان دي. ۲۳۰- بیا که هغه (مېړه) دې (ښځې) ته طلاق ورکړي، نو له هغې وروسته ورته دا ښځه تر هغې حلاله نه ده چې هغه بل سړي سره نکاح ونه کړي. بیا یې که هغه سړی طلاقه کړي، نو بیا د دواړو په یو ځای کېدو کې ګناه نشته، په دې شرط چې د الله د حدونو د قایمولو تمه ترې وي. دا د الله حدود دي او د هغو خلکو لپاره یې بیانوي چې پوهېږي. ۲۳۱- او بیا چې تاسې ښځو ته طلاق ورکړئ او خپل عدت ته ورسېږي، نو هغوی یا له قاعدې سره سمې وساتئ یا یې له قاعدې سره سمې رخصت کړئ. او هغوی د تاوان رسولو په نیت مه ایساروئ چې زیاتی پرې وکړئ. او څوک چې داسې کوي، هغوی ځان سره بد کوي. او د الله له آیتونو لوبې مه جوړوئ. او را یاد کړئ په ځان د الله نعمتونه او هغه کتاب او حکمت چې هغه ستاسې د نصیحت لپاره نازل کړی دی. او له اللهووېرېږئ او پوه شئ چې الله په هر څه پوهېږي.
۲۳۲- او کله چې تاسې خپلو ښځو ته طلاق ورکړ او هغوی خپل عدت پوره کړي، نو بیا یې (له دې) مه منع کوئ چې خپلو مېړونو سره نکاح وکړي. تر هغه وخت چې هغوی له دستور سره، په خپل منځ کې راضي شي. دا نصیحت هغه چاته کېږي چې په تاسې کې په الله او د آخرت په ورځ ایمان لري. دا ستاسې لپاره ډېره پاکه او ستره طریقه ده. او الله پوهېږي او تاسې نه پوهېږئ. ۲۳۳- او مېندې دې خپلو بچو ته تر پوره دوو[۲] کالو شیدې ورکړي، د هغو خلکو لپاره چې تر پوره مودې شیدې ورکول غواړي. او بچی چې د چا دی، د مېندو د خوړو او جامو مسوولیت یې له دستور سره سم د هغو (پلرونو) دی. او په هېچا باندې د هغه تر وس ډېر حکم نه کېږي. نه دې کومې مور ته د هغه د بچي له وجې تکلیف ورکول کېږي او نه دې پلار ته د هغه بچي له وجې. او

همدا مسوولیت په وارث هم دی. بیا که دواړه د خپلمنځي رضایت او مشورې له مخې شیدې ورکول بندوی، نو په دواړو ګناه نشته. او که تاسې وغواړئ چې بچي ته مو بل څوک شیدې ورکړي، نو بیا هم په تاسې څه ګناه نشته، خو په دې شرط چې تاسې د قاعدې له مخې، هغه څه ور ادا کړئ چې هغې ته ورکړې لپاره تاکل شوي. او له الله ووېرېږئ او پوه شئ چې تاسې هر څه کوئ، الله يې ګوري.
۲۳۴- او په تاسې کې چې څوک مري او مېرمنې ترې پاتې کېږي، هغه ښځې دې څلور میاشتې او لس ورځې په تمه پاتې شي. بیا چې هغوی خپلې مودې ته ورسېږي او هغوی له قاعدې سره سم، د خپل لپاره هر څه موافقه وکړي، په تاسې يې ګناه نشته. او الله ستاسې په کارونو پوره پوره خبر دی. ۲۳۵- او تاسې لپاره په دې خبره کې هېڅ ګناه نشته چې هغو ښځو ته په پیغامو رسولو کې اشارةً څه ووایئ یا (خبره) په خپل زړه کې وساتئ. الله پوهېږې چې تاسې به حتماً هغوی ته پام کوئ. خو له هغوی سره پټه وعده مه کوئ، تاسې له هغوی سره یوازې له دستور سره سمه خبره کولای شئ. او د نکاح کولو اراده تر هغې مه کوئ چې تر څو ټاکل شوی مدت پای ته ونه رسېږي. او پوه شئ چې الله په هغه څه پوهېږي چې ستاسې په زړه کې دي. نو له هغه ووېرېږئ او پوه شئ چې الله ښښونکی او د زغم خاوند دی. ۲۳۶- او که تاسې ښځو ته په داسې حالت کې طلاق ورکړئ چې نه مو پرې لاس لګېدلی وي او نه مو ورته څه مهر ټاکلی وي، نو په تاسې د هغوی د مهر هېڅ مواخذه نشته. البته هغوی ته له دستور سره سم څه سامان ورکړئ. په شتمنو د خپل حیثیت مطابق دی او په او بېوزلو د خپل حیثیت مطابق، دا په نېکی کونکو لازم دي. ۲۳۷- او که تاسې هغوی ته له لاس ور وړلو مخکې طلاق ورکړئ او څه مهر هم ټاکلی وي، نو څومره مهر چې ټاکل شوی، د هغه نیمایي

ادا کړئ، مګر که هغوی یې وبښي. یا یې هغه سړی وبښي چې په لاس کې یې نکاح تړل وي. او ستاسې ښښنه تقوی ته ډېره نږدې ده. او په خپلو کې له نېکۍ کولو غفلت مه کوئ. تاسې چې څه کوئ، الله یې ګوري.
۲۳۸- د لمونځ پابندي کوئ او د منځنیو لمونځونو پابندي کوئ. ۲۳۹- او د الله په وړاندې په عاجزۍ ودرېږئ. که خطر درته وي، نو پیاده یا په سورلۍ یې وکړئ. بیا چې د امن حالت راشي، نو الله په هغه طریقه یاد کړئ چې تاسې ته در ښودل شوې ده، هغه چې تاسې پرې نه پوهېدئ.
۲۴۰- او په تاسې کې چې کوم خلک مړه کیږي او ښځې تر شا پرېږدي، هغوی دې د خپلو ښځو په هکله وصیت وکړي چې یو کال دې په کور کې وساتل شي او مصرف ورکړل شي. بیا که هغوی پخپله کور پرېږدي، نو هر څه چې هغوی د ځان لپاره، له دستور سره سم کوي، په تاسې یې څه الزام نشته. الله قوي او د حکمت خاوند دی. ۲۴۱- او طلاقو شویو ښځو ته هم باید له دستور سره سم مصرف ورکړل شي، دا په پرهېزګارانو لازم دی. ۲۴۲- په دې توګه الله تاسې ته خپل احکام ښکاره بیانوي چې تاسې پوه شئ.
۲۴۳- ایا تاسې هغه خلک ونه لیدل چې له خپلو کورونو د مرګ له وېرې وتښتېدل او شمېر یې په زرګونو و. نو الله هغوی ته وویل چې مړه شئ. بیا الله هغوی بېرته ژوندي کړل. بېشکه الله په خپلو بنده ګانو فضل کونکی دی، خو زیاتره خلک شکر نه کوي. ۲۴۴- او د الله په لاره کې وجنګېږئ او پوه شئ چې الله اورېدونکی او پوهېدونکی دی. ۲۴۵- څوک دی چې الله ته قرض حسن ورکړي چې الله یې ورته زیات او څو چنده کړي. او الله تنګسې او آسانتیا پیدا کوي. او تاسې ټول به هغه ته ستنېږئ.
۲۴۶- ایا تاسې تر موسی وروسته د بني اسرائیلو سرداران ونه لیدل، چې کله هغوی خپل نبي ته وویل چې زموږ لپاره یو پاچا وټاکئ چې موږ

د الله په لاره کې وجنګېږو. نبي ځواب ورکړ: هسې نه چې تاسې ته د جنګ حکم وشي او تاسي ونه جنګېږئ. هغوی وویل دا څنګه کېدای شي چې موږ د الله په لاره کې ونه جنګېږو. حال دا چې موږ له خپلو کورونو را ویستل شوي یوو او له خپلو بچو جدا شوي یوو. بیا چې هغوی ته د جګړې حکم وشو، نو له لږو خلکو بغیر نور ټول پښېمانه شول. او الله ظالمان ښه پېژني. ۲۴۷- او د هغوی نبي الله ته وویل: الله طالوت تاسې لپاره پاچا ټاکلی دی. هغوی وویل چې په موږ باندې پاچاهي څنګه ورکول کېدای شي، حال دا چې د هغه په پرتله موږ د پاچاهۍ ډېر حقدار یوو. نبي (ورته) وویل چې الله ستاسې په ځای هغه ټاکلی دی او په علم او بدن کې هغه غوره دی. ۲۴۸- او د هغوی نبي ورته وویل چې د طالوت د پاچاهۍ نښه دا ده چې تاسې ته به هغه صندوق راشي چې تاسې لپاره په کې ستاسې د رب له طرفه تسکین دی او د آل موسی او آل هارون پاتې شوي یادګارونه دي. هغه صندوق به ملایکې راوړي. په دې کې تاسې لپاره لویې نښې دي، که تاسې ایمان لرونکي یئ.

۲۴۹- بیا چې طالوت له پوځونو سره راغی، نو هغه (ورته) وویل: الله تاسې د یوه سیند په وسیله ازمایل غواړي. نو چا چې د هغې (سیند) اوبه څښلی هغه زما ملګری نه دی او چا چې نه دي څښلي هغه زما ملګری دی. مګر دا چې څوک ترې په خپل لاس لپه ډکه کړي. نو په هغو کې له څو تنو بغیر (له هغه سیند) ښې اوبه وڅښلې. بیا چې طالوت او هغه خلک چې ده سره یې ایمان راوړی و، په سیند واوښتل، نو خلکو وویل چې نن موږ جالوت او د هغه له پوځ سره د جنګ قوت نه لرو. کوم خلک چې په دې پوهېدل چې الله سره مخ کېږي، هغوی وویل چې تر ټولو وړې ډلې د الله په حکم په لویو ډلو برلاسې کېږي. او الله له صبر کونکو سره دی. ۲۵۰- او بیا چې هغوی له جالوت او د هغه له پوځ سره مخ

شول، نو هغوی وویل: ای زموږ ربه، موږ ته صبر راکړه او زموږ قدمونه قوي کړه او هغو منکرانو سره په مقابل کې موږ سره مرسته وکړه.
۲۵۱- بیا هغوی د الله په حکم (د جالوت پوځ) ته ماتې ورکړه. او داؤد جالوت وواژه. او الله داؤد ته پاچاهي او پوهه عطا کړله او د کومو شیانو علم یې چې غوښت ور یې کړ او که الله ځینې خلک په ځینو خلکو دفع نه کړي، نو ځمکه به له فساده ډکه شي، مګر الله د ځمکې په مخلوق ډېر فضل کونکی دی.
۲۵۲- دا د الله آیتونه دي چې موږ یې تاته سم سم در اوروو. او بېشکه ته د پېغمبرانو له ډلې یې. *۲۵۳- په دې پېغمبرانو کې موږ ځینو ته په ځینو فضیلت ورکړی دی. په دوی کې ځینو له الله سره کلام کړی او د ځینو (مو) درجې لوړې کړې. او موږ عیسی ابن مریم ته ښکاره نښې ورکړې او د روح القدس په وسیله مو د هغه مرسته وکړه. او که الله غوښتی وای، تر هغوی وروسته (خلک) به دواضح حکم له راتللو وروسته نه جنګېدای، خو هغوی اختلاف وکړ. بیا په هغوی کې ځینو ایمان راوړ او ځینو انکار وکړ. او که الله غوښتی وای، هغوی نه جنګېدل، خو الله چې څه غواړي هغه کوي.
۲۵۴- ای د ایمان خاوندانو، مصرف وکړئ له هغه څه چې موږ تاسې ته درکړي دي، له هغې ورځې راتللو مخکې چې نه په کې اخیستل او خرڅول شته او نه ملګري او واسطه. او څوک چې منکر دي، هغوی ظالمان دي. ۲۵۵- الله، له هغه بغیر بل معبود نشته. هغه ژوندی دی، هغه تلپاتې دی. په هغه نه پرکالي راځي او نه خوب ورځي. د هغه دي هر څه چې په ځمکو او آسمانونو کې دي. څوک دی چې هغه ته، د هغه له اجازې بغیر شفاعت وکړي. څه چې له هغوی مخکې دي او څه چې

د هغوی شاته دي، هغه ته ټول معلوم دي. او هغوی د هغه له رضا بغیر د هغه له علم نه هېڅ شی نه شي اخیستی، مګر که هغه یې وغواړي. د هغه واکمني په آسمانونو او ځمکې خپره ده. هغه په ساتنې نه ستړی کیږي او هغه د لوړ شان او عظمت خاوند دی. ۲۵۶- د دین په چارو کې هېڅ جبر نشته. هدایت له ګمراهۍ جدا شوی دی. نو څوک چې له شیطان نه انکار وکړي او په الله ایمان راوړي، هغه قوي کړۍ نیولې چې د ماتېدو نه ده. او الله اورېدونکی او پوهېدونکی دی. ۲۵۷- الله د ایمان د خاوندانو کارساز دی. هغه هغوی له تیارو وباسي او رڼا ته یې راوړي، او کومو خلکو چې انکار کړی، د هغوی ملګری شیطان دی، هغه یې له رڼا وباسي او تیارو ته یې وړي. دا اور ته تلونکي خلک دي، او تل به په کې اوسیږي.
۲۵۸- ایا تا د هغه په هکله نه دي اورېدلي چې له ابراهیم سره یې د هغه د رب په هکله بحث وکړ. ځکه چې الله هغه ته پاچاهي ورکړې وه. کله چې ابراهیم وویل چې زما رب هغه دی چې ژوندي کول او وژل کوي. هغه وویل چې زه هم ژوندي کول او وژل کوم. ابراهیم وویل چې الله لمر له مشرقه را پورته کوي، ته یې له مغربه را پورته کړه. بیا هغه منکر حیران شو. او الله ظالمانو ته لار نه ښیي.
۲۵۹- یا لکه هغه کس چې په یوه کلي تېرېده. او کلی ټول ناست و (ودانۍ یې ناستې وې)، هغه وویل: الله به دغه کلی له هلاکېدو وروسته څنګه را ژوندی کوي. بیا الله په هغه تر کلونو مرګ طاري کړ. بیا یې هغه را پورته کړ. الله وپوښت چې ته څومره وخت په دې حالت کې وې. هغه وویل چې یوه یا څه کم یوه ورځ. الله ورته وویل نه، بلکې ته سل ۱۰۰کاله (په دې حالت) وې. اوس ته خپل د خوراک څښاک شیان وګوره، هغه نه دي خوسا شوي او خپل خر وګوره. او تر څو چې موږ تا د خلکو لپاره

یوه نښه وګرځوو. او هډوکو ته وګوره چې څنګه مو د هغه اړانه ودرولې
ده. بیا مو په هغه غوښه پورې کړې ده. بیا چې هغه ته روښانه شوه، نو
ویې ویل چې زه پوهېږم چې بېشکه الله په هر څه قادر دی. ۲۶۰- او بیا
چې ابراهیم وویل چې ای زما ربه، ماته وښییه چې ته مړي څنګه ژوندي
کوې. الله (ورته) وویل، ایا تا باور ونه کړ. ابراهیم وویل، ولې نه، خو د
دې لپاره چې زما د زړه تسکین وشي. ویې فرمایل، ته څلور مرغۍ
واخله، هغه ځان سره اموخته کړه، بیا هره یوه په بېل غر کېږوه او ځان
ته یې را وغواړه. هغوی به تاته په منډه راشي. او پوه شه چې الله قوي
او د حکمت خاوند دی.
۲۶۱- کوم خلک چې خپل مال د الله په لاره کې مصرفوي، د هغو مثال
داسې دی لکه یوه دانه چې وي او له هغه اووه[۷] غونچې پیدا شي او په
هرې غونچې کې سل[۱۰۰]دانې وي. او الله یې چې چاته وغواړي، هغه ته
یې زیاتوي. او الله د پراختیا خاوند او پوهېدونکی دی. ۲۶۲- کوم خلک
چې خپل مال د الله په لاره کې مصرفوي او بیا له مصرف وروسته نه
احسان کوي او نه چاته تکلیف رسوي، د هغوی لپاره له خپل رب سره
اجر دی. او د هغوی لپاره نه وېره شته او نه به خفه وي. ۲۶۳- مناسبه
خبره کول او ګذشت کول تر هغې صدقې ښه دي چې ځورول ورپسې
وي. او الله بې نیازه او د زغم خاوند دی. ۲۶۴- ای د ایمان خاوندانو، د
احسان په کولو او ځورولو خپله صدقه مه ضایع کوئ، لکه هغه کس چې
خپل مال د ځان ښودلو لپاره مصرفوي او په الله او د آخرت په ورځ
ایمان نه لري. نو د هغه مثال داسې دی لکه په یوه کمر (تیږې) چې ګرد
پروت وي، په شړک باران پرې وشي او بیخي یې پاک کړي. دوی به
له خپل ګټلي (مال) هېڅ هم ترلاسه نه کړي. او الله منکرانو ته لاره نه
ښیي.

۲۶۵- او کوم خلک چې خپل مال د الله د رضا موندلو او خپل نفس پخولو لپاره مصرفوي، د هغوی مثال د هغه باغ دی چې په لوړ ځای وي. که په شړک باران پرې وشي، دوه چنده میوه کوي او که په شړک باران پرې ونه شي، نو نری باران یې هم بس دی. او تاسې چې هر څه کوئ، الله یې ګوري. ۲۶۶- ایا په تاسې کې څوک دا غواړي چې د کجورو او انګورو یو باغ ولري او ور لاندې نهرونه بهیږي. په کې دده لپاره هر ډول مېوې وي. او کله چې هغه بوډا شي او بچي یې لا واړه وي، بیا په هغه باغ یوه بربوکۍ راشي چې اور په کې وي او هغه باغ وسوځیږي. الله تاسې ته دغه ډول ښکاره نښې ښيي چې تاسې غور وکړئ.
۲۶۷- ای د ایمان خاوندانو، مصرف کړئ له خپلو شتمنیو ښه شیان او له هغه څه چې موږ تاسې ته په ځمکه پیدا کړي دي. او د بې ارزښته شي د صدقه کولو نیت مه کوئ. حال دا چې تاسې هېڅکله هغه نه اخلئ، مګر چې سترګې پرې پټې کړئ. او پوه شئ چې الله بې نیازه او د ښېګڼو لرونکی دی. ۲۶۸- شیطان تاسې له محتاجۍ وېروي او د بدو خبرو تلقین کوي او الله د خپل بخشش او فضل وعده ورکوي او الله د پراختیا او پوهې خاوند دی. ۲۶۹- هغه چې چاته وغواړي حکمت ورکوي او چاته چې حکمت ورکړل شو، هغه ته لویه شتمني ورکړل شوه. او نصیحت هغوی ترلاسه کوي چې د عقل خاوندان دي.
۲۷۰- او تاسې چې مصرفوئ یا یې نذر منئ، الله پرې پوهیږي. او د ظالمانو هېڅ مرستندوی نشته. ۲۷۱- که تاسې خپلې صدقې ښکاره ورکړئ، بیا هم ښه دي او که په پټه یې محتاجو ته ورکړئ، نو دا ستاسې لپاره ډېره غوره ده. او الله به ستاسې ګناهونه پاک کړي او الله ستاسې په کارونو خبر دی. ۲۷۲- هغوی سمې لارې ته راوستل ستا مسوولیت نه دی، بلکې الله چې چاته وغواړي، هغه ته هدایت کوي. او کوم مال چې

تاسې مصرفوئ، د ځان لپاره يې کوئ. او تاسې مصرف مه کوئ، مګر د الله د رضا ترلاسه کولو لپاره. او تاسې چې کوم مال مصرفوئ، هغه به درته پوره درکول کيږي او تاسې لپاره به په کې کمی نه وي. ۲۷۳- صدقې د هغو محتاجو لپاره دي چې د الله په لاره لوېدلي وي، په ځمکه نه شي ګرځېدلای. بې خبره سړی پرې د هغوی د سوال نه کولو له وجې د شتمن ګمان کوي. تاسې هغوی د ظاهر نه پېژندلی شې. هغوی يې له خلکو په ټينګار نه غواړي. او تاسې چې کوم مال مصرفوئ الله ته معلوم دی. ۲۷۴- کوم خلک چې خپل مالونه شپه او ورځ په ښکاره او پټه مصرفوي، هغوی ته د خپل رب سره اجر دی. او په هغوی نه وېره شته او نه به خفه وي.
۲۷۵- کوم خلک چې سود خوري، هغوی به د قيامت په ورځ د هغو خلکو په شان را پورته کيږي چې شيطان لمس کړي او خبطي کړي وي. دا ځکه چې هغوی ويل تجارت کول هم داسې دي لکه سود اخيستل. حال دا چې الله تجارت حلال کړی او سود يې حرام کړی دی. بيا چې کوم شخص ته د هغه د رب له طرفه نصيحت ورسېده او هغه را منع شو، نو څه يې چې اخيستي، هغه يې خپل دي او د هغه معامله له الله سره ده. او کوم خلک چې بيا هماغه (سود) کوي، هغوی دوزخيان دي او تل به په کې اوسيږي. ۲۷۶- الله سود کموي او صدقې ډېروي. او الله ناشکران او ګناهګاران نه خوښوي. ۲۷۷- بېشکه چې کومو خلکو ايمان راوړی، او نيک عمل يې کړی او د لمونځ پابندي يې کړې، او زکات يې ورکړی، د هغوی لپاره له خپل رب سره اجر دی. په هغوی نه کوم تکليف شته او نه به خفه وي.
۲۷۸- ای د ايمان خاوندانو، له الله ووېرېږئ او کوم سود چې پاتې دی، هغه پرېږدئ، که مومنان يئ. ۲۷۹- که تاسې داسې نه کوئ، نو د الله او

د هغه د رسول له اړخه جګړې ته خبر شئ. او که تاسې توبه وکړئ، نو د اصلي پيسو تاسې حقدار يئ، نه په چا ظلم کوئ او نه دې په تاسې ظلم کيږي. ۲۸۰- او که د چا لاس تنګ وي، نو تر پراخۍ وخت ورکړئ. او که يې وبښئ، نو دا ستاسې لپاره ډېره غوره ده، که تاسې پوه شئ. ۲۸۱- او له هغې ورځې ووېرېږئ چې په کومه ورځ به الله ته ستنيږئ. بيا به هر چا ته د هغه کړي پوره پوره ورکړل شي او په هغوی به ظلم نه کيږي.
۲۸۲- ای د ايمان خاوندانو، کله چې تاسې له چا سره د ټاکلې مودې لپاره د پور معامله کوئ، نو هغه ليکئ. او هغه دې ستاسې ترمنځ يو ليکونکی په عدل وليکي. او ليکونکی دې له ليکلو انکار نه کوي، لکه څنګه چې الله ورښودلي، هغه يې بايد هماغسې وليکي. او هغه خلک دې وليکي چې حق پرې راځي. او هغه دې له الله ووېرېږئ چې د هغه رب دی او په هغه کې هېڅ کمی نشته. او په کوم کس چې حق راځي، که هغه ناپوه يا کمزوری وي يا پخپله د ليکلو وړتيا نه لري، نو د هغه ولي يې بايد په عدل وليکي. او په خپلو خلکو کې دوه تنه ګواهان کړئ. که دوه سړي نه وي، نو يو سړی او دوه ښځې له هغو خلکو چې تاسې يې خوښوئ، که چېرې له يوې ښځې هېر شي چې دويمه ښځه يې ور ياد کړي. او ګواه چې کله را وغوښتل شي، نو انکار دې نه کوي. او معامله کوچنۍ وي، که لويه، د مودې له ټاکلو سره ليکلو کې يې سستي مه کوئ. دا ليکل د الله په نزد د ډېر عدل طريقه ده او ګواهي ډېره سمه ساتونکې ده او ډېر امکان شته چې تاسې په شک کې ونلوېږئ. خو که کومه سودا لاس په لاس وي چې تاسې يې په خپل منځ کې راکړه ورکړه کوئ، نو په تاسې هېڅ الزام نشته چې تاسې يې مه ليکئ. خو کله چې دا سودا کوئ، نو ګواهان وټاکئ او کوم ليکونکي يا ګواه ته بايد تاوان ونه رسيږي. او که

داسې وکړئ، نو دا به تاسې لپاره د ګناه خبره وي. او له الله ووېرېږئ، الله يې تاسې ته در زده کوي او الله په هر څه پوهېدونکی دی. ۲۸۳- او که تاسې په سفر کې يئ او څوک ليکونکی نه مومئ، نو يو څه بايد د تضمين په توګه ورکړل شي. او که په تاسې کې يو شخص په بل شخص باور کوي، نو په چا چې باور کېږي، هغه بايد خپل باور وساتي. او هغه دې له الله ووېرېږي چې د هغه رب دی. او ګواهي مه پټوئ، څوک يې چې پټوي، د هغه زړه به ګناهګار وي. او تاسې چې هر څه کوئ، الله په هغه پوهېدونکی دی.
۲۸۴- د الله دي هر څه چې په آسمانونو کې دي او په ځمکه دي. که تاسې د خپل زړه خبرې ښکاره کړئ او که يې پټې کړئ، الله به يې درسره حساب وکړي. بيا چې څوک وغواړي هغه به وبښي او چې چاته وغواړي، هغه ته به جزا ورکړي. او الله په هر څه قادر دی. ۲۸۵- رسول په هغه څه ايمان راوړی چې د خپل رب له طرفه پرې نازل شوي دي او مسلمان هم په هغه ايمان راوړی دی. ټولو په الله، د هغه په ملايکو، د هغه په کتابونو او د هغه په رسولانو ايمان راوړی دی. موږ د هغو رسولانو ترمنځ په چا کې فرق نه کوو. او هغوی وايي چې موږ واورېدل او ومو منل، موږ ستا بښنه غواړو ای زموږ ربه او تاته به در ستنېږو.
۲۸۶- الله په هېچا د هغه له وس پورته مسووليت نه اچوي. هغه ته به هغه څه ورکول کېږي چې ګټلي يې دي او هغه به پرې کېږي چې کړي يې دي. او زموږ ربه که موږ هېر کړل يا مو تېروتنه وکړله، نو موږ مه نيسه. ای زموږ ربه، په موږ هغسې بوج مه اچوه چې تر موږ مخکو باندې دې اچولی و. ای زموږ ربه، په موږ هغه مه پورته کوه چې د پورته کولو وس يې نه لرو او له موږ سره نرمي وکړه. او موږ وبښه او

په موږ رحم وکړه. ته زموږ کارساز يې، نو د منکرانو په مقابل کې له موږ سره مرسته وکړه.

## آل عمران سوره ۳

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱-- الم. ۲- الله، له هغه بغير بل معبود نشته، ژوندی او تلپاتې دی. ۳- هغه په تا کتاب نازل کړ له حق سره، تصديقونکی د هغه څه چې له دې مخکې دي، او هغه تورات او انجيل نازل کړل. ۴- له دې مخکې هغه د خلکو د هدايت لپاره فرقان نازل کړ. بېشکه کومو خلکو چې د الله له نښو انکار کړی، د هغوی لپاره سخت عذاب دی او الله قوي، انتقام اخيستونکی دی. ۵ بېشکه له الله هېڅ نه دي پټ نه په ځمکه او نه په آسمان کې. ۶- هغه د مور په خېټه کې ستا صورت جوړوي څنګه چې وغواړي. له هغه بغير بل معبود نشته، هغه قوي او د حکمت خاوند دی.
۷- هغه دی چې په تا يې کتاب نازل کړ. په دې کې ځيني آيتونه محکم دي، هغه د کتاب اصل دی او نور آيتونه متشابه دي، نو د چا په زړه کې چې کوږوالی دی، هغوی د فتنې په لټون او د هغو د معنی په لټون په متشابه آيتونو پسې کېږي، حال دا چې د هغه په معنی له الله بغير بل هېڅوک نه پوهېږي. او کوم خلک چې د علم خاوندان دي، هغوی وايي چې موږ په دې ايمان راوړی، ټول زموږ د رب له طرفه دي. او نصيحت هغه خلک مني چې عقل لري. ۸- ای زموږ ربه، تا چې موږ ته هدايت کړی دی، زموږ زړونه مه بې لارې کوه. او موږ ته خپل رحمت راکړه. بېشکه ته د هر څه ورکونکی يې. ۹- ای زموږ ربه، ته په هغه ورځ د خلکو راټولونکی يې چې په هغه (ورځ) کې هېڅ شک نشته. بېشکه الله وعده خلافي نه کوي.

۱۰- بېشکه کومو خلکو چې انکار کړی، د هغوی مال او اولاد به يې د الله په مقابل کې هېڅ په کار را نه شي. او همدا خلک به (د دوزخ) خشاک وي. ۱۱- د دوی انجام به داسې وي لکه څنګه چې د فرعون د ډلې او تر هغوی مخکې خلکو و. هغوی زموږ نښې دروغ وبللې. له دې امله الله هغوی د خپلو ګناهونو له وجې ونيول. او الله سخت جزا ورکونکی دی. ۱۲- انکار کونکو ته ووايه چې تاسې به مغلوب کړی شئ او د دوزخ طرف ته به ورټول کړی شئ او دوزخ ډېر لوی دی. ۱۳- بېشکه تاسې لپاره نښه ده په هغو دوو ډلو کې چې ترمنځ يې (په بدر کې) جګړه وشوه. يوه ډله د الله په لاره کې جنګېدله او بله منکره وه. دې منکرو په پرانيستو سترګو هغوی دوه چنده ليدل. او الله چې چاته وغواړي، د خپلې مرستې زور ورکوي. په دې کې د سترګو خاوندانو ته لوی سبق دی.
۱۴- خلکو ته ښاېسته کړی شوي دي، له خواهشاتو سره مينه، ښځې، زامن، د سرو او سپينو ډېري، نښه لرونکي آسونه، څاروي او کروندې. دا د دنيوي ژوند سامان دی. او الله سره ډېر ښه استوګنځای دی. ۱۵- (ورته) ووايه، ايا تاسې ته داسې ښه څه در وښييم. کوم خلک چې وېرېږي، د هغوی له رب سره باغونه چې ور لاندې نهرونه بهېږي. هغوی به هلته تل اوسېږي.او پاکې مېرمنې به وي او الله به ترې راضي وي، الله د خپلو بندګانو عمل ګوري.۱۶- هغه خلک چې وايي ای زموږ ربه، موږ ايمان راوړ، نو ته زموږ ګناهونه وبښه او موږ د اور له عذابه وساته. ۱۷- هغه صبر کونکي دي، او رښتيني دي، فرمانبرداره دي، مصرفوونکي دي او د شپې په وروستۍ برخه کې مغفرت غوښتونکي دي.
۱۸- د الله، د ملايکو او د اهل علم دا ګواهي ده چې له الله بغير بل معبود نشته. هغه د عدل قايمونکی دی. له هغه بغير بل معبود نشته. هغه قوي

او د حکمت خاوند دی. ۱۹- دین د الله په نزد یوازې اسلام دی او اهل کتابو چې په دې کې کوم اختلاف وکړ، هغه یې د خپل ضد له وجې، له هغې وروسته وکړ چې دوی ته سم علم رسېدلای و. او څوک چې د الله له آیتونو انکار وکړي، نو یقیناً الله زر حساب کونکی دی. ۲۰- بیا که هغوی تا سره په دې هکله جنګ کوي، نو ورته ووایه چې ماخپل مخ د الله طرف ته کړ او زما پیروانو هم (کړ). او له اهل کتابو او نالوستو وپوښته چې ایا تاسې هم داسې اسلام راوړئ. که هغوی اسلام راوړ، نو لاره یې وموندله او که وګرځېدل، نو ستا کار یوازې (پیغام) رسول دي. او د الله بنده ګان د هغه په نظر کې دي. ۲۱- کوم خلک چې د الله له نښو انکار کوي، پیغمبران په ناحقه قتلوي او هغه خلک وژني چې په خلکو کې د عدل د دعوت لپاره را پورته کیږي، نو هغوی (قاتلینو) ته د دردناکې جزا زیری ورکړه. ۲۲- همدا هغه خلک دي چې اعمال به یې په دنیا او آخرت کې ضایع شي او د مرستې به یې څوک نه وي.
۲۳- ایا تا هغه خلک نه دي لیدلي چې د الله د کتاب یوه برخه ورکړل شوې وه. هغوی د الله د کتاب طرف ته را بلل کیږي چې دا یې ترمنځ فیصله وکړي. بیا د هغوی یوه ډله مخه اړوي او بې رُخي کوي. ۲۴- دا په دې خاطر چې هغوی وایي، موږ به د یو څو شمېرل شویو ورځو بغیر نور په اور کې ونه سوځیږو. او د هغوی جوړ شویو خبرو هغوی د خپل دین په هکله په تېروتنه کې واچول. ۲۵- بیا به هغه وخت څه کیږي چې کله موږ هغوی په داسې یوه ورځ راټول کړو چې په راتګ کې یې هېڅ شک نشته، او هر چا چې څه کړي د هغې پوره پوره بدل به ورکول کیږي او په هغوی به ظلم نه کیږي. ۲۶- ته ووایه، ای الله، د پاچاهۍ خاونده ته چې چاته وغواړې پاچاهي ورکوې او له چا چې وغواړې پاچاهي اخلې. او ته چې چاته وغواړې عزت ورکوې او څوک چې

وغواړې، هغه سپکوې. ټولې ښېګڼې ستا په لاس کې دي. بېشکه ته په هر څه قادر یې. ۲۷- ته ورځ په شپې داخلوې او شپه په ورځې داخلوې. او ته له مړي ژوندی را وباسې او له ژوندي مړی را وباسې. او ته چې چاته وغواړې، هغه ته بې حسابه رزق ورکوې.
۲۸- مومنان باید د ایمان خاوندان پرې نه ږدي او منکرین ملګري نه کړي. او څوک چې داسې کوي،نو له الله سره یې هېڅ اړیکه نشته. مګر په داسې حالاتو کې چې تاسې له هغوی ځان ساتل غواړئ. او الله تاسې له خپل ذاته وېروي. او الله ته ستنېدل دي. ۲۹- (ورته) ووایه څه چې ستاسې په سینو کې دي، که یې پټ کړئ که یې ښکاره کړئ، الله پرې پوهېږي. او هغه په هغه څه پوهېږي چې په آسمانونو کې دي او هغه څه چې په ځمکه دي. او الله په هر څه قادر دی. ۳۰- په کومه ورځ چې هر څوک خپلې کړې نیکۍ په خپل مخ کې موجودې ووینې او که بدي یې کړې وي هغه هم (ووینې). په هغه ورځ به هر څوک دا غواړي چې ای کاش، نن ترې دا ورځ ډېره لرې وای. او الله تاسې له خپل ذاته وېروي. او الله په خپلو بندهګانو مهربان دی.-۳۱-(ورته) ووایه، که تاسې له الله سره مینه کوئ، نو زما پیروي وکړئ، الله به تاسې سره مینه وکړي. او ستاسې ګناهونه به وبښي. الله ډېر لوی ښونکی او مهربان دی. ۳۲- (ورته) ووایه چې د الله او رسول اطاعت وکړئ. بیا که هغوی مخ واړوي (اعراض وکړي)، نو د الله منکران نه خوښېږي.
۳۳- بېشکه الله آدم او نوح او آل ابراهیم او آل عمران په ټول عالم غوره کړي دي. ۳۴- دوی د یو بل آولاد دي. او الله اورېدونکی او پوهېدونکی دی. ۳۵- کله چې د عمران مېرمنې وویل، آی زما ربه زما په خېټه کې چې څه دي ما ستا لپاره نذر کړي دي، هغه به آزاد پرېښودل کېږي. نو ته یې له ما قبول کړه، بېشکه ته اورېدونکی او پوهېدونکی یې. ۳۶- بیا

چې هغې وزېږاوه نو ویې ویل، ای زما ربه، ما خو نجلۍ وزېږوله او الله پوهېږي چې هغې څه زېږولي او هلک د نجلۍ په شان نه وي. او ما په هغې مریم نوم ایښې دی او زه د هغې اولاد د شیطان مردود نه ستا پناه ته در وړم. ۳۷- نو د هغه رب هغه په ښه ډول قبوله کړله، هغه یې په ښه ډول وساتله او زکریا یې د هغې سرپرست کړ. هرکله به چې زکریا د هغې کوټې ته لاړ، نو هلته به یې رزق وموند. هغه پوښتنه وکړله ای مریم، دا شیان ته له کومه راوړې. مریم وویل دا د الله له طرفه راځي. بېشکه الله چې چاته وغواړي بې حسابه رزق ورکوي. ۳۸- هغه وخت زکریا خپل رب یاد کړ.هغه وویل چې ای زما ربه، ماته له خپل اړخه پاک اولاد را عطا کړه، بېشکه ته د دعا اورېدونکی یې. ۳۹- بیا چې هغه په کوټه کې ولاړ و او لمونځ یې کاوه، ملایکو پرې غږ وکړ چې الله تاته د یحیی زېری درکوي چې هغه به د کلمةالله تصدیق کوي، سردار به وي، د خپل نفس ساتونکی به وي او د نېکانو له ډلې نبي به وي. ۴۰- زکریا وویل ای زما ربه، زما زوی به څنګه پیدا شي، سره د دې چې زه زوړ شوی یم او ښځه مې شنډه ده. ویې فرمایل الله چې څنګه وغواړي هغسې کوي. ۴۱- زکریا وویل ای زما ربه، زما لپاره یوه نښه وټاکه. ویې ویل ستا لپاره دا نښه ده چې ته به تر درېیو ورځو چا سره خبرې نه شې کولای، مګر په اشارې (به یې کوې)، او خپل رب ډېر یادوه او سهار او ماښام د هغه تسبیح کوه. ۴۲- او کله چې ملایکو وویل ای مریم، الله ته غوره کړې یې او ته یې پاکه کړې یې او ته یې د ټولې دنیا په ښځو غوره کړې یې. ۴۳ ای مریم، د خپل رب فرمانبرداري کوه او سجده کوه او له رکوع کونکو سره رکوع کوه. ۴۴- دا د غیب خبرې دي چې موږ یې تاته وحې کوو او ته له هغو سره هغه وخت نه وې چې کله هغوی

پچه اچوله چې څوک به د مریم پالنه کوي او نه ورسره هغه وخت وې
چې کله هغوی په خپلو کې سره جنګېدل.
۴۵- کله چې ملایکو وویل ای مریم، الله تاته له خپل اړخه د یوې کلمې
زېری درکوي. د هغه نوم به مسیح عیسی ابن مریم وي. هغه به په دنیا
او آخرت کې د مرتبې خاوند وي او الله ته نږدې بندهګانو کې به وي.
۴۶- هغه چې د مور په غېږه کې وي له خلکو سره به خبرې کوي او
کله چې عمر ته رسېږي په صالحینو کې به وي. ۴۷- مریم وویل ای زما
ربه، زما بچی به څنګه پیدا کېږي، سره د دې چې کوم سړي په ما لاس
نه دی ایښی. ویې فرمایل الله چې څه غواړي همداسې یې پیدا کوي. هغه
چې کومه فیصله کوي نو ورته وایي چې وشه او هغه وشي. ۴۸- او الله
به هغه ته کتاب او حکمت او تورات او انجیل ور زده کړي. ۴۹- او هغه
به د بني اسرائیلو طرف ته رسول وي چې تاسې ته مې ستاسې د رب
نښه راوړې ده. زه ستاسې لپاره له خاورې د مرغۍ په شان شکل
جوړوم، بیا هغه ته پوکی ورکوم، نو له هغې به د الله په حکم واقعي
مرغۍ جوړېږي. او زه د الله په حکم له موره پیدا شوی ړوند او جزامي
رغوم. او زه د الله په حکم مړي را ژوندي کوم. او زه تاسې ته وایم چې
تاسې څه خورئ او په خپلو کورونو کې څه ساتئ. بېشکه په دې کې
تاسې لپاره نښې دي، که تاسې ایمان لرئ. ۵۰- او زه تورات تصدیقوم
چې تر ما مخکې نازل شوی او زه د دې لپاره راغلی یم چې ځینې هغه
شیان ستاسې لپاره حلال کړم چې په تاسې حرام شوي وو. او ما تاسې ته
ستاسې د رب نښه راوړې ده. نو تاسې له الله ووېرېږئ او زما اطاعت
وکړئ. ۵۱- بېشکه الله زما رب هم دی او ستاسې هم. نو د هغه عبادت
کوئ، همدا سمه لار ده.

۵۲- بیا چې عیسی د هغوی انکار ولید نو ویې ویل چې د الله په لاره کې به څوک راسره مل شي. حواریونو وویل چې موږ د الله (په لاره کې) مرستندوی یوو. موږ په الله ایمان راوړی دی او ته ګواه اوسه چې موږ فرمانبرداره یوو. ۵۳- ای زموږ ربه، موږ په هغه ایمان راوړی چې تا نازل کړي او موږ د رسول پیروي کړې. نو ته موږ په ګواهي ورکونکو کې ولیکه. ۵۴- او هغوی پټ تدبیر وکړ. او الله هم پټ تدبیر وکړ او الله تر ټولو ښه تدبیر کونکی دی. ۵۵- کله چې الله وویل ای عیسی، زه تا بېرته اخلم او بېرته دې خپل ځان ته را پورته کوم او کومو خلکو چې انکار کړی، له هغوی دې پاکوم، او څوک چې ستا پیرویان دي، هغوی تر قیامته په هغوی بریالي کوم چې له تا یې انکار کړی دی. بیا به بېرته ټول ماته را ستنیږي. زه به ستاسې ترمنځ د هغو شیانو فیصله کوم چې تاسې پرې جنګونه کوئ. ۵۶- بیا چې څوک منکر شول هغوی ته په دنیا او آخرت کې سخته جزا ورکوم او د هغوی به هېڅ مرستندوی نه وي. ۵۷- او کومو خلکو چې ایمان راوړ او نېک کارونه یې وکړل، هغوی ته به الله پوره اجر ورکړي او الله ظالمان نه خوښوي. ۵۸- دا موږ تاته خپل آیتونه او له حکمته ډک مضامین در اوروو.
۵۹- بېشکه د عیسی مثال د الله په نزد د آدم په شان دی. الله هغه له خاورې جوړ کړ. بیا یې هغه ته وویل چې وشه، نو هغه وشو. ۶۰- ستا د رب له طرفه حق خبره ده، نو ته په شک کونکو کې مه راځه. ۶۱- تاته چې علم درشي، که له هغه وروسته هم بیا څوک له تا سره بحث کوي، نو ورته ووایه راځئ چې موږ خپل بچي را وغواړو او تاسې خپل بچي او موږ خپلې ښځې را وغواړو او تاسې خپلې ښځې. او پخپله موږ به هم راټول شوو. او بیا به په شریکه دعا وکړو چې څوک دروغجن وي، په هغه دې د الله لعنت وي. ۶۲- بېشکه دا رښتیا بیان دی. او له الله

بغير بل معبود نشته او الله قوي او د حکمت خاوند دی. ۶۳- بیا یې که هغوی ونه مني، نو الله مفسدین پېژني.
۶۴- (ورته) ووایه ای اهل کتابو، د یوې داسې خبرې طرف ته راشئ چې زموږ او ستاسې تر منځ ګډه ده، چې موږ به له الله بغیر د بل چا عبادت نه کوو او له الله سره به څوک نه شریکوو. او په موږ کې به هېڅوک له الله بغیر بل رب نه ټاکي. بیا که هغوی اعراض وکړي نو ووایه، ته ګواه اوسه، موږ فرمانبرداره یوو. ۶۵- ای اهل کتابو، تاسې د ابراهیم په هکله ولې جنګېږئ. سره د دې چې تورات او انجیل خو تر هغه وروسته نازل شوي دي. ایا تاسې نه پوهېږئ. ۶۶- تاسې هغه خلک وئ چې په هغه څه جنګېدئ چې لږ پرې پوهېدئ. اوس په هغه خبرې ولې جنګېږئ چې تاسې پرې هېڅ نه پوهېږئ. او الله پوهېږي، تاسې نه پوهېږئ. ۶۷- ابراهیم نه یهودي و او نه نصراني. بلکه هغه حنیف مسلمان و او په شرک کونکو کې نه و. ۶۸- په ټولو خلکو کې ابراهیم هغو (خلکو) ته ډېر نږدې دی چې د هغه پیروي یې کړې او د پیغمبرانو او هغه خلک چې ایمان یې راوړی دی. او الله د ایمان لرونکو ملګری دی.
۶۹- په اهل کتابو کې یوه ډله غواړي چې تا په څه طریقه ګمراه کړي، دې سره هغوی بل څوک نه، مګر ځان ګمراه کوي. خو په دې نه پوهېږي. ۷۰- ای اهل کتابو، تاسې د الله له نښو ولې انکار کوئ، سره د دې چې تاسې ګواهان یئ. ۷۱- ای اهل کتابو، تاسې له غلط سره سم پټوئ او حق پټوئ. سره د دې چې تاسې پوهېږئ.
۷۲- او د اهل کتابو یوې ډلې وویل په مومنانو چې څه نازل شوي په هغه سهار ایمان راوړئ او ماښام ترې انکار وکړئ، کېدای شي له دې سره (ترې) مومنان هم واوړي. ۷۳- او په بل چا باور مه کوه، بې له هغو چې تا سره ستا په دین روان شي. (ورته) ووایه، په هدایت هغه دی

چې ورته الله هدایت وکړي. بل چاته هم شاید داسې وشي لکه تاسې ته چې شوی و، یا هغوی چې ستاسې د رب په حضور کې له تاسې سره بحث وکړي. ورته (ووایه) فضل له الله سره دی، هغه یې چې چاته وغواړي ورکوي یې او الله ډېر د پراختیا او علم خاوند دی. ۷۴- هغه چې څوک وغواړي د خپل رحمت لپاره یې غوره کوي. او الله ډېر فضل کونکی دی. ۷۵- او په اهل کتابو کې داسې هم شته چې که ته ورسره امانتونه کېږدې، نو هغه یې درته (بېرته) ادا کوي. او ځینې په کې داسې دي چې که یو دینار ورسره امانت کېږدې، نو هغه درته (بېرته) نه ادا کوي، تر څو چې د هغه په سر ولاړ نه یې. دا په دې خاطر چې هغوی وایي د غیراهل کتابو په وړاندې په موږ مسوولیت نشته. او هغوی په الله دروغ تپي، سره د دې چې پوهېږي. ۷۶- بلکې څوک چې خپله وعده ترسره کړي او له الله نه ووېرېږي، نو بېشکه الله داسې متقیان خوښوي. ۷۷- څوک چې د الله وعده او خپل قسمونه په لږه بیه خرڅوي، هغوی په آخرت کې هېڅ برخه نه لري. الله به ورسره د قیامت په ورځ نه خبرې کوي، نه به ورته ګوري او نه به یې پاک کړي. او د هغوی لپاره له درده ډک عذاب دی. ۷۸- او په هغوی کې ځینې داسې دي چې خپل ژبې په کتاب کې اړوي چې ته یې له کتابه وګڼې، سره د دې چې هغه له کتابه نه دي. او هغوی وایي چې دا د الله له طرفه دي، سره د دې چې هغه د الله له طرفه نه دي. او هغوی پوهېږي، خو په الله دروغ تپي. ۷۹- دا له انسان سره نه ښایي چې الله ورته کتاب او حکمت او نبوت ورکړي او هغه خلکو ته دا ووایي چې تاسې الله پرېږدئ او زما بندهګان شئ. بلکې هغه به وایي چې تاسې د الله بنده ګان شئ، په دې خاطر چې تاسې نورو ته د کتاب تعلیم ورکوئ او پخپله یې هم لولئ. ۸۰- او نه به درته دا حکم

کوي چې تاسې ملايکې او پېغمبران خپل رب کړئ. ايا هغوی به تاته د کفر خبره کوي، له هغې وروسته چې تا اسلام راوړی وي.
۸۱- کله چې الله له پېغمبرانو وعده واخيستله، ويې ويل، دا کتاب او حکمت دی چې ما تاسې ته درکړی. تاسې ته چې کله پېغمبر راشي او هغه وړاندوينې تصديق کړي چې تاسې سره له مخکې وې، تاسې پرې ايمان راوړئ او مرسته ورسره وکړئ. (الله) وويل نو ايا تاسې اقرار وکړ او په دې هکله مو زما (سره کړې) وعده پوره کړه. هغوی وويل موږ اقرار کوو. ويې فرمايل، اوس ګواه اوسېږئ او زه به هم ستاسې سره ګواه يم. ۸۲- بيا چې څوک سرغړونه وکړي، هغه خلک نافرمانه دي. ۸۳- ايا دا خلک د الله له دين بغير بل دين غواړي. حال دا چې د هغه حکم دی چې څه په آسمان او ځمکه کې دي، که په خوښه وي که نه وي، ټول به هغه ته ور ستنيږي. ۸۴- ووايه موږ په الله ايمان راوړی او په هغه څه چې په موږ نازل شوي او هغه څه چې په ابراهيم، اسماعيل، اسحاق، يعقوب او د هغه په اولاد نازل شوي. او څه چې موسی، عيسی او نورو نبيانو ته د هغوی د رب له طرفه ورکړل شوي. موږ د هغو ترمنځ فرق نه کوو او موږ يې فرمانبردار يوو. ۸۵- او څوک چې له اسلام بغير بل دين غواړي، له هغه به هېڅکله قبول نه شي او په آخرت کې به د نامرادو په ډله کې وي. ۸۶- الله ولې داسې خلکو ته هدايت وکړي چې له ايمان راوړلو وروسته منکر شوي وي. حال دا چې هغوی دا ګواهي ورکړې چې دا برحقه رسول دی او واضح نښې ورسره راغلې دي. او الله ظالمانو ته هدايت نه کوي. ۸۷- د داسې خلکو جزا دا ده چې په هغوی د الله، د هغه د ملايکو او ټولو انسانانو لعنت وي. ۸۸- هغوی به تل په کې وي، نه به يې عذاب کم شي او نه به مهلت ورکول شي.
۸۹- البته کوم خلک چې له دې وروسته توبه وباسي او ځان اصلاح

کړي، نو بېشکه الله ښنونکی، مهربان دی. ۹۰- بېشکه کوم خلک چې له
ایمان راوړلو وروسته منکر شول او بیا په کفر کې مخ ته لاړل، د هغوی
توبه هېڅکله نه قبلیږي او همدا خلک ګمراه دي. ۹۱- بېشکه کوم خلک
چې انکار وکړي او د انکار په حالت مړه شي، که هغوی د ټولې ځمکې
په اندازه سره زر فدیه کړي، هم توبه به یې ونه منل شي. د هغوی لپاره
دردناک عذاب دی او هېڅ مرستندوی به یې نه وي.
*۹۲- تاسې ته چې څه ګران دي تر هغوی چې هغه مصرف نه کړئ،
تاسې هېڅکله مرتبې ته نه رسیږئ. او تاسې چې څه مصرفوئ، په هغه
الله خبر دی. ۹۳- بني اسرائیلو ته ټول د خوړلو څیزونه حلال وو، بې
له هغو شیانو چې اسرائیل (یعقوب) په ځان له تورات نازلېدلو مخکې
حرام کړي وو. ووایه تورات راوړئ او ویې لولئ که تاسې رښتیني یئ.
۹۴- له هغې وروسته هم که څوک په الله دروغ ورتړي هغوی ظالمان
دي. ۹۵- ووایه، الله رښتیا ویلي. اوس د ابراهیم د دین پیروي وکړئ چې
حنیف و او شرک یې نه کاوه. ۹۶- بېشکه لومړی کور چې د خلکو لپاره
جوړ شو هماغه دی چې په مکه کې دی، (هغه) بابرکته او د ټولې دنیا
لپاره د هدایت مرکز دی. ۹۷- په هغه کې ښکاره نښې دي، مقام ابراهیم
دی، څوک چې هغه ته ورننوځي هغه مامون دی. او په خلکو د الله دا
حق دی چې څوک د ده (الله) کور ته د رسېدو قوت لري، هغوی یې حج
وکړي او څوک چې منکر شو، نو الله له ټولو دنیا والاؤ بې نیازه دی.
۹۸- ووایئ ای اهل کتابو، تاسې ولې د الله له نښو انکار کوئ، سره د
دې چې تاسې څه کوئ الله یې ګوري. ۹۹- ووایئ ای اهل کتابو، تاسې
ایمان راوړونکي د الله له لارې ولې منع کوئ. تاسې په هغو کې عیب
لټوئ، حال دا چې تاسې ګواهان کړی شوي یئ، او الله ستاسې په کارونو
بې خبره نه دی.

۱۰۰- ای د ایمان خاوندانو، که تاسې په اهل کتابو کې د یوې ډلې خبره ومنئ، نو هغوی به تاسې له ایمان وروسته بیا منکر کړي. ۱۰۱- او تاسې به څنګه انکار کوئ، سره د دې چې تاسې ته د الله آیتونه ویل کیږي او ستاسې ترمنځ د هغه رسول موجود دی. او څوک چې الله کلک ونیسي، نو هغه سمې لارې ته ورسېدل. ۱۰۲- ای د ایمان خاوندانو، له الله داسې ووېرېږئ، لکه څنګه چې ترې وېرېدل په کار دي. او تاسې ته دې مرګ په داسې حال کې راشي چې تاسې مسلمان یئ. ۱۰۳- او ټول په شریکه د الله رسۍ کلکه ونیسئ او مه خپرېږئ. او په ځان د الله دا انعام یاد ساتئ چې تاسې د یو بل دښمنان وئ. بیا هغه ستاسې په زړونو کې مینه پیدا کړه. نو تاسې د هغه په فضل، له یو بل سره ورونه شوئ. او تاسې د اور د کندې په غاړه ولاړ وئ، الله تاسې له هغې وساتلئ. په دې توګه الله تاسې ته خپلې نښې بیانوي چې تاسې لاره ومومئ.

۱۰۴- او په تاسې کې دې داسې یوه ډله حتماً وي چې خلک نېکۍ ته را وبولي او له بدۍ یې منع کړي او همدا خلک به بریالي وي. ۱۰۵- او د هغو خلکو په شان مه کیږئ چې په ډلو ووېشل شول او خپلو کې یې اختلاف پیدا کړ، سره د دې چې واضح احکام ورته راغلي وو. د هغوی لپاره لوی عذاب دی. ۱۰۶- په کومه ورځ به چې ځینې مخونه روښانه او ځینې تور وي، نو د چا چې مخونه تور وي، هغوی ته به وویل شي چې تاسې له خپل ایمان وروسته منکر شوي وئ، اوس د خپل کفر له وجې عذاب هم وڅکئ. ۱۰۷- او د کومو خلکو چې مخونه روښانه وي، هغوی به د الله په رحمت کې وي او تل به په کې اوسیږي. ۱۰۸- دا د الله آیتونه دي چې موږ یې درته په حق سره وایوو او الله د دنیا په مخلوق ظلم نه کوي. ۱۰۹- او څه چې په آسمانونو کې دي او څه چې په ځمکه دي، ټول د الله لپاره دي او ټولې معاملې به بېرته الله ته ستنیږي.

۱۱۰- تاسې د خلکو لپاره غوره ډله يئ. تاسې د نېکۍ بلنه ورکوئ او له بدۍ منع کوئ، او په الله ايمان لرئ او که اهل کتابو هم ايمان راوړی وای، د هغوی لپاره غوره وه. په هغوی کې ځينې د ايمان خاوندان دي او زياتره په کې نافرمانه دي. ۱۱۱- هغوی ستاسې له ځورولو بغير نور هېڅ تاوان نه شي در رسولای. او که هغوی له تاسې سره جنګ کوي، نو تېښته به درنه کوي. بيا به هغوی سره مرسته نه کېږي. ۱۱۲- هغوی چې هر چېرته وي ذلت پرې مسلط شوی دی، بغير له دې چې د الله له طرفه کومه وعده وي يا د خلکو له خوا کومه وعده وي، او هغوی به د الله د غضب مستحق وي او ذلت به پرې مسلط شوی وي. دا په دې خاطر چې هغوی د الله له نښو انکار کړی او پېغمبران يې ناحقه وژلي دي. دا ټول له دې امله چې هغوی نافرماني وکړله او له حده ووتل.
۱۱۳- ټول اهل کتاب يو ډول نه دي. په هغوی کې يوه ډله په وعدې ولاړه ده. هغوی د شپې د الله آيتونه لولي او سجدې کوي. ۱۱۴- هغوی په الله او د آخرت په ورځ ايمان لري او د نېکۍ بلنه ورکوي. او له بدۍ منع کوي او په نېکو کارونو کې تادي کوي. دا صالح خلک دي. ۱۱۵- هر څوک چې نېکي کوي، بې‌قدري به يې نه کېږي او الله پرهېزګاران ښه پېژني. ۱۱۶- ببښکه کومو خلکو چې انکار کړی، د الله په مقابل کې به يې مال او اولاد په کار نه شي. هغوی دوزخيان دي او تل به په کې پراته وي. ۱۱۷- هغوی چې د دې دنيا په ژوند کې هر څه مصرفوي، مثال يې د هغې يخې هوا دی چې د هغو خلکو په پټيو لګېږي چې په ځان يې ظلم کړی او بيا يې (فصل) بربادوي. الله په هغوی ظلم نه دی کړی، بلکې هغوی پخپله په ځانونو ظلم کوي.
۱۱۸- ای د ايمان خاوندانو، له خپلو خلکو بغير نور (پردي) خلک د ځان مه رازداره کوئ، هغوی تاسې ته د تاوان رسولو کوشش کوي.

هغوی ستاسې په تکلیف خوشحالیږي. د هغوی دښمني د هغوی له ژبې راوځي او څه یې چې په زړه کې دي، هغه تر دې هم سخت دي. موږ تاسي ته ښکاره نښې واضح کړي، که تاسې عقل ولرئ. ۱۱۹- تاسې له هغوی سره مینه لرئ، خو هغوی له تاسې سره مینه نه لري، سره د دې چې تاسې ټول آسماني کتابونه منئ. او کله چې هغوی تاسې سره مخ کیږي، وایي چې موږ ایمان راوړی، خو کله چې په خپلو کې سره مخ کیږي، نو تاسي ته د غوسې له وجې ګوتې چیچي. ووایه، تاسې په خپله غوسه کې مړه شئ. بېشکه الله د زړونو په خبرو خبر دی. ۱۲۰- که په تاسې ښه حالت راځي، نو هغوی پرې خفه کیږي او که په تاسې کوم مصیبت راځي هغوی پرې خوشحالیږي. که تاسې صبر وکړئ او له الله ووېرېږئ نو د هغوی هېڅ تدبیر تاسې ته تاوان نه شي در رسولی، هغوی چې هر څه کوي، ټول د الله په وس کې دي.
۱۲۱- کله چې ته سهار له خپل کوره ووتې او مسلمانان دې د جنګ په ځایونو کې وټاکل، او الله اورېدونکی، پوهېدونکی دی. ۱۲۲- بیا چې په تاسې کې دوو ډلو دا اراده وکړله چې تسلیم شي او الله د هغو دواړو ډلو مددګار و. او مومنان باید په الله باور ولري. ۱۲۳- او الله تاسې سره په بدر کې مرسته کړې کله چې تاسې کمزوري وئ. نو له الله ووېرېږئ چې شکرګزاره شئ. ۱۲۴- کله چې تا مومنانو ته وویل چې ایا تاسې لپاره دا بس نه ده چې ستاسې رب ستاسې د مرستې لپاره درې زره۳۰۰۰ ملایکې را ښکته کړې. ۱۲۵- که تاسې صبر وکړئ او له الله ووېرېږئ، که په تاسې دښمن ناڅاپي برید وکړي، ستاسې رب به ستاسې د مرستې لپاره پنځه زره۵۰۰۰ ښکاره په نښه شوې ملایکې را ولیږي. ۱۲۶- او دا الله د دې لپاره وکړل چې تا لپاره زیری وي او ستا زړه ډاډه وي او مرسته یوازې د الله له طرفه ده چې قوي، د حکمت خاوند دی. ۱۲۷- په

دي خاطر الله د منكرانو يوه ډله غوځه كړي يا هغوى ذليله كړي چې ناكام ستانه شي. ۱۲۸- ته په دې خبره كې هېڅ دخيل نه يې چې كه الله د هغوى توبه قبلوي او كه عذاب وركوي، ځكه چې هغوى ظالمان دي. ۱۲۹- او د الله په اختيار كې دي، څه چې په آسمانونو كې دي او څه چې په ځمكه دي. هغه چې چاته وغواړي ببښنه كوي او چاته چې وغواړي عذاب وركوي او الله غفور او رحيم دى.
۱۳۰- اى د ايمان خاوندانو، څو څو برابره لوړ سود مه خورئ او له الله نه ووېرېږئ چې كامياب شئ- ۱۳۱- او له هغه اور نه ووېرېږئ چې د منكرانو لپاره جوړ شوى دى- ۱۳۲- او د الله او رسول اطاعت وكړئ چې رحم دربانديې وشي. ۱۳۳- او لاړ شئ د الله د ببښنې طرف ته او د هغه جنت لور ته چې پراختيا يې د آسمان او ځمكې په شان ده. هغه د الله نه وېرېدونكو لپاره جوړ شوى دى. ۱۳۴- څوک چې د پراخۍ او تنګسې په وخت مصرف كوي، هغوى د غوسې زغمونكي او له خلكو سره نرم چلند كونكي دي. او الله نېكي كونكي خوښوي. ۱۳۵- او هغه خلک چې كله بنكاره ګناه وكړي يا په ځان ظلم وكړي، نو الله يادوي او د خپلو ګناهونو ببښنه غواړي. له الله بغير بل څوک دى چې ګناهونه وببښي او هغوى د پوهې سره په خپلو كړو ټينګار نه كوي. ۱۳۶- دا هغه خلک دي چې بدل يې د الله له طرفه مغفرت دى او داسې باغونه دي چې ور لاندې به نهرونه بهېږي. هلته به دوى تل اوسېږي. د نېک عمل كونكو بدل څومره ښه دى.۱۳۷- له تاسې مخكې هم ډېر مثالونه تېر شوي نو تاسې په ځمكه وګرځئ او وګورئ چې د دروغ بلونكو انجام څنګه شو.
۱۳۸- دا بيان دى د خلكو لپاره او هدايت او نصيحت دى د وېرېدونكو لپاره.

۱۳۹- او همت مه بایلئ او زړه مه بایلئ، تاسې به برلاسي یئ که مومنان یئ. ۱۴۰- که تاسې ته کوم زخم در رسېدلی وي، نو دښمن ته هم همداسې زخم رسېدلی دی. او موږ دغه وختونه د خلکو ترمنځ بدلوو چې الله د ایمان خاوندان وپېژني او په تاسې کې ځینې خلک ګواهان کړي او الله ظالمان نه خوښوي. ۱۴۱- او په دې خاطر چې د ایمان خاوندان پاک کړي او کافران هلاک کړي. ۱۴۲- تاسې څه فکر کوئ چې تاسې به جنت ته لاړ شئ، حال دا چې الله په تاسې کې هغه خلک لا نه دي ښکاره کړي چې جهاد یې کړی او نه هغه چې صبر کونکي دي. ۱۴۳- تاسې د مرګ له راتلو مخکې د مرګ ارمان کاوه، نو اوس مو په خپلو پرانیستو سترګو ولیده.

۱۴۴- محمد یوازې یو رسول دی. له ده مخکې هم ډېر رسولان تېر شوي دي. نو که دا مړ شي یا ووژل شي، ایا تاسې به ترې بېرته ګرځېږئ. او څوک چې ګرځېږي هغه د الله هېڅ هم نه شي کولای او الله شکر کونکو ته بدله ورکوي. ۱۴۵- او هېڅ ژوندی د الله له امر بغیر نه شي مړ کېدای. دا د الله لیکلې وعده ده. او څوک چې د دنیا ګټه غواړي، هغه ته یې موږ په دنیا کې ورکوو. او څوک چې د آخرت ګټه غواړي، هغه ته یې په آخرت کې ورکوو. او شکر کونکو ته موږ د هغه بدله حتماً ورکوو.

۱۴۶- او د څومره نبیانو سره ترڅنګ د الله څومره بندګانو جنګ کړی. په هغوی چې د الله په لاره کې څومره سختې راغلې، هغوی بې زړه شوي نه دي کمزوري یې نه ده ښودلې. ۱۴۷- د هغوی له خولې له دې بغیر هېڅ ونه وتل چې، ای زموږ ربه، زموږ ګناهونه وبښه او زموږ په کار کې چې کوم زیاتی شوی هغه راته وبښه، موږ صابر وساته او له منکر قوم سره په جګړه کې زموږ مرسته وکړه. ۱۴۸- نو الله هغوی ته

د دنیا بدل هم ورکړ او د آخرت غوره بدل یې هم ورکړ. او الله نېکي کونکي خوښوي.
۱۴۹- ای د ایمان خاوندانو، که تاسې د منکرانو خبره ومنئ، نو هغوی به تاسې وګرځوي، بیا به تاسې ناکام پاتې شئ. ۱۵۰ بلکې الله ستاسې مرستندوی دی او هغه تر ټولو غوره مرسته کونکی دی. ۱۵۱- موږ به د منکرانو په زړونو کې ستاسې وېره واچوو، ځکه هغوی داسې شی له الله سره شریک کړی چې د هغه په حق کې الله هېڅ دلیل نه دی نازل کړی. د هغوی ځای دوزخ دی او هغه د ظالمانو لپاره بد ځای دی. ۱۵۲- او الله خپله وعده هغه وخت رښتیا کړله چې کله تاسې هغوی د الله په حکم وژل. تر دې چې بیا تاسې پخپله کمزوري شوئ او د کار په باره کې مو اختلاف وکړ او تاسې په خبره عمل ونه کړ، سره د دې چې الله تاسې ته هغه څه درښودلي وو چې تاسې غوښتل. په تاسې کې ځینو دنیا او ځینو نورو آخرت غوښت. بیا الله ستاسې مخ له هغو واړوه چې هغه تاسې وازمایي او الله تاسې وبښلئ او الله د ایمان لرونکو په هکله د لوی فضل خاوند دی. ۱۵۳- تاسې چې په بره مخ روان وئ او شاته مو هم په چا پسې نه کتل او رسول په تاسې پسې له شا غږ کاوه. بیا الله تاسې ته په غم پسې غم درکړ چې تاسې په هغه څه پسې خفه نه شئ چې ستاسې له لاسه ووت او په هغه مصیبت هم چې په تاسې راغی. او تاسې چې څه کوئ، الله پرې خبر دی.
۱۵۴- بیا الله په تاسې له غم وروسته خوشحالي نازله کړه، یعنې تاسې کې په یوې ډلې خوب غلبه وکړله او یوه ډله وه چې د خپل ځان فکر ورسره و. هغوی د الله په هکله له حقیقته لرې فکرونه او د جاهلیت نظریات قایمول. هغوی ویل چې ایا موږ هم څه واک لرو. (ورته) ووایه هر څه د الله په واک کې دي. هغوی په خپلو زړونو کې داسې خبره پټه

کړې چې تاته يې نه کوي. هغوی وايي که په دې مسئله کې زمونږ هم لږ واک وای، نو موږ به دلته نه مړه کېدای. ووايه که تاسې په خپلو کورونو کې وای، هم د چا لپاره چې مرګ ليکل شوی و، هغوی به د خپل مرګ د ځای په طرف وتلي وای. دا په دې خاطر وشول چې ستاسې په سينو کې څه وو، هغه الله ازمايل او هغه څه يې روښانه کول چې ستاسې په زړونو کې دي. او الله په هغو خبرو پوهېږي چې په سينو کې دي. ۱۵۵- په کومه ورځ چې ستاسې په دوو ډلو کې نښته وشوه، په هغه ورځ چې ستاسې له منځه څوک وګرځېدل، شيطان هغوی د ځينو اعمالو له وجې تېر ايستي وو. الله هغوی ښنلي دي. بېشکه الله ښنونکی، مهربان دی.
۱۵۶- ای د ايمان خاوندانو، تاسې د هغو خلکو په شان مه کېږئ چې انکار يې وکړ. هغوی د خپلو ورونو په هکله وايي، چې کله دوی سفر يا جهاد ته وځي او مرګ ورته راځي، نو که له موږ سره وای نه به مړه کېدای او نه به وژل کېدای. ځکه چې الله دا د هغوی په زړه کې د حسرت لامل کړي. او الله پيدا کول او وژل کوي او تاسې چې هر څه کوئ الله يې ګوري. ۱۵۷- او که تاسې د الله په لاره کې ووژل شئ يا مړه شئ، نو د الله مغفرت او رحمت تر هغه څه غوره دی چې هغوی يې راټولوي.
۱۵۸- او که تاسې مړه شئ يا ووژل شئ، په هر حال به الله ته ورټولېږئ.
۱۵۹- دا د الله لوی رحمت دی چې ته هغوی لپاره نرم يې. که ته تريخ او سخت وای، نو دا خلک به له تا تښتېدلای. نو هغوی وبښه، د هغوی لپاره مغفرت وغواړه او په چارو کې ورسره مشوره کوه. او بيا چې فيصله کوې، نو په الله توکل کوه. بېشکه الله له هغوی سره مينه کوي چې په الله توکل کوي. ۱۶۰- که الله ستاسې مل شي، نو هېڅوک در باندې نه شي برلاسي کېدای او که هغه مو ملتيا پرېږدي، نو له هغه وروسته څوک

دی چې ستاسې مرسته وکړي. او د ایمان خاوندانو ته په الله توکل په کار دي.
۱۶۱- او د نبي کار دا نه دی چې څه پټ کړي او څوک چې څه پټوي خپل پټ شوی شی به د قیامت په ورځ حاضروي. بیا به هر ژوندي ته د هغه د عملونو پوره بدل ورکول کیږي او په هغوی به هیڅ ظلم نه کیږي.
۱۶۲- ایا کوم شخص چې د الله د رضا تابع دی، هغه به د هغه کس په شان کیږي چې د الله له غضب سره ستېنږي او د هغه ځای جهنم دی او هغه ډېر بد ځای دی. ۱۶۳- د الله په نزد به د هغوی درجې بېلې بېلې وي او هغوی چې څه کوي الله يې ګوري. ۱۶۴- الله د ایمان په خاوندانو احسان کړی چې د هغوی له منځه يې ورته رسول لیږلی چې هغه ورته د الله آیتونه وایي او هغوی پاکوي او هغوی ته د کتاب او حکمت درس ورکوي. بېشکه هغوی له دې وړاندې په ښکاره ګمراهۍ کې وو.
۱۶۵- او بیا چې تاسې ته دا مصیبت در ورسېده چې تاسې د هغه دوه چنده مصیبت رسولای و، نو تاسې وویل چې دا له کومه راغی. ووایه دا تاسې سره خپل و. بېشکه الله په هر څه قادر دی. ۱۶۶- او د دواړو ډلو د جګړې په ورځ چې تاسې ته کوم مصیبت در ورسېده، هغه (درته) د الله په حکم در ورسېده او په دې خاطر وو چې الله مومنان وپیژني. ۱۶۷- او هغو هم وپیژني چې منافقان وو او ورته وویل شول چې راشئ د الله په لاره کې وجنګیږئ یا دښمن دفع کړئ. هغوی وویل که موږ خبر وای چې جنګ کیږي، حتماً درسره تللو. دا خلک په هغه ورځ تر ایمان، کفر ته ډېر نږدې وو. هغوی په خپله خوله هغه خبره کوله چې په زړه کې يې نه وه. او الله په هغه څه ډېر ښه پوهیږي چې هغوی يې پټوي. ۱۶۸- دا خلک چې پخپله ناست وو، د خپلو ورونو په هکله وایي چې که هغوی

زموږ خبره منلې وای، نو نه به مړه کېدل. ووایه که تاسې رښتیني یئ، نو د خپل سر نه مرګ لرې کړئ.
۱۶۹- او څوک چې د الله په لاره کې مړه شوي، هغوی مړه مه ګڼئ، بلکې هغوی د خپل رب په نزد ژوندي دي او هغوی ته روزي ورکول کېږي. ۱۷۰- هغوی په هغه خوشحاله دي چې الله په خپل فضل ورکړي، او زېری ترلاسه کوي چې کوم خلک په هغوی پسې دي او تر اوسه هلته نه دي رسېدلي، د هغوی لپاره هم نه کومه وېره شته او نه به خفه وي. ۱۷۱- هغوی د الله په فضل او انعام خوشحالېږي او په دې هم چې الله د ایمان د خاوندانو اجر نه ضایع کوي. ۱۷۲- کومو خلکو چې له زخمي کېدو وروسته د الله او رسول حکم ومانه، په هغوی کې چې څوک نېکان او متقیان دي، د هغوی لپاره لوی اجر دی. ۱۷۳- هغه خلک چې ورته وویل شول چې دښمن ستاسې په مقابل کې یو لوی قوت راټول کړی دی، له هغو ووېرېږئ، خو دې خبرې د هغوی ایمان لا ډېر زیات کړ او ویې ویل چې زموږ لپاره یوازې الله کافي دی او هغه ښه کارساز دی. ۱۷۴- نو هغوی د الله په فضل او نعمت بېرته ستانه شول، دې خلکو ته هېڅ بدي پېښه نه شوه او هغوی د الله په رضا مخ ته لاړل او الله د لوی فضل خاوند دی. ۱۷۵- دا شیطان دی چې تاسې د خپلو ملګرو په وسیله وېروي. تاسې له هغوی مه وېرېږئ، بلکې له ما ووېرېږئ که مومنان یئ.
۱۷۶- او ته د هغو خلکو له وجې مه خفه کېږه چې په انکار کې (تر یو بل) مخکې شوي دي. هغوی الله ته هېڅ تاوان نه شي رسولای. الله غواړي چې هغوی په آخرت کې هېڅ برخه ونه لري. د هغوی لپاره لوی عذاب دی. ۱۷۷- کومو خلکو چې د ایمان په بدل کې کفر اخیستی، هغوی د الله هېڅ هم نه شي کولای او د هغوی لپاره دردناک عذاب دی. ۱۷۸-

او څوک چې کفر کوي، هغوی دې داسې نه ګڼي چې موږ ورته کوم مهلت ورکوو دا ګڼي د هغوی لپاره غوره دی. موږ یوازې د دې لپاره مهلت ورکوو چې هغوی په جرم کې مخکې لاړ شي او د هغوی لپاره ذلیلونکی عذاب دی. ۱۷۹- الله مومنان په هغه حالت نه پرېږدي چې تاسې ورسره مخ یئ، تر هغې چې ناپاک له پاکو بېل نه کړي. او الله داسې هم نه دی چې تاسې په غیبو خبر کړي، بلکې الله چې په خپلو رسولانو کې څوک وغواړي هغه غوره کوي. نو تاسې په الله او د هغه په رسولانو ایمان راوړئ. که تاسې ایمان راوړئ او پرهېزګاري اختیار کړئ، نو تاسې لپاره لوی اجر دی.
۱۸۰- او چاته چې الله په خپل فضل څه ورکړي، که په هغه کې بخل کوي نو دا دې هېڅکله نه ګڼي چې دا د هغوی لپاره غوره ده، بلکې دا د هغوی لپاره ډېر بد دی. هغوی چې په کوم شي کې بخل کوي، د قیامت په ورځ به یې غاړه کې طوق کړی شي. او یوازې الله د ځمکې او آسمان وارث دی. او تاسې چې هر څه کوئ الله پرې خبر دی. ۱۸۱- الله د هغو خلکو خبره اورېدلې چې ویلي یې دي الله محتاج دی او موږ غني یوو. موږ به د هغوی دا قول او د هغوی په لاس د پېغمبرانو ناحقه وژل ولیکو. او موږ به ورته ووایو چې اوس د اور عذاب وڅکئ. ۱۸۲- دا ستاسې د خپل لاس ګټه ده او الله له خپلو بندګانو سره بې انصافي نه کوي. ۱۸۳- کوم خلک چې وایي تر څو چې کوم رسول موږ ته داسې یوه قرباني ونه ښيي چې اور یې وخوري، موږ ته الله حکم کړی چې تر هغې یې ونه منوو، هغوی ته ووایه چې له ما مخکې تاسې ته رسولان راغلي، ښکاره نښې او هغه څه یې راوړي چې تاسې یې غواړئ، نو که تاسې رښتیني یئ، هغوی مو ولې ووژل.

۱۸۴- نو که دوی تا دروغجن بولي، تر تا مخکې هم داسې ډېر رسولان دروغجن بلل شوي چې ښکاره نښې، صحيفي او واضح کتاب يې راوړی و. ۱۸۵- هر ژوندی به د مرګ خوند ګوري او تاته به پوره اجر د قيامت په ورځ درکول کېږي. او څوک چې له اوره بچ شي او جنت ته ننويستل شي، هغه کامياب دی او د دنيا ژوند يوازې د تګی سودا ده.
۱۸۶- يقيناً ته به په خپل ځان او مال کې ازمايل کېږې. ته به ډېرې ځورونکې خبرې اورې، له هغو خلکو چې تر تا مخکې کتاب ورکړل شوی او له هغوی هم چې شرک يې کړی دی. او که ته صبر وکړې او تقوی اختيار کړې، نو دا د لوړې حوصلې کار دی. ۱۸۷- او کله چې الله له اهل کتابو وعده واخيستله چې تاسې به د الله کتاب په پوره ډول خلکو ته ښکاره کوئ او نه به يې پټوئ. خو هغوی دا (وعده) شاته واچوله او د دې په ځای يې ناڅيزه بيه واخيسته. هغه څومره بد شی دی چې دوی يې اخلي. ۱۸۸- کوم خلک چې په خپلو کارونو خوشحاله دي او غواړي چې دوی کوم کار نه دی کړی، د هغه له وجې يې ستاينه وشي، نو د هغوی لپاره عذاب بد مه ګڼه. د هغوی لپاره له دردہ ډک عذاب دی.
۱۸۹- او د ځمکې او آسمان پاچاهي د الله ده او الله په هر څه قادر دی.
۱۹۰- د ځمکې او آسمانونو په خلقت او د شپې او ورځې په تګ راتګ کې د عقل خاوندانو ته ډېرې نښې دي. ۱۹۱- څوک چې ولاړ او ناست دي او په خپلو اړخونو الله يادوي او د آسمانونو او ځمکې په پيدايښت کې فکر کوي، هغوی وايي چې ای ربه، تا دا هر څه بې مقصده نه دي پيدا کړي. ته پاک يې، نو موږ د اور له عذابه وساته. ۱۹۲- ای زموږ ربه، تا چې څوک په اور کې اچولي هغوی دې واقعاً رسوا کړي او د ظالمانو هېڅ مرستندوی نشته. ۱۹۳- ای زموږ ربه، موږ يو بلونکی واورېده چې د ايمان طرف ته بلنه يې ورکوله چې په خپل رب ايمان راوړئ، نو موږ

ايمان راوړ. اى زموږ ربه، زموږ ګناهونه وبښه او زموږ بدى له موږه
لرې کړه او زموږ خاتمه له نېکو خلکو سره کړه. ۱۹۴- اى زموږ ربه،
موږ ته هغه څه راکړه چې تا يې راسره د خپلو رسولانو په خوله وعده
کړې او د قيامت په ورځ موږ مه رسوا کوه. بېشکه ته خپله وعده نه
ماتوې.
۱۹۵- د هغوى رب د هغوى دعا قبوله کړله چې زه به په تاسې کې د
هېچا عمل نه ضايع کوم، که ښځه وي که سړى، تاسې ټول له يو بله يئ.
نو کومو خلکو چې هجرت وکړ او له خپلو کورونو وويستل شول او زما
په لاره وځورول شول او هغوى چې وجنګېدل او ووژل شول، زه به د
هغوى خطا له هغوى حتماً لرې کړم او هغوى به داسې باغونو ته ننباسم
چې لاندې ترې نهرونه بهيږي. دا له الله سره د هغوى بدله ده او تر ټولو
ښه بدل له الله سره دى. ۱۹۶- او (د هغوى) په وطن کې د منکرينو په
خوشحالئ مه تېروځئ.
۱۹۷- دا لږه فايده ده، بيا د هغوى ځاى دوزخ دى او هغه څنګه بد ځاى
دى. ۱۹۸- البته څوک چې له خپل رب نه وېرېږي د هغوى لپاره به
باغونه وي چې ور لاندې به نهرونه بهيږي او هغوى به په کې تل
اوسيږي. دا به د الله له طرفه د هغوى کوربه‌توب وي او څه چې له الله
سره د نېکانو لپاره دي، هغه تر ټولو غوره دي. ۱۹۹- بېشکه په اهلو
کتابو کې ځينې داسې هم دي چې په الله ايمان لري او هغه کتاب هم مني
چې تاسې ته در ليږل شوى دى او هغه کتابونه هم مني چې له دې وړاندې
هغوى ته ليږل شوي وو، هغوى د الله په وړاندې ټيټ شوي او هغوى د
الله آيتونه په لږه بيه نه خرڅوي. د هغوى اجر له الله سره دى او الله زر
حساب کونکى دى. ۲۰۰- اى د ايمان خاوندانو، صبر وکړئ او په مقابله

کې قوي اوسئ، مقاومت وکړئ او له الله ووېرېږئ، تمه ده چې تاسې به کامیاب شئ.

## سوره النساء ۴

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- ای خلکو، له خپل رب نه ووېرېږئ چې تاسې یې له یوه ځان نه پیدا کړئ او له هماغه یې د هغه جوړه پیدا کړئ او له هغو دواړو یې ډېر سړي او ښځې پیدا او خپاره کړل. او له الله ووېرېږئ چې د هغه په وسیله تاسې له یو بل سوال کوئ او د خپلوانو خبر اخلئ. بېشکه الله تاسې څاري.
۲- او د یتیمانو مال هغوی ته ورکړئ او بد مال په ښه مال مه بدلوئ او د هغوی مال له خپل مال سره مه ګډوئ. دا ډېره لویه ګناه ده. ۳- او که تاسې سره دا اندېښنه وي چې د یتیمانو په معامله کې به عدل ونه کړئ، نو په ښځو کې چې کومې ستاسې خوښې دي، له هغوی (سره) دوو دوو، درېیو درېیو او څلورو څلورو پورې نکاح وکړئ. خو که تاسې سره دا اندېښنه وي چې عدل نه شئ کولای، نو بیا یوه نکاح وکړئ یا هغه وینځې سره چې ستاسې ملکیت وي په دې هیله ده چې تاسې عدل پرې نه ږدئ.۴- او ښځو ته د هغوی مهر په خوښۍ ورکړئ. بیا که هغوی په دې (مهر) کې تاسې ته څه په خپله خوښه پرېږدي، نو تاسې یې په خوښه وکاروئ.
۵- او هغو چې ناپوهه دي او الله ستاسې مرستندوی ګرځولي، هغوی ته د هغوی مال مه ورکوئ. له دې مال په هغوی وخوروئ او ور واغوندئ او ښې خبرې ورسره کوئ. ۶- او یتیمان څارئ، تر هغې چې د نکاح عمر ته ورسېږي، نو که تاسې په کې هوښیارتوب ولیده مال ورته وسپارئ. او د هغوی مال په اسراف او په دې فکر مه خورئ چې هغوی

به (زر) لوی شي. او څوک چې حاجت نه لري د يتيم له مال دې نه خوري او څوک چې محتاج وي، له دستور سره سم دې مصرف کړي. بيا چې تاسې د هغوی مال ور وسپارئ، نو ګواه پرې ونيسئ او الله د حساب اخيستو لپاره کافي دی. ۷- د مور پلار او خپلوانو نه په پاتې مال کې د سړيو برخه هم شته او د مور پلار او خپلوانو په پاتې مال کې د ښځو برخه هم شته، که لږ وي که ډېره يوه ټاکل شوې برخه ده. ۸- او که د وېش په وخت خپلوان او يتيمان او محتاجان وي، نو هغوی ته هم په کې څه ورکړئ او هغوی سره په زړهسوي خبرې وکړئ. ۹- او چا سره چې دا وېره وي چې په ځان پسې به مرګ نه وروسته ناتوانه بچي پرېږدي. هغوی بايد له الله ووېرېږي او پخه خبره وکړي. ۱۰- کوم خلک چې په ناحقه د يتيم مال خوري، هغوی خپلې خېټې له اوره ډکوي او هغوی به ډېر زر د اور لمبو ته وغورځول شي.
۱۱- الله تاسې ته ستاسې د اولاد په هکله حکم کوي چې د نر برخه له دوو ښځو سره برابره ده. که ښځې له دوو زياتې وي، نو هغوی ته په ميراث کې له پاتې شوي مال په درېيو کې دوه برخې دي او که يوازې وي، نو نيمه برخه ده. او د مړي مور او پلار لپاره په پاتې شوي مال کې هر يوه ته شپږمه برخه ده، په هغه مال کې چې هغه پرېښی وي،خو په دې شرط چې د مړي اولاد وي. او که د مړي اولاد نه وي او مور و پلار يې وارثان وي، نو د مور يې درېيمه برخه ده او که يې خوېندې او ورونه وي، نو د مور يې شپږمه برخه ده. دا ټولې برخې د مړي له وصيت او په هغه له پاتې شوي قرض خلاصولو وروسته دي. که ستاسې پلار وي او که ستاسې زامن وي، تاسې نه پوهېږئ چې په هغوی کې تاسې ته څوک ډېر ګټور دی. دا د الله له طرفه فرض شوې ده. بېشکه الله ډېر پوه او د حکمت خاوند دی. ۱۲- او تاسې لپاره په هغه مال کې نيمه

برخه ده چې ستاسې له مېرمنو پاتې شي، په دې شرط چې اولاد يې نه وي. او که د هغوی اولاد وي، نو تاسي لپاره د مېرمنو په پاتې شوي مال کې څلورمه برخه ده، البته د هغې له وصيت او په هغې د پاتې قرض خلاصولو وروسته. او که ستاسې اولاد نه وي ستاسې په ميراث کې د مېرمنو څلورمه برخه ده او که ستاسې اولاد وي، نو د مېرمنو اتمه برخه ده، البته ستاسې له وصيت او په تاسې د پاتې شوي قرض خلاصولو وروسته. او که کوم موروث (مړی) داسې وي چې نه يې اصول وي او نه فروع، او که د هغه يو ورور يا خور وي، نو په دواړو کې د هر يوه لپاره شپږمه برخه ده. او که له دې زيات وي، نو هغوی په درېيمه برخه کې شريک دي، د مړي له وصيت او په هغه د پاتې شوي قرض له خلاصولو وروسته، بې له کوم تاوان رسولو. دا د الله له طرفه حکم دی او الله عليم، حليم دی.
۱۳- دا د الله ټاکلي حدونه دي. او څوک چې د الله او رسول اطاعت کوي، الله به يې داسې باغونو ته بوځي چې ور لاندې به نهرونه بهيږي. هلته به دوی تل اوسيږي دا لويه کاميابي ده. ۱۴- او څوک چې د الله او د هغه د رسول نافرماني وکړي او د هغه له ټاکلو حدونو بهر ووځي، هغه به په اور کې واچول شي او هلته به تل پروت وي او د هغه لپاره له ذلته ډک عذاب دی.
۱۵- او ستاسې په ښځو کې چې څوک بدکاري وکړي نو په هغې له خپلو څلور ګواهان تېر کړئ. بيا که هغوی ګواهي ورکړله نو هغه ښځې په کورونو کې دننه بندې کړئ، تر دې چې مرګ يې يوسي يا ورته الله کومه لاره پيدا کړي. ۱۶- او په تاسې کې که دوه سړي بدکاري وکړي نو هغوی ته تکليف ورکړئ. بيا که هغوی توبه وباسي او ځان اصلاح کړي، نو د هغوی په هکله فکر پرېږدئ. بېشکه الله توبه قبلونکی، مهربان

دی. ۱۷- توبه، چې قبلول يې د الله په ذمه دي، د هغو خلکو لپاره ده چې په ناپوهۍ بد کار کوي او بيا ژر توبه وباسي. د هماغو توبه الله قبلوي او الله پوه او د حکمت خاوند دی.
۱۸- او داسې خلکو لپاره توبه نشته چې بيا بيا ګناه کوي، تر دې چې په هغوی کې کوم يوه ته مرګ راشي او بيا هغوی ووايي چې اوس موږ توبه کوو او نه د هغو خلکو توبه شته چې د انکار په حالت کې مړه کيږي، د هغوی لپاره خو موږ له درده ډک عذاب تيار کړی دی.
۱۹- ای د ايمان خاوندانو، تاسې ته دا روا نه ده چې په زور د ښځو وارثان شئ، او نه په هغوی د دې لپاره فشار راوړئ چې تاسې هغوی ته څه ورکړي، په هغه کې ترې يوه برخه بېرته واخلئ، مګر په هغه صورت کې چې هغوی ښکاره بې حيايي وکړي. او له هغوی سره ښه چلند کوئ. که هغوی ستاسې خوښې نه وي، نو کېدای شي چې يو شی ستاسې خوښ نه وي، خو الله به درته په هغه کې ډېره لويه ښېګڼه ايښې وي. ۲۰- او که تاسې د يوې مېرمنې په ځای بله مېرمن راوستل غواړئ او تاسې يوې ته ډېر مال ورکړی وي، نو له هغې بېرته څه مه اخلئ. ايا تاسې يې په هغې په تور لګولو او ښکاره ظلم کولو سره بېرته اخلئ.
۲۱- او تاسې دا مال څنګه اخيستی شئ، سره د دې چې يو بل سره يو ځای شوي يئ او هغوی له تاسې کلکه وعده اخيستې ده. ۲۲- او له هغو ښځو سره نکاح مه کوئ چې ستاسې پلار ورسره نکاح کړې ده، مګر څه چې پخوا شوي دي. بېشکه دا بې‌حيايي او د نفرت خبره ده او دا ډېر بد کار دی.
۲۳- په تاسې حرامې شوې دي ستاسې مېندې، ستاسې لونې، ستاسې خوېندې، ستاسې ترورګانې (عمه‌ګانې) ستاسې خاله ګانې، ستاسې خورځې او وريرې او ستاسې هغه مېندې چې تاسې ته يې شيدې درکړي،

ستاسې هغه خويندې چې تاسې سره يې شيدې رودلي، ستاسې د مېرمنو مېندې (خواښې) او هغه ناسکه لوڼې چې ستاسې په کورونو کې پالل کېږي او ستاسې له هغو مېرمنو وي چې تاسې ورسره يوځای شوي يئ، خو که تاسې د هغوی (مېندو) سره نه يئ يو ځای شوي، نو په تاسې ګناه نشته. او ستاسې د حقيقي زامنو مېرمنې او دا چې تاسې دوه خوېندې يو ځای کړئ، مګر هغه چې مخکې شوي دي. بېشکه الله ببښونکی، مهربان دی.* ۲۴- او هغه ښځې هم حرامې دي چې د بل په نکاح کې وي، مګر که په جنګ کې يې ونيسئ. دا په تاسې د الله حکم دی. له دې بغير چې نورې ځومره ښځې دي، هغه ټولې ستاسې لپاره حلالې دي، په دې شرط چې تاسې يې د خپل مال په وسيله وغواړئ او نکاح يې کړئ، نه د بدکارۍ په شکل. بيا که تاسې له هغوی ګټه واخيسته، نو هغوی ته ټاکل شوی مهر ورکړئ. او له مهر ټاکلو وروسته چې تاسې په خپل منځ کې هر څه رضا وکړله، په هغه کې څه ګناه نشته. بېشکه الله پوه او د حکمت خاوند دی. ۲۵ - او په تاسې که څوک دا وس نه لري چې له آزادې مسلمانې ښځې سره نکاح وکړي، هغه دې ستاسې په وينځو کې له هغې يوې سره نکاح وکړي چې ستاسې په ولکه کې وي او مومنه وي. الله ستاسې په ايمان ښه پوهېږي، تاسې په خپلو کې يو يئ. نو د هغوی د مالکانو په اجازه له هغوی سره نکاح وکړئ او په معروفه طريقه يې مهر ورکړئ، په داسې طريقه چې هغه د نکاح په تار وتړل شي نه دا چې آزاد شهوت پوره کړي يا پټه ياري وکړي. بيا که هغوی په نکاح کې وتړل شوې او بيا هم بدکاري وکړي، نو د آزادو ښځو لپاره چې څومره جزا ټاکل شوې، دوی لپاره د هغې نيمه ده. دا د هغو لپاره ده چې په تاسې کې له ګناه وېرېږي، او که تاسې صبر وکړئ، نو دا تاسې لپاره غوره ده او الله ډېر ببښونکی او د رحم خاوند دی.

۲۶- الله غواړي چې تاسې ته يې ووايي او تاسې ته د هغو خلكو د طريقو هدايت دركړي چې له تاسې مخكې تېر شوي دي او په تاسې توجه وكړي، الله پوه او د حكمت خاوند دى. ۲۷- او الله غواړي چې هغه په تاسې توجه وكړي او كوم خلک چې د خپلو خواهشاتو پيروي كوي، هغه غواړي چې تاسې له سمې لارې ډېر لرې شئ. ۲۸- الله غواړي چې په تاسې بوج كم كړي او انسان ضعيف پيدا شوى دى.
۲۹- اى د ايمان خاوندانو، په خپلو منځونو كې د يو بل مال په ناحقه مه خورئ، مګر دا چې ستاسې ترمنځ په خوښې تجارت وي. او يو بل مه وژنئ. بېشكه الله په تاسې ډېر مهربانه دى. ۳۰- او څوک چې په ظلم او سركشۍ داسې وكړي، موږ به يې حتماً په اور كې واچوو. او دا د الله لپاره آسانه ده. ۳۱- كه تاسې له هغو لويو ګناهونو ځان وساتئ چې تاسې ترې منع شوي يئ، نو موږ به ستاسې وړې خطاوې وبښوو او تاسې به د عزت ځاى ته ننباسو. ۳۲- او تاسې د هغه شي هيله مه كوئ چې الله په كې تاسې ته په يو بل غوره‌والى دركړى دى. سړيو ته د خپلې ګټې برخه ده او ښځو ته د خپلې ګټې برخه ده. او له الله فضل وغواړئ. بېشكه الله په هر څه پوهېږي. ۳۳- موږ له مور او پلار او خپلوانو د پاتې شوي ميراث لپاره، هر يوه ته وارث ټاكلى دى او تاسې چې چا سره وعده كړې وي، نو هغوى ته خپله برخه وركړئ، بېشكه هر څه د الله په وړاندې دي.
۳۴- سړي په ښځو ساتونكي (ټاكل شوي) دي. ځكه چې الله يوه ته په بل فضيلت وركړى دى او له دې امله هم چې سړيو خپل مال مصرف كړى دى. نو نېكې ښځې فرمانبردارې او د الله په حفاظت د پټو چارو ساتونكې دي. او له كومو ښځو چې د سركشۍ اندېښنه لرئ، هغوى پوهه كړئ او په بستره كې يې يوازې پرېږدئ او جزا وركړئ. بيا كه هغوى ستاسې

اطاعت وکړي، نو په هغوی د تور پورې کولو لاره مه لټوئ. بېشکه الله تر ټولو لوړ دی، ډېر لوی دی. ۳۵- که تاسې د ښځې او مېړه ترمنځ د اړیکو د خرابېدو اندېښنه لرئ، په خپلوانو کې یو منصف سړی او په خپلوانو کې یوه منصفه ښځه ودروئ، که دواړه اصلاح وغواړي، نو الله به یې ترمنځ موافقت وکړي. بېشکه الله په هر څه پوه او خبردار دی.
۳۶- او د الله عبادت وکړئ او هغه سره څه مه شریکوئ. او له مور پلار سره، خپلوانو سره او یتیمانو، مسکینانو او خپلوانو ګاونډیو او پردیو ګاونډیو، او نږدې ناستو او مسافرو او چې تاسې یې مالکان یئ هغو سره ښه چلند وکړئ. بېشکه الله کبرجن او غاوره نه خوښوي. ۳۷- هغوی چې بخل کوي او نورو ته هم بخل ور زده کوي او څه چې ورته الله په خپل فضل ورکړي هغه پټوي. او موږ منکرانو ته له ذلته ډک عذاب تیار کړی دی. ۳۸- او کوم خلک چې خپل مال د ځان ښودلو لپاره مصرفوي، او په الله او د آخرت په ورځ ایمان نه لري او شیطان یې ملګری شي، نو هغه ډېر بد ملګری دی. ۳۹- هغوی څه تاوان کاوه که یې په الله او د آخرت په ورځ ایمان راوړی وای او الله چې ورته څه ورکړي دي، په هغه کې یې مصرف کولای. او الله په هغوی ښه خبر دی. ۴۰- بېشکه الله به د هېچا په برخه کې یوه ذره حق تلفي ونه کړي. که نېکي وي نو لس چنده زیاته ورکوي او له خپله اړخه ډېر زیات ثواب ورکوي.
۴۱- بیا به هغه وخت څه حال وي چې کله موږ له هر امته یو ګواه راوړو او تا په هغو خلکو ګواه کړو. ۴۲- کومو خلکو چې انکار او د پیغمبر نافرماني کړې، هغوی به په هغه ورځ ارمان کوي چې کاشکې په ځمکه خښ کړی شي او هغه به له الله هېڅ یوه خبره پټه نه شي ساتلی. ۴۳- ای د ایمان خاوندانو، لمانځه ته مه نږدې کېږئ کله چې تاسې نشه یئ، تر هغې چې تاسې په خپله خبره پوه شئ، او هغه وخت هم (مه نږدې کېږئ)

چې د غسل حاجت وي، مګر که په لاره روان يئ، تر هغې چې غسل وکړئ. او که تاسې مريض يئ يا په سفر کې يئ يا په تاسې کې څوک د حاجت له ځايه راغلى وي، يا تاسې ښځو ته ورغلي يئ او بيا تاسي اوبه ونه مومئ، نو تاسې په پاکه خاوره تيمم وکړئ او په خپل مخ او لاسونو مسح وکړئ، بېشکه الله ښنونکى او مغفرت کونکى دى.
۴۴- ايا تا هغه خلک نه دي ليدلي چې د کتاب يوه برخه ورکړل شوې وه. هغوى ګمراهي اخلي او غواړي چې تاسې هم له لارې خطا شئ.
۴۵- الله ستا دښمنان ښه پېژني. او الله کافي دى د ملاتړ لپاره او الله کافى دى د مرستې لپاره. ۴۶- په يهودو کې يوه ډله خبره له خپل ځايه بدلوي او وايي چې موږ واورېدل او ومو نه منل. او وايي چې واوره او تاته دې وانه ورول شي. هغوى خپله ژبه بدلوي او په دين کې د عيب لټولو لپاره غږيږي. او که هغوى ووايي چې موږ واورېدل او ومنل، او واوره او په موږ نظر وکړه، نو دا به د هغوى لپاره ډېره ښه او غوره واى، خو الله د هغوى د انکار له وجې په هغوى لعنت کړى دى. نو په هغوى کې ډېرو لږو ايمان راوړ.
۴۷- اى هغو خلکو چې کتاب درکول شوى، په هغه ايمان راوړئ چې موږ نازل کړى، د هغه کتاب تصديقونکى دى چې تاسې سره دى، له هغې مخکې چې موږ ستاسې مخونه وران کړو، بيا يې شاته تاو کړو يا پرې هغسې لعنت وکړو لکه د سبت په خلکو مو چې کړى و. او د الله حکم پوره کوئ. ۴۸- بېشکه الله دا نه ښني چې شرک ورسره وشي، خو له دې(شرک) بغير چې هر څه دي، هغه يې چې هر چاته وغواړي ښښي يې. او چا چې الله سره شريک وګاڼه، هغوى لوى طوفان ساز کړ. ۴۹- ايا تا هغو ليدلي چې ځانونه پاک بولي، بلکې الله چې څوک وغواړي هغه

پاکوي او په هغوی به ذره ظلم هم نه کېږي. ۵۰- ګوره، هغوی په الله څنګه دروغ تپي او د ښکاره ګناه لپاره همدا کافي ده.
۵۱- ایا تا هغه خلک نه دي لیدلي چې د کتاب یوه برخه ورکول شوې وه، هغوی حبت (سفلیه اعمال مثلاً جادو وغیره) او طاغوت (شیطاني قوتونه او خبیثه روحونه وغیره) مني او د منکرانو په هکله وایي چې هغوی تر مسلمانانو په ښه لاره دي. ۵۲- هغوی هغه خلک دي چې الله پرې لعنت کړی او په چا چې الله لعنت وکړي، ته په هغوی کې مرستندوی نه شې موندلای. ۵۳- ایا د الله په اقتدار کې د هغوی څه برخه شته، بیا خو به هغوی چاته د کجورې د زړي هومره څه هم ور نه کړي. ۵۴- ایا دوی خلکو سره د هغه څه له وجې حسد کوي چې الله په خپل فضل ورکړي دي. نو موږ آل ابراهیم ته کتاب او حکمت ورکړی، او موږ هغوی ته لویه پاچاهي هم ورکړه.
۵۵- په هغوی کې ځینو دا (کتاب) ومانه او ځینې ترې پاتې شول، او د هغوی لپاره د جهنم لمبې کافي دي. ۵۶- بېشکه کومو خلکو چې زموږ له نښو انکار کړی، هغوی موږ په سخت اور کې اچوو. کله چې د هغوی د بدن پوټکی وسوځېږي، نو موږ به یې پوټکی بدل او نوی کړو چې هغوی عذاب تېرولو ته دوام ورکړي. بېشکه الله قوي، د حکمت خاوند دی. ۵۷- او چا چې ایمان راوړ او نېک کارونه یې وکړل، هغوی به موږ داسې باغونو ته دننه کړو چې ور لاندې به نهرونه بهېږي. هلته به دوی تل اوسېږي، هلته به دوی لپاره پاکې ښځې وي او دوی به موږ د ګڼې سیورې لاندې ساتو.
۵۸- الله تاسې ته حکم کوي چې امانتونه خپلو حقدارو ته ورسوئ. او کله چې د خلکو ترمنځ فیصله کوئ، نو په عدل یې وکړئ. الله تاسې ته ښه نصیحت کوي، بېشکه الله اورېدونکی، لیدونکی دی. ۵۹- ای د ایمان

خاوندانو، د الله او رسول اطاعت وکړئ او په خپلو کې د واک د خاوندانو اطاعت وکړئ. بیا که ستاسې ترمنځ په کوم شي اختلاف پیدا شي، نو هغه الله او رسول ته راجع کړئ، که تاسې په الله او د آخرت په ورځ ایمان لرئ. دا ښه خبره ده او انجام یې ښه دی. ۶۰- ایا تا هغه خلک نه دي لیدلی چې دعوه کوي چې په تا او له تا مخکې چې څه نازل شوي په هغه یې ایمان راوړی دی. هغوی دا غواړي چې قضیه د شیطان طرف ته یوسي، سره د دې چې هغوی ته حکم شوی چې هغه ونه مني او شیطان غواړي چې هغوی تېرباسي او ګمراه یې کړي. ۶۱- او کله چې هغوی ته وویل شي چې د الله د نازل کړي کتاب او رسول خوا ته راشئ، نو وبه ګورې چې هغه منافقین له تا وروسته کیږي. ۶۲- بیا به هغه وخت څه کیږي چې د هغوی په خپلو لاسو راوړی مصیبت ورته را ورسیږي، هغه وخت به دوی قسمونه خوري او تاته به راځي او وايي به چې په الله قسم، زموږ مقصد خو یوازې ښېګڼه او یوځایوالی و. ۶۳- د هغو په زړونو کې چې څه دي الله پرې ښه خبر دی، نو ته له هغوی اعراض وکړه او هغوی ته نصیحت وکړه او داسې خبرې ورته وکړه چې د هغوی زړه ته ور ښکته شي.
۶۴- موږ چې کوم رسول لیږلی، د دې لپاره مو لیږلی چې د الله په حکم د هغه اطاعت وشي او که هغوی چې خپل تاوان یې کړی او بیا هم تاته راغلي وای او له الله یې بښنه غوښتې وای او رسول هم هغوی ته بښنه غوښتې وای، نو یقیناً الله به یې بښونکی، د رحم خاوند موندلی وای. ۶۵- نو ستا په رب قسم، هغوی هېڅکله د ایمان خاوندان نه شي کېدای، تر څو چې هغوی په خپلمنځي شخړو کې تا فیصله کونکی ونه ګڼي. بیا چې ته کومه فیصله وکړې، په هغې خپلو زړونو کې خفه نه شي او په

خوښئ يې ومني. ۶۶- او كه موږ هغوى ته حكم كړى واى چې ځانونه ووژنئ يا له خپلو كورونو ووځئ، نو لږو به يې پرې عمل كړى واى. او كه هغو خلكو هغه څه كړي واى چې نصيحت يې ورته شوى و، نو هغوى لپاره به دا خبره غوره او د ايمان ثابتونكې واى. ۶۷- او هغه وخت به هغوى ته موږ له خپل اړخه لوى اجر وركړى واى. ۶۸- هغوى ته به مو سمه لار ښودلې واى. ۶۹- او څوک چې د الله او رسول اطاعت وكړي، هغه به د هغو خلكو په ډله كې وي چې الله پرې انعام كړى دى، يعنې پېغمبران او صديقين او شهيدان او صالحين. د هغوى ملگرتيا څومره ښه ده. ۷۰- دا د الله له طرفه فضل دى او د الله علم كافي دى.
۷۱- اى د ايمان خاوندانو، خپل احتياط وكړئ او بيا يو ځاى يا بېل بېل ووځئ. ۷۲- او په تاسې كې داسې هم شته چې ځنډ كوي. بيا كه تاسې ته كوم مصيبت ورسېده، نو هغوى وايي الله په ما انعام كړى چې زه له هغوى سره نه وم. ۷۳- او كه تاسې د الله كوم فضل ترلاسه كړ، نو بيا وايي چې ستاسې او د هغوى ترمنځ گني د مينې هېڅ خپلوي نشته؛ چې كاش زه هم ورسره واى، لويه كاميابي به مې موندلې واى. ۷۴- نو كوم خلک چې د آخرت په بدل كې د دنيا ژوند خرڅوي، هغوى بايد د الله په لاره كې وجنگېږي. او څوک چې د الله په لاره كې وجنگېږي، بيا مړ شي يا غالب شي، موږ به هغوى ته لوى اجر وركړو. ۷۵- او په تاسې څه شوي چې د الله په لاره كې او د هغو كمزورو سړيو او ښځو او ماشومانو لپاره نه جنگېږئ چې وايي الله، موږ د دې ظالمو خلكو له كلي وباسه او زموږ لپاره له خپل اړخه كوم ملاتړى پيدا كړه او زموږ لپاره له خپل اړخه څوک مرستندوى كړه. ۷۶- او څوک چې د ايمان خاوندان دي، هغوى د الله په لاره كې جنگېږي او څوک چې منكر دي، هغوى د

شیطان په لاره کې جنګېږي. نو تاسې د شیطان له ملګرو سره وجنګېږئ، بېشکه د شیطان چال ډېر ضعیفه دی.
۷۷- ایا تا هغه خلک نه دي لیدلي چې ورته ویل شوي وو خپل لاسونه وساتئ او لمونځ قایم کړئ او زکات ورکړئ. بیا چې هغوی ته د جګړې حکم وشو، نو په هغوی کې یوه ډله انسانان داسې ووېرېدل څنګه وېره چې له الله په کار ده یا له هغې هم ډېر. هغوی وایي ای زموږ ربه، تا په موږ جنګ ولې فرض کړ. ولې دې موږ یوه موده پرې نه ښودو. (ورته) ووایه چې د دنیا ګټه لږه ده، آخرت د هغو لپاره غوره دی چې پرهېزګاري وکړي، او تاسې سره به یوه ذره ظلم هم نه کېږي. ۷۸- او تاسې چې هر چېرته یئ، مرګ به مو پیدا کړي، که څه هم په قوي کلاګانو کې یئ. که هغوی ته کوم خیر ور ورسېږي، نو وایي چې دا د الله له طرفه دی او که هغوی ته کومه بدي ور ورسېږي، نو وایي چې ستا له وجې ده. (ورته) ووایه چې هر څه د الله له طرفه دي. د هغو خلکو څه حال دی چې ښکاري په هېڅ خبره نه پوهېږي. ۷۹- تاسې ته چې کوم خیر در رسي هم د الله له طرفه در رسېږي او تاسې ته چې کومه بدي در رسېږي، هغه ستاسې له خپله لاسه ده. او موږ ته انسانانو لپاره پیغمبر ور ولېږلې او د الله ګواهي کافي ده.
۸۰- چا چې د رسول اطاعت وکړ، هغوی د الله اطاعت وکړ او چا چې مخ واړوه، موږ ته په هغوی نګران نه یې لېږلی. ۸۱- او هغه خلک وایي چې موږ منلې ده، خو بیا چې ستا له څنګه لاړ شي، نو په هغوی کې یوه ډله د خپلې کړې خبرې خلاف مشوره کوي. او الله د هغوی تدبیرونه لیکي. نو ته هغوی ته پام مه کوه او په الله توکل وکړه او الله د توکل لپاره کافي دی. ۸۲- ایا دا خلک په قرآن فکر نه کوي، که دا له الله بغیر د بل چا له اړخه وای، نو لوی اختلاف به په کې لیدل کېدای. ۸۳- او بیا چې

هغوی ته د امن یا وېرې کومه خبره ورسېږي، هغه خپروي. او که هغوی دا (خبره) رسول ته یا خپل مسوولو اصحابو ته رسولې وای، نو په هغوی کې ځوک تحقیق کونکي وو، هغوی به یې په حقیقت پوه شوي وای. او که په تاسې د الله فضل او رحمت نه وای، نو له لږو بغیر به تاسې نور ټول په شیطان پسې تللي وای.
۸۴- نو د الله په لاره کې وجنګېږئ. په تاسې له خپل ځان بغیر د بل هېڅ مسوولیت نشته او د ایمان خاوندان ترغیب کړه. هیله ده چې الله د منکرانو زور مات کړي او الله د لوی زور خاوند او سخت جزا ورکونکی دی.
۸۵- ځوک چې د حق په ملاتړ خبره وکړي، د هغه لپاره په کې برخه ده او ځوک یې چې مخالفه خبره وکړي، د هغه لپاره په کې برخه ده، او الله په هر څه د قدرت خاوند دی. ۸۶- او کله چې ځوک تاسې ته دعا وکړي، نو تاسې هم ورته دعا وکړئ یا ورته له هغې ښه یا بېرته هماغه تکرار کړئ. بېشکه الله د هر څه حساب کونکی دی. ۸۷- یوازې الله معبود دی، له هغه بغیر بل معبود نشته. هغه به تاسې ټول د قیامت په ورځ راټول کړي، (هغه ورځ) چې په راتګ کې یې هېڅ شک نشته. او تر الله د بل چا خبره رښتیا کېدای شي.
۸۸- نو په تاسې څه شوي چې تاسې د منافقینو په معامله کې دوه ډلې کېږئ. سره د دې چې الله هغوی د خپلو اعمالو د وجې شاته ګرځولي دي. ایا ته هغه خلک لارې ته راوړل غواړې چې الله ګمراه کړي دي. او الله چې ځوک ګمراه کړي، ته د هغوی لپاره هېڅکله لاره نه شې موندلای. ۸۹- هغوی غواړي لکه څنګه یې چې پخپله انکار کړی، داسې تاسې هم انکار وکړئ چې ټول یو ډول شئ. نو تاسې په هغوی کې ځوک مه ملګری کوئ، تر څو یې چې د الله په لاره کې هجرت نه وي کړی. بیا که هغوی دا ونه مني، نو هغوی ونیسئ او هر چېرته مو چې وموندل

ويې وژنئ او په هغوی کې يو هم مه ملګری او مرستندويه کوئ. ۹۰-
مګر هغه خلک چې د داسې يوه قوم وي چې ستا ورسره معاهده وي، يا
هغه خلک چې تاته په داسې حال کې راغلي وي چې تاسې سره او په
جنګ کولو يا په خپل قوم کې د جنګ کولو له وجې يې سينې تنګې وي.
او که الله غوښتي وای چې هغوی په تا زورور کړي، نو هغوی حتماً
تاسې سره جنګ کاوه. نو که هغوی تاسې پرېږدي او تاسې سره د سولې
چلند وکړي، نو الله تاسې ته هم د هغوی خلاف د اقدام اجازه نه درکوي.
۹۱- بل به ځينې داسې خلک هم وګورئ چې غواړي له تاسې هم په امن
کې وي او له خپل قامه هم په امن کې وي. هغوی چې هر وخت د فتنې
موقع پيدا کړې، نو پرې اخته شوي دي. داسې خلک که له تاسې يوه اړخ
ته نه وي او له تاسې سره د سولې چلند نه کوي، او خپل لاسونه ونه
نيسي، نو تاسې يې ونيسئ او هر ځای يې چې ومومئ ويې وژنئ. دا هغه
خلک دي چې په خلاف يې موږ تاسې ته روښانه دليل درکړی دی.
۹۲- او د مومن کار دا نه دی چې مومن ووژني، مګر که دا کار ترې په
تېروتنه وشي. او څوک چې يو مومن په تېروتنه ووژني، نو هغه دې يو
مومن غلام آزاد کړي او د مړي وارثينو ته دې خونبها ورکړي، مګر که
هغوی يې معاف کړي. بيا که قتل شوی کس له داسې قومه و چې ستاسې
دښمن دی او پخپله مومن و، نو بيا يو مومن غلام آزادول کافي دی. او
که هغه له داسې قومه وي چې ستاسې او د هغوی ترمنځ معاهده وي، نو
هغه (قاتل دې د مقتول) وارثانو ته خونبها ورکړي او يو غلام دې آزاد
کړي. که څوک دا نه شي کولای، دوه مياشتې پرله پسې روژه دې
ونيسي. دا د الله له طرفه توبه ده او الله پوه او د حکمت خاوند دی. ۹۳-
او څوک چې مومن قصداً ووژني، د هغه جزا جهنم دی چې تل به په کې

وي او په هغه د الله غضب او لعنت دی او الله ورته لوی عذاب تيار کړی دی.
۹۴- ای د ايمان خاوندانو، تاسې چې کله د الله په لاره کې سفر کوئ، نو ښه تحقيق وکړئ او څوک چې تاسې ته سلام وکړي، هغوی ته دا مه وايئ چې ته مومن نه يې. که تاسې د دنيوي ژوند سامان غواړئ، نو الله سره د غنيمت ډېر زيات سامان دی. تاسې هم پخوا داسې وئ. بيا الله په تاسې فضل وکړ، نو تحقيق کوئ. تاسې چې هر څه کوئ، الله پرې خبر دی. ۹۵- برابر نه دي هغه ناست مومنان چې هېڅ عذر نه لري او هغه د ايمان خاوندان چې د الله په لاره په خپل مال او سر جنګېږي. په مال او ځان د جهاد کونکو درجه الله تر ناستو (کسانو) لوړه کړې ده او هر يوه سره الله د لوی اجر وعده کړې ده. او الله به اجر عظيم کې جهاد کونکو ته په ناستو کسانو برتري ورکړې ده. ۹۶ - هغوی لپاره د الله له طرفه لوړې درجې دي او مغفرت او رحمت دی. او الله ښنونکی او مهربان دی.
۹۷- څوک چې ځان سره بد کوي، کله چې ملايکې له دوی ساه اخلي، نو پوښتنه به ترې کوي چې تاسې په څه حال وئ. هغوی به وايي چې موږ په ځمکه بېوسه وو. ملايکې به ورته وايي ايا د الله ځمکه پراخه نه وه چې تاسې خپل وطن پرېښی او هلته تللي وای. دا هغه خلک دي چې ځای يې جهنم دی او هغه ډېر بد ځای دی. ۹۸- مګر هغه بېوسه سړي، ښځې او ماشومان چې هغوی څه تدبير نه شي کولای او نه کومه لار موندلای شي. ۹۹- د دې خلکو په هکله تمه ده چې الله به يې وبښي او الله ښنونکی، مهربان دی. ۱۰۰- او څوک چې د الله په لاره کې وطن پرېږدي، هغه به په ځمکه لوی استوګنځايونه او پراختيا ومومي او څوک چې له خپل کوره د الله او د هغه د رسول اړخ ته هجرت وکړي، او بيا

ورته مرګ راشي، نو د هغه اجر له الله سره ثابت شوی او الله ښښونکی، د رحم خاوند دی.
۱۰۱- او کله چې تاسې په ځمکه سفر کوئ یا درسره وېره وي چې منکر به مو وځوروي، نو که په لمانځه کې کمی وکړئ ګناه نشته. بېشکه منکر خلک ستاسې ښکاره دښمنان دي. ۱۰۲- او کله چې تاسې د ایمان د خاوندانو منځ کې یئ او د هغوی لپاره لمونځ قایم کړئ، نو په کار ده چې د هغوی یوه ډله تاسې سره ولاړه وي او خپلې وسلې ورسره وي. بیا چې کله هغوی سجده وکړله، هغوی دې له تاسې لرې شي او بله داسې ډله دې راشي چې لا یې لمونځ نه دی کړی، هغه دې له تاسې سره لمونځ وکړي. او هغوی دې هم د خپلې ساتنې سامان او وسلې ولري. منکر خلک غواړي چې تاسې له خپلو وسلو او سامانونو په څه ډول غافل شئ او هغوی په تاسې ناڅاپي برید وکړي. او په تاسې ګناه نشته که چېرې تاسې ته د باران له وجې تکلیف وي یا تاسې ناروغه یئ، نو خپله وسله ښکته کړئ او د خپلې ساتنې سامان ولرئ. بېشکه الله منکرانو ته رسوا کونکی عذاب تیار کړی دی. ۱۰۳- نو کله چې تاسې لمونځ کوئ الله په ولاړه، ناسته او ملاسته یادوئ. بیا چې کله امن شو، نو د لمونځ اقامت وکړئ. بېشکه لمونځ د ایمان په خاوندانو، په ټاکلو وختونو فرض دی. ۱۰۴- او د (دښمن) قوم په تعقیب حوصله مه بایلئ. که تاسې تکلیف ګالئ، نو هغوی هم ستاسې په شان تکلیف ګالي او تاسې له الله هغه هیله لرئ چې هغوی یې ترې نه لري. او الله پوه او د حکمت خاوند دی.
۱۰۵- بېشکه موږ تاسې ته دا کتاب په حق سره نازل کړی چې تاسې په خلکو کې له هغه سره سمه فیصله وکړئ چې الله تاسې ته ښودلې دي. او د خاینانو له اړخه جنګ مه کوه. ۱۰۶- او له الله ښښنه وغواړه، بېشکه الله ښښونکی او مهربان دی. ۱۰۷- او ته د هغو خلکو له اړخه مه جنګېږه

چې خپل ځان سره خيانت کوي. الله هغه څوک نه خوښوي چې خيانت کوي او ګنهګار وي. ۱۰۸- هغوی له انسانانو شرمېږي او له الله، نه شرمېږي. سره د دې چې الله ورسره وي کله چې هغوی د شپې هغه خبرې کوي چې الله ترې راضي نه وي، او هغوی چې هر څه کوي، الله پرې پوره خبر دی.
۱۰۹- تاسې خو د دنيا په ژوند کې د هغوی له اړخه جګړه وکړله، خو د قيامت په ورځ به څوک د هغوی په ځای له الله سره جګړه کوي او څوک به يې کارساز وي. ۱۱۰- او څوک چې بدي وکړي يا په خپل ځان ظلم وکړي او بيا له الله ښښنه وغواړي، نو الله به ښښونکی او د رحم خاوند ومومي. ۱۱۱- او څوک چې کومه ګناه کوي، نو په خپل حق کې يې کوي او الله پوه او د حکمت خاوند دی. ۱۱۲- او څوک چې يوه ګناه يا تېروتنه وکړي او بيا يې پړه په يوه بېګناه ور واچوي، نو هغه په خپل غاړه يو لوی تهمت او ښکاره ګناه واخيستل. ۱۱۳- او که په تاسې د الله فضل او د هغه رحمت نه وای، نو په هغوی کې خو يوې ډلې دا تابيا کړې وه چې تاسې به ګمراه کوي. سره د دې چې هغه خپل ځان تېرباسي. هغه ستاسې هېڅ نه شي کولای. او الله په تا کتاب او حکمت نازل کړی او تاته يې هغه څه در زده کړل چې ته پرې نه پوهېدلې په تا د الله ډېر لوی فضل دی.
۱۱۴- د هغوی په زياتره پټو خبرو کې هېڅ ښېګڼه نشته. د ښېګڼې پټه خبره (مشوره) يوازې د هغو ده چې د صدقې ورکولو ووايي يا د يوه نېک کار سپارښتنه وکړي يا يې د خلکو ترمنځ د سولې لپاره وکړي. څوک چې د الله د رضا لپاره داسې وکړي، نو موږ به ورته لوی اجر ورکړو. ۱۱۵- خو څوک چې د رسول مخالفت وکړي او د مومنانو له لارې بغير په بله لار روان شي، سره د دې چې لار ورته روښانه شوې

وي، نو موږ به هغه، داسې لور ته وغواړو چې هغه پخپله ور ستون شوی، هغه به دوزخ ته ننباسو او هغه بد ځای دی.
۱۱۶- بېشکه الله به دا ګناه هېڅکله ونه ښښي چې شریک ورسره وګڼل شي. له دې بغیر نور ګناهونه به چې چاته وغواړي، هغه ته وبښي. او چا چې الله سره شریک وګاڼه، هغوی له لارې خطا شول او ډېر لرې لاړل. ۱۱۷- هغوی الله پرېږدي او نور معبودان او سرکښه شیطان را بولي. ۱۱۸- په هغوی الله لعنت کړی دی. او شیطان ویلي وو چې زه به ستا له بندهګانو یوه ټاکلې برخه اخلم. ۱۱۹- زه به هغوی بې لارې کوم، هغوی ته به هیلې ورکوم او هغوی به لمسوم چې د څارویو غوږونه پرې کړي او هغوی به لمسوم د الله په مخلوق کې بدلون راوړي، او څوک چې له الله بغیر شیطان خپل ملګری کوي، نو هغه په ښکاره تاوان کې ولوېد. ۱۲۰- هغه دوی ته وعده ورکوي او دوی ته هیلې ورکوي او د شیطان ټولې وعدې له ټګۍ بغیر هېڅ هم نه دي. ۱۲۱- د داسې خلکو ځای جهنم دی او له هغه د بچ کېدو هېڅ لاره به ونه مومي. ۱۲۲- او کومو خلکو چې ایمان راوړی او نېک کارونه یې کړي هغوی به موږ داسې باغونو ته ننباسو چې ور لاندې به نهرونه بهېږي. د الله وعده رښتیا ده او تر الله به بل څوک په خپله خبره کې رښتینی وي.
۱۲۳- نه ستاسې په هیلو او نه د اهل کتابو په هیلو، څوک چې بدي کوي، هغه به بده بدله اخلي او نه به هغه له الله بغیر بل څوک ملاتړی او مرستندوی ومومي. ۱۲۴- او څوک چې نېک کار وکړي، هغه که ښځه وي که سړی په دې شرط چې مومن وي، هغوی به جنت ته ځي او په هغوی به ذره ظلم هم نه کېږي.
۱۲۵- او تر هغه چا، د چا دین ښه کېدای شي چې خپل ځان الله ته سپاري او نېکي کوي او د ابراهیم د دین پیروي کوي چې د یوه اړخه و، او الله

ابراهيم خپل دوست کړی و. ۱۲۶- او څه چې په آسمانونو او څه چې په ځمکه دي ټول د الله دي او الله د هر څه علم لري.
۱۲۷- او خلک له تا د ښځو په هکله د حکم پوښتنه کوی. (ورته) ووایه چې الله تاسې ته د هغوی په هکله حکم کوي او په کتاب کې هغه آيتونه چې د هغو يتيمو ښځو په هکله راغلي چې تاسې ورته هغه څه نه ورکوئ چې ورته ليکل شوي دي او غواړئ چې هغوی سره نکاح وکړئ. او هغه آيتونه چې د کمزورو ماشومانو په هکله دي او له يتيمانو سره عدل وکړئ او تاسې چې کومه ښېگڼه کوئ، هغه الله ته ښه معلومه ده. ۱۲۸- که کومه ښځه د خپل مېړه له خوا د بد چلند يا بې رخۍ انديښنه لري، په دې کې هېڅ ستونزه نشته چې هغوی دواړه په خپلو کې سوله وکړي او سوله غوره ده او حرص د انسان په طبيعت کې ځای شوی دی. او که تاسې ښه چلند وکړئ او له الله ووېرېږئ، تاسې چې څه کوئ الله پرې خبر دی. ۱۲۹- او تاسې هېڅکله ښځې برابرې نه شئ ساتلی که څه هم تاسې داسې کول وغواړئ. نو بيخي يوې خوا ته مه کيږئ چې بله همداسې ځوړنده پرېږدئ. او که تاسې اصلاح وکړئ او ووېرېږئ نو الله ښنونکی، مهربان دی. ۱۳۰- او که دواړه جدا شي، نو الله به هر يو په خپلې پراختيا بې نيازه کړی او الله ډېر پراخه او د حکمت خاوند دی.
۱۳۱- او څه چې په آسمانونو او ځمکه دي (ټول) د الله دي. او له تا مخکې چې کومو خلکو ته کتاب ورکړل شوی، مونږ هغوی ته او تاسې ته حکم کړی چې له الله ووېرېږئ. او که تاسې يې ونه منئ نو څه چې په آسمانونو کې دي او څه چې په ځمکه دي (ټول) د الله دي، الله بې نيازه او د ډېرو ښېگڼو خاوند دی. ۱۳۲- او څه چې په آسمانونو او ځمکه دي ټول د الله دي او الله د توکل لپاره کافي دی. ۱۳۳- ای خلکو، که هغه وغواړي نو تاسې ټول به يوسي او نور به راوړي او الله په دې قادر دی.

۱۳۴- څوک چې د دنیا ثواب غواړي نو الله سره د دنیا ثواب هم شته او د آخرت ثواب هم شته. الله اوربېدونکی او لېدونکی دی.
۱۳۵- ای د ایمان خاوندانو، په عدل ښه قایم شئ او د الله لپاره ګواهي ورکړئ، که څه هم ستاسې، ستاسې د مور او پلار یا خپلوانو خلاف وي. که څوک شتمن یا محتاج وي، نو الله تر تاسې ډېر خیرخواه دی. نو تاسې د خواهشونو پیروي مه کوئ چې له حق نه لرې (نه) شئ. او که تاسې څه پټ کړئ یا (له حق) وینا ډډه وکړئ، نو تاسې چې څه کوئ، الله پرې خبر دی.
۱۳۶- ای د ایمان خاوندانو، په الله، د هغه په رسول او هغه کتاب ایمان راوړئ چې هغه په خپل رسول نازل کړی او هغه کتابونه هم چې مخکې یې نازل کړي دي. او څوک چې له الله، د هغه له ملایکو، د هغه له کتابونو، د هغه له رسولانو او د آخرت له ورځې انکار وکړي، نو په ګمراهۍ کې لرې تللی دی. ۱۳۷- بېشکه چا چې ایمان راوړ او بیا یې انکار وکړ، بیا یې ایمان راوړ او بیا یې انکار وکړ او بیا په انکار کې مخ ته لاړل، نو الله به یې هېڅکله ونه بښي او نه به هغوی ته لار وښیي.
۱۳۸- منافقینو ته زېری ورکړه چې د هغوی لپاره له درده ډک عذاب دی. ۱۳۹- کوم خلک چې مومنان پرېږدي او منکران ملګري کوي، ایا د هغوی تر خنګ عزت لټوي، نو عزت ټول الله لره دی.
۱۴۰- او د الله په کتاب کې په تاسې دا حکم نازل شوی، چې که تاسې واورئ چې د الله له نښو انکار کېږي یا ور پورې خندا کېږي، نو تاسې له هغوی سره مه کېنئ، تر هغه چې هغوی په نورو خبرو کې مصروف شي. ګنې تاسې به هم د هغوی په شان شئ. الله به منافقین او منکران ټول په دوزخ کې سره راټول کړي. ۱۴۱- هلته به منافقین ستاسې په تمه وي. که تاسې د الله له طرفه کومه فتح حاصله کړئ، نو هغوی وایي چې ایا

موږ له تاسې سره نه وو. او كه منكرانو ته كومه برخه ورسېږي، نو هغوی وايي چې ايا موږ تاسې سره جنګ نه شو كولای او بيا هم موږ تاسې له مسلمانانو وساتلئ. نو الله به ستاسې ترمنځ د قيامت په ورځ فيصله وكړي او الله هېڅ كله منكرانو ته په مومنانو لار نه وركوي.
۱۴۲- منافقين له الله سره ټګي كوي. سره د دې چې الله دوی په تېروتنه كې اچولي دي. او هغوی چې لمانځه ته ودرېږي، يوازې خلكو ته د ځان ښودلو لپاره په سستۍ ودرېږي. او هغوی الله لږ يادوي. ۱۴۳- هغوی د دواړو ترمنځ ځوړند دي، نه د دې ځای دي نه د هغه ځای. او څوک چې الله بې لاره كړي ته ورته لار نه شې ښودلای. ۱۴۴- ای د ايمان خاوندانو، مومنان مه پرېږدئ او منكران مه ملګري كوئ. ايا تاسې دا غواړئ چې په ځان د الله ښكاره حجت قايم كړئ. ۱۴۵- بېشكه منافقين به د اور تر ټولو ښكته طبقه كې وي او تاسې به يې هېڅ مرستندويه ونه مومئ. ۱۴۶- البته څوک چې توبه وباسي او خپل ځان اصلاح كړي او الله په كلكه ونيسي او خپل دين د الله لپاره خاص كړي، نو دا خلک به د ايمان له خاوندانو سره وي او الله به د ايمان خاوندانو ته لوی ثواب وركړي. ۱۴۷- كه تاسې شكر وباسئ او ايمان راوړئ، نو الله به تاسې ته ولې عذاب دركړي. الله ډېر قدردان او په هر څه پوه دی.
*۱۴۸- الله بدې خبرې نه خوښوي، مګر كه په چا ظلم شوی وي او الله اورېدونكی او پوهېدونكی دی. ۱۴۹- كه تاسې نېكي ښكاره كړئ، كه يې پټه كړئ يا كه د بل چا په بدۍ سترګې پټې كړئ، نو الله ښښونكی او د قدرت خاوند دی. ۱۵۰- څوک چې له الله او د هغه له رسول نه انكار كوي او غواړي چې د الله او د هغه د رسول ترمنځ تفريق وكړي او وايي چې موږ ځيني منو او ځينې نه منو، او هغوی غواړي چې په دې منځ كې يوه لاره پيدا كړي. ۱۵۱- داسې خلک پاخه منكر دي او موږ د

منکرانو لپاره له ذلته ډک عذاب تیار کړی دی. ۱۵۲- او چا چې په الله او د هغه په رسولانو ایمان راوړ او په هغو کې یې څوک جدا نه کړ، هغوی ته به الله اجر ورکړي او الله غفور او رحیم دی.
۱۵۳- اهل کتاب له تا دا غواړي چې ته په هغوی له آسمانه یو کتاب نازل کړې، نو له موسی نه هغوی تر دې هم لویه غوښتنه کړې وه. هغوی ویلي وو چې موږ ته الله بالکل مخامخ وښیه. نو د هغوی د زیاتي له وجې پرې تندر را ولوېده. بیا له ښکاره نښو لیدلو وروسته هغوی خوسی خپل معبود کړ. بیا موږ هغوی وبښل او موسی ته موږ ښکاره حجت ورکړ. ۱۵۴- او موږ له هغوی د وعدې اخیستو لپاره په هغوی طور غر را پورته کړ. او موږ هغوی ته وویل چې په دروازې په ټیټو سرونو ننوځئ او ورته مو وویل چې د سبت په مسئله کې زیاتی مه کوئ. او موږ له هغوی قوي وعده واخیسته.
۱۵۵- هغوی ته په دې جزا ورکړل شوه چې خپله وعده یې ماته کړله او د الله د نښو یې انکار وکړ او پیغمبران یې ناحقه ووژل او ویې ویل چې زموږ زړونه خو بند دي. بلکې الله د هغوی د انکار له وجې د هغوی په زړونو مُهر وهلی دی، نو هغوی لږ ایمان راوړي. ۱۵۶- د هغوی د انکار له وجې او په مریم د لوی تور پورې کولو له وجې. ۱۵۷- او د هغوی د دې خبرې له وجې چې (ویل یې) موږ مسیح بن مریم د الله رسول وواژه. حال دا چې هغوی نه وژلی او نه یې په صلیب ځړولي، بلکې معامله هغوی ته مشتبه کړی شوه. او څوک چې په دې کې اختلاف کوي، هغوی په دې هکله شک کې پرېوتي دي. هغوی په دې هکله هېڅ پوهه نه لري، یوازې په اټکل روان دي او هغوی یقیناً نه دی وژلی.
۱۵۸- بلکې الله هغه (مسیح) خپل ځان خوا ته پورته کړی او الله قوي، د حکمت خاوند دی.

۱۵۹- او په اهل کتابو کې داسې څوک نشته چې له خپل مرګ نه مخکې
په دې (واقعه) ایمان را نه وړي او هغه به د قیامت په ورځ په هغوی
ګواه وي. ۱۶۰- نو د یهودو د ظلم له وجې پرې موږ هغه پاک څیزونه
حرام کړل چې هغوی لپاره حلال وو. او لامل یې دا و چې د الله له لارې
ډېر لرې وو. ۱۶۱- او له دې امله چې هغوی سود خوري سره د دې چې
هغوی منع کړی شوي وو او له دې امله چې هغوی د خلکو مال په باطله
طریقه خوري. او موږ په هغوی کې منکرانو ته له درده ډک عذاب تیار
کړی دی. ۱۶۲- خو هغوی کې چې څوک په علم پاخه او د ایمان خاوندان
دي، هغوی په هغه څه ایمان راوړی چې په تا او له تا مخکې نازل شوي
او هغوی د لمونځ پابند دي او زکات ورکوي او په الله او د قیامت په ورځ
ایمان لري. داسې خلکو ته به موږ حتماً لوی اجر ورکوو.
۱۶۳- موږ تاته وحې درلېږلې، هغسې لکه نوح او له هغه وروسته نبیانو
ته مو چې وحې لېږلې وه. او موږ ابراهیم او اسماعیل او اسحاق او
یعقوب او د یعقوب اولاد او عیسی او ایوب او یونس او هارون او سلیمان
ته وحې لېږلې وې. او موږ داؤد ته زبور ورکړ. ۱۶۴- او موږ داسې
رسولان لېږلي چې د هغوی حال مو درته مخکې ویلی دی او داسې
رسولان هم چې حال یې درته موږ نه دی ویلی. او موسی له الله سره
کلام وکړ. ۱۶۵- الله رسولان زېري ورکونکي او وېرونکي لېږلي دي
چې تر رسولانو وروسته خلکو سره د الله په مقابل کې څه حجت پاتې نه
شي او الله قوي، د حکمت خاوند دی.
۱۶۶- خو الله ګواه دی په هغه څه چې په تا یې نازل کړی چې هغه دا په
خپل علم سره نازل کړی او ملایکې هم ګواهی ورکوي او الله د ګواهۍ
لپاره کافي دی. ۱۶۷- کومو خلکو چې انکار کړی او خلک یې د الله له
لارې منع کړي هغوی په ګمراهۍ کې لرې تللي دي. ۱۶۸- چا چې انکار

او ظلم کړی، هغوی به الله هېڅکله ونه ببني او نه به هغوی ته لار وښيي.
۱۶۹- د جهنم له لارې بغیر چې هغوی به په کې تل اوسېږي او الله ته دا آسانه ده. ۱۷۰- ای خلکو، تاسې ته رسول ستاسې د رب له حق خبرې سره درغلی دی. نو ويې منئ چې ښېګڼه ومومئ او که يې ونه منئ، نو څه چې په آسمانونو او ځمکه دي د الله دي او الله پوه، د حکمت خاوند دی.
۱۷۱- ای د کتاب خاوندانو، په خپل دین کې غُلو مه کوئ او د الله په هکله له حق بغیر نور څه مه وايئ. مسيح عيسی ابن مريم خو د الله رسول او د هغه يوه کلمه ده چې هغه د مريم طرف ته اِلقا کړه او د هغه له اړخه يو روح دی. نو په الله او د هغه په رسولانو ايمان راوړئ او دا مه وايئ چې الله درې دي. را ستانه شئ، دا ستاسې لپاره غوره ده. معبود يوازې يو الله دی. هغه له دې پاک دی چې اولاد ولري. د هغه دي څه چې په آسمانونو کې دي او څه چې په ځمکه دي او يوازې د الله کارسازي کافي ده. ۱۷۲- مسيح به هېڅکله د الله په بندګۍ ونه شرمېږي او نه به ملايکې وشرمېږي. او څوک چې د الله په بندګۍ شرمېږي او کبر کوي، نو الله به حتماً ټول ځان ته راټول کړي. ۱۷۳- چا چې ايمان راوړی او چا چې نېک کارونه کړي، هغوی ته به هغه (الله) پوره پوره اجر ورکړي او په خپل فضل به ډېر هم ورکړي او چا چې شرم او کبر کړی وي، هغوی ته به له درده ډک عذاب ورکړي. ۱۷۴- او هغوی به د الله په مقابل کې نه څوک خپل ملګری ومومي او نه مرستندوی.
۱۷۵- ای خلکو، تاسې ته ستاسې د رب له طرفه يو دليل درغلی دی او موږ په تاسې يوه واضح رڼا نازله کړې ده. ۱۷۶- نو چا چې ايمان راوړ او هغه يې کلک ونيوه، هغوی به الله حتماً په خپل رحمت او فضل کې داخل کړي او هغوی ته به له خپل اړخه سمه لار وښيي. ۱۷۷- خلک له

تا احکام پوښتي. (ورته) ووایه الله تاسې ته د کَلالَه (هغه مړی چې د
ورور او خور بغیر یې بل وارث نه وي) په هکله حکم کوي. که څوک
مړ شي او اولاد یې نه وي او یوه خور یې وي، نو په میراث کې یې نیمه
برخه ده. او که چېرې هغه (خور) مړه شي او اولاد یې نه وي، نو هغه
(ورور) به یې وارث وي او که چېرې دوه خوېندې وي، نو (د ورور په
میراث) کې به ورته له درېیو دوه برخې وي. او که چېرې هغوی
(وارثان) څو ورونه او خویندې وي، د سړي برخه به د دوو ښځو د
برخې هومره وي. الله تاسې ته (دا) په دې خاطر بیانوي چې تاسې ګمراه
نه شئ او الله په هر څه پوه دی.

## سوره المائده ۵

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- ای د ایمان خاوندانو، خپلې وعدې پوره کړئ. تاسې ته په څارویو
کې ټول ډولونه حلال شوي، له هغو بغیر چې وروسته یې یادونه کېږي.
خو د احرام په حالت کې ښکار حلال مه ګڼئ. الله چې څه وغواړي هغه
حکم کوي.
۲- ای د ایمان خاوندانو، بې حرمتي مه کوئ د الله د نښو او د حرمت
لرونکو میاشتو او په حرم کې د قرباني کېدونکو څارویو او هغه څارویو
چې په غاړه کې یې پټۍ پرتې وي او نه د حرمت لرونکي کور خوا ته د
راتلونکو چې د خپل رب د فضل او خوښۍ په لټه راوتي دي. او کله چې
تاسې د احرام له حالته ووځئ، نو ښکار کوئ. او د هغه قوم دښمني چې
تاسې یې له مسجد حرام نه منع کړي يئ، تاسې زیاتي کولو ته ونه هڅوي.
تاسې په نېکۍ او تقوی کې د یو بل مرسته وکړئ او په ګناه او زیاتي کې

د يو بل مرسته مه کوئ. له الله ووېرېږئ. بېشکه الله سخت عذاب ورکونکی دی.
۳- په تاسې حرام شوي مرداره، او وينه او د خنځير غوښه او هغه ځاروي چې له الله بغير د بل چا په نوم ذبح شوي وي او هغه چې په زندۍ يا د زخمي کېدو له وجې مړه شوي وي يا له لوړ ځايه را لوېدلي وي يا په ښکر لګېدلي وي او هغه چې بل ځناور خوړلي وي، مګر هغه چې تاسې حلال کړي وي او هغه چې د کوم بُت په نوم حلال شوي وي او د غشو په وسيله برخې معلومول (هم)، دا د ګناه کار دی. نن منکران ستاسې د دين له اړخه مايوسه شوي، نو تاسې ترې مه وېرېږئ، يوازې له ما ووېرېږئ. نن ما ستاسې لپاره ستاسې دين پوره کړ او په تاسې مې خپل نعمت تمام کړ او تاسې ته مې اسلام د دين په توګه خوښ کړ. نو که څوک له لوږې مجبور شي، خو ګناه ته ليواله نه وي، نو الله ښښونکی او مهربان دی.
۴- هغوی پوښتنه کوي چې څه ورته حلال شوي دي. (ورته) ووايه تاسې لپاره پاک شيان حلال دي. او په ښکاري ځناورو کې هغه چې تاسې ساتلي دي، تاسې ورته هغه څه ور زده کوئ چې الله تاسې ته ښودلي دي. نو هغوی چې تاسې لپاره کوم ښکار ونيسي، له هغه خوراک کوئ. او په هغه د الله نوم واخلئ او له الله ووېرېږئ، بېشکه الله زر حساب اخيستونکی دی. ۵- نن تاسې لپاره ټول پاک شيان حلال شوي دي. او د اهل کتابو خواړه ستاسې لپاره حلال دي او ستاسې خواړه د هغوی لپاره حلال دي. او حلالې دي ستاسې لپاره پاک لمنې ښځې له مومنو ښځو او پاک لمنې ښځې له هغو ښځو چې له تاسې مخکې کتاب ورکړل شوی دی، تاسې د هغوی مهر ورکړئ هغسې لکه نکاح چې ورسره کوئ او مه ښکاره بدکاري کوئ او مه پټه ياري. او څوک چې له ايمان سره کفر

کوي، نو د هغه عمل به ضایع شي او هغه به په آخرت کې له تاوان
لیدونکو وي.
۶- ای د ایمان خاوندانو، تاسې چې کله لمانځه ته پاڅیږئ، نو خپل مخونه
او خپل لاسونه تر څنګلو ووینځئ او په خپلو سرونو مسح وکړئ او خپلې
پښې تر ګیټیو ووینځئ او که د جنابت په حالت کې یئ غسل وکړئ. او
که تاسې ناروغ یا په سفر یئ، یا په تاسې کې څوک له استنجا راشي یا
ښځو ته نږدې شوي یئ او بیا درته اوبه پیدا نه شي، نو په پاکه خاوره
تیمم وکړئ او په خپلو مخونو او لاسونو له هغې مسح وکړئ. الله نه
غواړي چې په تاسې تنګي راوړي، بلکې هغه غواړي چې تاسې پاک
کړي او په تاسې خپل نعمت تمام کړي چې تاسې شکرګزاره شئ.
۷- او په خپل ځان د الله نعمتونه یاد کړئ او هغه وعده یاده کړئ چې
هغه له تاسې اخیستې وه، هغه وخت چې تاسې وویل موږ واورېدل او
ومو منل. او له الله ووېرېږئ، بېشکه الله د زړه په خبرو پوهېږي. ۸- ای
د ایمان خاوندانو، د الله لپاره قایم پاتې کېدونکي او په حقه ګواهي
ورکونکي شئ. او د هېڅ یوې ډلې دښمني دې تاسې دې ته ونه لمسوي
چې عدل ونه کړئ، عدل وکړئ. همدا تر تقوی ډېر نږدې دی او له الله
ووېرېږئ بېشکه الله په هغه څه خبر دی چې تاسې یې کوئ. ۹- چا چې
ایمان راوړ او نېک عمل یې وکړ، هغوی سره د الله وعده ده چې د هغوی
لپاره بښنه او لوی اجر دی. ۱۰- او چا چې انکار وکړ او زموږ نښې یې
دروغ وبللې، داسې خلک دوزخیان دي. ۱۱- ای د ایمان خاوندانو، په
ځان د الله احسان یاد کړئ کله چې یو قوم دا اراده وکړله چې په تاسې
لاس پورته کړي، نو الله له تاسې د هغو لاس منع کړ. او له الله ووېرېږئ
او د ایمان خاوندان باید په الله توکل وکړي.

۱۲- او الله له بني اسرائيلو وعده واخيستله او موږ په هغوی کې دولس[۱۲] مشران وټاکل. او الله وويل چې زه له تاسې سره يم. که تاسې لمونځ وکړئ او زکات ورکړئ او زما په پيغمبرانو ايمان راوړئ او له هغوی سره مرسته وکړئ او الله ته قرض حسنه ورکړئ، نو زه به له تاسې ستاسې ګناه حتماً لرې کړم او تاسې به حتماً داسې باغونو ته ننابسم چې ور لاندې به نهرونه بهيږي. نو په تاسې کې چې څوک له دې وروسته انکار وکړي، هغه له سمې لارې خطا شو. ۱۳- نو د هغوی د وعدې ماتولو له وجې موږ په هغوی لعنت وکړ او موږ د هغوی زړونه سخت کړل. هغوی کلام له خپل ځايه بې‌ځايه کوي. او څه نصيحت چې ورته شوی و، د هغه لويه برخه يې هېره کړه. او ته به هغوی کې له لږو خلکو بغير (د نورو) له پرله پسې خيانته خبرېږې. هغوی وبښه، مخ ترې واړوه، الله نرمي کونکي خوښوي.
۱۴- او څوک چې وايي موږ نصرانيان يوو، موږ له هغوی وعده اخيستې وه. هغوی ته چې کوم نصيحت شوی و، لويه برخه يې هېره کړله. بيا موږ تر قيامته د هغوی ترمنځ دښمني او بغض واچاوه. او آخر به الله هغوی له هغه څه خبر کړي چې هغوی کول.
۱۵- ای د کتاب خاوندانو، تاسې ته رسول درغلی دی. هغه درته د الهي کتاب هغه ډېرې خبرې ښکاره کوی چې تاسې پټولې. او هغه له ډېرو شيانو مخ اړوي. بېشکه تاسې ته د الله له طرفه يوه رڼا او يو ښکاره کونکی کتاب درغلی دی. ۱۶- د دې په وسيله الله هغو خلکو ته د سلامتۍ لار ښيي چې د ده رضا غواړي او په خپل توفيق هغوی له تيارو را وباسي او رڼا ته يې راوړي او د سمې لارې ښوونه ورته کوي. ۱۷- بېشکه هغو خلکو کفر کړی چې ويل يې الله پخپله مسيح ابن مريم دی. (ورته) ووايه نو بيا د الله په وړاندې څوک واک لري، که الله وغواړي

چې مسیح ابن مریم او د هغه مور او په ځمکه چې څومره خلک دي ټول
ووژني. او د آسمانونو او ځمکې پاچاهي او په دې منځ کې چې څه دي،
ټول د الله دي. هغه چې هر څه وغواړي، هغه پیدا کوي او الله په هر څه
قادر دی.
۱۸- او یهود او نصاری وایي چې موږ د الله زامن او هغه ته ګران یوو.
(ورته) ووایه چې بیا هغه تاسې ته ستاسې د ګناهونو جزا ولې درکوي.
نه، بلکې ته هم د هغه په پیدا کړي مخلوق کې یو انسان یې. هغه چې
څوک وغواړي ښښي یې او چاته چې وغواړي غذاب ورکوي . او د
آسمانونو او ځمکې پاچاهي او په دې منځ کې چې څه دي، ټول د الله دي
او هغه ته بېرته ورستنېدل دي. ۱۹- ای د کتاب خاوندانو، تاسې ته زما
رسول درغی، هغه تاسې ته ښکاره وایي، د رسولانو له یوې دمې
وروسته. چې تاسې دا ونه وایئ چې موږ ته کوم زېرې ورکونکی او
وېرونکی نه و راغلی. نو اوس تاسې ته زېرې درکونکی او وېرونکی
درغلی او الله په هر څه قادر دی.
۲۰- او کله چې موسی خپل قوم ته وویل چې ای زما قومه، په خپل ځان
د الله احسان یاد کړئ چې هغه په تاسې کې نبیان پیدا کړل. او تاسې یې
پاچایان کړئ او تاسې ته یې هغه څه درکړل چې په دنیا کې یې چا ته نه
وو ورکړي. ۲۱- ای زما قومه، هغه پاکې ځمکې ته ننوځئ چې الله تاسې
لپاره لیکلې ده. او په خپله شا پسې مه تاوېږئ او په نقصان کې مه لوېږئ.
۲۲- هغوی وویل چې هلته یو سرکشه قوم پروت دی. تر څو چې هغوی
له هغه ځایه ونه وځي موږ هېڅکله نه ورځو. که هغوی له هغه ځایه
ووځي، نو موږ به ور دننه شوو. ۲۳- دوه کسان چې له الله د وېرېدونکو
له ډلې وو او په دواړو الله انعام کړی و، هغوی وویل چې تاسې په هغوی
برید وکړئ او د ښار په دروازه ننوځئ. ۲۴- که تاسې هلته ننوځئ نو

تاسې به برياليي شئ او په الله باور ولرئ که مومنان يئ. هغوی وويل ای موسی، تر څو چې هغه خلک هلته وي، موږ به هېڅکله ور دننه نه شوو. نو ته او ستا الله دواړه لاړ شئ او جنګ وکړئ، موږ دلته ناست يوو.
۲۵- موسی وويل ای زما ربه، په ځان او له خپل وروړ بغير مې په بل هيچا واک نشته، نو زموږ او د دغه نافرمانه قوم ترمنځ بېلتون راوړه.
۲۶: الله وويل: هغه ملک په دوی د څلوېښتو کالو لپاره حرام شوی. دا خلک به په ځمکه سر وهلي بر وهلي ګرځيږي. نو ته په دې نافرمانه قوم افسوس مه کوه.
۲۷- هغوی ته د آدم د دوو زامنو کيسه په حق سره بيان کړه. چې کله هغوی دواړو قرباني وړاندې کړله، نو د يوه قرباني قبوله شوه او د بل قرباني قبوله نه شوه. هغه وويل چې زه به تا ووژنم. هغه (بل) ورته وويل چې الله يوازې د متقيانو قرباني قبلوي. ۲۸- که ته زما د وژلو لپاره لاس پورته کړې، نو زه ستا د وژلو لپاره لاس نه پورته کوم. زه له الله وېرېږم چې د ټول جهان رب دی. ۲۹- زه غواړم چې زما او خپله ګناه ته واخلې او په اور والاو کې شامل شې او دا هم د ظالمانو جزا ده.
۳۰- بيا د هغه نفس هغه د خپل وروړ د وژلو لپاره راضي کړ او هغه يې وواژه. بيا هغه په تاوانيانو کې شامل شو. ۳۱- بيا الله يو کارغه را ولېږه چې ځمکه يې را کيندله، چې هغه ته وښيي چې د خپل وروړ مړی څنګه پټ کړي. هغه وويل زما په حال دې افسوس وي چې زه د دغه کارغه په شان هم نه شوم چې د خپل وروړ مړی مې پټ کړی وای. نو هغه ډېر زيات وشرمېده.
۳۲- په دې خاطر مو بني اسرائيلو ته حکم وکړ چې څوک داسې يو کس ووژني چې هغه قتل نه وي کړی او نه يې په ځمکه فساد کړی وي، نو دا داسې ده لکه ټول انسانان يې چې وژلي وي او چا چې يو کس وساته

نو داسي ده لکه ټول انسانان يې چې ساتلي وي. او زموږ پېغمبر هغوی ته ښکاره احکام راوړل. له دې سره بيا هم په هغوی کې ډېرو خلکو په ځمکه زياتي کول. ۳۳- ځوک چې الله او د هغه له رسول سره جنګېږي او په ځمکه د فساد کولو لپاره منډې وهي، د هغوی جزا دا ده چې ووژل شي يا په دار وځړول شي يا يې پښې او لاسونه په مخالف اړخ پرې شي يا له ملکه بهر وشړل شي. دا يې د دنيا رسوايي ده او په آخرت کې ورته لوی عذاب دی. ۳۴ مګر کوم خلک چې ستاسې تر ولکې وړاندې توبه وباسي، نو پوه شئ چې الله ښونکی او مهربان دی.
۳۵- ای د ايمان خاوندانو، له الله ووېرېږئ او د هغه قرب ولټوئ او د هغه په لاره کې جد و جهد وکړئ چې کاميابي ومومئ. ۳۶- بېشکه کومو خلکو چې ظلم کړی، که هغوی دومره مال ولري چې په (ټوله) ځمکه کې دی او دومره ورسره نور هم وي چې هغوی يې د دې لپاره فديه کړي چې د قيامت له عذابه خلاص شي، بيا به هم له دوی (فديه) ونه منل شي او د هغوی لپاره له درده ډک عذاب دی. ۳۷- هغوی به غواړي چې له اوره ووځي، خو وتلی به نه شي او د هغوی لپاره يو مستقل عذاب دی. ۳۸- او د غله سړي او غلې ښځې دواړو لاسونه پرې کړئ. دا د هغوی لپاره بدله او د الله له طرفه عبرتناکه جزا ده. او الله غالب او حکيم دی. ۳۹- بيا چې چا له خپل ظلم وروسته توبه وويستله او اصلاح شول، نو بېشکه الله به پرې پام وکړي. او الله ښونکی، مهربان دی. ۴۰- ايا تاسې نه پوهېږئ چې الله د ځمکې او آسمانونو د پاچاهۍ مالک دی. هغه چې چاته وغواړي جزا ورکوي او ځوک چې وغواړي هغه ښښي. او الله په هر څه قادر دی.
۴۱- ای پېغمبره، ته د هغو خلکو له وجې مه خفه کېږه چې د کفر په لاره ډېر تېز دي. که څه هغوی له هغې ډلې وي چې په خوله وايي موږ ايمان

راوړی، خو د هغوی زړه ایمان نه دی راوړی یا له هغوی چې یهودان دي، د دروغو لوی اورېدونکي او د نورو خلکو په خاطر اورېدونکي چې تاته نه دي راغلي. هغوی خبره له خپل ځایه لرې کوي. هغوی خلکو ته وایي چې که دا حکم درته وشو ویې منه او که دا درته وشو ځان ترې ساته. او الله چې څوک په فتنه کې اچوي، نو ته د الله په مقابل کې په دې مسئله کې هېڅ نه شې کولای. همدا هغه خلک دي چې الله یې زړونه پاکول نه دي غوښتي. هغوی لپاره په دنیا رسوایي او په آخرت کې لوی عذاب دی.

۴۲- هغوی د دروغو لوی اورېدونکي، د حرام لوی خوړونکي دي، که هغوی تاته درشي، ستا خوښه چې ترمنځ یې فیصله کوې او که یې پرېږدې. که یې ته پرېږدې، نو هغوی تاته هېڅ تاوان نه شي در رسولای. او که فیصله وکړې، نو د هغوی ترمنځ په عدل فیصله وکړه. ۴۳- الله عدل کونکي خوښوي. او هغوی په تا څنګه فیصله کولای شي، سره د دې چې هغوی سره تورات شته چې د الله حکم په کې دی او بیا له هغه مخ اړوي او دا خلک هېڅکله د ایمان خاوندان نه دي.

۴۴- بېشکه موږ تورات نازل کړی چې هدایت او رڼا په کې دي. د دې مطابق به د الله فرمانبرداره نبیانو د یهودانو فیصلې کولې او د هغوی دروېشانو او علماو هم. په دې خاطر چې هغوی د الله په کتاب څارونکي ټاکل شوي وو. او هغوی یې ګواهان وو. نو ته له انسانانو مه وېرېږه، له ما ووېرېږه او زما آیتونه په لږه بیه مه پلوره او کوم حکم چې الله نازل کړی، څوک چې ورسره موافقت ونه کړي، هغوی منکران دي. ۴۵- او موږ په دې کتاب (تورات) هغوی ته ویلي چې د ځان په بدل کې ځان، د سترګې په بدل کې سترګه، د پوزې په بدل کې پوزه، د غوږ په بدل کې غوږ او د غاښ په بدل کې غاښ او د زخمونو بدل له هغو (زخمونو)

سره برابر. بیا چې چا ببښنه وکړله، نو هغه د هغه لپاره کفاره ده. او څوک چې د هغه څه سره سمه فیصله ونه کړي چې الله نازل کړي، نو هغوی ظالمان دي. ۴۶- او موږ له هغه وروسته عیسی ابن مریم ولیږه، له ځانه مخکې د تورات کتاب تصدیق یې کاوه او موږ هغه ته انجیل ورکړ چې په هغه کې هدایت او رڼا ده او هغه تر ځان د مخکې کتاب تورات تصدیق کاوه او وېرېدونکو ته هدایت او نصیحت و.
۴۷- او د انجیل والا باید هغه څه سره سمه فیصله وکړي چې په کې نازل شوي دي. او څوک چې له هغه سره سمه فیصله ونه کړي چې الله نازل کړي، نو هماغه نافرمانه خلک دي.
۴۸- او موږ په تا دا کتاب حق سره نازل کړی، د پخوانیو کتابونو تصدیقونکی او د هغو د مضامینو ساتونکی دی. نو ته د هغوی ترمنځ د هغه څه سره سمه فیصله وکړه چې الله نازل کړي. او کوم حق چې تاته درغلی دا مه پرېږده او د هغوی د خواهشونو پیروي مه کوه. موږ په تاسې کې هر یو لپاره یو شریعت او یوه طریقه ټاکلې. او که الله غوښتی نو تاسې یې یو امت کولئ، خو الله وغوښتل چې تاسې په خپلو حکمونو وآزمایي. نو تاسې د ښېګڼو خوا ته لاړ شئ. آخر تاسې ټولو ته د الله طرف ته تلل دي. بیا به هغه تاسې په هغه څه پوه کړي چې اختلاف په کې کوئ.
۴۹- او د هغوی ترمنځ له هغه څه سره سمه فیصله وکړه چې الله نازل کړي او د هغوی د خواهشاتو پیروي مه کوه او له هغو خلکو ځان ساته چې تاد الله له کوم نازل شوي حکم نه ونه ښویوي. نو که هغوی مخ واړوي پوه شه چې الله هغوی ته د ځینو ګناهونو جزا ورکول غواړي. او بېشکه په خلکو کې ډېر خلک نافرمانه دي. ۵۰- ایا دا خلک د جاهلیت

فیصله غواړي. او څوک چې باور کول وغواړي د هغوی لپاره تر الله غوره فیصله د چا کېدای شي.
۵۱- ای د ایمان خاوندانو، یهود او نصارى مه ملګري کوئ. هغوی د یو بل ملګري دي. او که په تاسې کې څوک هغوی د ځان ملګري کوي، نو د هماغو له ډلې به وي. الله ظالمانو ته لار نه ښيي. ۵۲- ته ګورې چې د کومو خلکو په زړه کې مرض دی، هغوی د هماغو خوا ته ورځي. هغوی وايي موږ سره دا اندېښنه ده چې کوم مصيبت کې ونه نښلو. نو ممکنه ده چې الله فتح ورکړي یا له خپل اړخه کومه خاصه خبره واضح کړي نو دا خلک به په هغه څه پښېمانه وي چې په خپلو زړونو کې يې پټ کړي دي. ۵۳- او هغه وخت به د ایمان خاوندان وايي دا هماغه خلک دي چې په زور و شور يې په الله قسمونه کول او باور يې را کاوه چې موږ له تاسې سره یوو. د هغوی ټول اعمال ضایع شول او هغوی په تاوان کې پاتې شول.
۵۴- ای د ایمان خاوندانو، په تاسې کې چې څوک له خپل دين نه وګرځي، نو الله به زر هغه خلک را پورته کړي چې الله ته به ګران وي او الله به هغوی ته ګران وي. هغوی به مومنانو ته نرم او په منکرانو سخت وي. هغوی به د الله په لارو کې جهاد کوي او د هېڅ یو ملامتونکي له ملامتۍ به نه وېرېږي. دا د الله فضل دی. هغه چې چاته وغواړي ورکوي يې. او الله د پراختیا او علم خاونددی. ۵۵- ستاسې ملګري خو یوازې الله، د هغه رسول او هغه د ایمان خاوندان دي چې لمونځ قایموي، زکات ورکوي او د الله په وړاندې ټیټېدونکي وي. ۵۶- او څوک چې الله او د هغه رسول او د ایمان خاوندان ملګري کړي، نو بېشکه چې د الله ډله کامیابېدونکې ده.

۵۷- ای د ایمان خاوندانو، هغه خلک مه ملګري کوئ چې ستاسې دین
یې لوبې او ټوکې کړي، د هغو خلکو (له ډلې) چې له تاسې مخکې کتاب
ورکول شوی او منکران هم نه. او له الله وېرېږئ که ایمان لرئ. ۵۸- او
کله چې تاسې د لمانځه بلنه ورکوئ، نو هغوی په دې (کار) پورې خندا
کوي. وجه یې دا ده چې هغوی عقل نه لري. ۵۹- (ورته) ووایه چې ای
اهل کتابو، تاسې موږ سره یوازې په دې خاطر ضد کوئ چې موږ په
الله او هغه څه ایمان راوړی چې په موږ نازل شوي او هغه څه چې تر
موږ مخکې نازل شوي. او په تاسې کې زیاتره خلک نافرمانه دي. ۶۰-
(ورته) ووایه ایا زه تاسې ته هغه (څوک) وښییم چې انجام به یې تر دې
ډېر زیات خراب وي. هغو چې الله پرې لعنت کړی او د هغه غضب پرې
شوی. او هغو چې بیزوګانې او خنځیران ترې ساز شول او هغوی چې
د شیطان عبادت یې وکړ. داسې خلک د مقام په اعتبار بدتر او له سمې
لارې ډېر لرې دي.
۶۱- او کله چې هغوی تاسې ته راځي نو وایي چې موږ ایمان راوړی،
حال دا چې هغوی منکر راغلي وو او منکر لاړل. او الله په هغه څه ښه
پوهېږي چې هغوی یې پټوي. ۶۲- او ته به هغو کې زیاتره وګورې چې
د ګناه، ظلم او حرام خوړلو ته ځغلي. څومره بد کار دی چې هغوی یې
کوي. ۶۳- د هغوی مشایخ او علماء یې ولې د ګناه له خبرې کولو او
حرامو خوړلو نه منع کوي. څومره بد کار دی چې هغوی یې کوي.
۶۴- او یهود وایي چې د الله لاسونه تړل شوي دي. د هماغو لاسونه دې
وتړل شي او لعنت دې وي د هغوی په دې خبرې. بلکې د الله دواړه
لاسونه خلاص دي. هغه چې څنګه وغواړي انفاق کوي. او په تا چې ستا
د رب له طرفه څه نازل شوي هغه په دوی کې د زیاتره خلکو سرکشي
او انکار زیاتوي. او موږ په هغوی کې دښمني او کینه تر قیامته اچولې

ده. کله چې هغوی د دښمنۍ اور بلوي، نو الله يې مړ کوي. او هغوی په ځمکه فساد خپرولو کې مصروف دي. سره د دې چې الله فساد کونکي نه خوښوي.
۶۵- او که اهل کتابو ایمان راوړی وای او له الله وېرېدلي وای، نو موږ به ترې د هغوی بدۍ حتماً لرې کړې وای او هغوی به مو د نعمت باغونو ته دننه کړي وای. ۶۶- او که هغوی د تورات او انجیل او څه چې پرې د الله له طرفه نازل شوي د هغو پابندي کړې وای، نو هغوی به له پورته او د خپلو پښو له لاندې (نه) خوراک کولای. په هغوی کې ځینې خلک په سمه لار دي، خو زیاتره په کې داسې دي چې ډېر بد کوي.
۶۷- ای پیغمبره، په تا چې ستا د رب له طرفه څه نازل شوي هغه ورسوه. او که تا داسې ونه کړل، نو د الله پیغام دې نه دی رسولای. او الله به تا له خلکو وساتي. یقیناً الله منکرانو ته لار نه ښيي.
۶۸- ووایه ای اهل کتابو، تر څو چې تاسې تورات او انجیل او هغه چې ستاسې د رب له طرفه په تاسې نازل شوي قایم نه کړئ، هېڅ بنیاد نه لرئ. او څه چې په تا ستا د رب له طرفه نازل شوي، هغه به یقیناً په دوی کې سرکشي او انکار زیات کړي. نو ته په منکرانو افسوس مه کوه.
۶۹- بېشکه کومو خلکو چې ایمان راوړی او څوک چې یهودان او صابیان او نصرانیان شول، او څوک چې په الله او د آخرت په ورځ ایمان راوړي او نیک عمل وکړي، نو د هغوی لپاره هېڅ اندېښنه نشته او نه به خفه وي.
۷۰- موږ له بني اسرائیلو وعده واخیسته او هغوی ته مو رسولان ولېږل. هر وخت به چې رسول هغوی ته داسې خبره راوړله چې د هغوی په زړه به نه وه، نو هغوی ځیني (پیغمبران) دروغجن وبلل او ځیني يې ووژل. ۷۱- او داسې يې وګڼل چې څه تاوان به نه ور رسېږي. نو هغوی

ړانده او کاڼه شول. بيا الله هغوی ته پام وکړ. بيا په هغوی کې ډېر ړانده او کاڼه شول. او هغوی چې څه کوي الله يې ګوري.
۷۲- يقيناً هغو خلکو کفر کړی چې ويل يې الله همدا مسيح ابن مريم دی. سره د دې چې مسيح ويلي وو ای بني اسرائيلو، د الله عبادت وکړئ چې زما رب هم دی او ستاسې رب هم. څوک چې د الله سره شريک ګڼي، نو الله په هغوی جنت حرام کړ او د هغه ځای اور دی. او د ظالمانو هېڅ مرستندوی نشته. ۷۳- يقيناً هغو خلکو کفر وکړ چې وايي الله په دريو کې يو دی، سره د دې چې له يوه معبود بغير بل هېڅ معبود نشته. او که هغوی له خپلي خبرې منع نه شي، نو په هغوی کې په کفر ولاړ (خلک)به يو دردناک عذاب ونيسي. ۷۴- دا خلک د الله په وړاندې توبه ولې نه وباسي او له هغه ولې بښنه نه غواړي. او الله بښونکی او مهربان دی.
۷۵- مسيح ابن مريم خو يوازې يو رسول دی. له هغه مخکې هم ډېر رسولان تېر شوي دي. او د هغه مور ډېره رښتيني ښځه وه. دواړو خواړه خوړل. وګوره موږ هغوی ته څنګه دليلونه وړاندې کوو. بيا وګوره چې هغوی څنګه اوړي. ۷۶- ووايه، ايا تاسې الله پرېږدئ او د هغه څه عبادت کوئ چې نه ستاسې د تاوان واک لري او نه د ګټې. او اورېدونکی او پوهېدونکی يوازې الله دی.
۷۷- ووايه، ای اهل کتابو، په خپل دين کې ناحقه غُلو مه کوئ او د هغو خلکو د افکارو پيروي مه کوئ چې تر دې مخکې ګمراه شوي او ډېر خلک يې ګمراه کړي او هغوی له سمې لارې اوښتي دي.
۷۸- په بني اسرائيلو کې چې کومو خلکو کفر وکړ، په هغوی د داؤد او عيسی ابن مريم په خوله لعنت وشو. په دې خاطر چې هغوی نافرماني وکړله او له حده وتل.

۷۹- هغوی یو بل له بدی، نه منع کوي. ډېر بد کار و چې هغوی کاوه.
۸۰- ته به په هغوی کې ډېر خلک وګورې چې له کفرکونکو سره ملګري کوي. څومره بد شی دی هغه چې هغوی له ځانه مخکې لېږلی او د الله غضب دې په هغوی وي او هغوی به تل په عذاب کې پراته وي. ۸۱- که هغوی په الله او د هغه په رسول او هغه څه ایمان درلودی چې هغوی ته نازل شوي، نو منکران به یې نه ملګري کولای، مګر په هغوی کې زیاتره نافرمانه دي.
۸۲- د ایمان خاوندانو سره په عداوت کې به یهود او مشرکان تر ټولو مخکې وګورې. او د ایمان خاوندانو سره ملګرتیا کې به تر ټولو ډېر هغه خلک وګورې چې ځان نصاری بولي. دا په دې خاطر چې هغوی کې عالمان او راهبان دي. او په دې خاطر چې هغوی کبر نه کوي. * ۸۳- او هغوی چې کله هغه کلام اوري چې په رسول نازل شوی، نو ته به وګورې چې له سترګو به یې اوښکې بهېږي، په دې خاطر چې هغوی حق پېژندلی دی. هغوی غږ کوي چې ای زموږ ربه موږ ایمان راوړی، نو ته موږ په ګواهي ورکونکو کې ولیکه. ۸۴- او ولې په رب او هغه حق ایمان را نه وړو چې موږ ته را رسېدلی دی، که چېرې دا تمه لرو چې زموږ رب دې موږ په صالح خلکو کې شامل کړي. ۸۵- نو الله به هغوی ته د دې قول په بدل کې داسې باغ ورکړي چې ور لاندې به نهرونه بهېږي او هغوی به په کې تل اوسېږي. او همدا د نېک عملو خلکو بدله ده. ۸۶- او چا چې انکار وکړ او زموږ نښې یې دروغ وبللې، هغوی دوزخیان دي.
۸۷- ای د ایمان خاوندانو، هغه پاک شیان حرام مه بولئ چې الله تاسې ته حلال کړي او له حده مه وځئ. الله له حده وتونکي نه خوښوي. ۸۸- او الله چې تاسې ته کوم حلال شیان درکړي، له هغوی وخورئ او له الله

ووېرېږئ چې تاسې پرې ایمان راوړی دی. ۸۹- الله تاسې په بې معنی قسمونو نه نیسي، خو کوم قسمونه چې تاسې قوي خوړلي، په هغه به مو حتماً نیسي. د هغه قسم کفاره لسو مسکینانو ته د منځنۍ سطحې ډوډۍ ورکول دي چې تاسې یې د خپلې کورنۍ غړو ته ورکوئ یا جامې ورکول یا یو غلام آزادول. اوڅوک که دا نه لري د هغه لپاره درې روژې دي. که تاسې قسم وکړئ دا ستاسې د قسم کفاره ده. او د خپلو قسمونو ساتنه وکړئ. په دې توګه الله تاسې ته خپل احکام بیانوي چې تاسې شکر وباسئ.
۹۰- ای د ایمان خاوندانو، شراب او جواري او بُتان او د پچې غشي ویشتل ټول بد کارونه او د شیطان عملونه دي، نو له دې ځان وساتئ چې کامیابي ومومئ. ۹۱- شیطان همدا غواړي چې د شرابو او جوارۍ په وسیله ستاسې ترمنځه دښمني او کینه واچوي او تاسې د الله له یادولو او لمانځه منع کړي، نو ایا تاسې به ترې منع شئ. ۹۲- او د الله او د الله د رسول اطاعت وکړئ او خوندي شئ. که تاسې سرکشي وکړئ نو پوه شئ چې زموږ د رسول مسوولیت یوازې (د پیغام) ښکاره رسول وو.
۹۳- چا چې ایمان راوړ او نېک کارونه یې وکړل، په هغوی د هغه څه له وجې هېڅ ګناه نشته چې خوړلي یې دي، که چېرې هغوی ووېرېږي او ایمان راوړي او نېک کارونه وکړي. بیا پرهېزګاره شي او ایمان راوړي، بیا پرهېزګاره شي او نېک کارونه وکړي. او الله نېک عمله خوښوي.
۹۴- ای د ایمان خاوندانو، الله به تاسې د هغه ښکار په وسیله وازمایي چې ستاسې لاسونو او نېزو ته به نږدې وي، دا په دې خاطر چې الله پوه شي څوک ترې بې له لیدلو وېرېږي. بیا چې چا له هغې وروسته زیاتی وکړ، نو هغه لپاره له درده ډک عذاب دی. ۹۵- ای د ایمان خاوندانو،

کله چې تاسې د احرام په حالت کې يئ ښکار مه کوئ. او په تاسې کې که څوک قصداً ښکار وکړي، نو په بدل کې به يې هماغسې ځناور وي چې هغه وژلی دی، فيصله به يې په تاسې کې دوه عادل کسان کوي او هغه نذرانه به کعبې ته رسول کيږي. يا به د هغه په کفاره کې څو مسکينانو ته ډوډۍ ورکوي. يا به د هغه برابر روژې نيسي چې د خپل عمل جزا ووينی. الله ښنلي څه چې شوي. او څوک چې مخ واوړي نو الله به ترې بدل واخلي او الله قوي، بدل اخيستونکی دی.
۹۶- تاسې لپاره په سيند کې ښکار او د هغه خوراک جايز شوی، ستاسې او د قافلو د ګټې لپاره. او تر څو چې تاسې په احرام کې يئ د وچې ښکار په تاسې حرام دی. او له الله ووېرېږئ چې هغه ته به تاسې حاضرېږئ.
۹۷- الله کعبه، د حرمت کور د خلکو د قيام سبب کړ. او د حرمت مياشتې او د قربانۍ څاروي او پټۍ په غاړه څاروي هم. دا په دې خاطر چې تاسې پوه شئ چې الله ته هغه ټول شيان معلوم دي چې په آسمانونو او ځمکه کې دي او الله په هر څه خبر دی. ۹۸- پوه شئ چې د الله عذاب سخت دی او بېشکه الله ښنونکی او مهربان دی. ۹۹- په رسول يوازې د رسولو مسووليت دی. الله پوهيږي په هغه څه چې تاسې يې ښکاره کوئ او په هغه څه چې تاسې يې پټوئ. ۱۰۰- ووايه چې ناپاک او پاک سره برابرېدی نه شي، که څه هم د ناپاکو ډېروالی تاسې ته ښه ښکاره شي. نو له الله ووېرېږئ د عقل خاوندانو چې کاميابي ومومئ.
۱۰۱- ای د ايمان خاوندانو، د داسې خبرو په هکله پوښتنې مه کوئ چې که تاسې ته ښکاره شي نو تکليف درکوي. او که تاسې د هغو په هکله په داسې وخت کې پوښتنې وکړئ چې قرآن کريم نازليږي، نو تاسې ته به واضح شي. الله هغه پرېښي دي او الله ښنونکی او د زغم خاوند دی.

۱۰۲- همداسې پوښتنې تر تاسې مخکې يوې ډلې کولې. بيا هغوی منکران پاتې شول. ۱۰۳ الله بحيره او سائبه او وصيله او حام (د بوتانو په نوم څناور) نه دي مقرر کړي. مګر کوم خلک چې کفر کوي هغوی په الله دروغ تپي او په هغوی کې زياتره له عقله کار نه اخلي. ۱۰۴- او کله چې هغوی ته وويل شي چې الله څه نازل کړي، د هغه خوا ته راشئ او د رسول خوا ته راشئ هغوی وايي زموږ لپاره هماغه کافي دي چې موږ پرې خپل مشران ليدلي دي. څه به وشي که د هغوی مشران نه په څه پوه وي او نه ورته هدايت شوی وي. ۱۰۵- ای د ايمان خاوندانو، تاسې خپل فکر ولرئ، که تاسې په سمه لار يئ نو څوک چې ګمراه وي هغه تاسې ته تاوان نه شي در رسولای، تاسې ټول به الله ته ستنيږئ بيا به هغه درته هغه څه ووايي چې تاسې کول.
۱۰۶- ای د ايمان خاوندانو، کله چې تاسې ته مرګ راځي ستاسې ترمنځ د وصيت ګواهي داسې ده چې دوه معتبر کسان په تاسې کې ګواهان وي. يا که تاسې په سفر يئ او هلته د مرګ مصيبت پيښ شي، نو تاسې په پرديو کې دوه ګواهان ونيسئ. بيا که تاسې ته شک پيدا شو، نو دواړه ګواهان تر لمانځه وروسته ودروئ او هغوی دې په الله قسم وکړي چې په هيڅ قيمت به دا نه خرڅوي، که څه هم خپلوان يې وي. او نه به موږ د الله ګواهي پټوو. که داسې مو وکړل، نو بېشکه موږ به ګنهکار شوو. ۱۰۷- بيا که معلومات وشي چې په هغو دواړو کې کوم يوه حق تلفي کړې ده، نو د هغوی په ځای دوه نور کسان له هغو خلکو ودريږي چې پخوانيو دوه ګواهانو يې د حق خوړلو کوشش کړی و. هغوی دې په الله قسم وکړي چې زموږ دواړو ګواهي تر هغو دواړو ډېره په حقه ده او موږ هيڅ زياتی نه دی کړی. که موږ داسې وکړو، نو موږ به د ظالمانو له ډلې يوو. ۱۰۸- دا د خلکو د سمې ګواهۍ تر ټولو لنډه طريقه ده، يا له

دې ووېرېږي چې زموږ قسمونه به د هغوی له قسمونو وروسته را ګرځي. او له الله ووېرېږئ او واورئ، الله نافرمانه (خلک) په سمه لار نه بوځي.
۱۰۹- په کومه ورځ چې الله پېغمبران راټول کړي، پوښتنه به ترې کوي چې تاسې څه ځواب ترلاسه کړی و. هغوی به وايي چې موږ ته هېڅ علم نشته، په پټو خبرو پوهېدونکی ته يې. ۱۱۰- کله چې الله ووايي ای عيسی ابن مريمه، زما هغه نعمت را ياد کړئ چې ما په تا او ستا په مور نازل کړ کله مې چې د روح‌القدس په وسيله ستا مرسته وکړله. تا هم په غېږه کې او هم لويوالي کې له خلکو سره خبرې کولې. او کله چې ما تاته کتاب او حکمت او د تورات او انجيل تعليم درکړ. او کله به چې تا زما په حکم له خاورو د مرغۍ شکل جوړوه، بيا به دې هغې ته پوکی ورکاوه او هغه به زما په حکم مرغۍ کېدله. او تا به ړانده او جزاميان زما په حکم رغول. او کله چې به تا زما په حکم مړي را ژوندي کول. او کله چې موږ بني اسرائيل له تا منع کړل، کله چې هغوی ته ښکاره نښې راغلې، نو هغو منکرانو وويل چې دا خو ښکاره جادو دی.
۱۱۱- او کله چې ما د حوارينو په زړه کې واچول چې په ما ايمان راوړئ او زما په رسول ايمان راوړئ، نو هغوی وويل چې موږ ايمان راوړ او ته ګواه اوسه چې موږ فرمانبرداره يوو. ۱۱۲- کله چې حواريونو وويل ای عيسی ابن مريمه، ايا ستا رب دا کولای شي چې موږ ته له آسمانه يو دسترخوان نازل کړي. عيسی وويل له الله ووېرېږئ که ايمان لرئ.
۱۱۳- هغوی وويل موږ غواړو چې موږ له هغه (دسترخوان) وخورو او زموږ زړه ډاډه وي او موږ په دې پوه شوو چې تا موږ ته رښتيا وويل او موږ په هغې ګواهان شوو. ۱۱۴- عيسی ابن مريم دعا وکړله چې ای الله، زموږ ربه، ته له آسمانه موږ ته يو دسترخوان نازل کړه چې زموږ

لپاره يو اختر شي، زموږ د راتلونکو او زموږ د تېرو لپاره، او ستا له اړخه يوه نښه وي. او موږ ته يې عطا کړه، ته بهترين عطا کونکی يې.
۱۱۵- الله وويل زه به په تاسې دا دسترخوان حتماً نازل کړم، بيا چې له هغې وروسته په تاسې کې څوک منکر شي، هغو ته به داسې جزا ورکړم چې په دنيا کې به چا ته نه وي ورکول شوې.
۱۱۶- او بيا چې الله پوښتنه وکړي چې ای عيسی ابن مريمه، ايا تا خلکو ته ويلي وو چې ما او زما مور له الله بغير معبود وبولئ. هغه به ځواب ورکړي چې ته پاک يې، زما کار دا نه و چې هغه خبره وکړم چې حق مې نه دی. که ما دا ويلي وي، نو تاته به حتماً معلوم وي. ته په هغه پوهېږې چې زما په زړه کې دي او زه نه پوهېږم په هغه څه چې ستا په زړه کې دی، بېشکه ته په پټو خبرو پوهېدونکی يې. ۱۱۷- ما دوی ته هغه خبره کړې چې تا يې راته حکم کړی و. دا (خبره) چې د الله عبادت وکړئ چې زما او ستاسې رب دی. او زه چې تر څو له هغوی سره اوسېدم په هغوی ګواه وم. بيا چې تا ماته وفات راکړ، نو په هغوی ته څارونکی وې او ته په هر څه ګواه يې. ۱۱۸- که ته هغوی ته جزا ورکوې نو ستا بندهګان دي او که يې ته وبښې، نو همدا ته قوي او د حکمت خاوند يې. ۱۱۹- الله به ووايي نن هغه ورځ ده چې د رښتينو به خپل رښتيا په کار شي. د هغوی لپاره باغونه دي چې ور لاندې نهرونه بهيږي. هلته به دوی تل اوسيږي. الله له هغوی راضي شو او هغوی له الله راضي شول. همدا لويه کاميابي ده. ۱۲۰- د آسمانونو او ځمکې او څه چې په دې کې دي، د ټولو پاچاهي د الله ده او هغه په هر څه قادر دی.

**سوره الانعام ۶**

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- تعریف الله لره دی چې آسمانونه او ځمکه یې پیدا کړل او تیاره او رڼا یې جوړ کړل. بیا هم منکران نور له خپل رب سره شریک ګڼي. ۲- هماغه تاسې له خاورې پیدا کړئ، بیا یې یوه موده وټاکل او ټاکل شوې موده د هغه په علم کې ده. بیا هم تاسې شک کوئ. ۳- او هماغه الله په آسمانونو کې دی او هماغه په ځمکه هم دی. هغه ستاسې په پټو او ښکاره پوهېږي او په هغو پوهېږي چې تاسې یې کوئ.
۴- د هغوی د رب په نښو کې چې هغوی ته هره نښه راځي، هغوی ترې مخ اړوي. ۵- په همدې توګه چې دوی ته کوم حق راغی هغه یې هم دروغ وباله. نو ډېر زر به دوی ته هغه د څه خبر راشي چې دوی ور پورې خندا کوله. ۶- ایا هغوی نه دي لیدلي چې موږ تر هغو مخکې څومره قومونه هلاک کړي دي. موږ هغوی په ځمکه داسې مېشت کړي وو چې تاسې مو هومره نه یې مېشت کړي او موږ په هغوی له آسمانه ښه باران وکړ او موږ نهرونه وبهول چې د هغه (آسمان) لاندې بهېدل، بیا موږ هغوی د خپلو ګناهونو له وجې هلاک کړل. او له هغه وروسته مو نور قومونه را پورته کړل.
۷- او که موږ په تا داسې کتاب نازل کړی وای چې په کاغذ لیکلی وای او هغوی په خپلو لاسونو لمس کړی هم وای، بیا به هم منکرانو ویلای چې دا خو ښکاره جادو دی. ۸- او هغوی وایي چې ملایکه ورته ولې نه را ښکته کېږي. او که موږ ملایکه ور ښکته کړې وای، نو د هغوی معامله فیصله کېدله، بیا ورته هېڅ مهلت نه ورکول کېده. ۹- او که موږ کومه ملایکه د رسول په توګه لېږلای، نو هغه به مو هم انسان کولای او هغوی به مو په هغه شک کې اچولای چې اوس په کې پراته دي. ۱۰-

او له تا مخکې هم په رسولانو پسې خندا شوې ده، او په هغوی کې چې چا خندا کړې ده هغوی هماغه شي ونیول چې ور پورې خندا یې کوله.
۱۱- ووایه، په ځمکه وګرځئ او وګورئ چې د دروغ بلونکو څه انجام شوی دی.
۱۲- پوښتنه وکړه دا هر څه چې په آسمانونو او ځمکه دي ټول د چا دي. ووایه ټول د الله دي. هغه په ځان رحمت فرض کړی. هغه به حتماً تاسې د قیامت په ورځ ټولوي، په دې کې هېڅ شک نشته. کومو خلکو چې ځان په تاوان کې اچولای، هماغو دي چې په ده ایمان نه راوړي. ۱۳- او څه چې په شپه او ورځ کې موجود دي ټول د الله دي. او هغه د هر څه اورېدونکی او په هر څه پوهېدونکی دی. ۱۴- ووایه، ایا زه له هغه الله بغیر بل څوک د ځان مرستندوی کړم چې هغه د آسمانونو او ځمکې خالق دی. او هغه ټولو ته رزق ورکوي او هغه ته یې هېڅوک نه ورکوي. او (ووایه) ماته حکم شوی دی چې زه تر ټولو مخکې اسلام راوړنکی شم. او هېڅکله د مشرکانو په ډله کې نه شې. ۱۵- ووایه، که زه د خپل رب نافرماني وکړم، نو زه د یوې لویې ورځې له عذابه وېرېږم. ۱۶- له چا چې د هغې ورځې عذاب لرې کړی شوی، په هغه الله لوی رحم کړی او همدا ښکاره کامیابي ده.
۱۷- او که الله تاته خفګان درکوي، نو له هغه بغیر یې بل لرې کونکی نشته. او که الله تاته خیر در رسوي، نو هغه په هر څه قادر دی. ۱۸- او په خپلو بندګانو د هغه زور دی او هغه د حکمت خاوند دی او له ټولو خبر دی. ۱۹- بیا پوښتنه وکړه چې تر ټولو لوی ګواه څوک دی. ووایه، الله. هغه زموږ او ستاسې ترمنځ ګواه دی او په ما یې دا قرآن نازل کړی چې زه تاسې او هغوی له هغه خبردار کړم چې دا ورته رسېږي. ایا تاسې دا ګواهي ورکوئ چې له الله سره بل معبود هم شته. ووایه زه په

دي کې هېڅ ګواهي نه ورکوم. ووایه، هغه یوازینی معبود دی او زه ستاسې له شرک نه بَري يم.
۲۰- موږ چې چاته کتاب ورکړی، هغوی دا داسې پېژني لکه خپل بچي چې پېژني. کومو خلکو چې ځان په تاوان کې اچولی هغوی دا نه مني.
۲۱- او تر هغه چا به بل ظالم څوک وي چې په الله تور پورې کړي یا د هغه نښې دروغ وبولي. یقیناً ظالمان کامیابي نه مومي. ۲۲- او په کومه ورځ چې موږ هغوی ټول راټول کړو، بیا به هغو مشرکینو ته ووایو چې اوس ستاسې هغه شریک چېرته دی چې تاسې یې دعوه کوله. ۲۳- بیا به له هغوی سره بل فریب نه وي، مګر دا چې وایي په الله خپل رب قسم چې موږ مشرکین نه وو. ۲۴- وګوره هغوی څنګه د خپلو ځانونو په هکله دروغ وایي او مخکې یې چې کوم دروغ ویلي هغه ترې هېر شوي.
۲۵- او په هغوی کې ځینې خلک داسې هم دي چې تاته غوږ نیسي او موږ د هغوی په زړونو پردې اچولي چې پوه پرې نه شي. او د هغوی په غوږونو کې کوڼوالی دی. او که هغوی ټولې نښې وګوري بیا به هم پرې ایمان نه راوړي. تر دې چې کله هغوی ستا خوا ته تا سره د جګړې کولو لپاره درځي، نو هغه منکران به وایي چې دا خو یوازې د تېرو خلکو کیسې دي. ۲۶- هغوی خلک منع کوي او پخپله هم جدا اوسېږي. هغوی پخپله ځان هلاکوي، خو پوهېږي نه. ۲۷- او که یې ته هغه وخت وګورې چې هغوی په اور ودرول شي او وبه وایي چې کاشکې موږ بېرته ولېږل شوو، چې د خپل رب نښې دروغ ونه ګڼو او د ایمان په خاوندانو کې راشوو. ۲۸- اوس هغوی ته هغه څه ښکاره شوي چې مخکې یې پټول. که هغوی بېرته ولېږل شي بیا به هماغه کوي چې ترې منع شوي وو. او بېشکه هغوی دروغجن دي.

۲۹- او هغوی وايي چې ژوند خو بس همدا زموږ د دنيا ژوند دی. او موږ بيا نه را پورته کيږو. ۳۰- او که ته هغوی هغه وخت وګورې چې هغوی د خپل رب مخې ته ودرول شي. او پوښتنه ترې وشي: ايا دا حقيقت نه دی، هغوی به ځواب ورکړي، دی، زموږ په رب قسم دا حقيقت دی. الله به وفرمايي، ښه نو تاسې چې کوم انکار کاوه اوس يې په بدل کې عذاب وګورئ. ۳۱- يقيناً هغه خلک په تاوان کې دي چې الله سره مخ کېدل يې دروغ بللي. تر دې چې بيا به هغه شېبه په هغوی ناڅاپه راشي او هغوی به وايي های افسوس، په دې برخه کې موږ څومره کوتاهي وکړله او هغوی به خپل پېټي په خپلو ملاګانو پورته کړي وي. وګوره څومره بد پېټی دی چې هغوی يې پورته کوي. ۳۲- او د دنيا ژوند خو لوبه او ننداره ده او د آخرت کور بهتر دی د هغو خلکو لپاره چې تقوی کوي، ايا تاسې نه پوهيږئ.
۳۳- موږ پوهيږو چې ته د هغوی په خبرو خفه کيږې. دا خلک تا دروغجن نه بولي بلکې دا ظالمان په اصل کې د الله له نښو انکار کوي.
۳۴- او له تا مخکې هم رسولان دروغجن بلل شوي دي، نو هغوی په دروغجن بلل کېدو او تکليف رسېدو صبر کړی تر دې چې زموږ مرسته ور رسېدلې. او د الله د خبرو څوک بدلونکی نشته. او د پيغمبرانو ځينې حالونه خو تاته در رسېدلي دي. ۳۵- او که د هغوی بې رخي په تا سخته تېريږي، نو که په تا کې زور وي په ځمکه کې سورنګ ولټوه يا آسمان ته پوړۍ کېږده او د هغوی لپاره نښه راوړه. او که الله غوښتي وای، نو هغوی به يې په هدايت راټول کړي وای. نو ته په ناپوهانو کې مه راځه.
۳۶- قبلوي يې هغوی چې اورېدونکي وي او مړي به الله را پورته کوي او هغوی به بيا ورته ستنيږي.

۳۷- او هغوی وايي چې په رسول د الله له طرفه کومه نښه ولې نه نازلیږي. ووایه، الله بېشکه کولای شي چې کومه نښه نازله کړي، خو زیاتره خلک نه پوهیږي. ۳۸- او څومره ځناور چې په ځمکه ګرځیږي او څومره مرغان چې په خپلو وزرو الوځي هغه ټول ستاسې په شان انواع دي. موږ په لیکلو کې کوم څه نه دي پرېښي. بیا به ټول خپل رب ته راټولیږي. ۳۹- او چا چې زموږ نښې دروغ ګڼلي، هغوی کاڼه او ړانده دي، په تیارو کې پراته دي. الله چې څوک وغواړي له لارې يې لرې کوي او څوک چې وغواړي په سمه لاره يې برابروي.

۴۰- ووایه، دا ووایئ چې که په تاسې د الله عذاب راشي یا قیامت راشي نو ایا تاسې به له الله بغیر بل چا ته غږ کوئ. ووایئ که رښتیني یئ. ۴۱- بلکې تاسې به هماغه ته غږ کوئ. بیا هغه له تاسې هغه مصیبت لرې کوي د کوم لپاره چې ورته تاسې غږ کړی، که يې وغواړي. او تاسې به هېر کړئ هغو چې شریک يې بولئ.

۴۲- او له تا مخکې موږ ډېرو قومونو ته رسولان لیږلي. بیا مو هغوی په سختۍ ونیول او تکلیف مو ورکړ چې زارۍ وکړي. ۴۳- نو په هغوی چې زموږ له اړخه سختي راغله ولې يې زارۍ ونه کړې، بلکې د هغوی زړونه سخت شول. او شیطان د هغوی عمل هغوی ته ښاېسته ښکاره کوي. ۴۴- بیا چې هغوی هغه نصیحت هېر کړ چې ورته شوی و، نو موږ په هغوی د هر څه دروازې پرانیستې دې. تر هغې چې هغوی په خپل ورکړل شوي شي خوشحاله شول او بیا موږ ناڅاپه ونیول. هغه وخت بیا نامیده پاتې شول. ۴۵- نو د هغو خلکو ریښې پرې شوې چې ظلم يې کړی و او ټول تعریفونه د الله دي او هغه د جهانونو رب دی.

۴۶- ووایه، که الله ستاسې د اورېدو حس او ستاسې نظر درنه واخلي او ستاسې په زړونو مُهر ووهي، نو له الله بغیر بل معبود څوک دی چې

هغه درته ببرته درکړي. وګوره موږ څنګه ډول ډول نښې بیانوو، بیا هم هغوی مخ اړوي. ۴۷- ووایه، که د الله عذاب په تاسې ناڅاپه یا ښکاره راشي، نو له ظالمانو بغیر به نور څوک هلاک شي. ۴۸- او رسولان موږ د زېري ورکونکو یا وېرونکو په توګه لېږو. څوک چې ایمان راوړي او ځان اصلاح کړي، د هغوی نه څه اندېښنه شته او نه به خفه وي. ۴۹- او چا چې زموږ نښې دروغ وبللې، هغوی به عذاب ونیسي، په دې خاطر چې نافرماني کوي. ۵۰- ووایه، زه تاسې ته دا نه وایم چې ماسره د الله خزانې دي او نه زه په غیبو پوهېږم او نه درته وایم چې زه ملایکه یم. زه یوازې د هغې وحې پیروي کوم چې ماته راځي. ووایه، ایاړانده او بینا سره برابر دي، ایا تاسې فکر نه کوئ.
۵۱- او ته د وحې په وسیله هغه خلک ووېروه چې دا اندېښنه ورسره وي چې خپل رب ته به ور ټولېږي، په داسې حال کې چې له الله بغیر به یې بل ملاتړی نه وي، نه به یې شفاعت کونکی، کېدای شي له الله ووېرېږي. ۵۲- او ته هغه خلک له ځانه مه لرې کوه چې سهار او ماښام خپل رب یادوي او د هغه رضا غواړي. د هغوی په حساب کې د هېڅ شي بوج په تا نشته او ستا په حساب کې په هغوی بوج نشته چې ته هغوی له ځانه لرې کړې او په ظالمانو کې (به) را (نه) شې. ۵۳- او داسې موږ هغوی په یو بل ازمایلي دي چې هغوی ووایي ایا په موږ کې دوی هغه خلک دي چې د الله فضل پرې شوی دی. ایا الله په شکرګزارو ښه خبر نه دی.
۵۴- او بیا چې تاته هغه خلک درشي چې زموږ په آیتونو یې ایمان راوړی، نو هغوی ته ووایه چې په تاسې دې سلامتي وي. ستاسې رب په ځان رحمت لازم کړی دی. بېشکه تاسې کې چې څوک په ناپوهۍ بد کار وکړي او وروسته بیا توبه وباسي او ځان اصلاح کړي، نو الله

ښښونکی او مهربان دی. ۵۵- او په دې توګه موږ خپلې نښې په ښکاره بیانوو چې د مجرمانو طریقه واضح شي.
۵۶- ووایه، تاسې چې له الله بغیر څوک را بولئ، زه یې د هغوی د عبادت کولو نه منع کړی یم. ووایه زه ستاسې د خواهشونو پیروي نه شم کولای که زه داسې وکړم نو زه به بې لارې شم او په لار موندونکو کې به پاتې نه شم. ۵۷- ووایه زه د خپل رب له طرفه په روښانه دلیل (سره راغلی) یم او تاسې هغه دروغ بللی دی. هغه څه ماسره نشته چې تاسې ورته تادي کوئ. د فیصلې واک یوازې د الله دی. هماغه حق بیانوي او هغه بهترین فیصله کونکی دی. ۵۸- ووایه، که ماسره هغه څه وای چې ستاسې ورته تادي ده، نو زما او ستاسې ترمنځ به فیصله شوې وه، او الله ظالمان ښه پېژني. ۵۹- او هماغه سره د غیبو کونجیانې دي، له هغه بغیر بل څوک نه پوهیږي. الله پوهیږي په هغه څه چې په وچه کې دي او هغه څه چې په سمندر کې دي. او له ونې داسې را غورځېدونکې پاڼه نشته چې هغه پرې خبر نه وي او د ځمکې په تیارو کې داسې دانه نه غورځیږي او نه کوم وچ او لوند شی، مګر ټول د الله په پرانیستي کتاب کې ثبت دي.
۶۰- او هماغه دی چې د شپې تاسې ته وفات درکوي او د ورځې چې تاسې څه کوئ هغه پرې پوهیږي. بیا تاسې د ورځې پاڅوي چې ټاکل شوې موده پوره شي. بیا د هماغه خوا ته ستاسې ور ستنېدل دي. بیا به هغه تاسې له هغه څه باخبره کړي چې تاسې یې کوئ. ۶۱- او هغه په خپلو بندهګانو غالب دی او په تاسې څارونکي رالیږي تر دې چې کله په تاسې کې د چا د مړینې وخت راشي، نو زموږ لیږل شوې ملایکې د هغه روح اخلي او هغوی کوتاهي نه کوي. ۶۲- بیا به هر څه د الله، خپل

حقیقي مالک خوا ته ورځي. واورئ دا د هغه حکم دی او هغه ډېر زر حساب کونکی دی.
۶۳- ووایه، څوک تاسې د وچې او سمندر له تیارو ساتي، تاسې هغه پټ او په عاجزی یادوئ (او وایئ) که الله موږ له دې مصیبته وساتلو نو موږ به د هغه په شکرګزاره بندګانو کې راشوو. ۶۴- ووایه، الله تاسې ساتي له هغه او له هر تکلیفه، بیا هم تاسې شرک کوئ. ۶۵- ووایه، الله په دې قادر دی چې په تاسې له پاسه کوم عذاب نازل کړي یا ستاسې د پښو له اړخه، یا تاسې ډلې ډلې کړي چې په یو بل د خپل زور خوند وګورئ. وګوره موږ څنګه له مختلفواړخونو دلایل بیانوو چې هغوی پوه شي.
۶۶- او ستا قوم هغه دروغ بللی، سره د دې چې هغه حق دی. ووایه، زه ستاسې ساتونکی نه یم. ۶۷ د هرې خبرې لپاره یو وخت مقرر شوی او تاسې به زر پوه شئ.
۶۸- او کله چې هغه خلک وګورې چې زموږ په آیتونو کې عیب لټوي، نو له هغوی جدا شه، تر هغې چې هغوی په بله خبره کې مصروف شي. او چې کله یې شیطان له تا هېر کړي، نو له در یادېدو وروسته هغو بې عدلو خلکو سره مه کښېنه. ۶۹- او څوک چې له الله وېرېږي په هغوی د دوی (بې عدلو) په حساب کې هېڅ مسوولیت نشته، البته ور یاد یې کړه کېدای شي هغوی هم ووېرېږي. ۷۰- هغه خلک پرېږده چې له خپل دین نه یې لوبې ټوکې جوړې کړي او څوک چې د دنیا ژوند په تېروتنه کې اچولي دي. او د قرآن په وسیله نصیحت کوه چې کوم کس په خپلو اعمالو کې ګرفتار نه شي، په داسې حال کې چې هغه له الله د بچ کېدو لپاره کوم شفاعت کونکی او مرستندوی ونه لري. که هغوی د ټولې دنیا معاوضه ورکړي بیا به هم قبوله نه شي. همدا هغه خلک دي چې په خپلو اعمالو

کې ګرفتار شول. هغوی ته به د ښنلو جوش اوبه او له درد ډک عذاب وي، په دې خاطر چې هغوی کفر کاوه.
۷۱- ووایه، ایا موږ الله پرېږدو او هغوی را وبولو چې موږ ته نه ګټه رسولای شي او نه تاوان. او ایا موږ بېرته ستانه شوو. له هغې وروسته چې الله راته سمه لار را ښودلې. د هغه کس په شان چې شیطانانو په بیابان کې له لارې خطا کړی وي او حیران ګرځېږي، د هغه ملګري یې سمې لارې ته را بولي چې زموږ خوا ته راشه. ووایه چې لارښوونه خو یوازې د الله لارښوونه ده او موږ ته حکم شوی چې ځان د ټول عالم رب ته وسپارو. ۷۲- او دا چې لمونځ قایم کړئ او له الله ووېرېږئ او هماغه خوا ته به تاسې ټول ور ټولېږئ. ۷۳- او هماغه دی چې آسمانونه او ځمکه یې په حق سره پیدا کړي او په کومه ورځ چې هغه ووایي چې وشه، وبه شي. د هغه خبره حق ده او په هغه ورځ به د هغه حکومت وي چې کومه ورځ شپېلۍ پوو کېږي. هغه د غایب او حاضر عالم او حکیم او خبیر دی.
۷۴- او کله چې ابراهیم خپل پلار آزر ته وویل چې ایا ته بُتان معبود ګڼې. زه تا او ستا قوم په ښکاره ګمراهۍ کې ګورم. ۷۵- او په دې توګه موږ ابراهیم ته د آسمانونو او ځمکې حکومت وښود چې د هغه باور راشي. ۷۶- بیا چې شپې په هغه تیاره راوړله، هغه یو ستوری ولیده. ویې ویل دا زما رب دی. بیا چې هغه ډوب شو، نو هغه وویل چې زه ډوبېدونکي نه خوښوم.
۷۷- بیا یې چې سپوږمۍ په ځلېدو ولیدله نو ویې ویل چې دا زما رب دی، بیا چې هغه (سپوږمۍ) ډوبه شوه، نو هغه وویل چې که زما رب ماته هدایت ونه کړي، زه به په ګمراهانو کې راشم. ۷۸- بیا یې لمر په ځلېدو ولیده نو ویې وویل چې دا زما رب دی، دا له ټولو لوی دی، بیا

چې هغه ډوب شو، نو هغه (ابراهیم) خپل قوم ته وویل چې ای خلکو، زه له هغه شرک نه بېزاره یم چې تاسې یې کوئ. ۷۹- ما خپل مخ یو اړخ ته د هغه لور ته کړی چې آسمانونه او ځمکه یې پیدا کړي او زه په شرک کونکو کې نه یم.
۸۰- او د هغه قوم ورسره په جنګ شو. هغه وویل تاسې ماسره د الله په مسئله کې جنګ کوئ، حال دا چې هغه ماته لار را ښودلې ده. او زه له هغوی، نه وېرېږم چې تاسې یې له الله سره شریک ګڼئ، مګر هغه خبره چې زما رب یې غواړي. زما د رب علم په هر څه خپور دی، ایا تاسې فکر نه کوئ. ۸۱- زه ولې ستاسې له شریکانو ووېرېږم کله چې تاسې له الله سره د هغه په خدایۍ کې د هغه شیانو په شریکولو نه وېرېږئ چې په هکله یې تاسې ته هېڅ سند نه دی نازل شوی. اوس په دواړو خواو کې د امن ډېر مستحق کوم دی، که تاسې پوهېږئ. ۸۲- کومو خلکو چې ایمان راوړی او په خپل ایمان کې یې کوم نقصان نه دی ګډ کړی، د هغوی لپاره امن دی او هغوی په سمه لار دي. ۸۳- دا زموږ هغه دلیل دی چې ابراهیم ته مو د هغه د قوم په مقابل کې ورکړ. موږ چې د چا وغواړو د هغه درجې لوړوو. بېشکه ستا رب حکیم او علیم دی.
۸۴- او موږ ابراهیم ته اسحاق او یعقوب عطا کړل، هر یوه ته مو هدایت وکړ او له هغه مخکې مو نوح ته هدایت وکړ. او د هغه له نسله مو داؤد او سلیمان او ایوب او یوسف او موسی او هارون ته هم. او موږ نېکانو ته داسې نصیحت کوو. ۸۵- او زکریا او یحیی او عیسی او الیاس ته هم، په هغوی کې هر یو صالح و. ۸۶- او اسماعیل او الیسع او یونس او لوط ته هم او په هغوی کې هر یوه ته موږ د دنیا په خلکو فضیلت ورکړ. ۸۷- او د هغه پلار او نیکونو او د هغوی اولاد او د هغه ورونو ته هم، او هغوی موږ غوره کړل او سمې لارې ته مو هدایت ورکړ. ۸۸- دا د الله

هدايت دی، هغه چې په خپلو بندهګانو کې څوک وغواړي په دې يې سرلوري کوي. که هغوی شرک کړی وای، څه يې چې کړي هغه به ټول ضايع شوي وای. ۸۹- دا هغه خلک دي چې موږ ورته کتاب او حکمت او نبوت عطا کړل. نو که دا خلک له دې سره (بيا هم) کفر وکړي موږ ورته داسې خلک ټاکلي چې منکر ترې نه دي. ۹۰- همدا هغه خلک دي چې الله ورته هدايت کړی، نو تاسې هم د هغو په طريقه لاړ شئ. ووايه، زه په دې له تاسې کومه معاوضه نه غواړم. دا خو د دنيا خلکو ته نصيحت دی.
۹۱- او هغوی د الله هغسې قدر ونه کړ څنګه قدر کول يې چې حق دی، کله يې چې وويل الله په انسان څه نه دي نازل کړي. ووايه هغه کتاب چا نازل کړی و چې موسی راوړی و، هغه روښانه او د خلکو لپاره هدايت و چې تاسې پاڼې پاڼې کړی دی. څه يې ښکاره کوئ او ډېر يې پټوئ. او هغه تاسې ته هغه خبرې وښودلې چې نه پرې تاسې پوهېدئ او نه ستاسې پلار نيکه. ووايه چې الله نازل کړی. بيا هغوی پرېږده چې په خپلو باطلو بحثونو کې لوبېږي. ۹۲- او دا يو کتاب دی چې (الله) نازل کړی، برکتناک دی، د هغه څه تصديق کوي چې له دې مخکې نازل شوي. او دې لپاره چې ته د مکې او ګردچاپېره خلک ووېروئ، او څوک چې په آخرت ايمان لري، هغو به پرې ايمان راوړي. او هغوی په لمونځ قايمونکو کې دي.
۹۳- او تر هغه لوی ظالم به څوک وي چې په الله د دروغو تهمتونه پورې کړي يا ووايي چې په ما وحې راغلې، سره د دې چې هېڅ وحې پرې نه وي راغلې. او ووايي چې څه ډول کلام الله نازل کړی، زه يې هم نازلوم. او کاشکې ته دوی هغه وخت وګورې چې دا ظالمان د مرګ په سختيو کې ګېر وي او ملايکې لاسونه ور اوږدوي چې ساګانې مو

راکړئ. نن به تاسې ته له ذلته ډک عذاب درکول کيږي او لامل يې دا دی چې تاسې ټولو په الله پسې دروغ خبرې تړلې. او تاسې د الله په نښو کفر کاوه. ۹۴- او تاسې موږ ته يوازې راغلئ، لکه څنګه چې موږ په لومړي ځل (يوازې) پيدا کړي وئ. او موږ چې تاسې ته څه اسباب درکړي وو، ټول مو شاته پرېښودل. او موږ تاسې سره هغه شفاعت کونکي هم نه وينوو چې تاسې فکر کاوه ستاسې په کار جوړولو کې د دوی هم برخه ده. ستاسې رابطه غوڅه شوه او له تاسې هغه دعوې هم لاړې چې تاسې کولې.
۹۵- بېشکه الله دانه او زړی ماتوي. هغه له ژوندي مړی را وباسي او له مړي ژوندی را وباسي. هماغه ستاسې الله دی، نو تاسې له حقيقته چېرته تښتئ. ۹۶- هماغه د ورځې راوړونکی دی او شپه يې د سکون لپاره ټاکلې او لمر او سپوږمۍ يې په حساب برابر کړي دي. دا د قوي ذات او لوی علم لرونکي تدبير دی. ۹۷- او هماغه ستاسې لپاره ستوري جوړ کړل چې تاسې يې په مرسته د وچې او لمدې په تيارو کې لار ومومئ. بېشکه موږ دلايل د هغو لپاره ښکاره بيان کړي چې ځان پوهول غواړي.
۹۸- او هماغه دی چې تاسې يې له يوه ځانه پيدا کړئ، بيا د هر يوه لپاره يو استوګنځای دی او هر يو لپاره د سپارلو ځای. موږ د هغو لپاره دلايل ښکاره بيان کړي چې پوهيږي. ۹۹- او هماغه دی چې له آسمانه يې اوبه را وورولې، بيا موږ له هغې هر را ټوکېدونکی شی پيدا کړ. بيا موږ له هغو زرغونې څانګې را وويستې چې له هغې موږ قط په قط دانې پيدا کوو. او د کجورې د وږي (غونچې) نه ځوړندې ميوې او د انګورو، زيتونو او آنارو باغونه چې سره نښتي او جدا جدادي. هره ميوه وګورئ

کله چې هغه وده کوي او بیا یې پخېدل وګورئ کله چې هغه پخېږي. بېشکه په هغو کې د هغه خلکو لپاره نښې دي چې د ایمان طلب کوي.
۱۰۰- او هغوی پیریان د الله شریک وګڼل. سره د دې چې دا هماغه (الله) پیدا کړي دي. او په ناپوهۍ یې ورته زامن او لونړې جوړې کړې. هغه (الله) له هغو خبرو پاک او برتر دی چې دوی یې کوي. ۱۰۱- هغه د آسمانونو او ځمکې خالق دی. د هغه زوی څنګه کېدای شي، حال دا چې هغه مېرمن نه لري. او هغه هر څه پیدا کړي او هغه په هر څه خبر دی. ۱۰۲- دا ستاسې رب الله دی. له هغه بغیر بل معبود نشته. هغه د هر څه خالق دی، نو د هغه عبادت وکړئ. او هغه د هر څه کارساز دی. ۱۰۳- هغه په نظر نه راځي، خو هغه نظرونهویني. هغه ډېر باریک‌بین او ډېر باخبره دی. ۱۰۴- اوس تاسې ته ستاسې د رب له طرفه د بصیرت رڼاګانې درغلي دي. څوک چې له بینایۍ کار اخلي هغه یې خپله (ګټه) ده او څوک چې ځان ړندوي، هغه به خپله تاوان ګالي. او زه ستاسې ساتونکی نه یم.
۱۰۵- او په دې توګه موږ خپل دلیلونه په مختلفو طریقو بیانوو چې هغوی وایي چې تا ورته ویلي او موږ یې هغو خلکو ته ښه واضح کړو چې پوهېدل غواړي. ۱۰۶- ته یوازې د هغه څه پیروي کوه چې ستا د رب له طرفه درته وحي کېږي. له هغه بغیر هېڅ معبود نشته او له مشرکینو مخ واړوه.. ۱۰۷..او که الله غوښتي وای نو دې خلکو به شرک نه کاوه. او موږ ته په هغوی نګران نه یې ټاکلی او نه ته په هغوی واکمن یې. ۱۰۸- او دا خلک چې له الله بغیر بل څوک را بولي، هغوی ته کنځلې مه کوه، ګني دا خلک به له حده واوړي او د خپلې ناپوهۍ له وجې به الله ته کنځلې پیل کړي. په دې توګه موږ هرې ډلې ته د هغوی په نظر کې،

د هغوی عمل ښاپسته کړی دی. بیا به هغوی ټول د خپل رب لور ته ستنیږ.ي. بیا به الله ورته ووایي چې هغوی څه کول.
۱۰۹- او دا خلک په الله کلک قسم خوري او وایي چې که هغوی ته کومه نښه ورشي، نو حتماً به پرې ایمان راوړي. ووایه چې نښې خو له الله سره دي. او ته څه خبر یې که چېرې نښې راشي بیا به هم دا خلک ایمان نه راوړي. ۱۱۰- او موږ به د هغوی زړونه او نظرونه واړوو، هغسې لکه هغوی چې پرې په لومړي ځل ایمان را نه وړ. او موږ به هغوی په خپله سرکشۍ کې ورک پرېږدو. * ۱۱۱ او که موږ هغوی ته ملایکې نازلې کړې وای او مړو ورسره خبرې کولای او هر څه مو ورته راټول کړي وای، بیا هم دې خلکو ایمان نه راوړه، تر هغې چې الله یې وغواړي، خو په هغوی کې زیاتره خلک د ناپوهۍ خبرې کوي.
۱۱۲- او په دې توګه موږ شریر انسانان او شریر پیریان د هر نبي دښمنان کړي دي. هغوی یو بل ته د تېرایستلو لپاره د فرېب خبرې ور ښیي. او که ستا رب غوښتی وای، نه هغوی به داسې نه کول. نو ته هغوی پرېږده چې دروغ تړي. ۱۱۳- او دا په دې خاطر چې څوک په آخرت آیمان نه لري، هغه اړخ ته یې زړه لیواله شي. چې هغه خوښ کړي او څه چې ګټل غواړي، هغه وګټي.
۱۱۴- ایا زه له الله بغیر بل څوک منصف کړم. سره د دې چې هغه تاسې ته ښکاره کتاب در لیږلی دی. او کومو خلکو ته چې موږ مخکې کتاب ورکړی و، هغوی پوهېدل چې دا ستا د رب له طرفه په رښتیا سره نازل شوی دی. نو ته په شک کونکو کې مه راځه. ۱۱۵- او ستا د رب خبره پوره رښتیا او د عدل ده، د دې خبرې بدلونکی هېڅوک نشته او هغه اورېدونکی، پوهېدونکی دی. ۱۱۶- او که ته په ځمکه د اکثریت خلکو په خبره پسې لاړ شې، نو هغوی به تا د الله له لارې خطا کړي. هغوی

یوازې د ګمان پیروي او قیاسونه کوي. ۱۱۷- بېشکه ستا رب هغوی ښه پېژني چې بې‌لارې شوي دي او هغوی هم ښه پېژني چې لاره یې موندلې ده.
۱۱۸- نو له هغو څارویو خوراک کوئ چې د الله نوم پرې واخیستل شي، که تاسې د هغه په آیتونو ایمان لرئ. ۱۱۹- او تاسې ولې له هغو څارویو ونه خورئ چې د الله نوم پرې اخیستل شوی دی، سره د دې چې الله هغه شیان په تفصیل بیان کړي چې په تاسې حرام کړی شوي دي، بې له هغه حالته چې تاسې مجبور شئ. او یقیناً ډېر خلک بې له پوهې د خپلو خواهشاتو له وجې لار ورکوي. بېشکه ستا رب له حده اوښتونکي ښه پېژني. ۱۲۰- او تاسې ښکاره ګناه هم پرېږدئ او پټه هم. کوم خلک چې ګناه ګټي، هغوی ته به ډېر زر د خپلو کړو بدل ورکول شي. ۱۲۱- او تاسې له هغو څارویو خوراک مه کوئ چې د الله نوم پرې نه وي اخیستل شوی. یقیناً دا بې حکمي ده او شیطانان یې خپلو ملګرو ته القا کوي چې تاسې سره وجنګېږي. او که تاسې د هغوی خبره ومنئ، نو تاسې به هم مشرکان شئ.
۱۲۲- کوم سړی چې مړ و او بیا موږ ژوند ورکړ او هغه ته مو یوه رڼا ورکړه چې د هغه په مرسته خلکو کې ګرځېږه، ایا هغه د هغه کس په شان کېدای شي چې په تیارو کې پروت دی او راوځي ترې نه. په دې توګه منکرانو ته د هغوی په نظر خپل اعمال ښاېسته شوي دي. ۱۲۳- او همداسې په هر کلي کې موږ د ګنهګارانو مشران ساتلي چې هلته حیلې وکړي. سره د دې چې هغوی کومې حیلې کوي، د خپل ځان په ضد یې کوي، مګر هغوی پرې نه پوهېږي. ۱۲۴- او کله چې هغوی ته کومه نښه راځي، نو هغوی وایي موږ تر هغې نه پوهېږو چې تر څو موږ ته هم هغه څه را نه کړي چې پېغمبرانو ته ورکړل شوي دي. الله ښه

پوهېږي چې خپله پېغمبري چا ته ورکړي. څوک چې مجرمان دي حتماً به يې د الله په نزد ذلت او سخت عذاب نصيب کېږي، لامل يې دا دی چې هغوی مکر کوي. ۱۲۵- الله چې چاته هدايت کول وغواړي، نو د هغه سينه د اسلام لپاره پرانيزي. او څوک چې گمراه کوي د هغه سينه داسې تنگوي لکه آسمان ته ختل چې وي. په دې توگه الله په هغو خلکو گندگي اچوي چې ايمان نه راوړي. ۱۲۶- او همدا ستا د رب سمه لار ده. موږ غور کونکو ته نښې واضح کړې دي. ۱۲۷- د هغوی لپاره خپل رب سره د سلامتۍ کور دی. او هغه يې د هغو اعمالو له وجې مددگار دی چې دوی يې کوي.

۱۲۸- او په کومه ورځ چې الله دوی ټول راټولوي، ای د پېريانو ډلې، تاسې له انسانانو ډېر څه اخيستي دي. او په انسانانو کې به د هغوی ملگري وايي چې ای زموږ ربه، موږ يو بل وکارول او هغه وعدې ته ورسېدو چې تا زموږ لپاره ټاکلې وه. الله به ورته ووايي چې ستاسې کور اور دی او تل به په کې اوسېږئ، مگر څه چې الله وغواړي. بېشکه ستاسې رب د حکمت او علم خاوند دی. ۱۲۹- او په دې توگه به موږ گنهگاران له يو بل سره گډ کړو، د هغو اعمالو له وجې چې هغوی يې کوي. ۱۳۰- ای د جناتو او انسانانو ډلې، ايا تاسې ته ستاسې له منځه پېغمبران نه دي درغلي چې زما آيتونه يې درته اورول او تاسې يې د دې ورځې له راتگه وېرولئ. هغوی به ووايي چې موږ د خپل ځان په ضد گواهان يوو. او هغوی د دنيا ژوند په تېروتنه کې وساتل. هغوی به پخپله د خپل ځان په ضد گواهي ورکړي چې بېشکه موږ منکر وو. ۱۳۱- لامل يې دا دی چې ستا رب، کلي د هغوی د ظلم له وجې په داسې حال کې نه هلاکوي چې خلک يې ناخبره وي.

۱۳۲- او د هر شخص درجه د هغه د عمل له مخې (ده) او ستا رب د هغوی له اعمالو ناخبره نه دی. ۱۳۳- او ستا رب بې‌نیازه او د رحمت خاوند دی. که هغه وغواړي نو تاسې ټول اخلي او وروسته چې څوک وغواړي هغوی ستاسې په ځای راوړلای شي. لکه څنګه یې چې تاسې د نورو له نسله پیدا کړئ. ۱۳۴- تاسې سره چې د څه شي وعده کېږي، هغه به حتماً راځي او تاسې الله نه شئ عاجزولای. ۱۳۵- ووایه، ای خلکو تاسې په خپل ځای عمل کوئ، زه به په خپل ځای عمل کوم، تاسې به زر پوه شئ چې انجام د چا په ګټه تمامېږي. یقیناً ظالمان هېڅکله کامیابي نه شي موندلای.

۱۳۶- او الله چې کومې کروندې او څاروي پیدا کړي، په هغه کې هغوی د الله یوه برخه ټاکلې ده. نو هغوی وایي چې دا د الله برخه ده، د هغوی د ګمان له مخې او دا برخه زموږ د شریکانو ده. بیا چې کومه برخه د هغوی د شریکانو وي هغه الله ته نه رسېږي او کومه برخه چې د الله وي هغه شریکانو ته رسېږي. دا خلک څومره بده فیصله کوي. ۱۳۷- او داسې د ډېرو مشرکانو شریکانو د هغوی په نظر کې د خپل اولاد وژل ښاېسته کړي، په دې خاطر چې هغوی برباد کړي او خپل دین ورته شکمن کړي. او که الله غوښتی وای، هغوی داسې نه کول، نو هغوی پرېږده چې په خپله افترا کې اخته وي.

۱۳۸- او وایي چې دا څاروي او دغه کرونده ممنوع دي. هغوی یوازې هغه خوړلای شي چې موږ یې ورته په هکله وایوو، د خپل ګمان سره سم. او په هغه څاروي سپرېدل حرام شوي دي او ځینې داسې څاروي دي چې هغوی پرې د الله نوم نه اخلي. دا ډول هغوی په الله افترا کړې ده. الله به زر د دې افترا بدل واخلي. ۱۳۹- او وایي څه چې د فلاني ډول څارویو په خېټه کې دي، هغه زموږ د سړیو لپاره ټاکلي دي او زموږ په

ښځو حرام دي. که هغه مړي وي، نو بیا په کې ټول شریک دي. الله به زر هغوی ته د هغوی د وینا جزا ورکړي. بېشکه الله د حکمت او علم خاوند دی. ۱۴۰- کومو خلکو چې په ناپوهۍ او بې له کومه علم خپل بچي قتل کړل، هغوی په تاوان کې پرېوتل. او هغوی هغه رزق په الله د تور پورې کولو (په وسیله) حرام کړ چې الله ورته ورکړی و. هغوی ګمراهان شول او د هدایت موندونکي نه شول
۱۴۱- او هغه الله دی چې باغونه یې پیدا کړل، ځینې د لرګو په اډانه اوړي او ځینې نه اوړي. او د کجورې ونه او فصلونه چې د هغوی د خوړو شیان مختلف دي او زیتون او انار یو بل ته ورته هم او له یو بل جدا هم. کله چې دا بوټي میوه ونیسي، نو ویې خورئ او د لو (رېبلو او میوو ټولولو) په ورځ د الله حق ادا کوئ، او اسراف مه کوئ، بېشکه الله اسراف کونکي نه خوښوي. ۱۴۲- او هغه په څارویو کې د پېټي پورته کونکي او په ځمکه لګېدونکي هم پیدا کړي. له هغو شیانو وخورئ چې الله تاسې ته درکړي دي. او د شیطان پیروي مه کوئ، هغه ستاسې ښکاره دښمن دی.
۱۴۳- الله اته جوړې پیدا کړي. دوه په پسونو کې او دوه په سېرلیو کې. پوښتنه وکړه چې دواړه نر الله حرام کړي که دواړه ښځې. که هغه بچي چې د مېږو او اوزو په خېټو کې وي. ماته یې په دلیل ووایئ که تاسې رښتیني یئ. ۱۴۴- او همدارنګه دوه د اوښانو ډولونه دي او دوه د غواګانو. پوښتنه وکړه چې دواړه نر الله حرام کړي که دواړه ښځې. که هغه بچي چې د اوښې او غوا په خېټه کې وي. ایا تاسې هغه وخت حاضر وئ چې الله تاسې ته د دې حکم کړی و. نو تر هغه لوی ظالم څوک دی چې په الله تور پورې کړي او خلک بې له پوهې بې لارې کړي. بېشکه الله ظالمانو ته لاره نه ښیي. ۱۴۵- ووایه، په ما چې وحې راغلې، زه خو

په دې کې داسې څه نه مومم چې په خوړونکي حرام وي، بغیر له هغو چې مردار وي، یا بهېدلې وینه وي یا د خنځیر غوښه وي چې ناپاکه یا ناجایزه ذبحه چې له الله بغیر د بل چا نوم پرې اخیستل شوی وي. خو څوک چې له لوږې بې واکه شي، نه نافرماني وکړي او نه زیاتی وکړي، نو ستا رب ښنونکی او مهربان دی.
۱۴۶- او په یهودو موږ ټول نوک لرونکي ځناور حرام کړي وو او د غوا او سېرلي وازده مو پرې حرامه کړې وه، بې له هغې چې په خېټې یا ملا یا هډوکو پورې نښتې وې. دا جزا موږ هغوی ته د هغوی د سرکشۍ له وجې ورکړې وه او یقیناً موږ رښتیني یوو. ۱۴۷- نو که هغوی تا دروغجن وبولي، ورته ووایه چې ستا رب د پراخه رحمت خاوند دی. او د هغه عذاب له مجرمانو نه شي لرې کېدای.
۱۴۸- چا چې شرک کړی، هغوی به وایي که الله غوښتي وای نو موږ به شرک نه کاوه او نه به زموږ پلار نیکه کاوه او نه به کوم شی حراماوه. همداسې له دوی مخکې خلکو هم دروغ بللې وه، تر دې چې هغوی زموږ د عذاب خوند ولیده. ووایه ایا تاسې سره داسې علم شته چې تاسې یې زما مخکې واضح کړئ. تاسې خو یوازې د ګمان پیروي کوئ او یوازې له اټکل کار اخلئ. ۱۴۹- ووایه چې کامل دلیل خو د الله دی. او که الله غوښتي وای تاسې ټولو ته یې هدایت کاوه.۱۵۰- ووایه خپل ګواهان راوړئ چې په دې ګواهي ورکړي چې الله هغه شیان حرام کړي دي. که هغوی د دروغ ګواهي هم ورکړي، نو ته ورسره ګواهي مه ورکوه او ته د هغو خلکو د خواهشاتو پیروي مه کوه چې ستاسې نښې یې دروغ بللي او هغو چې په آخرت ایمان نه لري او نور د خپل رب شریکان ګڼي.
۱۵۱- ووایه، راشئ زه درته هغه شیان ووایم چې ستاسې رب په تاسې حرام کړي دي. دا چې له هغه سره څوک مه شریکوئ، او مور او پلار

سره نېک سلوک کوئ او خپل بچي د مفلسۍ له وېرې مه وژنئ. موږ تاسې ته هم روزي درکوو او هغوی ته هم. او د بې حیایۍ د کار خوا ته مه ورځئ که ښکاره وي او که پټ او څه چې الله حرام کړي، هغوی مه وژنئ، مګر په حق. دا هغه خبرې دي چې الله یې تاسې ته هدایت کړی چې تاسې له عقل کار واخلئ.
۱۵۲- او د یتیم مال ته مه نږدې کیږئ، مګر په هغه طریقه چې بهتره وي، تر هغه وخته چې هغه (یتیم) ځوانۍ ته ورسیږي. او په تول کې عدل کوئ. موږ په انسان دومره څه اچوو چې وس یې لري. او د الله وعده پوره کوئ. دا هغه شیان دي چې الله یې تاسې ته په تفصیل حکم کړی چې تاسې نصیحت ومومئ. ۱۵۳- او الله حکم کړی چې همدا زما مستقیمه لاره ده، نو په همدې لاره لاړ شئ او په نورو (داسې) لارو مه ځئ چې تاسې د الله له مستقیمې لارې جدا کړي. دا حکم درته الله کړی چې تاسې وساتل شئ.
۱۵۴- بیا موږ په نېکانو خلکو د خپل نعمت پوره کولو لپاره موسی ته کتاب او د هرې خبرې تفصیل، هدایت او رحمت ورکړ چې هغوی د خپل رب په ملاقات ایمان راوړي. ۱۵۵- په دې توګه موږ دا کتاب نازل کړی د برکت کتاب. نو په دې پسې لاړ شئ او تقوی وکړئ چې رحم در باندې وشي. ۱۵۶- په دې خاطر چې تاسې دا ونه وایئ چې کتاب خو تر موږ مخکې دوو ډلو ته ورکړل شوی او موږ یې له لوستلو او ښودلو ناخبره وو. ۱۵۷- یا ووایئ که په موږ کتاب نازل شوی وای، نو موږ به تر هغوی ډېر هدایت موندلای وای. نو تاسې ته ستاسې د رب له طرفه یو روښانه دلیل او هدایت او رحمت راغی. نو تر هغه به بل ظالم څوک وي چې د الله نښې دروغ وبولي او مخ ترې واړوي. څوک چې زموږ له نښو مخ اړوي، موږ به ورته د دې مخ اړولو په بدل کې ډېر بد عذاب

ورکړو. ۱۵۸- ایا دا خلک دې ته په تمه دي چې ملایکې ورته را ښکته شي یا ورته ستا رب راشي یا ستا د رب په نښو کې کومه نښه واضح شي. په کومه ورځ چې ستا د رب له نښو کومه نښه راشي، نو هېچا ته به د هغه ایمان فایده ورنه کړل شي چې مخکې یې ایمان نه وي راوړی یا یې په خپل ایمان کې څه نېکي نه وي کړي. ووایه تاسې په تمه اوسئ، موږ به هم په تمه یوو.
۱۵۹- چا چې په خپل دین کې لارې ویستلي، که هغوی ډلې ډلې شول ته ورسره کار مه لره. د هغوی معامله الله سره ده. بیا به ورته هماغه ووایي چې دوی څه کول. ۱۶۰- څوک چې نېکي راوړي، هغه ته یې لس چنده بدل دی. او څوک چې بدي راوړي هغه ته به هغومره (برابره) بدل ورکول کیږي او په هغوی به ظلم نه کیږي.
۱۶۱- ووایه، زما رب ماته سمه لار را ښودلې ده. د ابراهیم د صحیح دین په طرف چې په صداقت ولاړ و او له مشرکانو نه، نه و. ۱۶۲- ووایه زما لمونځ او زما قرباني او زما ژوند او زما مرګ د الله لپاره دی چې د ټول جهان رب دی. ۱۶۳- د هغه هېڅ شریک نشته او ماته د همدې حکم شوی او زه تر ټولو مخکې فرمانبردار یم. ۱۶۴- ووایه، ایا زه له الله بغیر بل رب ولټوم، سره د دې چې هغه د هر څه رب دی او هر انسان چې هر څه ګټي، د هغه تاثیر پرې کیږي. او هېڅ پېټی پورته کونکی به د بل پېټی نه پورته کوي. بیا به تاسې خپل رب ته ستنیږئ. نو هغه به تاسې ته (د هغه څه په اړه) وایي چې په کوم شي مو اختلاف کاوه. ۱۶۵- او هماغه دی چې تاسې یې په ځمکه د یو بل ځای‌ناستي (جانشین) کړئ او په تاسې کې یې د یوه درجه په بل لوړه کړه چې هغه څه درکړي په هغه مو وازمایي. ستاسې رب زر جزا ورکونکی دی او بښکه بښونکی او مهربان دی.

## سوره الاعراف ۷

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- **آلمص**. ۲- دا کتاب دی چې په تا نازل شوی دی. نو ستا زړه دې د دې له وجې نه تنګېږي چې ته د دې په وسیله خلک ووېروې او دا د ایمان خاوندانو لپاره یادونه ده. ۳- چې نازل شوی دی ستا د رب له طرفه، د هغه پیروي وکړه او له هغه بغیر د نورو پالونکو پیروي مه کوئ. تاسې ډېر لږ نصیحت منئ. ۴- او څومره کلي موږ هلاک کړي دي. په هغوی زموږ عذاب د شپې راغلی یا ماسپښین چې هغوی به آرام کاوه. ۵- بیا چې په هغوی زموږ عذاب راغی، نو هغوی له دې بغیر نور هیڅ نه شول ویلی چې موږ رښتیا ظالمان یوو. ۶- نو موږ حتماً له هغوی پوښتنه کوو چې چا ته رسولان لېږل شوي او موږ به حتماً له رسولانو پوښتنه کوو. ۷- بیا به موږ د هغوی په مخکې هر څه له علم سره بیان کړو او موږ هېڅکله غایب نه وو. ۸- په هغه ورځ به یوازې حق دروند وي. نو د چا تله چې درنه وي، هغه به کامیاب وي. ۹- او د چا تله چې سپکه وي، هغوی هغه خلک دي چې ځانونه یې په تاوان کې اچولي، ځکه هغوی زموږ له نښو سره بې عدلي کوله.
۱۰- او موږ تاسې ته په ځمکه ځای درکړ، او موږ په کې تاسې ته د ژوند وسایل برابر کړل، خو تاسې ډېر لږ شکر وباسئ. ۱۱- او موږ تاسې پیدا کړئ، بیا مو ستاسې صورت ساز کړ. بیا مو ملایکو ته وویل چې آدم ته سجده وکړئ. نو هغوی سجده وکړله، خو ابلیس په سجده کونکو کې شامل نه شو. ۱۲- الله ورته وویل چې ته څه شي له سجدې منع کړې، سره د دې چې ما درته حکم کړی و. ابلیس وویل چې زه تر هغه غوره یم. تا زه له اوره جوړ کړی یم او آدم له خاورې. ۱۳- الله

وويل چې ته له دې ځايه ښکته شه. ته دا حق نه لرې چې (دلته) کبر وکړې. نو ووځه، يقيناً چې ته ذليل يې. ۱۴- ابليس وويل تر هغې ورځې مهلت راکړه، په کومه ورځ به چې ټول خلک را پورته کيږي. ۱۵- الله ورته وويل چې تاته مهلت درکړی شو. ۱۶- ابليس ورته وويل دا چې تا زه گمراه کړی يم، نو زه به د خلکو لپاره ستا په سمه لاره کېنم. ۱۷- بيا به د هغوی له مخې او شا او د هغوی له ښي او چپ (طرفه) راځم او ته به په هغوی کې زياتره شکرگزاره ونه مومې. ۱۸- الله وويل چې ووځه له دې ځايه ذليل او رټل شوی. په هغوی کې چې هر څوک ستا په لاره لاړ شي، نو زه به له هغوی ټولو دوزخ ډک کړم.
۱۹- او ای آدمه، ته او ستا مېرمن په جنت کې اوسيږئ او وخورئ له هر ځايه چې غواړئ، خو هغې ونې ته مه نږدې کيږئ، گني په تاوانکونکو کې به راشئ. ۲۰- بيا شيطان هغوی دواړه ولمسول چې خپل د شرم هغه ځايونه لوڅ کړي چې له هغه پټ شوي وو. هغه وويل ستاسې رب تاسې له دې ونې يوازې په دې خاطر منع کړي يئ چې تاسې دواړه ملايکې نه شئ يا تاسې د تل لپاره ژوند ونه مومئ. ۲۱- او هغه قسم وخوړ او ويې ويل چې زه ستاسې خيرخواه يم.
۲۲- نو هغوی په فريب ليواله کړل. بيا چې دواړو د هغه ونې ميوه وخوړله، نو د هغوی شرمگاه ښکاره شوې. هغوی ځانونه د باغ په پاڼو پټول پيل کړل او د هغوی رب ور غږ کړ چې ايا تاسې ما له دې ونې نه وئ منع کړي او دا مې (درته) نه وو ويلي چې شيطان ستاسې ښکاره دښمن دی. ۲۳- هغوی وويل، ای زموږ ربه، موږ په خپلو ځانونو ظلم کړی او که ته موږ ونه ښښې او په موږ رحم ونه کړې، نو موږ به په تاوانکونکو کې راشوو. ۲۴- الله وويل، ښکته شئ، تاسې د يو بل دښمنان شوئ او تاسې لپاره په ځمکه د يوې ټاکلې مودې لپاره اوسېدل او گټه

اخیستل شوو. ۲۵- الله وویل، په هماغې کې به تاسې ژوند کوئ او په هماغې کې به تاسې مرئ او له هماغې به تاسې را ویستل کیږئ.
۲۶- ای د آدم اولاده، تاسې ته موږ داسې لباس نازل کړ چې ستاسې د بدن قابل شرم برخې پټې کړي او زینت هم (درکړي). او د تقوی لباس تر دې هم غوره دی. دا د الله له نښو دي چې خلک غور وکړي. ۲۷- ای د آدم اولاده، شیطان مو تېر نه باسي، لکه څنګه یې چې ستاسې مور او پلار له جنته را وویستل، هغه د هغوی جامې وویستلې چې د خلکو مخ ته یې بې پردې کړي. او د هغه ملګري تاسې له داسې ځایه ګوري، له کومه ځایه چې تاسې هغوی نه ګورئ. موږ شیطانان د هغه چا ملګري کړي چې ایمان نه راوړي.
۲۸- او څوک چې فحش (ښکاره بدي) کوي، وایي چې موږ خپل پلار نیکه همداسې لیدلي او الله موږ ته همداسې حکم کړی دی. ووایه، الله هېڅکله د بد کار حکم نه کوي. ایا تاسې په الله پورې هغه خبره تړئ چې په هکله یې نه پوهیږئ. ۲۹- ووایه چې زما رب د قسط (عدل) حکم کړی او دا چې د هر لمانځه په وخت خپل مخ سیده کوئ. او هغه را بولئ او د هغه لپاره دین خالص کوئ. لکه څنګه چې هغه تاسې مخکې پیدا کړئ، داسې به تاسې بیا هم پیدا کیږئ. ۳۰- یوې ډلې ته هغه لاره ښودلې او یوه ډله داسې ده چې ګمراهي پرې ثابته شوې ده. هغوی الله پرېښی او شیطان یې د ځان ملګری کړی او دا ګمان کوي چې ګني په هدایت دي.
۳۱- ای د آدم اولاده، د هر لمانځه په وخت خپل لباس اغوندئ او خورئ څښئ او له حده مه وځئ. بېشکه الله هغوی نه خوښوي چې له حده وځي.
۳۲- ووایه د الله هغه زینت او د خوراک پاک شیان چا حرام کړي چې الله خپلو بندهګانو ته پیدا کړي. ووایه هغه د دنیا په ژوند کې هم د ایمان د خاوندانو لپاره دي او په آخرت کې خو به خاص د هغوی لپاره وي.

داسې موږ خپل آيتونه په روښانه ډول بيانوو د هغو خلکو لپاره چې پوهېدل وغواړي. ۳۳- ووايه، زما رب خو فحش خبرې حرامې کړي که پټې وي که ښکاره او ګناه او ناحقه زياتی او دا خبره چې تاسې له هغه سره څوک شريک کړئ چې هغه يې هېڅ دليل نه دی نازل کړی او دا چې تاسې په الله پسې داسې خبره وتړئ چې تاسې پرې نه پوهېږئ.
۳۴- او د هر قوم لپاره يوه ټاکلې موده ده. بيا چې د هغوی موده راشي، نو هغوی به نه يو ساعت وروسته کېدای شي او نه به مخکې کېدای شي.
۳۵- ای د آدم اولاده، که تاسې ته ستاسې له منځه رسول راشي او زما آيتونه درته ووايي، نو څوک چې ووېرېده او ځان يې اصلاح کړ، د هغوی لپاره به نه وېره وي او نه به هغوی خفه وي. ۳۶- او څوک چې زما آيتونه دروغ وبولي او کبر پرې وکړي، هغوی دوزخيان دي. تل به هغه کې اوسېږي. ۳۷- بيا به تر هغه لوی ظالم څوک وي چې په الله تور پورې کړي يا د هغه نښې دروغ وبولي، د هغوی په نصيب چې کومه برخه ليکل شوې، هغه به ورته رسېږي. تر دې چې زموږ لېږلي د هغوی د ساه اخيستو لپاره ورته ور ورسېږي، نو له هغوی به وپوښتي چې له الله بغير مو څوک رابلل هغوی اوس چېرې دي. هغوی به ووايي هغوی ټول له موږ ورک شوي. او هغوی به په ځان اقرار وکړي چې ببېشکه هغوی انکار کونکي وو.
۳۸- الله به ووايي، ورننوځئ اور ته د جناتو او انسانانو له هغو ډلو سره چې له تاسې مخکې تېرې شوې دي. هره ډله چې دوزخ ته ننوځي، په خپلې ملګرې ډلې به لعنت وايي. تر دې چې کله په کې راټول شي، نو د هغوی وروستي به د مخکينيو په هکله وايي، ای زموږ ربه، دا هغه خلک دي چې موږ يې ګمراهان کړو، نو دوی ته د اور دوه چنده عذاب ورکړه. الله به ووايي چې د ټولو لپاره جزا دوه چنده ده، خو تاسې نه پوهېږئ.

۳۹- او د هغوی مخکیني به د وروستنيو په هکله وايي چې موږ په تاسې هېڅ فضلیت نه لرو. نو د خپلو ګټو په نتیجه کې د اور خوند وګورئ.
۴۰- بېشکه کومو خلکو چې زموږ نښې دروغ بللي او کبر يې پرې کړی، د هغوی لپاره به د آسمان دروازې نه بېرته کيږي او هغوی به جنت ته نه ننوځي، تر څو چې اوښ د ستنې له سوري تېر نه شي. او موږ مجرمانو ته همداسې جزا ورکوو. ۴۱- د هغوی لپاره به د دوزخ کټ هم وي او دپاسه (چې څه اغوندي) هغه به هم د دوزخ وي. او موږ ظالمانو ته همداسې جزا ورکوو. ۴۲- او چا چې ایمان راوړ او نېک کارونه يې وکړل، موږ په هر شخص د هغه وس سره سم پېټي اچوو. همدا خلک د جنت والا دي او تل به په کې اوسيږي.
۴۳- او موږ به د هغوی له سینو هر ډول کرکه وباسوو. د هغوی (د باغونو) لاندې به نهرونه بهيږي او هغوی به وایي چې ټول تعریفونه د الله دي چې موږ يې دلته را ورسولو او موږ لاره نه شوه موندلای که هغه راته هدايت نه وای کړی. زموږ د رب رسول ربښتيا خبره راوړې وه. او غږ به راشي چې دا جنت دی چې تاسې يې د خپلو اعمالو له وجې وارثان ټاکل شوي يئ.
۴۴- او جنتیان به دوزخیانو ته غږ کوي چې موږ سره خپل رب کومه وعده کړې وه هغه موږ ربښتيا وموندله، ايا تاسې هم د خپل رب وعده ربښتيا وموندله. هغوی به وايي هو. بيا به يو کس د دواړو له منځه غږ کړي چې په ظالمانو دې لعنت وي. ۴۵- چې د الله له لارې يې (خلک) منع کول او کوږوالی يې په کې لټاوه او له آخرت منکر وو.
۴۶- او د هغوی دواړو ترمنځ به يوه پوله وي. او په اعراف به ځينې خلک وي چې هر څوک به له خپلو نښو پېژني او جنتيانو ته به غږ کوي چې په تاسې دې سلامتي وي، هغوی به لا جنت ته نه وي ننوتي، خو

تمه به يې لري. ۴۷- او بيا چې د هغوی سترګې په دوزخيانو ولګيږي، نو وايي به چې ای زموږ ربه، موږ له دې ظالمانو سره مه شاملوه. ۴۸- او د اعراف والا به په هغو خلکو غږ کوي چې هغوی له خپلو نښو پيژني. وايي به چې ستاسې ډله او ستاسې لويي ستاسې په کار نه شوه. ۴۹- ايا دا هغه خلک دي چې تاسې يې په هکله قسم کاوه چې دوی ته به د الله رحمت ونه رسيږي. جنت ته ننوځئ، اوس نه په تاسې کومه ويره شته او نه به تاسې خفه يئ.
۵۰- او دوزخيان به جنتياتو ته غږ کوي چې په موږ لږ اوبه را واچوئ له هغه څه چې الله تاسې ته د خوراک لپاره درکړي دي. هغوی به وايي چې الله دا دواړه شيان په منکرينو حرام کړي دي. ۵۱- هغوی چې خپل دين يې لوبې ټوکې کړې وې او هغوی چې د دنيا ژوند په تېروتنه کې اچولي وو. نو نن به موږ هغوی هېر کړو، هغسې لکه څنګه چې هغوی خپل د هغې ورځې ملاقات هېر کړی او لکه څنګه چې هغوی زموږ له نښو انکار کاوه.
۵۲- او موږ هغو خلکو ته داسې کتاب ور ليږلی چې موږ د علم په بنسټ مفصل کړی او چا چې ايمان راوړی هغوی ته مو هدايت او رحمت (ګرځولی). ۵۳- ايا اوس هغوی دې ته په تمه دي چې د دې مضمون واضح شي. په کومه ورځ يې چې مضمون واضح شي، نو کومو خلکو چې تر دې پخوا هېر کړی و، هغوی به ووايي چې بېشکه زموږ د رب پيغمبرانو حق راوړی و. نو ايا اوس کوم شفاعت کوونکی شته چې زموږ شفاعت وکړي يا موږ بېرته هغه ځای ته ولېږي، چې موږ هلته تر هغې مختلف عمل وکړو چې مو مخکې کاوه. هغوی خپل ځان په تاوان کې اچولی او څه يې چې زړونو کې پټول هغه ترې هېر شوي.

۵۴- بېشکه ستاسې رب هغه الله دی چې آسمانونه او ځمکه یې په شپږو ورځو کې پیدا کړل. بیا په عرش متمکن شو. هغه شپه په ورځې راوړي او ورځ ورپسې په منډه راځي. هغه لمر، سپوږمۍ او ستوري پیدا کړي او ټول د هغه د حکم تابع دي. یاد ساتئ، پیدا کول او حکم کول د هغه کار دی. هغه د برکت خاوند دی چې د ټول جهان رب دی. ۵۵- خپل رب په زارۍ ښکاره او پټ یادوئ. یقیناً هغه له حده وتونکي نه خوښوي.
۵۶- او د هغه له اصلاح وروسته په ځمکه فساد مه کوئ. هغه په وېره او هیله را وبولئ. یقیناً د هغه رحمت نېکو خلکو ته نږدې دی.
۵۷- او هغه الله دی چې هواګانې له خپل رحمت مخکې د زېرې په توګه لېږي. بیا چې هغه ګڼې وریځې را پورته کوي، موږ هغه د یوه وچ وطن لور ته لېږو. بیا موږ د هغه په وسیله را ښکته کوو. بیا د هغو (اوبو) په وسیله هر ډول مېوې را شنې کوو. په دې ډول موږ مړي را وباسوو چې تاسې غور وکړئ. ۵۸- او کومې ځمکې چې ښې دي د هغه پیداوار د هغه د رب په حکم راوځي، او کومې ځمکې چې خرابې وي، د هغه پیداوار لږ وي. په دې توګه موږ خپلې نښې مختلفو اړخونو کې ښیو د هغو لپاره چې شکر کوي.
۵۹- موږ نوح د هغه د قوم طرف ته ولېږه. نوح وویل ای زما قومه، د الله عبادت وکړئ. له هغه بغیر ستاسې بل معبود نشته. زه په تاسې د یوې لویې ورځې له عذابه وېرېږم. ۶۰- د هغه د قوم مشرانو وویل موږ ته خو داسې ښکاري ته په یوه ښکاره ګمراهۍ اخته یې. ۶۱- نوح وویل ای زما قومه، په ما کې ګمراهي نشته، بلکې زه د ټول عالم د پروردګار (له اړخه) را استول شوی یم. ۶۲- تاسې ته د خپل رب پیغامونه در رسوم او ستاسې خیرخواهي کوم. او زه د الله له طرفه په هغه خبره پوهېږم چې تاسې پرې نه پوهېږئ. ۶۳- ایا تاسې په دې حیران یئ چې ستاسې د رب

نصیحت تاسې ته ستاسې د ډلې د یوه کس په وسیله راغی چې تاسې ووېروي چې وساتل شئ او رحم در باندې وشي. ۶۴- نو هغوی هغه دروغ وباله. بیا موږ نوح وساته او هغه خلک هم چې ورسره په کښتۍ کې وو او موږ هغه خلک ډوب کړل چې زموږ نښې یې دروغ بللې وې. بېشکه هغه خلک ړانده وو.
۶۵- او عاد ته موږ د هغه ورور هود ور ولېږه. هغه وویل ای زما قومه، د الله عبادت وکړئ، له هغه بغیر ستاسې هېڅ معبود نشته. نو تاسې نه وېرېږئ. ۶۶- د هغه د قوم مشرانو چې انکار کاوه، ویې ویل، موږ خو تا په بې عقلۍ اخته وینوو او موږ داسې ګمان کوو چې ته دروغجن یې. ۶۷- هود وویل چې ای زما قومه، په ما کې بې عقلي نشته، بلکې زه د ټول عالم د رب رسول یم. ۶۸- تاسې ته د خپل رب پیغامونه در رسوم، ستاسې خیرخواه او امین یم. ۶۹- ایا تاسې په دې حیران یئ چې تاسې ته ستاسې له منځه د یوه کس په وسیله، ستاسې د رب نصیحت راغی چې هغه تاسې ووېروي. او یاد کړئ چې کله هغه د نوح له قوم وروسته تاسې د هغه ځای ناستي (جانشین) کړئ او ستاسې بدنونه یې قوي کړل، نو د الله نعمتونه یاد کړئ چې کامیابي ومومئ.
۷۰- د هود قوم وویل، ایا ته موږ ته د دې لپاره راغلی یې چې موږ یوازې د الله عبادت وکړو او هغو پرېږدو چې زموږ پلار نیکه یې عبادت کاوه. نو ته چې د کوم عذاب خبرداری راکوې، که رښتینی یې هغه راوړه. ۷۱- هود وویل، ایا په تاسې ستاسې د رب له طرفه عذاب او غضب نازل شوی دی. ایا تاسې ماسره په هغو نومونو جنګېږئ چې ستاسې پلرونو او نیکونو ایښي دي. هغه چې الله یې هېڅ سند نه دی نازل کړی. نو په تمه شئ، زه هم تاسې سره په تمه ناستو کې یم. ۷۲- بیا موږ

هغه او د هغه ملګري په خپل رحمت وساتل او د هغو خلکو ريښې مو پرې کړې چې زموږ نښې يې دروغ بللې او نه يې منلې.
۷۳- او ثمود ته مو د هغوی ورور صالح ولیږه. هغه وویل ای زما قومه، د الله عبادت وکړئ، له هغه بغیر ستاسې هېڅ معبود نشته. تاسې ته ستاسې د رب له طرفه یوه ښکاره نښه راغلې ده. دا د الله اوښه تاسې ته د یوې نښې په توګه ده. نو هغه پرېږدئ چې د الله په ځمکه خوراک وکړي. او هغه ته کوم تاوان ونه رسوئ، ګني تاسې به یو له درده ډک عذاب ونیسي.
۷۴- او یاد کړئ چې الله له عاد وروسته تاسې د هغوی ځایناستي (جانشین) کړئ او تاسې ته یې په ځمکه استوګنځای درکړ. تاسې د هغه په میدانونو کې ماڼۍ جوړوئ او غرونه توږئ او کورونه جوړوئ. نو د الله نعمتونه یاد کړئ او په ځمکه فساد مه خپروئ.
۷۵- د هغه د قوم مشرانو چې کبر یې وکړ، هغو مومنانو ته یې وویل چې ناتوان ګڼل کېده، ایا تاسې باور لرئ چې صالح د خپل رب له طرفه را لیږل شوی. هغوی وویل موږ خو په هغه څه ایمان راوړی چې ده راوړي دي. ۷۶- هغو کبرجنو خلکو وویل چې موږ خو له هغه څه منکر یوو چې تاسې پرې ایمان راوړی دی. ۷۷- بیا هغوی اوښه حلاله کړه او د خپل رب له حکم یې مخ واړوه. او هغوی وویل، ای صالح، که ته پېغمبر یې نو هغه عذاب راوړه چې موږ دې ترې وېرولو. ۷۸- بیا هغوی زلزلې را ونیول او په خپل کور کې پړمخې پراته پاتې شول. ۷۹- او صالح په دې وینا د هغوی له کلي را ووت چې ای زما قومه، ما تاسې ته د خپل رب پیغام در ورساوه او ما ستاسې خیر وغوښت، خو تاسې خیرخواهان نه خوښوئ.
۸۰- او موږ لوط ولیږه. کله چې هغه خپل قوم ته وویل، ایا تاسې د ښکاره بې حیایۍ کار کوئ چې له تاسې مخکې په دنیا کې هېچا نه دی کړی.

۸۱- تاسي ښځې پرېږدئ او په سړيو خپل خواهش پوره کوئ. بلکې تاسي له حده اوښتونکي خلک يئ. ۸۲- خو د هغه د قوم ځواب ورته له دې بغير بل څه نه و چې دا له خپل کلي وباسئ. دا خلک ځان ډېر پاک پاک کوي. ۸۳- بيا موږ لوط او د هغه کورنۍ وساتل، د هغه له مېرمنې بغير چې په وروسته پاتې کېدونکو کې شوه. ۸۴- او موږ په هغوی د تيږو باران ووراوه، بيا وګورئ چې د مجرمانو انجام څنګه شو.
۸۵- او مدين ته موږ د هغوی ورور شعيب ولېږه. هغه وويل ای زما قومه، د الله عبادت وکړئ، له هغه بغير ستاسي هېڅ معبود نشته. تاسې ته ستاسي د رب له طرفه دليل راغلی دی. نو ناپ او تول پوره کوئ. او خلکو ته د هغو څيزونه لږ مه ورکوئ. او د دې له اصلاح وروسته په ځمکه فساد مه خپروئ. دا ستاسي لپاره غوره ده که تاسې مومنان يئ.
۸۶- او په لاره (د دې لپاره) مه کېنئ چې څوک ووېروئ د الله له لارو او منع کړئ هغه خلک چې ايمان يې پرې راوړی او د هغه په لاره کې کوږوالی ولټوئ. او ياد کړئ چې تاسي ډېر لږ وئ، بيا تاسې ډېر کړی شوئ. او وګورئ چې د فساد کونکو انجام څه شو. ۸۷- او که په تاسې کې يوې ډلې په هغه څه ايمان راوړی چې ما راوړی او يوې ډلې ايمان نه دی راوړی، نو په تمه شئ تر هغې چې الله ستاسې ترمنځ فيصله وکړي او هغه غوره فيصله کونکی دی.
* ۸۸- د قوم لويو متکبرانو وويل چې ای شعيبه موږ به تا او هغو چې په تا يې ايمان راوړی له خپل کلي وباسو، يا بېرته زموږ ملت ته راشه. شعيب وويل، که چېرې موږ دا کار خوښ نه کړو بيا هم. ۸۹- موږ په الله دروغ تپونکي شوو که چېرې موږ له هغې وروسته بيا هم ستاسې ملت ته درشو چې الله ترې موږ ساتلي يوو. او موږ ته دا ممکنه نه ده چې هغه ملت ته بېرته ستانه شوو، مګر که چېرې زموږ رب الله داسې

وغواړي. زموږ رب هر څه په خپل علم کې راوستي دي. موږ په خپل رب توکل کړی دی. ای زموږ ربه، زموږ او زموږ د قوم ترمنځ حق فیصله وکړه، ته غوره فیصله کونکی یې. ۹۰- او په هغه قوم کې چې کومو مشرانو انکار کړی و، ویې ویل، که تاسې د شعیب پیروي وکړئ، نو برباد به شئ. ۹۱- بیا هغوی زلزلې ونیول. نو هغوی په خپلو کورونو کې پړمخې پراته پاتې شول. ۹۲- چا چې شعیب دروغجن بللی و، داسې شوو لکه په دې کلي کې چې بیخي اوسېدل نه. چا چې شعیب دروغجن بللی و، هغوی په تاوان کې پاتې شول. ۹۳- شعیب له هغوی مخ واړوه، لاړ او ویې ویل، ای زما قومه، ما تاسې ته د خپل رب پیغامونه در ورسول، او ستاسې خیرخواهي مې وکړه. اوس په منکرانو څه افسوس وکړم.

۹۴- او موږ چې هر کلي ته هر نبي ولیږه، د هغه (ځای) خلک موږ په سختیو اخته کړل چې زاری وکړي. ۹۵- بیا موږ خفګان په سوکالۍ بدل کړ تر دې چې هغوی ښه پرمختګ وکړ او ویې ویل چې تکلیف او خوښي خو زموږ پلار نیکونو ته هم رسېدلې. بیا موږ هغوی ناڅاپه ونیول او هغوی د دې ګمان هم نه کاوه. ۹۶- او که د کلي خلکو ایمان راوړی وای او وېرېدلي وای، نو موږ به په هغوی د آسمان او ځمکې نعمتونه پرانیستي وای. خو هغوی دروغ وبلل، نو موږ هغوی د خپلو اعمالو په بدل کې ونیول. ۹۷- بیا ایا د کلي خلکو سره دا وېره نه وه چې په هغوی زموږ د عذاب د شپې په داسې حال کې راشي چې هغوی به ویده وي. ۹۸ یا د کلي خلکو سره دا وېره نه وه چې زموږ عذاب پرې په هغه ورځ راشي چې هغوی په لوبو اخته وي. ۹۹- ایا دې خلکو سره د الله د تدبیرونو وېره ختمه شوې وه. نو د الله له تدبیرونو هغه خلک بې وېرې کیږي چې تباه کېدونکي وي.

۱۰۰- ایا څوک چې د ځمکې وارثان شوي، دوی د دې (ځمکې) له تېرو استوګنو سبق نه دی اخیستی چې که موږ وغواړو، هغوی په خپلو ګناهونو کې نیولای شوو. او موږ د هغوی په زړونو مهر کړی، نو هغوی نه پوهېږي. ۱۰۱- دا هغه کلي دي چې ځینې حالات یې موږ تاته وایوو. هغوی ته زموږ رسولانو ښې یوړلې، خو هېڅکله داسې ونه شوه چې هغوی په هغه خبره ایمان راوړي چې مخکې یې دروغ بللې وه. په دې توګه الله د منکرینو په زړونو مهر کوي. ۱۰۲- او موږ په هغوی کې زیاتره خلک وعده ماتونکي ولیدل او په هغوی کې زیاتره نافرمانه وموندل.
۱۰۳- بیا له هغې وروسته موږ موسی له خپلو نښو سره فرعون او د هغه د قوم مشرانو ته واستوه، خو هغوی زموږ له نښو سره ظلم وکړ. نو وګوره چې د مفسدینو انجام څه شو. ۱۰۴- او موسی وویل ای فرعونه، زه د عالم د پرودګار له اړخه را لیږل شوی یم. ۱۰۵- او دا حق لرم چې د الله په نوم له حق بغیر بله خبره ونه کړم. ما تاته ستا د رب له طرفه ښکاره نښې راوړې دي. نو ماسره بني اسرائیل تللو ته پرېږده. ۱۰۶- فرعوون وویل، که تا کومه نښه راوړې وي او رښتینی یې، نو وړاندې یې کړه. ۱۰۷- بیا موسی خپله امساء وغورځوله او له هغه سمدستي صفا ښامار جوړ شو. ۱۰۸- او هغه خپل لاس را وویست، نو هغه ناڅاپه د لیدونکو مخې ته وځلېده. ۱۰۹- د فرعون د قوم مشرانو وویل چې دا سړی ډېر تکړه جادوګر دی. ۱۱۰ هغه غواړي چې تا ستا له ځمکې وباسي. ۱۱۱- او ستا څه مشوره ده. هغو وویل موسی او د ده ورور ته مهلت ورکړه او ټول ښار ته جارچیان (نغارهچیان) ولېږه. ۱۱۲- هغوی به تاته ټول تکړه جاودګر راوړي.

۱۱۳- او جادوګران فرعون ته راغلل. هغوی ویل چې که موږ بریالي شوو، نو انعام به حتماً راکول کیږي. ۱۱۴- فرعون ویل، هو او یقیناً تاسې به زموږ په نږدې کسانو کې شامل شئ. ۱۱۵- جادوګرو وویل، یا یې ته وغورځوه یا یې موږ غورځوو. ۱۱۶- موسی وویل، تاسې یې وغورځوئ. بیا چې هغوی وغورځول نو د خلکو په سترګو یې جادې وکړې او په هغوی یې وېره خپره کړه او ډېره لویه دوکه یې ورته وړاندې کړله. ۱۱۷- موږ موسی ته حکم ولیږه چې خپله امساء وغورځوه. نو هغې ناڅاپه هغه ټول وخوړل چې هغوی غورځولي وو. ۱۱۸- نو حق ښکاره شو او هغوی چې څه ویلي وو، هغه ټول باطل شول. ۱۱۹- نو هغو خلکو همالته وبایلله او ذلیل شول. ۱۲۰- او جادوګر په سجده پرېوتل. ۱۲۱- هغوی وویل موږ په رب العالمین ایمان راوړ. ۱۲۲- چې د موسی او هارون رب دی.

۱۲۳- فرعون وویل، تاسې زما له اجازې بغیر په موسی ایمان راوړ. یقیناً دا یو سازش دی او تاسې په ښار کې په دې خاطر کړی چې اوسېدونکي یې له دې ځایه وباسئ، نو تاسې به زر پوه شئ. ۱۲۴- زه به ستاسې پښې او لاسونه په مخالفو اړخونو پرې کړم، بیا به تاسې ټول په دار وځړوم. ۱۲۵- هغوی وویل، موږ به خپل رب ته ور ستنیږو. ۱۲۶- ته یوازې موږ ته د دې خبرې جزا راکوی چې موږ ته د خپل رب نښې ښکاره شوې، نو موږ پرې ایمان راوړ. ای ربه، موږ ته صبر راکړه او موږ ته په اسلام (کې) وفات راکړه.

۱۲۷- د فرعون د قوم مشرانو وویل، ایا ته موسی او د هغه قوم پرېږدې چې په وطن کې فساد خپور کړي او تا او ستا معبودان پرېږدي. فرعون وویل چې موږ به د هغوی زامن ووژنو او د هغوی ښځې به ژوندۍ وساتوو. او موږ په هغوی پوره قادر یوو. ۱۲۸- موسی خپل قوم ته وویل

چې له الله مرسته وغواړئ او صبر وکړئ. ځمکه د الله ده، هغه چې په خپلو بندهګانو کې ځوک وغواړي هغه يې (د ځمکې) وارث کوي. او آخره کې کاميابي د هغوی ده چې له الله وېرېږي. ۱۲۹- د موسی قوم وويل، موږ ستا له راتللو مخکې هم ځورول شوو او ستا له راتللو وروسته هم. موسی وويل، نږدې ده چې ستاسې رب ستاسې دښمن هلاک کړي او د هغه په ځای تاسې د هغوی د وطن خاوندان کړي، بيا وګوري چې تاسې څنګه عمل کوئ.
۱۳۰- او موږ د فرعون خلک په قحط او د پيداوار په کمي اخته کړل چې دا ورته نصيحت وي.- ۱۳۱- خو کله به چې په هغوی سوکالي راغله ويل به يې چې دا زموږ لپاره ده او کله به چې پرې کوم آفت راغی نو موسی او د هغه ملګري به يې سپېره بلل. واورئ، د هغوی بدبختي خو له الله سره ده، خو په هغوی کې ډېر نه پوهېږي. ۱۳۲- او هغوی موسی ته وويل، په موږ د جادو کولو لپاره که ته هره نښه راوړې، موږ په تا ايمان نه راوړو.
۱۳۳- بيا موږ په هغوی طوفان، او ملخان او سپږې او چونګښې (چيندخې) او وينه ور ښکته کړل. دا هره نښه جدا جلا وښودل شوه. بيا هم هغوی کبر وکړ، هغوی مجرمان وو. ۱۳۴- او په هغوی به چې کوم عذاب راغی نو ويل به يې چې ای موسی، خپل رب ته زموږ لپاره دعا وکړه چې تا يې وعده کړې ده. که ته له موږه دا عذاب لرې کړې، نو موږ به حتماً په تا ايمان راوړو او له تا سره به بني اسرائيل تللو ته پرېږدو. ۱۳۵- بيا به چې موږ له هغوی تاکلي وخت ته رسېدو نه وروسته عذاب لرې کړ، نو هغوی به وعده ماته کړله.
۱۳۶- بيا موږ هغوی ته جزا ورکړله او هغوی مو په سمندر کې ډوب کړل، ځکه هغوی زموږ نښې دروغ بللې وې او له هغو بې پروا شوي

وو. ۱۳۷- او کوم خلک چې کمزوري بلل کېدل، هغوی موږ د هغه وطن د ختیځ او لویدیځ وارثان کړل چې موږ پرې برکت ایښی و. او بني اسرائیلو لپاره ستا د رب نېکه وعده پوره شوه، ځکه چې هغوی صبر وکړ او د فرعون او د هغه قوم ټول هغه شیان برباد کړل چې هغوی جوړول او ودرول.
۱۳۸- او موږ بني اسرائیل له سمندره پورې ویستل. تر دې چې هغوی (په لاره) داسې یوه قوم ته ورسېدل چې د بوتانو په عبادت اخته وو. هغوی وویل ای موسی، زموږ د عبادت لپاره هم یو بوت جوړ کړه، لکه د دوی بوت چې دی. موسی وویل، تاسې ډېر جاهله خلک یئ. ۱۳۹- دا خلک چې په کوم کار اخته دي، تباه کېدونکي دي او دوی چې څه کوي هغه ټول باطل دي. ۱۴۰- هغه وویل، ایا زه تاسې ته له الله بغیر بل معبود ولټوم، سره د دې چې هغه تاسې ته د ټولې دنیا په خلکو فضیلت درکړی دی. ۱۴۱- او کله چې موږ تاسې د فرعون له خلکو وساتلئ، چې تاسې یې په سخت عذاب ککړ کړي وئ، ستاسې بچي یې وژل او ستاسې ښځې یې ژوندۍ پرېښودې او په هغه کې ستاسې د رب له طرفه تاسې ته لوی امتحان و.
۱۴۲- او موږ موسی سره د دېرشو شپو وعده وکړله او هغه مو په لسو نورو شپو کې پوره کړه، نو د هغه د رب موده په څلوېښتو شپو کې پوره شوه. او موسی خپل ورور هارون ته وویل، له ما وروسته ته زما په قوم کې زما ځای ناستی (جانشین) شه، اصلاح کوه او د وراني پیدا کونکو په لاره مه ځه. ۱۴۳- او کله چې موسی زموږ په وخت راغی او د هغه رب ورسره کلام وکړ، نو هغه وویل، ماته ځان وښیه چې زه دې وګورم. ویې فرمایل، ته ما هېڅکله نه شې لیدلی. البته غر ته وکوره، که هغه په خپل ځای پاتې شو، نو ته هم ما لیدلی شې. بیا چې کله رب په غره خپل

تجلي واچوله نو هغه يې ذره ذره کړ. او موسی بې هوشه ولوېده. بیا چې په سد شو نو ویې ویل، ته پاک يې، ما تاته رجوع وکړله او زه تر ټولو لومړی ایمان راوړونکی یم.
۱۴۴- الله وفرمایل، ای موسی، ماته په خلکو کې د خپلې پېغمبرۍ او خپل کلام په وسیله سرلوړی کړې. نو اوس واخله څه مې چې در عطا کړي دي. او په شکرګزارو کې راشه. ۱۴۵- او موږ هغه ته په کتېبو هر ډول نصیحت او د هر څه تفصیل ولیکه. دا قوي ونیسه او خپل قوم ته حکم وکړه چې د دې غوره مفهوم پیروي وکړي. ډېر زر به تاته د نافرمانو کورونه در وښییم.
۱۴۶- زه به له خپلو نښو هغه خلک واړوم چې په ځمکه ناحقه کبر کوي. که هغوی هر ډول نښې ووینې بیا به هم پرې ایمان نه راوړي. که هغوی د هدایت لاره وګوري نه به پرې ځي او که د ګمراهۍ لاره وګوري په هغې به ځي. دا ځکه چې هغوی زموږ نښې دروغ بللي او ځان يې پرې غافل کړی. ۱۴۷- او چا چې زموږ نښې او د آخرت ملاقات دروغ بللی، د هغوی اعمال ضایع شول او په بدل کې به هغه څه اخلي چې هغوی کول.
۱۴۸- او د موسی قوم د هغه په نشتون کې له خپلو ګاڼو (زیوراتو) یوه خوسی جوړ کړ. یوه تنه چې د غوايي غوندې غږ ترې راوته. ایا هغوی نه لیدل چې هغه (خوسی) نه دوی ته څه ویل او نه يې کومه لاره ښودله. هغوی دا خپل معبود کړ او ډېر ظالمان وو. ۱۴۹- بیا چې هغوی پښېمانه شول او دا يې احساس کړله چې په ناپوهۍ کې دي، نو ویې ویل، که زموږ رب په موږ رحم ونه کړ او موږ يې ونه بښلو، نو موږ به یقیناً برباد شوو. ۱۵۰- او کله چې موسی خفه او غوسه خپل قوم ته را ستون شو، نو ویې ویل، تاسې له ما وروسته ډېر بد ځای ناستی (جانشین)

وټاکه. ایا تاسې د خپل رب له حکم مخکې تادي وکړله. او هغه کتیبې
واچولې او د خپل ورور وېښته یې ونیول او ځان ته یې را کاږه. هارون
وویل، ای زما د مور زویه، دې خلکو په ما زور وکړو او نږدې یې
وژلی وم. نو ته دښمنانو ته دا موقع مه ورکوه چې ما پورې وخاندي او
ما په ظالمانو کې مه شاملوه. ۱۵۱- موسی وویل، ای زما ربه ما او زما
ورور وبښه او موږ په خپل رحمت کې داخل کړه او ته تر ټولو لوی
رحم لرونکی یې.
۱۵۲- بېشکه کومو خلکو چې خوسی معبود کړی و، هغوی ته به د
هغوی د رب غوسه او د دنیا په ژوند کې ذلت ور ورسېږي. او څوک
چې دروغ تور پورې کوي موږ داسې جزا ورکوو. ۱۵۳- او کومو خلکو
چې بد کارونه وکړل او بیا یې له هغې وروسته توبه وویسته او ایمان یې
راوړ، نو بېشکه له هغه وروسته ستا رب ښنونکی او مهربان دی.
۱۵۴- او کله چې د موسی غوسه سړه شوه هغه کتیبې را واخیستې، په
هغو کې هدایت او رحمت و، د هغو خلکو لپاره چې له خپل رب نه
وېرېدل. ۱۵۵- او موسی زموږ د ټاکلي وخت لپاره اویا[۷۰] تنه سړي
وټاکل، بیا چې هغوی زلزلې ونیول، نو موسی وویل، ای زما ربه، که تا
غوښتی نو دوی به دې مخکې هلاک کړي وای او زه هم. ایا ته موږ په
هغه کار هلاکوې چې په موږ کې ناپوهانو کړی دی. دا ټول ستا امتحان
دی، ته چې په دې څوک وغواړې ګمراه کوې یې او څوک چې وغواړې
هدایت ورته کوې. ته زموږ ساتونکی یې. نو ته موږ وبښه او په موږ
رحم وکړه، ته تر ټولو غوره ښنونکی یې. ۱۵۶- او موږ ته په دې دنیا
کې هم ښېګڼه ولیکه او په آخرت کې هم. موږ تاته رجوع وکړه. الله
وویل، زه خپل عذاب په هغو اچوم په چا یې چې زه غواړم او زما په

رحمت کې ټول شیان شامل دي. نو زه به دا هغو ته لیکم چې وېرېږي او زکات ورکوي او زموږ په نښو ایمان راوړي.
۱۵۷- څوک چې د دې رسول پیروي کوي چې نبي او امي دی، هغه چې په تورات او انجیل کې یې لیکلی مومي. هغه دوی ته د نیکۍ حکم کوي او دوی له بدۍ منع کوي او دوی ته پاک شیان جایز کوي او ناپاکه شیان حراموي او له هغوی هغه پېټي او قیدونه ښکته کوي چې په دوی (وضع) وو. نو څا چې په ده ایمان راوړ او څا چې د ده عزت وکړ، ده سره یې مرسته وکړله او د هغه رڼا پیروي یې ورکړله چې ده سره نازله شوې ده، نو هماغه خلک په کامیابانو کې دي.
۱۵۸- ووایه، ای خلکو، بېشکه زه د الله رسول یم، تاسې ټولو ته د هغه څا له اړخه چې په آسمانونو او ځمکه یې پاچاهي ده. او هماغه پیدا کول او وژل کوي. نو په الله او د هغه په امی رسول او نبي ایمان راوړئ چې ایمان لري په الله او د هغه په کلماتو او د هغه پیروي وکړئ چې هدایت ومومئ. ۱۵۹- او د موسی په قوم کې یوه ډله داسې هم ده چې د حق مطابق لارښوونه کوي او د هغه مطابق عدل کوي.
۱۶۰- او موږ هغوی په دولس کورنیو ووېشل او هر یو مو جدا جلا ډله کړه. او کله چې د موسی قوم اوبه وغوښتلې، نو موږ موسی ته حکم ولېږه چې په فلانۍ تیږه خپله امسا ووهه، نو له هغې دولس چینې را ووتې. هرې ډلې د خپلو اوبو څښلو ځای (ګودر) معلوم کړ. او موږ په هغوی د وریځو سیوری وکړ او من و سلوی مو نازل کړل. له هغو پاکو شیانو وخورئ چې موږ تاسې ته درکړي. او هغوی زموږ هېڅ ونه کړل، بلکې خپل ځان ته یې تاوان رساوه. ۱۶۱- او کله چې هغوی ته وویل شول چې هغه کلي ته لاړ شئ او په کې مېشت شئ. له هغه څه چې څه غواړئ وخورئ او ووایئ چې موږ وبښه او په دروازو ټیټ سر ننوځئ،

موږ به ستاسې ګناهونه وبښو. موږ نېکي کونکو ته لا ډېر (اجر) ورکوو.
۱۶۲- بیا په هغوی کې ظالمانو هغه خبره بدله کړله چې ورته شوې وه.
بیا موږ په هغوی له آسمانه عذاب نازل کړ، ځکه چې هغوی ظلم کاوه.
۱۶۳- او د دې کلي پوښتنه له هغو وکړه چې د سیند په غاړه وو. کله چې هغوی د سبت په هکله تجاوز کاوه. کله چې د هغوی د سبت په ورځې د هغوی ماهیان (کبان) د اوبو سر ته راتلل او کله چې به سبت نه و، نو نه به راتلل. هغوی موږ په دې توګه امتحان کړل، په دې خاطر چې نافرماني یې کوله. ۱۶۴- او بیا چې په هغوی کې یوې ډلې وویل چې تاسې داسې خلکو ته ولې نصیحت کوئ چې الله یې هلاکوي یا سخت عذاب ورکوي. هغوی وویل، ستاسې رب ته د عذر وړاندې کولو لپاره او د دې لپاره چې هغوی شاید ووېرېږي.
۱۶۵- بیا چې هغوی هغه څه هېر کړل چې ورته ور یاد شوي وو، نو موږ هغه خلک وساتل چې له بدو یې منع کوله او کومو خلکو چې په ځان ظلم کړی و، هغوی مو په سخت عذاب کې ونیول. په دې خاطر چې هغوی نافرماني کوله. ۱۶۶- بیا چې هغوی په هغه کار کې مخ ته تلل چې ترې منع شوي وو، نو موږ هغوی ته وویل چې ذلیلې بیزوګانې شئ.
۱۶۷- او کله چې ستا رب اعلان وکړ چې هغه به په یهودو د قیامت تر ورځ داسې کسان ودروي چې دوی ته به نهایت بد عذاب ورکوي بېشکه ستا رب زر جزا ورکونکی او بېشکه هغه بښونکی او مهربان دی. ۱۶۸- او موږ هغوی ډلې ډلې په ځمکه خواره کړل. په هغوی کې ځینې نېکان دي او ځینې تر دوی بدل. او موږ هغوی په ښو او بدو حالاتو وازمایل چې منع شي.

۱۶۹- بیا په هغوی پسې وروسته ناخلفه خلک راغلل چې د کتاب وارثان شول، هغوی د دې دنیا متاع اخیستله او ویل یې چې موږ به حتماً ښنل کیږو. او که همداسې متاع بیا مخې ته ورشي، دوی به یې بیا واخلي. ایا له هغوی په کتاب کې دا وعده نه ده اخیستل شوې چې هغوی به د الله په نوم له حق بغیر بله خبره نه کوي. او هغوی هغه څه لوستل شوي چې په (کتاب) کې لیکل شوي دي. او د آخرت کور وېرېدونکو ته غوره دی، ایا تاسې نه پوهېږئ. ۱۷۰- او څوک چې د الله کتاب کلک ونیسي او لمونځ کوي، بېشکه موږ به د مصلحینو اجر ضایع نه کړو. ۱۷۱- او موږ چې کله په هغوی غر را پورته کړ، ګویا چې چتر (سایبان) دی او هغوی داسې وګڼل چې په هغوی به را پرې وځي. هغه څه کلک ونیسئ چې موږ تاسې ته درکړي او په دې کې چې څه دي هغه یاد وساتئ چې وساتل شئ.
۱۷۲- او بیا چې ستاسې رب د آدم له ملا د هغه اولاد را وویست هغوی یې په خپل ځان ګواهان کړل. ایا زه ستاسې رب نه یم. هغوی وویل موږ اقرار کوو چې یې. دا په دې خاطر وشول چې تاسې د قیامت په ورځ دا ونه وایئ چې موږ په دې خبر نه وو. ۱۷۳- یا وواییئ چې زموږ پلار نیکه له مخکې شرک کړی و او موږ له هغوی وروسته د هغه په نسل کې شوو. نو ایا ته موږ په هغه کار هلاکوې چې دروغجنو کړی و. ۱۷۴- او داسې موږ خپلې نښې ښکاره بیانوو چې هغوی رجوع وکړي. ۱۷۵- او هغوی ته د هغه کس حالات بیان کړه چې موږ ورته خپل آیتونه ورکړي وو او هغه ترې وتښتېده. نو شیطان ورپسې شو او هغه په ګمراهانو کې راغی. ۱۷۶- او که موږ غوښتی وای هغه ته مو د آیتونو په مرسته غوراوی ورکاوه، خو هغه د ځمکې شو او د خپلو خواهشاتو پیروي یې وکړله. نو د هغه مثال د سپي دی چې که بوج پرې راوړې هم

غاپي او كه يې پرېږدې هم غاپي. دا مثال د هغو خلكو دى چې زموږ نښې يې دروغ بللي. نو ورته دا احوال بيان كړه چې هغوى فكر وكړي.
۱۷۷- د هغو خلكو څومره بد مثال دى چې زموږ نښې دروغ بولي او خپل تاوان كوي. ۱۷۸- او الله چې چاته لار وښيي، هماغه لار موندونكى كېږي او هغه چې څوك بې لارې كړي، هماغه تاوانكونكي دي.
۱۷۹- او موږ په جناتو او انسانانو كې ډېر د دوزخ لپاره پيدا كړي دي. د هغوى زړونه شته خو پوهېږي نه، سترګې شته خو پرې ګوري نه، غوږونه يې شته خو پرې اوري نه. هغوى داسې دي لكه څناور بلكې له هغوى هم ګمراه. همدا خلك غافل دي. ۱۸۰- او ټول ښه نومونه الله لره دي. نو په دې (نومونو) هغه را بوله او هغه خلك پرېږده چې په دې نومونو كې كج روي كوي. هغوى به د خپلو كارونو بدله اخلي. ۱۸۱- او موږ پيريان پيدا كړي، په هغوى كې يوه ډله داسې ده چې د حق مطابق لارښوونه كوي او د حق مطابق فيصله كوي. ۱۸۲- او كومو خلكو چې زموږ نښې دروغ بللي، موږ به هغوى ورو ورو ونيسو، په داسې ځاى كې چې هغوى به خبر هم نه وي. ۱۸۳- او زه هغوى ته وخت (فرصت) وركوم او زما تدبير ډېر قوي دى.
۱۸۴- ايا هغوى خلكو فكر نه دى كړى چې د هغوى ملګرى جنون نه لري، هغه يو پاك وېرونكى دى. ۱۸۵- ايا هغوى د آسمانونو او ځمكې نظام ته پام نه دى كړى او هغه څيزونه چې الله پيدا كړي، او دې خبرې ته چې د هغوى موده را نږدې شوې وي. له دې وروسته به هغوى په كومه خبره ايمان راوړي. ۱۸۶- څوك چې الله بې لارې كړي، هغه ته هېڅوك لار نه شي ښودلى. او هغه دوى په سركشۍ كې سرګردانه پرېږدي. ۱۸۷- هغوى له تا د قيامت په هكله پوښتي چې كله به راځي. ووايه د دې علم زما له رب سره دى. هغه به يې په خپل وخت واضح

کړي. هغه په آسمانونو او ځمکه درنېږي. هر وخت چې په تاسې راځي، نو ناڅاپه به راځي. هغوی له تا پوښتي چې ګویا تا د دې تحقیق کړی دی. ووایه د دې علم یوازې له الله سره دی، خو زیاتره خلک نه پوهېږي.
۱۸۸- ووایه، زه د خپل ځان د ښې او بدې مالک نه یم، مګر څه چې الله غواړي. او که زه په غیبو پوهېدی نو ځان ته به مې ډېرې ګټې کړې وای او ماته به هېڅ تاوان نه رسېدلای. زه یوازې یو وېروونکی او زېری ورکونکی یم د هغو خلکو لپاره چې زما خبره مني.
۱۸۹- هماغه دی چې تاسې یې له یوه ځانه پیدا کړئ او له هماغه یې د هغه جوړه پیدا کړې چې تاسې ورسره آرامتیا ومومئ. بیا چې هغه (سړي) کله هغه (ښځه) را ونغاړله نو هغې سپک غوندې حمل واخیست. بیا یې هغه له ځان سره ګرځاوه. بیا چې هغه درنه شوه، نو دواړو په ګډه خپل رب ته دعا وکړله، که تا موږ ته تندرست اولاد راکړ، نو موږ به ستا شکرګزار یوو. ۱۹۰- خو کله چې الله هغوی ته تندرست اولاد ورکړ، نو هغوی د هغه (الله) په ور ببښل شوي شي کې نور خلک شریکان وګڼل. الله تر هغه مشرکانو خبرو لوړ دی چې دا خلک یې کوي. ۱۹۱- ایا هغوی داسې څه (الله سره) شریکوي چې څه نه پیدا کوي بلکې پخپله مخلوق دی. ۱۹۲- او هغوی نه له دوی سره څه مرسته کولای شي او نه له خپل ځان سره مرسته کولای شي. ۱۹۳- او که ته هغوی لارښوونې لپاره را وبولې، نو هغوی ستا په وینا نه درځي. که ته هغوی را وبولې که نه، یو شی دی. ۱۹۴- تاسې چې له الله بغیر څوک را بولئ هغه ستاسې په شان بندهګان دي. نو تاسې هغه را وبولئ، هغه دې ځواب درکړي که تاسې رښتیني یئ.
۱۹۵- ایا د هغوی پښې شته چې پرې لاړ شي. ایا د هغوی لاسونه شته چې څه پرې ونیسي. ایا د هغوی سترګې شته چې پرې ووینې. ایا د

هغوی غوږونه شته چې پرې واوري. ووایه، تاسې خپلو شریکانو ته غږ
کړئ. بیا تاسې زما په ضد تدبیرونه ونیسئ او ماته مهلت مه راکوئ.
۱۹۶- یقیناً زما کارساز الله دی چې کتاب یې نازل کړی او هغه د نېکو
بندهګانو کارسازي کوي. ۱۹۷- او تاسې چې له هغه بغیر څوک را بولئ،
هغوی نه له تاسې سره مرسته کولای شي او نه له ځان سره مرسته
کولای شي. ۱۹۸- او که ته هغوی لار ته را وبولې، هغوی به ستا خبره
وا نه وري او تاته داسې ښکاري چې هغوی تاته ګوري، خو هغوی هېڅ
نه ویني.
۱۹۹- له ښښنې کار اخله، د نېکۍ حکم کوه او له جاهلانو مخ اړوه. ۲۰۰-
او که تاته د شیطان له اړخه کومه وسوسه درشي، نو له الله پناه غواړه.
بېشکه هغه اورېدونکی او پوهېدونکی دی. ۲۰۱- څوک چې وېرېږي،
هغوی ته چې د شیطان له وجې کومه وسوسه ورشي، نو هغه وخت الله
را یاد کړي او هغه وخت پوه شي. ۲۰۲- او څوک چې د شیطان ورونه
دي، هغوی ګمراهۍ ته را ښکل کېږي او هېڅ کمی نه پرېږدي.
۲۰۳- او کله چې ته هغوی ته کومه نښه (معجزه) ونه ښیې، نو هغه
وایي چې تا له خپل اړخه هغه نښه ولې نه ده راوړې. ووایه زه یوازې د
هغه څه پیروي کوم چې په ما د خپل رب له طرفه وحې راځي. دا ستا د
رب له طرفه له پوهې ډکې خبرې دي او د هغو خلکو لپاره له هدایت او
رحمت ډکې دي چې ایمان لري. ۲۰۴- او کله چې قرآن لوستل کېږي،
نو په توجه یې واورئ چې رحمت در باندې وشي. ۲۰۵- او خپل رب
سهار او ماښام په زړه کې په عاجزۍ او وېرې او ټیټ غږ یادوه او په
غافلانو کې مه راځه. ۲۰۶- څوک (ملایکې) چې ستا له رب سره دي،

د هغه (رب) په عبادت کبر نه کوي. او هغوی هغه پاک ذات یادوي او هغه ته سجده کوي.

## سوره الانفال ۸

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- هغوی له تا د انفال (غنیمت) په هکله پوښتنه کوي. ووایه چې انفال د الله او د هغه د رسول دی. نو تاسې له الله ووېرېږئ او په خپلو کې اړیکې اصلاح کړئ او د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړئ، که ایمان لرئ.
۲- د ایمان خاوندان هغو دي چې کله د الله ذکر وشي، نو د هغوی زړونه ووېرېږي او کله چې د الله آیتونه د هغوی په مخ کې ولوستل شي، د هغوی ایمان زیاتوي او هغوی په خپل رب توکل کوي. ۳- هغوی لمونځ قایموي او څه چې موږ ورکړي، له هغه مصرف کوي. ۴- همدا خلق رښتیني مومنان دي، او هغوی لپاره د هغوی د رب سره درجې او مغفرت دی او د هغوی لپاره د عزت رزق دی.
۵- لکه څنګه چې ستا رب ته له حق سره له خپل کور نه را وویستې او په مومنانو کې یوه ډله په دې خبرې ناخوښه وه ۶- او هغوی د حق په دې معامله کې له تا سره جنګېدل سره د دې چې هغه (حق) واضح شوی و، ګویا چې هغوی مرګ ته تېله کیږي او په سترګو یې ویني. ۷- او کله چې الله تا سره وعده کوله چې په دوو ډلو کې به یوه تاته درکول شي، او تا غوښتل چې بې اغزي ډله تاته درکول شي. او الله غوښتل چې په خپلو کلماتو د حق، حقانیت ثابت کړي او منکرانو جرړې غوڅې کړي. ۸- چې حق حق پاتې شي او باطل باطل پاتې شي، که څه هم مجرمان پرې خومره ناخوښه وي.

۹- کله چې تاسې خپل رب ته فریاد کاوه، هغه ستاسې فریاد واورېده چې زه ستاسې د مرستې لپاره زر ملایکې پرله پسې درلېږم. ۱۰- دا د الله له طرفه په دې خاطر وه چې تاسې لپاره زېری وي او ستاسې زړونه پرې ډاډه شي. او مرسته یوازې د الله له طرفه راځي. یقیناً الله قوي او د حکمت خاوند دی. ۱۱- کله چې الله ستاسې د سوکالۍ لپاره په تاسې خوب راوړ او له آسمانه یې په تاسې اوبه را ښکته کړې چې د دې په مرسته تاسې پاک کړي او له تاسې د شیطان نجاست لرې او ستاسې زړونه قوي کړي او په هغه (باران) ستاسې قدمونه قوي کړي. ۱۲- کله چې ستاسې رب ملایکو ته حکم ولېږه چې زه له تاسې سره یم، تاسې د ایمان خاوندان قوي وساتئ. زه به د منکرانو په زړونو کې رعب واچوم. نو تاسې د هغوی څټونه ووهئ او د هغوی بندونه ووهئ. ۱۳- دا په دې خاطر چې هغوی د الله او د هغه د رسول مخالفت کړی. او څوک چې د الله او د هغه د رسول مخالفت کوي، نو الله په جزا ورکولو کې سخت دی. ۱۴- دا اوس وڅکئ او پوه شئ چې د منکرانو لپاره د اور عذاب دی.
۱۵- ای د ایمان خاوندانو، کله چې د جګړې په میدان کې منکرانو سره ستاسې مقابله وي، نو له هغوی مخ مه اړوئ. ۱۶- او چا چې په داسې وخت کې مخ واړوه، نو که یې دا د جنګ تکنیک (حربه) وي او که له بل لښکر سره د یو ځای کېدو په خاطر، هغوی به د الله په غضب کې راشي او د هغوی ځای دوزخ دی او هغه ډېر بد ځای دی.
۱۷- نو هغوی تا نه دي وژلي بلکې الله وژلي. او کله چې تا په هغوی خاوره وشیندله، نو هغه تا نه ده شیندلې بلکې الله شیندلې چې الله له خپل اړخه د ایمان په خاوندانو ښه احسان وکړي. بېشکه الله اورېدونکی او پوهېدونکی دی. ۱۸- دا هغه وو چې وشول. بېشکه الله به د منکرانو ټول تدبیرونه بې ګټې کوي. ۱۹- که تاسې فیصله غوښته، نو فیصله درته

ښکاره شوه. او که تاسې را منع شئ، نو دا تاسې لپاره غوره ده. او که تاسې بیا هغسې وکړئ، نو موږ به بیا هماغه وکړو او ستاسې پره که هر څومره ډېره وي، ستاسې په هېڅ کار به را نه شي. او بېشکه الله د ایمان د خاوندانو سره دی.
۲۰- ای د ایمان خاوندانو، د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړئ او له هغه مخ مه اړوئ چې سره د دې چې تاسې یې اورئ. ۲۱- او د هغو خلکو په شان مه کېږئ چې ویل یې موږ واورېدل، حال دا چې هغوی یې نه اوري. ۲۲- یقیناً د الله په نزد تر ټولو بد ځناور هغه کاڼه او ګونګې خلک دي چې له عقل کار نه اخلي. ۲۳- او که الله په هغوی کې څه ښېګڼه لیدلای، نو هغوی ته به یې حتماً د اورېدو توفیق ورکړی وای، او که اوس یې ور واوري، نو حتماً به په بې رخۍ مخ اړوي.
۲۴- ای د ایمان خاوندانو، د الله او رسول غږ ته لبیک ووایئ، رسول تاسې هغه څه ته ور بولي چې تاسې ته ژوند درکوي. او پوه شئ چې الله د انسان او د هغه د زړه ترمنځ حایلیږي. او دا چې د هغه لور ستاسې ور ټولېدل دي. ۲۵- او له هغه فتنې ووېرېږئ چې په تاسې کې یوازې په هغو به نه نازلیږي چې ظلم یې کړی دی. او پوه شئ چې الله سخت جزا ورکونکی دی.
۲۶- او یاد کړئ چې کله تاسې لږ وئ او په ځمکه کمزوري ګڼل کېدئ. وېرېدلئ چې خلک په تاسې ناڅاپه حمله ونه کړي. بیا الله تاسې ته د اوسېدو لپاره ځای درکړ او په خپل نصرت یې تاسې تائید کړئ او تاسې ته یې پاک رزق درکړ چې شکرګزاره شئ. ۲۷- ای د ایمان خاوندانو، له الله او رسول سره خیانت مه کوئ او په خپلو امانتونو کې خیانت مه کوئ، سره د دې چې تاسې پوهېږئ. ۲۸- او پوه شئ چې ستاسې مال او

ستاسې اولاد يو امتحان دی. او دا هم پوه شئ چې لوی اجر له الله سره دی.
۲۹- ای د ايمان خاوندانو، كه تاسي له الله ووېرېږئ نو هغه به تاسې ته فرقان در ورسوي او له تاسې به ستاسې گناهونه لرې كړي او تاسې به وبښي، او الله د لوی فضل خاوند دی. ۳۰- او كله چې منكرينو ستا په هكله تدبيرونه جوړول چې تا بندي كړي يا دې ووژني يا دې جدا وطنه كړي. او هغوی خپل تدبيرونه نيول او الله خپل تدبير نيوه او الله غوره تدبير والا دی.
۳۱- او كله چې د هغوی مخ ته زموږ آيتونه لوستل كيږي، نو هغوی وايي چې موږ واورېدل، او كه موږ وغواړو نو موږ هم داسې كلام وړاندې كولای شوو. دا خو يوازې د تېرو خلكو كيسې دی. ۳۲- او كله چې هغوی وويل ای الله، كه دا ستا له اړخه حق وي، نو په موږ له آسمانه تيږې را وروه يا را باندې له درده ډک عذاب راوړه. ۳۳- الله داسې نه كوي چې هغوی ته په داسې حال كې عذاب وركړي چې ته د هغوی تر منځ يې، او الله په هغوی داسې وخت كې عذاب نه راوړي چې هغوی استغفار كوي. ۳۴- او الله به هغوی ته ولې عذاب نه وركوي چې هغوی له مسجد حرام نه (خلک) منع كوي سره د دې چې هغوی يې متوليان نه دی. د هغه (مسجد حرام) متولی يوازې له الله وېرېدونكي كېدای شي، خو په هغوی كې زياتره هغه نه پېژني. ۳۵- او بيت الله سره نږدې د هغوی لمونځ له شپېلو او ښتاكو (چكچكو) وهلو بغير نور څه نه دي، نو اوس د خپل كفر عذاب وڅكئ.
۳۶- چا چې انكار كړی، هغوی خپل دولت يوازې د دې لپاره مصرفوي چې خلک د الله له لارې منع كړي. هغوی به دا مصرفوي بيا به دا د هغوی لپاره حسرت شي او بيا به هغوی مغلوب كړی شي. او چا چې

انکار وکړ، هغوی به د جهنم لور ته ور ټول کړی شي. ۳۷- تر هغې چې الله ناپاک له پاکو جدا کړي او ناپاک یو په بل کېږدي او بیا هغه ډېری دوزخ ته ور واچوي، همدا خلک په تاوان کې پرېوتونکي دي.
۳۸- انکار کونکو ته ووایه که هغوی منع شي، نو څه چې شوي هغه به ورته وبښل شي. او که هغوی بیا هم هماغسې وکړي، نو زموږ معامله له تېرو سره تېره شوې ده. ۳۹- او له هغوی سره وجنګېږئ، تر هغې چې فتنه پاتې نه شي او دین ټول د الله لپاره شي. بیا که هغوی را منع شي، نو الله د هغوی د عمل لیدونکی دی. ۴۰- او که هغوی اعراض وکړ، نو پوه شئ چې الله ستاسې مل دی او هغه ښه مل او ښه مرسته کوونکی دی.
* ۴۱- او پوه شئ چې کوم مال غنیمت په لاس درشي، په هغه کې پنځمه برخه د الله او رسول لپاره او د خپلوانو لپاره او د یتیمانو او مسکینانو او مسافرو لپاره ده، که تاسې په الله ایمان لرئ او په هغه څه چې موږ په خپل بنده (محمد) نازل کړي د فیصلې په ورځ، هغه ورځ چې په کې د دواړو ډلو ترمنځ نښته وشوه او الله په هر څه قادر دی.
۴۲- او کله چې تاسې د درې (د جنګ میدان) په نږدې څنډه وئ او هغوی یې په لرې څنډه، او قافله ستاسې په ښکته خوا وه. او که تاسې او هغوی وخت ټاکلای، نو په دې ټاکنه کې به حتماً اختلاف پیدا کېدای، خو څه چې وشول په دې خاطر وشول چې الله هغه خبره پوره کوله د کومې یې چې فیصله کړې وه، څوک چې هلاکېدل هغوی له ښکاره دلیل سره هلاک شوي وای او چا چې ژوند موندہ، هغوی له روښانه دلیل سره ژوندي پاتې وای. یقیناً الله اورېدونکی او پوهېدونکی دی. ۴۳- کله چې الله هغوی تاته په خوب کې لږ شمېر ښودل، که یې ډېر ښودلي وای، نو تاسې به بې زړه شوي وای او په دې موضوع کې به مو په خپلو کې

جنګ کولای. خو الله تاسې وساتلئ. یقیناً هغه د زړونو په حال پوهېږي.
۴۴- او کله چې الله هغوی ستاسې په نظر کې لږ وښودل او تاسې یې د هغوی په نظر کې لږ وښودئ، چې الله د هغه څه فیصله وکړي چې کېدل یې حتمي وو. او ټول معاملات الله ته ور ستنېږي.
۴۵- ای د ایمان خاوندانو، کله چې مو له کومې ډلې سره مقابله وي، نو ثابت قدم اوسئ او الله ډېر یادوئ چې بریالي شئ. ۴۶- او د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړئ او په خپلو کې مه جنګېږئ، ګني په تاسې کې به کمزوري پیدا شي او بې زړه به شئ او صبر کوئ، یقیناً الله له صبر کونکو سره دی. ۴۷- او د هغو خلکو په شان مه کېږئ چې په کبر او ځان ښودلو له کوره راوځي او خلک د الله له لارې منع کوي. سره د دې چې هغوی هر څه کوي الله د هغو احاطه کړې ده.
۴۸- او کله چې شیطان هغوی ته د هغوی اعمال ښاپسته وښودل او ویې ویل چې په خلکو کې نن په تاسې څوک نه شي بریالي کېدای او زه له تاسې سره یم. خو کله چې دواړه ډلې سره مخامخ شوې، نو هغه په شا وتښتېده او ویې ویل چې زه له تاسې بري یم، زه هغه څه ګورم چې تاسې یې نه ګورئ. زه له الله وېرېږم او الله سخت جزا ورکونکی دی. ۴۹- کله چې منافق او هغو خلکو چې زړونو کې یې مرضونه دي ویل چې دا خلک خپل دین په تېروتنه کې اچولي دي او څوک چې په الله توکل وکړي، هغه قوي او د حکمت خاوند دی.
۵۰- او که تا لیدلای چې ملایکې د منکرانو ساه قبضوي، دوی په مخ او په ملاګانو وهي او وایي چې اوس د سوځېدلو د عذاب خوند وګوره. ۵۱- دا د هغه څه بدله ده چې تاسې په خپلو لاسونو له ځانه مخکې لېږلي، او الله هېڅکله په خپلو بندګانو ظلم نه کوي. ۵۲- د فرعون د خلکو په شان او څوک چې له هغوی مخکې وو چې د الله له نښو یې انکار وکړ، نو الله

هغوی په خپلو ګناهونو کې ونیول، بېشکه الله د قوت خاوند او سخت جزا ورکونکی دی. ۵۳- او دا په دې خاطر وشول چې الله په کوم قوم انعام وکړي، تر هغې یې نه بدلوي چې تر څو هغه څه بدل نه کړي چې د هغوی په نفسونو کې دي. او بېشکه الله اورېدونکی او لیدونکی دی. ۵۴- د فرعون د خلکو غوندې او څوک چې له هغوی مخکې وو چې د خپل رب نښې یې دروغ وبللې، بیا موږ هغوی د خپلو ګناهونو له وجې هلاک کړل او موږ د فرعون خلک ډوب کړل او هغوی ټول ظالمان وو.
۵۵- بېشکه په ټولو ژوندیو کې د الله په نزد تر ټولو بد هغه خلک دي چې انکار یې کړی او ایمان نه راوړي. ۵۶- له چا چې تا وعده اخیستې، بیا هغوی خپله وعده هر ځل ماتوي او نه وېرېږي. ۵۷-که ته چېرې هغوی په جنګ کې لاندې کړې نو داسې جزا ورکړه چې څوک ورپسې وي، هغوی یې هم وګوري او وتښتي چې عبرت شي ورته. ۵۸- او که ته له کوم قوم د وعدې ماتولو وېره لرې، نو د هغوی وعده یوې خوا ته وغورځوه، داسې چې تاسې او هغوی برابر شئ. بېشکه الله وعده ماتونکي نه خوښوي.
۵۹- او انکار کونکي دې دا فکر نه کوي چې هغوی به ګټي وتښتي، هغوی هېڅکله الله نه شي عاجز کولای. ۶۰- او تاسې چې څومره کولای شې د هغوی لپاره قوت او روزل شوي آسونه تیار وساتئ، چې له دې د الله په دښمنانو او ستاسې په دښمنانو هیبت وي او د هغوی تر څنګ په هغو نورو هم چې تاسې یې نه پېژنئ، الله هغوی پېژني. او تاسې چې د الله په لاره کې څه مصرفوئ، هغه به پوره درکول کېږي او له تاسې سره به هېڅ ډول کمی نه کېږي. ۶۱- او که هغوی سولې ته مایل شي، نو ته هم ورسره مایل شه او په الله توکل وساته. بېشکه هغه اورېدونکی او پوه دی. ۶۲- او که هغوی تاسې تېرایستل وغواړي، نو الله ستا لپاره

کافي دی. هماغه د خپل نصرت او مومنانو په مرسته تاته قوت درکړ. ۶۳- او د هغو په زړونو کې يې اتفاق پيدا کړ. څه چې په ځمکه کې دي، که تا دا ټول په هغوی مصرف کړي وای، بيا به دې هم د هغوی په زړونو کې اتفاق نه وای پيدا کړی. خو الله په هغو کې اتفاق پيدا کړ، بېشکه هغه قوي او د حکمت خاوند دی. ۶۴- ای نبي، ستا لپاره يوازې الله کافي دی او هغه مومنان چې تا سره يې ملتيا کړې ده. ۶۵- ای نبي، مومنان جنګ ته وهڅوه. که په تاسې کې شل ثابت قدمه کسان وي، نو په دوه سوو به برلاسي شي او که په تاسې کې سل وي په زرو منکرانو به برلاسي وي، په دې خاطر چې هغه خلک نه پوهېږي. ۶۶- اوس الله په تاسې پېټي سپک کړ، ځکه هغه پوهېږي چې تاسې کې لا کمزوري شته. نو که په تاسې کې سل[۱۰۰] ثابت قدمه وي، په دوو سوو[۲۰۰] به برلاسي وي او که زر[۱۰۰۰] وي، نو هغوی به د الله په حکم په دوو زرو[۲۰۰۰] برلاسي شي، او الله له ثابت قدمو سره دی.

۶۷-هېڅ نبي ته نه ده په کار چې هغه څوک بنديان کړي تر هغې چې هغوی په ځمکه ښه وينه تويه نه کړي. تاسې د دنيا اسباب غواړئ او الله آخرت غواړي. او الله قوي او د حکمت خاوند دی. ۶۸- او که چېرې د الله له طرفه له مخکې واضح حکم نه وای، نو کومه طريقه چې تاسې اختيار کړه، د دې له وجې به درته سخت عذاب در رسېدلی وای. ۶۹- نو کوم مال چې تاسې اخيستی هغه وخورئ، هغه تاسې لپاره حلال دی او پاک دی او له الله ووېرېږئ، بېشکه الله بښونکی او مهربان دی.

۷۰- ای نبي، تا سره چې کوم بنديان دي، هغوی ته ووايه چې که چېرې الله ستاسې په زړونو کې کومه ښېګڼه وګوري، نو څه چې درنه اخيستل شوي، تر هغې غوره به درته درکول شي او هغه به تا وبښي او الله بښونکی او مهربان دی. ۷۱-او که دوی له تا سره وعده ماته کړي، له

دې مخکې هغوی له الله سره وعده ماته کړه، الله تاته په هغوی برلاسي درکړه، او الله د علم او حکمت خاوند دی.
۷۲- چا چې ایمان راوړ او چا چې هجرت وکړ او د الله په لاره کې یې د خپل مال او ځان جهاد وکړ. او چا چې پناه ورکړله او مرسته یې وکړه، دا خلک د یو بل ملګري دي. او چا چې ایمان راوړ او هجرت یې ونه کړ، نو هغوی سره ستا د ملګری هیڅ اړیکه نشته، تر هغې چې هجرت ونه کړی. او که هغوی له تا د دین په مسئله کې مرسته وغواړي، نو په تا هغوی سره مرسته کول واجب دي، مګر که مرسته د داسې یوه قوم په خلاف وي چې ستا ورسره معاهده وي. او ته چې څه کوې الله یې ګوري.
۷۳- او څوک چې منکر دي، هغوی د یو بل ملګري دی. که ته داسې ونه کړې، نو په ځمکه به فتنه خپره شي او لوی فساد به وشي.
۷۴- او چا چې ایمان راوړ او هجرت یې وکړ او د الله په لاره کې یې جهاد وکړ او چا چې پناه ورکړه او مرسته یې وکړه، همدا خلک رښتیني مومنان دي. د دوی لپاره بخشش او بهترین رزق دی. ۷۵- او چا چې وروسته ایمان راوړ او هجرت یې وکړه او تا سره مل شول او جهاد یې وکړ، هغوی هم ستاسې په ډله کې دي. او د وینې خپلوان د الله په نزد د هغه د کتاب له مخې د یو بل ډېر حقدار دي. بېشکه الله په هر څه خبر دی.

## سوره التوبة ۹

۱- د الله او رسول له طرفه هغو مشرکینو ته د بې زارۍ اعلان دی چې تاسې ورسره معاهده کړې وه. ۲- نو تاسې په وطن کې څلور میاشتې وګرځئ او پوه شئ چې تاسې الله نه شئ عاجز کولای او دا هم چې الله مشرکان رسوا کوي. ۳- د الله او رسول له اړخه د لوی حج په ورځ خلکو

ته اعلان دی چې الله او د هغه رسول له مشرکانو بري الذمه دي. اوس که تاسې توبه وکړئ نو تاسې لپاره غوره ده. او که تاسې مخ واړوئ، نو پوه شئ چې تاسې الله نه شئ عاجزولای. او انکار کونکو ته د سخت عذاب زېری ورکړئ. ۴- مګر هغه مشرکان چې تاسې ورسره معاهده کړې وه. بیا هغوی له تاسې سره هېڅ کمی ونه کړ او نه یې ستاسې په ضد له چا سره مرسته وکړه، نو د هغوی معاهدت تر ټاکلې مودې پورې پوره کړئ. بېشکه الله پرهېزګاران خوښوي.
۵- بیا چې کله د حرمت میاشتې تېرې شي، نو مشرکین ووژنئ په هر ځای کې یې چې مومئ، او هغوی ونیسئ او ترې را تاو شئ او د څارلو په هر ځای کې ورته کېنئ. بیا که هغوی توبه وباسي او لمونځونه قایم کړي او زکات ورکړي، نو پرې یې ږدئ. الله بښونکی او مهربان دی. ۶- او که په مشرکینو کې څوک له تاسې پناه وغواړي، نو تاسې پناه ورکړئ چې هغه د الله کلام واوري، بیا یې د امن ځای ته ورسوئ. دا په دې خاطر چې هغوی نه پوهېږي.
۷- د دې مشرکینو لپاره د الله او رسول په غاړه کومه ذمه څنګه کېدای شي، مګر هغه خلک چې تاسې ورسره مسجد حرام ته نږدې وعده کړې وه، نو تر کله چې هغوی تاسې سره سم وي، تاسې هم ورسره سم اوسئ، بېشکه الله پرهېزګاران خوښوي. ۸- وعده په داسې حال کې څنګه کېدای شي چې کله هغوی په تاسې برلاسي شي، نو ستاسې په برخه کې نه د خپلوۍ لحاظ کوي او نه د وعدې. هغوی تاسې د خپلې خولې په خبره راضي کول غواړي، خو د هغوی زړه انکار کوي. او په هغوی کې زیاتره بېوعدې دي. ۹- هغوی د الله نعمتونه په لږې بیې پلورلي، بیا هغوی (خلک) د الله له لارې را منع کړل، هغوی چې څه کوي ډېر بد دي. ۱۰- هغوی د مومن په معامله کې نه خپلوۍ لحاظ کوي او نه د

وعدې، همدا زياتي کونکي خلک دي. ۱۱- نو که هغوی توبه وباسي او لمونځ قایم کړي، او زکات ورکړي، نو ستاسې ديني ورونه دي. او موږ پوهېدونکو ته خپل آيتونه ښکاره بيانوو.
۱۲-او که دوی له وعدې وروسته خپل قسمونه مات کړي او ستاسې دين ته عيب ورسوي، نو کفر او د هغه مشرانو سره وجنګېږئ. بېشکه د هغوی قسمونه هېڅ نه دی، په دې خاطر چې منع شي. ۱۳- ايا تاسې له داسې خلکو سره نه جنګېږئ چې قسمونه يې مات کړل او د رسول د ويستلو جسارت يې وکړ او هماغو دي چې تاسې سره يې جنګ پيل کړ. ايا تاسي له هغوی وېرېږئ. الله ډېر مستحق دی چې ترې وويرېږئ که تاسې مومنان يئ. ۱۴- هغوی سره وجنګېږئ. الله به ستاسې په لاس هغوی ته جزا ورکړي، او هغوی به رسوا کړي او تاسې ته به په هغوی برلاسي درکړي او د ايماندارو سينه به سړه کړي، او د هغوی د زړه غوسه به لرې کړي. ۱۵- او الله چې چاته وغواړي توبه به ور نصيب کړي او الله پوه او د حکمت خاوند دی.
۱۶- ايا تاسې داسې ګڼئ چې پرې به ښودل شئ، سره د دې چې الله تر اوسه هغه خلک نه دي واضح کړي چې جهاد يې کړی او له الله او رسول او مومنانو بغير يې نور څوک نه دي ملګري کړي او تاسې چې څه کوئ، الله پرې پوهېږئ.
۱۷- دا د مشرکانو کار نه دی چې د الله جوماتونه آباد کړي، سره د دې چې هغوی پخپله په خپل کفر ګواهان دي. د هغو خلکو اعمال ضايع شول او تل به په اور کې اوسېږي. ۱۸- د الله جوماتونه خو هغوی آبادوي چې په الله او د آخرت په ورځ ايمان راوړي او لمونځ قايم کړي او زکات ورکړي او له الله بغير له بل چا ونه وېرېږي. تمه شته چې داسې خلک هدايت موندونکي شي. ۱۹- ايا تاسې حاجيانو ته اوبه ورکول او مسجد

حرام کې ساتل له هغه شخص سره برابر کړ چې په الله او آخرت يې ايمان راوړ او د الله په لاره کې يې جهاد وکړ، د الله په نزد دا دواړه نه شي برابرېدی. او الله ظالمانو ته لار نه ښيي. ۲۰- چا چې ايمان راوړ او هجرت يې وکړ او د الله په لاره کې يې په ځان او مال جهاد وکړ، د هغوی درجه د الله په نزد لوړه ده او همدا کامياب خلک دي. ۲۱- د هغوی رب هغوی ته د خپل رحمت او خوښۍ او داسې باغونو زېری ورکوي چې دوی ته به په کې دايمي نعمت وي. ۲۲- هلته به دوی تل اوسېږي. بېشکه الله سره لوی اجر دی.

۲۳- ای د ايمان خاوندانو، خپل پلرونه او ورونه مه ملګري کوئ، که هغوی د ايمان راوړلو په مقابل کې کفر ګران ګڼي. او په تاسې کې چې څوک هغوی خپل ملګري کوي، نو همداسې خلک ظالمان دي. ۲۴- ووايه که ستاسې پلرونه او ستاسې زامن او ستاسې ورونه او ستاسې ښځې او ستاسې کورنۍ او هغه څه چې تاسې ګټلي، او هغه تجارت چې تاسې يې له بندېدو وېرېږئ او هغه کور چې تاسې يې خوښوئ، که دا ټول تاسې ته له الله او د هغه له رسول او د هغه په لار کې له جهاد کولو ډېر ګران وي، نو په تمه شئ، تر هغې چې الله خپل حکم را ولېږي او الله نافرمانه خلکو ته لار نه ښيي.

۲۵- بېشکه الله په ډېرو وختونو کې تاسې سره مرسته کړې او حنين په ورځ هم چې ستاسې د شمېر زياتوالي تاسې په وياړ اخته کړي وئ. بيا هغه ستاسې هېڅ په کار نه شول. او ځمکه له خپلې پراختيا سره بيا هم په تاسې تنګه شوه. بيا تاسې په شا را وتښتېدئ. ۲۶- له هغه وروسته الله په خپل رسول او مومنانو خپل سکينت نازل کړ او داسې لښکر يې را ښکته کړ چې تاسې ونه ليد، او الله منکرانو ته جزا ورکړله او همدا د منکرانو بدله ده. ۲۷- بيا له هغې وروسته چې الله چاته وغواړي توبه ور

په برخه کوي او الله ښښونکی او مهربان دی. ۲۸- ای د ایمان خاوندانو، مشرکین بالکل ناپاکه دي. نو هغوی دې له سږ کال وروسته مسجد حرام ته نه نږدې کیږي، او که تاسې د مفلسۍ اندېښنه لرئ، نو که الله وغواړي په خپل فضل به تاسې بې نیازه (غني) کړي. الله علیم او حکیم دی.
۲۹- له هغو اهل کتابو سره وجنګیږئ چې نه په الله ایمان لري او نه د آخرت په ورځ او نه د الله او د الله د رسول له اړخه حرام شوي حرام ګڼي او نه حق دین خپل دین کوي، تر دې چې هغوی په خپل لاس جزیه ورکړي او واړه شي. ۳۰- او یهودو وویل چې عزیر د الله زوی دی او نصارای وویل چې مسیح د الله زوی دی. دا د هغوی د خپلې خولې خبرې دي. هغوی د هغو خلکو خبره رانقلوي چې تر دوی مخکې یې کفر کړی و. الله دې هغوی هلاک کړي، هغه څنګه لرې روان دي. ۳۱- هغوی له الله بغیر خپل علماء او مشایخ او مسیح ابن مریم هم خپل رب کړل. سره د دې چې هغوی ته یوازې دا حکم شوی چې یوازې د یوه معبود عبادت وکړي. هغه (الله) د هغوی د شرک نه پاک دی.
۳۲- هغوی غواړي چې د الله رڼا په خپله خوله مړه کړي او الله خپله رڼا بې پوره کېدو نه پرېږدي، که منکرانو ته دا هر څومره سخته هم وي.
۳۳- هغه خپل رسول له هدایت او حق دین سره را لیږلی چې د هغه ټول دین برلاسی کړي، که څه هم مشرکان پرې هر څومره خفه کیږي.
۳۴- ای د ایمان خاوندانو، د اهل کتابو زیاتره علماء او مشایخ د خلکو مالونه په باطله طریقه خوري او خلک د الله له لارې لرې کوي او کوم خلک چې سره او سپین زر را ټولوي او هغه د الله په لاره کې نه مصرفوي، هغوی ته د یوه دردناکه عذاب زېری ورکړه. ۳۵- په هغه ورځ به په دې مال د دوزخ اور بلیږي. بیا به پرې د هغوی خپل تندي او

د هغوی اړخونه او ملاګاني داغ کېږي. دا هغه (مال) و چې تاسې د خپل ځان لپاره راټول کړی و، اوس د هغه خوند وګورئ چې تاسې را ټولوه.
۳۶- د الله په نزد د الله په کتاب کې د میاشتو شمېر دولس میاشتې دی، له کومې ورځې چې هغه آسمانونه او ځمکه پیدا کړ، په دې کې څلور میاشتې د حرمت لرونکې دي. همدا سم دین دی. نو په دې په ځان ظلم مه کوئ. او مشرکینو سره ټول په ګډه وجنګېږئ، لکه څنګه چې هغوی ټول تاسې سره په ګډه جنګېږي، او پوه شئ چې الله د پرهېزګارو ملګری دی. ۳۷- د میاشتو لرې کول په کفر کې یو زیاتوالی دی. په دې کفر کونکي په ګمراهۍ کې اخته کېږي، هغوی د یوه کال حرامه میاشت حلالوي او په یوه کال کې یې حراموي چې د الله د حرامو کړو شمېر پوره کړي او د هغه حرام کړي حلال کړي. د هغوی بد اعمال د هغوی لپاره ښاېسته کړی شوي دي. او الله انکار کونکو ته لار نه ښیي.
۳۸- ای د ایمان خاوندانو، په تاسې څه شوي چې کله تاسې ته وویل چې د الله په لاره کې ووځئ، نو تاسې ځمکې ته ټینګېږئ. ایا تاسې د آخرت په مقابل کې د دنیا په ژوند راضي شوئ. د آخرت په مقابل کې د خو د دنیا د ژوند سامان ډېر لږ دی. ۳۹- که تاسې ونه وځئ نو الله به تاسې ته له درده ډکه جزا درکړي او ستاسې په ځای به بل قوم راوړی او تاسې به الله ته هېڅ تاوان ونه رسوئ او الله په هر څه قادر دی. ۴۰- که ته له رسول سره مرسته ونه کړې، نو الله پخپله هغه سره مرسته کړې ده، کله چې منکرانو هغه ویستلی و، هغه په دوو کې یو و. کله چې هغوی دواړه په غار کې وو، کله یې چې خپل ملګري ته ویل مه خفه کېږه، الله له موږ سره دی. نو الله په هغه خپل سکینت نازل کړ او د هغه مرسته یې په داسې لښکرو وکړله چې تاسې ته نه ښکارېدل او الله د منکرانو خبره ټیټه کړله او یوازې د الله خبره لوړه ده او الله قوي او د حکمت خاوند دی.

۴۱- سپک او درانه (مجهز) او په خپل مال و ځان د الله په لاره کې جهاد وکړئ، دا تاسې لپاره غوره ده که پوه شئ. ۴۲- که ګټه نږدې او سفر آسانه وای، نو هغوی به حتماً په تا پسې وتلي وای، خو دا منزل په هغوی سخت شو. اوس به هغوی قسمونه کوي چې که موږ کولای شوی، نو حتماً به له تا سره تللي وای. هغوی خپل ځان په هلاکت کې اچوي، او الله پوهېږي چې دا خلک یقیناً دروغجن دي.
۴۳- الله دې تا وبښي، خو تا ولې هغو خلکو ته اجازه ورکړله. تر دې چې تاته به ښکاره شوې وی چې څوک رښتیني دي او دروغجن به دې هم پېژندلي وای. ۴۴- څوک چې په الله او د آخرت په ورځ ایمان لري، هغوی له تا هېڅکله دا غوښتنه نه کوي چې په خپل مال و ځان جهاد ونه کړي، او الله وېرېدونکي ښه پېژني. ۴۵- له تا خو هغه خلک اجازه غواړي چې په الله او د آخرت په ورځ ایمان نه لري او زړه ته یې شک لوېدلی دی. نو هغوی په خپل شک کې ورک دي. ۴۶- که هغوی را وتل غوښتی نو ضرور به یې څه سامان را خیستی وای. خو الله د هغوی پاڅېدل خوښ نه کړل، په دې خاطر یې هغوی ناست پرېښودل او ویې ویل چې له ناستو سره ناست اوسئ.
۴۷- که هغه خلک له تاسې سره وتي وای، نو ستاسې د خرابۍ د زیاتېدو لامل کېدل او په تاسې کې د فتنې اچولو لپاره به یې منډې وهلی، او په تاسې کې د هغوی اورېدونکي شته او الله ظالمان ښه پېژني. ۴۸- هغوی مخکې هم د فتنې هڅه کړې او تاسې لپاره یې حالات بدل کړي وو. تر هغې چې حق راغی او د الله حکم واضح شو او هغوی (همداسې) خفه پاتې شول.
۴۹- او په هغوی کې هغه (خلک) هم شته چې وایي ماته رخصت راکړه او ما په فتنه کې مه اچوه. واورئ، هغوی خو په فتنه کې پرېوتي دي. او

بېشکه جهنم منکران رانغاړلي دي. ۵۰- که تاسې سره ښه کېږي، نو هغوی خفه کېږي او که تاسې ته کوم مصیبت رسېږي، نو هغوی وايي چې موږ ځان مخکې ساتلی و، او هغوی خوشحاله ستنېږي. ۵۱- ووایه، موږ ته یوازې هغه څه را رسېږي چې الله راته لیکلي دي. هغه زموږ کارساز دی، او د ایمان خاوندان باید په الله توکل ولري. ۵۲- ووایه، تاسې موږ لپاره په دوو ښېګڼو کې یوازې د یوې ښېګڼې په تمه یئ، خو موږ تاسې لپاره په دې تمه یوو چې الله تاسې له خپل اړخه یا زموږ په لاسونو عذاب در ورسوي. نو تاسې په تمه شئ، موږ هم تاسې سره په تمه کې یوو.
۵۳- ووایه، که تاسې یې په رضا مصرف کړئ که په خفګان، له تاسې نه قبلېږي، بېشکه تاسې نافرمانه خلک یئ. ۵۴- او هغوی د خپل مصرف له قبلېدو یوازې له دې امله محروم شول چې له الله او د هغه له رسول یې انکار وکړ، او دا خلک چې لمانځه ته راځي نو په سختۍ راځي او مصرف کوي، خو په نه زړه یې کوي. ۵۵- ته د هغوی مال او اولاد ته تعجب مه کوه. الله همدا غواړي چې د دې په وسیله هغوی ته د دنیا په ژوند کې عذاب ورکړي او ساه یې په داسې حال کې ووځي چې منکران وي. ۵۶- هغوی په الله قسم خوري او وايي چې ستاسې له ډلې دي، خو هغوی ستاسې له ډلې نه دي، بلکې هغوی هغه خلک دي چې له تاسې وېرېږي. ۵۷- که هغوی د پناه ځای ومومي یا غار یا د ناستې لپاره ځای ومومي، نو هلته به په منډه منډه پټېدو ته ورشي.
۵۸- او په هغوی کې ځینې داسې هم دی چې په تا د صدقو په هکله تور پورې کوي. که له هغې (صدقې) دوی ته ورکول شي، نو راضي وي او که ور نه کول شي، نو خفه کېږي. ۵۹- څومره به ښه وای چې هغوی په هغه څه راضي وای چې الله او رسول ورکړي وو او ویلي یې وای

چې زموږ لپاره الله کافي دی. الله به په خپل فضل موږ ته نور هم راکړي او د هغه رسول هم، موږ ته خو الله په کار دی. ۶۰- صدقات (زکات) خو په اصل کې د فقیرانو او مسکینانو لپاره او د هغو کارکونکو لپاره دي چې د صدقاتو په کارونو ګومارل شوي دي. همدارنګه د هغو خلکو لپاره چې زړونه ترل یې په کار وي. همدارنګه د بندیانو آزادولو لپاره، او هغوی چې تاوان کوي او د الله په لاره کې او له مسافرو سره د مرستې لپاره. دا د الله له طرفه یوه فریضه ده او الله د علم او حکمت خاوند دی. ۶۱-او په هغوی کې داسې خلک هم شته چې نبي خفه کوي او وایي چې دا کس خو غوږ غوږ دی (هر چاته غوږ نیسي). ووایه چې ستاسې د خیر لپاره غوږ دی. هغه په الله ایمان لري او د ایمان په خاوندانو باور کوي او هغه په تاسې کې د هغو لپاره رحمت دی چې ایمان لري. او څوک چې د الله رسول خفه کوي، د هغوی لپاره له درده ډکه جزا ده. ۶۲- هغوی ستاسې په مخ کې په الله قسمونه کوي چې تاسې خوشحاله کړي. سره د دې چې الله او د هغه رسول ډېر حقدار دي چې دوی یې راضي کړي، که هغوی مومنان دي. ۶۳- ایا هغوی نه پوهیږي چې څوک د الله او د هغه د رسول مخالفت وکړي، د هغوی لپاره د دوزخ اور دی چې تل به په کې اوسیږي، او دا لویه رسوایي ده. ۶۴- منافقین په دې وېرېږي چې چېرې په مومنانو داسې سورة نازل نه شي چې هغوی د دوی د زړه په خبرو خبر کړي. ووایه چې خندا کوئ، الله به حتماً هغه څه را واضح کړي چې تاسې ترې وېرېږئ. ۶۵- او که ته له هغو پوښتنه وکړې، نو درته به وایي چې موږ خو هسې خندا او ټوکې کولې. ووایه، ایا تاسې له الله او د هغه له آیتونو او د هغه له رسول سره خندا او ټوکې کولې. ۶۶- بهانې مه کوئ، تاسې له ایمان راوړلو وروسته

کفر کړی دی، او موږ که تاسې کې یوه ډله وبښوو، نو بلې ډلې ته به حتماً جزا ورکوو، ځکه چې هغوی مجرمان دي.
۶۷- منافق سړي او منافقې ښځې ټول یو ډول دي. هغوی د بدۍ حکم ورکوي او له نېکۍ منع کوي او خپل لاسونه بند ساتي. هغوی چې الله هېر کړ، نو الله هم هغوی هېر کړل. بېشکه منافقین ډېر نافرمانه دي.
۶۸- منافقو سړو او منافقو ښځو او منکرانو سره الله د جهنم د اور وعده کړې ده چې تل به په کې اوسېږي. همدا د هغوی لپاره بس ده. په هغوی د الله لعنت دی او د هغوی لپاره تلپاتې عذاب دی. ۶۹- لکه څنګه چې له تاسې مخکې خلک وو. هغوی په زور کې تر تاسې ډېر وو او د مال او اولاد په زیاتوالي کې تر تاسې مخکې وو، نو هغوی له خپلې برخې ګټه واخیستله او تاسې هم له خپلې برخې ګټه واخیستله، لکه څنګه چې ستاسې مخکینیو له خپلې برخې ګټه اخیستې وه. ۷۰- او تاسې هم هغه بحثونه وکړل لکه هغوی چې کړي وو. همدا هغه خلک دي چې اعمال یې په دنیا او آخرت کې ضایع شول او همدا خلک په تاوان کې پرېوتونکي دي. ایا هغوی ته د هغو خلکو خبر ونه رسېده چې له هغوی مخکې تېر شوي. د نوح او عاد او ثمود قومونه او د ابراهیم قوم او اصحاب مدین او پرځېدلي کورونه. هغوی ته خپل رسولان له دلیلونو سره ورغلل، خو داسې نه وه چې الله په هغوی ظلم کاوه، مګر هغوی پخپله په ځان ظلم کاوه.
۷۱- او مومن سړي او مومنې ښځې د یو بل مرستندوی دي. هغوی د نېکۍ حکم کوي او له بدۍ منع کوي او لمونځ قایموي او زکات ورکوي او د الله او د الله د رسول اطاعت کوي. همدا هغه خلک دی چې پرې د الله رحمت دی. بېشکه الله قوي او د حکمت خاوند دی. ۷۲- مومنانو سړو او مومنو ښځو سره د الله وعده ده، د هغو باغونو چې ور لاندې به نهرونه

بهیږي، او هغوی به په کې تل اوسیږي. او هغوی سره په جنت کې د تل لپاره د پاکو ودانیو او د الله د رضامندۍ وعده ده چې تر ټولو غوره ده. همدا لویه کامیابي ده.
۷۳- ای نبي، له منافقانو او منکرانو سره جهاد وکړئ او مقابل کې یې منظم شئ. او د هغوی ځای دوزخ دی او هغه ډېر بد ځای دی. ۷۴- هغوی په الله قسم کوي چې هغوی نه دي کړي، خو هغوی د کفر خبرې کړي او له اسلام وروسته منکر شوي او هغوی چې څه غوښتل هغه یې تر لاسه نه کړی شول. او دا یوازې د هغو بدله وه چې هغوی الله او رسول په خپل فضل غني کړل. که هغوی توبه وکړي، نو دا ورته غوره ده او که مخ واړوي، نو الله به په دنیا کې هم او په آخرت کې هم له درده ډک عذاب ورکړي. او په ځمکه به یې نه ملاتړی وي او نه مرستندوی.
۷۵- او په هغو کې هغو هم دي چې الله سره یې وعده وکړله که چېرې هغه موږ ته خپل فضل را عطا کړ، نو موږ به حتماً صدقه کوو او صالحین به شوو. ۷۶- بیا چې الله هغوی ته خپل فضل عطا کړ، نو هغوی بخل پیل کړ، بېرته ستانه شول او مخ یې واړوه. ۷۷- نو الله د هغو په زړونو کې نفاق پیدا کړ، تر هغې ورځې پورې چې بېرته به هغوی له الله سره وینې. په دې خاطر چې هغوی له الله سره کړې وعده ماته کړله او په دې خاطر چې هغوی دروغ ویل. ۷۸- ایا هغوی نه دي خبر چې الله د هغوی په رازونو او پټو خبرو خبر دی او الله په ټولو پټو خبرو پوهیږي. ۷۹- څوک چې په هغو مومنانو طنز کوي چې په خلاص لاس صدقې ورکوي او یوازې په خپل زیار او مزدورۍ انفاق کوي، هغوی ور پورې خندا کوي، الله په دغو خندېدونکو پورې خندا کوي او د هغوی لپاره له درده ډک عذاب دی. ۸۰- که ته د هغوی لپاره د بښنې غوښتنه وکړې که یې ونه کړې، که ته اویا ځله د هغوی د بښنې غوښتنه وکړې،

الله هغوی نه ښني. دا په دې خاطر چې هغوی له الله او رسول انکار کړی او الله نافرمانو ته لار نه ښيي.
۸۱- وروسته پاتې کېدونکي د الله له رسول وروسته کېناستو باندې خوښ شول، هغوی دا بد ګڼلي وو چې په خپل مال او ځان د الله په لاره کې جهاد وکړي. او هغوی وويل چې په ګرمۍ کې مه وځئ. ووايه چې د دوزخ اور له دې ډېر ګرم دی کاشکې هغوی پوهه لرلی. ۸۲- نو هغوی چې څه کوي، د هغه په بدل کې دې لږ وخاندي او ډېر دې وژاړي. ۸۳- نو که چېرې الله تا په هغوی کې کومې ډلې ته راستون کړي او هغوی درنه جهاد ته د تللو اجازه وغواړي، ورته ووايه چې تاسې به له ماسره هېڅکله نه ځئ او نه به له ماسره يو ځای دښمن سره جنګېږئ. تاسې په لومړي ځل هم ناسته غوره بللې وه، نو له وروسته پاتې شويو سره ناست اوسئ. ۸۴- او په هغوی کې چې څوک مړ شي، په هغه (د جنازې) لمونځ مه کوه او مه يې په قبر ودرېږه. بېشکه هغوی له الله او د هغه له رسول انکار وکړ او په داسې حال کې مړه شول چې نافرمانه وو.
۸۵- او د هغوی مال او اولاد دې تاسې نه حيرانوي. الله دا غواړي چې د دې (شيانو) په وسيله هغوی ته په دنيا کې عذاب ورکړي او د هغوی ساګانې په داسې حال کې وباسي چې هغوی منکر وي. ۸۶- او کله چې کوم سورة نازل شي چې په الله ايمان راوړئ او رسول سره (په ګډه) جهاد وکړئ، نو په هغوی کې شتمن خلک له تا رخصت غواړي او وايي موږ پرېږدئ چې دلته له پاتې کېدونکو سره پاتې شوو. ۸۷- هغوی دا خوښ کړل چې وروسته پاتې کېدونکو ښځو سره پاتې شي. او د هغوی په زړونو مهر شوی، نو هغوی په هېڅ نه پوهېږي. ۸۸- خو رسول او چا چې له دوی سره ايمان راوړی، هغوی په خپل مال او ځان جهاد وکړ، د هغوی لپاره ښېګڼې دي او هغوی کاميابي موندونکي دي. ۸۹- د هغوی

لپاره الله داسې باغ تیار کړی چې ور لاندې نهرونه بهیږي. هلته به دوی تل اوسیږي. همدا لویه کامیابي ده.
۹۰- له بدوي عربو هم بهانه کونکي خلک راغلل چې هغوی ته اجازه ورکړل شي او چا چې الله او د هغه رسول ته دروغ ویلي، هغوی ناست پاتې شول. په هغوی کې چې چا انکار وکړ، هغوی به له درده ډک عذاب ونیسي. ۹۱- هېڅ ګناه په کمزورو نشته او نه په ناروغانو او نه په هغو (خلکو) چې د مصرفولو لپاره څه نه مومي، چې له الله او د هغه له رسول سره خیرخواهي وکړي. په نېک عملو هېڅ الزام نشته او الله ښښونکی او مهربان دی. ۹۲- او نه په هغو خلکو الزام شته چې تاته راغلل چې مونږ ته سپرلۍ راکړه، تا وویل چې مونږ سره څه نشته چې تاسي پرې سپاره کړه، نو هغوی په داسې حال کې سپاره شول چې له سترګو یې اوښکې څڅېدې، د دې غم له وجې چې د مصرفولو لپاره ورسره څه نشته. ۹۳- الزام (مسوولیت) یوازې په هغو خلکو دی چې له تا اجازه غواړي، سره د دې چې شتمن دي. هغوی په دې راضي شوي چې له وروسته پاتې کېدونکو ښځو سره پاتې شي او الله د هغوی په زړونو مهر کړی، نو هغوی نه پوهیږي.
* ۹۴- کله چې تاسې هغوی ته ور ستانه شئ، نو هغوی به تاسې ته عذر وړاندې کوي. ووایه چې بهانې مه کوئ. مونږ هېڅکله ستاسې خبره نه منو. بېشکه الله مونږ ته ستاسې حالات ویلي دی. اوس به الله او رسول ستاسې اعمال ګوري. بیا به تاسې هغه ته ور ستنیږئ چې په پټو او ښکاره خبر دی، هغه به تاسې ته ووایي چې څه مو کول. ۹۵- دا خلک به ستاسې په را ستنېدو قسمونه کوي چې ترې تېر شئ، نو تاسې ترې تېر شئ، ځکه هغوی ناپاکه دي او د هغوی ځای دوزخ دی د هغه عمل په بدل کې چې دوی کاوه.۹۶- دوئ تاسوته ځکه قسمونه خورئ چه

تاسو ترے نه راضی شئ  او که ته له هغو راضي هم شې، الله له نا فرمانه خلکو څخه نه راضي کيږي.
۹۷- د کلو او بانډو خلک په کفر او نفاق کې ډېر کلک دي او د همدې لايق دي چې الله په خپل رسول څه نازل کړي، د دې له حدودو بې خبره وي. او الله په هر څه پوه او د حکمت خاوند دی. ۹۸- او په کليو کې داسې خلک هم شته چې د الله په لاره کې مصرف تاوان بولي او ستاسې لپاره د زمانې د بدلونونو په تمه دي. بد بدلون پخپله په هغو دی او الله اورېدونکی او پوهېدونکی دی. ۹۹- او په کليو کې هغو هم دي چې په الله او د آخرت په ورځ ايمان لري او څه چې مصرفوي هغه الله ته د نږدېکت او د رسول د دعاګانو د اخيستو وسيله ګرځوي. هو، بېشکه دا د هغوی لپاره د نږدېکت وسيله ده. الله به هغوی په خپل رحمت کې داخل کړي. يقيناً الله بښونکی او مهربان دی.
۱۰۰- او په مهاجرينو او انصارو کې چې چا (په ايمان راوړلو کې) وړاندېتوب کړی او چا چې په ښه شان د هغوی پيروي کړی، له هغوی الله راضي شو او هغوی له الله راضي شول. او الله د هغوی لپاره داسې باغ تيار کړی چې ور لاندې به نهرونه بهيږي. هغوی به په کې تل اوسيږي. همدا لويه بريا ده. ۱۰۱- او ستاسې خوا و شا ته چې کوم کليوال (بانډهچيان) دي، په هغوی کې منافق شته او د مدينې په خلکو کې هم منافقان شته. هغوی په نفاق ولاړ دي. تاسې هغوی نه پېژنئ، موږ يې پېژنو. موږ به هغوی ته دوه چند عذاب ورکړو. بيا به هغوی د يو لوی عذاب لور ته ولېږل شي.
۱۰۲- ځينې نور خلک دي چې په خپله پړه يې اعتراف کړی دی. هغوی ګډوډ عملونه کړي وو، ځيني ښه او ځيني بد. تمه ده چې الله ورته پام وکړي. بېشکه الله بښونکی او مهربان دی. ۱۰۳- ته د هغوی له مالونو

صدقه واخله، په دې به ته هغوی پاک کړې او د هغوی تزکیه به وکړې.
او ته هغو ته دعا وکړه. بېشکه ستا دعا به د هغوی د آرامتیا لامل شي.
الله د هر څه اورېدونکی او (په هر څه) پوه دی. ۱۰۴- ایا هغوی نه
پوهېږي چې یوازې د الله د خپلو بندهګانو توبه قبلوي. او هماغه صدقې
قبلوي. او الله توبه قبلونکی او مهربان دی. ۱۰۵- ووایه چې عمل وکړئ.
الله او د هغه رسول او د ایمان خاوندان به ستاسې اعمال ګوري او تاسې
به زر هغه (ذات) ته ورستانه شئ چې په ټولو ښکاره او پټو پوهېږي.
هغه به تاسې ته ووايي چې څه مو کول. ۱۰۶- ځینې نور خلک دي چې
معامله یې د الله د حکم تر راتګ پورې ځنډېدلې ده، هغه به یا دوی ته
جزا ورکوي یا به یې ببښي او الله پوه او د حکمت خاوند دی.
۱۰۷- او په هغوی کې داسې هم شته چې یو جومات یې د تاوان رسولو
او کفر او د ایماندارو د نفاق لپاره جوړ کړی او د دې لپاره چې هغه چاته
د پناه ځای شي چې له مخکې الله او د هغه له رسول سره جنګېږي. او دا
خلک به قسمونه کوي چې موږ خو یوازې ښېګڼه غوښتې وه او الله ګواه
دی چې هغوی دروغجن دي. ۱۰۸- ته په هغه ودانۍ کې هېڅکله مه
ودرېږه. البته د کوم جومات بنسټ چې له لومړۍ ورځ په تقوی ایښی،
هغه د دې وړ دی چې ته په کې ودرېږې. په دې کې داسې خلک هم شته
چې پاک اوسېدل خوښوي او الله پاک اوسېدونکي خلک خوښوي. ۱۰۹-
ایا هغه کس ښه دی چې د خپلې ودانۍ بنسټ یې له الله په وېرې او د الله
په رضا ایښی وي، که هغه کس ښه دی چې د خپلې ودانۍ بنسټ یې د
یوې کندې په غاړه ایښی وي. بیا هغه ودانۍ ده سره د دوزخ اور ته
ولوېده. او الله ظالمانو ته لاره نه ښيي. ۱۱۰- او هغوی چې دا ودانې
جوړه کړې، تل به یې په زړه کې د شک بنسټ ولاړ وي، بې له دې به
یې زړه مات شي. او الله علیم او حکیم دی.

۱۱۱- بېشکه له مومنانو د هغوی ځان او مال د جنت په بیه پېرل شوی دی. هغوی د الله په لاره کې جنګېږي. بیا وژل کوي او وژل کېږي. دا د الله په ذمه یوه ربښتیني وعده ده، په تورات، انجیل او قرآن کې. او تر الله بل لوی څوک دی چې خپله وعده پوره کوي. نو تاسې په هغه معامله خوښي وکړئ چې له الله سره مو کړې ده. او همدا تر ټولو لویه کامیابي ده. ۱۱۲- او هغوی توبه کونکي دي. عبادت کونکي دي. حمد کونکي دي. د الله په لاره کې ګرځېدونکي دي. رکوع کونکي دي. سجده کونکي دي. د نېکۍ حکم کونکي دي. له بدۍ منع کونکي دي. د الله حدودو ته پام کونکي دي او مومنانو ته زېری ورکړه.

۱۱۳- نبي ته او چا چې ایمان راوړی هغوی ته دا روا نه ده چې مشرکینو ته د مغفرت دعا وکړي، که څه هم د دوی خپلوان وي، که ورته ښکاره شوي وي چې هغوی دوزخ ته تلونکي خلک دي. ۱۱۴- او خپل پلار ته د ابراهیم د مغفرت دعا یوازې د هغه وعدې له وجې وه چې هغه ورسره کړې وه. کله چې دا (ابراهیم) پوه شو چې هغه دښمن دی، نو له هغه بېزاره شو. بېشکه ابراهیم نرم او د نرم زړه خاوند و. ۱۱۵- او الله هېڅ قوم له هدایت کولو وروسته نه ګمراه کوي، تر څو چې هغوی ته هغه شیان ښکاره ښکاره ونه وایي چې ځان ترې باید وساتي. بېشکه الله په هر څه پوهېږي. ۱۱۶- په آسمانونو او ځمکه د الله پاچاهي ده، هغه پیدا کول کوي او هغه وژل کوي. او له الله بغیر نه ستاسې ملګری شته او نه مرستندوی.

۱۱۷- الله په نبي او مهاجرو او انصارو فضل کړی چې د تنګسې په وخت یې د نبي ملتیا وکړه، له هغې وروسته چې په هغوی کې د ځینو خلکو زړونه شکمن شوي وو. بیا الله هغوی ته توجه وکړه. بېشکه الله ښونکی او مهربان دی. ۱۱۸- او هغو دریو[۳] ته یې هم توجه وکړله چې

معامله یې ځنډېدلې وه. تر دې چې بیا ځمکه له خپلې پراختیا سره بیا هم په هغوی تنګه شوه، او هغوی پخپله په ځانونو تنګ شو او پوه شول چې له الله د ساتل کېدو لپاره پخپله له الله بغیر بل ځای کې پناه نشته. بیا الله هغوی ته ور ستون شو، ځکه چې هغوی هم الله ته ستانه شول. بېشکه الله توبه قبلونکی او رحم کونکی دی.
۱۱۹- ای د ایمان خاوندانو، له اللهووېرېږئ او د رښتیني خلکو ملګري شئ. ۱۲۰- د مدینې اوسېدونکو او ګېرچاپېره بدویانو ته مناسبه نه وه چې د الله رسول یې پرېښود او شاته کېناستل او نه (ورسره دا مناسبه وه) چې خپل ځان ورته تر هغه ګران شي. دا ځکه چې کومه تنده او لوږه چې هغوی ته د الله په لاره کې رسیږي او هر قدم چې هغه منکرانو ته تاوان رسوي او څه چې هغوی له دښمن نه اخلي، د هر یوه په بدل کې هغوی ته یوه نېکي لیکل کیږي. الله د نیکي کونکو اجر نه ضایع کوي.
۱۲۱- او هغوی چې کوم لږ یا ډېر مصرف کړی او کوم مزلونه یې چې کړي، هغه ټول د دې لپاره ولیکل شول چې الله د هغوی د عمل ښه بدله ورکړي.
۱۲۲- دا ممکنه نه وه چې د ایمان خاوندان ټول راوتي وای. نو داسې ولې ونه شوه چې د هغوی له هرې ډلې یوه برخه راوتې وای، چې په دین کې یې ژوره پوهه پیدا کړې وای او بېرته په تللو یې خپل قوم پوه کړی چې هغوی هم پرهېزګاران شوي وای.
۱۲۳- ای د ایمان خاوندانو، له هغو منکرانو سره وجنګیږئ چې ستاسې شاوخوا ته دي او په کار ده چې هغوی په تاسې کې کلکوالی وګوري او پوه شئ چې الله له وېرېدونکو سره دی. ۱۲۴- او کله چې کوم سورة نازلیږي، په هغوی کې ځیني وایي چې دې تاسې کې د چا ایمان زیات کړی دی. نو څوک چې ایمان لري، دې (سورة) د هغوی ایمان زیات

کړی او هغوی خوشاله کیږي. ۱۲۵- او د چا په زړونو کې چې مرض دی، نو هغوی په چټلی چټلي ور زیاته کړه. او هغوی به تر مرګه منکر وي. ۱۲۶- ایا دا خلک نه ګوري چې هغوی هر کال یو ځل یا دوه ځله په امتحان کې اچول کیږي، بیا هم نه توبه وباسي او نه سبق اخلي. ۱۲۷- او کله چې کوم سورة نازلیږي، نو دا خلک یو بل ته ګوري چې څوک خو ور ګوري نه، بیا روانیږي. الله د دوی زړونه اړولي، په دې خاطر چې هغوی له پوهې کار اخیستونکي خلک نه دي.
۱۲۸- تاسې ته یو رسول درغلی چې ستاسې له خپلې ډلې دی. ستاسې تاوان په هغه سخت دی. هغه ستاسې د ښېګڼې حریص دی. د ایمان په خاوندانو نهایت شفیق او مهربان دی. ۱۲۹- بیا که هغوی مخ واړوي، نو ووایه چې زما لپاره الله کافي دی. له هغه بغیر بل معبود نشته. ما په هغه توکل کړی او هغه د عرش عظیم مالک دی.

## سوره یونس ۱۰

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- آلر، دا له حکمته د ډک کتاب آیتونه دي. ۲- ایا خلک په دې حیران دي چې موږ د هغوی له منځه په یوه کس وحې نازله کړله چې خلک وویروه او څوک چې ایمان راوړي هغوی ته زیری ورکړه چې د هغوی لپاره له خپل رب سره رښتیني مرتبه ده. منکرانو وویل چې دا کس خو ښکاره جادوګر دی.
۳- بېشکه ستاسې رب الله دی چې آسمانونه او ځمکه یې په شپږو ورځو (دورو) کې پیدا کړ، بیا هغه په عرش قایم شو. هماغه د چارو انتظام کوي. د هغه له اجازې بغیر هېڅ شفاعت کونکی نشته. همدا الله ستاسې رب دی، نو تاسې د همده عبادت کوئ، ایا تاسې فکر نه کوئ.

۴- تاسې ټول به هماغه ته ور ستنېږئ، دا د الله پخه وعده ده، بېشکه هغه د پیدايښت پيل کوي، بيا به هغه دويم ځل پيدا کړي چې کومو خلکو ايمان راوړی او نېک کارونه يې کړي، هغوی ته له عدل سره بدله ورکړي. او چا چې انکار کړی، د هغوی د انکار بدله ورته جوش اوبه او له درده ډک عذاب دی.
۵- الله دی چې لمر يې ځلېدونکی کړ او سپوږمۍ ته يې رڼا ورکړله او د هغه منزلونه يې مقرر کړل چې تاسې د کلونو شمېر او حساب معلوم کړئ. الله دا هر څه بې هدفه نه دي پيدا کړي. هغه نښې ښکاره بيانوي د هغو خلکو لپاره چې پوهه لري. ۶- يقيناً د شپې او ورځې په تګ راتګ کې او هغه څه چې الله په آسمانونو او ځمکې پيدا کړی، په هغو ټولو کې د هغو خلکو لپاره نښې دي چې وېرېږي.
۷- بېشکه کوم خلک چې زموږ د ملاقات هيله نه لري او د دنيا په ژوند راضي شوي او مطمئين دي او څوک چې زموږ له نښو بې پروا دی.
۸- د هغوی ځای به دوزخ وي د هغو کارونو له وجې چې هغوی يې کوي. ۹- بېشکه چا چې ايمان راوړ او نېک کارونه يې وکړ، الله به يې د خپل ايمان په برکت له نعمت ډکو باغونو ته ورسوي چې ور لاندې به نهرونه بهېږي. ۱۰- هلته به د دوی خبره دا وي چې ای الله ته پاک يې، او د هغوی ملاقات به سلام وي، او وروستۍ خبره به يې دا وي چې ټول تعريفونه الله لره دي چې د ټول جهان رب دی.
۱۱- که الله خلکو ته عذاب هومره زر ورسوي لکه په هغوی د رحمت کولو چې تادي کوي، نو د هغوی موده (وخته) به ختمه شوې وای. خو کوم خلک چې زموږ د ملاقات تمه نه لري، موږ په خپله سرکشۍ کې سرګردانه ګرځېدلو ته پرېږدو. ۱۲- او انسان ته چې کله تکليف رسېږي نو هغه په ولاړه او ناسته او ملاسته موږ يادوي. بيا چې ترې تکليف لرې

کړو، نو داسې شي لکه په بد وخت کې يې چې موږ بيخي ياد کړي نه وو. په دې توګه له حده تېرېدونکو ته د هغوی اعمال ښاېسته کړی شوي دي.
۱۳- او موږ له تاسې مخکې قومونه هله هلاک کړل چې ظلم يې وکړ. او د هغوی پېغمبران ورته له ښکاره نښو سره ورغلل او هغوی ايمان راوړونکي نه شول. موږ مجرمانو ته داسې بدله ورکوو. ۱۴- بيا موږ له هغو وروسته تاسې په ځمکه د هغوی ځای‌ناستي کړئ چې وګورو تاسې څنګه عمل کوئ.
۱۵- او بيا چې هغوی ته زموږ آيتونه ښکاره لوستل کيږي، نو کومو خلکو سره چې موږ سره د مخ کېدو فکر نه وي، هغوی وايي چې له دې بغير نور قرآن راوړه، يا دا بدل کړه. ووايه دا زما کار نه دی چې زه يې پخپله خوښه بدل کړم. زه خو يوازې د هغې وحې پيروي کوم چې ماته راځي. که زه د خپل رب نافرماني وکړم، نو زه د يوې لويې ورځې له عذابه وېرېږم. ۱۶- ووايه چې که الله غوښتی نو نه به ما دا تاسې ته در اورولی او نه به الله پرې تاسې خبرولای. ما له دې مخکې تاسې سره يو عمر تېر کړی دی، نو ايا تاسې له عقل نه کار نه اخلئ. ۱۷- تر هغه لوی ظالم به څوک وي چې په الله د دروغو تور پورې کړي يا د هغه نښې دروغ وبولي. يقيناً مجرمان کاميابي نه مومي.
۱۸- او هغوی له الله بغير د داسې شيانو عبادت کوي چې نه ورته تاوان رسولای شي او نه ورته ګټه رسولای شي. او هغه وايي چې دوی د الله لپاره زموږ شفاعت کوي. ووايه، ايا تاسې الله ته د هغه څه خبر ورکوئ چې نه په آسمانونو او نه په ځمکه د هغه په علم کې شته. هغه پاک او لوړ دی له هغو (شيانو) چې دوی يې ورسره شريکوي. ۱۹- او خلک يو امت وو. بيا هغوی اختلاف وکړ. او که چېرې ستا د رب له طرفه له

مخکې یوه خبره نه وای شوې، نو د هغوی تر منځ به د هغه څه فیصله کېدله چې هغوی په کې اختلاف کوي.
۲۰- او هغوی وایي په نبي د هغه د رب له طرفه کومه نښه ولې نه را نازلیږي، ووایه چې د غیبو خبر یوازې الله ته دی. تاسې په تمه شئ، زه هم له تاسې سره په تمه پاتې کېدونکو کې یم. ۲۱- او کله چې له یوه تکلیف پېښېدو نه وروسته موږ په چا د خپل رحمت خوند وګورو، نو هغوی سمدستي زموږ د نښو په مسئله کې حیلې جوړول پیلوي. ووایه چې الله په خپلو حیلو کې تر هغوی ډېر تېز دی. یقیناً زموږ ملایکې ستاسې حیلې لیکي.
۲۲- هماغه الله دی چې تاسې په وچه او اوبو کې ګرځوي. کله چې تاسې په کښتۍ کې یئ او کښتۍ له خلکو ډکې د هوا په موافق طرف چلیږي او خلک په دې خوشحاله وي چې ناڅاپه تېزه هوا راځي او په هغوی له هر اړخه څپې را پورته کیږي او هغوی داسې ګڼي چې د مرګ خولې ته لاړو. هغه وخت هغوی خپل دین د الله لپاره خالصوي او هغه را بولي چې که ته موږ له دې وساتې نو یقیناً موږ به شکرګزاره بندهګان شوو.
۲۳- بیا چې کله هغه (الله) هغوی ساتي، نو هغوی سمدستي په ځمکه ناحقه سرکشي پیلوي. ای خلکو، ستاسې سرکشي ستاسې په ضد ده، د دنیا له ژونده ګټه واخلئ، تاسې به بیا ماته راستنیږئ، بیا به درته موږ ووایو چې تاسې څه کول.
۲۴- د دنیا د ژوند مثال داسې دی لکه اوبه چې موږ یې له آسمانه را وورولې نو په ځمکه ښه ګیاه را شنه شوه چې انسانان یې خوري او چې ځناور یې خوري. تر هغې چې ځمکه ښه رونق ومومي او سینګار شي، او د ځمکې خلک داسې وګڼي چې اوس دا زموږ په قابو کې ده، نو (په دې وخت کې) ناڅاپه په هغوی زموږ حکم د شپې یا د ورځې راغی، بیا

موږ. هغه وربېل او ډېرى مو كړل لكه دلته چې پرون هېڅ هم نه وو. په دې توګه موږ نښې ښكاره بيانوو د هغو خلكو لپاره چې غور كوي.
۲۵- او الله د سلامتۍ د كور لور ته بلنه وركوي او هغه چې چاته غواړي، (هغه ته) سمه لار ښيي. ۲۶- چا چې ښه وكړل، د هغوى لپاره ښه دي او پرې زيات هم. او د هغوى په مخ به نه توروالى وي او نه ذلت. همدا جنتيان خلك دي، هلته به تل اوسيږي. ۲۷- او چا چې بدۍ ګټلي، نو د بدۍ بدله (له بدۍ سره) برابره ده. او په هغوى به رسوايي خپره وي. هېڅوك به نه وي چې له الله يې وساتي. (داسې به ښكاري) ګويا د هغوى مخونه د تورې شپې په ټوټو پټې شوې وي. همدا خلك دوزخيان دي او هلته به تل اوسيږي.
۲۸- او په كومه ورځ چې موږ دوى راټولوو، بيا به شرك كونكو ته ووايو چې ودرېږئ تاسې هم او ستاسې جوړ كړي شريكان هم. بيا به موږ د هغوى ترمنځ تفريق وكړو او د هغوى شريكان به ووايي چې تاسې خو زموږ عبادت نه كاوه. ۲۹- الله زموږ تر منځ ګواهۍ ته كافي دى. موږ ستاسې له عبادته بيخي بېخبره وو. ۳۰- هغه وخت به هر څوك له خپل عمل سره مخ وي چې كړى يې و او خلك به الله خپل حقيقي مالك ته ستنيږي او كوم دورغ يې چې ويلي وو، هغه ټول به ترې هېر شي.
۳۱- ووايه چې څوك تاسې ته له آسمان او ځمكې رزق دركوي، يا څوك دى چې په غوږونو او سترګو واكمن دى. او څوك له مړي ژوندى او له ژوندي مړى را وباسي. او څوك د چارو انتظام كوي. هغوى به وايي الله. ووايه، نو بيا تاسې وېرېږئ نه. ۳۲- نو هماغه الله ستاسې حقيقي پروردګار دى. او (د حقې لارې) د توفيق نه وروسته لرې كېدل د بې لارې كېدو پرته نور څه دي، تاسې چېرته ستنيږئ. ۳۳- په دې توګه ستا

د رب خبر د سرکشانو په هکله پوره شوې چې هغوی به ایمان نه راوړي.
۳۴- ووايه، ايا ستاسې په ټاکلو شريکانو کې داسې څوک شته چې په لومړي ځل پيدا کول کوي او بيا يې دويم ځل هم پيدا کړي. ووايه، يوازې الله يې په لومړي ځل هم پيدا کوي او بيا به يې هم هماغه دويم ځل پيدا کړي. نو تاسې چېرته لرې ځئ. ۳۵- ووايه، ايا ستاسې په (ټاکلو) شريکانو کې داسې څوک شته چې حق طرف ته لارښوونه کوي، ووايه يوازې الله حق طرف ته لارښوونه کوي. نو څوک چې د حق لور ته لارښوونه کوي، هماغه د پيروۍ لايق دی، که هغه څوک چې پخپله ورته لاره نه ښکاري، بلکې هغه ته لار وښودل شي. په تاسې څه شوي، تاسې څه ډول فيصله کوئ. ۳۶- په هغوی کې زياتره يوازې د ګمان پيروي کوي او ګمان په حق خبره کې هېڅ کار نه کوي. الله ښه پوهېږي چې هغوی څه کوي.
۳۷- او دا قرآن داسې نه دی چې له الله بغير يې بل څوک جوړ کړي، بلکې دا د هغو وړاندوينو (پيشين ګويانو) تصديق دی چې له مخکې موجودې دي. او د کتاب تفصيل دی، په دې کې هېڅ شک نشته چې دا د جهانونو د رب له طرفه دی. ۳۸- ايا خلک وايي چې دا هغه کس له ځانه جوړ کړی دی. ووايه چې تاسې د دې په شان يو سورة راوړئ، او له الله بغير چې بل څوک را بللی شئ را ويې بولئ که تاسې رښتيني يئ. ۳۹- بلکې دا خلک هغه څه دروغ ګڼي چې د هغوی په علم کې نه راځي. او حقيقت يې لا ورته نه دی ښکاره شوی. همداسې هغو خلکو هم دروغ وباله چې له دوی مخکې تېر شوي، نو وګورئ چې د ظالمانو انجام څه شو.

۴۰- او په هغوی کې داسې هم شته چې په قرآن به ایمان راوړي او داسې هم شته چې په دې به ایمان را نه وړي. او ستا رب مفسدین ښه پېژني.
۴۱- او که هغوی تا دورغجن وبولي، نو ووایه چې زما عمل زما لپاره دی او ستاسې عمل ستاسې لپاره دی. تاسې له هغه څه بري یئ چې زه يې کوم او زه له هغو بري یم چې تاسې يې کوئ. ۴۲- او په هغوی کې ځیني داسې هم دي چې تاته غوږ نیسي، ایا ته يې کڼو ته اوروې چې (هغوی) له پوهې کار نه اخلي. ۴۳- او په هغوی کې ځیني داسې هم دی چې ستا طرف ته ګوري، نو ایا ته ړندو ته لار ښیې که څه هم هغوی يې نه ګوري. ۴۴- الله په خلکو هېڅ ظلم نه کوي، مګر خلک پخپله په ځان ظلم کوي.
۴۵- او په کومه ورځ چې الله هغوی راټول کړي، نو ګویا چې هغوی ګني یوازې یوه ګړۍ په دنیا کې وو. هغوی به یو بل وپېژني. بېشکه سخت په تاوان کې دي هغه خلک چې له الله سره لیدلي يې دروغ وبلل او سمې لارې ته را نغلل. ۴۶- موږ تاته د هغه څه یو برخه وښایوو چې هغوی سره مو يې وعده کړې او که موږ تاته وفات درکړو، په هر حال به هغوی موږ ته را ستنېږي. بیا الله ګواه دی په هغه څه چې هغوی يې کوي. ۴۷- او د هر امت لپاره یو رسول دی. بیا چې د هغوی رسول راشي، نو د هغوی ترمنځ په عدل فیصله کېږي او په هغوی هېڅ ظلم نه کېږي.
۴۸- او هغوی وايي دا وعده به کله پوره کېږي که ته رښتینی یې. ۴۹- ووایه چې زه د خپل ځان لپاره هم د خیر او شر مالک نه یم، مګر څه چې الله وغواړي. د هر امت لپاره یو وخت دی. کله چې د هغوی وخت راشي، نو بیا نه یوه ګړۍ وروسته کېږي او نه مخکې کېږي. ۵۰- ووایه چې، وښیئ که د الله عذاب په تاسې د شپې راشي او که د ورځې، نو

مجرمان به له هغې وړاندې څه وکړي. ۵۱- ایا کله چې عذاب راشي بیا به پرې باور کوئ. اوس قایل شوئ او تاسې د همدې تقاضا کوله. ۵۲- بیا به ظالمانو ته وویل شي چې اوس د تل لپاره د عذاب خوند ګورئ. دا د هغه څه بدله درکول کیږي چې تاسې ګټل.
۵۳- او هغوی له تا پوښتنه کوي چې ایا دا خبره رښتیا ده. ووایه چې هو زما په رب دې قسم وي، دا رښتیا دي او تاسې یې مخه نه شئ نیولای.
۵۴- او که له هر ظالم سره هغه ټول شیان وي چې په ځمکه کې دي، نو هغه به یې فدیه کې ورکول وغواړي. او کله چې هغوی عذاب وګوري، نو په خپل زړه کې به افسوس کوي. او د هغوی ترمنځ به په عدل فیصله کیږي او په هغوی به ظلم نه کیږي. ۵۵- یاد ساتئ، څه چې په آسمانونو او ځمکه دي ټول د الله دي. یاد ساتئ، د الله وعده رښتیا ده، خو ډیر خلک نه پوهیږي. ۵۶- هماغه ژوندي کول کوي او هماغه مړه کول کوي او د هماغه خوا ته به ور ګرځیږئ.
۵۷- ای خلکو، تاسې ته ستاسې د رب له طرفه نصیحت راغلی، او د هغو (مرضونو) لپاره شفا (ده) چې په سینو کې دي او د ایمان خاوندانو لپاره هدایت او رحمت دی. ۵۸- ووایه چې دا د الله په فضل او رحمت دي. اوس باید خلک خوشحاله وي، دا تر هغو غوره ده چې هغوی یې راټولوي. ۵۹- ووایه، الله چې تاسې لپاره کوم رزق را ښکته کړی و، بیا تاسې په هغوی کې ځیني حرام وګڼل او ځیني حلال. ووایه، ایا الله تاسې ته د دې حکم کړی، که تاسې په الله دروغ پورې کوئ. ۶۰- او د قیامت د ورځې په هکله د هغو خلکو فکر څه دی چې په الله دروغ تړي. بېشکه الله په خلکو لوی فضل کونکی دی، خو ډیر خلک شکر نه وباسي.
۶۱- او ته چې په هر حال یې او د قرآن هره برخه چې اوروې، او تاسې چې هر کار کوئ، موږ په تاسې ګواه یوو کله چې تاسې په دې مصروف

يئ. او ستا له رب ذره قدرې څه هم پټ نه دي، نه په ځمکه او نه په آسمان کې او نه له هغې کوچنی او لويو مګر هغه په يوه واضح کتاب کې دي. ۶۲- واورئ، د الله په ملګرو نه وېره شته او نه به خفه وي. ۶۳- دا هغه خلک دي چې ايمان يې راوړ او وېرېدل. ۶۴- د ديو لپاره د دنيا او آخرت په ژوند کې زېری دی. د الله په خبرو کې هېڅ بدلون نشته، همدا لويه بريا ده. ۶۵- او ته د هغوی په خبرو خفه نه شې. زور ټول له الله سره دی، هغه اورېدونکی او پوهېدونکی دی.

۶۶- واورئ، څه چې په آسمانونو کې دي او څه چې په ځمکه دي، ټول د الله دي. او څوک چې له الله بغير شريکان را بولي هغوی د څه شي پيروي کوي، هغوی يوازې د ګمان پيروي کوي او يوازې اټکل ځغلوي. ۶۷- هماغه الله دی چې ستاسې لپاره يې پيدا کړه چې تاسې آرام وکړئ. او ورځ يې روښانه کړله. بېشکه په دې کې نښې دي د هغو خلکو لپاره چې اوري.

۶۸- وايي چې الله زوی جوړ (پيدا) کړی دی. هغه پاک دی، بې نيازه دی. د هماغه دی څه چې په آسمانونو کې دي او څه چې په ځمکه دي. تاسې سره د دې (خبرې) هېڅ دليل نشته، ايا تاسې په الله پسې هغه خبره تړئ چې تاسې پرې هېڅ نه پوهېږئ. ۶۹- ووايه، څوک چې په الله دروغ تړي، هغوی به کاميابي ونه مومي. ۷۰- هغوی په دنيا کې لږه ګټه اخلي، بيا يې زموږ لور ته را ستنېدل دي. بيا به موږ په هغوی د انکار په بدل کې د سخت عذاب خوند وګورو.

۷۱- او هغوی ته د نوح حال بيان کړه. کله چې هغه خپل قوم ته وويل چې ای زما قومه، که زما ودرېدل او د الله د آيتونو په وسيله تاسې ته نصيحت په تاسې بد لګيږي، نو ما په الله توکل کړی دی. تاسې خپله ګډه فيصله وکړئ او خپل شريکان هم له ځان سره کړئ، چې تاسې ته په

خپله فیصله کې شک پاتې نه شي. بیا چې تاسې له ماسره هر څه کول غواړئ هغه وکړئ او ماته مهلت مه راکوئ. ۷۲- که تاسې مخ اړوئ، نو ما له تاسې هېڅ مزدوري نه ده غوښتې، زما مزدوري خو د الله په ذمه ده. او ماته حکم شوی چې زه په فرمانبردارانو کې شم. ۷۳- بیا هغوی هغه (نوح) دروغجن وباله، نو موږ نوح او هغه خلک وساتل چې ده سره په کښتۍ کې وو او هغوی مو ځای‌ناستي کړل. او هغه خلک مو ډوب کړل چې زموږ نښې یې دروغ بللې وې. وګورئ څه انجام شو د هغو خلکو چې وېرول شوي وو.
۷۴- بیا موږ له نوح وروسته څومره رسولان ولېږل. هغوی دوی ته له څومره ښکاره دلیلونو سره راغلل، خو هغوی په هغه ایمان راوړونکي نه شول چې مخکې یې دروغجن بللي وو. په دې توګه موږ له حده وتونکو په زړونو مهر لګوو.
۷۵- بیا مو له هغه وروسته موسی او هارون، فرعون او د هغه مشرانو ته له خپلو نښو سره ولېږل، خو هغوی کبر وکړ او هغوی مجرمان وو.
۷۶- بیا چې هغوی ته زموږ له اړخه رښتیا خبره ورسېدله، نو هغوی وویل چې دا خو ښکاره جادو دی ۷۷- موسی وویل، ایا تاسې حق جادو بولئ، سره د دې چې تاسې ته را رسېدلی دی. ایا دا جادو دی، حال دا چې جادوګر هېڅکله کامیابي نه مومي. ۷۸- هغوی وویل ایا ته موږ ته دې لپاره راغلی یې چې موږ له هغه لارې لرې کړې چې زموږ پلار نیکه پرې تلل او په دې وطن کې ستاسې د دواړو لویي جوړه شي او موږ هېڅکله ستاسې د دواړو خبرې نه منو.
۷۹- او فرعون وویل چې ټول ماهر جادوګر ماته راولئ. ۸۰- جادوګر چې راغلل نو موسی ورته وویل تاسې چې څه غورځوئ، هغه جادو دی.- ۸۱- الله به هغه باطل کړي، الله یقیناً مفسدین سمبدو ته نه پرېږدي.

۸۲- او الله په خپل حکم حق حق کوي، که مجرمان پرې هر څومره خفه کيږي. ۸۳- بیا موسی په خپل قوم کې له څو ځوانانو بغير بل هېچا ونه مانه، د فرعون له وېرې او د خپل قوم د مشرانو له وېرې چې دوی په څه فتنه کې وا نه چوي، بېشکه فرعون په ځمکه غلبه لرله او د هغو خلکو له ډلې و چې له حده وځي. ۸۴- او موسی وویل ای زما قومه، که تاسې په الله ایمان لرئ، نو په هغه توکل وکړئ، که واقعي فرمانبردار يئ. ۸۵- هغوی وویل، موږ په الله توکل کړی، ای زموږ ربه، موږ ظالمانو ته مه فتنه کوه. ۸۶- او په خپل رحمت موږ له منکرانو وساته.
۸۷- او موږ موسی او د هغه ورور ته وحې وکړله چې خپل قوم لپاره په مصر کې ځينې کورونه وټاکئ او خپل هماغه کورونه قبله کړئ او لمونځ وکړئ. او د ایمان خاوندانو ته زېری ورکړئ.
۸۸- اوموسی وویل، ای زموږ ربه، تا فرعون او د هغه سردارانو ته ولې د دنیا په ژوند کې رونق او مال ورکړی دی. ای زموږ ربه، ایا د دې لپاره هغه خلک ستا له لارې بې لارې کړي. ای زموږ ربه، د هغوی مال چور کړې او د هغوی زړونه سخت کړې چې ایمان را نه وړي تر هغې چې له درده ډک عذاب وګوري. ۸۹- ويې فرمایل، ستاسې د دواړو دعا قبوله شوه. اوس تاسې دواړه خپل کار کوئ او د هغو خلکو پیروي مه کوئ چې نه پوهېږي.
۹۰- او موږ چې بني اسرائیل له سمندره پورې ویستل، نو فرعون او د هغه لښکر ورپسې د سرکشۍ او زیاتي په موخه روان شو. تر دې چې کله فرعون په ډوبېدو شو، نو ويې ویل، ما ایمان راوړ چې هېڅ معبود نشته، مګر هغه چې بني اسرائیلو پرې ایمان راوړی. او زه د هغه په فرمانبردارانو کې یم. ۹۱- ایا اوس، او له دې مخکې تا نافرماني کوله او ته په فساد کونکو کې وې. ۹۲- نو نن به موږ ستا بدن وساتو چې ته

له ځان وروسته خلکو ته يوه نښه شې او بېشکه ډېر خلک زموږ له نښو غافل وي.
۹۳- او موږ بني اسرائيلو ته ښه استوګنځای ورکړ او هغوی ته مو د خوراک لپاره پاک شيان ورکړل. بيا هغوی اختلاف ونه کړ، مګرهغه وخت چې علم ورته راغلی و. يقيناً ستا رب به د قيامت په ورځ د هغوی ترمنځ د هغه څه فيصله وکړي چې هغوی په کې اختلاف کاوه.
۹۴- نو که تاسې د هغه څه په هکله شک لرئ چې موږ تاسې ته در لېږلی، نو له هغو خلکو پوښتنه وکړئ چې له تاسې مخکې کتاب لولي. بېشکه دا تاسې ته ستاسې د رب له طرفه حق راغلی دی، نو تاسې په شک کونکو کې مه راځئ. ۹۵- او تاسې په هغو خلکو کې مه راځئ چې د الله آيتونه يې دروغ بللي، ګني په تاوانيانو کې به راشئ.
۹۶- بېشکه په کومو خلکو چې ستا د رب خبره پوره شوې ده، هغوی ايمان نه راوړي. ۹۷- که څه هم هغوی ته ټولې نښې راشي تر هغې چې هغوی له درده ډک عذاب را روان ونه ويني. ۹۸- نو داسې ولې نه وشول چې د يونس له قوم پرته، يوه کلي ايمان راوړی وای چې د هغوی ايمان ورته ګټه رسولې وای. هغوی چې ايمان راوړ، نو موږ له هغوی د دنيا په ژوند کې عذاب لرې کړ او هغوی ته مو تر يوه وخته د ګټې اخيستو موقع ورکړه.
۹۹- او که ستا رب غوښتی وای، نو په ځمکه چې څومره خلک دي ټولو به ايمان راوړی وای. نو ايا ته خلک مجبوروې چې هغوی ايمان راوړي.
۱۰۰- او هېڅ يوه کس ته دا ممکنه نه ده چې د الله له اجازې بغير ايمان راوړي. او الله په هغو خلکو ګندګي اچوي چې له عقل کار نه اخلي.
۱۰۱- ووايه په آسمانونو او ځمکه کې چې څه دي، هغه وګورئ. او نښې او وېره هغو خلکو ته هېڅ ګټه نه رسوي چې ايمان نه راوړي. ۱۰۲-

هغوی د داسې ورځې په تمه دي چې کومې ورځې چې تر دوی په مخکې
خلکو راغلې وې. ووایه، په تمه شئ، زه هم تاسې سره په تمه کېدونکو
کې یم. ۱۰۳- بیا موږ خپل رسولان او هغو ساتو چې ایمان یې راوړ. په
دې توګه زموږ ذمه ده چې موږ به د ایمان خاوندان ساتو.
۱۰۴- ووایه، ای خلکو که تاسې زما په دین کې شک لرئ، زه له الله
بغیر د هغو عبادت نه کوم چې تاسې یې عبادت کوئ. بلکې زه د هغه الله
عبادت کوم چې تاسې مړه کوي او ماته حکم شوی زه په ایمان راوړونکو
کې شم. ۱۰۵- او دا چې خپل مخ د دین طرف ته کړئ. او په مشرکانو
کې مه راځئ. ۱۰۶- او له الله بغیر هغو مه را بولئ چې تاسې ته نه ګټه
در رسولای شي او نه تاوان. بیا که تاسې داسې وکړئ، نو یقیناً په ظالمانو
کې به راشئ. ۱۰۷- او که الله تاسې په کوم تکلیف کې ونیسي، نو له هغه
بغیر بل هېڅوک نشته چې هغه (تکلیف) درنه لرې کړی شي. او که
تاسې ته کوم خیر در رسېږي، نو د هغه د فضل مخه نیونکی څوک نشته.
هغه چې په خپلو بندګانو کې څوک وغواړي په هغه فضل کوي او هغه
بښونکی او مهربان دی.
۱۰۸- ووایه، ای خلکو، تاسې ته ستاسې د رب له طرفه حق راغلی دی.
څوک چې هدایت ومني، نو هغه یې د خپل ځان لپاره مني او څوک چې
لار خطا کړي د هغه وبال به په هماغه راځي او زه په تاسې مسوول نه
یم. ۱۰۹- او ته د هغه پیروي کوه څه چې درته وحې کېږي او صبر
وکړه تر هغې چې الله فیصله وکړي او هغه غوره فیصله کونکی دی.

## سوره هود ۱۱

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.

۱- الَر- دا (داسې) کتاب دی چې آیتونه یې لومړی محکم شوي او بیا یې
د یوې پوهې او خبیرې هستۍ له طرفه تفصیل شوی دی. ۲- چې تاسې
له الله بغیر د بل چا عبادت مه کوئ. زه تاسې ته د هغه له اړخه وېرونکی
او زېری درکونکی یم. ۳- او دا چې تاسې له خپل رب نه بښنه وغواړئ
او د هغه طرف ته ستانه شئ، هغه به تاسې ته پرېمانه درکړي تر یوه
ټاکلي وخت پورې او ډېر مستحق ته به له خپل اړخه ډېر ورکړي. او که
تاسې مخ واړوئ، نو زه ستاسې لپاره د یوې لویې ورځې له عذابه
وېرېږم. ۴- تاسې ټول به الله ته ور ستنېږئ او هغه په هر څه قادر دی.
۵- وګورئ، هغوی څنګه خپلې سینې راټولې کړي چې له هغه پټ شي.
خبردار، کله چې هغوی په جامو ځان پټوي، الله پوهېږي چې څه پټوي
او څه ښکاره کوي. هغه د زړونو په خبره هم پوهېږي. * ۶- او په ځمکه
داسې ګرځېدونکی نشته چې د روزۍ ذمه یې په الله نه وي. او هغه
پوهېږي چې څوک اوس چېرته اوسېږي او بیا به چېرته ځي. هر څه یوه
پرانیستي کتاب کې موجود دي.
۷- او هماغه دی چې آسمانونه او ځمکه یې په شپږو ورځو کې پیدا کړل.
او د هغه عرش په اوبو و. چې تاسې وازمایي چې په تاسې کې څوک
ښه کارونه کوي. او که تاسې ووایئ چې له مړینې وروسته به تاسې
بېرته را ژوندي کېږئ، نو منکرین وایي دا خو ښکاره جادو دی. ۸- او
که موږ تر یوې مودې د هغوی جزا وځنډوو، نو وایي چې څه شي
ځنډولې ده. خبردار، په کومه ورځ چې هغه (عذاب) په دوی راشي، نو
دوی به ترې خلاص نه شي او هغه څه به یې ونغاړي چې دوی ور
پورې خندا کوي.
۹- او که موږ انسان په خپل کوم رحمت ونازوو او بیا یې له هغه محروم
کړو، نو هغه ناهیلي او ناشکره کېږي. ۱۰- که چاته تکلیف رسېدلی وي

او له هغه وروسته يې په کوم نعمت ونازوو، نو هغه وايي چې ټول مصيبتونه رانه لرې شول، هغوی بيا وياړ او کبرجن شي. ۱۱- خو څوک چې صبر او نېک عمل کوي، د هغوی لپاره بخشش او لوی اجر دی.
۱۲- چېرې داسې ونه شي چې د هغه څه يوه برخه پرېږدئ چې وحې يې درته شوې ده. او ته په دې خبره زړه مه تنګوه چې هغوی وايي په ده کومه خزانه ولې نه ده نازله شوې يا ورسره کومه ملايکه ولې نه راځي. ته خو يوازې وېرونکی يې او الله د هر څه ذمه وار دی. ۱۳- ايا هغوی وايي چې پيغمبر دا کتاب جوړ کړی دی. ووايه، تاسې هم داسې لس سورتونه راوړئ او له الله بغير چې څوک غواړئ را ويې بولئ که تاسې رښتيني يئ. ۱۴- نو که هغوی ستا غوښتنه پوره نه کړی شوه، پوه شه چې دا د الله له علم نه را نازل شوی او دا هم چې له هغه بغير بل معبود نشته. ايا بيا به تاسې حکم ومنئ.
۱۵- څوک د دنيا ژوند او ښاېست غواړي، موږ د هغوی د اعمالو بدله په دنيا کې ورکوو. او په هغه کې به ورسره هېڅ کمی نه کېږي. ۱۶- همدا هغه خلک دي چې په آخرت کې ورته له اور بغير نور څه نشته. هغوی چې په دنيا کې څه جوړ کړي وو، هغه برباد شول او څه يې چې ګټلي وو، هغه خراب شول.
۱۷- بيا يو کس چې د خپل رب له طرفه په يوه دليل ولاړ دی، له هغه وروسته د الله له طرفه په هغه يو ګواه هم راغی، او تر هغه مخکې د موسی کتاب د لارښود او رحمت په توګه موجود و، هغوی به يوه ورځ په ده ايمان راوړي او په ډلو کې چې څوک له ده انکار وکړي، نو هغه سره د اور د ځای وعده ده. نو ته د دې په هکله هېڅ ډول شک کې مه پريوځه. دا ستا د رب له طرفه حق دی، خو زياتره خلک يې نه مني.

۱۸- او تر هغه به لوی ظالم څوک وي چې په الله دروغ تړي. داسې خلک به د خپل رب مخې ته وړاندې شي او ګواهي ورکونکي به ووايي چې دا هغه خلک دي چې په خپل رب پورې يې دروغ تړلي وو. واورئ، په ظالمانو د الله لعنت دی. ۱۹- په هغو خلکو چې د الله له لارې خلک منع کوي او په هغه کې کوږوالی لټوي. همدا خلک له آخرته منکر دي. ۲۰- دا خلک په ځمکه الله نه شي بېوسه کولای او نه له الله بغير په هغوی بل مرستندوی شته، په هغوی به غبرګ عذاب وي. هغوی نه اورېدلای او نه ليدلای شول. ۲۱- دا هغه خلک دي چې ځانونه يې په تاوان کې اچولي. او هغه هر څه ترې ورک شول چې پخپله يې جوړ کړي وو. ۲۲- په دې کې شک نشته چې دا خلک به په آخرت کې تر ټولو ډېر په تاوان کې وي.
۲۳- چا چې ايمان راوړ او چا چې نيک عمل وکړ او د خپل رب په وړاندې يې عاجزي وکړله، هغوی جنتيان دي. او په کې به تل اوسېږي.
۲۴- د دې دواړو ډلو مثال داسې دی لکه يوه (ډله) چې ړانده او کاڼه وي او بله بينا او اورېدونکې وي. ايا دا دواړه به يو ډول شي. ايا تاسې فکر نه کوئ.
۲۵- او موږ نوح د هغه قوم ته ولېږه چې (ورته ووايي) زه ستاسې ښکاره وېرونکی يم. ۲۶- دا چې تاسې له الله بغير د بل چا عبادت مه کوئ. زه په تاسې د يوه دردناک عذاب ورځې ته اندېښنه لرم. ۲۷- د هغه د قوم مشرانو وويل، چې انکار يې کړی و چې موږ خو تاته د ځان په شان يوه کس په سترګه ګورو. او موږ نه ګورو چې څوک دې ستا تابع شوی وي، بې له هغو چې په موږ کې ټيټ خلک دي، ناپوه خلک. او موږ نه ګورو چې ته دې په موږ کوم لوړوالی ولرې، بلکې موږ خو تا دروغجن ګڼو.

۲۸- نوح وویل ای زما قومه، ووایئ، که زه د خپل رب له طرفه په یوه روښانه دلیل (ولاړ) یم او هغه ماته خپل رحمت را لیږلی وي، خو هغه تاسې ته نه ښکاري، نو ایا زه په تاسې هغه در تپلی شم په داسې حال کې چې تاسې ترې بېزاره یئ. ۲۹- او ای زما قومه، زه له تاسې څه مال نه غواړم. زما اجر له الله سره دی او زه هېڅکله هغوی له ځانه نه لرې کوم چې ایمان یې راوړی دی. هغه خلک به له خپل رب سره ویني. خو زه ګورم چې تاسې په جهالت اخته یئ. ۳۰- او ای زما قومه، که زه هغه خلک رد کړم نو د الله (د عذاب) په مقابل کې به څوک له ماسره مرسته کوي. ایا تاسې فکر نه کوئ. ۳۱- او زه تاسې ته نه وایم چې ماسره د الله خزانې دي، او نه په غیبو پوهېږم، او نه دا وایم چې زه ملایکه یم. او زه دا هم نه شم ویلی چې چاته تاسې په ټیټه ګورئ، هغوی ته به الله ښېګڼه نه ورکوي. الله ښه پوهېږي چې د هغو په زړونو کې څه دی. که زه داسې ووایم نو زه به ظالم یم.

۳۲- هغوی وویل چې ای نوحه، تا موږ سره جنګ وکړ او ډېر جنګ دې وکړ. اوس هغه څه راوړه چې موږ سره دې وعده کړې وه، که رښتینی یې. ۳۳- نوح وویل هغه خو به په تاسې الله راوړي، که هغه یې وغواړي، او تاسې به د هغه له ولکې بهر نه شئ. ۳۴- او که الله غوښتي وي چې تاسې ګمراهان کړي، نو زه که تاسې ته نصیحت کول وغواړم، هم زما نصیحت تاسې ته ګټه نه لري. هماغه ستاسې رب دی او هماغه ته به تاسې ټول ور ستنیږئ.

۳۵- ایا هغو وایي چې دا د پېغمبر خبرې دی، ووایه که دا زما خبرې وي، نو زما جرم په ما دی او تاسې چې کوم جرم کوئ، په هغه کې زه بري یم.

۳۶- او نوح ته وحې وشوه چې اوس به ستا په قوم کې هېڅوک هم ایمان را نه وړي، بې له هغو چې ایمان یې راوړی. نو ته د هغوی په کارونو مه خفه کېږه چې هغوی یې کوي. ۳۷- او زموږ په وړاندې او زموږ په حکم ته کښتۍ جوړه کړه او د ظالمانو په هکله له ماسره مه غږېږه، بېشکه دا خلک به ډوبېږي. ۳۸- او نوح په کښتۍ لګیا شو. او کله به چې د هغه د قوم سردار پرې تېرېده، نو خندا به یې ورپورې کوله. هغوی وویل که ته موږ پورې خاندې نو موږ هم تا پورې خاندو. ۳۹- تاسې به زر پوه شئ چې عذاب په چا راځي، هغه به رسوا کړي او په هغو به داسې عذاب راځي چې تلپاتې وي.
۴۰- تر دې چې زموږ حکم را ورسېده او توپان را پورته شو. موږ نوح ته وویل چې د هر ډول ځنارو یوه یوه جوړه په کښتۍ کې واچوه او د خپل کور خپل هم (سپاره کړه)، بې له هغو خلکو چې مخکې یې په هکله ویل شوي او د ایمان خاوندان هم (واخله). او لږ غوندې خلک وو چې له نوح سره یې ایمان راوړی و. ۴۱- او نوح وویل چې په کښتۍ کې سپاره شئ، د هغه تګ او ودرېدل د الله په نوم دي. بېشکه زما رب بښونکی او مهربان دی. ۴۲- او کښتۍ له دوی سره د غرونو په شان څپو کې روانه شوه. او نوح خپل زوی را وباله چې له ده جدا و. ای زما زویه، له موږ سره را سپور شه او منکرانو سره مه پاتې کېږه. ۴۳- هغه وویل زه به یوه غره ته پناه یوسم چې له اوبو به مې وساتی. نوح وویل نن د الله له حکم ساتونکی هېڅوک نشته، مګر هغو چې الله پرې رحم وکړي. او د دواړو ترمنځ څپې را پورته شوې او هغه په ډوبېدونکو کې راغی. ۴۴- او وویل شول چې ای ځمکې، خپلې اوبه جذب کړه او ای آسمانه ودرېږه. او اوبه وچې کړی شوې. او د معاملې فیصله وشوه او کښتۍ په جودي غره ودرېدله او وویل شول چې لرې شه د ظالمانو قومه.

۴۵- او نوح خپل رب را وباله او ويې ويل اى زما ربه، زما زوى زما
له کورنۍ دى او بېشکه ستا وعده رښتيا ده. او ته تر ټولو لوى حاکم يې.
۴۶- الله وويل اى نوحه، هغه ستا له کورنۍ نه دى، د هغه کارونه خراب
دي، نو ماته د هغه څه سوال مه کوه چې ته پرې نه پوهېږې. زه تاته
نصيحت کوم چې ته په جاهلانو کې مه راځه. ۴۷- نوح وويل چې اى
زما ربه، زه تاته پناه دروړم د هغه څه له غوښتلو چې زه پرې نه پوهېږم.
او که ته ما ونه بښې او په ما رحم ونه کړې، نو زه به تباه شم.
۴۸- وويل شول چې اى نوحه، ښکته شه، زموږ له اړخه له سلامتۍ سره
او له برکتونو سره، په تا او هغه ډلې چې له تا سره دي او (له هغوى
ظهور کونکې) ډلې چې موږ به هغوى ته ګټه ورکړو، بيا به هغوى
زموږ له اړخه يو دردناک عذاب ونيسي. ۴۹- دا د غيبو خبرې دي چې
موږ يې تاته وحې کوو. له دې مخکې پرې نه ته پوهېدې او نه ستا قوم.
نو صبر وکړه، آخري انجام د وېرېدونکو لپاره دى.
۵۰- او عاد (قوم) ته موږ د هغوى ورور هود ولېږه. هغه وويل چې اى
زما قومه، د الله عبادت کوئ. له هغه بغير ستاسې هېڅ معبود نشته. تاسې
يوازې دروغ جوړ کړي دي. ۵۱- اى زما قومه، زه په دې (کار) له
تاسې هېڅ اجر نه غواړم، زما اجر له هغه سره دى چې زه يې پيدا کړى
يم، ايا تاسې نه پوهېږئ. ۵۲- او اى زما قومه، له خپل رب ښښنه
وغواړئ، بيا هماغه ته ستانه شئ. هغه به په تاسې ښه بارانونه ووروي
او ستاسې قوت به لا زيات کړي او تاسې مجرمان کېږئ مه او مخ مه
اړوئ. ۵۳- هغوى وويل چې اى هوده، تا موږ ته کومه ښکاره نښه نه
ده راوړې او موږ ستا په وينا خپل معبودان نه پرېږدو. او موږ هېڅکله
تا نه منوو. ۵۴- موږ به همدا وايوو چې ته زموږ په معبودانو کې کوم
يو وهلى يې. هود وويلو، زه الله ګواه نيسم او تاسې هم ګواه اوسئ زه

بري يم له هغه څه چې تاسې يې شريکوئ. ۵۵- له هغه پرته، تاسې ټول په ګډه زما په ضد تدبير ونيسئ، بيا ماته مهلت مه راکوئ. ۵۶- ما په الله توکل کړی چې زما رب هم دی او ستاسې رب هم. هېڅ داسې ژوندی نشته چې مهار يې د هغه په لاس کې نه وي. بېشکه زما رب په سمه لار دی.
۵۷- که تاسې مخ اړوئ، نو ما تاسې ته هغه پيغام در رسولای چې رب ورسره تاسې ته را لېږلی وم. او زما رب به ستاسې په ځای کومه بله ډله ځای ناستې (خليفة) کړی. تاسې د هغه هېڅ نه شئ کولای. بېشکه زما رب په هر څه نګهبان دی. ۵۸- او بيا چې زموږ حکم را ورسېده، موږ په خپل حکم هود او هغه خلک وساتل چې په ده يې ايمان راوړی و. او موږ هغوی له يوه سخت عذابه وساتل. ۵۹- او هغه عاد (قوم) و چې د خپل رب له نښو يې انکار وکړ. او د هغه رسولان يې ونه منل او د هر سرکش او د مخالف د خبرې اتباع يې وکړله. ۶۰- او په هغوی پسې په دې دنيا کې او د قيامت په ورځ لعنت دی. واورئ، عاد د خپل رب نه انکار وکړ. واورئ، عاد له لرې‌والی دی چې د هود قوم و.
۶۱- او ثمود ته موږ د هغوی ورور صالح ولېږه. هغه وويل ای زما قومه، د الله عبادت وکړئ. له هغه بغير ستاسې هېڅ معبود نشته. هغه تاسې له ځمکې ساز کړئ او بيا يې په کې تاسې مېشت کړئ. نو ښننه وغواړئ، بيا هغه ته رجوع وکړئ. بېشکه زما رب قريب دی، قبلونکی دی. ۶۲- هغوی وويل چې ای صالح له دې مخکې موږ له تا تمه لرله، ايا ته موږ د هغو له عبادته منع کوې چې زموږ پلار نيکه يې عبادت کاوه. او کوم څه ته چې ته موږ ور بولې، د هغه په هکله موږ سخت شک لرو او ډېر په تشويش کې يوو. ۶۳- هغه وويل ای زما قومه وو‌ايه، که زه د خپل رب له طرفه په يوه واضح دليل يم او هغه ماته له خپل

اړخه رحمت را نازل کړی وي، نو که زه نافرماني وکړم له الله به مې څوک ساتي. نو تاسې به یوازې زما تاوان زیات کړئ.
۶۴- او ای زما قومه، دا د الله اوښه ستاسې لپاره یوه نښه ده. نو پرې یې ږدئ چې د الله په ځمکه وڅرېږي. او دې ته تاوان مه رسوئ ګني ډېر زر به مو عذاب ونیسي. ۶۵- بیا هغوی د هغې پښې پرې کړې. بیا صالح وویل چې تر درې نورو ورځو له خپلو کورونو کار واخلئ. دا یوه وعده ده چې دروغ کېږي نه. ۶۶- بیا چې زموږ حکم راغی نو موږ صالح او هغه خلک چې له ده سره یې ایمان راوړی و، په خپل رحمت وساتل او د هغه ورځ له رسوایۍ مو (خوندي کړل). بېشکه ستا رب قوي او زبردست دی. ۶۷- او چا چې ظلم کړی و، هغوی یوه وېرونکې غږ ونیول، بیا سبا په خپلو کورونو کې پړمخې پراته وو. ۶۸- لکه په کې چې بیخي اوسېدلي نه وي. واورئ، ثمود (قوم) له خپل رب سره کفر وکړ. واورئ، لعنت دی د ثمود لپاره.
۶۹- او ابراهیم ته زموږ ملایکو زیری راوړ. ویې ویل په تا دې سلامتي وي. ابراهیم وویل په تاسې دې هم سلامتي وي. بیا هغه زر وریت کړی خوسی راوړ. ۷۰- بیا یې چې ولیدل د هغوی لاسونه د خوړو خوا ته نه اوږدېږي، نو هیښ شو او په زړه کې ترې ووېرېده. هغوی وویل چې مه وېرېږه، موږ د لوط قوم ته لېږل شوي یوو. ۷۱- او د ابراهیم مېرمن ولاړه وه، هغه په خندا شوه. نو موږ هغه ته د اسحاق او په اسحاق پسې د یعقوب زېری ورکړ. ۷۲- هغې وویل، ای زما بدې ورځې، زه به بچی راوړم، زه خو زړه یم او مېړه مې هم زوړ دی. دا خو عجیبه خبره ده.
۷۳- ملایکو وویل، ایا ته د الله په حکم حېرانېږې. د ابراهیم کورنۍ، په تاسې د الله رحمتونه او برکتونه دي. بېشکه الله د ډېرې ستاینې وړ او د لوړ شان خاوند دی.

۷۴- بیا چې د ابراهیم وېره ختمه شوه او زېری ورکول شو، نو موږ سره یې د لوط قوم لپاره لانجه پیل کړله- ۷۵- بېشکه ابراهیم ډېر حلیم، د نرم زړه خاوند او رجوع کونکی و. ۷۶- ای ابراهیمه هغوی پرېږده. ستا د رب حکم راغلی او په هغوی داسې عذاب را روان دی چې بېرته نه ګرځول کیږي.
۷۷- او بیا چې زموږ ملایکې لوط ته ورسېدې، نو هغه ووېرېده او د هغوی په راتګ خفه شو. هغه وویل چې نن ورځ ډېره سخته ده. ۷۸- او د هغه قوم خلک ورته په منډه منډه راغلل. او هغوی لومړی بد کارونه کول. لوط وویل ای زما قومه، دا زما لونې دي، دا تاسې لپاره ډېرې پاکې دي، نو تاسې له اللهووېرېږئ او ما خپلو مېلمنو ته مه رسوا کوئ. ایا په تاسې کې کوم ښه انسان نشته. ۷۹- هغوی وویل، ته پوهېږې چې موږ ستا له لورګانو سره کار نه لرو، او ته پوهېږې چې موږ څه غواړو.
۸۰- لوط وویلو کاش ما کې تاسې سره د مقابلې کولو قوت وای یا زه په کوم قوي پناه‌ځای کې ناست وای. ۸۱- ملایکو وویل ای لوطه، موږ ستا رب را لیږلي یوو. هغوی هېڅکله تاته نه شي را رسېدلای. نو ته هغه خلک ځان سره کړه او یو څو شپې ووځه. او په تاسې کې یو هم شاته مه را ګورئ، مګر ستاسې مېرمنې چې په هغوی هغه څه تېرېدونکي دي چې په دې خلکو به تېرېږي. د هغوی لپاره سهار وخت ټاکل شوی دی، ایا سهار را نږدې نه دی. ۸۲- بیا چې زموږ حکم راغی نو موږ هغه کلی په بله واړوه او په هغوی مو پرله پسې کاڼي وورول. ۸۳- ستا د رب په حکم په نښه شوی و، او هغه کلی له ظالمانو ډېر لرې نه دی.
۸۴- او مدین لور ته مو د هغوی ورور شعیب ولیږه. هغه وویل ای زما قومه، د الله عبادت وکړئ، له هغه بغیر ستاسې بل معبود نشته. او په ناپ او تول کې کمی مه کوئ. زه تاسې په ښه حال کې وینم. او په تاسې د

یوې نیونکې ورځې له عذابه وېرېږم. ۸۵- او ای زما قومه، ناپ او تول په پوره عدل کوئ. او خلکو ته د هغوی شیان لږ مه ورکوئ. او په ځمکه فساد مه کوئ. ۸۶- الله چې څه درکړي هغه پاتې شوی مال درته غوره دی که تاسې مومنان یئ او زه په تاسې نګهبان نه یم.
۸۷- هغوی وویل چې ای شعېبه، ایا ستا لمونځ تاته دا ښیي چې موږ هغه شیان پرېږدو چې زموږ پلار نیکه یې عبادت کاوه. یا په خپل مال کې خپل واک پرېږدو. بس یوازې ته پوه او نیک عمله انسان یې.
۸۸- شعیب وویل چې ای زما قومه، ووایه، که زه د خپل رب له طرفه په یوه واضح دلیل (ولاړ) یم، او هغه له خپل اړخه ماته ښه رزق هم راکړی. او زه نه غواړم پخپله هغه کار وکړم چې تاسې ترې منع کوم. زه خو یوازې اصلاح غواړم، تر څو چې کېږي. او ماته به توفیق الله راکوي. زما په هماغه توکل دی. او هماغه ته رجوع کوم. ۸۹- او ای زما قومه، هسې نه چې ماسره د ضد له وجې په تاسې هغه آفت راشي چې د نوح په قوم یا د هود په قوم یا د صالح په قوم راغلی و، او د لوط قوم خو له تاسې لرې هم نه دی. ۹۰- او له خپل رب نه ښښنه وغواړئ، بېرته هغه ته ور ستانه شئ. بېشکه زما رب ښنونکی او مهربان دی.
۹۱- هغوی وویل ای شعېبه، ته چې څه وایې په ډېره برخه یې موږ نه پوهېږو. او موږ خو لا ګورو چې ته په موږ کې کمزوری یې. او که ستا ټبر نه وای موږ به ته سنګسار کړی وای. او ته په موږ دروند نه یې.
۹۲- شعیب وویل ای زما قومه، ایا زما ټبر په تاسې تر الله ډېر درووند دی. او تاسې الله شاته واچاوه. بېشکه هر څه چې تاسې کوئ زما د رب په ولکه کې دي. ۹۳- او ای زما قومه، تاسې په خپله طریقه کار کوئ او زه به په خپله طریقه کار کوم. زر به درته معلومه شي چې په چا

رسوا کونکی عذاب راځي او څوک دروغ وايي. او په تمه شئ، زه هم
تاسې سره په تمه اوسېدونکو کې يم.
۹۴- او کله چې زموږ حکم راغی نو موږ شعيب او هغه سره هغه کسان
په خپل رحمت وساتل چې ايمان يې راوړی و. او چا چې ظلم کړی و،
هغوی تندر ونيول (پرې را وغورځېده)، بيا هغوی په خپلو کورونو کې
پړمخي پراته پاتې شول. ۹۵- لکه کله چې په کې بيخي اوسېدلي نه وي.
واورئ، لعنت دی په مدين، لکه لعنت چې شوی و په ثمود.
۹۶- او موږ موسی له خپلو نښو او واضح سند سره ولېږه. ۹۷- فرعون
او د هغه سردارانو ته. بيا هغوی د فرعون په حکم لاړل سره د دې چې
د فرعون حکم په رښتيا نه و. ۹۸- د قيامت په ورځ به هغه له خپل قوم
مخکې وي او هغوی به اور ته رسوي. او څومره لوی تاوان دی چې
هغوی ورته رسېږي. ۹۹- او په دې دنيا او د قيامت په ورځ په هغوی
لعنت شوی. څه بد انعام دی چې هغوی ته ورکړل شوی.
۱۰۰- دا د کليو ځيني حالونه دي چې موږ يې تاته وايوو. په دې ځيني
کلي تراوسه شته او ځيني ورک شول. ۱۰۱- او موږ په هغوی ظلم نه
دی کړی، بلکې هغوی پخپله په ځان ظلم کړی. بيا چې ستا د رب پيغام
راغی، نو هغه معبودان يې هېڅ په کار نه شول چې له الله بغير يې را
بلل. او هغوی د دوی لپاره له بربادۍ بغير نور هېڅ زيات نه کړل.
۱۰۲- او ستا د رب نيونه داسې ده او هغه کلي د هغوی په خپل ظلم
نيسي. بېشکه د هغه نيونه ډېره سخته او له درده ډکه ده. ۱۰۳- په دې
کې د هغو خلکو لپاره نښه ده چې له آخرته وېرېږي. هغه داسې ورځ ده
چې ټول خلک به په کې راټول وي، او هغه به د حاضرۍ ورځ وي.
۱۰۴- او موږ هغه د يوې مودې لپاره ځنډوو چې ټاکل شوې ده. ۱۰۵-

هغه ورځ چې راشي، نو هېڅ ژوندی به د هغه له اجازې بغیر خبره نه شي کولای. نو په هغوی کې به ځینې بدبخته وي او ځینې بختور.
۱۰۶- نو څوک چې بدبخته دي هغوی به په اور کې وي. هغوی به هلته چیغې وهي او فریادونه به کوي. ۱۰۷- هغوی به هلته تر هغې پراته وي تر څو چې آسمان او ځمکه قایم وي، مګر څه چې ستا رب وغواړي. بېشکه ستا رب چې څه غواړي هغه کوي. ۱۰۸- او څوک چې بختور وي، هغوی به جنت کې وي، هغوی به هلته تر هغې اوسېږي تر څو چې آسمان او ځمکه قایم وي، مګر څه چې ستا رب وغواړی. بخشش بې انتها دی. ۱۰۹- نو ته د هغو شیانو له وجې په شک کې مه لوېږه چې دوی یې عبادت کوي. دوی خو یوازې هغسې عبادت کوي لکه له دوی مخکې چې یې پلار نیکه کاوه. او موږ به د هغوی برخه ورته بې له کوم کمي پوره ورکوو.
۱۱۰- او موږ موسی ته کتاب ورکړ. بیا په هغو کې نفاق راغی. او که ستا د رب له طرفه له مخکې یوه خبره نه وای راغلې، نو د هغوی ترمنځ به فیصله شوې وای. او هغوی په دې کې هم شک لري چې اطمینان ته یې نه پرېږدي. ۱۱۱- او یقیناً ستا رب به هر یوه ته د هغه د اعمالو پوره بدل ورکړي. هغه خبر دی په هغه څه چې دوی یې کوي.
۱۱۲- نو ته (په خپل کار) لګیا اوسه څنګه چې درته حکم شوی او هغو هم چې له تا سره یې توبه ویستې ده، او له حده مه وځئ، بېشکه هغه ګوري څه چې تاسې کوئ. ۱۱۳- او هغوی ته مه ور نږدې کېږه چې ظلم یې کړی، ګنې اور به دې ونیسي، او له الله بغیر ستا بل مرستندوی نشته، بیا به ته هېڅ مرسته ونه مومې. ۱۱۴- او لمونځ قایم کړه د ورځې په څو برخو کې او د شپې په ځینې برخه کې. بېشکه نیکۍ، بدۍ لرې

کوي. دا خبرداری ده د خبرداري موندونکو ته. ۱۱۵- او صبر کوه، الله
د نېک عملو اجر نه ضایع کوي.
۱۱۶- نو داسې ولې ونه شول چې له تاسې مخکې قومونو کې داسې اهل
خیر خلک وای چې خلک یې په ځمکه له فساده منع کولای. داسې لږ
خلک راووتل چې موږ په هغوی کې وساتل. او ظالمان خو په هماغه
عیش کې پراته وو چې ورکړل شوی و او هغوی مجرمان وو. ۱۱۷- او
ستا رب داسې نه دی چې کلي ناحقه تباه کړي، حال دا چې د هغه
اوسېدونکي اصلاح کونکي وي.
۱۱۸- او که ستا رب غوښتی وای، نو خلک به یې یو امت کړي وای،
خو هغوی به تل په اختلاف کې وي. ۱۱۹- بې له هغو چې ستا رب پرې
رحم وکړي. او هغه د همدې لپاره هغوی پیدا کړي. او ستا د رب خبره
پوره شوه چې زه به دوزخ له پیریانو او انسانانو په ګډه ډکوم.
۱۲۰- او موږ د رسولانو د احوال ټول شیان تاته در اوروو چې ستا زړه
پرې قوي کړو او په دې کې تاته حق راغلی او مومنانو ته نصیحت او
یادونه. ۱۲۱- او چا چې ایمان نه دی راوړی، هغوی ته ووایه چې تاسې
په خپله طریقه عمل کوئ او موږ په خپله طریقه عمل کوو. ۱۲۲- په تمه
شئ، موږ هم په تمه یوو. ۱۲۳- او د آسمانونو او ځمکې پټه خبره له الله
سره ده او هماغه د ټولو چارو مرجع ده. نو د هغه عبادت وکړه او په
هغه توکل وکړه او ستا رب له هغه څه بې خبره نه دی چې ته یې کوې.

## **سوره یوسف ۱۲**

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱-الٓر، دا د کتاب واضح آیتونه دي. ۲- موږ دا عربي قرآن نازل کړی
چې تاسې پرې پوه شئ. ۳- موږ تاته بهترین برخلیک در اورو د دې

قرآن په برکت چې موږ تاته وحې کړ. له دې مخکې بېشکه ته په بې
خبرو کې وې.
۴- کله چې يوسف خپل پلار ته وويل چې پلاره، ما په خوب کې يوولس
ستوري او لمر او سپوږمۍ ليدلي. ما ليدلي چې ماته سجده کوي. ۵- د
هغه پلار وويل ای زما زويه، ته خپل دا خوب خپلو ورونو ته مه وايه
چې هغوی دې په خلاف کوم سازش ونه کړي. بېشکه شيطان د انسان
ښکاره دښمن دی. ۶- او په دې توګه به ستا رب تا غوره کړي او تاته به
د خبرو حقيقت ته رسېدل در وښيي او په تا او په آل يعقوب به خپل نعمت
مکمل کړي لکه څنګه يې چې تر دې مخکې ستا په اجدادو ابراهيم او
اسحاق خپل نعمت پوره کړی دی. يقيناً ستا رب عليم او حکيم دی.
۷- حقيقت دا دی چې يوسف او د هغه ورونو کې پوښتنه کونکو ته ډېرې
لويې نښې دي. ۸- کله چې د هغه (ميرنيو) ورونو خپلو کې وويل چې
يوسف او د هغه ورور زموږ پلار ته تر موږه ډېر ګران دی. حال دا چې
موږ يوه قوي ډله يوو. يقيناً زموږ پلار په يوه ښکاره تېروتنه اخته دی.
۹- يوسف ووژنئ يا يې په کوم ځای کې وغورځوئ چې ستاسې د پلار
توجه يوازې تاسې ته شي. او له هغه وروسته تاسې جوړ شئ. ۱۰- په
هغوی کې يوه ويونکي وويل چې يوسف مه وژنئ. که تاسې کوم څه
کوئ، نو هغه په کوم وچ کوهي کې واچوئ. په لاره کومه روانه قافله به
يې را وباسي او ځان سره به يې بوځي.
۱۱- هغوی خپل پلار ته وويل، ای زموږ پلاره، ته ولې د يوسف په
مسئله کې په موږ باور نه کوې، سره د دې چې موږ د هغه خيرخواه
يوو. ۱۲- سبا هغه له موږ سره ولېږه چې خوراک وکړي او لوبې وکړي،
او موږ د هغه ساتونکي يوو. ۱۳- پلار وويل، زه دې ته غمجن کېږم چې
اندېښنه ده راسره هسې نه تاسې هغه ځان سره بوځئ او کوم لويه يې

وخوري او تاسې ترې غافل شئ. ۱۴- هغوی وویل دا چې موږ پوره ډله یوو، که دا لیوه وخوړ نو بیا به موږ ډېر تاوانیان ثابت شوو.
۱۵- بیا چې هغوی، هغه (یوسف) ځان سره بوته او دا فیصله یې وکړله چې په یوه وچ کوهي کې به یې اچوي، او موږ یوسف ته وحې وکړه چې ته به هغوی ته د هغوی دا کار ور یاد کړې او هغوی به تا نه پېژني.
۱۶- او هغوی ماښام خپل پلار ته په ژړا راغلل. ۱۷- هغوی وویل چې ای زموږ پلاره، موږ د منډې سیالي کوله او یوسف مو له خپل سامان سره پرېښوده، بیا هغه لیوه وخوړ. او ته به زموږ خبره ونه منې، که څه هم موږ رښتیا وایو. ۱۸- او هغوی د یوسف کمیس د دروغو وینو کې لړلی راوړی و. پلار یې وویل نه، بلکې تاسې له خپل ځانه یوه خبره جوړه کړې ده. اوس صبر غوره دی. او تاسې چې کومه خبره کوئ، په هغې زه له الله مرسته غواړم.
۱۹- او بیا یوه قافله راغله او په اوبو پسې یې کس ولېږه. هغه بوکه (کوهي) ته ښکته کړله. هغه وویل، زېری درکوم، دا خو هلک دی. او هغه یې د سوداګرۍ د مال په توګه وساته. او الله په هغه ښه پوهېدل چې هغوی کول. ۲۰- او هغوی هغه په لږه بیه د څو درهمو په مقابل کې خرڅ کړ. او هغوی ده ته لیواله نه وو.
۲۱- او په مصریانو کې چې کوم سړي دی واخیست، هغه خپلې مېرمنې ته وویل چې دا ښه وساته. هیله ده چې دا زموږ لپاره ګټور وي یا یې موږ خپل زوی کړو. او په دی توګه موږ یوسف ته په هغه نوي وطن کې ځای ورکړ. او په دې خاطر چې موږ هغه ته د خبرو تاویل ور وښیو. او الله په خپل کار غالب وي، خو زیاتره خلک نه پوهېږي. ۲۲- او کله چې هغه بلوغ ته ورسېده، هغه ته مو حکم او علم ورکړ. او نېک عملو ته موږ همداسې بدله ورکوو.

۲۳- او یوسف چې د کومې ښځې په کور کې و، هغې ښځې د ده د لمسولو هڅه وکړله او یوه ورځ هغې دروازې پورې کړلې او ویې ویل چې راشه. یوسف وویل الله ته پناه وړم. هغه زما مالک دی، هغه زه ښه ساتلی یم. بېشکه ظالمان هېڅکله کامیابي نه مومي. ۲۴- او ښځې د دې اراده وکړله او هغه به یې هم اراده کړې وای، که هغه د خپل رب برهان نه وای لیدلی. داسې (ټاکل) شوې وه چې موږ هغه له بدۍ او بې حیایۍ لرې کړو. بېشکه هغه زموږ په غوره بندهګانو کې و.
۲۵- او دواړو د دروازې لور ته منډې کړې. او ښځې د یوسف کمیس له شا وشکاوه. او دواړو د هغې (ښځې) مېړه په دروازه کې وموندہ. ښځې وویل څوک چې ستا له مېرمنې سره د بد کار اراده وکړي، د هغه لپاره تر دې بله څه جزا کېدای شي چې هغه بندي کړی شي یا سخته جزا ورکول شي. ۲۶- یوسف وویل چې هغې زما د لمسولو هڅه وکړه. او د هغې ښځې له ټبر نه یوه کس ګواهي ورکړله چې که د هغه (یوسف) کمیس له مخې شکېدلی وي، نو ښځه رښتونې ده او هغه دروغجن دی.
۲۷- او که د هغه کمیس له شا شکېدلی وي، نو ښځه دروغجنه ده او هغه رښتینی دی. ۲۸- بیا چې عزیز ولیدل چې د هغه کمیس له شا شکېدلی دی نو هغه وویل بېشکه دا ستاسو د ښځو چال دی او ستاسې چالونه ډېر زیات لوی وي. ۲۹- یوسف، ته دا وبښه او ای ښځې ته د خپلې غلطۍ ښښنه وغواړه. بېشکه ته خطاکاره یې.
۳۰- او د ښار ښځو وویل چې د عزیز مېرمنه په خپل یوه ځوان غلام پسې شوې ده. او په هغه مئینه شوې ده. موږ ګورو چې هغه ښکاره په غلطه ده. ۳۱- بیا چې هغې (د عزیز ښځې) د هغوی فریب واورېده، نو هغوی یې را وغوښتلې. او د هغوی لپاره یې یو مجلس جوړ کړ او هرې یوې ته یې یو یو چاقو ورکړ او یوسف ته یې وویل چې ته دوی ته را

ښکاره شه. بیا چې ښځو هغه ولیده نو حیرانې پاتې شوې. او هغوی خپل لاسونه پرې کړل. او هغو وویل حاش لله، دا خو انسان نه دی دا کومه لویه ملایکه ده. ۳۲- هغې وویل دا هماغه دی چې په هکله یې تاسې ما ملامتوئ او ما د ده د لمسولو هڅه کړې وه، خو دی بچ شو. او که ده هغه ونه کړل چې زه یې ورته وایم، نو بندي به شي او حتماً به بې‌عزته شي. ۳۳ یوسف وویل، ای زما ربه، زندان زما تر هغه څه ډېر خوښ دی چې دا مې ورته ور بولي. او که تا د هغو فریب له ما لرې نه کړ نو زه به ورته لیواله شم او په ناپوهانو کې به راشم. ۳۴- نو د هغه رب یې دعا قبوله کړله او د هغوی فریب یې ترې لر کړ. بېشکه هغه اورېدونکی او پوهېدونکی دی.
۳۵- بیا له ښو لیدلو وروسته هغه خلک پوه شول چې دا تر یوه وخته بندي کړي. ۳۶- او په زندان کې له هغه سره دوه نور ځوانان واچول شول. په هغوی کې یوه (یوه ورځ) وویل چې ما خوب لیدلی چې شراب زبېښم او بل وویل ما خوب لیدلی چې په خپل سر مې ډوډۍ ایښې ده او مرغان پرې ټونګې وهي. ته موږ ته د دې تعبیر ووایه. ته موږ ته له نېکانو خلکو ښکارې.
۳۷- یوسف وویل، تاسې ته چې کوم خواړه درکول کېږي، د هغه له راتګ مخکې زه تاسې ته د دې خوبونو تعبیر ووایم. دا په هغه علم کې دي چې زما رب ماته راکړی دی. ما د هغو خلکو دین پرېښود چې په الله ایمان نه راوړي او هغه خلک له آخرت نه منکر دي. ۳۸- او ما د خپلو مشرانو ابراهیم، او اسحاق او یعقوب د دین پیروي وکړله. موږ دا حق نه لرو چې له الله سره څوک شریک کړو. دا په موږ او ټولو خلکو د الله فضل دی، خو زیاتره شکر نه وباسي. ۳۹- ای زما د زندان ملګرو، ایا جدا جلا معبود غوره دی که یو قوي الله. ۴۰- تاسې له هغه بغیر د

يوازې هغو څو نومونو عبادت کوئ چې ستاسې پلار نيکه ايښي دي. الله
د هغوی هېڅ سند نه دی نازل کړی. واک يوازې الله سره دی. هغه حکم
کړی چې له هغه بغير د بل چا عبادت مه کوئ. همدا سم دين دی. خو
زياتره خلک نه پوهېږي.
۴۱- ای زما د زندان ملګرو، په تاسې کې به يو خپل مالک ته شراب
ورکوي او دويم به په دار ځړېږي. بيا به مرغان د هغه په سر ټونګې
وهي. د هغه څه فيصله شوې چې تاسې يې پوښتنه کوله. ۴۲- او يوسف
چې داسې يې ګڼل چې کوم سړی خلاصېدونکی دی، هغه ته يې وويل
چې خپل مالک ته زما يادونه وکړه. بيا شيطان له هغه خپل مالک ته
يادونه کول هېر کړل. نو هغه (يوسف) څو کاله په زندان کې پاتې شو.
۴۳- او پاچا وويل ما خوب ليدلی چې اووه[۷] غټې غواګانې وي او اووه[۷]
وچې (وړې) غواګانې يې خوري او اووه[۷] شنه وږي (غونچې) وي او
اووه[۷] وچ وږي وي. ای درباريانو، زما د خوب تعبير راته ووايئ که
تاسې د خوب تعبير کوئ. ۴۴- هغوی وويل دا خيالي خوب دی او موږ
د داسې خوبونونو په تعبير نه پوهېږو.
۴۵- په هغو دوو بنديانو کې چې يو ساتل شوی و، هغه ته څه وخت
وروسته ور ياد شول، ويې ويل چې زه به تاسې ته د دې خوب تعبير
ووايم، نو ما (يوسف ته) پرېږدئ.
۴۶- يوسفه ای رښتينيه، ماته د دې خوب تعبير ووايه چې اووه غټې
غواګانې دي چې اووه وچې غواګانې يې خوري. او اووه شنه وږي دي
او اووه وچ. چې زه هغو خلکو ته لاړ شم او هغوی پوه شي. ۴۷- يوسف
وويل چې تاسې به اووه کاله پرله پسې کرونده کوئ. بيا چې تاسې کوم
فصل وربېئ د هغه وږي پرېږدئ، مګر هغه لږ چې تاسې يې خورئ.
۴۸- بيا به هغې پسې اووه سخت کلونه راشي. په هغه وخت کې به هغه

غله وخوړل شي چې تاسې يې هغه وخت ته ټولوئ، له هغه لږې بغير چې تاسې يې خوندي کوئ. ۴۹- بيا به له هغه وروسته يو کال راشي چې په هغه کې به باران ووربږي او خلک به (د ميوو) شربت نچوړ کړي (وباسي).
۵۰- او پاچا وويل چې هغه (يوسف) ماته راولئ. بيا چې هغه ته قاصد ورغی، نو هغه ورته وويل چې ته بېرته خپل مالک ته ورشه او ورته ووايه د هغه ښځو څه معامله ده چې خپل لاسونه يې پرې کړي وو. زما رب خو د هغوی په فريب ښه خبر دی. ۵۱- پاچا وويل، ستاسې څه کيسه ده چې کله تاسې د يوسف د لمسولو هڅه کړې وه. هغوی وويل چې حاشاالله، موږ په هغه کې هېڅ بدی ونه ليدله. د عزيز ښځې وويل چې اوس حق ښکاره شو. ما د هغه د لمسولو کوشش کړی و او هغه بېشکه رښتينی دی.
۵۲- دا په دې خاطر چې (د مصر عزيز) پوه شي چې ما له هغه سره پټ خيانت نه دی کړی. او بېشکه الله د خيانت کونکو چال نه کاميابوي.
* ۵۳- زه د خپل نفس برائت نه کوم. نفس خو يوازې بدي را زده کوی، مګر که زما رب رحم وکړي. بېشکه زما رب بښونکی او مهربان دی.
۵۴- او پاچا وويل، هغه ماته راولئ. زه به هغه خاص له ځان سره کړم. بيا چې ورسره يوسف خبرې وکړې، نو پاچا وويل، له نن وروسته ته دلته معزز او معتمد شوې. ۵۵- يوسف وويل چې ما د هيواد په خزانو مقرره کړه. زه ساتونکی او پوه يم. ۵۶- او په دې توګه موږ يوسف په وطن کې واکداره کړ. هغه چې هر ځای کې وغواړي (ځان ته) ځای جوړولای شي. موږ چې چا ته وغواړو خپل عنايت متوجه کوو. او موږ د نېک عملو اجر نه ضايع کوو. ۵۷- او د آخرت اجر د ايمان او تقوی خاوندانو لپاره ډېر زيات دی.

۵۸- او د یوسف ورونه مصر ته راغلل او بیا هغه ته ورسېدل، نو یوسف هغوی وپېژندل. ۵۹- او هغوی یوسف ونه پېژنده. او کله چې د هغوی لپاره سامان برابر کړ، نو ورته یې وویل چې خپل ناسکه ورور هم ماته راولئ. تاسې نه ګورئ چې زه غله په پوره تول ورکوم او ښه تر ټولو غوره کوربه هم یم. ۶۰- او که یې تاسې ماته را نه ولئ، نو نه تاسې لپاره غَلَه شته او مه تاسې ماته راځئ. ۶۱- هغوی وویل چې موږ به د هغه په هکله د خپل پلار د راضي کولو هڅه وکړو او موږ دا کار کوو. ۶۲- او هغه خپلو غلامانو ته وویل چې د دوی د پیسو غوټه د هغوی په سامان کېږدئ چې کله هغوی خپل کور ته ورسېږي، نو دا وپېژني او کېدای شي بیا راشي. ۶۳- بیا چې هغوی خپل پلار ته ور ستانه شول، نو ویې ویل ای پلاره، له موږ غله منع شوه، نو زموږ ورور (بن یامین) هم له موږ سره تللو ته پرېږده چې غله راوړو او موږ د هغه ساتونکي یوو. ۶۴- یعقوب وویل، ایا زه د ده په هکله هم په تاسې هغسې باور وکړم لکه مخکې مې چې د ده ورور په هکله په تاسې باور کړی و. بس نو الله ساتونکی دی او هغه تر ټولو مهربانو ډېر مهربانه دی.
۶۵- او کله چې هغوی خپل سامان پرانیست، نو ګوري چې پیسې یې هم ورته بېرته ورستنې کړې شوې دي. هغوی وویل، ای زموږ پلار، موږ نور څه غواړو. دا زموږ پیسې هم موږ ته را ستنې شوې دي. اوس به موږ لاړ شو او خپل اهل و عیال ته به توښه راوړو. او خپل ورور به وساتوو او د یوه اوښ بار غله به زیاته راوړو. دا غله خو لږه ده. ۶۶- یعقوب وویل، زه هغه له تاسې سره هېڅکله نه لېږم تر څو چې تاسې ماسره د الله په نوم دا وعده ونه کړئ چې بېرته به یې حتماً ماته راولئ، مګر دا چې تاسې ټول مړه شئ. بیا چې ورسره هغوی پخه وعده وکړله، هغوی وویل موږ چې څه وایو په دې الله ساتونکی دی.

۶۷- او يعقوب وويل چې ای زما زامنو، تاسې ټول په يوه دروازه مه ور ننوځئ، بلکې په بېلو بېلو دروازو ننوځئ. او زه تاسې د الله له کومې خبرې نه شم ساتلای. حکم يوازې د الله دی. زه په هغه توکل کوم او توکل کونکی بايد په هغه توکل وکړي. ۶۸- بيا چې هغوی په هغو (دروازو) ننوتل چې پلار يې ورته ويلي وو، هغه هغوی د الله له خبرې نه شو ساتلای. هغه يوازې د يعقوب په زړه کې يو خيال و چې هغه پوره کړ. بېشکه هغه زموږ د ورکړې تعليم له وجې د علم خاوند و، خو زياتره خلک نه پوهېږي.
۶۹- او کله چې هغوی يوسف ته ورسېدل، نو هغه خپل ورور له ځان سره (ايسار) کړ. ورته يې وويل چې زه ستا ورور (يوسف) يم. نو د هغوی په کارونو مه خفه کېږه. ۷۰ بيا چې د هغوی سامان تيار کړی شو، نو جام يې د خپل ورور په اسبابو کې کېښود. بيا يوه غږ کونکي غږ وکړ چې ای د قافلې خلکو، تاسې غله يئ. ۷۱- هغوی د هغه کس لور ته وکتل، (ويې ويل) ايا ستاسې څه ورک شوي دي. ۷۲- هغوی وويل، زموږ شاهي پيمانه نشته. او څوک يې چې راوړي هغه ته يو اوښ بار غله ده او زه يې ذمه دار يم. ۷۳- هغوی وويل، په الله قسم ته پوهېږې چې موږ دلته د فساد لپاره نه يوو راغلي او نه موږ غله يوو. ۷۴- هغه وويل که تاسې دروغجن وختئ نو د غله جزا به څه وي-. ۷۵-. هغوی وويل جزا دا ده چې د چا په سامان کې (جام) پيدا شو، هغه کس پخپله (د دې کار) جزا ده. موږ ظالمانو ته همداسې جزا ورکوو. ۷۶- بيا هغه د هغوی له (کشر) ورور نه لومړی د بوجيو د تالاشۍ غوښتنه وکړله. بيا يې د هغوی د ورور له بوجی هغه (جام) را وويست. په دې توګه موږ د يوسف لپاره تدبير وکړ. هغه د پاچا د قانون له مخې خپل ورور نه شو

اخیستلی، مګر دا چې الله غوښتي وای. موږ چې د چا درجې وغواړو لوړووو یې. او تر هر عالم پورته یو عالم شته۔
۷۷۔ هغوی وویل، که دا غلا کوي، نو له ده مخکې یې یو ورور هم غلا کړې وه. نو یوسف دا خبره په خپل زړه کې وساتله او هغوی ته یې ښکاره نه کړله. هغه ځان سره وویل، تاسې پخپله بد خلک یئ او څه چې وایئ الله پرې ښه پوهیږي. ۷۸۔ هغوی وویل چې ای عزیزه، د ده یو ډېر زوړ پلار دی، نو ته د دې په ځای له موږه یو ایسار کړه. موږ ته، ته ډېر نېک ښکاریږې. ۷۹۔ هغه وویل، الله ته پناه وړو که موږ له هغه چا بغیر بل څوک ونیسو چې هغه سره مو خپل (ورک شوی) شی موندلی وي. په دې صورت کې به موږ حتماً ظالمان شوو.
۸۰۔ کله چې هغوی له ده ناهیلي شول، نو یو خوا ته شول او په خپلو کې یې مشوره پیل کړه. د هغوی مشر وویل ایا تاسې نه پوهیږئ چې ستاسې پلار د الله په نوم پوخ قسم اخیستی او له ده مخکې چې تاسې له یوسف سره کوم ظلم کړی، هغه هم درته معلوم دی. نو زه له دې ځایه تر هغې نه ځم چې تر څو زما پلار اجازه را نه کړي یا الله زما لپاره کومه فیصله ونه کړي. او هغه تر ټولو غوره فیصله کونکی دی. ۸۱۔ تاسې خپل پلار ته ورشئ او ورته ووایئ چې ای زموږ پلاره، ستا زوی غلا وکړله او موږ هماغه خبره کوو چې موږ ته معلومه ده او موږ د غیبو نګهبان نه یوو. ۸۲۔ او ته د هغه کلي له خلکو پوښتنه وکړه چې موږ په کې وو او له هغه قافلې پوښتنه وکړه چې موږ ورسره یو ځای راغلو، او موږ رښتیني یوو.
۸۳۔ پلار (یې) وویل، بلکې تاسې په خپل زړه کې یوه خبره جوړه کړې ده، نو زه به صبر وکړم. تمه ده چې الله هغه ټول ماته راولي. هغه پوه او حکیم دی. ۸۴۔ او هغه مخ واړوه او ویې ویل، های یوسفه، او له غمه

يې سترګې سپينې شوې. او خفه شو. ۸۵- هغوی وويل، په الله قسم ته به
د يوسف په يادونو کې پاتې يې تر دې چې ناروغ شې يا مړ شې. ۸۶-
هغه وويل، زه د خپل غم او خفګان ګيله يوازې الله ته کوم او زه د الله له
طرفه په هغو خبرو پوهېږم چې تاسې پرې نه پوهېږئ. ۸۷- ای زما
زامنو، لاړ شئ يوسف او د هغه ورور ولټوئ او د الله له رحمته مه
ناهيلي کېږئ. د الله له رحمته يوازې منکر ناهيلي کېږي.
۸۸- بيا چې هغوی يوسف ته ورسېدل، هغوی وويل، ای عزيزه، موږ
او زموږ کورنۍ ته ډېر تکليف را رسېږي او موږ لږې پيسې راوړې
دي، ته موږ ته پوره غله راکړه او صدقه هم راکړه. بېشکه الله صدقه
کونکو ته د هغه بدله ورکوي. ۸۹- هغه وويل، ايا تاسې پوهېږئ چې
تاسې له يوسف او د هغه له ورور سره څه وکړل، کله چې تاسې نه
پوهېدئ. ۹۰- هغوی وويل، ايا رښتيا همدا ته يوسف يې. هغه وويل هو،
زه يوسف يم او دا زما ورور دی. الله په موږ فضل وکړ. څوک چې
وېرېږي او صبر کوي، نو د نېک عملو اجر نه ضايع کېږي.
۹۱- ورونو وويل، په الله قسم، الله تاته په موږ فضيلت درکړی او بېشکه
موږ په غلطه وو. ۹۲- يوسف وويل، اوس په تاسې هېڅ مسووليت نشته،
الله دې تاسې وبښي او هغه تر ټولو مهربانو ډېر مهربانه دی. ۹۳- تاسې
زما دا کميس يوسئ او زما د پلار په مخ يې واچوئ، د هغه بينايي به
بېرته راشي او تاسې له خپلو کورنيو سره ماته راشئ.
۹۴- او کله چې قافله (له مصر) لاړه نو د هغوی پلار (په کنعان) کې
وويل چې که تاسې ما په بوډاتوب کې په ګډو وډو سر ونه بولئ، نو ماته
د يوسف بوي راځي. ۹۵- خلکو وويل، په الله قسم، ته خو تر اوسه په
خپلو پخوانيو خيالونو کې ډوب يې. ۹۶- نو کله چې زېری ورکونکی
راغی، هغه کميس د يعقوب په مخ واچاوه، نو د هغه بينايي را ستنه شوه.

هغه وویل، ایا ما تاسې ته نه وو ویلي چې زه د الله له طرفه په هغو خبرو پوهېږم چې تاسې پرې نه پوهېږئ. ۹۷- د یوسف ورونو وویل، ای زموږ پلاره، زموږ د ګناهونو د ښښنې دعا وکړه، موږ بېشکه خطاکار وو. ۹۸- یعقوب وویل، زه به له خپل رب تاسې ته د مغفرت دعا وکړم. بېشکه هغه ښښونکی او د رحم خاوند دی.
۹۹- نو کله چې هغوی ټول یوسف ته را ستانه شول، نو هغه خپل مور او پلار له ځان سره کېنول. او ویې ویل چې په مصر کې انشاءالله په امن او آرام اوسېږئ. ۱۰۰- او هغه خپل مور او پلار په تخت کېنول او ټول د هغه لپاره (د شکر) په سجده ښکته شول. او یوسف وویل ای زما پلاره، دا زما د هغه خوب تعبیر دی چې ما مخکې لیدلی و. زما رب هغه ربښتیا کړ او هغه له ماسره احسان وکړ چې زه یې له زندانه را وویستم او تاسې ټول یې دلته له کلي راوویستئ له هغې وروسته چې شیطان زما او زما د ورونو ترمنځ فساد اچولی و. بېشکه زما رب چې څه غواړي د هغه لپاره ښه تدبیر کوي، هغه پوه او د حکمت خاوند دی-
۱۰۱- ای زما ربه، تا ماته په حکومت کې برخه راکړله او ماته دې د خبرو تعبیر را وښود. ای د آسمانونو او ځمکې خالقه، ته زما کارساز یې، په دنیا کې هم او په آخرت کې هم. ماته د فرمانبردارۍ په حالت کې وفات راکړه او ما په نېکو بندهګانو کې شامل کړه.
۱۰۲- دا له غیبو خبرو دی چې موږ یې تاته وحې کوو او ته هغه وخت له هغوی سره نه وې، چې کله د یوسف ورونو خپله خبره پخه کړه او تدبیرونه یې کول. ۱۰۳- او که ته هر څومره وغواړې زیاتره خلک ایمان نه راوړي. ۱۰۴- او ته په دې له هغوی معاوضه نه غواړې، دا خو یوازې د ټول جهان والاو ته نصیحت دی.

۱۰۵- او په آسمانونو او ځمکه کې څومره نښې دي چې هغوی پرې تېرېږي او پام ورته نه کوي. ۱۰۶- او زیاتره خلک چې کوم الله مني له هغه سره نور هم شریکوي. ۱۰۷- ایا هغه خلک له دې (اړخه) مطمئین دي چې په هغوی کوم الهي عذاب راشي یا پرې قیامت راشي او هغوی بېخبره وي. ۱۰۸- ووایه چې دا زما لاره ده، زه له بصیرت سره د الله لور ته بلنه کوم، زه هم او هغه خلک هم چې زما پیروي یې کړې. او الله پاک دی او زه په مشرکانو کې نه یم.
۱۰۹- او موږ چې له تا مخکې مختلفو خلکو ته څومره رسولان لېږلي ټول انسانان وو. موږ هغوی ته وحې کوله. ایا دا خلک په ځمکه ګرځېدلي نه دي چې وګوري د هغو خلکو څه انجام شو چې تر دوی مخکې وو. د آخرت کور د هغو خلکو لپاره ښه دی چې وېرېږي، ایا تاسې نه پوهېږئ. ۱۱۰- تر دې چې رسولان ناهیلی شول او داسې فکر یې وکړ چې هغوی ته ګني دروغ ویل شوي، نو زموږ مرسته راغله. نو هغه مو وساتل چې موږ غوښتل او له مجرمانو زموږ عذاب نه شي ځنډېدی. ۱۱۱- په دې کیسو کې پوهو خلکو ته لوی عبرت دی. دا له ځانه نه دي جوړې شوي، بلکې د هغه څه تصدیق دی چې له دې مخکې موجود دي. او د هر څه تفصیل دی. او د ایمان خاوندانو ته هدایت او رحمت دی.

## سوره الرعد ۱۳

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- **الٓمٓر**، دا د الهي کتاب آیتونه دی. او څه چې په تا ستا د رب له طرفه نازل شوي هغه حق دي، خو زیاتره خلک یې نه مني. ۲- هماغه الله دی چې آسمان یې بې ستنې لوړ کړی چې تاسې ته نه ښکاري. بیا هغه په خپل تخت متمکن شو او هغه لمر او سپوږمۍ د یوه قانون پابند کړل، هر

یو په ټاکلي وخت ګرځیږي. او الله د هر کار انتظام کوي. هغه نښې ښکاره بیانوي چې تاسې خپل رب سره په مخ کېدو باور وکړئ.
۳- او هماغه دی چې ځمکه یې خپره کړه او غرونه او سیندونه یې پرې کېښودل او د هر ډول میوو جوړې یې پیدا کړې. هغه شپه په ورځې را پورته کوي. بېشکه په دې شیانو کې نښې دي د هغو خلکو لپاره چې غور وکړي.
۴- او په ځمکه له یو بل سره (خوا کې) مختلفې برخې دي او د انګورو باغونه دي او کروندې دي او کجورې دي، په هغوی کې ځینې دانه دانه دي او ځینې غونچې دي. ټول له یوه اوبو خړوبېږي. او موږ یو ته په بل په پیداوار کې فوقیت ورکوو. بېشک په دې کې نښې دي هغو خلکو لپاره چې غور وکړي.
۵- او که ته تعجب کوې، د تعجب وړ خو د هغوی دا خبره ده چې هغوی خاورې شي، نو ایا موږ به بیا له سره پیدا کیږو. دا هغه خلک دي چې له خپل رب یې انکار کړی او دا هغه خلک دي چې په غاړه کې یې طوقونه پراته دي او د اور خلک دي او تل به په کې پراته وي.
۶- هغوی له ښېګڼې مخکې بدۍ ته تادي کوي،. سره د دې چې تر هغوی مخکې مثالونه تېر شوي او ستا رب د خلکو له ظلم (کولو) سره بیا هم د هغوی بښونکی دی. او بېشکه ستا رب سخت جزا ورکونکی دی.
۷- او چا چې انکار کړی، هغوی وایي په دې کس د ده رب له طرفه کومه نښه ولې نه راځي. ته خو یوازې خبر ورکونکی او د هر قوم لپاره یو لار ښوونکی یې.
۸- الله د هرې ښځې (ماده) په حمل پوهېږي او څه چې د هغوی په رحم کې پیدا کیږي او لوېږي په هغو هم. او له هغه سره د هر څه اندازه شته.
۹- هغه په پټ او ښکاره پوهېږي، تر ټولو لوی او تر ټولو لوړ دی. ۱۰-

په تاسې کې که څوک پټه خبره کوي، که څوک ښکاره خبره کوي او څوک په شپه کې پټ وي او که څوک د ورځې ګرځي، الله لپاره ټول یو ډول دي.
۱۱- له هر شخص مخکې او وروسته د هغه نګران شته چې د الله په حکم د هغه ساتنه کوي. بېشکه الله د هېڅ یوه قوم حالت تر هغې نه بدلوي تر څو چې هغوی هغه بدل نه کړي چې په زړه کې یې دي. او کله چې الله په کوم قوم آفت راوړل وغواړي، نو بیا یې مخه نه نیول کېږي او له الله بغیر یې په مقابل کې هېڅ مرستندوی نشته.
۱۲- هماغه دی چې تاسې ته برېښنا ښیي چې له هغې وېره هم پیدا کېږي او هیله هم. او هماغه دی چې له اوبو ډکې وریځې را پورته کوي. ۱۳- او د تندر غږ د هغه له حمد سره د هغه پاکي بیانوي او ملایکې یې هم له وېرې (بیانوي) او هغه تندر رالېږي، بیا یې چې په چا خوښه په هغه یې غورځوي او هغه خلک د الله په هکله جنګېږي، سره د دې چې هغه قوي او د قوت خاوند دی.
۱۴- رښتیني بلنه یوازې الله لره ده. او څوک چې له هغه بغیر بل څوک را بولي، هغه له دوی سره تر دې زیاته مرسته نه شي کولای لکه څومره یې چې اوبه له هغه کس سره کوي چې خپل دواړه لاسونه یې اوبو ته اوږده کړي وي چې اوبه یې خولې ته ورسوي او هغه یې خولې ته نه نږدې کېږي. او د منکرینو بلنه بې ګټې ده.
۱۵- او په آسمانونو او ځمکه چې هر څه دي ټول الله ته سجده کوي، په خپله خوښه یا مجبورۍ او د هغوی سیوري هم هر سهار او ماښام. ۱۶- ووایه، د آسمانونو او ځمکې رب څوک دی. ووایه چې الله. ووایه ایا بیا هم تاسې له هغه بغیر داسې مرستندویان جوړ کړي چې پخپله د خپل ځان د ګټې او تاوان واک هم نه لري. ووایه، ایا ړانده او بینا سره برابرېدای

شي يا ايا تياره او رڼا به سره برابر شي. ايا هغوی له الله سره داسې څوک شريک کړي چې هغوی هم داسې پيدا کړي لکه الله چې پيدا کړي، بيا پيدايښت د هغوی په نظر کې شکمن شو. ووايه، الله د هر څه پيدا کونکی دی او هغه يوازې او قوی دی.
۱۷- الله له آسمانه اوبه را ښکته کړې. بيا لښتي د خپل خپل مقدر سره سم روان شول. بيا سيلاب را ښکاره شوی ځګ پورته کړ او همداسې ځګ په هغو شيانو کې هم را پورته کيږي چې خلک يې د ګاڼو يا اسبابو جوړولو لپاره په اور کې اوبه کوي. په دې ډول الله د حق او باطل مثال بيانوي. نو ځګ بيا وچيږي او کوم شی چې انسان ته ګټه رسوي هغه په ځمکه پاتې کيږي. الله داسې مثالونه بيانوي.
۱۸- چا چې د خپل رب بلنې ته لبيک ووايه، د هغوی لپاره ښېګڼه ده او چا چې دا بلنه ونه منله، که هغوی سره هغه ټول شيان وي چې په ځمکه دي، او همدومره ورسره نور هم وي، نو هغه دې ټول د خپل خلاصون لپاره ورکړي. د هغو خلکو حساب به سخت وي او د هغوی ځای به دوزخ وي او هغه ځومره بد ځای دی.
۱۹- څوک چې په دې پوهيږي چې څه ستا د رب له طرفه نازل شوي هغه حق دي، هغه ايا د هغه په شان کېدای شي چې ړوند وي. نصيحت خو د عقل خاوندان مني.
۲۰- کوم خلک چې له الله سره وعده پوره کوي او د هغه وعده نه ماتوي.
۲۱ هغه څه جوړوي چې الله يې د جوړولو حکم کړی دی او له خپل رب نه وېريږي او د بد حساب اندېښنه لري. ۲۲ - او چا چې د خپل رب په رضا صبر وکړ او لمونځ يې قايم کړ. او زموږ په ورکړي (مال) کې يې پټ او ښکاره مصرف وکړ. او څوک چې بدي په ښېګڼې پټوي، د آخرت کور د هماغه خلکو لپاره دی. ۲۳- ابدي باغ چې هغوی به ور ننوځي.

او هغوی هم چې ددې اهل شول، د هغوی په پلرونو او نیکونو او د هغوی په مېرمنو او بچو کې. او ملایکې به له هرې دروازې دوی ته راځي. ۲۴- وايي به چې په تاسې دې سلامتي وي د هغه صبر له وجې چې تاسې کړی. نو د آخرت دا کور څومره ښه دی.
۲۵- او څوک چې د الله وعده له کولو وروسته ماتوي او هغه (خپلوي) پرېکوي چې الله يې د جوړولو حکم کړی او په ځمکه فساد کوي، په داسې خلکو لعنت دی او د هغوی لپاره بد کور دی. ۲۶- چاته چې الله وغواړي ډېره روزي ورکوي او په چا يې چې وغواړي تنګوي يې. او هغوی د دنیا په ژوند خوشحاله دي او د دنیا ژوند د آخرت د ژوند په مقابل کې له متاع قلیل بغیر څه نه دی.
۲۷- او چا چې انکار وکړ، هغوی وايي چې په دې کس د خپل رب له طرفه کومه نښه ولې نه را نازلیږي. ووایه الله چې څوک وغواړي هغه ګمراه کوي او لار یوازې هغه ته ښيي چې هغه (الله) ته متوجه وي. ۲۸- چا چې ایمان راوړ او د چا زړونه چې د الله په یاد ډاډه کیږي. واورئ، د الله په یادولو زړونو ته اطمینان حاصلیږي. ۲۹- چا چې ایمان راوړ او چا چې ښه کارونه کړئ، د هغوی لپاره زېری او ښه ځای دی.
۳۰- په دې توګه موږ ته یوه امت ته لیږلی یې چې له هغه مخکې ډېر امتونه تېر شوي دي. (د دې لپاره) چې هغوی ته هغه پیغام ور واوروې چې موږ تاته درلیږلی دی. او هغوی له مهربانه الله انکار کوي. ووایه چې هماغه زما رب دی، له هغه بل بغیر بل معبود نشته، په هغه مې توکل کړی او هغه ته ستنېدل دي.
۳۱- او که داسې قرآن نازل شوی وای چې (له وجې يې) غرونه تللی، یا يې له وجې ځمکه ټوټه ټوټه شوې وای، یا يې له وجې مړو خبرې کولای. بلکې ټول واک یوازې الله لره دی. ایا ایمان راوړونکو ته له دې

اطمینان نشته چې که الله غوښتي وای، نو ټولو خلکو ته به یې هدایت کړی وای. او په منکرانو څه ناڅه آفت راځي، د هغوی د اعمالو له وجې یا به د هغوی کلي ته نږدې چېرته نازلیږي، تر هغې چې د الله وعده راشي. یقیناً الله د وعدې خلاف نه کوي. ۳۲- او تر تا مخکې هم په رسولانو پورې خنداګانې شوې دي، نو ما منکرانو ته وخت ورکړ او بیا مې هغوی ونیول، ته وګوره چې زما جزا څنګه وه.
۳۳- نو بیا هغه (الله) چې هر چا سره د عمل حساب کونکی دی (او هغه چې په هېڅ شي قدرت نه لري، یو ډول دي)، او خلکو له الله سره شریکان جوړ کړي دي. ووایه چې د دې نومونه واخلئ. ایا تاسې الله ته د داسې څه خبر ورکوئ چې په ځمکه کې نشته. یا تاسې تشې خبرې کوئ. بلکې منکرینو ته د هغوی فریب ښاېسته کړی شوی دی، او هغوی له لارې منع کړی شوي دي. او الله چې څوک ګمراه کړي، د هغه هېڅ لارښود نشته. ۳۴- د هغوی لپاره د دنیا په ژوند کې هم عذاب دی او د آخرت عذاب خو لا ډېر سخت دی. هېڅوک نشته چې هغوی له الله وساتي.
۳۵- او د جنت مثال چې له متقیانو سره یې وعده شوې، دا دی چې په هغه کې به نهرونه بهیږي. میوه او سیوری به یې تل وي. دا د هغو خلکو انجام دی چې له الله ووېرېږي او د منکرانو انجام اور دی.
۳۶- او چا ته چې موږ کتاب ورکړی و، هغوی په هغه څه خوشحاله دي چې په تا نازل شوی. او په دې ډلو کې داسې هم شته چې د هغه له ځینو خبرو انکار کوي. ووایه ماته حکم شوی چې د الله عبادت وکړم او څوک ورسره شریک ونه ګڼم. زه د هماغه طرف ته بلنه ورکوم او د هماغه طرف ته به ستنیږم. ۳۷- او په دې توګه موږ دا کتاب د یوه حکم په توګه په عربي (ژبه) نازل کړی دی. او که ته له هغې وروسته چې علم درته

راغلی، د هغوی د خواهشونو پیروي وکړې، د الله په مقابل کې به دې نه څوک مرستندوی وي او نه ساتونکی.
۳۸- او موږ له تا مخکې څومره رسولان لیږلي او موږ هغوی ته مېرمنې او بچي ورکړي او هېڅ یوه رسول ته دا ممکنه نه ده چې د الله له اجازې بغیر کومه نښه راوړي. هره وعده لیکل شوې ده. ۳۹- الله چې څوک وغواړي هغه ورکوي او څوک چې وغواړي هغه پاتې کوي. او اصل کتاب له هغه سره دی.
۴۰- او د کوم شي وعده چې موږ له هغوی سره کړې، د هغه یوه برخه موږ تاته وښییو یا تا وفات کړو، نو ستا کار یوازې رسؤل دي او حساب اخیستل یې په موږ دي. ۴۱- ایا هغوی نه ګوري چې موږ ځمکه له ټولو اړخونو راکموو. او الله فیصله کوي، هېڅوک د هغه فیصلې لرې کونکی نشته او هغه زر حساب اخیستونکی دی. ۴۲- څوک چې له هغوی مخکې وو هغوی هم تدبیرونه وکړل، خو ټول تدبیرونه د الله په واک کې دي. هغه پوهیږي چې هر یو څه کوي او منکران به زر پوه شي چې د آخرت کور د چا لپاره دی.
۴۳- او منکران وایي چې ته الله نه یې رالیږلی، ووایه چې زما او ستاسې ترمنځ د الله ګواهي کافي ده. او د هغه ګواهي چې د کتاب علم ورسره دی.

## سوره ابراهیم ۱۴

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- الٓر، دا کتاب دی چې موږ په تا نازل کړی، چې ته خلک له تیارو را وباسې او رڼا ته یې راولی، د هغوی د رب په حکم د عزیز او حمید الله لارې ته. ۲- د هغه الله لور ته چې څه په آسمانونو او ځمکه دي، ټول د

هغه دي او منکرانو ته د یوه شدید عذاب تباهي ده. ۳- هغو چې د آخرت په مقابل کې د دنیا ژوند خوښوي او د الله له لارې منع کول کوي او په هغه کې کوږوالی را ویستل غواړي، همدا خلک له سمې لارې خطا او لرې شوي دي.
۴- او موږ چې کوم پیغمبر لیږلی د هغه د قوم په ژبه مو لیږلی دی چې هغوی ته بیان وکړي بیا چې الله څوک وغواړي هغه بې لارې کوي او چاته چې وغواړي، هدایت ورته کوي. هغه قوي او د حکمت خاوند دی.
۵- او موږ موسی له خپلو نښو سره ولیږه چې خپل قوم له تیارو را وباسه او رڼا ته يې راوله او هغوی ته د الله د ورځو یادونه وکړه. بېشکه په هغو کې ډېرې نښې دي د هر هغه چا لپاره چې صبر کونکی او شکر کونکی وي.
۶- او کله چې موسی خپل قوم ته وویل چې په خپل ځان د الله هغه انعام را یاد کړئ چې تاسې يې د فرعون له قوم نه وساتلئ چې هغه به تاسې ته سخت تکلیفونه در رسول او ستاسې زامن يې وژل او ستاسې ښځې يې ژوندۍ ساتلې او په دې کې ستاسې د رب له طرفه لوی امتحان و.
۷- بیا چې ستاسې رب تاسې خبر کړئ چې که تاسې شکر وباسئ نو زه به تاسې ته ډېر درکړم. او که تاسې ناشکري وکړئ، نو زما عذاب ډېر سخت دی. ۸- او موسی وویل چې که تاسې انکار وکړئ او د ځمکې ټول خلک هم منکران شي، نو الله بې پروا دی، (هغه) د ښېګڼو خاوند دی.
۹- ایا تاسې ته د هغو خلکو خبر نه دی در رسېدلی چې له تاسې مخکې تېر شوي د نوح قوم او عاد او ثمود او هغه چې تر هغوی وروسته راغلي دي، چې له الله بغیر پرې هېڅوک نه پوهېږي. د هغوی پیغمبرانو هغوی ته دلایل راوړل، خو هغوی ګوتې په خوله کې ونیولې او ویې ویل ته

چې له څه شي سره را لېږل شوی یې، موږ هغه نه منو او کوم څه ته مو چې ته ور بولې موږ د هغه په هکله په څورونکي شک کې پراته یو.
۱۰- د هغوی پېغمبرانو وویل، ایا د هغه الله په هکله شک دی چې آسمانونه او ځمکه یې رامنځته کړل. هغه تاسې ور بولي چې ستاسې ګناهونه وبښي او تاسې ته تر یوې ټاکلې مودې مهلت درکړي. هغوی وویل ته له دې بغیر نور هېڅ نه یې چې زموږ په شان انسان یې. ته موږ د هغو شیانو له عبادته منع کول غواړې چې زموږ پلار او نیکه یې عبادت کاوه. ته موږ ته کوم ښکاره سند راوړه.
۱۱- د هغوی رسولانو هغوی ته وویل، موږ له دې بغیر نور هېڅ نه یو چې ستاسې په شان انسانان یو، خو الله چې په خپلو بندهګانو کې په چا وغواړي په هغه انعام کوي او دا زموږ په اختیار کې نه ده چې موږ تاسې د الله له حکم بغیر معجزه در وښییو. او د ایمان خاوندان باید په الله توکل وکړي. ۱۲- او ولې په الله توکل ونه کړو سره د دې چې هغه موږ ته زموږ لارې را ښودلې دي. او تاسې چې موږ ته هر تکلیف راکوئ، موږ به پرې صبر وکړو. او توکل کونکي باید په الله توکل وکړي.
۱۳- او انکار کونکو خپلو پېغمبرانو ته وویل چې یا به موږ تاسې له خپل وطنه وباسو یا باید تاسې بېرته زموږ ملت ته راشئ. نو د پېغمبرانو رب هغوی ته وحې وکړله چې موږ به دا ظالمان هلاک کړو. ۱۴- او له هغو وروسته به تاسې په ځمکه مېشت کړو. دا د هغه چا لپاره دي چې زما مخ ته له ودرېدو وېرېږي او زما له وعید ووېرېږي.
۱۵- او هغوی فیصله وغوښتله او هر سرکش او ضدي نامراده شو. ۱۶- د هغوی په مخ کې دوزخ دی او هغوی ته به جوش اوبه د څښلو لپاره ورکول کېږي. ۱۷- هغوی به ګوټ ګوټ څښي او په سختئ به یې له

ستوني ښکته کوي. مرګ به پرې له هرې خوا را خپور وي، هغوی به په هېڅ ډول نه مري او د هغوی مخ ته به سخت عذاب وي.
۱۸- چا چې له خپل رب انکار وکړ، د هغه عملونه د هغه ایرې ورته دي چې د یوې توپاني ورځې سیلۍ پورته کړي وي. هغوی به په خپلو کړو (اعمالو) کې هېڅ هم ترلاسه نه کړي. همدا لرې ګمراهي ده. ۱۹- ایا تا نه دي لیدلي چې الله آسمانونه او ځمکه بلکل سم پیدا کړي دي. که وغواړي نو تاسې به لرې کړي او یو نوی مخلوق به راولي. ۲۰- او دا الله ته سخته هم نه ده.
۲۱- او د الله مخ ته به ټول وړاندې کېږي. بیا به کمزوري خلک هغو خلکو ته چې لویي يې کوله وایي، موږ ستا تابع وو، ایا ته به موږ د الله له عذابه لږ وساتې. هغوی به ووایي چې که الله موږ ته کومه لار را ښودلې وای، نو موږ به تاته هم در ښودلې وای. اوس زموږ لپاره یو ډول ده چې ناقراره شو که صبر وکړو، موږ په هېڅ صورت نه ساتل کېږو.
۲۲- او کله چې د معاملې فیصله وشي، نو شیطان به ووایي چې الله تا سره رښتیا وعده کړې وه او ما چې تا سره کومه وعده کړې وه، هغه مې ماته کړه. او (انسانه) زما په تا هېڅ زور نه رسېده، مګر دا چې ماته را وبللې او تا زما خبره ومنله، نو ته ما مه ملامتوه او ته خپل ځان ملامته کړه. نه زه ستا مرستندوی کېدای شم او نه ته زما مرستندوی کېدای شې. زه پخپله له دې بېزاره یم چې تاسې له دې مخکې شریک ګڼلم. بېشکه ظالمانو ته له درده ډک عذاب دی.
۲۳- او چا چې ایمان راوړ او چا چې نیک عملونه وکړل، هغوی به داسې باغونو ته ننویستل شي چې ور لاندې به نهرونه بهیږي. هلته به

دوی د خپل رب په حکم تل اوسېږي. هلته به د دوی ملاقات په یو بل سلامتي وي.
۲۴- ایا تا نه دي لیدلي چې الله د کلیمه طیبه څنګه مثال بیانوي. هغه یوې پاکې ونې ته ورته ده چې ریښې یې په ځمکه خښې وي او څانګې یې آسمان ته رسېدلې وي. ۲۵- د خپل رب په حکم تل میوه کوي. او الله خلکو ته مثالونه بیانوي چې هغوی نصیحت ومومي. ۲۶- او د کلمه خبیثه مثال د داسې خرابې ونې دی چې د ځمکې له مخه وویستل شي، او هېڅ ثبات ونه لري.
۲۷- الله د ایمان خاوندان په یوه پخه خبره دنیا او آخرت کې قوي کوي. او الله ظالمان سرګردانه کوي، او الله هغه کوي چې غواړي یې.
۲۸- ایا تا هغه خلک نه دي لیدلي چې د الله د نعمت په بدل کې یې کفر وکړ او خپل قوم یې د هلاکت تر کوره ورساوه. ۲۹- هغوی به هلته ور ننوځي او هغه څومره بد ځای دی. ۳۰- او هغوی له الله سره سیالان جوړ کړل چې خلک د الله له لارې خطا کړي. ووایه چې څو ورځې ګټه واخلئ، آخر ستاسې ځای دوزخ دی.
۳۱- زما کومو بندهګانو چې ایمان راوړی، هغوی ته ووایه چې لمونځ قایم کړي او څه چې موږ ورکړي په هغه کې ښکاره او پټ مصرف وکړي، د هغې ورځې له راتګه مخکې چې نه به په کې اخیستل او خرڅول وي او نه به ملګري په کار راځي.
۳۲- الله هغه دی چې آسمانونه او ځمکه یې جوړ کړل او له آسمانه یې اوبه را ښکته کړې. بیا یې ستاسې د روزۍ لپاره له هغه مختلفې میوې را وویستې او کښتۍ یې تاسې ته برابره کړله چې په سمندر کې د هغه په حکم وګرځېږي او هغوی دریابونه ستاسې لپاره مسخر کړل. ۳۳- او هغه لمر او سپوږمۍ تاسې لپاره مسخر کړل چې هغوی منظم حرکت

وکړي او هغه شپه او ورځ ستاسې لپاره مسخر کړل. ۳۴- او هغه تاسې ته هغه ټول درکړل چې تاسې وغوښتل. که تاسې د الله نعمتونه وشمارئ، نو شمارلی یې نه شئ. بېشکه انسان ډېر بې عدله او ډېر ناشکره دی.

۳۵- او کله چې ابراهیم وویل، ای زما ربه، دا ښار په امن کړه، او ما او زما اولاد د بتانو له عبادته لرې وساته. ۳۶- ای زما ربه، هغه بوتانو ډېر خلک گمراه کړل، نو چا چې زما پیروي وکړله هغه زما دی، او چا چې زما خبره ونه منله، ته ښښونکی او مهربان یې.

۳۷- ای زموږ ربه، ما خپل اولاد ستا محترم کور ته نږدې په یوه بې کروندې دره کې مېشت کړي دي. ای زموږ ربه، په دې خاطر چې هغوی لمونځ قایم کړي. نو ته د خلکو زړونه د هغوی خوا ته مایل کړه او هغوی ته د میوو روزي ورکړه چې هغوی شکر وباسي.

۳۸- ای زموږ ربه، ته په هغو ټولو پوهېږې چې موږ یې پټوو او موږ یې واضحوو. او له الله هېڅ هم پټ نه دي، نه په ځمکه او نه په آسمان کې. ۳۹- د هغه الله شکر دی چې ماته یې په بوډاتوب کې اسماعیل او اسحاق راکړل. بېشکه زما رب د دعا اورېدونکی دی. ۴۰- ای زما ربه، ما د لمونځ قایمونکی کړه او زما په اولاد کې هم. ای زما به، زما دعا قبوله کړه. ۴۱- ای زما ربه، ماته ښښنه وکړه او زما مور او پلار او مومنانو ته هم، له هغې ورځ چې حساب په کې کیږي.

۴۲- او هېڅکله داسې مه گڼه چې الله له هغه څه بې خبره دی چې دا ظالمان یې کوي. هغه دوی د هغې ورځې لپاره پرېږدي چې په کې به د دوی سترگې هکې بکې شي. ۴۳- او هغوی به خپل سرونه جگ نیولي وي او منډې به وهي او د هغوی نظر به ورته بېرته نه راځي او د هغوی زړونه به وارخطا وي.

۴۴- او خلک له هغې ورځې ووېروه په کومه ورځ چې پرې عذاب راځي. په هغه ورځ به ظالمان وايي چې ای زموږ ربه، موږ ته لږ نور مهلت راکړه، موږ به ستا بلنه ومنو او ستا د رسولانو پیروي به وکړو. ایا تاسې له دې مخکې قسمونه نه وو کړي چې په تاسې هېڅ زوال نه شي راتلی. ۴۵- او تاسې د هغو خلکو په کلیو کې مېشت وئ چې په ځانونو یې ظلم کړی و. او تاسې ته ښکاره شوې وه چې موږ له هغوی سره څه کړي او موږ تاسې ته مثالونه بیان کړل. ۴۶- او هغوی خپل ټول تدبیرونه وکړل او د هغوی تدبیرونه د الله په وړاندې وو. که څه هم د هغوی تدبیرونه داسې وو چې غرونه به هم ترې خوځېدلای.
۴۷- نو ته الله له خپلو پېغمبرانو سره وعده ماتونکی مه ګڼه. بېشکه الله قوي، بدل اخیستونکی دی. ۴۸- په کومه ورځ چې دا ځمکه په بلې ځمکې بدله شي او آسمان هم، او ټول د یوه قهار الله په وړاندې حاضر شي. ۴۹- او ته به په هغه ورځ مجرمان په زنځیرونو تړلي وګورې. ۵۰- د هغوی جامې به د تارکولو وي. او د هغوی په مخونو به اور پورې وي. ۵۱- په دې خاطر چې الله هر چا ته د هغه کړو بدله ورکړي. بېشکه الله زر حساب کونکی دی. ۵۲- دا د خلکو لپاره یو اعلان دی او دا هم چې په دې وسیله خلکو ووېرول شي. او چې هغوی پوه شي هماغه یو معبود دی او چې پوه خلک نصیحت ومومي.

## سوره الحجر ۱۵

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- الٓر. دا د کتاب او یوه واضح قرآن آیتونه دي. *۲- هغه وخت به راشي چې انکار کونکي به هیله کوي چې کاشکې هغوی منونکي شوي وای ۳- هغوی پرېږده چې وخوري او ګټه واخلي او تشې هیلې هغوی

غافل ساتلي، نو راتلونكي كې به پوه شي. ۴- او موږ چې له دې مخكې
هر كلى هلاک کړی د هغه يوه ټاكلې موده ليكل شوې وه. ۵- هېڅ يو
قوم نه له ټاكل شوي وخت مخكې كېدای شوه او نه وروسته كېدای شو.
۶- او دا خلک وايي چې ای هغه انسانه چې نصيحت در باندې نازل
شوی، ته بېشكه ليونی يې. ۷- كه ته رښتينی يې نو موږ ته ملايكې ولې
نه راوړې. ۸- موږ ملايكې يوازې د فيصلې لپاره ښكته كوو او هغه
وخت چاته مهلت نه وركول كېږي.
۹- دا يادونه (كتاب) موږ نازل كړې او موږ يې ساتونكي يوو.
۱۰- او موږ له تاسې مخكې تېرو شويو قومونو ته رسولان لېږلي دي.
۱۱- او هر رسول چې هغوی ته ورغلی هغوی ور پورې خندا كړې ده.
۱۲- په دې توګه موږ دغه (استهزاء) د مجرمانو په زړونو كې اچوو.
۱۳- هغوی به په ده (رسول) ايمان را نه وړي. او دا دستور له پخوانيو
را پاتې دی. ۱۴- او كه موږ په هغوی له آسمانه كومه دروزاه پرانيستې
وای چې هغوی پرې پورته شوي وای. ۱۵- بيا به هم هغوی ويلی چې
زموږ سترګې تېروتې، بلكې په موږ جادو شوی دی.
۱۶- او موږ په آسمان كې برجونه جوړ كړل او ليدونكو لپاره مو هغو
ته رونق وركړ.
۱۷- او هغه مو له هر مردود شيطان خوندي كړل. ۱۸- كه څوک په پټه
د اورېدو لپاره غوږ ږدي، نو يوه روښانه شغله ورپسې كېږي.
۱۹- او موږ ځمكه خپره كړه او غرونه مو پرې ودرول او هر څه مو
په كې په يوه اندازه را شنه كړل. ۲۰- او موږ تاسې ته دې كې د ژوند
وسايل جوړ كړل او هغه شيانو ته (هم) چې تاسې رزق نه وركوئ.
۲۱- او داسې هېڅ نشته چې خزانې يې له موږ سره نه وي او موږ هغه
په يوه ټاكلې اندازې ښكته كوو. ۲۲- او موږ بارداره هواګانې هم لګوو.

او بيا موږ له آسمانه اوبه را ښکته کوو، بيا له هغو اوبو تاسې خړوبوو. او تاسې دا وس نه درلود چې تاسې هغه زېرمه کړې وای.
۲۳- او بېشکه موږ ژوندي کول کوو او موږ مړه کول کوو. او موږ به پاتې يوو. ۲۴- او موږ ستاسې مخکيني هم پېژنو او وروستني هم پېژنو.
۲۵- او بېشکه ستا رب به هغوی ټول راټولوي. هغه د علم او حکمت خاوند دی.
۲۶- او موږ انسان له زړې وچې شوې کړنګېدلې خټې پيدا کړ. ۲۷- او له دې مخکې مو شيطانان د اور له لمبې پيدا کړل.
۲۸- بيا چې ستا رب ملايکو ته وويل چې زه له زړې وچې شوې کړنګېدلې خټې يو بشر پيدا کوم. ۲۹- کله مې چې هغه پوره جوړ کړ او په هغه کې له خپل روح ور وپوکم، نو تاسې به ورته سجده کوئ. ۳۰- ټولو ملايکو سجده وکړله. ۳۱- مګر ابليس، چې هغه سجده کونکو سره له يو ځای کېدو انکار وکړ. ۳۲- الله وويل ای ابليسه، په تا څه وشول چې په سجده کونکو کې شامل نه شوې. ۳۳- ابليس وويل زه داسې نه يم چې هغه بشر ته سجده وکړم چې تاله زړې وچې شوې کړنګېدلې خټې پيدا کړی دی.
۳۴- الله وويل ته له دې ځايه ووځه، ځکه ته مردود يې. ۳۵- او بېشکه په تا د جزا تر ورځې لعنت دی. ۳۶- ابليس وويل ای زما ربه، ته ماته تر هغې ورځې مهلت راکړه په کومه ورځ چې خلک را پورته کېږي.
۳۷- الله وويل، تاته مهلت دی. ۳۸- تر هغې ټاکلې ورځې.
۳۹- ابليس وويل، ای زما ربه، لکه څنګه چې تا زه ګمراه کړی يم، همداسې به زه ځمکه د هغوی لپاره ښاېسته کړم او ټول به ګمراه کړم.
۴۰- بې له هغو چې غوره شوي بندګان دي.

۴۱- الله وفرمايل، دا يوه سيده لاره ده چې تر ما را رسيږي. ۴۲- بېشکه ځوک چې زما بندهګان دي، په هغوی ستا زور نه رسيږي. بې له هغو چې د ګمراهانو له ډلې ستا پيروي وکړي. ۴۳- او د هغو ټولو لپاره د جهنم وعده ده. ۴۴- د هغه اووه دروازې دي. د هرې دروازې لپاره د هغو خلکو جدا جلا برخې دي.

۴۵- بېشکه وېرېدونکي به په باغونو او چينو کې وي. ۴۶- ور ننوځئ هغې ته له سلامتۍ او امن سره. ۴۷- د هغوی له سينو به موږ کينه وباسو، ټول به د ورونو په شان اوسيږي، په تختونو يو بل ته مخامخ. ۴۸- هلته به دوی ته څه تکليف نه رسيږي او نه به له هغه ځايه ويستل کيږي. ۴۹- زما بندهګانو ته خبر ورکړه چې زه ښونکی او مهربان يم. ۵۰- او زما جزا له درده ډکه ده.

۵۱- او هغوی د ابراهيم له مېلمنو خبر کړه. ۵۲- کله چې هغه د ده څنګ ته راغلل، نو سلام يې واچاوه. ابراهيم وويل تاسې اندېښنه پيدا کوئ. ۵۳- هغوی وويل چې اندېښنه مه کوه، موږ د يوه هلک زېرى درکوو چې لوی عالم به وي. ۵۴- ابراهيم وويل، ايا په دې بوډاتوب کې راته د اولاد زېری راکوئ. نو تاسې د څه شي زېری راکوئ. ۵۵- هغوی وويل چې موږ تاته له حق سره زېری درکوو. نو ته په ناهيلی کېدونکو کې مه راځه. ۵۶- ابراهيم وويل، د خپل رب له رحمت نه له ګمراهانو بغير نور ځوک ناهيلی کېدای شي.

۵۷- وې ويل ای را لېږل شويو ملايکو، اوس ستاسې ماموريت څه شی دی. ۵۸- هغوی وويل چې موږ د يوه مجرم قوم لور ته لېږل شوي يو. ۵۹- مګر د لوط کورنۍ چې موږ هغوی ټول وساتو.

۶۰- بې د هغه له مېرمنې چې زموږ فيصله ده چې هغه به حتماً مجرمو خلکو کې پاتې کيږي.

۶۱- بیا چې لېږل شوي ملایکې د لوط کورنۍ ته راغلې. ۶۲- هغوی وویل چې تاسې نابلده خلک ښکارئ. ۶۳- هغوی وویل چې نه، بلکې موږ تاسې ته هغه څه راوړي چې خلک په کې شک کوي. ۶۴- او موږ تاسې ته له حق سره راغلي یو او بالکل رښتیني یو. ۶۵- نو تاسې د شپې په وروستۍ برخه کې د کورنۍ له غړو سره ووځئ. او خپله په هغوی پسې وروسته وروسته ځئ. او په تاسې کې هېڅوک هم شاته مه را ګورئ. هغه ځای ته لاړ شئ چې د ور تللو حکم درته شوی دی. ۶۶- او موږ لوط ته حکم ولېږه چې د سهار په راتلو به د هغو خلکو جرړې غوڅې شي.

۶۷- او د سیمې خلک په خوشحالۍ راغلل. ۶۸- هغه ورته وویل چې دا خلک زما مېلمانه دي، تاسې ما مه رسوا کوئ.

۶۹- او تاسې له الله وېرېږئ او ما مه ذلیله کوئ. ۷۰- هغوی وویل ایا موږ ته د هر ځای له خلکو نه وې منع کړې ۷۱- هغه وویل دا زما لوڼې دي که تاسې څه کول غواړئ.

۷۲- ستا په ژوند قسم، هغوی په خپله سرمستۍ کې مدهوشه وو. ۷۳- او بیا چې سهار شو، هغوی لوړ غږ ونیول. ۷۴- بیا موږ هغه کلی په بل مخ کړ او په هغو خلکو مو کاڼي وورول. ۷۵- بېشکه دې کې فکر کونکو لپاره نښې دي. ۷۶- او دا کلی په یوه سیده لاره واقع دی. ۷۷- بېشکه په دې کې نښه ده د ایمان خاوندانو ته.

۷۸- او د ایکة خلک واقعاً ظالمان وو. ۷۹- نو موږ له هغوی انتقام واخیست. او دا دواړه کلي په ښکاره لارې واقع دي. ۸۰- او د حجر خلکو هم رسولان دروغجن بللي وو. ۸۱- او موږ هغوی ته خپلې نښې ورکړې، خو هغوی ترې مخ اړوه. ۸۲- او هغوی غرونه تراشل او

کورونه یې په کې جوړول چې خوندي وي. ۸۳- نو هغوی د سهار لوړ
غږ ونیول. ۸۴- نو د هغوی کړي (عملونه) یې هېڅ په کار نه شول.
۸۵- او موږ آسمانونه او ځمکه او څه چې د دې ترمنځ دي، بې له حکمته
نه دي جوړ کړي او بې له شکه قیامت راتلونکی دی. نو ته په ښه توګه
ښننه کوه. ۸۶- بېشکه ستا رب د ټولو خالق او پوهېدونکی دی.
۸۷- او موږ تاته اووه مثاني او قرآن عظیم در کړل. ۸۸- ته د دنیا دې
متاع ته مه ګوره چې موږ مختلفو خلکو ته ورکړې ده او په هغوی مه
خفه کېږه او د ایمان په خاوندانو د خپل شفقت لاس را کاږه. ۸۹- او
وایه چې زه ښکاره وېرونکی یم. ۹۰ همداسې موږ په تقسیموونکو هم
ور ښکته کړی و. ۹۱- چا چې خپل قرآنکریم ټوټه ټوټه کړو. ۹۲- نو
ستا په رب قسم، موږ به له هغوی حتماً پوښتنه کوو. ۹۳- څه چې هغوی
کوي.
۹۴- نو تاته چې د څه شي حکم شوی هغه په ښکاره بیان کړه او مشرکانو
نه مخ واړوه. ۹۵- موږ ستا له اړخه هغو خندا کونکو ته کافي یو. ۹۶-
چې له الله سره نور معبودان شریکوي. نو ډېر زر به هغوی پوه شي.
۹۷- او موږ پوهېږو څه چې هغوی وایي، په هغه ستا زړه تنګیږي. ۹۸-
نو ته د خپل رب له حمد سره د هغه تسبیح کوه. او د هغه په سجده کونکو
کې شه. ۹۹- او د خپل رب عبادت کوه، تر هغې چې تاته یقیني خبره
راشي.

## سوره النحل ۱۶

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.

۱- د الله فیصله راغله، نو تادي ورته مه کوئ. هغه پاک او لوړ دی له هغه څه چې هغوی يې ورسره شریکوي. ۲- هغه ملایکې د خپل حکم له روح سره سمې نازلوي په خپلو بندهګانو کې يې چې په چا وغواړي، چې خلک خبر کړه چې بې له ما د عبادت لایق نشته. نو تاسې له ما ووېرېږئ. ۳- هغه آسمانونه او ځمکې له حق سره پیدا کړي دي. هغه لوړ دی، تر هغه شرک چې هغوی يې کوي.
۴- هغه انسان له یوه څاڅکي جوړ کړ. بیا هغوی ښکاره جګړه پیل کړه.
۵- او هغه څناور پیدا کړل، په هغو کې تاسې ته جامې هم دي او خواړه هم دي او نورې ګټې هم، او له هغې تاسې خوراک هم کوئ. ۶- او په هغو کې ستاسې لپاره رونق دی، چې ماښام يې راولئ او سهار يې خوشې کوئ. ۷- او هغه ستاسې پېټی (بار) هغو ځایونو ته رسوي چې تاسې ورته له سخت محنت بغیر نه شئ رسېدلای. بېشکه ستا رب ډېر شفیق، مهربان دی. ۸- او هغه آسونه، کچرې او خره پیدا کړي چې تاسې پرې سپاره شئ او د ښاېست لپاره هم او هغه داسې شیان پیدا کوي چې تاسې يې نه پېژنئ.
۹- او سمه لاره تر الله رسېږي. او ځینې لارې کږې هم دي او که الله غوښتی نو تاسې ټولو ته به يې هدایت کړی وای.
۱۰- هماغه له آسمانه اوبه را ښکته کړې، تاسې له هغو څښئ او له هغو داسې ونې کیږي چې تاسې په کې (مالونه) (څاروي) پیایئ. ۱۱- او له هماغه (اوبو) ستاسې لپاره کروندې او زیتون او کجورې او انګور او هر ډول میوې را شنې کوي. بېشکه په دې ټولو کې نښه ده د هغو لپاره چې غور کوي.
۱۲- او هغه شپه او ورځ او لمر او سپوږمۍ ستاسې په خدمت لګولي او ستوري هم د هغه په حکم مسخر دي. بېشکه په دې کې د عقل خاوندانو

لپاره نښې دي. ۱۳- او په ځمکه چې هغه مختلف شیان ستاسې لپاره خپاره کړي، بېشکه په دې ټولو کې نښې دي د هغو لپاره چې د حق سبق حاصلوي.
۱۴- او هماغه دی چې سمندر یې ستاسې د خدمت لپاره مقرر کړ، چې له هغه تازه غوښه وخورئ او له هغه ګاڼې را وباسئ چې تاسې یې اچوئ او ته کښتۍ ګورې چې هغه (اوبه) څیري او حرکت په کې کوي، په دې خاطر چې تاسې د هغه فضل ولټوئ او تاسې شکر وباسئ.
۱۵- او په ځمکه غرونه کېښودل چې ستاسې لاندې ونه خوځېږي او هغه سیندونه او لارې جوړې کړې چې تاسې پرې لاړ شئ. ۱۶- او ډېرې نورې نښې هم دي، او خلک له ستورو هم لار معلوموي.
۱۷- نو ایا څوک چې څه پیدا کوي، هغه برابر دی له هغه سره چې څه نه پیدا کوي، ایا تاسې فکر نه کوئ. ۱۸- که تاسې د الله نعمتونه وشمارئ، نو وبه یې نه شمارلی شئ، بېشکه الله ښنونکی، مهربان دی. ۱۹- او الله په هغه څه پوهېږي چې تاسې یې پټوئ او ښکاره کوئ.
۲۰- او خلک چې له الله بغیر (نور) شیان را بولي، هغوی څه نه شي پیدا کولای، بلکې پخپله پیدا کړی شوي دي. ۲۱- هغو مړه دي ساه په کې نشته او نه په دې پوهېږي چې کله به را پورته کېږي. ۲۲- ستا معبود یو معبود دی، مګر څوک چې په آخرت ایمان نه لري، د هغوی زړونه منکر دي او هغوی کبر کوي. ۲۳- الله یقیناً په هغه څه پوهېږي چې هغوی یې پټوي او هغه چې هغوی یې ښکاره کوي. بېشکه هغه (الله) متکبرین نه خوښوي.
۲۴- او کله چې هغوی ته وویل چې ستاسې رب څه نازل کړي، نو وايي چې د تېرو خلکو کیسې. ۲۵- په دې خاطر چې هغوی د قیامت په ورځ خپل پېټی پوره جګ کړي او د هغو خلکو به پېټي (یوه برخه) هم چې

هغوی یې له علم بغیر ګمراه کوي. یاد ساتئ، هغه پېټی ډېر بد دی چې دوی یې پورته کوي.
۲۶- له هغوی مخکینیو هم تدبیرونه وکړل. بیا الله د هغوی د ودانیو په بنسټونو راغی. نو چتونه په هغوی له بره را پرېوتل او عذاب پرې له داسې ځای راغی چې هغوی یې ګمان هم نه کاوه. ۲۷- بیا به د قیامت په ورځ الله هغوی رسوا کړي او وبه وایي چې زما هغه شریکان چېرته دي چې تاسې یې له وجې جنګونه کول. چا ته چې علم ورکړل شوی و هغوی به وایي چې نن په منکرانو عذاب او رسوایي ده.
۲۸- کومو خلکو ته چې ملایکې په داسې وخت کې وفات ورکړي چې هغوی په خپلو ځانونو ظلم کوي، نو هغه به تسلیم شي او وبه وایي چې موږ خو کوم بد کار نه کاوه، هو بېشکه الله پوهېږي په هغه څه چې تاسې کول. ۲۹- اوس د دوزخ په دروازو ننوځئ او تل په کې اوسېږئ. نو د کبرجنو څومره بد ځای دی. ۳۰- او څوک چې متقیان دي هغوی ته وویل شول چې ستاسې رب څه نازل کړي، هغوی وویل چې نېکه خبره. چا چې ښېګڼه وکړله هغوی ته په دې دنیا کې هم ښېګڼه ده او د آخرت کور غوره دی، او د متقیانو څومره ښه کور دی. ۳۱- په تل اوسېدونکي باغ کې چې دوی به ورننوځي، تر باغونو (ونو) لاندې به نهرونه بهېږي. هلته به د هغوی لپاره هر هغه څه وي چې دوی یې غواړي، الله پرهېزګارو ته همداسې بدله ورکوي. ۳۲- د چا نه چې ملایکې په داسې وخت کې روح اخلي چې هغوی پاک وي. ملایکې وایي په تا دې سلامتي وي، جنت ته ننوځه د خپلو اعمالو په بدله کې.
۳۳- ایا هغه خلک دې ته په تمه دي چې ملایکې ورته راشي یا ستا د رب حکم راشي. همداسې له دوی مخکې خلکو هم کول. او الله په هغوی ظلم نه دی کړی، بلکې هغوی پخپله په ځانونو ظلم کاوه. ۳۴- بیا هغوی

ته د هغوی د بدو کارونو جزاګانې ورکول شوې. او په څه پورې یې چې خندل، هغه را ونیول.
۳۵- او چا چې شرک کړی هغوی وایي، که الله غوښتی وای، نو موږ به له هغه بغیر د بل چا عبادت نه کولای، نه موږ او نه زموږ پلار نیکه، او نه به موږ له هغه بغیر نور شیان حرام بللی. همداسې له هغوی مخکې خلکو هم کړي وو. نو د رسولانو مسوولیت یوازې ښکاره ښکاره (پیغام) رسول دي.
۳۶- او موږ هر امت ته یو رسول ولیږه چې د الله عبادت وکړئ او له طاغوت بچ شئ، نو په هغوی کې ځینو ته الله هدایت وکړ او په ځینو ګمراهي ثابته شوه. نو په ځمکه وګرځئ او وګورئ چې د دروغ بلونکو انجام څنګه شو. ۳۷- که ته د دوی د هدایت حریص یې، نو الله هغو ته هدایت نه کوي چې هغه یې ګمراه کړي او د هغوی هېڅ مرستندوی نشته.
۳۸- او دوی په الله قسمونه کوي، کلک قسمونه چې څوک مړ شي الله یې نه را ژوندی کوي. هو، دا د (الله) پخه وعده ده، خو زیاتره خلک نه پوهیږي. ۳۹- چې هغوی ته هغه څه ښکاره کړي چې هغوی په کې اختلاف کوي او انکار کونکي پوه شي چې هغوی دروغجن وو. ۴۰- موږ چې د څه شي اراده وکړو، نو زموږ یوازې دومره کار وي چې ورته وایوو وشه او هغه کیږی.
۴۱- او چا چې د الله لپاره خپل وطن پرېښود، تر هغې وروسته چې ظلم پرې وشو، موږ به هغوی ته په دنیا کې حتماً ښه ځای ورکړو او د آخرت ثواب خو ډېر لوی دی، کاشکې هغوی پوهېدای. ۴۲- هغوی داسې دي چې صبر کوي او په خپل رب توکل کوي.
۴۳- او موږ له تا مخکې هم انسانان رسولان لیږلي، چې وحې به مو ورته کوله، نو د علم له خاوندانو پوښتنه وکړئ، که تاسې نه پوهیږئ.

۴۴- موږ هغوی له دلایلو او کتابونو سره لیږلي وو. او موږ په تا هم یادونه نازله کړې چې ته خلکو ته هغه څه واضح کړې چې په تا نازل شوي چې هغوی غور وکړي.
۴۵- کوم خلک چې بد تدبیرونه کوي، ایا د هغوی سره د دې خبرې غم نشته چې الله يې په ځمکه ننباسي یا پرې عذاب له هغه ځایه راشي چې د دوی ګمان هم نه وي. ۴۶- یا هغوی په روانه را ونیسي، نو هغه خلک الله نه شي عاجزولای. ۴۷- یا هغوی د اندیښنې په وخت کې را ونیسي، نو ستا رب شفیق او مهربان دی.
۴۸- ایا هغوی نه ګوري چې الله کوم شی پیدا کړی، د هغه سیوري ښي او چپ لاس ته ښکته کیږي. الله ته سجده کوي او هغه ټول عاجز دي.
۴۹- او (ټول) الله ته سجده کوي څومره ګرځېدونکي څیزونه چې په آسمانونو او ځمکه دي، او ملایکې هم او هغوی تکبر نه کوي. ۵۰- او په ځان دپاسه له خپل رب نه وېرېږي او هماغه (کار) کوي چې حکم يې ورته کیږي.
۵۱- او الله وفرمایل چې دوه معبودان مه جوړوئ. هماغه یو معبود دی، نو له ما ووېرېږئ. ۵۲- او څه چې په آسمانونو او ځمکه کې دي، د هغه دی. تل د هماغه اطاعت دی. نو ایا تاسې له الله بغیر له نورو وېرېږئ.
۵۳- او له تاسې سره چې هر نعمت دی، د الله له طرفه دی. نو کله چې تاسې ته تکلیف در ورسیږي، هماغه ته فریاد کوئ. ۵۴- بیا چې هغه له تاسې تکلیف لرې کوي، نو په تاسې کې یوه ډله له خپل رب سره شریک جوړوي. ۵۵- چې هغوی منکر شي له هغه څه چې موږ ورکړي دي. نو څو ورځې ګټه واخلئ، ډېر زر به پوه شئ. ۵۶- او دا خلک زموږ په ورکړیو څیزونو کې د هغو برخه وباسي چې په هکله يې هېڅ علم نه

لري. په الله قسم، تاسې چې کومه افترا کوئ، له تاسې به يې حتماً پوښتنه کيږي.
۵۷- او هغوی الله ته لوڼې جوړوي، هغه د دې نه پاک دی، او د ځان لپاره څه يې چې زړه غواړي. ۵۸- او په هغوی کې چې چا ته د لور زېرى ورکول شي، نو مخ يې تور شي او په زړه کې خفه وي. ۵۹- د کوم شي زېرى چې ورکول شوی، د هغه د شرم له وجې له خلکو پټيږي او (کري ربېي) چې هغه له ذلت سره (ژوندۍ) پرېږدي که يې په ځمکه خښه کړي. څومره بده فيصله ده چې هغوی يې کوي. ۶۰- بد مثال دی د هغو خلکو لپاره چې په آخرت ايمان نه لري. او د الله لپاره غوره مثالونه دي. هغه غالب او حکيم دی.
۶۱- او که الله څوک د هغوی د ظلم له وجې نيولای، نو په ځمکه به يې يو ژوندی نه وای پرېښی، خو هغه تر يوه ټاکلي وخته خلکو ته مهلت ورکوي. بيا چې د هغه ټاکلی وخت راشي، نو نه يوه شېبه وروسته کېدای شي او نه مخکې کېدای شي.
۶۲- او هغوی د الله لپاره هغه څه جوړوي چې د ځان لپاره يې نه خوښوي او د هغوی ژبې دروغ وايي چې (ګني) د هغوی لپاره کاميابي ده. لازماً د هغوی لپاره دوزخ دی او هغوی به ضرور ورته رسول کيږي.
۶۳- په الله قسم، موږ له تا مخکې مختلفو قومونو ته رسولان ولېږل. بيا شيطان هغوی ته د هغوی کارونه ښه وښودل. نو نن يې هماغه ملګری دی او د هغوی لپاره له درده ډک عذاب دی. ۶۴- او موږ په تا کتاب يوازې په دې خاطر نازل کړی چې ته هغوی ته هغه څه په ښکاره بيان کړې چې هغوی په کې اختلاف کوي، او هدايت او رحمت دی د هغو خلکو لپاره چې ايمان پرې راوړي.

۶۵- او الله له آسمانه اوبه را ښکته کړې. بیا یې ځمکه د هغې له مړینې وروسته را ژوندۍ کړه. بېشکه په دې کې نښې دي د هغو لپاره چې اوري.
۶۶- او بېشکه تاسې لپاره په څارویو کې سبق دی. موږ د هغو په خېټه کې دننه د سوټو او وینو له منځه په تاسې سوچه شیدې ښښوؤ، د ښښونکو لپاره خوندورې. ۶۷- او د کجورو او انګورو په وږو کې هم (سبق دی). تاسې له هغو د نشې توکي هم جوړوئ او د خوراک ښه شیان هم. بېشکه په دې کې نښه ده د هغو لپاره چې عقل لري.
۶۸- او ستا رب د شاتو مچۍ ته وحې وکړله چې په غرونو، او ونو او په چپلو (د انګورو او نورو څپرګیو) کې جاله جوړه کړه. ۶۹- بیا د هر ډول میوو شربت (رس) وزبېښه او د خپل رب په خپورو کړیو لارو لاړه شه. د هغه له خېټې د ښښلو ماده راوځي، رنګونه یې مختلف دي، د خلکو لپاره په کې شفا ده. بېشکه په دې کې نښه ده د هغو خلکو لپاره چې غور کوي.
۷۰- او الله تاسې پیدا کړي يئ، بیا هماغه تاسې مړه کوي. او په تاسې کې ځینې داسې دي چې ډېر زوړ عمر ته ورسېږي او له دې عمله د علم له حاصولو وروسته (بیا) بې علمه شي. بېشکه الله د علم او قدرت خاوند دی.
۷۱- او الله تاسې کې ځینو ته په روزۍ کې په ځینو لوړوالی درکړی. نو چا ته چې لوړوالی ورکول شوی، هغوی خپله روزي غلامانو ته نه ورکوي چې هغوی په کې شریک شي. نو ایا هغوی د الله له نعمت نه انکار کوي.
۷۲- او الله ستاسې لپاره ستاسې له منځه مېرمنې جوړې کړې او ستاسې له مېرمنو یې ستاسې لپاره زامن او لمسي پیدا کړل او تاسې ته یې د

خوراک لپاره پاک څیزونه درکړل. نو ایا دوی په باطل ایمان راوړي او د الله له نعمت نه انکار کوي. ۷۳- او هغوی له الله بغیر د هغو شیانو عبادت کوي چې نه دوی لپاره له آسمانه په روزۍ واک لري او نه له ځمکې، او نه قدرت لري. ۷۴- نو تاسې د الله لپاره مثالونه مه بیانوئ. بېشکه الله پوهېږي او تاسې نه پوهېږئ.
۷۵- او الله د یوه غلام مثال بیانوي چې د هېڅ شي واک نه لري او یو (بل) کس دی چې موږ ورته له خپل اړخه ښه رزق ورکړی دی، له هغه مال پټ او ښکاره مصرف کوي. ایا دوی به یو شان وي. ټول تعریفونه د الله لپاره دي، خو په هغوی کې زیاتره خلک نه پوهېږي.
۷۶- او الله یو بل مثال بیانوي چې دوه کسان دي او یو په کې ګونګ دی، هېڅ کار نه شي کولای او په خپل مالک پېټی دی. هغه یې چې هر چېرته لېږي، هېڅ یو کار سم نه شي کولای. ایا هغه کس او داسې کس سره برابرېدی شي چې د عدل تعلیم ورکوي او په سمه لار (روان) وي.
۷۷- او د آسمانونو او ځمکې پټې خبرې الله لره دي او د قیامت معامله به داسې وي لکه د سترګې رپ، بلکې له دې هم زر. بېشکه الله په هر څه قادر دی.
۷۸- او الله تاسې ستاسې د مېندو له خېټې را وویستئ، تاسې په هېڅ نه پوهېدئ، او هغه تاسې ته غوږونه او سترګې او زړه جوړ کړل چې تاسې شکر وباسئ.
۷۹- ایا خلکو هغه مرغۍ نه ده لېدلې چې د آسمان په فضا کې مسخرې کېږي. هغوی یوازې الله نیولې دي. بېشکه په دې کې نښې دي د هغو خلکو لپاره چې ایمان راوړي. ۸۰- او الله تاسې لپاره ستاسې کورونه د سکون ځایونه کړل او تاسې لپاره یې د څناورو د څرمنو کورونه جوړ کړل چې تاسې یې په سفر او قیام کې سپک مومئ. او د هغوی له اوړو

او لنډو وړیو او وېښتو یې د کور سامان او د ګټې شیان د یوې مودې لپاره جوړ کړل.
۸۱- او الله ستاسې لپاره د خپلو پیدا کړو څیزونو سیوري جوړ کړل او تاسې ته یې په غرونو کې د پټېدو ځایونه جوړ کړل او تاسې ته یې داسې جامې جوړې کړې چې تاسې له ګرمۍ ساتي او داسې جامې یې جوړې کړې چې په جنګ کې مو ساتي. په دې توګه الله په تاسې خپل نعمتونه پوره کوي چې تاسې فرمانبردار شئ.
۸۲- نو که هغوی مخ واړوي په تا یوازې د ښکاره ښکاره رسولو ذمه داري ده. ۸۳- هغه خلک د الله نعمت پېژني، بیا له هغه منکرېږي او په هغوی کې زیاتره خلک ناشکره دي.
۸۴- او په کومه ورځ چې موږ په هر امت کې یو ګواه را پورته کړو، بیا به انکار کونکو ته هدایت نه کېږي او نه به یې توبه قبلېږي. ۸۵- او کله چې ظالمان خلک عذاب ویني، نو نه به ترې هغه عذاب سپه کېږي او نه به ورته مهلت ورکول کېږي.
۸۶- او کله چې مشرکان خپل شریکان ویني، نو وبه وایي چې ای زموږ ربه، دا زموږ هغه شریکان دي چې موږ ستا په ځای را بلل. بیا به هغوی دا خبره په دوی وایي چې تاسې دروغجن یئ. ۸۷- او په هغه ورځ به هغوی د الله په وړاندې ښکته شي او د هغوی افتراګانې به ترې ورکې شي. ۸۸- چا چې انکار وکړ او خلک یې د الله له لارې منع کړل، موږ به د هغوی په عذاب (نور) عذاب ور زیات کړو، د هغه فساد له وجې چې هغوی کاوه.
۸۹- او په کومه ورځ چې موږ په هر امت د هغوی له منځه یو ګواه را پورته کړو، تا به په هغو خلکو ګواه کړو او موږ په تا کتاب نازل کړی

د هر څه روښانولو لپاره. هغه د فرمانبردارو لپاره هدايت او رحمت او بشارت (زېرى) دى.
۹۰- بېشكه الله د عدل او احسان او خپلوانو ته د وركړې حكم كوي. او الله فحشاء او منكر او سركشۍ منع كوي. الله تاسې ته نصيحت كوي چې خبردارى ترلاسه كړئ.
۹۱- او تاسې چې خپلو كې وعده كوئ د الله وعده پوره كړئ. او قسمونه له پخولو وروسته مه ماتوئ. او تاسې الله ضامن كړى دى. بېشكه الله پوهېږي په هغو چې تاسې يې كوئ. ۹۲- او تاسې د هغې ښځې په شان مه كېږئ چې په خپل زيار ښئ شوى تار يې ټوټې ټوټې پرې كړ. تاسې خپل قسمونه په خپلو منځونو كې د فساد اچولو وسيله كوئ، يوازې له دې امله چې يوه ډله تر بلې مخكې شي. او الله د دې په وسيله تاسې ازمايي او هغه به د قيامت په ورځ هغه څه تاسې ته روښانه كړي چې تاسې په كې اختلاف كوئ.
۹۳- او كه الله غوښتى تاسې به يې يو امت كړى واى، خو هغه چې څوک وغواړي بې لارې كوي يې او چاته چې وغواړي هدايت كوي او له تاسې به حتماً ستاسې د اعمالو پوښتنه كېږي.
۹۴- او تاسې خپل قسمونه په خپلو منځونو كې د فرېب وسيله مه جوړوئ چې څوک له ودرېدو وروسته وښوېږي او تاسې د هغه خبرې جزا وګورئ چې د الله لارې مو منع كړې او ستاسې لپاره يو لوى عذاب دى.
۹۵- او د الله وعده د لږې ګټې لپاره مه خرڅوئ. څه چې له الله سره دي ستاسې لپاره غوره دي كه تاسې پوه شئ.
۹۶- څه چې تاسې سره دي هغه به ختم شي او څه چې له الله سره دي هغه پاتې كېږي. او څوک چې صبر وكړي، موږ به ورته د خپلو ښو كارونو اجر حتماً وركړو. ۹۷ څوک چې نېک كار وكړي، كه ښځه وي

که سړی، په دې شرط چې مومن وي، نو موږ به ورته ژوند ورکړو، یو ښه ژوند او هغوی چې څه کوي، موږ به یې ورته بهترینه بدله ورکړو.
۹۸- نو تاسې چې کله قرآن لولئ له شیطان مردوده د الله پناه وغواړئ.
۹۹- د هغه زور په هغو خلکو نه رسي چې ایمان لري او په خپل رب توکل کوي.
۱۰۰- د هغه زور یوازې په هغو خلکو رسېږي چې اړیکه ورسره لري او هغوی چې له الله سره شرک کوي.
۱۰۱- او کله چې موږ د یوه آیت ځای له بل آیت سره بدلوو او الله ښه پوهېږي په هغه څه چې نازلوي یې، نو هغوی وایي چې دا دې پخپله جوړ کړی. بلکې په هغوی کې زیاتره خلک نه پوهېږي. ۱۰۲- ووایه چې دا روح القدس ستا د رب له طرفه په حق سره را نازل کړی چې هغه د خپل ایمان خاوندان ثابت قدمه وساتي او هدایت او زېري وي د فرمانبردارو لپاره.
۱۰۳- او موږ پوهېږو چې دا خلک وایي چې ده ته خو یې یو کس ور ښیي. کوم کس ته یې چې هغوی منسوبوي، د هغه ژبه عجمي ده او دا قرآن په روښانه عربي ژبه دی. ۱۰۴- بېشکه څوک چې د الله په آیتونو ایمان نه راوړي، الله هغوی ته هېڅکله لار نه ښیي او هغوی لپاره له درده ډکه جزا ده. ۱۰۵- دروغ خو هغه خلک جوړوي چې د الله په آیتونو ایمان نه لري او همدا خلک دروغجن دي.
۱۰۶- څوک چې له ایمان راوړولو وروسته له الله نه منکر شي، بې له هغو چې زور پرې شوی وي په دې شرط چې زړه یې په ایمان کلک وي، لیکن څوک چې په خلاص زړه منکر شي، نو په داسې خلکو به د الله عضب وي او هغوی ته به لویه جزا وي. ۱۰۷- دا په دې خاطر چې هغوی د آخرت په بدل کې د دنیا ژوند خوښ کړی او الله منکرانو ته لاره

نه ښيي. ۱۰۸- دا هغه خلک دي چې الله يې په زړونو او غوږونو او سترګو مهر لګولی، او دا خلک بالکل غافل دي. ۱۰۹ حتمي ده چې آخرت کې به دا خلک په تاوان کې وي.

۱۱۰- بيا ستا رب د هغو خلکو لپاره چې په امتحان کې له اچول کېدو وروسته يې هجرت وکړ، بيا يې جهاد وکړ او قايم پاتې شول، نو له دې خبرو وروسته بېشکه ستا رب ښونکی او مهربان دی. ۱۱۱- هغه ورځ چې هر څوک به په کې په خپله طرفدارۍ خبره کوي. او هر چا ته به د هغو د کړو (کارونو) پوره بدل ورکول کېږي او په هغوی به ظلم نه کېږي.

۱۱۲- او الله د يوه داسې کلي د خلکو بيان کوي چې په امن او اطمينان کې وو. هغوی ته خپل رزق له هر اړخه په خلاص مټ را رسېده. بيا هغوی د الله په نعمتونو ناشکري وکړله نو الله د هغوی د اعمالو له وجې په هغوی د لوږې او وېرې خوند وليده. ۱۱۳- او هغوی ته د هغوی له منځه يو رسول راغی، نو هغوی دروغجن وباله، بيا هغوی عذاب ونيول او هغوی ظالمان وو.

۱۱۴- نو کوم شيان چې الله حلال او پاک درکړي دي له هغو وخورئ او د الله د نعمت شکر وکړئ، که تاسې د هغه عبادت کوئ. ۱۱۵- هغه په تاسې يوازې مرداره او وينه او د خنځير غوښه او هغه څه حرام کړي چې د الله نوم پرې نه وي اخيستل شوی. بيا که څوک مجبور شي په دې شرط چې نه غوښتونکی وي او نه له حده تېرېدونکی وي، نو الله ښونکی او مهربان دی.

۱۱۶- او د خپلو ژبو د جوړو کړو دروغو په بنسټ دا مه وايئ چې دا حلال دي او دا حرام دي چې تاسې په الله دروغ تور پورې کړئ. څوک

چې په الله دروغ تهمت پورې کړي هغوی به کامیابي نه مومي. ۱۱۷- هغوی دې لږه ګټه واخلي او د هغوی لپاره له درده ډک عذاب دی.
۱۱۸- او په یهودو موږ هغه څیزونه حرام کړي وو چې له دې مخکې مو درته ویلي، چې موږ په هغوی ظلم نه دی کړ، بلکې هغوی پخپله په ځان ظلم کاوه.
۱۱۹- بیا ستا رب د هغو لپاره چې په ناپوهۍ کې یې بدي کړې او بیا یې توبه ویستې او ځان یې اصلاح کړی، نو ستا رب له هغه وروسته بښونکی او مهربان دی.
۱۲۰- بېشکه ابراهیم یو بېل امت و، د الله فرمانبردار و او د هغه لور ته سم و او هغه په شرک کونکو کې نه و. ۱۲۱- هغه د هغه (الله) د نعمتونو شکرګزار و. الله هغه غوره کړ، او د سمې لارې رهنمایي یې ورته وکړله. ۱۲۲- او موږ هغه ته په دنیا کې هم کامیابي ورکړله او په آخرت کې به هم په ښو خلکو کې وي. ۱۲۳- بیا موږ تاته وحې وکړله چې د ابراهیم د طریقې پیروي وکړه چې په سم کاره و او په شرک کونکو کې نه و.
۱۲۴- ثبت یوازې په هغو خلکو عائد شوی و چې په کې اختلاف یې لاره. او بېشکه ستا رب به د قیامت په ورځ د هغوی ترمنځ د هغه خبرې فیصله وکړي چې هغوی په کې اختلاف کاوه.
۱۲۵- د خپل رب لارې ته په حکمت او ښه نصیحت (سره) بلنه ورکړه او هغوی سره په ښه طریقه بحث وکړه. بېشکه ستا رب ښه پوهېږي چې څوک د هغه له لارې خطا شوی او هغوی هم ښه پېژني چې په لاره روان دي.
۱۲۶- او که تاسې بدل اخلئ، نو هومره بدل واخلئ چې تاسې سره شوي دي، او که تاسې صبر وکړئ، نو هغه صبر کونکو ته ډېره غوره ده.

۱۲۷- او صبر وکړه او ستا صبر د الله په توفيق کېږي او د هغوی غم مه کوه او هغوی چې هر تدبير کوي، زړه پرې مه تنکوه.
۱۲۸- بېشکه الله له هغو خلکو سره دی چې پرهېزګار دي او نېکي کونکي دي.

**سوره بني اسرائيل ۱۷**

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
* ۱- پاک دی هغه (ذات) چې يو يې وړ يوه شپه خپل بنده د مسجد حرام نه لرې تر الاقصی جومات پورې چې چاپېريال يې موږ بابرکته کړی دی، تر څو هغه ته ځينې نښې وښيي. بېشکه هغه اورېدونکی او ليدونکی دی.
۲- او موږ موسی ته کتاب ورکړ او هغه مو د بني اسرائيلو لپاره لارښود کړ چې له ما بغير بل څوک خپل کارساز مه ګڼه. ۳- تاسې د هغو خلکو اولاد يئ چې له نوح سره موږ سپاره کړئ، بېشکه هغه شکرګزاره بنده و.
۴- او موږ بني اسرائيلو ته په کتاب کې وويل چې تاسې به دوه ځله (د شام) په ځمکه فساد کوئ او ډېره سرکشي به ښايئ. ۵- بيا چې په هغه کې لومړۍ وعده راغله نو موږ تاسې ته خپل بندهګان درولېږل، ډېر زورور. هغوی په کورونو در ننوتل او وعده پوره شوه. ۶- بيا موږ تاسې ته په هغوی امتياز درکړ او په مال او اولاد مو ستاسې مرسته وکړله او تاسې مو په شمېر کې زيات کړئ.
۷- که تاسې ښه کارونه وکړئ له ځان سره به ښه وکړئ او که بد کارونه کوئ بيا به هم له ځان سره بد کوئ. بيا چې د دويمې وعدې وخت راغی نو موږ نور بندهګان ور ولېږل چې هغوی ستاسې مخونه وران کړي او

مسجد (بيت المقدس) ته ننوځي لکه څنګه چې مخکې ور ننوتي وو او په څه يې چې وس ورسيږي هغه برباد کړي. ۸- لرې نه ده چې ستاسې رب په تاسې رحم وکړي. او که تاسې بيا هغسې وکړئ نو موږ به هم هغسې وکړو او موږ جهنم د منکرانو لپاره زندان کړی دی.
۹- بېشکه دا قرآن هغه لار ښيي چې بيخي سيده ده او زېری ورکوي د ايمان خاوندانو ته چې ښه عملونه کوي د هغوی د لپاره لوی اجر دی.
۱۰- او دا چې خلک آخرت نه مني، د هغوی لپاره موږ له درده ډک عذاب تيار کړی دی.
۱۱- او انسان بدي غواړي، داسې لکه څنګه چې هغوی بايد ښېګڼه وغواړي او انسان ډېره تادي کوي. ۱۲- او موږ شپه او ورځ دوه نښې جوړې کړلې. بيا موږ د شپې نښه پاکه کړله او د ورځې نښه مو روښانه کړله چې تاسې د خپل رب فضل ولټوئ او تاسې د کلونو شمېر او حساب معلوم کړئ. او موږ هر څه ښه په روښانه ډول بيان کړي دي.
۱۳- او موږ د هر انسان قسمت د هغه له غاړې سره تړلی دی. او موږ به د قيامت په ورځ ورته يو کتاب را وباسو چې هغو به يې پرانيستی ومومي. ۱۴- ولوله خپل کتاب. نن خپل حساب اخيستلو لپاره ته پخپله کافي يې. ۱۵- څوک چې د هدايت په لاره ځي، د ځان لپاره ځي. او څوک چې بې‌لارېتوب کوي هغه هم د خپل تاوان لپاره بې لارې وي. او هېڅ پېټی پورته کونکی به د بل پېټی نه پورته کوي. او موږ هېڅکله (چاته) جزا نه ورکوو تر څو چې رسول ور ونه لېږو.
۱۶- او کله چې موږ کوم کلی هلاکول وغواړو نو د هغوی خوش عيشه خلکو ته حکم کوو، بيا هغوی نافرماني پيلوي. بيا په هغوی خبره ثابتيږي. بيا موږ هغه کلی تباه او بربادوو. ۱۷- او له نوح وروسته موږ څومره

قومونه هلاک کړل. او ستا رب کافي دی د خپلو بندهګانو په ګناهونو پوهېدلو او د هغوی لیدلو لپاره.
۱۸- او څوک چې عاجله (دنیا) غواړي، هغه ته یې له همدې ورکوو څومره چې موږ ورکول وغوښتل. بیا موږ د هغوی لپاره دوزخ ټاکلی دی، هغوی به هلته ور ننوځي په بدل حال او رټل شوی. ۱۹- او چا چې آخرت وغوښتل او د هغه لپاره یې منډې وکړې چې همدا یې (اصلي) منډې دي او هغه مومن وي، نو داسې خلکو هڅې به قبولې شي.
۲۰- موږ یې هر یوه ستا د رب له بخششه ورکوو هغوی ته هم او دوی ته هم. او ستا د رب بخشش په چا بند نه دی. ۲۱- وګوره موږ یو تر بل څنګه فوقیت ورکړی دی. او یقیناً آخرت نور هم لوی دی د درجې او فضیلت له مخې.
۲۲- نو له الله سره بل معبود مه جوړوه ګني ته به ملامته او بې کسه شې. ۲۳- او ستا رب پرېکه کړې ده چې له هغه بغیر د بل چاته عبادت مه کوئ او مور او پلار سره ښه سلوک کوئ. که په هغوی کې یو یا دواړه ستاسې په مخ کې زاړه شي، نو اُف ورته مه کوئ او مه ورسره جنګ کوئ، او هغوی سره په احترام خبرې کوئ. ۲۴- او د هغوی مخې په نرمۍ او عاجزۍ لاسونه وغځوئ او ووایئ چې ای ربه، په دوی دواړو رحم وکړه لکه څنګه چې دوی زه په ماشومتوب کې پاللی یم. ۲۵- ستاسې رب ښه پوهیږي چې ستاسې په زړونو کې څه دي. که تاسې نېکان شئ نو هغه توبه کونکي ښښي.
۲۶- او خپلوانو او مسکینانو او مسافرو ته د هغوی حق ورکړئ. او اسراف (فضول خرڅي) مه کوئ. ۲۷- بېشکه فضول خرڅ کونکي د شیطان ورونه دي او شیطان د خپل رب ډېر ناشکره دی. ۲۸- که تاسې

د خپل رب د فضل په انتظار يئ چې تاسې ته يې تمه ده، له هغوی مخ اړولو ته مجبور شئ، نو خبرې ورسره په نرمۍ وکړئ.
۲۹- او مه خپل لاسونه (د بخل له وجې) په غاړه کې اچوئ او مه يې بيخي خلاص پرېږدئ چې تاسې (يې له وجې) ملامته او عاجز شئ. ۳۰- بېشکه ستا رب چې چا ته وغواړي ډېر رزق ورکوي او چاته چې وغواړي تنګوي يې. بېشکه هغه د خپلو بندهګانو پېژندونکی او ليدونکی دی.
۳۱- او خپل بچي د مفلسۍ له وېرې مه وژنئ، موږ هغوی ته هم رزق ورکوو او تاسې ته هم. بېشکه د هغوی وژل لويه ګناه ده. ۳۲- او زنا ته مه نږدې کېږئ، هغه بې حيايي ده او بده لار ده.
۳۳- او کوم ژوندی چې الله محترم ګرځولی دی هغه مه وژنئ مګر په حقه. او څوک چې ناحقه ووژل شي، نو موږ د هغه وارث ته اختيار ورکړی دی. نو هغه دې په قتل کې له حده نه وځي او هغه سره به مرسته وشي.
۳۴- او د يتيم مال ته مه نږدې کېږئ، مګر څنګه چې بهتره وي. تر هغې چې هغه د بلوغ عمر ته ورسېږي. او وعده پوره کوئ، بېشکه د وعدې پوښتنه به کېږي. ۳۵- او کله چې ناپ او تول کوئ، نو پوره او په سمه تله يې کوئ. دا غوره طريقه ده او د دې انجام هم ښه دی.
۳۶- او په هغه خبرې پسې مه ځه چې ته پرې نه پوهېږې. بېشکه د غوږونو او سترګو او زړه پوښتنه به له ټولو انسانانو کېږي. ۳۷- او په ځمکه په غرور مه ګرځه. نه ځمکه شانلای شې او نه د غرونو لوړو ته رسېدلای شې. ۳۸- دا ټول بد کارونه ستا د رب په نزد ناخوښه دي.

۳۹- دا ټولې هغه خبرې دي چې ستا رب له حکمته تاته وحې کړې دي. او له الله سره معبود مه جوړوه، ګني ملامته او رټل شوی به جهنم کې واچول شې.
۴۰- ایا ستاسې رب تاسې ته زامن غوره کړي او درکړي دي او ځان ته یې له ملایکو لونې جوړې کړي. بېشکه تاسې ډېره سخته خبره کوئ.
۴۱- او موږ په دې قرآن کې مختلف ډول بیان کړی چې هغوی نصیحت ترلاسه کړي. خو د هغوی بېزاري لا پسې زیاتېږي. ۴۲- ووایه چې که د الله تر څنګ نور معبودان وای لکه دا خلک چې وایي، نو هغوی به د عرش خاوند طرف ته لار پیدا کړې وای. ۴۳- الله تر هغه څه پاک او لوړ دی چې دا خلک یې وایي. ۴۴- اووه آسمانونه او ځمکې او څه چې په دې کې دي، ټول د هغه پاکي بیانوی. او هېڅ داسې شی نشته چې له ستاینې سره د هغه پاکي نه بیانوي. خو تاسې د هغو په تسبیح نه پوهېږئ. بېشکه هغه د حلم خاوند او بښونکی دی.
۴۵- او کله چې ته قرآن لولې نو موږ ستاسې او هغو خلکو ترمنځ یوه پرده حائلوو چې آخرت نه مني. ۴۶- او موږ د هغوی په زړونو پرده اچوو چې هغوی پرې پوه نه شي او د هغوی په غوږونو کې دروندوالی پیدا کوو چې کله ته په قرآن کې یوازې د خپل رب ذکر کوې، نو هغوی در نه په کرکه مخ اړوي.
۴۷- او موږ پوهېږو چې هغوی کله تاته غوږ ږدي نو د څه لپاره یې اوري او کله چې هغوی خپلو کې پټې خبرې کوي. دا ظالمان وایي چې تاسې خو د یوه جادو ځپلي انسان پسې روان یئ. ۴۸- وګوره ستا په هکله هغوی څنګه خبرې جوړوي. دا خلک ورکه شوې لاره نه شي موندلای.
۴۹- او هغوی وایي چې کله موږ هډوکي او مېده شو نو ایا موږ به بیا له سره را ژوندي کېږو. ۵۰- ووایه که تاسې تیږه یا اوسپنه شئ. ۵۱- یا

بل هر هغه شی چې ستاسې په خيال تر دې هم کلک وي. بيا به هغوی
وواېي هغه څوک دی چې موږ به بېرته را ژوندي کوي. وواېه هماغه
چې تاسې يې په لومړي ځل پيدا کړي يئ. بيا به هغوی تاته سر خوځوي
او وايي به چې دا به کله کېږي. وواېه عجيبه نه ده چې د هغه وخت را
نږدې شوی وي. ۵۲- په کومه ورځ چې الله تاسې را بولي نو تاسې به د
هغه حمد کوئ او د هغه په بلنه به راځئ او تاسې به داسې ګڼئ چې ډېر
لږ وخت پاتې شوي يئ.
۵۳- او زما بندهګانو ته وواېه چې هغه خبره وکړي چې بهتره وي.
شيطان د هغوی ترمنځ فساد اچوي. بېشکه شيطان د انسان ښکاره دښمن
دی.
۵۴- ستا رب تاسې ډېر ښه پېژني، که هغه وغواړي په تاسې به رحم
وکړي يا که هغه وغواړي نو تاسې ته به عذاب درکړي. او موږ ته د
هغوی مسوول نه يې لېږلی. ۵۵- او ستا رب ښه پېژني هغه چې په
آسمانونو او ځمکه دي او موږ ځينو نبيانو ته په ځينو فضيلت ورکړی
دی او موږ داؤد ته زبور ورکړی.
۵۶- وواېه هغو را وبولئ چې تاسې يې له الله بغير معبودان ګڼئ. هغوی
نه له تاسې د کوم دمصيبت د لرې کولو واک لري او نه هغه دا بدلولای
شي. ۵۷- دوی چې څوک را بولي، هغوی پخپله د خپل رب نږدېکت
لټوي چې په هغوی کې څوک ډېر نږدې شي. او هغوی د خپل رب د
رحمت په تمه دي. او د هغه له عذابه وېرېږي. واقعاً ستا د رب عذاب د
وېرېدو دی.
۵۸- او هېڅ يو کلی داسې نه دی چې موږ يې له قيامت مخکې هلاک نه
کړو يا سخت عذاب ور نه کړو. دا خبره په کتاب کې ليکل شوې ده.

۵۹- او موږ له نښو لیږلو ایسار نه کړو، نو دې چې مخکینیو خلکو هغه دروغ وبللې. او موږ ثمود ته اوښه ورکړله د هغوی د پوهولو لپاره. بیا یې په هغې ظلم وکړ. او نښې موږ یوازې وېرېدونکو ته لیږو.
۶۰- او کله چې موږ تاسې ته وویل چې ستاسې رب خلک په ولکه کې نیولي دی او کوم خوب چې موږ تاسې ته وښوده هغه یوازې د خلکو ازمایلو لپاره وه، او هغه ونه هم چې په قرآن کې یې غندنه شوې ده.
۶۱- او کله چې موږ ملایکو ته وویل چې آدم ته سجده وکړئ نو هغوی سجده وکړله، مګر ابلیس ونه کړه. هغه وویل ایا زه داسې شخص ته سجده وکړم چې تا له خاورې جوړ کړی دی. ۶۲- هغه وویل، ته وګوره، دا شخص چې تا ورته په ما (لوړ) عزت ورکړی دی که ته ماته د قیامت د ورځې پورې مهلت راکړې نو زه به لږو خلکو بغیر د ده ټول اولاد په خپله لار کړم.
۶۳- الله وویل چې ورځه، په هغو کې چې هر یو ستا ملګری شو نو دوزخ ستاسې د ټولو بدله ده. ۶۴- او په هغو کې چې په هر یو ستا وس ورسېده، نو په خپل غږ یې قدمونه بې لاره کړې او په هغوی خپل سپاره او پیاده ور خوشې کړه او د هغوی په مال او اولاد کې د هغوی شریک شه او هغوی سره وعده وکړه. او د شیطان وعده له ټګۍ بغیر هیڅ نه ده.
۶۵- بېشکه څوک چې زما بندګان دي په هغوی به ستا زور ونه رسیږي او ستا رب د کارسازۍ لپاره کافي دی.
۶۶- ستاسې رب هغه دی چې ستاسې لپاره په سمندر کې کښتۍ ګرځوي چې تاسې د هغه په فضل لټون وکړئ. بېشکه هغه په تاسې مهربان دی.
۶۷- او کله چې سمندر کې په تاسې کوم آفت راځي نو تاسې هغه معبودان هېروئ چې له الله بغیر به مو رابلل. بیا چې هغه (الله) تاسې د وچې خوا ته بچ کوي نو تاسې بیا سرغړونه کوئ. او انسان ډېر ناشکره دی.

۶۸- ایا تاسې دا وېره نه لرئ چې الله تاسې د وچې خوا ته راوړي او په ځمکه مو ننباسي یا په تاسې کاڼي وروونکې سیلۍ را ولېږي، بیا به تاسې هېڅوک خپل کارساز ونه مومئ. ۶۹- بیا تاسې دا وېره نه لرئ چې هغه به تاسې بیا سمندر ته یوسي او په تاسې د هوا سخت توپان راولي او تاسې د خپل انکار له وجې غرق کړي. بیا به تاسې زموږ هېڅوک تعقیبونکی ونه مومئ.
۷۰- او موږ د آدم اولاد ته عزت ورکړ او موږ هغوی په وچه او اوبو کې سپاره کړل او هغوی ته مو د پاکو څیزونو رزق ورکړ او موږ هغوی ته په خپلو ډېرو مخلوقاتو فوقیت ورکړ.
۷۱- په کومه ورځ به چې موږ هره ډله د هغوی له لارښود سره را وغواړو. نو د چا اعمال نامه چې په چپ لاس کې ورکول کېږي هغوی به خپله اعمال نامه لولي او له هغوی سره به یوه ذره بېعدلي نه کېږي.
۷۲- او څوک چې په دې دنیا ړوند و، هغه به آخرت کې هم ړوند وي او له لارې به ډېر زیات لرې وي.
۷۳- او نږدې وه چې دا خلک تا په فتنه کې واچوي او له هغه څه دې لرې کړي چې موږ یې تاته وحې کړې وه، په دې خاطر چې ته له هغه (وحې) بغیر زموږ لور ته غلطه خبره منسوبه کړې او بیا به هغوی ته خپل ملګری کړی وای. ۷۴- او که موږ ته نه وای کلک کړی، نو نږدې وه چې ته د هغوی لور ته لږ څه ور مات شې. ۷۵- بیا به موږ په تا د ژوند او مرګ دواړو دوه چنده (عذاب) خوند لیدلی وای. له هغه وروسته به تا زموږ په مقابل کې هېڅ مرستندوی نه موندلای.
۷۶- او دې خلکو له دغه وطنه ستا د ویستلو هڅه کوله چې تا ترې وباسي. او که داسې شوې وای، له تا وروسته به دوی هم ډېر لږ پاتې وای. ۷۷- لکه څه چې د هغه رسولانو په هکله زموږ طریقه را پاتې ده

چې له تا مخکې مو لیږلي وو او ته به زموږ په طریقه کې بدلون ونه مومې.
۷۸- لمونځ قایم کړه د لمر له ډوبېدو وروسته د شپې تر تیارې پورې او خصوصاً د سهار قرأت، بېشکه د سهار قرأت مشهود وي.
۷۹- او د شپې تهجد کوه، دا ستا لپاره نفل دي. هیله ده چې ستا رب تا په مقام محمود ودروي.
۸۰- او ووایه چې ای زما ربه، ما داخل کړه په رښتیا مې داخل کړه او ما را وباسه په رښتیا مې را وباسه او ماته له خپله اړخه مرستندویه قوت را وبښه. ۸۱- او ووایه چې حق راغی او باطل له منځه لاړ. بېشکه باطل له منځه تلونکی وو.
۸۲- او موږ یې له قرآن نازلوو چې په کې شفا او رحمت دی د ایمان خاوندانو لپاره، او ظالمانو ته له دې د تاوان بغیر نور هېڅ نه زیاتېږي.
۸۳- او په انسان چې کله موږ انعام کوو نو هغوی اعراض کوي او مخ اړوي. او کله چې ورته تکلیف رسیږي نو ناهیلي کیږي. ۸۴- ووایه چې هر څوک په خپله طریقه عمل کوي. او ستا رب پوهیږي چې څوک ډېر په سمه لار دی.
۸۵- او له تا د روح په هکله پوښتنه کوي. ووایه چې روح زما د رب په حکم دی. او تاسې ته ډېر لږ علم درکول شوی دی.
۸۶- او که موږ وغواړو له تا به هغه هر څه واخلو چې موږ درته د وحې په وسیله درکړي دي، بیا به ته د دې لپاره زموږ په مقابل کې هېڅ مرستندوی ونه مومې. ۸۷- مګر دا یوازې ستا د رب رحمت دی، بېشکه په تا د هغه لوی فضل دی. ۸۸- ووایه که تاسې ټول انسانان او پیریان راټول شئ چې داسې قرآن جوړ کړئ، بیا به هم هغوی داسې را نه وړی شي، که څه هم هغوی د یو بل مرستندوی شي.

۸۹- او موږ د خلکو لپاره په دې قرآن کې هر ډول مضمون په مختلفو بڼو بیان کړی، بیا هم زیاتره خلک په خپل انکار کلک دي. ۹۰- او هغوی وایي چې موږ هېڅکله په تا ایمان نه راوړو تر څو چې ته موږ ته له ځمکې چینه را ونه باسې. ۹۱- یا ته د کجورو او انګورو کوم باغ ونه لرې، بیا ته د هغه باغ له منځه ویالې رواني کړه. ۹۲- بیا لکه ته چې وایې، په موږ د آسمان ټوټې را وغورځوه یا الله او ملایکې زموږ مخې ته راوړه. ۹۳- یا ته د سرو زرو کوم کور ولرې یا ته آسمان ته پورته شه او موږ ستا پورته کېدل هم نه منو تر هغې چې تر هغه ځایه موږ ته کوم کتاب را ښکته نه کړې چې موږ یې ولولو. ووایه چې زما رب پاک دی، زه خو یوازې یو بشر او د الله رسول یم.

۹۴- او کله چې هغوی ته هدایت راغی نو هغوی له ایمان راوړلو هېڅ شي ایسار نه کړل چې هغوی ووایل ایا الله یو بشر رسول را لیږلی دی.

۹۵- ووایه که په ځمکه ملایکې وای او په ځمکه ګرځېدلای نو موږ به په هغوی له آسمانه ملایکه رسول نازل کړی وای-۹۶- ووایه چې الله زما او ستاسې ترمنځ ګواهۍ لپاره کافي دی. بېشکه هغه د خپلو بندګانو پېژندونکی او لیدونکی دی.

۹۷- الله چې چا ته لار وښیي هماغه لار موندونکي دي. او څوک چې هغه بې لارې کړي، نو ته به د هغوی لپاره له الله بغیر بل مرستندوی ونه مومې. او موږ به هغوی د قیامت په ورځ پړ مخی، ړانده او ګونګي او کاڼه را پورته کړو. د هغوی ځای دوزخ دی. کله چې د هغه اور تت شي موږ بیا یې لا تېز کړو. ۹۸- دا د هغوی بدله ده په دې خاطر چې هغوی زموږ له نښو انکار کړی دی. او ویې ویل چې کله موږ هډوکي او مېده شو، نو بیا به له سره را ژوندی او را پورته کیږو.

۹۹- ایا هغو خلکو نه دي لیدلي چې الله آسمانونه او ځمکې پیدا کړي، هغه په دې قادر دی چې همدې ته ورته بیا پیدا کړي او هغه د دې لپاره یوه موده ټاکلې ده، په دې کې هېڅ شک نشته. په دې هم ظالمان بې انکاره پاتې نه شول.
۱۰۰- ووایه که تاسې زموږ د رحمتونو د خزانې مالکان وای، نو تاسې به یې د مصرف کېدو له اندېښنې حتماً لاس نیولای وای او انسان ډېر بخیل دی.
۱۰۱- او موږ موسی ته نهه[۹] واضح نښې ورکړي، . نو له بني اسرائیلو پوښتنه وکړه چې کله ورته هغه راغی، نو فرعون ورته وویل ای موسی، زه فکر کوم چې په تا حتماً چا جادو کړی دی. ۱۰۲- موسی وویل ته ښه پوهېږې چې دا (نښه) د آسمانونو او ځمکې رب نازل کړې، د سترګو پرانیستلو لپاره او زه فکر کوم ای فرعونه، ته حتماً لعنت شوی انسان یې. ۱۰۳- بیا فرعون وغوښتل چې هغوی له خپل وطن نه وباسي. نو موږ هغه او هغه سره چې څوک وو ټول غرق کړل. ۱۰۴- او موږ بني اسرائیلو ته وویل چې تاسې په ځمکه اوسئ. بیا چې د آخرت وعده راشي نو موږ به تاسې ټول په یو ځای راولو.
۱۰۵- او موږ قرآن له حق سره نازل کړی او هغه له حق سره نازل شوی دی. او موږ خو ته یوازې زېری ورکونکی او وېرونکی لېږلی یې. ۱۰۶- او موږ قرآن لږ لږ نازل کړی چې تاسې یې خلکو ته په دمه دمه ووایې. او دا موږ په تدریج نازل کړی دی.
۱۰۷- ووایه که تاسې په دې ایمان راوړئ که نه راوړئ، کومو خلکو ته چې له دې وړاندې علم ورکړل شوی و، دا چې کله د هغوی په مخ کې لوستل کېږي، نو هغوی پړمخې په سجده پرېوځي. ۱۰۸- او وایي

چې زموږ رب پاک دی. بېشکه زموږ د رب وعده حتماً پوره کېږي.
۱۰۹- او هغوی پړمخې په ژړا پرېوځي او قرآن د هغوی خشوع زیاتوي.
۱۱۰- ووایه که الله یې وبولئ او که رحمان یې وبولئ، د هغه لپاره ټول
ښه نومونه دي. او تاسې لمونځ مه په لوړ غږ کوئ او مه بیخي پټ پټ
(کوئ). او د دواړو ترمنځ لاره خپله کړئ. ۱۱۱- او ووایه چې ټولې
ښېګڼې د الله دي چې نه اولاد لري او نه یې په پاچاهۍ کې شریک شته.
او نه یې د کمزورۍ له وجې څوک مرستندوی شته. او د هغه لویي په
ښه شان بیانوه.

## سوره الکهف ۱۸

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- تعریف الله لره دی چې په خپل بنده یې دا کتاب نازل کړ، او په دې
کې یې هېڅ کوږوالی نه دی ایښی. ۲- بیخي سم دی، چې هغه د الله له
طرفه د یوه سخت عذاب خبرتیا ورکړي. او د ایمان خاوندانو ته زېری
ورکړي چې څوک نېک عملونه کوي د هغوی لپاره ښه بدله ده. ۳- او
هغوی به په کې تل اوسېږي. ۴- او هغه خلک ووېروي چې وایي الله
(ځان ته) زوی جوړ کړی دی. ۵- هغوی په دې خبره هېڅ نه پوهېږي
او نه یې پلار نیکه (پوهېږي). دا ډېره درنه خبره ده چې د هغوی له
خولې را وځي، هغه یوازې دروغ وایي.
۶- کېدای شي ته د هغوی له وجې خپل ځان هلاک کړې، که چېرې
هغوی په دې ایمان را نه وړي. ۷- څه چې په ځمکه دي موږ هغه د
ځمکې رونق کړي چې موږ خلک وګورو چې په هغوی کې څوک نېک
عمله دی. ۸- او موږ به د ځمکې ټول شیان یو پاک میدان کړو.

۹- ایا ته دا فکر کوې چې د کهف او رقیم اوسېدونکي زموږ په نښو کې عجیبې نښې وې. ۱۰- کله چې هغو ځوانانو غار ته پناه یوړه، بیا هغوی وویل چې ای زموږ ربه، موږ ته خپل رحمت راکړه او زموږ معامله سمه کړه. ۱۱- نو موږ په غار کې د هغوی په غوږونو د کلونو لپاره (د خوب پرده) واچوله. ۱۲- بیا موږ هغوی را پورته کړل چې معلومه کړو په ډلو کې کومه یوه د تېرې شوې مودې ښه حساب کولای شي.
۱۳- موږ تاته د هغوی اصلي کیسه کوو. هغوی څو ځوانان وو چې په خپل رب یې ایمان راوړ او موږ د هغوی هدایت ته ډېر پرمختګ ورکړ.
۱۴- او موږ د هغوی زړونه کلک کړل چې کله را پورته شول او ویې ویل چې زموږ رب هماغه دی چې د آسمانونو او ځمکې رب دی. موږ له هغه بغیر بل معبود نه را بولو. که موږ داسې وکړو، نو ډېر بېځایه کار به وکړو. ۱۵- دې زموږ د قوم خلکو له هغه بغیر نور معبودان جوړ کړي دي. هغوی د دې د ثبوت لپاره واضح دلیل ولې نه راوړي. او له هغه کس به بل لوی ظالم څوک وي چې په الله پورې دروغ تړي.
۱۶- او کله چې تاسې له هغو خلکو جدا شوئ او د هغوی له معبودانو نه چې له الله بغیر یې عبادت کوي، نو تاسې لاړ شئ او په غار کې پناه واخلئ، ستاسې رب به په تاسې رحمت وکړي. او ستاسې د کار لپاره به سر و سامان تیار کړي.
۱۷- او چې لمر ته ګورې، هغه چې را پورته کیږي نو د هغه غار ښي خوا ته ځي او کله چې ډوبیږي نو له هغوی چپې خوا ته تېرېږي او هغوی په غار کې دننه پراخه ځای کې دی. دا د الله له نښو ده چاته چې الله هدایت وکړي، هغه هدایت موندونکی دی او څوک چې الله بې لارې کړي، نو ته به هغوی ته د مرستندویه لارې ښودونکی ونه مومې.

۱۸- او که تا هغوی لیدلی، ویښ په دې ګڼلی وای، سره د دې چې هغوی ویده وو. موږ هغوی په ښي او چپ طرف اړول او د هغوی سپی د غار په خوله کې غځېدلي لاسونه پروت و. او که تا هلته هغوی لیدلي وای نو له هغوی به په شا را تښتېدلی وای او په تا به د هغوی وېره ناسته وای.
۱۹- او په دې توګه موږ هغوی را ویښ کړل چې په خپلو کې پوښتنې ګروېږنې وکړي. په هغوی کې یوه ویونکي وویل، تاسې دلته څومره وخت تېر کړ. هغوی وویل چې موږ به یوه ورځ یا تر ورځې هم لږ (وخت) تېر کړی وي. هغه وویل الله ښه پوهېږي چې تاسې څومره وخت دلته تېر کړی. نو په خپلو کې یوه کس ته دا د سپینو زرو سکه ورکړه او ښار ته یې ولېږه، هغه دې وګوري چې پاک خواړه په کوم ځای کې پیدا کېږي او تاسې ته دې لږ خواړه راوړي. او هغه دې په نرمۍ لاړ شي او څوک دې په تاسې نه خبروي. ۲۰- که هغوی په تاسې خبر شي نو تاسې به په تیږو وولي یا به تاسې خپل دین ته ستانه کړي او بیا به هېڅکله کامیابي ونه مومئ.
۲۱- او په دې توګه موږ په هغوی خلک خبر کړل، چې خلک پوه شي چې د الله وعده ربښتیا ده او دا چې په قیامت کې هېڅ شک نشته. نو کومو خلکو چې د دوی په هکله خپلو کې لانجې کولې، هغوی وویل چې د دوی په غار یوه ودانۍ جوړه کړئ. د هغوی رب هغوی ښه پېژني. کوم خلک چې د دوی په معامله کې برلاسي شول هغوی وویل موږ به د دوی په غار یو عبادتځای جوړ کړو.
۲۲- څه خلک به وایي چې هغوی درې وو او څلورم د هغوی سپی و. او ځینې به وایي چې هغوی پنځه وو او شپږم یې سپی و، دا خلک بې تحقیقه خبره کوي، او څه خلک به وایي چې هغوی اووه وو او اتم یې سپی و. ووایه زما رب ښه پوهېږي چې هغوی څو وو. لږ خلک هغوی

پېژني. نو ته د هغوی په هکله له سرسري خبرې بغیر ډېر بحث مه کوه
او مه د هغوی په هکله په هغو کې له چا پوښتنه کوه.
۲۳- او ته د کوم کار په هکله دا مه وایه چې سبا به يې وکړم. ۲۴- مګر
دا که الله يې وغواړي. او کله چې درنه هېر شي نو الله یادوه. او وایه
هیله ده چې زما رب ماته د کامیابۍ تر دې ډېره نږدې لار را وښيي.
۲۵- او هغوی په خپل غار کې درې سوه کاله تېر کړل (ځینې خلک د
وخت په شمېر کې) نهه کاله لوړ شوي دي. ۲۶- ووایه چې الله د هغوی
د اوسېدو په موده ډېر پوهېږي. د آسمانو او ځمکې د غیبو علم هغه سره
دی، څومره غوره دی هغه لیدونکی او اورېدونکی. له الله بغیر د هغوی
هېڅ مرستندویه نشته او نه الله څوک په خپل واک کې (ځان سره)
شریکوي.
۲۷- ستا د رب کوم کتاب چې په تا وحې کېږي هغه واوروه، د الله د
خبرو بدلونکی څوک نشته. او له هغه بغیر بله پناه نه شې موندلای. ۲۸-
او خپل ځان له هغو سره ساته چې سهار او ماښام خپل رب یادوي، او د
هغه رضا غواړي. او ستا سترګې دې د دنیوي ژوند د رونق له وجې، له
هغوی نه اوړي. او ته د داسې چا خبره مه اوره چې زړه يې موږ له خپل
یاده غافل کړی. او هغه په خپل خواهش روان وي او د هغه معامله له
حده اوښتې ده.
۲۹- او ووایه چې دا حق دی ستا د رب له خوا نه، نو که څوک يې مني
او که څوک يې نه مني. موږ ظالمانو ته داسې اور تیار کړی چې له
څلورو اړخونو به يې په خپله ولکه کې ونیسي. او که هغوی د اوبو لپاره
فریاد وکړي نو داسې اوبه به ورکول کېږي چې د ویلې شوې اوسپنې
غوندې به وي. مخونه به سوځوي. څومره بدې اوبه به وي او څومره بد
ځای به وي.

۳۰- بېشکه چا چې ایمان راوړ او ښه کارونه یې وکړل نو موږ به د داسې خلکو اجر نه ضایع کوو. ۳۱- ځوک چې ښه کارونه وکړي، د هغوی لپاره د تل ژوند کولو باغ دی چې ور لاندې به نهرونه بهېږي، هلته به دوی ته د سرو زرو بنګړي اچول کیږي. او هغوی به د نازکو وریښمو شنې جامې اغوندي، په تختونو به یې تکیه ګانې وهلې وي. څومره ښه بدله ده او څومره ښه ځای.
۳۲- ته هغوی ته یو مثال وړاندې کړه. دوه کسان وو. په هغوی کې یوه ته موږ د انګورو دوه باغونه ورکړل. او له هغو ګردچاپېره مو د کجورو د ونو دیوال جوړ کړ او د دواړو ترمنځ مو پټی پرېښود. ۳۳- دواړو باغونو میوه وکړه، هېڅ کمي یې په کې ونه کړله. او د دواړو باغونو ترمنځ مو نهر روان کړ. ۳۴- او هغه چې ښه میوه واخیستله نو خپل ملګري سره یې په خبرو کې وویل چې زما مال له تا نه ډېر دی او په شمېر کې هم درنه زورور یم. ۳۵- هغه خپل باغ ته ننوته او په خپل ځان یې ظلم کاوه. هغه وویل زه نه پوهېږم چې دا به کله بربادیږي. ۳۶- او زه نه پوهېږم چې قیامت به کله راځي. او که زه خپل رب ته ستون کړی شوم، نو حتماً به راته تر دې ښه ځای راکول کیږي.
۳۷- د هغه ملګري په خبرو کې وویل، ایا ته له هغه ذات نه انکار کوې چې ته یې له خاورې جوړ کړې، بیا د اوبو له یوه څاڅکي. بیا یې ته پوره انسان کړې. ۳۸- خو زما رب خو هماغه الله دی او زه له خپل رب سره هېڅوک نه شریکوم. ۳۹- او کله چې ته خپل باغ ته ننوتې نو تا ولې ونه ویل چې څه الله غواړي هغه کیږي، له الله بغیر په بل چا کې قوت نشته. که ته ګورې چې زه په مال او اولاد کې له تا کم یم. ۴۰- نو تمه ده چې زما رب ماته ستا تر باغ ښه باغ راکړي. او ستا په باغ له آسمانه

کوم آفت را نازل کړي چې له وجې يې ټول باغ سپين ميدان شي. ۴۱- يا يې اوبه وچې شي او ته يې بيا داسې ونه مومې.
۴۲- او د هغه په ميوې آفت راغی نو څه چې هغه مصرف کړي وو په هغو يې لاسونه مروړل. او هغه باغ په خپلو اډانو غورځېدلی پروت و. او هغه وويل چې ای کاش، ما له خپل رب سره څوک شريک نه وی ګڼلی. ۴۳- او له هغه سره هېڅ داسې ډله نه وه چې له الله بغير يې هغه سره مرسته کړې وای او نه هغه خپل انتقام اخيستونکی شو. ۴۴- دلته ټول واک د برحقه الله دی. هغه د بهترين اجر او بهترين انجام خاوند دی.
۴۵- او هغوی ته د دنيا د ژوند مثال بيان کړه. لکه اوبه چې موږ له آسمانه را ښکته کړې. بيا له هغو د ځمکې بوټي ښه ګڼ شول. بيا هغه ميده ميده شول چې هوا پورته کول. او الله په هر څه د قدرت خاوند دی.
۴۶- مال او اولاد د دنيوي ژوند ښاېست دی. او پاتې کېدونکي نېکۍ ستاسې د رب په نزد د ثواب له مخې غوره دي.
۴۷- او په کومه ورځ چې موږ غرونه وخوځوو، او ته به ځمکه بيخي پراخه ووينې. او موږ به ټول راټول کړو. بيا به په هغوی کې هېڅوک هم پرې نهږدو. ۴۸- او ټول خلک به ستا د رب مخې ته په قطارونو کې ولاړ را مخې ته کړی شي. تاسې موږ ته راغلئ لکه څنګه چې مو تاسې په لومړي ځل پيدا کړي وئ، بلکې تاسې دا ګمان وکړ چې موږ به تاسې لپاره د وعدې کوم وخت نه ټاکو.
۴۹- او کتابچه چې کېښودل شي ته به مجرمان وګورې په هغې (کتابچې)کې به هر څه وي هغوی به ترې وېرېږي او وايي به چې های افسوس. دا څنګه کتاب دی چې نه يې وړه خبره له ليکل کېدو پرېښې او نه لويه خبره. او هغوی چې څه کړي هغه به ټول خپلې مخې ته ومومي. او ستا رب به په چا ظلم نه کوي.

۵۰- او کله چې موږ ملايکو ته وويل چې آدم ته سجده وکړئ نو هغوی سجده وکړله مګر ابليس سجده ونه کړله، هغه د جناتو له ډلې و. نو هغه د خپل رب له حکم نافرماني وکړله. او تاسې هغه او د هغه اولاد زما په ځای خپل ملګري کوئ، سره د دې چې هغه ستاسې دښمن دی. دا د ظالمانو لپاره ډېره بده بدله ده.
۵۱- ما نه د هغوی د آسمانونو او ځمکې پيدا کولو په وخت را بللي وو او نه د هغوی د پيدا کولو په وخت. او زه داسې نه يم چې ګمراه کونکي خپل مرستندوی کړم.
۵۲- او په کومه ورځ چې الله ووايي چې تاسې څوک ماسره شريک بلل هغوی را وغواړئ. نو هغوی به يې را وغواړي، خو ځواب به ور نه کړي. او موږ د هغوی تر منځ (د دښمنۍ) خنډ پيدا کړو. ۵۳- او مجرمان به اور وګوري او پوه به شي چې هغوی په کې غورځېدونکي دي او هغوی به ترې د خلاصون هېڅ لاره ونه مومي.
۵۴- او موږ په دې قرآن کې خلکو ته د هدايت لپاره هر ډول مثالونه بيدا کړي دي او انسان تر ټولو ډېر جنګړک دی. ۵۵- او خلکو ته چې هدايت وشو، له هغه وروسته له ايمان راوړلو او خپل له رب مغفرت غوښتلو نه هېڅ شي منع نه کړل، مګر هغه څه چې د تېرو خلکو معامله دوی ته هم ښکاره شي، يا يې عذاب مخې ته راشي.
۵۶- او رسولان موږ يوازې د زېري ورکونکو او وېروونکو په توګه لېږو. او منکران په ناحقه خبرو د دروغو جګړې کوي، چې د هغه په وسيله حق ټيټ کړي او هغوی زما په نښو او کومې وېرې چې ورته واورول شوې هغو پورې خندا وکړله. ۵۷- تر هغه لوی ظالم به څوک وي چې د خپل رب د آيتونو په مرسته ورته يادونه وشي، هغه ترې مخ واړوي او د خپلو لاسو عملونه هېر کړي. موږ د هغوی په زړونو پردې

اچولي چې په دې پوه نه شي او د هغوی په غوږونو کې درونداوالی دی. او که ته هغوی هدایت ته را وبولې، نو هغوی هېڅکله په لاره کېدونکي نه دي.
۵۸- او ستا رب بښونکی او مهربان دی. که (ستا رب) هغوی د خپلو اعمالو له وجې ونیسي نو فوراً به پرې عذاب نازل کړي، مګر د هغوی لپاره یو ټاکل شوی وخت دی او هغوی به یې په مقابل کې هېڅ ډول د پناه ځای ونه مومي. ۵۹- او دا کوم کلي چې موږ هلاک کړي هله چې هغوی ظالمان شول. او موږ د هغوی د هلاکولو وخت ټاکلی و.
۶۰- او کله چې موسی خپل شاګرد ته وویل چې زه به روان یم، تر هغې چې یا د دوو سیندونو د یو ځای کېدو ځای ته ورسېږم یا به همداسې کلونه روان یم. ۶۱- نو بیا چې هغه د سیندونو د یو ځای کېدو ځای ته ورسېده نو هغوی خپل ماهي هلته هېر کړ او ماهي په سیند کې لار ومونده. ۶۲- بیا چې هغوی مخ ته لاړل نو موسی خپل شاګرد ته وویل چې زموږ خواړه راوړه، زموږ په دې سفر کې موږ ډېر ستړي شو.
۶۳- شاګرد وویل، ایا تا ولیدل، موږ چې له هغه تیږې سره دمه وو نو له ما ماهي هېر شو. او له ما شیطان هېر کړل چې ویلې مې وای. او ماهي په عجیبه طریقه سیند ته لاړ. ۶۴- موسی وویل، همدې وخت ته خو موږ په تمه وو. نو دواړه په خپلو پلونو بېرته شاته روان شول. ۶۵- نو هغوی هلته زموږ په بندګانو کې یو بنده ومونده چې موږ ورته له خپله اړخه رحمت ورکړی و او له خپله هکله یو علم ور ښودلی و.
۶۶- موسی ورته وویل، ایا زه له تا سره اوسېدی شم، چې ته ماته له خپل هغه علم را وښیې چې تاته ښودل شوی دی. ۶۷- هغه وویل چې ته ماسره صبر نه شې کولای. ۶۸- او ته په هغه څه څنګه صبر کولای شې چې ستا د پوهې له دائرې بهر دی. ۶۹- موسی وویل، انشاءالله ته به ما صبر

کونکی وموميې او زه به په هېڅ خبره کې ستا نافرماني نه کوم. ۷۰- هغه ورته وويل که ته ماسره ځې نو له ما به د هېڅ يوې خبرې پوښتنه نه کوې، تر هغې چې زه يې پخپله يادونه ونه کړم.
۷۱- بيا دواړه روان شول. تر دې چې په کښتۍ کې سپاره شول نو هغه کس په کښتۍ کې سوری وکړ. موسی وويل، ايا تا په دې کښتۍ کې د دې لپاره سوری وکړ چې کښتۍ کې ناست خلک ډوب کړې. دا خو دې ډېر سخت کار وکړ. ۷۲- هغه ورته وويل، ما درته نه وو ويلي چې ته له ماسره صبر نه شې کولای. ۷۳- موسی وويل، ما زما په تېروتنه مه نيسه او له ماسره له سختۍ کار مه اخله. ۷۴- بيا هغوی دواړه روان شول، تر دې چې له يوه هلک سره مخ شول نو هغه کس هلک وواژه. موسی (ورته) وويل، ايا تا يو معصوم انسان وواژه سره د دې چې هغه هېڅ قتل نه و کړی. دا خو دې نامناسب کار وکړ.
* ۷۵- هغه کس (ورته) وويل ايا ما تاته نه وو ويلي چې له ماسره صبر نه شې کولای. ۷۶- موسی (ورته) وويل که له دې وروسته مې درنه د څه شي پوښتنه وکړله نو بيا مې له ځان سره مه ساته. ته زما له خوا د عذر حد ته ورسېدې. ۷۷- بيا دواړه روان شول، تر دې چې يوه داسې کلي ته ورسېدل چې له کليوالو يې خواړه وغوښتل. هغوی د دوی له مېلمه پالنې انکار وکړ. بيا هغوی هلته داسې يو ديوال وموند چې غورځېدو ته نږدې و، هغه ديوال وغورځاوه. موسی ورته وويل که تا غوښتی وای له دوی دې اجوره اخيستی شوه. ۷۸- هغه (ورته) وويل چې اوس زما او ستا تر منځ بېلتون دی. زه به درته د هغو شيانو حقيقت ووايم چې تا پرې صبر ونه کړی شو.

۷۹- د کښتۍ خبره دا ده چې هغه د څو مسکینانو وه چې په سیند کې یې مزدوري کوله، نو ما ونه غوښتل چې هغوی تاواني کړم، او له هغوی وړاندې یو پاچا و چې هره کښتۍ یې په زوره اخیستله.
۸۰- او د هلک خبره دا ده چې د هغه پلار د ایمان خاوند و. ماسره دا اندېښنه شوه چې که لوی شي هغه په خپل کفر او سرکشۍ تنګ کړي.
۸۱- نو ما وغوښتل چې د هغه رب ورته د ده په ځای داسې اولاد ورکړي چې په تقوی کې تر ده بهتر وي او شفقت کونکی وي.
۸۲- او د دېوال خبره دا ده چې هغه د کلي د دوؤ یتیمو ماشومانو و. او د هغه دیوال لاندې یوه خزانه خښه وه او د هغوی پلار ډېر نېک انسان و، نو ستا رب وغوښتل چې هغو دواړه ځوانۍ ته ورسېږي او خپله خزانه ترلاسه کړي. دا ستا د رب په رحمت وشول. او ما په خپله خوښه نه دي کړي. دا د هغو خبرو حقیقت دی چې ستا ورته صبر ونه شو.
۸۳- او هغوی له تا د ذوالقرنین حال پوښتي. ووایه چې زه به د هغه څه حال تاسې ته بیان کړم. ۸۴- موږ هغه ته په ځمکه واک ورکړی و او موږ هغه ته د هر څه سامان ورکړی و.
۸۵- بیا ذوالقرنین په یوه لاره روان شو. ۸۶- تر دې چې هغه لمر پرېواته هغه ځای ته ورسېده. هغه لمر ولیده چې په تورو اوبو کې ډوبېږي او هلته یوه قوم سره مخ شو. موږ وویل چې ای ذوالقرنینه، ستا خوښه چې دوی ته جزا ورکوې او که نېک سلوک ورسره کوې. ۸۷- هغه وویل په دوی کې چې څوک ظلم وکړي. موږ به هغوی ته جزا ورکړو. بیا به هغوی خپل رب ته ولېږل شي. بیا به هغه ورته سخته جزا ورکړي. ۸۸- او څوک چې ایمان راوړي او نېک عملونه وکړي د هغه لپاره ښه جزا ده او موږ به هغوی سره آسانه معامله وکړو.

۸۹- بیا هغه په یوه لاره روان شو. ۹۰-تر دې چې د لمرختو ځای ته ورسېده، نو هغه لمر په یوه داسې قوم راختونکی ولیده چې هغوی لپاره موږ په لمر کومه پرده نه وه اچولې. ۹۱- دا داسې ده. او موږ د ذولقرنین په حال خبر یو.
۹۲- بیا هغه په یوه لار لاړ. ۹۳- تر دې چې د دوؤ غرونو منځ ته ورسېده، هلته یې یو قوم وموند چې په هېڅ خبره نه پوهېده. ۹۴- هغوی وویل چې ای ذوالقرنین، یاجوج او ماجوج زموږ په وطن کې فساد خپروي، نو ایا موږ تاته کومه مالیه له دې امله مقرره کړو چې ته زموږ او د هغوی ترمنځ یوه موانع رامنځته کړې.
۹۵- ذوالقرنین ورته ځواب ورکړ چې څه راته خپل رب راکړي هغه ډېر دي. تاسې راسره تر وسه مرسته وکړئ. زه به ستاسې او هغوی ترمنځ یو دېوال جوړ کړم. ۹۶- تاسې راته د اوسپنې تختې راوړئ. تر دې چې بیا هغه د دواړو ترمنځ تشه ډکه کړله نو خلکو ته یې وویل چې اور ولګوئ، تر دې چې هغه یې اور کړ نو ویې ویل راوړئ زه اوس په دې ویلې شوې تانبه اچوم. ۹۷- نو یاجوج او ماجوج په هغه نه شول پورته کېدلای او نه یې په کې سوری کولای شو. ۹۸- ذوالقرنین وویل چې دا زما د رب رحمت دی، بیا چې کله زما د رب وعده راشي نو هغه به لړې او له ځمکې سره سم کړي او زما د رب وعده رښتیا ده.
۹۹- او په هغه ورځ به موږ خلک پرېږدو. هغوی به د څپو غوندې یو بل کې ننوځي. او صور به ووهل شي بیا به موږ ټول یو ځای راټول کړو. ۱۰۰- او په هغه ورځ به موږ جهنم منکرانو ته را ښکاره کړو. ۱۰۱- چې په سترګو یې زموږ له یادونې پرده وه او څه اورېدو ته تیار نه وو.

۱۰۲- ایا انکار کونکي داسې ګڼي چې هغوی به له ما بغیر زما بندهګان
خپل کارساز کړي. موږ د منکرانو د مېلمستیا لپاره دوزخ تیار کړی دی.
۱۰۳- ووایه، ایا زه درته ووایم چې د خپلو اعمالو له مخې څوک ډېر په
تاوان کې دي. ۱۰۴- هغه خلک چې کوشش یې د دنیا په ژوند کې ضایع
شو او هغوی داسې ګڼل چې ډېر ښه کار کوي. ۱۰۵- همدا هغه خلک
دي چې د خپل رب له نښو او هغه سره له مخ کېدلو یې انکار وکړ. نو د
هغوی کړي (کارونه) برباد شول. ۱۰۶- بیا به د قیامت په ورځ موږ
هغوی ته کوم وزن نه ورکوو. دوزخ د هغوی بدله ده په دې خاطر چې
هغوی انکار وکړ او زما په نښو او زما په رسولانو پورې یې وخندل.
۱۰۷- بېشکه چا چې ایمان راوړ او چا چې نېک عمل وکړ هغوی لپاره
د فردوس په باغونو کې مېلمستیا ده. ۱۰۸- په هغه کې به تل اوسېږي.
هغوی به هېڅکله له هغه ځایه وتل نه غواړي.
۱۰۹- ووایه که سمندر زما د رب د نښو لیکلو لپاره سیاهي شي نو سمندر
به ختم شي له هغې مخکې چې زما د رب خبرې ختمې شي، اګر چه
موږ له هغه سره همداسې سمندر ګډ کړو.
۱۱۰- ووایه چې زه ستاسې په شان انسان یم. په ما وحې راځي چې ستا
معبود یوازې یو معبود دی. نو څوک چې خپل رب سره مخ کېدو ته په
تمه دي، هغوی باید نېک عمل وکړي او د خپل رب په عبادت کې څوک
شریک نه کړي.

## سوره مریم ۱۹

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- **کهیعص** ۲- دا د هغه رحمت یادونه ده چې ستا رب په خپل بنده زکریا
وکړ. ۳- کله چې هغه خپل رب په پټ غږ یاد کړ.

۴- زکريا وويل، ای زما ربه، زما هډوکي کمزوري شوي دي. او په سر
کې مې سپین لګېدلي دي. او ای زما ربه، له تا مې چې څه غوښتي
هېڅکله محروم شوی نه یم. ۵- او زه له ځان وروسته د خپلوانو په هکله
اندېښنه لرم. او زما مېرمن شنډه ده، نو ماته له خپله اړخه یو وارث
راکړه. ۶- چې زما ځای ناستی شي او د آل یعقوب هم. او ای زما ربه،
هغه د ځان خوښ کړه.
۷- ای زکریا، موږ تاته د یوه زوی زېری درکوو چې نوم به يې یحیی
وي. موږ له دې مخکې په دې نوم څوک نه دی پیدا کړی. ۸- هغه وويل،
ای زما ربه، زما زوی به څنګه وشي چې مېرمن مې شنډه ده. او زه د
بوډاتوب وروستۍ درجې ته رسېدلی یم.
۹- ځواب ورکړل شو چې همداسې به کېږي. ستا رب فرمايي چې دا زما
لپاره آسانه ده. ما له دې مخکې ته پیدا کړې، حال دا چې ته هېڅ هم نه
وې. ۱۰- زکريا وويل چې ای زما ربه، زما لپاره یوه نښه وټاکه. ويې
فرمایل ستا نښه دا ده چې ته به درې شپې او ورځې له خلکو سره خبرې
نه شې کولای، سره د دې چې ته به روغ یې. ۱۱- بیا زکریا د عبادت له
محرابه را ووت او خلکو ته راغی او هغوی ته یې په اشاره وويل چې
سهار او ماښام د الله پاکي بیانوئ.
۱۲- ای یحیی، کتاب کلک ونیسه. او موږ هغه ته په ماشومتوب کې د
دین پوهه ورکړله. ۱۳- او له خپله اړخه مو نرم زړه او پاکوالی ورکړ.
۱۴- او هغه پرهېزګار او د خپلو والدینو خدمتګار و. او هغه سرکښه او
نافرمانه نه و. ۱۵- اوس په هغه سلامتي ده په کومه ورځ چې هغه پیدا
شوی او په کومه ورځ چې به مري او کومه ورځ چې هغه ژوندی او را
پورته کېږي.

۱۶- او په کتاب کې (راغلي) د مریم یادونه وکړه چې هغه له خلکو جدا شوه او ختیځې ودانۍ ته لاړله. ۱۷- بیا هغې خپل ځان له هغوی په پرده کې کړ، بیا موږ هغې ته خپله ملایکه ور ولیږله چې د هغې مخې ته د یوه پوره انسان په توګه واضح شوه. ۱۸- مریم وویل، زه له تا د رحمان الله پناه غواړم که ته له الله وېرېدونکی یې. ۱۹- هغې وویل، زه ستا رب را لیږلې یم، چې تاته یو پاک زوی درکړم. ۲۰- مریم وویل، زما زوی څنګه کېدای شي، چې زه کوم سړي نه یم لمس کړې او نه زه بدکاره یمه. ۲۱- ملایکې وویل همداسې به کیږي. ستا رب فرمایي چې دا زما لپاره آسانه ده. او د دې لپاره چې هغه موږ خلکو لپاره له خپل اړخه د رحمت یوه نښه کړو. او دا ټاکل شوې خبره ده. ۲۲. نو د هغے ګېډه شوه نو د خپل (حمل) سره یو لرے ځائے ته لاړه. ۲۳- بیا یې هغه د کجورې ونې لور ته بوتلله، هغې وویل، کاشکې زه له دې مخکې مړه وای، او له خلکو هېره شوې وای.

۲۴- بیا مریم ته هغې (ملایکې) له لاندې ور غږ کړ چې مه خفه کیږه. ستا رب له تا لاندې یوه چینه را ویستې ده. ۲۵- ته د کجورو ونه د ځان خوا ته وخوځوه. له هغې به په تا کجورې را تویې شي. ۲۶- نو وخوره او وڅښه او سترګې یخې کړه. بیا که تا څوک ولیده نو ورته ووایه چې ما د رحمان لپاره روژه نیولې ده نو نن به له چا سره نه غږیږمه.

۲۷- بیا هغې هغه په خپله غیږه نیولی خپل قوم ته راغلل. خلکو وویل، ای مریم، تا خو لوی توپان وکړ. ۲۸- ای د هارون خورې، نه ستا پلار بد سړی و او نه ستا مور بدلمنه وه.

۲۹- بیا مریم هغه ته اشاره وکړله. خلکو وویل، موږ له ده سره څنګه خبرې وکړو چې د غیږې ماشوم دی. ۳۰- ماشوم وویل، زه د الله بنده یم. هغه ماته کتاب راکړ او زه یې نبي کړم. ۳۱- او زه چې هر چېرته

يم هغه زه د برکت خاوند کړی يم. او هغه په ما د لمونځ او زکات ټينګار کړی تر څو چې زه ژوندی يم. ۳۲- او زه يې د خپلې مور خدمتګار کړی يم. او زه يې سرکش، بدبخت نه يم کړی. ۳۳- او په ما سلامتي ده په کومه ورځ چې زه پيدا يم او په کومه ورځ به چې مرم او په کومه ورځ به چې بيا ژوندی او را پورته کيږم.
۳۴- دا عيسی ابن مريم دی چې په هکله يې خلک جنګونه کوي. ۳۵- الله داسې نه دی چې د هغه اولاد پيدا شي. هغه پاک دی. هغه چې د کوم کار فيصله وکړي نو وايي چې وشه او هغه (کار) کيږي.
۳۶- او بېشکه الله زما رب دی او ستاسې هم (دی)، نو د هغه عبادت وکړئ، همدا سمه لاره ده. ۳۷- بيا د هغوی ډلو په خپلو کې اختلاف وکړ. نو منکرانو ته د يوې لويې ورځ راتګ څومره بد دی. په کومه ورځ چې دوی موږ ته راځي. ۳۸- هغوی به يې ښکاره اوري او ګوري، خو اوس دا ظالمان په ښکاره ګمراهۍ کې دي.
۳۹- او هغه خلک د حسرت له ورځې ووېروه چې د معاملې فيصله به کيږي، او هغوی په غفلت کې دي. او هغوی ايمان نه راوړي. ۴۰- بېشکه موږ د ځمکې او د ځمکې د اوسېدونکو وارث يو او خلک به موږ ته راستنيږي.
۴۱- او په کتاب کې د (راغلي) ابراهيم يادونه وکړه. بېشکه هغه رښتينی او نبي و. ۴۲- کله چې هغه خپل پلار ته وويل چې ای زما پلاره، د داسې څه عبادت ولې کوئ چې نه اورېدلای شي او نه ليدلای شي او نه ستاسې په کار راتلی شي. ۴۳- ای زما پلاره، ماسره داسې علم دی چې تا سره نشته، نو ته زما په وينا لاړ شه. زه به تاته سمه لاره وښيم. ۴۴- ای زما پلاره، د شيطان عبادت مه کوه، بېشکه شيطان د رحمان الله

نافرماني کونکی دی. ۴۵- ای زما پلاره، زه وېرېږم چې تا د رحمان الله
کوم عذاب ونه نیسي او ته د شیطان ملګری پاتې شې.
۴۶- پلار (یې) وویل چې ای ابراهیمه، ایا تا زما له معبوده مخ اړولی
دی. که ته منع نه شوې نو سنګسار به دې کړم. او ته له ما د تل لپاه لرې
شه. ۴۷- ابراهیم وویل، په تا دې سلامتي وي. زه به له خپل رب تا لپاره
د بخشش دعا وکړم. بېشکه هغه په ما مهربان دی. ۴۸- او تاسې پرېږدم
او هغو هم چې تاسې یې له الله بغیر را بولئ. او زه به خپل رب را بولم.
هیله ده چې زه خپل رب را وبولم محروم به نه شم.
۴۹- نو کله چې هغه له خلکو جدا شو. او له هغو هم چې هغوی له الله
بغیر را بلل، نو هغه ورته اسحاق او یعقوب عطا کړل او موږ په هغوی
کې هر یو نبي کړ. ۵۰- او هغه ته مو د خپل رحمت برخه ورکړله او
موږ د هغه نوم نېک او لوړ کړ.
۵۱- او په کتاب کې د (راغلي) موسی یادونه وکړه. بېشکه هغه غوره
شوی و او رسول نبي و. ۵۲- او موږ هغه د طور غره له ښي اړخه را
وباله او هغه ته د راز خبرو کولو لپاره مو (هغه) را نږدې کړ. ۵۳- او
په خپل رحمت مو د هغه ورور هارون نبي ورته ورکړ.
۵۴- او په کتاب کې د (راغلي) اسماعیل یادونه وکړه. هغه په وعده
رښتینی او رسول نبي و. ۵۵- هغه خپلو خلکو ته د لمونځ او زکات حکم
کاوه. هغه د خپل رب په نزد خوښ و. ۵۶- او په کتاب کې د (راغلي)
ادریس یادونه وکړه. بېشکه هغه رښتینی و او نبي و. ۵۷- او موږ هغه
لوړې مرتبې ته ورساوه.
۵۸- او دوی په پیغمبرانو کې هغه خلک وو چې الله پرې خپل فضل
کړی. د آدم په اولاد کې او په هغو خلکو کې چې له نوح سره مو (کښتۍ
کې) سپاره کړل او د ابراهیم او اسرائیل په نسل کې چې موږ ورته هدایت

وکړ او هغوی مو خوښ کړل. کله چې هغوی ته د رحمان الله آیتونه ویل کېدل نو هغوی به په ژړا او سجده تیتېدل.
۵۹- بیا له هغوی وروسته داسې ناخلفه ځای‌ناستی شول چې لمونځ یې ورک کړ او په خواهشونو پسې روان شول. ۶۰- نو زر به هغوی خپله خرابي ووینې، البته چا چې توبه وویستله او ایمان یې راوړل او نېک کار یې وکړ، نو همدا خلک به جنت ته ننوځي او د هغوی یوه ذره حق به نه تلف کېږي.
۶۱- هغوی لپاره د تل اوسېدو باغونه دي چې رحمان یې له خپلو بندهګانو سره غایبانه وعده کړې ده. او دا وعده پوره کېدونکې ده. ۶۲- هلته به دا خلک فضول خبره نه اوري، بې له سلامه. او هلته به د دوی رزق سهار او ماښام ورکول کېږي. ۶۳- دا هغه جنت دی چې وارث به یې موږ په خپلو بندهګانو کې هغه څوک جوړوؤ چې له الله وېرېدونکی وي.
۶۴- او موږ (ملایکې) نه راښکته کېږو مګر ستاسې د رب په حکم. د هغه دي څه چې زموږ وړاندې دي او څه چې وروسته دي او څه چې په منځ کې دي. او ستا رب هېرونکی نه دی. ۶۵- او هغه رب دی د آسمانونو او ځمکې او څه چې د دې په منځ کې دي، نو تاسې د هغه عبادت کوئ او د هغه په عبادت قایم اوسئ. ایا تاسې د هغه کوم همصفته پېژنئ.
۶۶- او انسان وایي، ایا زه چې ومرم بیا به را ژوندی کېږم او را ویستل کېږم. ۶۷- ایا انسان ته نه را یادېږي چې موږ هغه له دې مخکې پیدا کړ او هغه هېڅ هم نه و. ۶۸- نو ستا په رب قسم، موږ به هغوی راټول کړو او شیطانان هم، بیا به هغوی د جهنم شاوخوا داسې را حاضر کړو چې هغوی به په زنګونو ناست وي.

۶۹- بیا به موږ له هرې ډلې هغه خلک جدا کړو چې د رحمان (ذات) په مقابل کې یې ډېره سرکشي کړې وي. ۷۰- بیا موږ هغه خلک ښه پېژنو چې جهنم ته د ورتللو ډېر مستحق دي. ۷۱- او په تاسې کې داسې هېڅوک نشته چې په هغه یې لاره نه وي، دا ستاسې په رب لازمه ده چې پوره کېږي به. ۷۲- بیا به موږ هغه خلک وساتو چې وېرېږي او ظالمان به په هغه کې پراته پرېږدو.
۷۳- او کله چې هغوی ته زموږ ښکاره آیتونه اورول کېږي نو منکرین د ایمان خاوندانو ته وایي چې په دواړو ډلو کې څوک په ښه حالت کې دی او د چا مجلس ډېر ښه دی. ۷۴- او له هغوی مخکې موږ څومره قومونه هلاک کړي تر هغوی د ډېرو مالونو او لوړ شان خاوندان وو.
۷۵- ووایه چې څوک په ګمراهۍ کې وي نو رحمان ورته وخت ورکوي، تر دې چې دا خلک هغه عذاب وګوري چې وعده یې ورسره کېږي، عذاب یا قیامت، نو هغوی ته به معلومه شي چې حال یې څومره بد دی او ډله یې څومره کمزورې.
۷۶- او الله د هدایت موندونکو هدایت زیاتوي، او (له تاسې) پاتې کېدونکې نېکۍ ستاسې د رب په نزد د اجر له مخې غوره دي او د انجام له مخې هم غوره (دي).
۷۷- او تا هغه ولیده چې زموږ له آیتونو یې انکار وکړ او ویې ویل چې ماته به مال او اولاد راکول کېږي. ۷۸- ایا هغه غیب لیدلی که له الله یې کومه وعده اخیستې ده. ۷۹- هېڅکله نه، هغه چې څه وایي هغه به موږ ولیکو او د هغه جزا به زیاته کړو. ۸۰- او هغه چې د کومو شیانو دعوی کوي، موږ به یې وارثان شو او هغه به موږ ته یوازې راشي.

۸۱- او هغوی له الله بغیر معبودان جوړ کړي چې د هغوی لپاره مرستندوي شي. ۸۲- هېڅکله نه، هغوی (معبودان) به د دوی له عبادته انکار وکړي او د دوی مخالف به شي.
۸۳- ایا تا نه دي لیدلي چې موږ په منکرانو شیطانان ور پرېښي دي، هغوی یې ښه لمسوي. ۸۴- نو ته د هغوی لپاره تادي مه کوه. موږ د هغوی شمېر پوره کوو. ۸۵- په کومه ورځ به چې موږ وېرېدونکي د رحمان د مېلمنو په توګه راټولوو. ۸۶- او مجرمان به دوزخ ته تږي شړو. ۸۷- هېڅوک به د شفاعت اختیار نه لري، مګر هغه چې له رحمان نه یې اجازه اخیستې وي.
۸۸- او دوی وایي چې رحمان څوک خپل زوی کړی دی. ۸۹- دا تاسې ډېره درنه خبره کړې ده. ۹۰- نږدې ده چې له وجې یې آسمان څیري شي او ځمکه ټوټه ټوټه شي او غرونه مات ولوېږي. ۹۱- په دې خبره چې خلک رحمان ته د اولاد نسبت کوي. ۹۲- حال دا چې د رحمان په شان کې نه دي چې هغه اولاد اختیار کړي.
۹۳- په آسمانونو او ځمکه کې داسې څوک نشته چې د رحمان په بندهګانو کې را نه شي. ۹۴- هغه سره یې شمېر دی او هغه یې په ښه ډول شماري.
۹۵- او په هغوی کې هر یو به د قیامت په ورځ د هغه مخ ته یوازې راځي. ۹۶- البته چا چې ایمان راوړی او چا چې نېک عمل کړی، د هغوی لپاره به الله مینه پیدا کړي.
۹۷- نو موږ دا قرآن ستا په ژبه ځکه آسانه کړ چې ته متقیانو ته زېری ورکړې او ضدیان ووېروې. ۹۸- او له دې مخکې موږ څومره قومونه هلاک کړي دي. ایا ته په هغوی کې څوک ګورې یا د هغوی د پښو غږ اورې.

## سوره طه ۲۰

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- **طه.** ۲- موږ قرآن په تا د دې لپاره نه دی نازل کړی چې مصیبت
کې ګېر شې. ۳- بلکې د داسې چا د نصیحت لپاره چې وېرېږي. ۴- دا د
هغه له اړخه نازل شوی چې ځمکه او لوړ آسمانونه یې پیدا کړي دي.
۵- هغه د رحمت خاوند او په عرش قایم دی. ۶- د هغه دي څه چې په
آسمانونو کې دي او څه چې په ځمکه دي او څه چې د دې دواړو ترمنځ
دي او څه چې د ځمکې لاندې دي.
۷- که ته په لوړ غږ خبره وکړې، هغه په پټه خبره هم پوهېږي. او له
هغې په پټې خبرې هم. ۸- هغه الله دی. له هغه بغیر بل معبود نشته. ټول
غوره نومونه د هغه دي.
۹- او ایا تاته د موسی خبره در رسېدلې ده. ۱۰- هغه چې کله یو اور
ولیده، نو خپلې کورنۍ ته یې وویل چې ودرېږئ، ما یو اور لیدلی دی،
کېدای شي له هغه تاسې ته سکروټه راوړم یا په هغه اور ماته لاره
معلومه شي.
۱۱- بیا چې هغه (اور ته) ور ورسېده نو غږ پرې وشو چې ای موسی.
۱۲- زه ستا رب یم، نو خپل پېزار وباسه، ځکه ته د طوی په مقدسه دره
کې یې. ۱۳- او ما ته غوره کړی یې. نو کومه وحې چې کېږي هغه
واوره. ۱۴- زه الله یم. له ما بغیر (بل) معبود نشته. نو ته زما عبادت کوه
او زما د یادولو لپاره لمونځ قایم کړه. ۱۵- بېشکه قیامت راتلونکی دی.
زه هغه پټ ساتل غواړم، چې هر شخص ته د هغه کړو (کارونو) بدله
ورکول شي. ۱۶- نو تا له دې هغه کس غافل نه کړي چې په دې ایمان
نه لري او په خپلو خواهشونو روان دی، چې ته هلاک (نه) شې.

۱۷- او دا ستا په لاس کې څه دي ای موسی. ۱۸- هغه وویل، دا زما امساء ده. زه په دې تکیه کوم او خپلو وزو ته پرې پاڼې را څنډم. ځینې نور کارونه هم ترې اخلم. ۱۹- ویې فرمایل، دا په ځمکه وغورځوه. ۲۰- هغه چې وغورځوله نو سمدستي ترې وېرونکی مار جوړ شو. ۲۱- ویې فرمایل چې دا را ونیسه او مه وېرېږه، موږ به دا بېرته خپل پخواني حالت ته را وګرځوو.
۲۲- او ته خپل لاس خپل تخرګ ته یوسه، هغه به بې له عیبه ځلېدونکی راوځي. دا دویمه نښه ده. ۲۳ چې موږ په خپلو لویو نښو کې ځینې نښې تاته در وښایو. ۲۴- ته فرعون ته ورشه. هغه له حده وتلی دی.
۲۵- موسی وویل چې ای زما ربه، زما سینه زما لپاره پراخه کړه. ۲۶- او زما کار زما لپاره آسانه کړه. ۲۷- او زما د ژبې غوټه بېرته کړه. ۲۸- چې خلک مې په خبره پوه شي. ۲۹- او زما له کورنۍ راته یو مرستندوی وټاکه. ۳۰- هارون چې زما ورور دی. ۳۱- د هغه په وسیله زما ملا مضبوطه کړه. ۳۲- او هغه زما په کار کې شریک کړه. ۳۳- چې موږ دواړه ستا پاکي ډېره بیان کړو. ۳۴- او ستا ډېره ستاینه وکړو. ۳۵- بېشکه ته موږ ګورې. ۳۶- ویې فرمایل ای موسی تاته ستا غوښتنه درکړل شوه.
۳۷- او موږ په تا له دې مخکې هم احسان کړی دی. ۳۸- کله مو چې ستا مور ته (هغه) وحې وکړله چې اړینه وه. ۳۹- چې دا (موسی) په صندوق کې واچوه او بیا هغه سیند ته وغورځوه، بیا به یې د سیند په غاړه وغورځوي. دا به یو کس پورته کړي چې زما هم دښمن دی او د ده هم دښمن دی. او ما له خپل اړخه په تا مینه نازله کړله. او چې ته زما په نګرانۍ کې وروزل شې. ۴۰- کله چې ستا خور راغلله، ویې ویل، ایا زه ته تاسې ته د هغه چا پته درکړم چې د دې ماشوم ښه پالنه وکړي. نو

موږ هغه ستا د موږ خوا ته ور ولېږله، چې د هغې سترګې يخې شي او خفګان ورنه لرې شي. او تا يو كس وواژه، بيا موږ ته د هغه له غمه وساتلې. او موږ ته ښه وازمايلې. بيا ته څو كاله د مدين په خلكو كې اوسېدې. بيا ته په يوه اندازه راغلې، اى موسى.
۴۱- او ما ته د خپل ځان لپاره غوره كړې. ۴۲- ته او ستا ورور زما له ښو سره لاړ شئ. او تاسې دواړه زما په يادولو كې سستي مه كوئ. ۴۳- تاسې دواړه فرعون ته لاړ شئ چې هغه سركشه شوى دى. ۴۴- نو هغه سره په نرمۍ خبرې وكړه، كېداى شي هغه نصيحت ومني يا ووېرېږي.
۴۵- دواړو وويل چې اى زموږ ربه، موږ سره وېره دى چې هغه به په موږ زياتى وكړي يا به سركشي وكړي. ۴۶- ويې فرمايل چې اندېښنه مه كوئ. زه له تاسې دواړو سره يم، اورم او ګورم. ۴۷- نو تاسې هغه ته ورشئ او ورته ووايئ چې موږ ستا رب را لېږلي يو، نو ته بني اسرائيل له موږ سره (تللو) ته پرېږده. او هغوى مه ځوروه. موږ ستا د رب له طرفه يوه نښه هم راوړې ده. او سلامتي ده د هغه چا لپاره چې د هدايت پيروي وكړي. ۴۸- موږ ته وحې شوې ده چې څوک دروغ وبولي او مخ واړوي په هغه به عذاب راشي.
۴۹- فرعون وويل، نو ستاسې دواړو رب څوک دى، اى موسى. ۵۰- موسى وويل، زموږ رب هغه دى چې هر څه ته يې د هغه صورت وركړى دى، بيا يې موږ ته لارښوونه وكړله. ۵۱- فرعون وويل چې، د تېرو قومونو څه حال دى. ۵۲- موسى وويل، د هغه علم زما له رب سره په يوه دفتر (كتابچه) كې دى. زما رب نه تېروتنه كوي او نه ترې هېرېږي.
۵۳- هغه ستا لپاره د ځمكې فرش ساز كړ. او هغه ستا لپاره لارې وويستلې او له آسمانه يې اوبه را ښكته كړې. بيا موږ له هغو اوبو مختلف

نباتات پیدا کړل. ۵۴- وخورئ او خپل څاروي وڅروئ. په دې کې د عقلمنو لپاره ډېرې نښې دي. ۵۵- موږ له همدې (ځمکې) تاسې پیدا کړي یئ او همدې ته به مو ور ستنوو او له همدې به مو بیا را وباسو.
۵۶- او موږ فرعون ته خپلې ټولې نښې وښودلې نو هغه دروغ وبللې او انکار یې وکړ. ۵۷- هغه وویل ای موسی، ایا ته د دې لپاره راغلی یې چې په خپل جادو موږ له خپل وطنه وباسې. ۵۸- نو موږ به ستا په مقابل کې همداسې جادو راوړو. نو ته زموږ او ځان ترمنځ یوه وعده مقرره کړه، نه به موږ اختلاف کوو او نه ته. دا مقابله به یوه هوار میدان کې وي.
۵۹- موسی وویل، ستا لپاره د وعدې ورځ، د مېلې ورځ ده او خلک به هغه وخت را ټولېږي چې لمر ښه را وخېژي. ۶۰- فرعون له هغه ځایه لاړ، بیا یې خپل تدبیرونه را ټول کړل او بېرته د مقابلې لپاره راغی.
۶۱- موسی وویل چې تاسې تباه شئ، په الله دروغ مه تړئ (ګڼئ) هغه تاسې په کوم آفت تباه کړي. او چا چې په الله دروغ وتړل هغه ناکام شو.
۶۲- بیا هغوی په خپله معامله کې اختلاف وکړ. او هغوی سره پټې پټې مشورې وکړلې. ۶۳- بیا هغوی وویل چې دا دواړه یقیناً جادوګر دي، دوی غواړي چې د خپل جادو په زور تاسې له خپل وطنه وباسي او ستاسې دا غوره طریقه ختمه کړي. ۶۴- نو تاسې خپل تدبیرونه را ټول کړئ. بیا سره متحد راشئ او هغه به یې وګټي چې نن غالب وي.
۶۵- هغوی وویل چې ای موسی، یا یې ته وغورځوه یا یې موږ لومړی غورځوو. ۶۶- موسی وویل چې تاسې یې لومړی وغورځوئ، نو په یو دم د هغوی رسۍ او امساګانې د جادو په زور داسې وښودل شول لکه منډې چې وهي- ۶۷- نو موسی په زړه کې لږ ووېرېده. ۶۸- موږ ورته وویل چې مه وېرېږه، ته به برلاسی یې. ۶۹- او څه چې ستا په ښي لاس

کې دي هغه وغورځوه، دا به هغه ټول وخوري چې هغوی جوړ کړي
دي. دا څه چې هغوی جوړ کړي د جادوګر فریب دی، او جادوګر هېڅکله
نه کامیابیږي، که هر ډول راشي. ۷۰- نو جادوګر په سجده پرېوتل.
هغوی وویل موږ د هارون او موسی په رب ایمان راوړ.
۷۱- فرعون وویل تاسې هغوی زما له اجازې درکولو مخکې ومنل.
هماغه ستاسې مشر دی چې تاسې ته یې جادو در ښودلی. نو زه به اوس
ستاسې پښې او لاسونه په مخالف سمت پرې کړم. زه به تاسې د کجورو
په ونو را وځړوم. او تاسې به پوه شئ چې په موږ کې د چا عذاب سخت
دی او تر ډېره وخته پاتې کېدونکی دی.
۷۲- جادوګرانو وویل چې موږ تاته هېڅکله په هغو دلایلو ترجیح نه
درکوو چې موږ ته راغلي دي. او په هغه ذات هم چې موږ یې پیدا کړي
یو، نو ته چې هر څه کوې ویې کړه. ته چې هر څه کولای شې، د همدې
دنیا په ژوند یې کولای شې. ۷۳- موږ په خپل رب ایمان راوړ چې هغه
زموږ ګناهونه وبښي او دا جادو هم چې تا ورته موږ مجبور کړلو. او
الله غوره دی او باقي پاتې کېدونکی دی.
۷۴- بېشکه څوک چې د مجرم په توګه خپل رب ته حاضر شي نو د هغه
لپاره جهنم دی، هلته به نه مري او نه به ژوندی کیږي. ۷۵- څوک چې
خپل رب ته مومن راشي چې نېک عملونه یې کړي وي، نو د داسې
خلکو لپاره ډېرې لوړې درجې دي. ۷۶- د هغوی لپاره د تل اوسېدو
باغونه دي چې ور لاندې به نهرونه بهیږي. هغوی به په کې تل اوسیږي.
او دا د هغه کس بدله ده چې پاکي اختیار کړي.
۷۷- او موږ موسی ته وحې وکړله چې د شپې زما بندګان له ځان سره
کړه او ووځه. بیا هغوی ته په سمندر کې وچه لاره جوړه کړه، نه له
تعقیب وېرېږه او مه له بل څه وېرېږه. ۷۸- بیا فرعون له خپلو لښکرو

سره په هغوی پسې شو، بیا هغوی د سمندر اوبو ډوب کړل، لکه څنګه چې ډوبېدل ټاکل شوي وو. ۷۹- او فرعون خپل قوم ګمراه کړ او هغوی ته یې سمه لار ونه ښودله.
۸۰- ای بني اسرائیلو، موږ تاسې له دښمنه وساتلئ او تاسې سره مو د طور (غر) ښي اړخه وعده کړ. او موږ په تاسې من و سلوی نازل کړل.
۸۱- وخورئ زموږ له درکړې پاکې روزئ او په دې کې سرکشي مه کوئ چې په تاسې به زما غضب نازل شي. او په چا چې زما غضب نازل شو هغه تباه شو. ۸۲- البته څوک چې توبه وباسي او ایمان راوړي او نیک عمل وکړي او په سمه لاره لاړ شي نو د هغه لپاره زه ډېر زیات ښښونکی یم.
۸۳- او ای موسی، ته څه خپل قوم پرېښودو او دلته زر راتللو ته وهڅولې. ۸۴- موسی وویل، هغه خلک هم په ما پسې دي. او زما ربه زه تاته زر راغلم چې ته راضي شې. ۸۵- ویې فرمایل، نو موږ ستا قوم له تا وروسته په یوه فتنه کې واچاوه. او سامري هغوی ګمراهان کړل.
۸۶- بیا موسی خپل قوم ته له غوسې او خفګان ډک ور ستون شو. هغه وویل چې ای زما قومه، ایا تاسې سره ستاسې رب یوه ښه وعده نه وه کړې. ایا په تاسې ډېر وخت تېر شو. که تاسې وغوښتل چې په تاسې د خپل رب عذاب نازل شي، په دې خاطر مو له ماسره وعده خلافي وکړله.
۸۷- هغوی وویل چې موږ په خپله خوښه له تا سره وعده خلافي نه ده کړې، بلکې د قوم د ګاڼو (زیوراتو) پېټی په موږ پورته کړل شوي و چې موږ وغورځاوه. همداسې سامري هم څه وغورځول. ۸۸- نو هغه د دوی لپاره یو خوسی را وویست. یو بُت چې د غوایي په شان غږ ترې را وته. بیا هغه وویل چې دا ستاسې معبود دی او د موسی معبود هم (دی)،

موسی دا هېر کړی دی. ۸۹- ایا هغوی نه لیدل چې هغه (خوسي) نه د
چا د خبرې ځواب ورکوي او نه کومه ګټه او تاوان رسولای شي.
۹۰- او هارون هغوی ته مخکې ویلي وو چې ای زما قومه، تاسې د دې
خوسي په وسیله ښوېدلي یئ او ستاسې رب خو رحمان دی. نو زما
پیروي وکړئ او زما خبره ومنئ. ۹۱- هغوی وویل موږ به د ده په
عبادت مصروف یو تر هغې چې موسی موږ ته را ستون نه شي.
۹۲- موسی وویل چې ای هارونه، تا چې ولیدل چې هغوی ښوېدلي دي
نو زما د پیروئ کولو نه ستا مخه څه شي ونیوله. ۹۳- ایا تا زما د وینا
خلاف (کار) وکړ. ۹۴- هارون وویل ای زما د مور زویه، ته مې مه له
ږیرې نیسه او مه له وېښتو. ماسره دا وېره وه چې ته به ووایې چې تا د
بني اسرائیلو ترمنځ بېلتون واچاوه او زما د خبرې لحاظ دې ونه کړ.
۹۵- موسی وویل ای سامري، ستا معامله څه ده. ۹۶- هغه وویل ماته
هغه څه ښکاره شول چې نورو ته ښکاره نه شول نو ما د رسول د پښو
یو موټی خاوره را واخیستله او هغه مې په دې کې واچوله. زما نفس
ماته همداسې وویل. ۹۷- موسی وویل چې لرې شه. اوس ستا لپاره د
ټول عمر (جزا) دا ده چې ما مه لمس کوه. او ستا لپاره یوه بله وعده دا
ده چې مخه یې نه شي نیول کېدی. او ته خپل هغه معبود وګوره چې ته
پرې تل معتکف وې، موږ به هغه وسېځو او بیا به یې ایره په سیند لاهو
کړو. ۹۸- ستا معبود یوازې الله دی له هغه بغیر بل معبود نشته. د هغه
علم په هر څه خپور دی.
۹۹- په دې توګه موږ تاته د هغوی حال در اورو چې مخکې تېر شوي
دي. او موږ تاته له خپله خوا یوه نصیحت نامه درکړې ده. ۱۰۰- څوک
چې له دې مخ اړوي، هغه به د قیامت په ورځ یو دروند پېټی پورته کوي.
۱۰۱- هغوی به تل په کې اوسېږي او دا پېټی به د قیامت په ورځ هغوی

لپاره ډېر بد وي. ۱۰۲- په کومه ورځ چې په صور کې پوکی وهل کیږي او مجرمان به په هغه ورځ موږ په داسې حال کې راټول کړو چې له وېرې به یې سترګې شنې شوې وي. ۱۰۳- په خپلو کې به پټ پټ وایي چې ته به یوازې لس ورځې اوسیږې. ۱۰۴- موږ ښه پوهیږو چې څه هغوی وایي. خو په هغوی کې تر ټولو ډېر واقف کار به وایي چې ته یوازې یو ورځ پاتې شوې.
۱۰۵- او خلک له تا د غرونو په هکله پوښتنه کوي. ووایه چې زما رب به هغه پورته کړي او وبه یې شیندي. ۱۰۶- بیا به ځمکه هوار میدان کړي. ۱۰۷- نه به په کې کوږوالی ګورئ او نه لوړې ژورې. ۱۰۸- په هغه ورځ به ټول په بلونکي پسې روان وي. یوه ذره کوږوالی به نه وي. ټول غږونه به د رحمان په مخ کې ټپ شي. ته به له پسپسی بغیر هیڅ نه اوري.
۱۰۹- په هغه ورځ به شفاعت ګټه نه لري، مګر د داسې کس چې رحمان اجازه ورکړې وي او د هغه لپاره یې غږېدل خوښ کړي وي. ۱۱۰- هغه د ټولو په مخکې او وروسته احوال خبر دی. او هغوی د خپل علم په سبب د هغه (الله) احاطه نه شي کولای.
۱۱۱- او ټول مخونه به د هغه حی و قیوم مخې ته ښکته وي. او هغه کس به ناکام وي چې ظلم یې کړی وي او راغلی وي. ۱۱۲- او چا چې نېک کارونه کړي وي او ایمان هم ولري نو هغه سره به نه د کوم زیاتي اندېښنه وي او نه د کوم کمي.
۱۱۳- او داسې موږ د عربی قرآن نازل کړی او په دې کې مو ډول ډول وعیدونه بیان کړي چې خلک ووېرېږي یا دا د هغوی په زړه کې څه فکر واچوي. ۱۱۴- نو برتر دی الله، حقیقي پاچا. او ته د قرآن په اخیستلو

کې تادي مه کوه تر څو چې د دې وحې مکمله نه ش. او ووایه چې ای زما ربه، زما علم زیات کړه.
۱۱۵- او موږ آدم ته له دې مخکې حکم کړی و خو هغه هېر کړ او موږ په هغه کې عزم ونه مونده. ۱۱۶- او کله چې موږ ملایکو ته وویل چې آدم ته سجده وکړئ نو هغوی سجده وکړله خو ابلیس ترې انکار وکړ.
۱۱۷- بیا موږ وویل چې ای آدمه، دا بېشکه ستا او ستا د مېرمنې دښمن دی نو چېرې دا تاسې دواړه له جنته ونه باسي، بیا به تاسې محروم پاتې شئ.
۱۱۸- دلته ستا لپاره دا ده چې نه به وږې یې او نه به لوڅ یې. ۱۱۹- او دلته به نه تږی یې او نه به در باندې لمر لګېږي. ۱۲۰- بیا شیطان هغوی ولمسول. هغه ورته وویل چې ایا زه تاته د تلپاتې (ژوند) ونه در ښیم. او داسې پاچاهي چې هېڅکله په کې کمزوري را نه شي. ۱۲۱- نو هغو دواړو د هغې ونې میوه وخوړله او د دواړو سترونه یو بل ته ښکاره شول. او دواړو ځانونه د جنت په پاڼو پټ کړل. او آدم چې د خپل رب د حکم خلاف وکړ له لارې خطا شو. ۱۲۲- بیا د هغه رب هغه ونازوه. د هغه توبه یې قبوله کړله او هغه ته یې هدایت وکړ.
۱۲۳- الله وویل چې تاسې دواړه له دې ځایه ښکته شئ. تاسې د یو بل دښمنان شوئ. بیا که تاسې ته زما له اړخه هدایت درغی، نو څوک چې زما د هدایت پیروي وکړي، هغه به نه ګمراه وي او نه به محروم وي.
۱۲۴- او څوک چې زما له نصیحته مخ واړوي نو د هغه لپاره به تنګ ژوند وي. او د قیامت په ورځ به یې موږ ړوند را پورته کوو. ۱۲۵- هغه به وایي چې ای زما ربه، تا زه ړوند ولې را پورته کړم، زه خو بینا وم. ۱۲۶- ارشاد به وشي چې همداسې تاته زما نښې درغلې نو تا یې څه خیال ونه ساته هماغسې به نن ستا هېڅ خیال نه ساتل کېږي. ۱۲۷- او

په دې توګه موږ هغو ته بدله ورکوو چې له حده اوړي او د خپل رب په نښو ایمان را نه وړي. او د آخرت عذاب ډېر سخت دی او ډېر پاتې کېدونکی دی۔
۱۲۸۔ ایا خلک په دې خبره پوه نه شول چې موږ له هغوی مخکې څومره ډلې هلاکې کړې. دوی د هغوی کلیو ته ورځي. بېشکه په دې کې د عقل خاوندانو ته لویې نښې دي. ۱۲۹۔ او که ستا د رب له طرفه یوه خبره له مخکې نه وای ټاکل شوی او د مهلت یوه موده نه وی ټاکل شوی نو حتماً به د هغوی فیصله شوې وای. ۱۳۰۔ نو هغوی چې څه وایي صبر پرې وکړه. او د خپل رب د حمد تر څنګ د هغه تسبیح کوه، له لمر راختلو مخکې او لمر لوېدلو مخکې، او د شپې په وختونو کې هم تسبیح کوه. او د ورځې په څنډو کې هم چې ته خوشحاله شې.
۱۳۱۔ او هېڅکله هغو شیانو ته مه ګوره چې موږ ځینو ډلو ته د هغوی د ازمایلو لپاره ورکړي دي. او ستا د رب رزق ډېر بهتر او ډېر پاتې کېدونکی دی. ۱۳۲۔ او خپلو خلکو ته د لمونځ حکم وکړه او پابند یې اوسه. موږ له تا رزق نه غواړو. رزق موږ تاته درکوو او غوره انجام د تقوی دی.
۱۳۳۔ او خلک وایي چې دی د خپل رب له طرفه موږ ته کومه نښه ولې نه راوړي. ایا هغوی ته د تېرو کتابونو دلیل نه رسېږي. ۱۳۴۔ او که موږ هغوی له دې مخکې په کوم عذاب کې هلاک کړی وای نو ویل به یې چې ای زموږ ربه، تا موږ ته رسول ولې را ونه لېږه چې موږ له ذلیل او رسوا کېدو نه مخکې ستا د نښو پیروي کړې وای. ۱۳۵۔ ووایه چې ټول منتظر دي نو تاسې هم انتظار وکړئ. راتلونکي کې به وګورئ چې څوک په سمه لار دی او څوک منزل ته ورسېده.

## سوره الانبیاء ۲۱

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
*۱- خلکو ته د هغوی حساب را نږدې شوی دی. او هغوی په غلفت کې پراته مخ اړوي. ۲- د هغوی د رب له طرفه چې هر نصیحت راځي، هغوی ور پورې د اورېدو په وخت خندا کوي. ۳- د هغوی زړونه په غفلت کې پراته دي. او ظالمانو په خپلو کې پټ ویلي چې دا کس خو زموږ غوندې انسان دی. نو تاسې یې ولې په لیدلو سترګو جادو کې پرېوځئ. ۴- رسول وویل چې زما رب په هره خبره پوهېږي، که په آسمان کې وي او که په ځمکه وي. او هغه اورېدونکی او پوهېدونکی دی.
۵- بلکې هغوی وایي، دا ګډوډ خوبونه دي. بلکې دا یې پخپله جوړ کړي. بلکې هغه شاعر دی. هغه باید موږ ته داسې نښه راوړي له څنګه نښو سره چې پخواني رسولان را لیږل شوي وو. ۶- تر دې مخکې د کوم کلي خلک چې موږ هلاک کړي وو، ایمان یې نه و راوړی نو دا خلک به ایمان راوړي.
۷- او تر تا مخکې چې موږ هر څوک رسول لیږلی، له انسانانو مو لیږلی. موږ هغوی ته وحې لیږلې. نو ته له اهل کتابو وپوښته، که ته نه پوهېږې. ۸- او موږ هغه رسولان داسې نه وو پیدا کړي چې ډوډۍ یې نه خوړله. او تلپاتې ژوند یې کاوه. ۹- بیا موږ له هغوی سره وعده پوره کړله. نو هغوی او څوک چې موږ غوښتل ومو ساتل. او موږ له حده وتونکي هلاک کړل.
۱۰- موږ په تا یو کتاب نازل کړی چې (په عزت سره) ستاسې ذکر په کې دی، نو ایا تاسې عقل نه کار نه اخلئ. ۱۱- او هغه څومره ظالم کلي دي. چې موږ دل کړل. او له هغوی وروسته مو نور قومونه را پورته

کړل. ۱۲- نو بیا چې هغوی زموږ عذاب راتلونکی ولید هغوی ترې په تېښته شول. ۱۳- مه تېښتئ. او خپل د عیش سامان او خپلو کورونو ته ستانه شئ، چې پوښتنه درنه وشي. ۱۴- هغوی وویل، های زموږ بدبختي، بېشکه موږ ظالمان وو. ۱۵- نو هغوی همدا غږ کاوه. تر دې چې موږ هغوی داسې کړل لکه فصل چې رېبل شوی وي او اور مړ شوی وی.
۱۶- او موږ آسمان او ځمکه او څه چې د دوی ترمنځ دي د لوبو په ډول نه دي جوړ کړي. ۱۷- که موږ کومه لوبه جوړول غوښتی نو له خپله اړخه به مو جوړه کړې وای، که مو داسې کولای. ۱۸- بلکې موږ د حق په وسیله باطل ووهو او هغه به یې سر ماتوي او هغه به سمدستي ځي او تاسې لپاره په هغو خبرو کې ډېره بدي ده چې تاسې یې بیانوئ.
۱۹- او څه داسې دي چې په آسمانونو او ځمکه دي. او څه چې ورسره د هغه له عبادته نه سرغړونه کوي او نه په کې سستي کوي. ۲۰- او هغوی شپه او ورځ هغه یادوي او هېڅکله نه ستړي کېږي.
۲۱- ایا هغوی په ځمکه معبودان وټاکل چې څوک ژوندي کوي. ۲۲- که چېرې دواړو (آسمان او ځمکه) کې له الله بغیر معبودان وای نو دا دواړه به تباه شوي وای. نو الله، د عرش مالک، له هغو خبرو پاک دی چې دا خلک یې کوي. ۲۳- هغه چې څه کوي پوښتنه به یې ترې نه کېږي او نه به ترې څوک پوښتنه کوي.
۲۴- ایا هغوی له الله بغیر نور معبودان جوړ کړي. ورته ووایه چې خپل دلیل راوړئ. دا خبره د هغو خلکو چې له ماسره دي او دا خبره د هغو خلکو چې تر ما مخکې دي. بلکې په دوی کې زیاتره حق نه پېژني. نو هغوی مخ اړوي. ۲۵- او موږ له تا مخکې داسې پېغمبر نه دی لېږلی

چې وحې مو ورته نه وي کړي چې له ما بغیر بل معبود نشته، نو زما عبادت کوه.
۲۶- او هغوی وایي چې رحمان اولاد لري، هغه له دې پاک دی، بلکې (ملایکې) خو معزز بندهګان دي. ۲۷- هغوی تر هغه مخکې خبره نه کوي. او هغوی د هغه له حکم سره سم عمل کوي. ۲۸- الله د هغوی په مخکې او وروسته حال خبر دی. او هغوی شفاعت نه شي کولای، مګر د هغه چا لپاره چې الله یې خوښ کړي. او هغوی د هغه له هیبته تل وېرېږي. ۲۹- او په هغوی کې چې هر څوک وایي چې له هغه بغیر زه معبود یم نو موږ به ورته د جهنم جزا ورکړو. موږ ظالمانو ته همداسې جزا ورکوو.
۳۰- ایا انکار کونکو نه وو لیدلي چې آسمان او ځمکه دواړه بند وو، بیا موږ پرانیستل. او موږ له اوبو هر ژوندی جوړ کړ. ایا بیا هم هغوی ایمان نه راوړي. ۳۱- او موږ په ځمکه غرونه جوړ کړل چې هغه ور لاندې ونه خوځیږي او په هغه کې مو پراخه لارې جوړې کړې چې خلک لار ومومي. ۳۲- او موږ آسمان یو خوندي چت کړ. او هغوی د هغه له نښو مخ اړولی دی. ۳۳- او هماغه دی چې شپه او ورځ او لمر او سپوږمۍ یې پیدا کړل. ټول په یوه یوه مدار کې ګرځیږي.
۳۴- او موږ له تا مخکې هم کوم انسان ته د تل لپاره ژوند نه دی ورکړی نو ایا که ته مړ شې هغوی به تل ژوندي وي. ۳۵- هر ژوندی به د مرګ خوند ګوري. او موږ تاسې په بدو او ښو حالاتو ازمایو د معلومولو لپاره او تاسې ټول به موږ ته را ستنیږئ.
۳۶- او منکران چې تا ګوري نو ټول په تا پورې خندا کوي. ایا همدا دی چې ستاسې د معبودانو خبرې کوي. او پخپله دا خلک د رحمان له ذکره انکار کوي.

۳۷- انسان د تادی له ختې جوړ شوی دی. زه به زر تاته خپلې نښې در وښییمه، نو ته تادي مه کوه. ۳۸- او خلک وایي چې دا وعده به کله راځي، که ته رښتینی یې. ۳۹- کاش، که دا منکر په هغه وخت خبر وای چې اور به نه له خپلې مخې منع کولای شي او نه له خپلې شا. او نه به ورته مرسته رسېږي. ۴۰- بلکې هغه به پرې ناڅاپه راشي، نو هغوی به حیران کړي. بیا به یې نه دفع کولای شي او نه به ورته مهلت ورکول شي. ۴۱- او له تا مخکې هم په رسولانو پورې خندا شوې ده. بیا چې چا ور پورې خندا کوله هغوی هماغه شي ونیول چې خندا یې ور پورې کوله.
۴۲- ووایه څوک دی چې د شپې او ورځې تاسې له رحمانه خوندي کوي. بلکې هغه خلک د خپل رب له خبرتیا مخ اړوي. ۴۳- ایا هغوی له موږ بغیر بل معبود لري چې هغوی ساتي. هغوی خپله ساتنه لا نه شي کولای. او نه ورسره زموږ په مقابل کې څوک ملتیا کولای شي.
۴۴- بلکې موږ هغوی او د هغوی پلار نیکه ته د دنیا سامان ورکړ. تر دې چې په هماغه حالت کې پرې اوږده موده تېره شوه. ایا هغوی نه ګوري چې موږ ځمکه له څنډو را کموو. نو ایا همدا خلک برلاسي اوسېدونکي دي.
۴۵- ووایه چې زه تاسې یوازې د وحې په وسیله وېروم. او کاڼه غږ نه اوري چې کله ووېرول شي. ۴۶- او که ستا د رب د عذاب څپه پرې راشي نو هغه به ووایي چې های افسوس، بېشکه موږ ظالمان وو.
۴۷- او موږ به د قیامت په ورځ د عدل تله (ترازو) کېږدو. نو په هېڅ ژوندي به ذره ظلم هم نه کېږي. او که د وري د دانې هومره عمل هم د چا وي موږ به هغه حاضر کړو. او موږ د حساب کولو لپاره کافي یو.

۴۸- او موږ موسی او هارون ته فرقان او رڼا او نصیحت عطا کړ د هغوی خلکو لپاره چې له الله وېرېږي. ۴۹- هغوی چې بې لیدو له خپل رب نه وېرېږي او د قیامت د ورځې وېره ورسره وي. ۵۰- او دا یوه بابرکته یادونه ده چې موږ نازل کړې، نو ایا تاسې ترې منکر یئ.
۵۱- او تر دې وړاندې موږ ابراهیم ته د هغه هدایت ورکړی و. او موږ هغه ښه پېژنده. ۵۲- کله چې هغه خپل پلار او خپل قوم ته وویل چې دا څه بُتان دي چې ته پرې کلک ولاړ یې. ۵۳- هغه وویل چې موږ خپل پلار نیکه د دې په عبادت لیدلي دي. ۵۴- ابراهیم وویل چې بېشکه ته او ستا پلار نیکه په ښکاره ګمراهۍ اخته وئ.
۵۵- هغه وویل، ایا تا موږ ته رښتیا خبره راوړې که ټوکې راسره کوې.
۵۶- ابراهیم وویل، بلکې ستا رب هغه دی چې د آسمانونو او ځمکې رب دی چې هغه یې پیدا کړي دي. او زه د دې خبرې په ګواهي ورکونکو کې یم. ۵۸- او په الله قسم زه به ستا له بُتانو سره یو تدبیر وکړم کله چې ته لاړ شې. ۵۸- نو هغه یې مات مات کړل بې له یوه لوی بُته چې دوی هغه ته رجوع وکړي.
۵۹- هغوی وویل چې زموږ له بُتانو سره چا داسې کړي. بېشکه هغه لوی ظالم دی. ۶۰- خلکو وویل چې موږ یو ځوان لیدلی و چې د دې خبره یې کوله او ابراهیم یې بولي. ۶۱- هغوی وویل چې هغه د ټولو خلکو مخې ته حاضر کړئ، چې ویې ګوري. ۶۲- هغوی وویل چې ای ابراهیمه، ایا زموږ له معبودانو سره تا داسې کړي دي. ۶۳- ابراهیم وویل، بلکې د دوی مشر داسې کړي نو له هغه پوښتنه وکړئ که خبرې کوي.
۶۴- بیا هغوی له ځان سره فکر وکړ، بیا یې وویل په اصل کې ته په ناحقه یې. ۶۵- بیا یې خپل سرونه ښکته کړل. ای ابراهیم، ته پوهېږې

چې دا خبرې نه کوي. ۶۶- ابراهیم وویل، ایا تاسې له الله بغیر د داسې شیانو عبادت کوئ چې نه درته ګټه در رسولای شي او نه تاوان. ۶۷- په تاسې هم افسوس دی او په هغو شیانو هم چې تاسې یې له الله بغیر عبادت کوئ. ایا تاسې نه پوهېږئ.
۶۸- هغوی وویل چې دا په اور کې وسېځئ او د خپلو معبودانو مرسته وکړئ، که تاسې څه کول غواړئ. ۶۹- موږ وویل چې ای اوره، ته د ابراهیم لپاره یخوالی او سلامتي شه. ۷۰- او هغو له ده (ابراهیم) سره بدي کول وغوښتل نو موږ هماغه خلک ناکام کړل.
۷۱- او موږ هغه لوط ته د هغه ځمکې لور ته نجات ورکړ چې د ځمکې خلکو ته مو په کې برکتونه ایښي دي. ۷۲- او موږ هغه ته اسحاق ورکړ او په هغه پسې یعقوب هم. او موږ ټول نېکان کړل. ۷۳- او موږ هغه امام کړ چې زموږ په حکم یې لارښوونه کوله. او موږ هغه ته د نېک عمل کولو او د لمونځ د اقامت او د زکات د ورکړې حکم ور ولېږه او هغه زموږ عبادت کونکی و.
۷۴- او موږ لوط ته علم او حکمت عطا کړ. او هغه مو له هغه کلي وساته چې بد کارونه یې کول. بېشکه هغوی ډېر بد، فاسق خلک وو. ۷۵- او موږ هغه په خپل رحمت کې داخل کړ. بېشکه هغه په نېکانو کې و.
۷۶- او نوح ته هم چې له ده (ابراهیم) وړاندې یې موږ ته فریاد وکړ نو موږ د هغه دعا قبوله کړله. نو موږ هغه او د هغه خلک له لوی غمه وساتل. ۷۷- او د هغو خلکو په مقابل کې مو ورسره مرسته وکړله چې زموږ له نښو یې انکار کړی و. بېشکه هغه ډېر بد خلک وو. نو موږ هغوی ډوب کړل.

۷۸- او داؤد او سلېمان ته چې کله دواړو د پټي په هکله فيصله کوله، چې ځينو خلکو په کې د شپې اوزې څرولې. او موږ د هغوی فيصله ليدله. ۷۹- نو موږ سلېمان ته د هغې پوهه ورکړله. او موږ دواړو ته حکمت او علم عطا کړی و. او موږ داؤد ته غرونه تابع کړي چې له هغه سره تسبيح وکړي او مرغان هم. او هم موږ کونکي وو. ۸۰- او موږ هغوی ته ستاسې لپاره د يوه جنګي لباس کسب ور وښود، هغه تاسې په جګړه کې خوندي وساتي. نو ايا تاسې شکر کونکي يئ.

۸۱- او موږ سلېمان لپاره تېز باد مسخر کړ چې د هغه په حکم د هغه وطن په طرف لګېده چې موږ په کې برکتونه ايښي وو. او موږ په هر څه پوهېدونکي يو. ۸۲- او په شيطانانو کې مو هم د هغه تابع کړي وو چې د هغه لپاره به يې غوټې (غوپې) وهلې. او ورسره به يې نور کارونه هم کول او موږ د هغو سنبالونکي وو.

۸۳- او ايوب ته چې کله يې خپل رب ته فرياد وکړ چې زه مرض نيولی يم او ته له ډېرو رحم کونکو ډېر رحم کونکی يې. ۸۴- نو موږ د هغه دعا قبوله کړله او په هغه چې کوم تکليف و هغه مو (ترې) لرې کړ. او موږ هغه ته کورنۍ عطا کړه او دې ټولو سره همدومره نور هم، له خپل اړخه رحمت او نصيحت، د عبادت کونکو لپاره.

۸۵- او اسماعيل او ادريس او ذوالکفل ته، دا ټول په صبر کونکو کې وو. ۸۶- او موږ هغوی خپل رحمت ته داخل کړل. بېشک هغوی په نېک عملو کې وو.

۸۷- او کب والا (يونس) ته، چې کله له خپل قوم نه په غوسه لاړ. بيا هغه داسې وګڼله چې موږ يې نه شو نيولای، بيا هغه په تياره کې فرياد وکړ چې له تا بغير بل معبود نشته، ته پاک يې. بېشکه زه ملامت يم.

۸۸- نو موږ د هغه دعا قبوله کړله او هغه مو له غم نه خلاص کړ. او په دې توګه موږ د ایمان خاوندان ساتو.
۸۹- او زکریا ته، چې کله یې خپل رب ته غږ کړ چې ای زما ربه، ته ما یوازې مه پرېږده. او ته بهترین وارث یې. ۹۰ نو موږ د هغه دعا قبوله کړله او یحیی مو ور عطا کړ. او د هغه مېرمن مو ور ته ورغوله. دی خلکو په نېک کارونو کې تادي کوله او موږ یې په هیله او وېره یادولو. او زموږ په وړاندې ټیټ شوي وو.
۹۱- او هغه ښځه چې خپل ناموس یې وساته نو موږ په هغې کې خپل روح پوو کړ او هغه او د هغې زوی مو د دنیا خلکو ته یوه نښه کړل.
۹۲- او دا ستاسې امت یو امت دی او زه ستاسې رب یم نو تاسې زما عبادت وکړئ. ۹۳- او هغوی خپل دین په خپلو کې ټوټې ټوټې کړ. ټول موږ ته راتلونکي دي. ۹۴- نو څوک چې نېک عمل وکړي او د ایمان خاوند وي نو د هغه د کوشش بې قدري به نه کیږي، او موږ هغه لیکو.
۹۵- او د کومو کلیو خلکو ته چې موږ هلاکت ټاکلی دی، د هغوی لپاره رجوع کول حرام دي. ۹۶- تر هغې چې کله یاجوج او ماجوج را خوشې شي او له هرې لوړې به را ووځي. ۹۷- او چې رښتیا وعده را نږدې شي نو د هغوی خلکو سترګې په خلاصې پاتې شي چې انکار یې کړی و. های افسوس، موږ له دې غافل وو. بلکې ظالمان وو.
۹۸- بېشکه تاسې او د چا چې تاسې له الله بغیر عبادت کاوه، ټول د دوزخ خاشاک دي. هلته به تاسې ځئ. ۹۹- که دا واقعي معبودان وای نو په هغه (دوزخ) کې به نه پرېوتی. او هغوی ټول به په کې تل اوسېږي.
۱۰۰- هلته د هغوی لپاره فریاد دی او هېڅ به هم په کې نه اوري. ۱۰۱- بېشکه چا ته چې زموږ له اړخه د کامیابۍ فیصله شوې ده، هغوی به له دې لرې وساتل شي. ۱۰۲- او هغوی به یې هېڅ غږ نه اوري. هغوی به

د خپلې خوښې ځیزونو کې تل اوسیږي. ۱۰۳- هغوی لویه وېره نه خفه کوي. او ملایکې به یې استقبال کوي. دا ستاسې هغه ورځ ده چې له تاسې سره یې وعده شوې وه.
۱۰۴- په هغه ورځ چې موږ به آسمان راټول کړو لکه کاغذ چې توته کیږي (تاوېږي). لکه څنګه چې موږ په لومړي ځل د پېدایښت پیل کړی و، همداسې به یې بیا اعاده کړو. دا زموږ په ذمه وعده ده. ۱۰۵- او موږ به یې پوره کوو. او په زبور کې موږ له نصیحت وروسته لیکلي چې د ځمکې وارثان به زموږ نېک بندګان وي. ۱۰۶- په هغه کې یو لوی خبر دی عبادت کونکو لپاره.
۱۰۷- او موږ ته د دنیا خلکو ته د رحمت په توګه لیږلی یې. ۱۰۸- ووایه ماته چې کومه وحې راځي هغه دا ده چې ستاسې معبود یوازې یو دی، نو ایا تاسې اطاعت کونکي کیږئ. ۱۰۹- بیا که هغوی مخ واړوي نو ووایه چې ما تاسې ته ښکاره خبرتیا درکړې ده. او زه نه پوهیږم د کوم څه چې تاسې سره وعده کیږي، لرې دی که نږدې. ۱۱۰- بېشکه هغه په ښکاره خبره هم خبر دی او په هغه خبره هم چې تاسې یې پټوئ. ۱۱۱- او زه نه پوهیږم ښایي هغه ستاسې لپاره امتحان وي او د ګټې اخیستلو یو مهلت وي. ۱۱۲- پیغمبر وویل چې ای زما ربه، په حقه فیصله وکړه. او زموږ رب رحمان دی، له هغه په دې خبرو کې مرسته غواړو چې ته تاسې یې کوئ.

## سوره الحج ۲۲

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- ای خلکو، له خپل رب نه ووېرېږئ. بېشکه د قیامت د ورځې ښېښه ډېره درنه ده. ۲- په کومه ورځ چې تاسې هغه وګورئ، هر شیدې

ورکونکی ژوندی به خپل شیدې خوړونکی ماشوم هېر کړي. او هره د حمل خاوند به خپل حمل وغورځوي. او خلک به داسې مدهوشه ښکاري سره د دې چې مدهوشه به نه وي، بلکې د الله عذاب ډېر زیات سخت دی. ۳- او په خلکو کې ځینې داسې هم شته چې له علم بغیر د الله په هکله جنګېږي. ۴- او د هر سرکشه شیطان په پیروۍ اخته وي. د هغوی په هکله دا لیکل شوي چې څوک ورسره ملګرتیا وکړي، هغه به بې لارې کوي او د جهنم د عذاب لاره به ور وښیي.
۵- ای خلکو! که تاسې د بیا را ژوندي کېدو په هکله شک کوئ نو موږ تاسې له خاورې پیدا کړي یئ، بیا له نطفې، بیا د وینې له غوټې، بیا د غوښې له پوټې، شکل لرونکي او بې شکله هم، چې موږ یې تاسې ته واضح کړو. او موږ چې څه وغواړو په رحمونو کې یې تر یوې مودې پورې ساتو. بیا تاسې د ماشوم په بڼه را وباسو. بیا تر هغې چې تاسې ځوانۍ ته ورسېږئ. او په تاسې کې څوک مخکې مري او څوک د عمر تر انتها رسیږي چې هغه د پوهېدو نه وروسته بیا په څه نه پوهېږي. او تاسې ځمکه ګورئ چې وچه پرته ده، بیا چې موږ په هغې اوبه اوروؤ نو هغه تازه شي او په وده شي او هر ډول ښاپسته فصلونه ترې را وشي.
۶- دا په دې خاطر چې الله حق دی او هغه بې ساه شیانو کې ساه اچوي، او هغه په هر څه قادر دی. ۷- او دا چې قیامت راتلونکی دی، په دې کې هېڅ شک نشته او الله به حتماً هغه خلک را پورته کوي چې په قبرونو کې دي.
۸- او په خلکو کې داسې کس هم شته چې د الله په خبره کې جنګېږي، له علم او هدایت او روښانه کتاب پرته. ۹- کبر کوي چې (خلک) د الله له لارې بې لارې کړي. د هغه لپاره د دنیا په ژوند کې رسوایي ده او د قیامت په ورځ به پرې د تاوده اور خوند وڅکوؤ. ۱۰- دا ستاسې په

لاسونو د شویو کارونو بدله ده او الله په خپلو بنده ګانو ظلم کونکی نه دی.
۱۱- او په خلکو کې داسې هم شته چې په څنډه اوسيږي او د الله عبادت کوي. نو که هغوی ته کومه ګټه ورسېږه په عبادت قايم شو. او که امتحان راغی يې نو مخ يې واړوه. هغه دنيا هم وبايلله او آخرت هم، همدا ښکاره تاوان دی.
۱۲- هغوی له الله بغير داسې څه را بولي چې نه دوی ته تاوان رسولای شي او نه ورته ګټه رسولای شي. دا د ګمراهۍ انتهايي درجه ده. ۱۳- هغوی داسې څه را بولي چې تاوان يې تر ګټې نږدې دی. څومره بد کارساز دی او څومره بد ملګری. ۱۴- بېشکه الله به هغه خلک چې ايمان راوړي او نېک عمل وکړي، داسې جنتونو ته ننباسي چې ور لاندې به نهرونه بهيږي. الله هغه کوي چې غواړي يې.
۱۵- که څوک دا ګمان کوي چې الله به ورسره په دنيا او آخرت کې مرسته ونه کړي نو هغه دې يوه رسۍ تر آسمانه ورسوي او بيا د هغه غوڅه کړي او و دګوري چې ايا دا تدبير د هغه غوسه لرې کولای شي.
۱۶- او په دې توګه مو قرآن له ښکاره دليلونو سره نازل کړی دی. او بېشکه الله چې چا ته وغواړي هغه ته هدايت کوي.
۱۷- په دې هېڅ شک نشته چې کومو خلکو ايمان راوړ او چا چې يهوديت اختيار کړی او صابي او نصاری او مجوس او چا چې شرک وکړ، الله به د دې ټولو تر منځ د قيامت په ورځ فيصله کوي. بېشکه الله هر څه ګوري.
۱۸- ايا ته نه ګورې چې الله ته سجده کوي څه چې په آسمانونو کې دي او څه چې په ځمکه دي. او لمر او سپوږمۍ او ستوري او غرونه او ونې او ځناور او ډېر انسانان. او ډېر داسې دي چې عذاب پرې ثابت شوی

دی او څوک چې الله ذلیل کړي نو هغه ته عزت ورکونکی هېڅوک نشته.
بېشکه هغه چې څه وغواړي هغه کوي.
۱۹- دا دوه ډلې دي چې د خپل رب په هکله يې جنګ وکړ. نو چا چې
انکار وکړ، د هغوی لپاره به د اور جامې غوڅېږي. او د هغوی په
سرونو به جوش شوې اوبه اچول کېږي. ۲۰- په دی به د هغوی د خېټو
تر شیانو پورې خوسا شي او څرمن هم. ۲۱- او هغوی لپاره به هلته د
اوسپنې څټکونه وي. ۲۲- هر وخت چې هغوی ووېرېږي او له هغه ځایه
د وتلو هڅه وکړي نو هغوی ته به لږه موقع ورکول شي ، او څکئ دا د
سوځېدلو عذاب.
۲۳- بېشکه چا چې ایمان راوړ او نېک عمل يې وکړ، الله به هغوی داسې
باغونو ته ننابسي چې ور لاندې به نهرونه بهېږي. هلته به هغوی ته د
سرو زرو بنګړي او مرغلرې واچول شي او جامې به يې د ورېښمو
وي. ۲۴- او هغوی ته د پاکو خبرو هدایت ورکول شوی و. او هغوی ته
د حمید الله لاره ښودل شوې وه.
۲۵- بېشکه کومو خلکو چې انکار وکړ او خلک يې د الله له لارې او له
مسجد حرام منع کول چې موږ د خلکو لپاره جوړ کړی دی، چې په کې
ځايي اوسېدونکي او له بهره راغلي برابر دي. او څوک چې په دې مسجد
کې له لارې واوړي او د ظلم طریقه اختیار کړي، په هغوی به موږ د
دردناک عذاب خوند وڅکوؤ.
۲۶- او کله چې موږ ابراهیم ته د بیت الله ځای وښود، چې له ماسره
څوک مه شریکوه او زما کور پاک ساته، د طواف کونکو لپاره او د قیام
کونکو لپاره او د رکوع او سجدې کونکو لپاره.
۲۷- او خلکو ته د حج اعلان وکړه، هغوی به تاته راشي. په خپلو پښو
او په ضعیفه اوښانو سپاره چې په اوږدو لارو به راځي. ۲۸- په دې

خاطر چې د خپلې ګټې ځایونو ته ورسېږي او په څو معلومو ورځو کې په هغو څارویو د الله نامه واخلي چې هغه ور ته ښلي دي. نو له هغو وخورئ او په مصیبت ځپلو محتاجانو یې هم وخوروئ. ۲۹- نو په کار ده چې هغوی دې خپل خیری ختم کړي. او خپل نذرونه دې پوره کړي. او د هغه پخواني کور طواف دې وکړي.
۳۰- دا خبره وشوه. او څوک چې د الله د شعایرو پوره لحاظ کوي نو دا ورته د رب په نزد غوره ده او تاسې لپاره څاروي حلال کړی شوي دي، بې له هغو چې یادونه یې درته شوې ده، نو تاسې د بُتانو له چټلۍ ځان وساتئ او له دروغ خبرې ځان وساتئ.
۳۱- ځان الله ته مخصوص کړئ، هغه سره شریک مه جوړوئ. او څوک چې له الله سره شرک کوي، داسې دی لکه له آسمانه چې را غورځېدلی وي، مرغانو په ټونګو کې اخیستی وي یا یې چېرته لرې ځای کې غورځولی وي.
۳۲- دا خبره وشوه. او څوک چې د الله د شعایرو پوره لحاظ وکړي نو دا د زړه د تقوی خبره ده. ۳۳- تاسې ترې د یوې ټاکلې مودې لپاره ګټه اخلئ. بیا به یې د قربانۍ لپاره پخواني کور ته وړئ.
۳۴- او موږ د هر امت لپاره قرباني کول ټاکلي وو چې هغوی په خپلو څارویو د الله نوم واخلي چې هغه ورته عطا کړي دي. نو ستاسې معبود یو معبود دی، ته د هماغه اوسه او عاجزي کونکو ته زېری ورکړه. ۳۵- چې حالت یې دا دی چې که د الله ذکر کېږي نو د هغوی زړه ورسره رپېږي. او څه چې پرې راځي، هغه زغمي او د لمونځ پابندي کونکي او څه چې موږ ورکړي له هغه مصرف کوي.
۳۶- او د قربانۍ اوښان موږ ستاسې لپاره د الله یادګار کړي دي. په هغو کې ستاسې لپاره کامیابي ده. نو هغه ودروئ او د الله نوم پرې واخلئ. بیا

چې هغه په هکله پرېوځي نو خوراک ترې وکړئ او بې له سواله محتاجو او سوالګرو باندې يې وخوروئ. په دې توګه موږ هغه څاروي تاسې لپاره مسخر کړل چې تاسې شکر وباسئ. ۳۷- او الله ته نه د هغو غوښه رسېږي او نه يې وينه بلکې الله ته يوازې ستاسې تقوی رسېږي. په دې توګه الله هغه ستاسې لپاره مسخر کړي دي، چې تاسې د الله په در ښنلي هدايت د هغه لويي بيان کړئ او نيکي کونکو ته زېری ورکړه.
۳۸- بېشکه الله د هغو خلکو دفاع کوي چې ايمان يې راوړی. بېشکه الله خيانت کونکي او ناشکران نه خوښوي. ۳۹- اجازه ورکول شوې هغو خلکو ته چې جنګ ورسره کېږي په دې خاطر چې په هغوی ظلم شوی دی. او بېشکه الله هغوی سره په مرستې (کولو) قادر دی. ۴۰- کوم خلک چې له خپلو کورونو بې دليله ويستل شوي دي. يوازې په دې خاطر چې وايي زموږ رب الله دی. او که الله دا خلک د يو بل په وسيله نه وای دفع کړي نو خانقاوې او ګرجې او عبادتځايونه او جوماتونه چې د الله نوم په کې په کثرت اخيستل کېږي، وران شوي وای. او الله به حتماً هغوی سره مرسته کوي چې له الله سره مرسته وکړي. بېشکه الله قوي او د زور خاوند دی.
۴۱- دا هغه خلک دي که موږ ورته غلبه ورکړو نو د لمونځ اهتمام به کوي او زکات به ورکوي او د معروف حکم به کوي او له منکر به منع کول کوي او د ټولو کارونو انجام د الله په واک کې دی.
۴۲- او که هغوی تا دروغجن بولي نو تر هغوی مخکې د نوح او عاد او ثمود قوم هم دروغ بللي دي. ۴۳- او د ابراهيم او لوط قوم. ۴۴- او د مدين خلکو هم. او موسی دروغجن وبلل شو. بيا ما منکرانو ته وخت ورکړ. بيا مې هغوی ونيول. نو څنګه شو زما عذاب.

۴۵- نو څومره کلي دي چې موږ هلاک کړل او هغوی ظالمان وو. نو اوس هغه (کلي) په خپلو چتونو (پرځېدلي) پراته دي. او څومره بې ګټې کوهیان او څومره پخې ماڼۍ چې ورانې شوې دي. ۴۶- ایا دا خلک په ځمکه نه دي ګرځېدلي چې د دوی زړونه داسې شوی وای چې هغوی پرې پوهېدای یا یې غوږونه داسې وای چې هغوی پرې اورېدی ځکه چې سترګې ړندې نه وي بلکې هغه زړونه ړندېږي چې په سینو کې دي.
۴۷- او دا خلک له تا په عذاب غوښتو کې تادي کوي. او الله هېڅکله د خپلې وعدې خلاف نه کوي. او ستاسو د رب په نزد یوه ورځ د شمېر له پلوه د زرو کالو سره برابره ده. ۴۸- او څومره کلي دي چې ما مهلت ورکړ او هغوی ظالمان وو. بیا ما هغوی ونیول. او زما خوا ته را ستنېدل دي.
۴۹- ووایه ای خلکو، زه ستاسې لپاره یو ښکار وېرونکی یم. ۵۰- نو چا چې ایمان راوړ او ښه کارونه یې وکړل، د هغوی لپاره مغفرت دی او د عزت روزي (ده). ۵۱- او چا چې زموږ د آیتونو ټیټولو لپاره هڅې کړي، هغوی دوزخیان دي.
۵۲- او موږ چې له تا مخکې څومره رسولان او نبیان ولېږل چې کله هغه څه لوستي نو شیطان په کې مداخله کړې ده. بیا الله د شیطان مداخله پاکوي. بیا الله خپل آیتونه پخوي. او الله د علم او حکمت خاوند دی. ۵۳- په دې خاطر چې شیطان څه مداخله کړې، په هغې هغه خلک معلوم کړی شي چې په زړونو کې یې مرض دی او زړونه یې سخت دي. او ظالمان خلک په مخالفت کې ډېر لرې تللي دي. ۵۴- او د دې لپاره چې کومو خلکو ته علم ورکول شوی، هغوی پوه شي چې دا په اصل کې ستا د رب له طرفه دی، بیا په دې ایمان راوړي. او د هغوی زړونه ورته ټیټ شي. او الله د ایمان خاوندانو ته حتماً سیده لار ښیي.

۵۵- او انکار کونکي خلک به تل د هغه په هکله په شک کې وي، تر دې چې ناڅاپه پرې قیامت راشي، یا د یوې منحوسې ورځې عذاب راشي. ۵۶- د هغه ورځې ټول واک به یوازې الله سره وي. هغه به د دوی ترمنځ فیصله کوي. نو چا چې ایمان راوړ او نېک کارونه یې وکړل هغوی به د نعمت په باغونو کې وي. ۵۷- او چا چې انکا روکړ او زموږ آیتونه یې دروغ وبلل نو هغوی لپاره د ذلت عذاب دی.
۵۸- او چا چې د الله په لاره کې خپل وطن پرېښود، بیا هغوی ووژل شول یا مړه شول، الله به حتماً هغوی ته ښه رزق ورکوي. او بېشکه الله تر ټولو غوره رزق ورکونکی دی. ۵۹- هغه به دوی داسې ځای ته یوسي چې ترې راضي به وي. او بېشکه الله پوهېدونکی او د حلم خاوند دی.
۶۰- داسې به کېږي. او چا چې انتقام واخیست هغسې لکه ده سره چې شوي وو، او بیا په هغه زیاتی وشي نو الله به حتماً ورسره مرسته کوي. بېشکه الله ښښونکی او مهربان دی.
۶۱- دا په دې خاطر چې الله شپه په ورځ کې داخلوي او ورځ په شپه کې داخلوي. او الله اورېدونکی او لیدونکی دی. ۶۲- دا په دې خاطر چې یوازې الله حق دی او هغه ټول باطل دي چې خلک یې له الله بغیر را بولي. او بېشکه یوازې الله تر ټولو لوړ، تر ټولو لوی دی.
۶۳- او تا ونه لیدل چې الله له آسمانه اوبه را ورولې. بیا ځمکه سرسبزه شوه. بېشکه الله باریک بین دی، خبر لرونکی دی. ۶۴- د هغه دي څه چې په آسمانونو کې دي او څه چې په ځمکه دي. بېشکه یوازې الله دی چې بې نیازه دی، د تعریفونو خاوند دی.
۶۵- ایا ته نه ګورې چې الله د ځمکې ټول شیان ستاسې لپاره په کار لګیا کړي او کښتۍ هم، د هغه په حکم سمندر کې چلېږي. او الله آسمان په

ځمکه له را غورځېدو نیولی دی، مګر دا چې د هغه په حکم. بېشکه الله
په خلکو د نرمۍ خاوند او مهربان دی. ۶۶- او هماغه دی چې تاسې ته
یې ژوند درکړی، بیا به درته مرګ هم درکړي. بیا به هغه تاسې را
ژوندي کړي. بېشکه انسان ډېر ناشکره دی.
۶۷- او موږ هر امت ته یوه طریقه ټاکلې وه چې د هغې پیروي به یې
کوله. نو هغوی دې معامله کې تا سره جنګ نه کوي. او ته خپل رب لور
ته بلنه ورکوه. یقیناً ته په سمه لار یې. ۶۸- کهٔ دوئ تاسره جګړے کوی
نو دوئ ته ووایه چه څهٔ تاسو کوئ الله تعالٰی د هغے نه ښهٔ واقف دے.
۶۹- الله به د قیامت په ورځ ستاسې ترمنځ د هغه څه فیصله وکړي چې
تاسې په کې اختلاف کوئ. ۷۰- ایا ته نه پوهېږې چې د آسمان او ځمکې
هر څه د الله په علم کې دي. هر څه په یوه کتاب کې دي. بېشک دا د الله
لپاره آسانه ده.
۷۱- او هغوی له الله بغیر د هغو عبادت کوي چې په هکله یې الله هېڅ
دلیل نه دی را ښکته کړی او نه یې هغوی ته په هکله علم شته. او د
ظالمانو هېڅ مرستندوی نشته. ۷۲- او کله چې هغوی ته زموږ واضح
آیتونه واورول شي نو ته به د منکرانو په څهره کې بدې نښې ووینې.
ګویا هغوی په هغه کس برید کوي چې زموږ آیتونه ورته اوروي. ووایه
ایا زه تاسې ته ووایم چې تر دې بدتر څه شی دی. هغه اور دی. د هغه
وعده الله له هغو خلکو سره کړې ده چې انکار یې کړی دی او هغه ډېر
بد ځای دی.
۷۳- ای خلکو، یو مثال بیانېږي نو تاسې یې په غور واورئ، تاسې چې
له الله بغیر څه را بولئ، هغه یو مچ هم نه شي پیدا کولای، اګر که هغوی
ټول سره راټول شي. او که مچ له هغوی څه وتښتوي نو هغه هم ترې نه
شي را خلاصولی. مرسته غوښتونکي هم کمزوري او له چا چې مرسته

غوښتل کېږي هغوی هم کمزوري. ۷۴- او هغوی د الله قدر (هغسې) ونه پېژنده لکه څنګه يې چې د پېژندلو حق دی. بېشکه الله قوی دی، غالب دی. ۷۵- الله په ملايکو کې خپل پېغام رسونکی ټاکي، او په انسانانو کې هم. بېشکه الله اورېدونکی او ليدونکی دی. ۷۶- هغه پوهېږي څه چې له هغوی مخکې دي او څه چې د هغوی شاته دي. او الله ته ور ستنېږي ټولې معاملې.

۷۷- ای د ايمان خاوندانو، رکوع او سجده کوئ. او د خپل رب عبادت کوئ او د نېکۍ کارونه کوئ چې کامياب شئ. ۷۸- او د الله په لاره کې کوشش کوئ لکه څنګه چې د کوشش کولو حق دی. هغه تاسې غوره کړي يئ. او هغه د دين په معامله کې په تاسې کومه سختي نه ده راوړې، ستاسې د پلار ابراهيم دين. هماغه ستاسې نوم مسلم (مسلمان) ايښی. له دې مخکې او په دې قرآن کې هم چې رسول په تاسې ګواه وي او تاسې په خلکو ګواهان شئ. نو لمونځ قايم کړئ او زکات ورکړئ. او الله مضبوط ونيسئ، هماغه ستاسې مالک دی. نو څومره ښه مالک دی او څومره ښه مرستندوی.

## سوره المومنون ۲۳

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.

*۱- يقيناً فلاح وموندله د ايمان خاوندانو. ۲- هغوی چې په لمانځه کې ټيټېږي. ۳- او هغوی چې له لغو خبرو ډډه کوي. ۴- او هغوی چې زکات ورکوي. ۵- او هغوی چې د خپلو شرمګاوو ساتنه کوي. ۶- بغير له خپلو مېرمنو يا هغو ښځو چې د دوی په ملکِ يمين کې وي چې په هغوی ملامتي نشته. ۷- البته څوک چې له دوی بغير وغواړي نو هغوی زياتي کونکي دی. ۸- او څوک چې د خپلو امانتونو او خپلو وعدو خيال ساتي.

۹- او څوک چې د خپلو لمونځونو ساتنه کوي. ۱۰- همدا خلک وارثان کېدونکي دي چې د فردوس وراثت به وومومي. ۱۱- هغه کې به دوی تل اوسېږي.

۱۲- او موږ انسان د خاورې له خلاصې پيدا کړ. ۱۳- بيا مو هغه د اوبو د يوه څاڅکي په بڼه په يوه خوندي ځای کې وساته. ۱۴- بيا مو د اوبو څاڅکي ته د جنين شکل ورکړ. بيا مو جنين د غوښې يو پوټی کړ. بيا مو په پوټي کې هډوکي پيدا کړل. بيا مو په هډوکو غوښه پورته کړه. بيا مو هغه په يوه نوي شکل را پورته کړ. نو الله ډېر بابرکته دی او بهترين پيدا کونکی. ۱۵- بيا له هغې وروسته به تاسې حتماً مرئ. ۱۶- بيا به تاسې د قيامت په ورځ را پورته کېږئ.

۱۷- او موږ په تاسې دپاسه اووه لارې جوړې کړې. او موږ له مخلوق بېخبره نه يو. ۱۸- او موږ له آسمانه اوبه را وورولې په يوه اندازه. بيا مو هغه په ځمکه کې ودرولې. او موږ د هغو په بيا اخيستو قادر يو. ۱۹- بيا موږ له هغو تاسې لپاره د کجورو او انګورو باغونه پيدا کړل. ستاسې لپاره په هغو کې ډېره ميوه ده. او تاسې يې له هغو خورئ. ۲۰- او موږ هغه ونه پيدا کړه چې له طورِ سينا راوځي، هغه له تېلو سره را شنه کېږي. او د خوړونکو لپاره قطغ (اېنګولی) هم دی. ۲۱- او تاسې لپاره په څارويو کې سبق دی. موږ په تاسې د هغوی له خېټو څه درڅښو. او ستاسې لپاره په کې ډېرې ګټې دي. او تاسې هغه خورئ. ۲۲- او تاسې په هغو او په کښتيو کې سپرېږئ.

۲۳- او موږ نوح د هغه قوم ته ولېږه نو هغه وويل چې ای زما قومه، تاسې د الله عبادت وکړئ. له هغه بغير ستاسې هېڅ معبود نشته. ۲۴- ايا تاسې نه وېرېږئ. نو د هغه د قوم مشرانو چې انکار کړی و، هغوی وويل چې دا خو زموږ په شان انسان دی. دا غواړي چې په تاسې برتري

ومومي. او که الله غوښتي وای نو ملايکې به يې را لېږلې. موږ دا خبره له خپلو پخوانيو مشرانو نه ده اورېدلې. ۲۵- دا خو يو کس دی چې په جنون اخته دی. نو تر يوه وخته ورته انتظار وکړئ.
۲۶- نوح وويل چې ای زما ربه ته ماسره مرسته وکړه چې هغوی زه دروغجن وبللم. ۲۷- نو موږ هغه ته وحې وکړله چې ته کښتۍ جوړه کړه زموږ په نګرانۍ کې او زموږ له هدايت سره سمه. نو کله چې زموږ حکم راشي او له ځمکې اوبه په خوټېدو شي نو له هر ډول ځناورو يوه يوه جوړه واخله او (کښتۍ کې) سپور شه. او د خپلې کورنۍ غړي هم، بې له هغو چې په هکله يې مخکې فيصله شوې ده. او چا چې ظلم کړی دی، د هغوی په هکله ماسره خبرې مه کوه. بېشکه هغوی به ډوبېږي.
۲۸- کله چې ته او ستا ملګري په کښتۍ کې سپاره شئ نو ووايئ د الله شکر دی چې موږ يې له ظالمانو وساتلو. ۲۹- او ووايه چې ای زما ربه، ته ما ښکته کړه په برکت ښکته کېدو سره او ته غوره ښکته کونکی يې.
۳۰- بېشکه په دې کې نښې دي او بېشکه موږ بندهګان ازمايو.
۳۱- بيا موږ له هغوی وروسته بله ډله پيدا کړله. ۳۲- بيا موږ هغوی ته د هغوی له منځه يو رسول ور ولېږه، چې تاسې د الله عبادت وکړئ. له هغه بغير ستاسې هېڅ معبود نشته. ايا تاسې نه وېرېږئ. ۳۳- او د هغه د قوم مشرانو چې انکار يې کړی او د آخرت ملاقات يې دروغ بللی و، او موږ ورته د دنيا په ژوند کې خوشحالي ورکړې وه، ويې ويل چې دا خو موږ غوندې انسان دی. هغه خوري چې تاسې يې خورئ، او هغه څښي چې تاسې يې څښئ. ۳۴- او که تاسې د ځان غوندې سړي خبره ومنئ نو په لوی تاوان کې به يئ.
۳۵- ايا دا شخص تاسې ته وايي چې کله تاسې مړه شئ او خاورې او هډوکي شئ بيا به را ويستل کېږئ. ۳۶- ډېره بعيده او ډېره بعيده ده هغه

خبره چې تاسې ته کېږي. ۳۷- ژوند خو همدا زموږ د دنیا ژوند دی. همدلته موږ مرو او ژوند کوو. او موږ بیا را پورته کېدونکي نه یو. ۳۸- دا خو بس داسې یو کس دی چې په الله یې دروغ تړلي دي. او موږ یې منونکي نه یو.
۳۹- رسول وویل، ای زما ربه، ماسره مرسته وکړه چې هغوی زه دروغجن وبللم. ۴۰- ویې فرمایل چې دا خلک به زر پښېمانه شي. ۴۱- نو هغوی یوه سخت آواز د حق مطابق ونیول. بیا موږ هغوی خش و خاشاک کړل. نو لرې شئ ظالمه قومه.
۴۲- بیا موږ له هغوی وروسته نور قومونه پیدا کړل. ۴۳- هېڅ یو قوم نه له خپلې وعدې مخکې کېږي او نه وروسته پاتې کېږي. ۴۴- بیا موږ پرله پسې خپل رسولان ولېږل. هر وخت چې کوم قوم ته رسول ورغلی نو هغوی دروغجن بللی دی. نو موږ یو پسې بل ولېږل. او موږ هغوی کیسې کړل. نو لرې دې شي هغه خلک چې ایمان نه راوړي.
۴۵- بیا موږ موسی او د هغه ورور هارون ولېږل له خپلو نښو او ښکاره دلیلونو سره. ۴۶- فرعون او د هغه درباریانو ته نو هغوی کبر وکړ او هغوی مغرور خلک وو. ۴۷- نو هغوی وویل چې ایا موږ د خپل ځان په شان دوؤ انسانانو خبره ومنو، سره د دې چې د دوی د قوم خلک زموږ تابع دي. ۴۸- نو هغوی (د فرعون قوم) دوی (موسی او هارون) دروغجن وبلل، بیا هغوی هلاک کړی شول. ۴۹- او موږ موسی ته کتاب ورکړ چې لاره ومومي.
۵۰- او موږ د مریم زوی او د هغه مور یوه نښه کړله او موږ ورته په لوړه ځمکه د اوسېدو ځای ورکړ چې د سکون ځای و او هلته چینه بهېدله.

۵۱- ای پېغمبرانو، پاک شیان وخورئ او نېک کارونه کوئ. زه پوهېږم چې تاسې څه کوئ. ۵۲- او دا ستاسې دین یو دین دی. او زه ستاسې رب یم، نو له ما ووېرېږئ.
۵۳- بیا خلکو خپل دین په منځ کې ټوټې ټوټې کړ. هرې ډلې سره چې څه دي په هغه ویاړي. ۵۴- نو هغوی په خپله بې هوشۍ کې څو ورځې پرېږده. ۵۵- ایا هغوی دا ګڼي چې موږ هغوی ته مال او اولاد ورکوو.
۵۶- نو موږ هغوی ته په ګټې رسولو اخته یو، بلکې هغوی په دې خبره نه پوهېږي.
۵۷- بېشکه څوک چې د خپل رب له هیبته وېرېږي. ۵۸- او څوک چې د خپل رب په آیتونو یقین لري. ۵۹- او څوک چې له خپل رب سره څوک نه شریکوي. ۶۰- او څوک چې ورکوي هغه څه چې ورکوي او د هغوی زړه لړزېږي چې خپل رب ته ستنېدونکي دي. ۶۱- دا خلک د کامیابو په لاره مخکې روان دي او هلته رسېدونکي دي تر ټولو مخکې.۶۲- او موږ په چا د هغه له وسه زیات پېټي نه اچوو. او له موږ سره یو کتاب دی چې بیخي رښتیا وایي. او په هغوی به ظلم نه کېږي.
۶۳- بلکې د هغوی زړونه د دې په هکله غفلت کې دي. او له دې بغیر د هغوی ځیني نور عملونه هم دي هغوی به یې کوي. ۶۴- تر دې چې بیا موږ د هغوی خوشحال خلک په عذاب کې ونیسو نو هغوی به فریاد وکړي. ۶۵- اوس فریاد مه کوئ. اوس به زموږ له اړخه تاسې سره مرسته نه کېږي. ۶۶- تاسې ته زما آیتونه اورول کېدل نو تاسې به شا کوله او تښتېدئ. ۶۷- له هغه به مو کبر کاوه. لکه قصه ګو چې پرېږدئ.
۶۸- نو ایا هغوی په دې کلام غور ونه کړ. یا هغوی ته داسې څه راغلل چې تر هغوی مخکې پلار نیکه ته نه وو راغلي. ۶۹- یا هغوی خپل رسول ونه پېژنده. له دې امله هغه نه مني. ۷۰- که هغوی وایي چې دا

په جنون اخته دی. بلکې هغه ورته حق راوړی و. او په دوی کې زیاترو باندې د حق خبره بده لګېږي. ۷۱- او که حق د هغوی د خواهشونو تابع وای نو آسمان او ځمکه او څه چې په کې دي ټول به تباه شوي وای. بلکې موږ هغوی ته یو نصیحت لیږلی دی نو هغوی له خپل نصیحته مخ اړوي.
۷۲- ایا ته له هغوی کوم مال غواړې نو ستا د رب مال ستا لپاره غوره دی. او هغه بهترین روزي ورکونکی دی. ۷۳- او یقیناً ته هغوی سمې لارې ته را بولې. ۷۴- او څوک چې په آخرت یقین نه لري هغوی له لارې لري شوي دی.
۷۵- او که موږ په هغوی رحم وکړو او په هغوی چې څه تکلیف دی، هغه ترې لرې کړو بیا به هم هغوی په خپلو سرکشیو اخته وي بې لارې شوي. ۷۶- او موږ هغوی په عذاب کې ونیول، خو نه هغوی خپل رب ته ټیټ شول او نه یې عاجزي وکړله. ۷۷- تر دې چې کله موږ په هغوی د سخت عذاب دروازه ور پرانیزو نو هغه وخت به حیران پاتې شي.
۷۸- او هغه دی چې ستاسې لپاره یې غوږونه سترګې او زړه جوړ کړل. تاسې ډېر لږ شکر وباسئ. ۷۹- او هغه دی چې تاسې یې په ځمکه خپاره کړئ. او تاسې به هغه ته ور ټولېږئ. ۸۰- او هغه دی چې پیدا کول کوي او مړه کول کوي او د هغه په واک کې دي د شپې او ورځې بدلېدل. نو (ایا) تاسې نه پوهېږئ.
۸۱- بلکې هغوی هغه خبره وکړله چې مخکینیو کړې وه. ۸۲- هغوی وویل چې ایا کله موږ مړه شو او موږ خاورې او هډوکي شو نو د قیامت په ورځ به بیا را پورته کیږو. ۸۳- دا وعده موږ سره او له موږ مخکې زموږ پلار نیکه سره هم شوې وه. دا یوازې د تېرو خلکو افسانې دي.

۸۴- ووایه چې ځمکه او څه چې په کې دي دا (ټول) د چا دي، که تاسې پوهېږئ. ۸۵- هغوی به ووایي د الله دي. ووایه چې ایا تاسې فکر نه کوئ. ۸۶- ووایه چې څوک د اوو آسمانونو مالک دی او څوک د عرش عظیم مالک دی. ۸۷- هغوی به ووایي چې ټول د الله دي. ووایه، ایا تاسې نه وېرېږئ. ۸۸- ووایه چې څوک دی چې د هر څه واک یې په لاس کې دی او هغه پناه ورکوي او د هغه په مقابل کې هېڅوک پناه نه شي ورکولای، که تاسې پوهېږئ. ۸۹- هغوی به ووایي چې دا الله لره دي. ووایه چې بیا تاسې له کوم ځایه مسحورېږئ.
۹۰- بلکې موږ دوی ته حق راوړی او بېشکه هغوی دروغجن دي. ۹۱- الله ځان ته زوی نه دی جوړ کړی او له هغه سره بل معبود نشته. که داسې وای نو هر معبود به خپل مخلوق اخیستی او جدا کېدای. او په یو بل به یې بریدونه کولای. الله پاک دی له هغوی چې دوی یې وایي. ۹۲- هغه په پټو او ښکاره پوهېږي. هغه تر دې ډېر لوړ دی څوک چې دوی یې ورسره شریک بولي.
۹۳- ووایه چې ای زما ربه، که ته موږ ته هغه را وښیې چې له دوی سره یې وعده کېږي. ۹۴- نو ای زما ربه، ما په ظالمانو کې مه شاملوه.
۹۵- او بېشکه موږ قادر یو چې له هغوی سره څه وعده کوو تاته یې هم در وښیو.
۹۶- ته بدۍ په هغه طریقه دفع کړه چې غوره وي. موږ ښه پوهېږو په هغو چې دا خلک یې وایي. ۹۷- او ووایه چې ای زما ربه، زه پناه غواړم د شیطانانو له وسوسو. ۹۸- او ای زما ربه، زه ستا پناه غواړم د هغوی نه چې ماته راشي.
۹۹- تر دې چې کله په هغوی کې کوم یوه ته مرګ راشي نو وایي چې ای زما ربه، ما بېرته ولېږه. ۱۰۰- چې ما څه پرېښي په هغه کې نېکۍ

وګټم. هېڅکله نه، دا یوازې یوه خبره ده چې هغوی یې کوي. او د هغوی مخې ته یوه پرده ده تر هغې ورځ چې هغوی بېرته را پورته کېږي.
۱۰۱- بیا چې کله صور پوو شي نو بیا به د هغوی تر منځ نه کومه اړیکه وي او نه به یې څوک پوښتنه کوي. ۱۰۲- نو د چا چې تله درنه وي هغه خلک به کامیاب وي. ۱۰۳- او د چا تله چې سپکه وي نو همدا هغه خلک دي چې ځان یې په تاوان کې واچاوه، هغوی به دوزخ کې تل اوسېږي.
۱۰۴- د هغوی مخونه به اور وسوځي او هغوی به په دې (اور) کې بدشکله کېږي.
۱۰۵- ایا تاسې ته زما آیتونه نه در اورول کېدل چې تاسې دروغ بلل.
۱۰۶- هغوی به وایي ای زموږ ربه، زموږ بدبختي له موږ را تاوه وه او موږ ګمراه خلک وو. ۱۰۷- ای زموږ ربه موږ له دې وباسه، که موږ چېرې بیا داسې وکړل نو بېشکه موږ (به) ظالمان یو. ۱۰۸- الله به ووایي چې لرې شئ، په همدې کې پراته اوسئ او ماسره خبرې مه کوئ.
۱۰۹- زما په بندګانو کې یوه ډله وه چې ویل به یې ای زموږ ربه، موږ ایمان راوړ، نو ته موږ وبښه او په موږ رحم وکړه او ته بهترین رحم کونکی یې. ۱۱۰- نو تاسې هغوی پورې خندا وکړله. تر دې چې په هغه پسې تاسې موږ هېر کړو او تاسې همداسې خندل. ۱۱۱- ما نن هغوی ته د هغوی د صبر بدل وکړ چې هغو کامیابېدونکي دي.
۱۱۲- ارشاد به وشي چې د شمېر له مخې تاسې څومره وخت په ځمکه اوسېدئ. ۱۱۳- هغوی به ووایي چې یوه ورځ ووسېدو یا له هغې هم لږ. نو له شمېرونکو پوښتنه وکړئ. ۱۱۴- ارشاد به وشي تاسې لږ وخت ووسېدئ. کاشکې تاسې پوهېدای.
۱۱۵- نو تاسې څه فکر کوئ چې موږ تاسې بې مقصده پیدا کړي یئ او تاسې به موږ ته نه راوړل کېږئ. ۱۱۶- نو ډېر برتر دی الله، حقیقي

پاچا، له هغه بغیر بل معبود نشته. هغه د عرش عظیم مالک دی. ۱۱۷-
او څوک چې الله سره بل معبود را وبولي، چې په هکله یې له ده سره
هېڅ دلیل نه وي، د هغه حساب د هغه له رب سره دی. بېشکه منکران
به نه کامیابېږي. ۱۱۸- او ووایه ای زما ربه، ما وبښه او په ما رحم
وکړه، ته بهترین رحم کونکی یې.

## سوره النور ۲۴

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- دا یو سورت دی چې موږ نازل کړی او دا موږ فرض کړی دی. او
په دی کې موږ ښکاره آیتونه نازل کړي چې تاسې یې یاد وساتئ.
۲- زاني (زناکارې) ښځه او زاني (زناکار) سړی هر یو سل دُرې
ووهئ. او تاسې د الله د دین په معامله کې باید په هغوی رحم ونه کړئ،
که په الله او د آخرت په ورځ ایمان لرئ. او په کار ده چې دواړو ته د
جزا ورکولو په وخت د مسلمانانو یوه ډله موجوده وي. ۳- زاني (سړی)
دې نکاح نه کوي مګر له زانیه (ښځې) سره یا مشرکې سره. او زانیه
(ښځې) سره دې نکاح نه کوي مګر زاني (سړی) یا مشرک. او دا حرام
شوي د ایمان په خاوندانو.
۴- او څوک چې په پاکلمنې ښځې تور پورې کړي، بیا څلور ګواهان
را نه وړي، نو هغوی ته اتیا دُرې ووهئ او د هغوی ګواهي هېڅکله مه
منئ. همدا خلک نافرمانه دي. ۵- خو څوک چې له هغې وروسته توبه
وکړي او اصلاح وکړي نو الله بښونکی او مهربان دی.
۶- او څوک چې په خپلو مېرمنو تور پورې کړي او له ځان بغیر بل
ګواه ورسره نه وي نو د داسې کس د ګواهۍ صورت دا دی چې هغه دې
څلور ځله په الله قسم وکړي او ووایي چې بېشکه هغه رښتینی دی. ۷-

او په پنځم ځل دې دا ووايي چې په ده د د الله لعنت ووي که دروغجن وي. ۸- او له ښځې به جزا په دې توګه لرې کېږي چې هغه څلور ځله په الله قسم وکړي او ووايي چې دا سړی دروغجن دی. ۹- او په پنځم ځل دا ووايي چې په ما دې د الله غضب وي که دا سړی رښتینی وي. ۱۰- او که په تاسې د الله فضل او د هغه رحمت نه وای او دا چې الله توبه قبلونکی او د حکمت خاوند دی.

۱۱- چا چې دا توپان را پورته کړی هغه په تاسې کې یوه ډله ده. تاسې دا د ځان لپاره بده مه ګڼئ بلکې دا ستاسې لپاره غوره ده. په هغوی کې د هر کس لپاره هغه ده څومره ګناه یې چې ګټلې ده. او چا چې په دې (تور پورې کولو) کې برخه اخیستې د هغوی لپاره لوی عذاب دی.

۱۲- تاسې چې کله هغه واورېده نو مسلمانو سړیو او مسلمانو ښځه د یو بل په هکله نېک ګمان ولې ونه کړ او ولې یې ونه ویل چې دا ښکاره تور (تهمت) دی. ۱۳- دې خلکو په هغوی څلور ګواهان ولې را نه وړل. نو کله چې هغوی ګواهان را نه وړل د الله په نزد هماغو دروغجن دی.

۱۴- او که په تاسې دنیا او آخرت کې د الله فضل او د هغه رحمت نه وای نو په کومو خبرو کې چې تاسې پرېوتي یئ، د هغه له وجې به په تاسې کوم لوی آفت راغلی وای. ۱۵- سره د دې چې تاسې هغه په خپلو ژبو نقل کول. او په خپله خوله مو داسې خبره کوله چې تاسې یې هېڅ علم نه لاره. او تاسې دا معمولي خبره ګڼله. سره د دې چې دا د الله په نزد ډېره لویه خبره ده. ۱۶- او کله چې تاسې هغه واورېدله نو ولې مو ونه ویل چې موږ ته مناسبه نه ده چې داسې خبره له خولې را وباسو. معاذالله، دا ډېر لوی تور دی. ۱۷- الله تاسې ته نصیحت کوي چې بیا داسې مه کوئ که تاسې مومنان یئ. ۱۸- الله تاسې ته ښکاره ښکاره احکام بیانوي. او الله پوهېدونکی او د حکمت خاوند دی.

۱۹- بېشکه څوک چې دا غواړي چې په مسلمانانو بې حیایي خپره شي، هغوی ته په دنیا او آخرت کې له دردده ډکه جزا ده. او الله پوهېږي او تاسې نه پوهېږئ. ۲۰- او که په تاسې د الله فضل او د هغه رحمت نه وای او دا چې الله نرمي کونکی او د رحمت خاوند دی.
۲۱- ای د ایمان خاوندانو، تاسې د شیطان په پلونو مه ځئ. او څوک چې د شیطان په پلونو لاړ شي نو هغه به ورته د بې حیایی او بدۍ کولو خبره کوي. او که په تاسې د الله فضل او د هغه رحمت نه وای نو په تاسې کې هېڅ یو شخص نه پاکېده. خو الله چې څوک وغواړي هغه پاکوي. او الله اورېدونکی او پوهېدونکی دی.
۲۲- او په تاسې کې چې څوک د فضل او پراختیا خاوندان دي، هغوی د دې خبرې قسم نه کوي چې خپلوانو او مسکینانو او د الله په لاره کې هجرت ورکونکو ته به څه نه ورکوي. او په کار ده چې هغوی ببښنه وکړي او نرمي وکړي. تاسې نه غواړئ چې الله تاسې وبښي. او الله ببښونکی، مهربان دی.
۲۳- بېشکه څوک چې په پاکلمنو، بېخبره او ایمان لرونکو ښځو باندې تور پورې کوي، په هغوی دنیا او آخرت کې لعنت (شوی) دی. او د هغوی لپاره لوی عذاب دی. ۲۴- په هغه ورځ چې کله د هغوی ژبې د دوی په ضد ګواهي ورکړي او د هغوی لاسونه او پښې هم د هغو کارونو چې دی خلکو کول. ۲۵- په هغه ورځ به الله هغوی ته واجبي بدله پوره پوره ورکړي. او هغوی به پوه شي چې الله حق دی او ښکاره کونکی دی.
۲۶- خبیثې ښځې د خبیثو سړیو لپاره دی او خبیث سړي د خبیثو ښځو لپاره دي. او پاکې ښځې د پاکو سړیو لپاره دي او پاک سړي د پاکو ښځو

لپاره. دا خلک له هغو خبرو بري دي چې هغوی يې کوي. د دوی لپاره بخشش دی او د عزت روزي ده.

۲۷- ای د ایمان خاوندانو، تاسې له خپلو کورونو بغیر نورو کورونو ته مه ور ننوځئ چې تر څو اجازه ترلاسه نه کړئ او د کور په خلکو سلام وانه چوئ. دا ستاسې لپاره غوره ده چې یاد یې وساتئ. ۲۸- بیا که هلته څوک ونه مومئ او تر هغې مه ور ننوځئ چې اجازه در نه کړل شي. او که تاسې ته وویل شي چې ستانه شئ نو تاسې ستانه شئ. دا تاسې لپاره غوره ده. او الله پوهیږي څه چې تاسې کوئ. ۲۹- په تاسې هغو کورونو ته په ننوتو هېڅ ګناه نشته چې څوک په کې نه اوسيږي. (که) په کې ستاسې د ګټې څه وي. او الله پوهيږي څه چې تاسې ښکاره کوئ او څه چې تاسې پټوئ.

۳۰- مومنو سړيو ته ووايه چې خپل نظر ښکته وساتي او د خپلو شرمګاؤ ساتنه وکړي. دا د هغوی لپاره پاکوالی دی. ببشکه الله خبر دی په هغه چې تاسې يې کوئ.

۳۱- او مومنو ښځو ته ووايه چې هغوی خپل نظرونه ښکته وساتي او د خپلو شرمګاؤ ساتنه وکړي او خپل ښاپست ښکاره نه کړي، مګرڅه چې ترې ښکاره شي. او خپل ټيکري په خپلو سينو اچولي وساتي. او خپل زينت ښکاره نه کړي ملګر خپلو مېړونو ته يا خپلو پلرونو يا د خپل مېړه پلار ته يا خپلو زامنو ته يا د خپل مېړه زامنو ته يا خپلو ورونو ته يا د خپلو ورونو زامنو ته يا د خپلو خوېندو زامنو ته يا خپلو ښځو ته يا خپلو مالکانوته يا تر لاس لاندې سړيو ته چې څه غرض ونه لري. يا داسې هلکانو ته چې د ښځو د پردې په خبره لا پوه نه وي. هغوی دې خپلې پښې (داسې) په زوره نه ږدي چې پټ زينت يې معلوم شي، او ای د ايمان خاوندانو تاسې ټول په ګډه الله ته رجوع وکړئ چې فلاح ومومئ.

۳۲- او په تاسې کې چې څوک بې نکاح وي نکاح يې وکړئ. او ستاسې په غلامانو او وينځو کې چې څوک د نکاح لايق وي د هغوی هم. که هغوی غريب وي نو الله به يې په خپل فضل غني کړي. او الله د پراختيا خاوند، پوهېدونکی دی. ۳۳- څوک چې د نکاح موقع ونه مومي، هغوی دې پاک اوسي تر هغې چې الله يې په خپل فضل غني کړي. او ستاسې په غلامانو کې چې هر يو د مُکاتَب کېدو غوښتونکی وي نو هغه مُکاتَب کړئ که صلاحيت په کې ګورئ. او هغوی ته له هغه مال ورکړئ چې الله تاسې ته درکړی دی. او خپلې وينځې بدلمنۍ ته مه مجبوروئ که هغوی پاکلمنې اوسېدل غواړي، يوازې په دې خاطر چې د دنيوي ژوند لږه ګټه ترلاسه کړئ. او څوک چې هغوی مجبورې کړي نو الله له جبر وروسته ښنونکی او مهربان دی. ۳۴- او بېشکه موږ په تا ښکاره ښکاره آيتونه نازل کړي دي او د هغو خلکو مثالونه هم چې له تا مخکې تېر شوي او وېرېدونکو ته نصيحت هم.
۳۵- الله د آسمانونو او ځمکې رڼا ده. د هغه د رڼا مثال داسې دی لکه يو طاق چې په هغه کې يو څراغ دی. څراغ په شيشه کې دننه دی. شيشه داسې ده لکه ځلېدونکی ستوری. هغه د زېتونو د داسې يوې مبارکې ونې په تېلو روښانه کېږي چې نه شرقي ده او نه غربي. د هغه تېل داسې دي ګويا د اور له لمس بغير به پخپله بل شي. په رڼا باندې رڼا. الله د خپلې رڼا لار ښيي چا ته چې غواړي. او الله د خلکو لپاره مثالونه بيانوي. او الله په هر څه پوه دی.
۳۶- په داسې کورونو کې چې الله يې په هکله حکم کړی چې هغه دې لوړ کړی شي او په کې دې د الله ذکر وشي او په هغو کې سهار او ماښام د الله ثنا ويل کېږي. ۳۷- کوم خلک چې تجارت او اخيستل او خرڅول د الله له ياده نه غافلوي او نه يې د لمونځ له اقامته (غالفوي) او نه يې د

زکات له ورکړي (غالفوي). هغوی له هغې ورځې وېرېږي په کومه ورځ به چې زړونه او سترګې اپوټه شي. ۳۸- چې الله هغوی له د خپل عمل بهترینه بدله ورکړي او هغوی لا ډېر په خپل فضل ونازوي. او الله چې چا ته وغواړي بې حسابه ورکوي.
۳۹- او چا چې انکار کړی د هغوی اعمال داسې دي لکه په پراخه میدان کې سراب. تږی یې اوبه ګڼي تر دې کله ور نږدې شو نو هېڅ یې ونه موندل. او هغه هلته الله موجود وموند، نو د هغه حساب یې پرې کړ. او الله زر حساب کونکی دی. ۴۰- یا لکه په یوه ژور سمندر کې چې تیاره وي، په څپې دپاسه څپه را پورته کېږي، له پاسه وریځې خپرې وي، تر پورته پورې ډېرې تیارې، که څوک خپل لاس را وباسي نو هغه به هم ونه وینی. او چا ته چې الله رڼا ور نه کړي نو د هغه لپاره هېڅ رڼا نشته.
۴۱- ایا تا ونه لیدل چې د الله پاکي بیانوي څه چې په آسمانونو او ځمکه کې دي او مرغۍ هم په خپرو وزرونو. هر یو خپل لمونځ او خپلې تسبیح پېژني. او الله ته معلوم دي څه چې هغوی کوي. ۴۲- او د الله حکومت دی په آسمانونو او ځمکه کې. او الله ته دي د ټولو ور ستنېدل.
۴۳- ایا ته نه ګورې چې الله وریځې ګرځوي. بیا سره یو ځای کوي. بیا هغه کت په کت کوي. بیا ته باران ګورې چې د هغو له منځه راوځي او هغه له آسمانه ــ په هغه کې دننه له غرونو ــ ږلۍ را وروي. بیا چې هغه په چا وغواړي غورځوي. او له چا چې یې وغواړي لرې کوي. د هغه د برېښنا پړق داسې ښکاري چې سترګې به ړندې کړي. ۴۴- الله شپه او ورځ بدلوي. بېشکه په دې کې سبق دی د سترګو خاوندانو ته.
۴۵- او الله هر ژوندی له اوبو پیدا کړ. بیا په هغوی کې ځینې په خپلو خېټو کښېږي. او په هغوی کې ځینې په دوؤ پښو ګرځېږي. او په هغوی کې ځینې په څلورو پښو ګرځېږي. الله پیدا کوي هر څه چې غواړي.

بېشکه الله په هر څه قادر دی. ۴۶- موږ ښکاره ويونکي آيتونه نازل کړي دي. او الله چې چا ته وغواړي د سمې لارې هدايت کوي.
۴۷- او هغوی وايي چې موږ په الله او رسول ايمان راوړی او موږ اطاعت وکړ. خو په هغوی کې يوه ډله له هغې وروسته ګرځېږي. او دا خلک ايمان راوړونکي نه دي. ۴۸- او کله چې هغوی الله او رسول طرف ته بلل کېږي، چې د الله رسول د دوی ترمنځ فيصله وکړي نو په هغوی کې يوه ډله مخ اړوي. ۴۹- او که حق هغوی ته ورکول کېدونکی وي نو هغوی يې بيا لور ته په فرمانبرداریَ راځي. ۵۰- ايا د هغوی په زړونو کې مرض دی يا هغوی په شک کې پرېوتي دی که دا اندېښنه لري چې الله او د هغه رسول به ورسره ظلم وکړي. بلکې همدا خلک ظالمان دي.
۵۱- د ايمان د خاوندانو قول خو دا دی چې کله هغوی الله او د هغه د رسول طرف ته را وبلل شي چې رسول يې ترمنځ فيصله وکړي نو هغوی ووايي چې موږ واورېدل او موږ ومنل. او همدا خلک کامیابېدونکي دي. ۵۲- او څوک چې د الله او د هغه د رسول طاعت وکړي او له الله ووېرېږي او د هغه له مخالفت ځان وساتي، نو همدا خلک دي چې کامياب به شي.
۵۳- هغوی په الله قسمونه کوي، ډېر کلک قسمونه، چې که ته ورته حکم وکړې نو حتماً به راوځي. ووايه چې قسمونه مه کوئ، له دستور سم اطاعت په کار دی. بېشکه الله ته معلوم دي څه چې تاسې کوئ. ۵۴- ووايه چې د الله اطاعت وکړئ او د رسول اطاعت وکړئ. بيا که تاسې مخ واړوئ نو په رسول هغه پېتی دی چې په هغه اچول شوی دی او په تاسې هغه پېتی دی چې په تاسې اچول شوی دی. او که تاسې د هغه

اطاعت وکړئ نو هدایت به ومومئ. او د رسول مسوولیت یوازې ښکاره ښکاره رسول دي.
۵۵- الله وعده کړې په تاسې کې له هغو خلکو سره چې ایمان راوړي او نېک عمل وکړي چې هغه به ورته د ځمکې اقتدار ورکړي، لکه څنګه یې چې له هغوی مخکې خلکو ته اقتدار ورکړی و. او د هغوی لپاره به د هغوی دین کلک کړي کوم یې چې ورته خوښ کړی دی. او د هغوی د وېرې حالت به وروسته په امن بدل کړي. هغوی به یوازې زما عبادت کوي او له ماسره به څه نه شریکوي. او څوک چې له هغې وروسته انکار وکړي نو داسې خلک نافرمانه دي.
۵۶- او لمونځ قایم کړئ او زکات ورکړئ او د رسول اطاعت وکړئ چې رحم دربانديې وشي. ۵۷- او څوک چې انکار کوي د هغوی په هکله دا ګمان مه کوه چې هغوی به په ځمکه الله عاجز کړي. او د هغوی ځای اور دی او هغه ډېر بد ځای دی.
۵۸- ای د ایمان خاوندانو، ستاسې په مملوکانو (وینځو او غلامانو) کې او په تاسې کې چې څوک بلوغ ته نه وي رسېدلي هغوی باید په درېیو وختونو کې اجازه واخلي ــ د سهار له لمانځه مخکې، او ماسپښین چې تاسې جامې وباسئ او د ماخوستن له لمانځه وروسته ــ دا درې وختونه ستاسې لپاره د پردې دي. له دې وروسته نه په تاسې کومه ګناه شته او نه په هغوی. تاسې یو بل ته په کثرت تللی راتللی شئ. په دې توګه الله تاسې ته د خپلو آیتونو وضاحت کوي. او الله پوه او د حکمت خاوند دی.
۵۹- او کله چې ستاسې بچي د عقل حد ته ورسېږي نو هغوی دې هم داسې اجازه واخلي لکه د دوی مخکینیو چې اخیستله. په دې توګه الله تاسې ته د خپلو آیتونو وضاحت کوي او الله علیم او حکیم دی. ۶۰- او عمر خوړلې ښځې چې د نکاح تمه نه لري، په هغوی څه ګناه نشته که

خپل ټیکری (چادر) لرې کړي، په دې شرط چې د ښاېست ښودونکې نه وي. او که هغوی هم احتیاط وکړي نو ورته بهتره ده. او الله اورېدونکی او پوهېدونکی دی.
۶۱- په ړندو څه تنګي نشته او په ګوډانو څه تنګي نشته او په ناروغ څه تنګي نشته او نه په تاسې څه تنګي شته چې تاسې له خپلو کورونو وخورئ یا د خپل پلار نیکه له کورونو، یا د خپلو مېندو له کورونو، یا د خپلو ورونو له کورونو، یا د خپلو کاکاګانو له کورونو، یا د خپلو ترورګانو له کورونو، یا د خپلو ماماګانو له کورونو، یا د خپلو خاله ګانو له کورونو یا چې د کومو کورونو د کونجیانو مالک یئ، یا د خپلو ملګرو له کورونو، په تاسې څه ګناه نشته که یوځای یې خورئ که جدا جلا. بیا چې تاسې خپلو کورونو ته ننوځئ نو په خپلو خلکو سلام واچوئ چې بابرکته دعا ده د الله له طرفه. په دې توګه الله ستاسې لپاره د آیتونو وضاحت کوي چې تاسې پوه شئ.
۶۲- د ایمان خاوندان هغو دي چې په الله او د هغه په رسول ایمان راوړي. او کله چې هغوی د کوم ټولنیز کار په وخت له رسول سره وي نو تر څو چې له هغه اجازه وا نخلي له هغه ځایه دې نه ځي. څوک چې له تا اجازه اخلي، هغوی په الله او د هغه په رسول ایمان لري. نو کله چې هغوی د خپل کوم کار لپاره له تا اجازه واخلي نو اجازه ورته ورکړه. او د هغوی لپاره له الله مغفرت وغواړه. بېشکه الله ښونکی او مهربان دی.
۶۳- تاسې د رسول بلنه داسې مه ګڼئ لکه څنګه چې تاسې په خپلو کې یو بل را بولئ. الله په تاسې کې هغه خلک پېژني چې د یو بل په بهانې پټ پټ ځي. نو په تاسې کې چې څوک د هغه له کوم حکم سرغړونه کوي، هغوی د وویرېږي چې کوم امتحان (به) پرې راشي. یا هغوی یو له دردہ ډک عذاب ونیسي. ۶۴- یاد ساتئ چې څه په آسمانونو کې دي او

څه په ځمکه کې دي ټول د الله دي. الله په هغه حالت پوهېږي چې تاسې په کې يئ. او په کومه ورځ به چې خلک د هغه لور ته راوړل کيږي نو څه چې هغوی کړي وو، هغه به پرې دوی خبر کړي. او الله په هر څه خبر دی.

## سوره الفرقان ۲۵

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- ډېر بابرکته دی هغه ذات چې په خپل بنده يې فرقان نازل کړ چې هغه د دنيا خلکو لپاره وېرونکی شي. ۲- هغه چې د آسمانو او ځمکې پاچاهي د هغه لره ده. او هغه څوک زوی نه دی جوړ کړی او په پاچاهۍ کې يې هېڅ شريک نشته. او هغه هر څه پيدا کړل او د هغه يوه اندازه يې وټاکله. ۳- او خلکو له هغه بغير داسې معبودان جوړ کړل چې څه نه پيدا کوي، هغوی پخپله پيدا کولی شي. او هغوی د ځان لپاره د کوم تاوان اختيار نه لري او نه د ګټې. او نه د چا د مړينې اختيار لري او نه د ژوند کولو او نه له مرګ وروسته بيا را ژوندي کولو.
۴- او منکران وايي چې دا يوازې يو دروغ دي چې هغه (له ځانه) جوړ کړي. او ځينو نورو خلکو ورسره په دې کې مرسته کړې ده. نو دا خلک ظالمان او د دروغو مرتکب شول. ۵- او هغوی وايي چې دا د تېرو خلکو بې سنده خبرې دي هغه په چا ليکلې دي. ۶ - ووايه چې دا هغه (ذات) نازل کړی چې د آسمانو او ځمکې په رازونو خبر دی. بېشکه هغه بښونکی، مهربان دی.
۷- او هغوی وايي دا څنګه رسول دی چې خواړه خوري او په بازارونو کې ګرځيږي. ولې ورسره کومه ملايکه نه ده را ليږل شوې چې ده سره ګرځيدی او خلک يې وېرولای. ۸- يا د ده لپاره کومه خزانه را بښکته

شوې واى. يا د ده لپاره كوم باغ واى چې ده ترې خوراك كولاى. او ظالمانو وويل چې تاسې د يوه جادو ځپلي انسان پيروي كوئ. ۹- وګوره هغوى ستا په هكله څنګه مثالونه بيانوي. نو هغوى بې لارې شوي دي، بيا هغوى لار نه شي موندلاى.
۱۰- هغه ډېر بابركته دى. كه هغه وغواړي تاته به تر دې هم غوره څيز در كړي. داسې باغونه چې ور لاندې به نهرونه بهېږي، او تاته به ډېرې ماڼۍ در كړي. ۱۱- بلكې هغوى قيامت دروغ بللى دى. او څوك چې قيامت دروغ بولي، موږ داسې كس ته دوزخ تيار كړى دى. ۱۲- كله يې چې هغوى له لرې وګوري نو د هغه غړمبار او شور به واوري. ۱۳- او بيا چې هغوى د هغه (دوزخ) كوم تنګ ځاى ته تړلي ور وغورځول شي نو هلته به مرګ وغواړي. ۱۴- نن يو مرګ مه غواړئ، او ډېر مرګونه وغواړئ. ۱۵- ووايه ايا دا غوره دى كه د تل لپاره جنت چې الله يې له وېرېدونكو سره وعده كړې ده، دا به د هغوى لپاره بدله او د اوسېدو ځاى وي. ۱۶- د دوى لپاره به په هغه كې هغه څه وي چې دوى يې غواړي، په داسې حال كې چې دوى به په كې تل وي، دا ستا درب په ذمه وعده ده.
۱۷- او په كومه ورځ به چې هغه دوى ټول راټول كړي او د هغوى هغه معبودان هم چې له الله بغير يې د هغه عبادت كاوه، بيا به هغه ووايي، ايا تا زما بندهګان ګمراه كړي كه هغوى خپله بې لارې شوي. ۱۸- هغوى به ووايي چې ستا ذات پاك دى. موږ ته دا مناسبه نه ده چې له تا بغير بل څوك كارساز وړاندې كړو. خو تا دوى او د دوى پلار نيكه ته د دنيا سامان وركړ، تر دې چې هغوى نصيحت هېر كړ او هلاكېدونكي شول.
۱۹- نو هغوى (معبودانو) تاسې ستاسې په خبرو كې دروغجن وبللئ. نو

اوس یې نه لرې کولای شئ او نه به څه مرسته ومومئ. او په تاسې کې چې هر څوک ظلم وکړي موږ به په هغوی د لوی عذاب خوند وڅکوؤ.
۲۰- او موږ چې تر تا مخکې څومره پیغمبران لیږلي ټولو خواړه خوړل او په بازارونو کې ګرځیدل. او موږ تاسې د یو بل لپاره ازمېښت جوړ کړیٔ. ایا تاسې صبر کویٔ. او ستاسې رب هر څه ګوري.
* ۲۱- او څوک چې زموږ مخې ته د راتللو اندېښنه نه لري، هغوی وایي چې په موږ ملایکې ولې را ښکته نه کړی شوې یا موږ خپل رب لیدلی وای. هغوی په خپل زړه کې ځانونه ډېر لوی وګڼل او هغوی په سرکشۍ کې له حده تېر شول. ۲۲- په کومه ورځ چې هغوی ملایکې وګوري. په هغه ورځ به مجرمانو ته زېری نه وي. او هغوی به وایي چې پناه، پناه.
۲۳- او موږ به د هغوی هر عمل ته ور مخکې کېږو چې هغوی کړی و او بیا به هغه پورته الوتونکې خاورې کړو. ۲۴- جنتیان به هغه ورځ په بهترین استوګنځای کې وي. او ډېره ښه آرامګاه کې.
۲۵- او په کومه ورځ به چې آسمان په وریځو وچوي. او ملایکې به پرله پسې ښکته کړی شي. ۲۶- په هغه ورځ به حقیقي پاچاهي یوازې د رحمان وي. او هغه ورځ به په منکرانو ډېره سخته وي. ۲۷- او په کومه ورځ به چې ظالمان په خپلو لاسونو غاښ لګوي، وایي به چې کاش، زه د رسول په لاره تللی وای. ۲۸- های افسوس، کاشکې مې فلانی شخص نه وای ملګری کړی. ۲۹- هغه زه له نصیحته لرې کړم، له هغې وروسته چې (نصیحت) راته راغلی و. او شیطان د انسان تېر ایستونکی دی. ۳۰- او رسول به وایي چې ای زما ربه، زما قوم دا قرآن له نظره وغورځاوه.
۳۱- او په دې توګه موږ مجرمانو کې د هر نبي دښمنان جوړ کړل. او ستاسې رب د لارښوونې او مرستې کولو لپاره کافی دی.

۳۲- او انکار کونکو وویل چې په هغه پوره قرآن ولې نازل نه شو. دا په دې خاطر چې د دې په وسیله موږ ستاسې زړونه قوي کړو او موږ دا په دمه دمه نازل کړی دی. ۳۳- او دا خلک چې له تا هر څنګه عجیبه پوښتنه وکړي، موږ به يې سم ځواب او بهترين وضاحت تاته ووايو.
۳۴- کوم خلک به چې پړمخې دوزخ ته ورل کيږي، د هغوی لپاره بد ځای دی. او هماغو له لارې خطا شوي دی.
۳۵- او موږ موسی ته کتاب ورکړ. او له هغه سره مو د هغه ورور هارون مرستندوی کړ. ۳۶- بيا موږ هغه ته وويل چې تاسې دواړه هغو خلکو ته لاړ شئ چې زموږ آيتونه يې دروغ بللي دي. بيا موږ هغوی (منکران) بالکل تباه کړل. ۳۷- او د نوح قوم هم موږ ډوب کړ چې کله هغوی رسولان دروغجن وبلل او موږ هغوی د خلکو لپاره يوه نښه کړل. او موږ ظالمانو لپاره له درده ډک عذاب تيار کړی دی. ۳۸- او عاد او ثمود او اصحاب الرس او د هغوی ترمنځ نور ډېر قومونه. ۳۹- او موږ په هغوی کې هر يوه ته مثالونه واورول او موږ هر يو بالکل برباد کړ.
۴۰- او دا خلک په هغه کلي تېر شوي چې (په کوم کلي) بد کاڼي وروول شوي وو. ايا هغوی دا نه دي ليدلي. بلکې هغه خلک د بيا را پورته کېدو تمه نه لري.
۴۱- او کله چې تا ګوري نو په تا پورې خندا کوي. ايا دا هغه دی چې الله رسول را لېږلی دی. ۴۲- ده خو به موږ له خپلو معبودانو لرې کړی وای، که موږ پرې کلک نه وای ولاړ. او زر به هغوی ته معلومه شي کله چې هغوی عذاب وګوري چې ډېر بې لارې څوک دی.
۴۳- ايا تا هغه کس نه دی ليدلی چې خپل خواهش يې خپل معبود کړی دی. نو ايا ته د هغه مسووليت اخيستی شې. ۴۴- بلکې ته داسې ګڼې چې

په هغوی کې ډېر اوري او پوهېږي. هغوی خو یوازې د ځناورو غوندې دی، بلکې تر هغو هم ډېر بېلارې دي.
۴۵- ایا تا د خپل رب طرف ته نه دي کتلي چې هغه څنګه سیوری خپروی. او که هغه غوښتی وای نو دا به یې ودرولی وای. بیا موږ لمر په دې دلیل جوړ کړ. ۴۶- بیا موږ هغه ورو ورو خپل طرف ته را کش کړ. ۴۷- او هغه دی چې ستاسې لپاره یې شپه پرده او خوب راحت کړ او ورځ یې د پاڅېدو وخت کړ. ۴۸- او هغه دی چې د خپل رحمت نه لومړی هوا د زېري په توګه رالیږي. او موږ له آسمانه پاکې اوبه را ښکته کوؤ. ۴۹- چې د هغو په وسیله په مړه ځمکه کې ساه واچوؤ. او هغه په خپل مخلوق کې ځناورو او انسانانو ته د څښلو لپاره ورکړو.
۵۰- او موږ هغوی ته دا په ډول ډول بیان کړي چې هغوی فکر وکړي. بیا زیاتره خلک بې ناشکری نه پاتې کیږي. ۵۱- او که موږ غوښتي وای نو هر کلي ته مو وېرونکی لیږه. ۵۲- نو ته د منکرانو خبره مه منه او د دې په وسیله هغوی سره لوی جهاد وکړه.
۵۳- او هغه دی چې دوه سمندرونه یې سره روان کړي. دا خوږ دی د تندې ماتوونکی او دا تریخ دی مالګین. او د دوی ترمنځ یې یوه قوي پرده ایښې ده او یو قوي بند. ۵۴- هغه دی چې انسان یې له اوبو پیدا کړ. بیا یې هغه د کورنۍ خاوند او د خسرګنۍ خاوند کړ. او ستا رب د ډېر قدرت خاوند دی.
۵۵- او هغوی الله پرېږدي او د داسې څه عبادت کوي چې نه ورته ګټه رسولای شي او نه تاوان. او منکرانو خو د خپل رب خلاف مرستندویان جوړ کړي دي. ۵۶- او موږ ته یوازې زېری ورکونکی او وېرونکی لیږلی یې. ۵۷- ووایه چې زه په دې له تاسې اجوره نه غواړم، مګر دا چې څوک وغواړي هغه د خپل رب لاره خپله کړي.

۵۸- او په ژوندي الله، چې هېڅکله نه مري، توکل ولره او د هغه له حمد سره د هغه تسبیح کوه. او هغه د خپلو بندهګانو په ګناهونو خبرېدو لپاره کافي دی. ۵۹- چا چې آسمان او ځمکه او څه چې د دوی په منځ کې دي، په شپږو ورځو کې پیدا کړي. بیا هغه په تخت متمکن شو، نو د هغه له پېژندونکي پوښتنه وکړئ. ۶۰- او کله چې هغوی ته وویل شي چې رحمان ته سجده وکړئ نو وایي چې رحمان څه شی دی. ایا موږ هغه ته سجده وکړو چې ته یې راته ووایې. او د هغوی کرکه نوره هم زیاتېږي.
۶۱- ډېر بابرکته دی هغه ذات چې په آسمان کې یې برجونه جوړ کړل او په هغه کې یې یو څراغ (لمر) او یوه ځلېدونکې سپوږمۍ کېښودل.
۶۲- او هغه دی چې شپه او ورځ یې یو په بل پسې راتلونکي جوړ کړل، د هغه چا لپاره چې سبق اخیستل غواړي او شکرګزاره کېدل غواړي.
۶۳- او د رحمان بندهګان هغوی دي چې په ځمکه په عاجزۍ ګرځېږي. او کله چې ورسره جاهلان خبرې کوي نو دوی ورته وایي چې په تاسې دې سلام وي. ۶۴- او هغوی چې د خپل رب په وړاندې په سجده او قیام شپې تېروي. ۶۵- او هغوی چې وایي ای زموږ ربه، موږ د جنهم له عذابه لرې وساته. بېشک د هغه عذاب پوره تباهي ده. ۶۶- بېشکه هغه بد ځای او بد مقام دی. ۶۷- او هغه خلک (هم) چې کله مصرف کوي نو اسراف نه کوي او نه بخیلي کوي. او د هغوی مصرف په اعتدال وي.
۶۸- او کوم خلک چې له الله بغیر بل معبود نه را بولي. او هغوی د الله له طرفه حرام کړی شوی محترم نفس نه قتلوي مګر په حق سره. او بدلمني نه کوي. او څوک چې داسې وکړي نو جزا سره به مخ شي. ۶۹- او د قیامت په ورځ به د هغو عذاب لویېږي. او هغوی به په کې تل ذلیله اوسېږي. ۷۰- خو څوک چې توبه وباسي او ایمان راوړي او نېک کارونه وکړي نو الله به د داسې خلکو بدۍ په نېکیو بدلې کړي. او الله

ښونکی، مهربان دی. ۷۱- او څوک چې توبه وباسي او نېک کا روکړي
نو هغه په حقيقت کې الله ته رجوع کوي.
۷۲- او څوک چې په دروغو کارونو کې نه شاملېږي. او کله چې په کوم
بې ګټې شي تېرېږي نو په درنښت ترې تېرېږي. ۷۳- او هغوی داسې
دي چې کله ورته د خپل رب د آيتونو په وسيله نصيحت کېږي نو هغوی
پرې نه کاڼه او ړانده کېږي. ۷۴- او هغوی چې وايي ای زموږ ربه،
موږ ته د خپلو مېرمنو او خپلو بچو له اړخه د سترګو يخوالی را عطا
کړه او موږ د پرهېزګارانو امامان کړه.
۷۵- دا هغه خلک دي چې بالاخانې به ورته ورکول شي په دې خاطر
چې صبر يې کړی. او هلته به يې استقبال په دعا او سلام وشي. ۷۶- په
هغه کې به تل اوسېږي. هغه د تم کېدو او اوسېدو لپاره ښه ځای دی.
۷۷- ووايه چې زما رب ستاسې پروا نه کوي. که تاسې هغه را ونه بولئ.
نو تاسې چې دروغ وباله هغه (کار) به ډېر زر وشي.

## سوره الشعراء ۲۶

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- **طسم.** ۲- دا د واضح کتاب آيتونه دي. ۳- کېدای شي ته به خپل ځان
هلاک کړې په دې چې هغوی ايمان را نه وړي. ۴- که موږ وغواړو نو
په هغوی به له آسمانه نښه را ښکته کړو. بيا به د هغوی اورمېږونه ورته
ټيټ شي. ۵- هغوی ته د رحمان له اړخه هېڅ يو نصيحت داسې نه دی
راغلی چې هغوی ته بې رُخي ونه کړي. ۶- نو هغوی دروغ بللي دي.
نو اوس زر هغوی ته د هغه څه حقيقت معلوم شي چې خندا يې ور پورې
کوله.

۷- ایا هغوی ځمکه نه ده لیدلې چې موږ ترې څومره مختلف ښه څیزونه
را شنه کړي دي. ۸- بېشکه په دې کې نښه ده او په هغوی کې زیاتره
خلک ایمان نه راوړي. ۹- او بېشکه ستا رب غالب دی، رحم کونکی
دی.
۱۰- او کله چې ستا رب په موسی غږ وکړ چې ته ظالم قوم ته لاړ شه.
۱۱- د فرعون قوم ته، ایا هغوی نه وېرېږي. ۱۲- موسی وویل ای زما
ربه، زما اندېښنه ده چې هغوی مې دروغجن ونه ګڼي. ۱۳- او زما سینه
تنګېږي او زما ژبه (سمه) نه ګرځي. نو ته هارون ته پېغام ولېږه. ۱۴-
او په ما باندې د هغوی یو جرم هم دی نو زه وېرېږم چې هغوی مې مړ
نه کړي.
۱۵- ویې فرمایل هېڅکله نه. نو تاسې دواړه زموږ له نښو سره لاړ شئ،
موږ له تاسې سره اورېدونکي یو. ۱۶- نو تاسې دواړه فرعون ته ورشئ
او (ورته) ووایئ چې موږ د رب العالمین رسولان یو. ۱۷- چې ته بني
اسرائیل له موږ سره (تللو ته) پرېږده. ۱۸- فرعون وویل، ایا ته موږ په
ماشومتوب کې په خپل منځ کې ونه پاللې. او تا د خپل عمر څو کلونه له
موږ سره تېر کړل. ۱۹- او تا هغه کار کړی چې کړی دې دی. او ته په
ناشکرانو کې یې.
۲۰- موسی وویل، هغه وخت ما کړی وو له ما تېروتنه شوې وه. ۲۱-
بیا چې زه له تاسېووېرېدم نو وتښتېدم، بیا ماته زما رب پوهه راکړله
او زه یې په رسولانو کې راوستم. ۲۲- او دا هغه احسان دی چې ته یې
کوې چې تا بني اسرائیل غلامان کړل.
۲۳- فرعون وویل چې رب العالمین څه شی دی. ۲۴- موسی وویل، د
آسمانونو او ځمکې رب او د هغه ټولو رب چې د دې ترمنځ دي، که ته
باور کونکی یې. ۲۵- فرعون خپل ګېرچاپېره خلکو ته وویل، ایا تاسې

نه اورئ. ۲۶- موسی وویل هغه ستاسې رب هم دی. او ستاسې د تېرو
مشرانو هم. ۲۷- فرعون وویل ستاسې دا رسول چې تاسې ته را لېږل
شوی مجنون دی. ۲۸- موسی وویل، د مشرق او مغرب رب او څه چې
د دې ترمنځ دي، که ته عقل ولرې. ۲۹- فرعون وویل، که تا له ما بغیر
بل څوک معبود کړ نو زه به دې بندي کړم.
۳۰- موسی وویل ایا که زه کوم واضح دلیل وړاندې کړم بیا هم. ۳۱-
فرعون وویل نو هغه وړاندې کړه که رښتینی یې. ۳۲- بیا موسی خپله
امساء وغورځوله نو بیخي ښکاره ښامار وو. ۳۳- او هغه چې خپل لاس
را وویست نو لیدونکو ته ځلېده. ۳۴- فرعون خپلو ګېرچاپېره سردارنو
ته وویل، یقیناً دا شخص ماهر جادوګر دی. ۳۵- دا غواړي چې په خپله
جادو تاسې ستاسې له وطنه وباسي. نو تاسې څه مشوره راکوئ.
۳۶- درباریانو وویل چې ده او د ده ورور ته مهلت ورکړئ. او ښار ته
خبرونکي ولېږئ. ۳۷- چې هغوی درته ټول ماهر جادوګر راولي. ۳۸-
نو جادوګر په یوه ټاکلې ورځ را ټول کړی شول. ۳۹- او خلکو ته وویل
شول چې ایا تاسې را ټول شوئ. ۴۰- چې موږ له جادوګرو سره مل شو
که هغوی برلاسي کېدونکي وي. ۴۱- بیا چې جادوګر راغلل نو هغوی
فرعون ته وویل، ایا زموږ لپاره کوم انعام شته، که برلاسي شو. ۴۲-
هغه وویل هو، په هغه صورت کې به تاسې مقربو خلکو کې راشئ.
۴۳- موسی هغوی (جادوګرو) ته وویل تاسې چې غورځوئ ویې
غورځوئ. ۴۴- نو هغوی خپلې رسۍ او چوکې (لښتې) وغورځولې. او
ویې ویل، د فرعون په اقبال قسم موږ به برلاسي یو. ۴۵- بیا موسی خپله
امساء وغورځوله نو سمدستي یې هغه شیان ټول وخوړل چې هغوی
جوړ کړي وو. ۴۶- بیا جادوګر په سجده پرېوتل. ۴۷- هغوی وویل چې
موږ په رب العالمین ایمان راوړ. ۴۸- چې د موسی او هارون رب دی.

۴۹- فرعون وویل، تاسې هغه ومانه، له دې مخکې چې زه تاسې ته اجازه درکړم. بېشک هغه ستاسې استاد دی چې تاسې ته یې جادو در ښودلی دی. نو اوس به معلومه شي. زه به ستاسې د یوه طرف لاس او د بل طرف پښه غوڅ کړم او ټول به په دار را وځړوم. ۵۰- هغوی وویل چې هېڅ خبره نه ده. موږ به خپل مالک ته ورسېږو. ۵۱- هیله ده چې زموږ رب به زموږ خطاګانې وبښي. په دې خاطر موږ لومړی ایمان راوړونکي شو.
۵۲- او موږ موسی ته وحې ولیږله چې زموږ بنده ګان ځان سره کړه او د شپې ووځه. بېشکه ته به تعقیبیږی. ۵۳- نو فرعون ښارونو ته خبرونکي (جارچیان) ولیږل. ۵۴- دا خلک وړه ډله ده. ۵۵- او موږ ته یې غوسه راوستې ده. ۵۶- او موږ یوه مستعده ډله یو. ۵۷- نو موږ هغوی له باغونو او چینو وویستل. ۵۸- او له خزانو او ښو ودانیو. ۵۹- داسې وشول. او موږ بني اسرائیل د هغو څیزونو وارثان کړل.
۶۰- نو هغوی د لمرخاته په وخت ورپسې شول. ۶۱- بیا چې دواړه ډلې سره مخامخ شوې نو د موسی ملګرو وویل چې موږ خو ګېر شو. ۶۲- موسی وویل چې هېڅکله نه، بېشکه زما رب له موږ سره دی. هغه به راته لار را وښيي. ۶۳- بیا موږ موسی ته وحې وکړله چې سیند په خپله امساء ووهه. نو هغه بېل بېل شو او هره برخه داسې شوه لکه لوړ غر. ۶۴- او موږ بله ډله هم هغه ته نږدې کړله. ۶۵- او موږ موسی او څوک چې هغه سره وو ټول وساتل. ۶۶- بیا مو نور غرق (ډوب) کړل. ۶۷- بېشکه په دې کې نښه ده. او په هغوی کې زیاتره منونکي نه دي. ۶۸- او بېشکه ستا رب قوي او د رحمت خاوند دی.
۶۹- او هغوی ته د ابراهیم کیسه وکړه. ۷۰- چې کله هغه خپل پلار او خپل قوم ته وویل چې تاسې د څه شي عبادت کوئ. ۷۱- هغوی وویل

چې موږ د بُتانو عبادت کوو او موږ به په همدې (کار) کلک ولاړ یو.
۷۲- ابراهیم وویل، ایا دوی ستاسې اورې کله چې تاسې دوی را بولئ.
۷۳- بیا درته ګټه تاوان در رسولای شي. ۷۴- هغوی وویل چې بلکې موږ خپل پلار نیکه په همدې (کار) لګیا لیدلي دي.
۷۵- ابراهیم وویل، ایا تاسې هغه شیان لیدلي دی چې تاسې یې عبادت کوئ. ۷۶- تاسې هم او ستاسې مشران هم. ۷۷- دا ټول زما دښمنان دي بې له یوه رب‌العالمین نه. ۷۸- چې زه یې پیدا کړی یم، بیا هغه ماته لاربښوونه کوي. ۷۹- او څوک چې ماته خوراک او څښاک راکوي. ۸۰- او زه چې ناروغ یم نو هغه شفا راکوي. ۸۱- او ما به مړ کوي بیا به مې ژوندی کوي. ۸۲- او هغه چې زه ترې تمه لرم چې د بدل په ورځ زما خطاګانې را وبښي.
۸۳- ای زما ربه، ماته حکمت را کړه او په نېکو خلکو کې مې شامل کړه. ۸۴- او په راتلونکو نسلونو کې ښه نوم راکړه. ۸۵- او ما د نعمت د باغ د وارثانو په ډله کې کړه. ۸۶- او زما پلار وبښه، بېشکه هغه په ګمراهانو کې دی. ۸۷- او ما په هغه ورځ مه رسوا کوه چې کله خلک (بیا) را پورته کیږي. ۸۸- په کومه ورځ به چې نه مال په کار راځي او نه اولاد. ۸۹- مګر یوازې هغه چې الله ته یې روغ زړه راوړی وي.
۹۰- او جنت به وېرېدونکو ته نږدې یوړل شي. ۹۱- او جهنم به ګمراهانو ته ښکاره کړی شي. ۹۲- او هغوی ته به وویل شي، څه شول هغوی چې تاسې یې عبادت کاوه. ۹۳- له الله پرته. ایا هغوی به تاسې سره مرسته وکړي، یا هغوی خپل ځان ساتلای شي. ۹۴- بیا به هغه (دوزخ) ته پرمخې وغورځول شي. ۹۵- او هغه ګمراه خلک او د ابلیس لښکر، ټول. ۹۶- هغوی به هلته له یو بل سره په جنګ وایي. ۹۷- په الله قسم، موږ په ښکاره ګمراهۍ کې وو. ۹۸- چې ته مو له رب العالمین

سره برابرولی. ۹۹- او موږ خو مجرمانو له لارې بې لارې کړو. ۱۰۰- اوس زموږ هېڅ شفاعت کونکی نشته. ۱۰۱ او نه مخلص ملګری.
۱۰۲- نو کاشکې موږ یو ځل بیا ولېږل شو چې د ایمان راوړونکو له ډلې شو. ۱۰۳- بېشکه په دې کې نښه ده. او په هغوی کې زیاتره خلک ایمان راوړونکي نه دي. ۱۰۴- او بېشکه ستا رب قوي او د رحمت خاوند دی.
۱۰۵- د نوح قوم رسولان دروغجن وبلل. ۱۰۶- کله چې د هغوی ورور نوح هغوی ته وویل، ایا تاسې نه وېرېږئ. ۱۰۷- زه ستاسې لپاره امانتدار رسول یم. ۱۰۸- نو تاسې له الله ووېرېږئ، او زما خبره ومنئ. ۱۰۹- او زه په دې (کار) له تاسې څه اجر نه غواړم. زما اجر یوازې له رب العالمین سره دی.
۱۱۰- نو تاسې له الله ووېرېږئ او زما خبره ومنئ. ۱۱۱- هغوی وویل چې ایا موږ تا ومنو، سره د دې چې ستا پیروي رذیلو خلکو کړې ده. ۱۱۲- نوح وویل زه څه خبر وم چې هغوی څه کول. ۱۱۳- د هغوی حساب خو زما د رب په ذمه دی، که تاسې پوه شئ. ۱۱۴- زه د مومنانو لرې کونکی نه یم. ۱۱۵- زه خو یوازې ښکاره وېرونکی یم.
۱۱۶- هغوی وویل چې ای نوحه که ته منع نه شوې نو حتماً به سنګسار کړی شې. ۱۱۷- نوح وویل چې ای زما ربه، زما قام زه دروغجن بللی یم. ۱۱۸- نو ته زما او د هغوی ترمنځ واضح فیصله وکړه. او ما او ماسره چې کوم مومنان دي هغوی وساته. ۱۱۹- بیا موږ هغه او د هغه ملګري په یوه ډکه کښتۍ کې وساتل. ۱۲۰ بیا مو له هغه وروسته پاتې خلک غرق کړل. ۱۲۱- یقیناً په دې کې نښه ده، او په هغوی کې زیاتره خلک منونکي نه دي. ۱۲۲- او بېشکه ستا رب قوي دی، د رحمت خاوند دی.

۱۲۳- عاد رسولان دروغجن وبلل. ۱۲۴- کله چې د هغوی ورور هود ورته وویل چې ایا تاسې نه وېرېږئ. ۱۲۵- زه ستاسې لپاره معتبر رسول یم. ۱۲۶- نو له الله ووېرېږئ او زما خبره ومنئ. ۱۲۷- او زه په دې (کار) له تاسې کومه بدله نه غواړم. زما بدله له رب العالمین سره ده. ۱۲۸- ایا تاسې په لوړه ځمکه یو بېحاصله یادګار ودانۍ جوړوئ. ۱۲۹- او لویې لویې ماڼۍ آبادوئ. ګویا تل به ژوندي یئ. ۱۳۰- او کله چې په چا لاس اچوئ نو د جبار غوندې یې نیسئ. ۱۳۱ نو تاسې له الله ووېرېږئ او زما خبره ومنئ. ۱۳۲- او له هغه الله وېرېږئ چې تاسې ته یې له هغو شیانو مرسته رسولې چې تاسې یې پېژنئ. ۱۳۳- هغه تاسې سره د اولاد او څارویو (په درکولو) مرسته وکړله. ۱۳۴- او په باغونو او چینو. ۱۳۵- زه په تاسې د یوې لویې ورځې له عذاب وېرېږم.
۱۳۶- هغوی وویل، موږ لپاره یو ډول ده، که ته موږ ته نصیحت وکړې او که نصیحت کونکی نه شې. ۱۳۷- دا خو د پخوانیو خلک هسې عادت دی. ۱۳۸- او په موږ هېڅکله عذاب نه راځي. ۱۳۹- نو هغوی دا دروغ وباله. بیا موږ هغوی هلاک کړل، بېشکه په دې کې نښه ده. او په هغوی کې زیاتره خلک منونکي نه دي. ۱۴۰- او بېشکه ستا رب قوي، د رحمت خاوند دی.
۱۴۱- ثمود رسولان دروغجن وبلل. ۱۴۲- کله چې د هغوی ورور صالح ورته وویل چې ایا تاسې نه وېرېږئ. ۱۴۳- زه ستاسې لپاره معتبر رسول یم. ۱۴۴- نو تاسې له الله ووېرېږئ او زما خبره ومنئ. ۱۴۵- او زه په دې (کار) له تاسې څه بدله نه غواړم. زما بدله خو یوازې رب العالمین سره ده. ۱۴۶- ایا تاسې به په دې څیزونو کې بې غمه اوسېدو ته پرېښودل شئ چې دلته دي. ۱۴۷- په باغونو او چینو کې. ۱۴۸- او په کروندو کې او له شربت ډکو غونچو کجورو کې ۱۴۹- او تاسې

غرونه تراشئ او په ویاړ په کې کورونه جوړوئ. ۱۵۰- نو له الله ووېرېږئ او زما خبره ومنئ ۱۵۱- او له حده د وتونکو خبره مه منئ.
۱۵۲- چې په ځمکه فساد کوي او اصلاح نه کوي.
۱۵۳- هغوی وویل، په تاسې خو چا جادو کړی دی. ۱۵۴- ته خو زموږ غوندې انسان یې نو ته کومه نښه راوړه که رښتینی یې. ۱۵۵- او صالح وویل چې دا یوه اوښه ده. د دې لپاره د اوبو څښلو یو وار دی. او د یوې ټاکلې ورځې وار ستاسې لپاره دی. ۱۵۶- او هغه په بدۍ مه څوروئ ګنې د یوې لویې ورځ عذاب به تاسې ونیسي. ۱۵۷- او بیا هغوی له اوښې پښې پرې کړې، بیا هغوی پښېمانه شول. ۱۵۸- بیا هغوی عذاب ونیول. بېشکه په دې کې نښه ده او په هغوی کې زیاتره منونکي نه دي.
۱۵۹- بېشکه ستاسې رب قوي دی، د رحمت خاوند دی.
۱۶۰- د لوط قوم رسولان دروغجن وبلل. ۱۶۱- کله چې د هغوی ورور لوط ورته وویل، ایا تاسې نه وېرېږئ. ۱۶۲- زه ستاسې لپاره معتبر رسول یم. ۱۶۳- نو له الله ووېرېږئ او زما خبره ومنئ. ۱۶۴- زه په دې (کار) له تاسې بدله نه غواړم، زما بدله له رب العالمین سره ده.
۱۶۵- ایا تاسې د دنیا په خلکو کې نرانو ته ځئ. ۱۶۶- او ستاسې رب چې تاسې لپاره کومې مېرمنې پیدا کړي هغوی پرېږدئ، بلکې تاسې له حده تېرېدونکي خلک یئ.
۱۶۷- هغوی وویل چې ای لوطه، که ته منع نه شوې نو حتماً به وشړل شې. ۱۶۸- هغه وویل زه ستاسې له عمله سخت بېزار یم. ۱۶۹- ای زما ربه، ته ما او زما د کورنۍ غړي د هغوی د عمل نه وساته. ۱۷۰- نو موږ هغه او د هغه د کورنۍټول غړي وساتل. ۱۷۱- مګر یوه زړه ښځه چې په پاتې کېدونکو کې پاتې شوه. ۱۷۲- بیا موږ نور هلاک کړل.
۱۷۳- او موږ په هغوی (د کاڼو) باران ووروه. نو څومره بد و هغه

باران چې په هغوی وورېده چې وېرول شوي وو. ۱۷۴- بېشکه په دې کې نښه ده. او په هغوی کې زیاتره منونکي نه دي. ۱۷۵- او بېشکه ستا رب قوي دی، د رحمت خاوند دی.

۱۷۶- اصحابِ ایکه رسولان دروغجن وبلل. ۱۷۷- کله چې شعیب ورته وویل چې ایا تاسې نه وېرېږئ. ۱۷۸- ستاسې لپاره معتبر رسول یم. ۱۷۹- نو له الله ووېرېږئ او زما خبره ومنئ. ۱۸۰- او زه په دې (کار) له تاسې بدله نه غواړم. زما بدله له رب العالمین سره ده. ۱۸۱- نو تاسې پوره پوره ناپ (اندازه) کوئ او په تاوان رسوونکو کې مه راځئ. ۱۸۲- او په سمه تله تول کوئ. ۱۸۳- او خلکو ته د هغوی څیزونه لږ مه ورکوئ او په ځمکه فساد مه خپروئ. ۱۸۴- او له هغه ذات ووېرېږئ چې تاسې یې پیدا کړي یئ او تېر نسلونه هم.

۱۸۵- هغوی وویل په تا خو چا جادو کړی دی. ۱۸۶- او ته زموږ غوندې انسان یې. او موږ تا له دروغجنو خلکو ګڼو. ۱۸۷- نو په موږ باندې له آسمانه کومه ټوټه را وغورځوه که ته رښتینی یې. ۱۸۸- شعیب وویل زما رب ښه پوهېږي چې تاسې څه کوئ. ۱۸۹- نو هغوی دا دروغجن وباله. بیا هغوی د وریځې د ورځ عذاب ونیول. ۱۹۰- بېشکه هغه د یوې لویې ورځې عذاب و. بېشکه په دې کې نښه ده او په هغوی کې زیاتره منونکي نه دي. ۱۹۱- او بېشکه ستا رب قوی دی، د رحمت خاوند دی.

۱۹۲- او بېشکه دا د رب العالمین نازل کړی کتاب دی. ۱۹۳- دا امانتداره ملایکې ځان سره را ښکته کړی دی. ۱۹۴- ستا په زړه چې ته په وېرونکو کې کې راشی. ۱۹۵- په صافه عربي ژبه. ۱۹۶- او د دې یادونه په تېرو کتابونو کې ده. ۱۹۷- او ایا د هغوی لپاره دا نښه نه ده چې دا د بني اسرائیلو عالمان پېژني.

۱۹۸- او که موږ دا په کوم عجمي نازل کړی وای. ۱۹۹- بیا هغه دا لوستی او اورولی وای نو هغوی به پرې ایمان نه راوړلای. ۲۰۰- په دې توګه موږ ایمان نه راوړل د مجرمانو په زړونو کې اچولي دي.
۲۰۱- دا خلک ایمان نه راوړي تر څو چې سخت عذاب ونه ویني. ۲۰۲- نو هغه به پرې ناڅاپه را شي او دوی ته به خبر هم نه وي. ۲۰۳- بیا به هغوی ووایي چې ایا موږ ته لږ مهلت راکول کېدای شي.
۲۰۴- ایا هغوی زموږ عذاب زر غواړي. ۲۰۵- ووایه که موږ هغوی ته څو کاله ګټه ورسوؤ. ۲۰۶- او بیا په هغوی هغه څه راشي چې له کوم شي وېرول کېږي. ۲۰۷- نو دا ګټه به د هغوی څه په کار راشي. ۲۰۸- او موږ یو کلی هم نه دی هلاک کړی، مګر د هغوی لپاره وېرونکي وو.
۲۰۹- د یادونې لپاره، او موږ ظالمان نه یو. ۲۱۰- او دا شیطان ځان سره نه دی را ښکته کړی. ۲۱۱- او نه دا (کار) د هغه لایق دی. او نه هغه داسې کولای شي. ۲۱۲- او هغوی د دې له اورېدو منع شوي دي.
۲۱۳- نو ته له الله سره بل معبود مه را بوله چې په جزا لیدونکو کې به راشی. ۲۱۴- او خپل نږدې خپلوان ووېروه. ۲۱۵- او د هغو خلکو لپاره لاسونه پرانیستي ونیسه چې په مومنانو کې داخلېږي او ستا پیروي کوي.
۲۱۶- که هغوی ستا نافرماني وکړي نو ووایه تاسې چې څه کوئ زه له دې بري یم. ۲۱۷- او په قوي او مهربان الله توکل وکړه. ۲۱۸- هغه چې تا ګوري کله چې ته ودرېږې (په لمانځه). ۲۱۹- او له لمونځ کونکو سره ستا نقل و حرکت. ۲۲۰- بېشکه هغه اورېدونکی او پوهېدونکی دی.
۲۲۱- ایا زه تاسې ته ووایم چې شیطان په چا را کوزېږي. ۲۲۲- هغه په هر دروغجن ګنهګار را کوزېږي. ۲۲۳- هغه غوږ ږدي او په هغو کې زیاتره دروغجن دي. ۲۲۴- او په شاعرانو پسې بې لارې خلک ځي.
۲۲۵- ایا تاسې نه ګورئ چې هغوی په هره دره کې هسې ګرځېږي.

۲۲۶- او هغوی هغه څه وايي چې کوي يې نه. ۲۲۷- مګر چا چې ايمان راوړ او نېک کارونه يې وکړل او هغوی الله ډېر ياد کړ او هغوی انتقام واخيست له هغې وروسته چې ظلم پرې وشو. او ظلم کونکو ته به زر معلومه شي چې دوی به څه ډول ځای ته ور ستنيږي.

## سوره النمل ۲۷

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- **طس**. دا آيتونه دي د قرآن او يوه واضح کتاب. ۲- لارښوونه او زېری د ايمان خاوندانو لپاره. ۳- هغوی چې لمونځونه کوي او زکات ورکوي او په آخرت ايمان لري. ۴- څوک چې په آخرت ايمان نه لري د هغوی کارونه ورته موږ ښاېسته کړي دي، نو هغوی سرګردانه ګرځي. ۵- دا هغه خلک دي چې ورته بده جزا ده او په آخرت کې به سخت په تاوان کې وي. ۶- او بېشکه قرآن تاته د يوه حکيم او عليم (ذات) له اړخه درکول کيږي.
۷- او کله چې موسی د خپلې کورنۍ غړو ته وويل چې ما يو اور ليدلی دی. زه له هغه ځايه څه خبر راوړم يا ترې سکروټه راوړم چې تاسې تاوده شئ. ۸- بيا چې هغه هلته ور ورسېده نو غږ ورته وشو چې مبارک دی هغه چې په اور کې دی او هغه چې په څنګ کې يې دی. او الله پاک دی چې د ټول جهان رب دی.
۹- ای موسی، دا زه يم الله، قوي حکيم. ۱۰- او ته خپله امساء وغورځوه. بيا چې ده (موسی) هغه (امساء) په حرکت وليدله لکه مار چې وي، نو هغه ترې مخ واړوه او په وروسته پسې يې ونه ليدل. ای موسی، مه وېرېږه، زما په حضور کې پېغمبران نه وېرېږي. ۱۱- مګر چا چې زياتی وکړ. بيا هغه له بدۍ وروسته هغه په نېکۍ بدله کړله، نو زه

ښونکی، مهربان یم. ۱۲- او ته خپل لاس ګرېوان ته ننباسه، هغه به بې عېبه سپین راووځي. له دې دوارو نښو سره فرعون او د هغه قوم ته ورشه. بېشکه هغوی نافرمانه خلک دي. ۱۳- نو کله چې هغوی ته زموږ ښکاره نښې راغلې، هغوی وویل چې دا ښکاره جادو دی. ۱۴- او هغوی ترې انکار وکړ، سره د دې چې د هغوی زړونو په دې یقین کړی و، د ظلم او غرور له وجې. نو وګوره څنګه بد انجام شو د مفسدینو.
۱۵- او موږ داؤد او سلېمان ته علم عطا کړ. او هغوی دوارو وویل چې د الله شکر دی چې موږ ته یې په خپلو ډېرو ایماندارو‌بنده‌ګانو فضیلت راکړ. ۱۶- او د داؤد وارث سلېمان شو. او ویې ویل چې ای خلکو، موږ ته د مرغانو ژبه را ښودل شوې ده، او موږ ته هر ډول څیزونه را کول شوي. بېشکه دا واضح فضل دی.
۱۷- او د سېلمان لپاره د هغه لښکر راټول کړی شو، جنات او انسانان او مرغان، بیا د هغوی ډلې جوړېدې. ۱۸- تر دې چې کله هغوی د مېږو درې ته ورسېدل. یوه مېږۍ وویل، ای مېږیانو، خپلو سوړو ته ننوځئ، هسې نه چې سلېمان او د هغه لښکر مو د پښو لاندې کړي او هغوی خبر هم نه شي. ۱۹- نو سلېمان د هغه په خبره په خندا شو او ویې ویل ای مېږیانو، ای زما ربه ماته توفیق راکړه چې زه ستا د نعمت شکر پر ځای کړم چې تا په ما او زما په مور او پلار کړی دی او دا چې زه نېک کارونه وکړم چې ستا خوښي او په خپل رحمت ته ما په نېکو بنده‌ګانو کې داخل کړه.
۲۰- او سلېمان چې د مرغانو ارزونه وکړله، نو ویې ویل، څه خبره ده چې هدهد نه ګورم. ۲۱- ایا هغه چېرته غائب شوی دی. زه به ورته سخته جزا ورکړم. یا به یې حلال کړم، یا دې را ته کوم ښکاره دلیل راوړي. ۲۲- ډېر وخت نه و تېر شوی چې هغه راغی او ویې ویل، ما

د یوه داسې شي خبر راوړی چې ته پرې خبر نه وې. او ما له سبا یو
پوخ خبر راوړی دی. ۲۳- ما وموندل چې یوه ښځه په هغوی پاچاهي
کوي او هغې ته هر څه ورکول شوي دي. او د هغې یو لوی تخت دی.
۲۴- ما هغه او د هغې قوم وموندل چې لمر ته سجده کوي له الله پرته.
او شیطان د هغوی اعمال هغوی ته ښاېسته کړي، بیا یې هغوی له سمې
لارې منع کړل، نو هغوی لاره نه مومي. ۲۵- چې هغوی الله ته سجده
ونه کړي، هغه چې د آسمانونو او ځمکې پټ شیان را وباسي او هغه
پوهیږي په هغه څه چې تاسې یې پټوئ او هغه څه چې تاسې یې ښکاره
کوئ. ۲۶- الله، له هغه بغیر بل معبود نشته. د عرش عظیم مالک.
۲۷- سلېمان وویل، موږ به وګورو چې ته رښتیا وایې، که په دروغجنو
کې یې. ۲۸- زما لیک یوسه. بیا هغه د هغو خلکو لپاره وغورځوه. بیا
ترې لرې شه. بیا وګوره چې هغوی څه کوي. ۲۹- ملکه سبا وویل چې
ای درباریانو، ماته یو باعزته لیک را اچول شوی دی. ۳۰ د سلېمان له
اړخه دی. او هغه (لیک) دی (چې): شروع کوم د الله په نوم چې ډېر
مهربانه او د رحم خاوند دی. ۳۱- چې ته زما په مقابل کې سرکشي مه
کوه او په اطاعت ماته راشه. ۳۲- ملکې وویل چې ای درباریانو، په دې
معامله کې ماته نظر راکړئ. زه په یوه معامله کې هم فیصله نه کوم تر
هغې چې تاسې موجود نه یئ. ۳۳- هغوی وویل، موږ زورور یو. او
کلک جنګیالي هم. او فیصله ستا په لاس کې ده. نو تاسې وګورئ چې
څه حکم را کوئ. ۳۴- ملکې وویل پاچایان چې کله کوم کلي ته ننوځي
نو هغه (ځای) ورانوي او د عزت خاوندان ذلیله کوي. او همداسې به دا
خلک هم وکړي. ۳۵- او زه هغوی ته یوه ډالۍ لیږمه، وبه ګورو چې
سفیر څه ځواب راوړي.

۳۶- بیا چې سفیر سلېمان ته ورسېده، هغه (ورته) وویل چې تاسې له ماسره د مال مرسته کول غواړئ. نو الله چې ماته څه راکړي هغه تر دې غوره دي چې تاسې له بې راکړي. بلکې تاسې په خپله ډالۍ خوشحاله یئ. ۳۷- بېرته هغوی ته لاړ شه. موږ به پرې داسې لښکر ور وړو چې هغه به یې مقابله ونه کړی شي او موږ به هغوی له هغه ځایه په بې عزتۍ را وباسوو . او هغوی به خوار شي.
۳۸- سلېمان وویل چې ای درباریانو، په تاسې کې به څوک هغه تخت ماته راوړي له هغې مخکې چې هغه خلک مطیع شي او ماته راشي.
۳۹- په جناتو کې یوه دیو وویل، زه به یې درته راوړم تر هغې مخکې چې ته له خپل ځایه پورته شې، او زه په هغه قدرت لرونکی، امانتدار یم. ۴۰- چا سره چې د کتاب یو علم وو هغه وویل، زه به ستا د سترګو رپولو نه مخکې هغه را ورسوم. بیا چې هغه تخت له ځان سره ایښي ولیده نو ویې ویل، دا زما د رب فضل دی. چې هغه ما وازمایي چې زه شکر کوم که ناشکري. او څوک چې شکر وکړي هغه د ځان لپاره شکر کوي. او څوک چې ناشکري وکړي نو زما رب بې نیازه دی، د کرم خاوند دی.
۴۱- سلېمان وویل چې د دې تخت بڼه بدله کړئ، ګورو چې هغه پوهېږي، که په هغو خلکو کې راځي چې نه پوهېږي. ۴۲- نو کله چې هغه راغلله وپوښتل شوه چې ایا ستا تخت داسې دی. هغې وویل، ګویا چې دا هماغه دی. او موږ ته له مخکې معلومه شوې وه. او موږ په فرمانبردارانو کې یو. ۴۳- او هغه (سلېمان) هغه (ملکه) له هغو شیانو منع کړله چې له الله بغیر یې د هغو عبادت کاوه. هغه په منکرو خلکو کې وه. ۴۴- هغې ته وویل شول چې ماڼۍ ته ننوځه. نو کله چې هغې (ماڼۍ) ولیدله داسې یې وګڼل چې دا ګڼي ژورې اوبه دي او خپلې دواړه پنډۍ یې ښکاره کړې.

سلېمان وويل، دا خو مانۍ ده چې له شيشو جوړه شوي ده. هغې وويل ای زما ربه، ما په خپل ځان ظلم وکړ. او ما له سلېمان سره اوس په رب العالمين ايمان راوړ.
۴۵- او موږ ثمود ته د هغوی وروړ صالح ولېږه، چې د الله عبادت وکړئ، بيا هغوی دوه ډلې او خپلو کې په جنګ شول. ۴۶- هغه وويل چې ای زما د قوم خلکو، تاسې له نېکۍ مخکې بدۍ ته ولې تادي کوئ. تاسې له الله ښنه ولې نه غواړئ چې رحم در باندې وشي. ۴۷- هغوی وويل، موږ خو تا او ستا ملګري منحوس ګڼو. هغه وويل چې ستاسې بد قسمت له الله سره دی بلکې تاسې ازمايل کېږئ.
۴۸- او په ښار کې نهه[۹] کسان وو چې په ځمکه يې فساد کاوه او د اصلاح کار يې نه کاوه. ۴۹- هغوی وويل تاسې ټول په الله قسم وکړئ چې موږ به دا او د ده خلک په پټه وژنو. بيا به يې ولي ته ووايو چې موږ د ده د کورنۍ د غړو د وژل کېدو په وخت نه وو. او بېشکه موږ رښتيني يو. ۵۰- او هغوی يو تدبير وکړ او موږ هم يو تدبير وکړ او هغوی خبر هم نه شول. ۵۱- نو وګوره چې د هغوی د تدبير انجام څنګه شو. موږ هغوی او د هغوی ټول قوم هلاک کړ. ۵۲ نو دا دي د هغوی کورونه وران پراته دي د هغوی د ظلم په سبب. بېشکه په دې کې سبق دی د هغو خلکو لپاره چې پوهېږي. ۵۳- او موږ هغه خلک وساتل چې ايمان يې راوړ او وېرېدل.
۵۴- او لوط چې کله يې خپل قوم ته وويل، ايا تاسې بې حيايي کوئ او تاسې ګورئ. ۵۵. ايا تاسې له نرانو سره شهوت سرته رسوئ، ښځې پرېږدئ، بلکې تاسې ناپوه يئ. ۵۶- بيا د هغه د قوم ځواب له دې بغير بل نه و چې هغوی وويل، د لوط کورنۍ له دې کلي وباسئ، دوی ځانونه پاک ګڼي.

۵۷- بیا موږ هغه او د هغه خلک وساتل بې د هغه له مېرمنې چې شاته پاتې کېدل یې موږ ټاکلي وو. ۵۸- او موږ پر هغوی یو وېرونکی باران وورووه. نو څومره سخت و هغه باران چې هغوی ترې خبر کړی شوي وو. ۵۹- ووایه حمد د الله لپاره دی او سلام د هغه په هغو بندهګانو چې هغه غوره کړي دي. ایا الله غوره دی که هغه چې تاسې یې ورسره شریکوئ.
* ۶۰- هغه څوک دی چې آسمانونه او ځمکه یې پیدا کړل. او تاسې لپاره یې له آسمانه اوبه را ښکته کړې. بیا موږ له هغه ښاېست لرونکي باغونه را شنه کړل. ستاسې دا وس نه وو چې هغه ونې را شنې کړئ. ایا له الله سره بل معبود شته. بلکې هغه له لارې منحرف شوي خلک دي. ۶۱- نو چا ځمکه د ودرېدو لایقه کړله او په هغې (ځمکه) یې سیندونه روان کړل. او د هغې لپاره یې غرونه جوړ کړل. او هغه د سمندرونو ترمنځ پرده واچوله. ایا له الله سره بل معبود شته، بلکې د هغوی زیاتره خلک نه پوهېږي.
۶۲- څوک دی چې د بېکسو فریاد اوري او د هغوی خفګان لرې کوي. او تاسې د ځمکې ځای ناستي کوي. ایا له الله بغیر بل معبود شته. تاسې ډېر لږ نصیحت مومئ. ۶۳- څوک دی چې تاسې ته د وچې او سمندر په تیارو کې لار در ښیي. او څوک له خپل رحمت مخکې هوا د زېري په توګه در لېږي. ایا له الله سره بل معبود شته. الله تر هغه ډېر لوړ دی چې هغوی یې له ده سره شریک ګڼي. ۶۴- څوک دی چې لومړی د پیدابښت پیل کوي او بیا یې سلسله پیلوي. او څوک تاسې ته له آسمانه او ځمکې روزي درکوي. ایا له الله سره بل معبود شته. ووایه خپل دلیل راوړئ که تاسې رښتیني یئ.

۶۵- ووایه چې له الله پرته، په آسمانونو او ځمکه څوک د غیب علم نه لري. او هغوی نه پوهیږي چې کله به را پورته کیږي. ۶۶- بلکې د آخرت په باب د هغوی علم ودرېدلی دی. بلکې د هغه په هکله په شک کې دي. بلکې هغوی ترې ړانده دي. ۶۷- انکار کونکو وویل، ایا کله چې موږ خاورې شو او زموږ پلار نیکه هم، نو موږ به بیا له ځمکې را ویستل کیږو. ۶۸- د دې وعده موږ سره هم شوې ده او له دې مخکې زموږ پلار نیکه سره هم. دا یوازې د تېرو خلکو کیسې دي. ۶۹- ووایه چې په ځمکه وګرځئ، او وګورئ چې د مجرمانو انجام څنګه شوی دی.
۷۰- او ته په هغوی مه خفه کیږه او د هغوی تدبیرونو ته زړه مه تنګوه.
۷۱- او هغوی وایي چې دا وعده به کله راځي که ته رښتینی یې. ۷۲- ووایه د کوم شي تادي چې تاسې کوئ کېدای شي یوه برخه یې تاسې ته را نږدې وي. ۷۳- او بېشکه ستا رب په خلکو لوی فضل کونکی دی، مګر په هغوی کې زیاتره شکر نه وباسي. ۷۴- او بېشکه ستا رب ښه پوهیږي چې څه د هغوی په سینو کې پټ دي او څه هغوی ښکاره کوي.
۷۵- او د آسمانونو او ځمکې داسې پټ څه نشته چې په یوه واضح کتاب کې ثبت نه وي.
۷۶- بېشکه دا قرآن بني اسرائیلو ته ډېر څه واضح کوي چې هغوی په کې اختلاف کاوه. ۷۷- او دا هدایت او رحمت دی د ایمان خاوندانو ته.
۷۸- بېشکه ستا رب به د خپل حکم په وسیله د هغوی تر منځ فیصله وکړي او هغه قوي او پوهېدونکی دی. ۷۹- نو په الله توکل کوئ. بېشکه ته ښکاره په حقه یې. ۸۰- ته مړو ته نه شې اورولی او نه کڼو ته خپله خبره رسولای شې چې کله هغوی په شا لاړ شي. ۸۱- او نه ته ړندو ته د هغوی له ګمراهۍ د ساتنې لپاره لار ښودلای شې. ته خو یې یوازې

هغو ته اورولای شي چې زموږ په آیتونو ایمان راوړي، بیا فرمانبرداره کیږي.
۸۲- او کله چې په هغوی خبره راشي نو موږ به د هغوی لپاره له ځمکې دابّه (غیرانساني مخلوق) را وباسو چې هغوی سره به خبرې کوي، دې خلکو زموږ په آیتونو ایمان نه درلود. ۸۳- او په کومه ورځ به چې له هر امته یوه ډله هغه خلک را ټول کړو چې زموږ آیتونه یې دروغ بلل، بیا به د هغوی ډلبندي کیږي. ۸۴- تر دې چې کله هغوی راشي نو الله به ووایي چې تاسې زما آیتونه دروغ بللي حال دا چې ستاسې په علم کې هغه نه شول راتللی، یا ووایئ چې تاسې څه کول. ۸۵- او په هغوی به خبره پوره شي په دې خاطر چې هغوی ظلم کړی، نو هغوی به هېڅ نه شي ویلی. ۸۶- ایا هغوی ونه لیدل چې موږ شپه جوړه کړله چې خلک په کې آرام وکړي. او ورځ چې هغوی په کې وګوري. بېشکه په دې کې نښې دي د هغو لپاره چې ایمان لري.
۸۷- او په کومه ورځ چې صور پوو شي نو په وېره به شي څه چې په آسمانونو کې دي او څه چې په ځمکه دي مګر هغوی چې الله یې وغواړي. او ټول به هغه ته راشي په عاجزۍ. ۸۸- او ته چې غرونه ګورې داسې ګڼې چې په خپل ځای ولاړ دي، او هغوی به روان شي داسې لکه وریځې چې ګرځي. داسې دی د الله کار چې هر څه یې محکم کړي دي. بېشکه هغه پوهیږي تاسې چې څه کوئ. ۸۹- څوک چې نېکي راوړي نو هغه ته تر دې غوره ده، او هغه به په هغه ورځ له وېرې خوندي وي. ۹۰- او څوک چې بدي راوړي نو داسې خلک به پړمخې اور ته وغورځول شي. تاسې د هغه څه بدله اخلئ چې تاسې کول.
۹۱- ماته دا حکم شوی چې په دې ښار کې د رب عبادت وکړم چې دا یې محترم کړی دی او هر څه د هغه دي. او ماته حکم شوی دی چې زه

په فرمانبردارو کې شم. ۹۲- او دا چې قرآن واوروم. بیا چې څوک په لار شي هغه به د ځان لپاره په لار شي او څوک چې ګمراه شي نو (ورته) ووایه چې زه خو یوازې د وېرونکو له ډلې یم. ۹۳- او ووایه چې ټول تعریفونه الله لره دي، هغه به تاسې ته خپلې نښې در وښیي او تاسې به یې وپېژنئ، او ستاسې رب له هغه څه بې خبره نه دی چې تاسې یې کوئ.

## سوره القصص ۲۸

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- **طسم.** ۲. دا د واضح کتاب آیتونه دي. ۳- موږ د موسی او فرعون ځینې حالت تا ته سم سم بیانوو، د هغو خلکو لپاره چې ایمان یې راوړی.
۴- بېشکه فرعون په ځمکه سرکشي وکړله. او هغه د دې استوګن په ډلو تقسیم کړل. په هغو کې یې یوه ډله کمزورې وساتله. د هغوی هلکان به یې حلالول او ښځې یې ژوندۍ ساتلې. بېشکه هغه په فساد کونکو کې و.
۵- او موږ غواړو په هغو خلکو احسان وکړو چې په ځمکه کمزوري کړی شوي وو او هغوی سرداران کړو او وارثان کړو. ۶- او هغوی ته په ځمکه اقتدار ورکړو. او فرعون او هامان او لښکرو ته له هغوی هغه څه وښیوو چې دوی ترې په وېره کې وو.
۷- او موږ د موسی مور ته الهام وکړ چې هغه ته شیدې ورکړه. بیا که یې درسره په اړه وېره وه نو هغه سیند ته وغورځوه. او مه اندېښنه کوه او مه خفه کېږه. موږ به دا بېرته تاته را ستون کړو. او هغه به د پېغمبرانو په ډله کې راوړو. ۸- بیا هغه د فرعون کورنۍ پورته کړ، چې د هغوی لپاره دښمن شي او د غم لامل یې شي. بېشکه فرعون او هامان او د هغه لښکر خطاکار و. ۹- او د فرعون مېرمنې وویل چې دا د سترګو یخوالی

دی، زما لپاره او تا لپاره. دا مه وژنه. څه عجبه ده که دا موږ ته ګټه را ورسوي یا موږ دا زوی کړو. او هغوی نه پوهېدل.
۱۰- او د موسی د مور زړه ناآرامه شو. نږدې وه چې هغه (موضوع) يې واضحه کړی وای که موږ يې که موږ د هغې زړه نه وای سنبال کړی چې هغه په يقين کوونکو کې پاتې شي. ۱۱- او هغې د هغه (موسی) خور ته وويل چې ته په هغه پسې شاته شاته ځه. ته هغه د پردي غوندي څاره او هغه خلک پوه نه شول. ۱۲- او موږ له لومړي سره موسی له دايانو منع کړی و. نو نجلۍ وويل، ايا زه تا ته د داسې کورنۍ پته درکړم چې دا ستا لپاره وپالي او د دې خيرخواهي وکړي. ۱۳- نو موږ هغه خپلې مور ته ور ستون کړ چې د هغې سترګې يخې شي. او هغه خفه نه شي. او چې هغه پوهه شي چې د الله وعده رښتيا ده، خو زياتره خلک نه پوهېږي. ۱۴- او کله چې موسی ځوانۍ ته ورسېده او پوره شو نو موږ هغه ته حکمت او علم ورکړ او موږ همداسې بدله ورکوو نېکی کوونکو ته.
۱۵- او ښار ته هغه په داسې وخت کې ننوت چې د ښار خلک په غفلت کې وو نو هغه هلته دوه کسان په جنګ وليدل. يو د هغه له خپله قومه و او بل له دښمنانو و. نو څوک چې د ده له قومه و، ده ورسره د هغه چا پر ضد مرسته وکړله چې له دښمنانو و. نو موسی هغه په سوک وواهه. هغه يې وواژه. موسی وويل چې دا د شيطان له کارونو دی. بېشکه هغه دښمن دی، ښکاره ګمراه کوونکی. ۱۶- هغه وويل چې ای زما ربه، ما په خپل ځان ظلم کړی دی. ته مې وبښه، نو الله هغه وبښه. بېشکه هغه بښونکی، رحم کوونکی دی. ۱۷- هغه وويل چې ای زما ربه، لکه څنګه چې تا په ما فضل وکړ نو زه به هېڅکله د مجرمانو مرستندوی نه شم.

۱۸- بیا سهار هغه ښار ته وواته په وېره وېره او څارنه یې کوله. ویې لیدل چې پرون له ده کوم سړي مرسته غوښتې وه هغه نن بیا دی د مرستې لپاره ور بولي. موسی ورته وویل، بېشکه ته ښکاره دښمن یې.
۱۹- بیا چې کله هغه وغوښتل چې هغه ونیسي چې د دې دواړو دښمن و نو هغه وویل چې ای موسی، ایا ته ما وژنې لکه څنګه چې دې پرون یو کس وواژه. ته خو په ځمکه سرکشه اوسېدل غواړې. ته په سوله کوونکو کې راتلل نه غواړې. ۲۰- او یو کس د ښار له څنډې په منډه راغی. هغه وویل ای موسی، د دربار خلک مشوره کوي چې تا ووژني. نو ته ووځه، زه ستا په خیرخواهانو کې یم. ۲۱- بیا هغه له هغه ځایه ووت په وېره وېره او څارنه یې کوله. ۲۲. او بیا چې هغه مخ په مدین شو نو ویې ویل، هیله ده چې زما رب ما ته سمه لار را وښیي. ۲۳- او کله چې د مدین اوبو ته ورسېده نو هلته یې د خلکو یوه ډله ولیدله چې مالونه یې اوبه کول. او له هغوی هغه خوا یې دوه نجونې ولیدلې چې خپل اوزې یې ځان سره ودرولې وې. موسی له هغوی پوښتنه وکړله چې ستاسې خبره څه ده. هغوی وویل موږ تر هغې مالونه نه شوو اوبه کولای چې تر څو نور شپونکي خپلې اوزې لرې نه کړي. او زموږ پلار ډېر بوډا دی. ۲۴- نو هغه یې مالونو ته اوبه ورکړې. بیا د سیوري خوا ته لاړ. بیا یې وویل چې ای زما ربه، ته چې هر له خپل خیره ما ته هر څه را نازل کړې، زه هغه ته محتاج یم.
۲۵- بیا له هغوی دواړو نجلۍ په شرم ده ته راغلله. ویې ویل زما پلار ته غوښتی یې تا زموږ مالونه اوبه کړي د هغه بدله درکړي. بیا چې هغه ور ته ورغی او ټوله کیسه یې بیان کړله نو هغه وویل چې اندېښنه مه کوه. تا له ظالمانو نجات موندلی. ۲۶- په هغو (نجونو) کې یوې وویل چې ای پلاره دا ځان سره ملازم کړئ. د دې لپاره ښه سړی دی چې

ملازم یې کړې چې قوي او امانتدار وي. ۲۷- هغه وویل زه غواړم په خپلو دواړو لونړو کې یوه تا ته نکاح کړم. په دې شرط چې ته به اته کاله ما سره کار کوې. بیا که دې لس کاله پوره کړل نو هغه ستا له خوا ده. او زه په تا مشقت نه اچوم. ان‌شاءالله ته به ما ښه انسان ومومې. ۲۸- موسی وویل چې دا خبره زما او ستا تر منځ پخه ده. په دې دواړو مودو کې چې هره یوه زه پوره کړم نو په تا به څه جبر نه وي. او الله زموږ په قول و قرار ګواه دیږ.
۲۹- بیا چې موسی موده پوره کړه او له خپلې کورنۍ سره روان شو نو د طور (غره) اړخه ته یې یو اور ولیده. هغه خپلې کورنۍ ته وویل چې تاسې ودرېږئ، ما یو اور لیدلی دی. ښایي له هغه ځایه څه خبر راوړم یا انګار چې تاسې ځان تود کړئ. ۳۰- بیا چې هغه هلته ورسېده نو د درې په ښي اړخه کې د بابرکته سیمې له یوې ونې ورته غږ وشو چې ای موسی، زه الله یم، د ټول جهان مالک. ۳۱- او دا چې ته خپله امساء وغورځوه. بیا چې هغه (موسی) امساء په حرکت ولیدله نو لکه مار چې وي، نو هغه ترې په شا وتښتېده او په ځان پسې یې ونه لیدل. ای موسی، را مخکې شه او مه وېرېږه. ته بالکل خوندي یې. ۳۲- خپل لاس ګرېوان ته ننباسه، ځلیدلې به راووځي بې له کومه مرضه، او د وېرې (ختمولو) لپاره لاس خپل بدن ته نږدې کړه. نو دا ستا د رب له لوري دوه سندونه دي د فرعون او د هغه درباریانو ته د ورتګ لپاره. بېشکه هغوی نافرمانه خلک دي.
۳۳- موسی وویل ای زما ربه، ما په هغوی کې یو کس وژلی دی نو زه وېرېږم چې هغوی به مې ووژني. ۳۴- او ورور هارون تر ما ډېر فصیح ژبی دی، نو ته هغه ما سره د مرستندوی په توګه ولېږه چې زما تائید وکړي. زه وېرېږم چې هغه خلک به ما دروغجن وبولي. ۳۵- ویې

فرمايل چې موږ به ستا د ورور په مرسته ستا مټ قوي کړو او موږ به تاسي دواړو ته غلبه درکړو نو هغوی به تاسې ته در ونه رسيږي. زموږ له نښو سره به، تاسې دواړه او ستاسې پيروان برلاسي اوسيږي.
۳۶- بيا چې موسی هغو خلکو ته زموږ له ښکاره نښو سره ورسېده، هغوی وويل چې دا خو جوړ شوی جادو دی. او دا خبره موږ له خپلو پخوانيو پلار نيکونو نه ده اورېدلې. ۳۷- او موسی وويل زما رب ښه پوهيږي هغه څوک چې د هغه له لوري يې هدايت راوړی دی او هغه چې د آخرت کور به ورکول کيږي. بېشک ظالمان به فلاح ونه مومي.
۳۸- او فرعون وويل چې ای درباريارنو، زه ستاسې لپاره له خپل ځان پرته بل معبود نه پيژنم نو ای هامانه، زما لپاره خاوره وسوځه (پخه کړه)، بيا زما لپاره يوه لوړه ودانۍ جوړه کړه چې د موسی رب له هغه ځايه وګورم، زه او خو هغه يو دروغجن انسان ګڼم.
۳۹- او هغه د هغه پوځيانو په ځمکه ناحقه کبر وکړ او هغوی داسې وګڼل چې موږ ته به ګڼي نه را ستنيږي. ۴۰- نو موږ هغه او د هغه پوځيان ونيول. بيا موږ هغوی سمندر ته وغورځول. نو ګوره چې د ظالمانو انجام څنګه شو. ۴۱- او موږ هغوی ته سرداري ورکړې وه چې خلک يې اور ته بلل. او د قيامت په ورځ به هغوی سره هېڅ مرسته نه کيږي.
۴۲- او موږ په دې دنيا په هغوی لعنت وکړ. او د قيامت په ورځ به هغوی د بدحاله خلکو په ډله کې وي. ۴۳- او موږ د پخوانيو امتونو هلاکولو وروسته موسی ته کتاب ورکړ. خلکو ته د بصيرت وسيله، او هدايت او رحمت چې هغوی نصيحت ومومي.
۴۴- او ته د غره لويديځ اړخه ته نه وې کله چې موږ موسی ته احکام ورکړل او نه ته په ګواهانو کې شامل وې. ۴۵- خو موږ ډېر نسلونه پيدا

کړل او بیا په هغوی ډېره زمانه تېره شوه. او ته د مدین په خلکو کې هم نه اوسېدې چې هغوی ته دې زموږ آیتونه ویلی وای. مګر موږ یو د پېغمبرانو لېږونکي. ۴۶- او ته د طور په څنډه کې نه وې کله چې موږ موسی ته غږ وکړ، خو دا ستا د رب انعام دی، چې داسې یو قوم ووېروې چې له تا مخکې ور ته کوم وېرونکی نه دی ورغلی چې هغوی نصیحت ومومي.
۴۷- او که داسې نه وای شوي چې په دې د هغوی د عمل نه کولو له امله به کوم آفت راشي نو هغه به ووایی چې ای زموږ ربه، تا موږ ته کوم رسول ولې را ونه لېږه چې موږ ستا د آیتونو پیروي کړې وای او موږ د ایمان په خاوندانو کې وای. ۴۸- بیا چې هغوی ته زموږ له لوري حق راغی نو هغوی وویل ده ته ولې هغسې ور نه کول شو لکه موسی ته چې ورکول شوی و، هغوی وویل چې دواړه جادو دي د یو بل مرستندوی، او هغوی وویل چې موږ له دواړو انکار کوو.
۴۹- ووایه چې تاسې د الله له اړخه کوم کتاب راوړئ چې په هدایت کولو کې تر دې دواړو ښه وي، زه به هم د هغه پیروي وکړم، که تاسې رښتیني یئ. ۵۰- نو که دې خلکو ستا خبره پوره نه کړه پوه شي چې هغوی یوازې د خپل خواهش پیروي کوي. او تر هغه ډېر ګمراه به څوک وي چې د الله له هدایت پرته د خپل خواهش پیروي وکړي. بېشکه الله ظالمانو ته هدایت نه کوي. ۵۱- او موږ هغو خلکو ته پرلپسې خپل کلام لېږلی و چې هغوی نصیحت ومومي.
۵۲- کومو خلکو ته چې موږ له دې مخکې کتاب ورکړی دی هغوی په دې (قرآن) ایمان راوړي. ۵۳- او دا چې کله هغوی ته اورول کېږي نو هغوی وایي موږ په دې ایمان راوړ. بېشکه دا حق دی زموږ د رب له اړخه، موږ خو له پخوا د دې منونکي یو. ۵۴- دا هغه خلک دي چې اجر

به یې دوه چنده کېږي، په دې خاطر چې هغوی صبر وکړ. او هغوی بدي په نېکۍ دفع کوي او موږ چې ور ته څه ورکړي له هغه مصرف کوي. ۵۵- او کله چې ناسمه خبره اوري نو مخ ترې اړوي او وايي چې زموږ لپاره زموږ اعمال دي او ستاسې لپاره ستاسې اعمال. تاسې ته سلام دی، موږ له ناپوهانو سره نښتل نه غواړو. ۵۶- ته چې چا ته وغواړې هدايت نه ورته کولای، بلکې الله چې چا ته وغواړي هدايت کوي. او هغه ښه پوهېږي چې څوک هدايت قبلونکي دي.
۵۷- او هغوی وايي که موږ تا سره شوو او په دې هدايت عمل وکړو نو موږ به له خپلې ځمکې لرې شوی وای، آيا موږ هغوی ته د امن و امن په حرم کې ځای ور نه کړ. چې هر ډول مېوې ورته راځي، زموږ له لوري د رزق په توګه، خو په هغوی کې زياتره خلک نه پوهېږي.
۵۸- او موږ (داسې) څومره کلي هلاک کړي چې د خپل معيشت په وسايلو نازېدل. نو دا دي د هغوی کلي چې د هغوی له هلاکت وروسته نه دي آباد شوي، مګر ډېر لږ، او موږ د هغو وارثان شوو. ۵۹- او ستا رب تر هغې کلی نه هلاکوه چې تر څو د هغوی لوی کلي ته پيغمبر ونه لېږي چې هغوی ته زموږ آيتونه واوروي او موږ هېڅکله کلی نه هلاکوو مګر کله چې يې خلک ظالمان وي.
۶۰- او تاسې ته چې هر څه درکول شوي دا هسې د دنيا د ژوند سامان او رونق دی. او څه چې له الله سره دي هغه غوره دي او تلپاتې دي. نو ايا تاسې نه پوهېږئ. ۶۱- ايا له چا سره چې موږ د ښو وعده کړې هغه يې موندونکی دی، ايا دا له هغه کس سره برابر دی چې موږ ور ته يوازې د دنيوي ژوند ګټه ورکړې ده، بيا د قيامت په ورځ هغه حاضرېدونکی دی.

۶۲- او په کومه ورځ چې الله هغوی را وغواړي وبه وايي څو شول زما هغه شریکان چې تاسې به يې دعوې کولې. ۶۳- بیا چې په چا خبره ثابته شي هغوی به وایي چې ای زموږ ربه، دغو خلکو موږ تېرایستلو. موږ دوی داسې تېرایستل لکه څنګه چې موږ پخپله تېروتي وو. موږ له هغوی برئت کوو. دې خلکو زموږ عبادت نه کاوه.
۶۴- او ورته به وویل شي چې خپلو شریکانو ته غږ کړ نو هغوی به ورته ځواب ور نه کړی. او هغوی به عذاب ووینې. کاش، هغوی هدایت منونکي وای. ۶۵- او په کوم ورځ چې الله هغوی را وبولي او وفرمايي يې چې تاسې پېغام در وړونکو ته څه ځواب ورکړی و. ۶۶- بیا به په هغه ورځ د هغوی ټولې خبرې ورکې شي، نو هغوی به خپلو کې هم پوښتنه نه شي کولای. ۶۷- البته چا چې توبه وویسته او ایمان ریې راوړ او نېک عمل يې وکړه نو تمه شته چې هغه به په فلاح موندونکو کې وي.
۶۸- او ستا رب پیدا کوي څه چې غواړي او خوښوي څوک چې غواړي. خوښېدل د هغوی په لاس کې نه دی. الله پاک او لوړ دی له هغوی چې هغوی يې ورسره شریکوي. ۶۹- او ستا رب پوهېږی چې څه چې د هغوی په سینو کې پټ دي او څه چې هغوی ښکاره کوي. ۷۰- او هغه الله دی، له هغه پرته بل معبود نشته. د هغه لپاره حمد دی په دنیا کې او په آخرت کې. او د هغه لپاره پرېکړه ده او د هغه لور ته به ستنېږئ.
۷۱- ووایه چې ووایئ، که الله د قیامت تر ورځې په تاسې د تل لپاره شپه کړي نو له الله پرته بل څوک معبود دی چې تاسې لپاره رڼا راوړي. ایا تاسې نه اورئ. ۷۲- ووایه چې ووایئ که الله د قیامت تر ورځې په تاسې د تل لپاره ورځ کړي نو له الله پرته بل څوک معبود دی چې تاسې لپاره شپه راوړي چې تاسې په کې آرام وکړئ. ایا تاسې نه ګورئ. ۷۳- او

هغه په خپل رحمت تاسې لپاره شپه او ورځ جوړ کړل چې تاسې په کې آرام وکړئ او چې تاسې د هغه فضل ولټوئ او چې تاسې شکر وکاږئ.
۷۴- او په کومه ورځ چې الله دوی ور وبولي وبه وايي څه شول زما هغه شريکان چې تاسې يې ګمان کاوه. ۷۵- او موږ له هر امت يو ګواه را وباسوو. بيا خلکو ته ووايو چې خپل دليل راوړئ، بيا به هغوی پوه شي چې حق د الله اړخه ته دی. او هغه خبرې به ترې ورکې شي چې هغوی جوړولې.
۷۶- قارون د موسی په قوم کې و. بيا د دوی خلاف سرکشه شو. او موږ هغه ته دومره خزانې ورکړې وې چې د کونجيانو پورته کولو به يې څو قوي انسانان ستړي کول. کله چې د هغه قوم ورته وويل چې غرور مه کوه، الله غرور کوونکي نه خوښوي. ۷۷- او څه چې الله درته درکړي په آخرت کې يې غوښتونکی شته. او په دنيا کې خپله برخه مه هېروه. او له خلکو سره ښه کوه لکه څنګه چې الله له تا سره ښه کړي دی. او په ځمکه فساد مه غواړه، الله فساد کوونکي نه خوښوي.
۷۸- هغه وويل، دا مال ما ته د يوه علم له امله راکول شوی چې ما سره دی. ايا هغه په دې پوه نه شو چې الله له دې مخکې څومره ډلې هلاکې کړي دي چې تر دوی ډېر قوت او خلک يې لرل. او له مجرمانو به د هغوی ګناه نه پوښتل کېږي.
۷۹- نو هغه د خپل قوم مخې ته له خپل ټو سينګار سره را ووت. څوک چې د دنيا د ژوند غوښتونکي وو هغه وويل، کاشکې موږ ته هم هغه راکول شوي وای چې قارون ته ورکول شوي دی، بېشکه هغه ډېر خوشبخته دی. ۸۰- او چا ته چې علم ورکول شوی هغوی وويل، بدبختو، د الله ثواب بهتر دی د هغو لپاره چې ايمان راوړي او نېک عمل وکړي. او دا هغوی ته ورکول چې صبر کوي.

۸۱- بیا موږ هغه او د هغه کور په ځمکه ننویستل. بیا د هغه لپاره هېڅ یوه ډله را پورته نه شوه چې د الله په مقابل کې ورسره مرسته وکړي. او نه هغه پخپله ځان وژغورلی شو. ۸۲ او چا چې تر پرونه د هغه په څېر کېدو شوق درلود، هغوی وویل چې افسوس، بېشکه الله چې په خپلو بندهګانو کې چا ته وغواړي پراخه رزق ورکوي او چا ته یې چې وغواړي تنګوي یې. که الله په موږ دا احسان نه وای کړی، نو موږ به یې په ځمکه ننویستی وای. افسوس، بېشکه انکار کوونکي به فلاح ونه مومي.

۸۳- دا د آخرت کور موږ هغو خلکو ته ورکوو چې په نه په ځمکه لوی کېدل غواړي نه او نه فساد کول. او وروستی انجام وېرېدونکو لپاره دی.

۸۴- څوک چې نېکي راوړي، د هغه لپاره تر دې غوره ده او څوک چې بدي راوړي نو څوک چې بدي کوي هغوی ته به هغه ورکول کېږي چې څه یې کړي دي.

۸۵- بېشکه چا چې په قرآن فرض کړی هغه به تا تر یوه ښه انجامه رسوي. ووایه زما رب ښه پوهېږي چې چا هدایت راوړی دی او څوک په ښکاره ګمراهۍ کې دی. ۸۶- او تا دا تمه نه لرله چې په تا به کتاب نازل شي، مګر ستا د رب په مهربانۍ، نو ته د منکرانو مرستندوی مه کېږه. ۸۷- او هغوی تا د الله له آیتونو منع نه کړي چې هغه په تا نازل کړی شوي دي. او ته خپل رب خوا ته بلنه ورکوه او په مشرکانو کې مه راځه. ۸۸- او له الله پرته بل معبود مه را بوله. له هغه پرته بل نشته. هر څه هلاکېدونکی دي بې د هغه له ذاته. فیصله د هغه لپاره ده او تاسې به هغه ته ستنېږئ.

## سوره العنکبوت ۲۹

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- **الم.** ۲- ایا دا خلک دا ګڼي چې دوی به یوازې په دې ویلو پرېښودل شي چې موږ ایمان راوړی او هغوی به نه ازمایل کېږي. ۳- او موږ هغه خلک ازمایل چې تر دوی مخکې وو، بس نو الله به هغه کسان پېژني چې رښتیني دي او دروغجن به هم حتماً معلوموي.
۴- ایا څوک چې بدي کوي هغوی دا ګڼي چې له موږ به بچ شي. ډېره بده پرېکړه ده چې هغوی یې کوي. ۵- څوک چې الله سره د مخ کېدو تمه لري نو د الله وعده حتماً راتلونکې ده. او هغه اورېدونکی، پوهېدونکی دی. ۶- او څوک چې محنت کوي د خپل ځان لپاره محنت نه کوي. بېشکه الله له دنیا والاو بې نیازه دی. ۷- او چا چې ایمان راوړ او نېک کارونه یې وکړل نو موږ به ترې د هغوی بدۍ لرې او هغوی ته به د خپل عمل بهترینه بدله ورکړو.
۸- او موږ په انسان ټینګار وکړ چې له خپل مور او پلار سره نېک سلوک وکړي. او که هغوی په تا فشار راوړي چې داسې څه له ما شریک کړه چې ته یې هېڅ علم نه لرې نو د هغوی (مور او پلار) اطاعت مه کوه. تاسې ټول به ما ته را ستنېږئ، بیا به زه درته وایم چې تاسې څه کول. ۹- او چا چې ایمان راوړ او نېک کارونه یې وکړل نو موږ به هغه په نېکو بندهګانو کې شامل کړو.
۱۰- او په خلکو کې داسې هم شته چې وایي موږ په الله ایمان راوړی. بیا چې هغوی د الله په لاره کې ځورول کېږي نو هغوی د خلکو ځورول د الله د عذاب غوندې ګڼي. او که ستا د رب له لوري کومه مرسته راشي نو هغه وایي چې موږ خو له تا سره وو. ایا الله په هغه څه ښه خبر نه

دی چې د خلکو په زړونو کې دي. ۱۱- او الله به حتماً معلوم کړي هغه خلک چا چې ایمان راوړی او هغه به معلوم کړی منافقین (هم).
۱۲- او منکران د ایمان خاوندانو ته وایي چې تاسې زموږ په لاره لاړ شئ او موږ به ستاسې ګناهونه پورته کړو. اوو هغوی د دوی له ګناهونو هیڅ هم نه پورته کوي. بېشکه هغوی دروغجن دي. ۱۳- او هغوی به خپل پېټی پورته کړي او له خپل پېټي سره لږ نور پېټی هم. او هغه خلک چې کومې دروغ خبرې جوړوي د قیامت په ورځ به یې ترې پوښتنه وشي.
۱۴- او موږ نوح د هغه قوم ته ولېږه نو هغه هلته نهه سوه او پنځوس کاله ژوند وکړ. بیا هغوی توپان ونیول او هغوی ظالمان وو. ۱۵- بیا موږ نوح او په کښتۍ کې نور سپاره وژغورل. او موږ دا پېښه د دنیا خلکو ته یوه نښه کړله.
۱۶- او ابراهیم، چې کله هغه خپل قوم ته وویل چې د الله عبادت وکړئ او له هغه ووېرېږئ. دا ستاسې لپاره غوره ده که پوه شئ. ۱۷- تاسې الله پرېږدئ او یوازې د بُتانو عبادت کوئ او له ځانه دروغ خبرې جوړوئ. الله پرته چې تاسې د چا عبادت کوئ هغه تاسسې ته د رزق درکولو اختیار نه لري. بس نو الله سره رزق ولټوئ او د هغه عبادت وکړئ او د هغه شکر ادا کړئ. هغه ته به تاسې ور ستنېږئ. ۱۸- او که تاسې یې دروغ وګڼئ نو له تاسې مخکې ډېرو قومونو دروغ ګڼلي دی. او په رسول یوازې له ښکاره ښکاره رسولو نور مسوولیت نشته.
۱۹- آیا خلکو نه دي لیدلي چې الله څنګه پیدا کول پیلوي او بیا یې تکراروي. بېشکه دا الله ته آسانه ده. ۲۰- ووایه چې په ځمکه وګرځېږئ، بیا وګورئ چې الله څنګه پیدا کول پیل کړ، بیا به یې هغه بېرته را پورته کړي. بېشکه الله په هر څه قادر دی. ۲۱- هغه چې چا ته وغواړي عذاب

به ورکړي او په چا چې وغواړي رحم به پرې وکړي. او هغه ته به تاسې ستنېږئ. ۲۲- او تاسې نه په ځمکه عاجزه کوونکي يئ او نه په آسمان، اور ستاسې لپاره له الله پرته نه بل کارساز شته او نه کوم مرستندوی. ۲۳- او چا چې د الله له آيتونو او هغه سره له مخ کېدو انکار کړی، نو هغوی زما له رحمته محروم شول او د هغوی لپاره له درده ډک عذاب دی.

۲۴- بيا د هغه د قوم ځواب له دې پرته بل هېڅ نه و چې هغوی وويل دا ووژنئ يا يې په اور وسېځئ، نو الله هغه له اوره وژغوره. بېشکه په دې کې نښې دي د هغو خلکو لپاره چې ايمان يې راوړی. ۲۵- او هغه وويل تاسې چې له الله پرته کوم بتان جوړ کړي، هغه ستاسې د خپلمنځي دنيوي اړيکو له وجې دي، بيا به د قيامت په ورځ تاسې هر يو له بله انکار کوئ او په يو بل به لعنت وايئ. او اور به ستاسې ځای وي او ستاسې به هېڅ مرستندوی نه وي. ۲۶- بيا لوط هغه وملنل او ويې ويل چې زه د خپل رب لور ته هجرت کوم. بېشکه هغه قوي، د حکمت خاوند دی. ۲۷- او موږ هغه ته اسحاق او يعقوب عطا کړل او د هغه په نسل کې مو نبوت او کتاب کېښود. او موږ په دنيا کې هغه ته اجر ورکړ او په آخرت کې به يقيناً هغه د صالحينو په ډله کې وي.

۲۸- او لوط، چې کله يې خپل قوم ته وويل چې تاسې د بې حيايۍ کار کوئ چې له تاسې مخکې د دنيا په خلکو کې چا نه دی کړی. ۲۹- ايا تاسې نرانو ته نږدې کېږئ او لارې نيسئ. او په خپلو مجلسونو کې بد کارونه کوئ. نو د هغه قوم ځواب له دې پرته هېڅ نه و چې هغوی وويل که ته رښتينی يې نو په موږ عذاب راوړه. ۳۰- لوط وويل چې ای زما ربه، د مفسدو خلکو په مقابله کې را سره مرسته وکړه.

۳۱- او بيا چې زموږ لېږلو (ملايکو) د ابراهيم ته زېرى ورساوه، نو هغوى وويل چې موږ د دې کلي خلک هلاکوو، بېشکه خلک يې سخت ظالمان دى. ۳۲- ابراهيم ورته وويل چې په هغه کې خو لوط هم دى هغوى وويل موږ ښه پوهېږو چې هلته څوک دى. موږ به هغه او د هغه کورنۍ وژغورو مګر د هغه مېرمن به په وروسته پاتې کېدونکو کې وي. ۳۳- زموږ لېږلي چې لوط ته ورسېده نو هغه (يې په ورتګ) پرېشانه شو او خفه شو. او هغوى ورته وويل چې مه وېرېږه او مه غم کوه. موږ به تا او ستا کورنۍ غږي وژغورو، خو ستا مېرمن به په وروسته پاتې کېدونکو کې وي. ۳۴- موږ د دې کلي په اوسېدونمکو د هغوى د بدکاريو د جزا په توګه يو آسماني عذاب را نازلوو. ۳۵- او موږ د هغه کلي ځينې نښې پرېښي دي د هغو خلکو لپاره چې عقل لري.
۳۶- او د مدين لور ته د هغه ورور شعيب. هغه وويل چې اى زما قومه، د الله عبادت وکړئ. او د آخرت د ورځې تمه ولرئ او په ځمکه فساد کوونکي مه جوړېږئ. ۳۷- نو هغوى دى دروغجن وباله. بيا زلزلې هغوى ونيول. بيا هغوى په خپلو کورونو کې پړمخې پراته پاتې شول.
۳۸- او عاد او ثمود هم، او تاسې ته د هغوى د کورونو حال ښکاره شوى دى. او د هغوى اعمال ورته شيطان ښاېسته کړل. بيا يې هغوى له لارې منع کړل او هغوى ښه پوهېدل.
۳۹- او قارون ته او فرعون او ته هامان ته، او موسى هغوى ته له ښکاره نښو سره ورغى، نو هغوى په ځمکه کبر وکړ او له موږه تېښتېدونکي نه وو. ۴۰- نو موږ هر يوه د هغه په ګناه کې ونيوه. بيا هغوى کې په ځينو موږ کاڼې ورونکې هوا ور ولېږله. او ځينې په کې تندر ووهل. او ځينې موږ په ځمکه ننويستل. او ځينې په کې موږ غرق کړل. او الله په هغوى ظلم نه کاوه، مګر هغوى پخپله په ځانونو ظلم کاوه.

۴۱- چا چې له الله پرته نور کارسازان جوړ کړي د هغوی مثال د غڼې
دی. هغې یو کور جوړ کړی. او بېشکه په ټولو کورونو کې کمزوری
کور د غڼې کور دی. کاشکې دا خلک پوهېدای. ۴۲- بېشکه الله هغه
پېژني څه چې دوی له الله پرته را بولي. هغه (الله) قوي دی، د حکمت
خاوند دی. ۴۳- او دا مثالونه دي چې موږ یې د خلکو لپاره بیانوو، او
په دې یوازې هغه خلک پوهېږي چې علم لري. ۴۴- الله آسمانونه او
ځمکه په حقه پیدا کړي دي. بېشکه په دې کې نښه ده د ایمان خاوندانو
ته.
* ۴۵- ته هغه کتاب ولوله چې تاته وحې شوی دی. او لمونځ قایم کړه.
بېشکه لمونځ له بېحیایۍ او بدو کارونو منع کوي. او د الله ذکر ډېر لوی
کار دی. او الله پوهېږي څه چې تاسې کوئ.
۴۶- او له اهل کتابو سره په ښه طریقه بحث کوئ، مګر څوک چې په
هغوی کې بېانصافه دي. او ووایه موږ ایمان راوړ په هغه څه چې موږ
ته را لېږل شوی دی. او هغه چې تاسې ته در لېږل شوی دی. زموږ
معبود او ستاسې معبود یو دی او موږ د هغه فرمانبرداره یوو.
۴۷- او په دې توګه په تا کتاب نازل کړ. نو کومو خلکو ته چې موږ
کتاب ورکړی هغوی په دې ایمان راوړي. او په هغو خلکو کې هم ځینې
ایمان راوړي. او زموږ له آیتونو یوازې منکر انکار کوي. ۴۸- او تا له
دې مخکې نه کوم کتاب لوستی شو او نه دې په خپل لاس لیکلی شو. په
داسې حالت کې باطل پرسته خلک تل په شک کې پرېوځي. ۴۹- بلکې
دا ښکاره آیتونه دي د هغو خلکو په سینو کې چې علم ورته عطا شوی
دی. او زموږ له آیتونو انکار نه کوي، مګر هغوی چې ظالمان دي.
۵۰- او هغوی وایي چې په ده د خپل رب له لوري نښې ولې نه نازلېږي.
ووایه چې نښې خو له الله سره دي. او زه ښکاره وېرونکی یم. ۵۱- آیا

هغوی لپاره دا کافي نه ده چې موږ په تا کتاب نازل کړی چې هغوی ته اورول کیږي. بېشکه په دې کې رحمت او خبرداری دی د هغو خلکو لپاره چې ایمان یې راوړی. ۵۲- ووایه چې الله زموږ او ستاسې ترمنځ ګواهۍ ته کافي دی. هغه پوهیږي څه چې آسمانونو کې دي او څه چې په ځمکه دي. او چا چې په باطل ایمان راوړ او چا چې له الله انکا روکړ، هغوی په تاوان کې پاتې کېدونکي دي.
۵۳- او دا خلک له تا عذاب زر غواړي. او که یو ټاکلی وخت نه وای نو په دوی به عذاب راغلی وای. او یقیناً هغه به پرې ناڅاپه راشي او دوی به خبر هم نه شي. ۵۴- هغوی له تا عذاب زر غواړي. او جهنم منکران ولکه کړي دي. ۵۵- په کومه ورځ به چې عذاب هغوی له پورته ونیسي او د پښو له لاندې هم، او وبه وایي چې خوند یې واخلئ څه چې تاسې کول.
۵۶- ای زما بندهګانو چې ایمان مو راوړی دی، بېشکه زما ځمکه پراخه ده نو تاسې زما عبادت کوئ. ۵۷- هر ژوندی به د مرګ خوند ګوري. بیا به تاسې ما ته را ستنیږئ. ۵۸- او چا چې ایمان راوړ نېک عمل یې وکړ هغوی ته به موږ د جنت په بالاخانو کې ځای ورکړو چې ور لاندې به نهرونه بهیږي او هغوی به په کې تل اوسیږي. ۵۹- څومره ښه اجر دی د هغو عمل کوونکو چې صبر یې کړی او په خپل رب توکل کوي.
۶۰- او څومره ځناور دي چې ځان سره خپل رزق نه ګرځوي. الله هغوی ته رزق ورکوي او تاسې ته هم. او هغه اورېدونکی او پوهېدونکی دی.
۶۱- او که ته د هغوی نه پوښتنه وکړې چې چا پیدا کړي دا آسمانونه او ځمکه او مسخر کړي یې دي لمر او سپوږمۍ، نو هغوی به حتماً ووایي چې الله. نو بیا هغوی له کوم لوري (مخ اړولو ته) لمسیږي. ۶۲- الله چې په خپلو بندهګانو کې د چا وغواړي د هغه رزق پراخوي او د چا چې

وغواړي د هغوی تنګوي. بېشکه الله په هر څه پوهېږي. ۶۳- او که ته له هغوی پوښتنه وکړې چې له آسمانه اوبه چا را ښکته کړې، بیا یې په هغو ځمکه ژوندۍ کړه د هغې له مړینې وروسته، نو حتماً به ووايي چې الله. ووايه چې ټول تعریفونه الله لره دي. بلکې په هغوی کې زیاتره خلک نه پوهېږي.

۶۴- او دا د دنیا ژوند هېڅ هم نه دی مګر یوه لوبه او زړه خوشحالول. او د آخرت کور د ژوند اصلي ځای دی، کاش هغوی پوهېدای. ۶۵- نو کله چې هغوی په کښتۍ کې سپرېږي الله يادوي، د هغه لپاره دين خالصوي، بیا یې چې هغه کله وژغوري او وچې ته یې وباسي نو هغوی فوراً شرک پیلوي. ۶۶- د دې لپاره چې موږ هغوی ته کوم نعمت ورکړی د هغې ناشکري وکړي او څو ورځې ګټه واخلي. نو هغوی به زر پوه شي.

۶۷- ایا هغوی دا نه ګوري چې موږ یو پُرامنه حرم جوړ کړ. او د هغه ګردچاپېره خلک لوټېږي. نو ایا هغوی باطل مني او د الله د نعمت ناشکري کوي. ۶۸- او تر هغه کس به لوی ظالم څوک وي چې په الله تور پورې کړي یا حق دروغ وبولي چې ورته راغلي وي. ایا د منکرانو ځای به په جهنم کې نه وي. ۶۹- او څوک چې زموږ په خاطر سختې تېره کړي، هغوی ته به موږ خپلې ټولې لارې وښيوو. او يقيناً الله نيکي کوونکو سره دی.

## سوره الروم ۳۰

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.

۱- **الم**. ۲- رومیان په نږدې سیمه کې مات شول. ۳- او هغوی به له خپلې ماتې وروسته زر برلاسي شي. ۴- په څو کالو کې. د الله په لاس

کې دی ټول کارونه، مخکې هم او وروسته هم. او په هغه ورځ به د ایمان خاوندان خوشحاله وي. ۵- د الله په مرسته. هغه چې چا سره وغواړي مرسته کوي. او هغه قوي، د رحمت خاوند دی. ۶- د الله وعده ده. الله د خپلې وعدې خلاف نه کوي. خو زیاتره خلک نه پوهیږي. ۷- هغوی د دنیا د ژوند یوازې ظاهر پېژني، او له آخرته ناخبره دي.
۸- آیا هغوی له ځان سره غور نه دی کړی، الله آسمانونه او ځمکه او څه چې د دې ترمنځ دي په حقه پیدا کړي دي. او یوازې د یوې ټاکلې مودې لپاره. او په خلکو کې زیاتره داسې دي چې د خپل رب له ملاقات نه منکر دي. ۹- ایا هغوی په ځمکه نه دي ګرځېدلي چې وګوري انجام څنګه شو. د هغو خلکو چې تر دوی مخکې وو. هغوی تر دوی ډېر زورور وو. او هغوی ځمکه ښه اړولې (قلبه) کړې وه، او تر دې یې ډېره آباده کړې چې دوی آباده کړې ده. او هغوی ته د هغوی رسول ښکاره نښې راوړلې. نو الله پر هغوی ظلم نه کاوه، مګر هغوی پخپله پر ځانونو ظلم کاوه. ۱۰- بیا چې چا بد کارونه کړي وو د هغوی انجام بد شو، په دې خاطر چې هغوی د الله آیتونه دروغ وبلل. او خندا به یې ور پورې کوله.
۱۱- الله د خلق پیدایښت په لومړي ځل کوي، بیا به یې دویم ځل هم هغه پیدا کړي. بیا به تاسې هغه ته ور ستانه شئ. ۱۲- او په کومه ورځ چې قیامت شي په هغه ورځ به مجرمان هک حیران پاتې شي. ۱۳- او د هغوی په شریکانو کې به د هغوی څوک شفاعت کوونکی نه وي او هغوی به له خپلو شریکانو منکر شي.
۱۴- او په کومه ورځ چې قیامت شي په هغه ورځ ټول خلک جدا جلا شي. ۱۵ نو چا چې ایمان راوړ او نېک عمل یې وکړی هغوی په یو باغ کې مسروره وي. ۱۶- او چا چې انکار وکړ او زموږ آیتونه او د آخرت

راتګ يې دروغ وبلل نو هغوی به عذاب کې پراته وي. ۱۷- نو تاسې الله
ياد کړئ کله چې ماښام کوئ او کله چې سهار کوئ. ۱۸- او په آسمانونو
او ځمکه د هغه لپاره حمد دی او غرمه هم کله چې تاسې ماسپښين کوئ.
۱۹- هغه له ژوندي مړی را وباسي او له مړی ژوندی را وباسي. او
هغه ځمکه د هغې له مړينې وروسته بېرته ژوندۍ کوي او همداسې به
تاسې هم را ويستل کيږئ. ۲۰- او د هغه په نښو کې دا ده چې ته يې له
خاورې پيدا کړې، بيا يو دم تاسې بشر کيږئ او خپرېږئ. ۲۱- او د هغه
په نښو کې دا ده چې ستاسې له جنسه يې تاسې ته جوړې (زوجونه) پيدا
کړل چې تاسې سکون ومومئ. او هغه ستاسې تر منځ رحمت او محبت
کېښود. بېشکه په دې کې ډېرې نښې دي د هغو خلکو لپاره چې غور
کوي.
۲۲- او د هغه په نښو کې د آسمانونو او ځمکې پيدا کول، او ستاسې د
ژبو او ستاسې د رنګونو توپير دی. بېشکه په دې کې ډېرې نښې دي د
علم خاوندانو ته. ۲۳- او د هغه په نښو کې ستاسې په شپه او ورځ کې
خوب دی او ستاسې له لوري د هغه د فضل لټول دي. بېشکه په دې کې
ډېرې نښې دي د هغو لپاره چې اوري. ۲۴- او د هغه په نښو کې دا (هم)
ده چې هغه تاسې ته برېښنا درښيي له وېرې سره او له هيلې سره. او
هغه له آسمانه اوبه را ښکته کوي بيا په هغه ځمکه ژوندۍ کوي د هغې
له مړينې وروسته. بېشکه په دې کې نښې دي د هغو خلکو لپاره چې له
عقله کار اخلي.
۲۵- او د هغه په نښو کې دا دي چې آسمان او ځمکه د هغه په يوه حکم
قايم دي. بيا چې هغه تاسې ته يو غږ وکړي نو هماغه وخت به له ځمکې
را ووځئ. ۲۶- او په آسمانونو او ځمکه چې هر څه دي د هغه دی. ټول
د هغه تابع دي. ۲۷- او هغه دی چې په لومړئل يې پيدا کوي او بيا به

يې دويم ځل پيدا کړي. او دا هغه ته ډېر آسانه دي. او په آسمانونو او ځمکه کې چې د هغه لپاره تېول برتره صفتونه دي. او هغه زبردست دی، د حکمت خاوند دی.
۲۸- هغه تاسې ته پخپله ستاسې له ذاته يو مثال بيانوي. ايا ستاسې په غلامانو کې کوم يو تاسې سره په هغه مال کې شريک دی چې موږ تاسې ته درکړی دی چې تاسې او هغه په کې برابر اوسئ. او لکه څنګه لحاظ چې تاسې د خپلو کوئ، د هغه هم داسې لحاظ کوئ. په دې توګه موږ آيتونه ښکاره بيانوو د هغو خلکو لپاره چې له عقل کار اخلي. ۲۹- بلکې پر ځان ظلم کوونکو بې له دليله د خپلو خيالاتو پيروي پيل کړی ده نو هغه ته څوک هدايت کولای شي چې الله بې لارې کړی وي. او د هغوی هېڅ مرستندوی نشته.
۳۰- نو تاسې خپله تېوله توجه د هغه دين ته کړئ، د الله فطرت چې خلک يې پرې جوړ کړي دي. د هغه جوړ کړي مه بدلوئ. همدا سم دين دی. خو زياتره خلک نه پوهېږي. ۳۱- هغه ته متوجه شئ او له هغه ووېرېږئ او لمونځ قايم کړئ او په مشکرينو کې مه راځئ. ۳۲- چې خپل دين يې ټوټې ټوټې کړ. او ډلې ډلې شول. هره ډله په خپله هغه طريقه وياړي چې ورسره ده.
۳۳- او کله چې خلکو ته تکليف رسېږي نو هغوی خپل رب را بولي، هغه ته توجه کوي. بيا چې هغه پرې له خپله اړخه څه مهرباني وکړي نو په هغوی کې يوه ډله له خپل رب سره شريک جوړول پيل کړي. ۳۴- چې څه موږ ورکړي له هغوی منکر شي. نو يو څو ورځې ګټه واخلئ، ډېر زر به در معلومه شي. ۳۵- ايا موږ په هغوی کوم سند نازل کړی چې هغوی له الله سره د شريکولو خبره کوي.

۳۶- او کله چې موږ په خلکو مهرباني کوو نو هغوی خوشحاله کیږي. او که د هغوی د اعمالو له امله کوم تکلیف ور رسیږي نو هغوی سمدستي نهیلي کیږي. ۳۷- ایا هغوی نه ګوري چې الله چا ته وغواړي ډېره روزي ورکوي او چا ته وغواړي لږه. بېشکه په دې کې نښې د هغو خلکو لپاره چې ایمان لري. ۳۸- نو خپلوانو ته د هغوی حق ورکړئ، او مسکین ته او مسافر ته. دا بهتره د هغو خلکو لپاره چې د الله رضا غواړي او هماغه خلک فلاح موندونکي دي. ۳۹- او کوم سود چې تاسې ورکوئ چې د خلکو په مال کې شامل شي او هغه زیات شي، نو د الله په نزد هغه نه ډېرېږي. او کوم زکات چې تاسې ورکړئ، د الله د رضا حاصلولو لپاره نو همدا هغه خلک دي چې د الله په نزد خپل مال زیاتوي.
۴۰- الله دی چې تاسې یې پیدا کړئ. بیا یې تاسې ته روزي درکړله، بیا هغه تاسې ته مرګ درکوي. بیا هغه تاسې ژوندي کوي. ایا ستاسې په شریکانو کې داسې یو شته چې په دې کارونو کې یو کوي. هغه پاک دی، لوړ دی تر هغه شرکه چې دا خلک یې کوي. ۴۱- په وچه او لمده کې خپور شوی فساد د خلکو د خپلو لاسونو ګټه ده، چې الله په هغوی د خپلو ځینو اعمالو خوند وګوري، ښایي چې هغوی را منع شي. ۴۲- ووایه چې په ځمکه وګرځئ، وګورئ د هغو خلکو انجام څنګه شو چې تر دوی مخکې تېر شوي دي. په هغوی کې زیاتره مشرکان وو.
۴۳- نو خپله مخه د قیّم دین اړخه ته سیده کړئ، له مخکې چې د الله له لوري داسې ورځ راشي چې د هغه لپاره بېرته ګرځېدل نشته. په هغه ورځ به خلک جدا جلا شي. ۴۴- چا چې انکار وکړ نو د هغه انکار به په هماغه پرېوځي او چا چې نېک عمل وکړ نو دا خلک د خپل ځان لپاره سامان تیاروي. ۴۵- تر دې چې الله د ایمان خاوندانو او نېک عمل کوونکو ته په خپل فضل بدله ورکړي، بېشکه الله منکرین نه خوښوي.

۴۶- او د هغه په نښو کې دا ده چې هواګانې د زېرې ورکولو لپاره را لېږي، او د دې لپاره چې هغه تاسې په خپل رحمت ونازوي او دې لپاره چې کښتۍ د هغه په حکم وچلېږي، او د دې لپاره چې تاسې د هغه فضل ولټوئ، او د دې لپاره چې تاسې د هغه شکر ادا کړئ. ۴۷- او موږ له تا مخکې رسولان ولېږل د هغوی قومونو ته. نو هغوی ورته ښکاره نښې راوړلې او موږ له هغو خلکو غچ واخيست چې جرم يې کړی و. او په موږ دا حق وو چې له مومنانو سره مرسته وکړو.
۴۸- الله دی چې هواګانې را لېږي. بيا هغه وريځې را پورته کوي. بيا الله هغه په آسمان کې خپروي څنګه يې چې وغواړي. او هغه کات په کات کوي. بيا تاسې باران ګورئ چې د هغو له منځه راوځي. بيا چې هغه په خپلو بندهګانو کې چا ته وغواړي هغه رسوي، نو هغوی سمدستي خوشحاله کېږي. ۴۹- او هغه د هغو له نازل کېدلو مخکې، له خوښۍ نهيلي وو. ۵۰- نو د الله د رحمت نښې وګورئ چې هغه څنګه ځمکه را ژوندۍ کوي د هغې له مړينې وروسته. بېشکه هغه د مړو ژوندی کوونکی دی. او په هغه په هر څه قادر دی. ۵۱- او که موږ يوه هوا (باد) ولېږو او هغه کرونده په زيړېدو (پخېدو) وګوري نو له هغې وروسته به انکار وکړي. ۵۲- ته خو يې په مړو نه شې اورېدی او نه په کڼو خپله خبره اورېدی شې په داسې حال کې چې هغوی مخ اړولی وي او روان وي. ۵۳- او نه ته ړانده د هغوی له ګمراهۍ ويستلی او لارې ته راوړلی شې. ته يې يوازې هغو ته اورولی شې چې زموږ په آيتونو ايمان راوړونکي وي. نو همدا خلک اطاعت کوونکي دي.
۵۴- الله دی چې تاسې يې ناتوانه پيدا کړئ، بيا يې له ناتوانۍ وروسته قوت درکړ، بيا يې په قوت وروسته ضعف او زړښت راوړل. هغه چې څه وغواړي پيدا کوي يې. او هغه د علم خاوند، او قدرت خاوند دی.

۵۵- او په کومه ورځ چې قیامت شي، مجرمان به قسم خوري او وایي به چې هغوی له یوې ګړۍ زیات نه دي اوسېدلي. هغوی همداسې تېروتل. ۵۶- او چا ته چې علم او ایمان عطا شوی هغوی به ووایي چې د الله په کتاب کې (د کتاب له مخې) خو تاسې د حشر تر ورځې پراته وئ. نو دا حشر ورځ ده، خو تاسې نه پوهېدئ. ۵۷- نو په هغه ورځ به ظالمانو ته د هغوی معذرت هېڅ ګټه ونه رسوي او نه ورته د ښښنې غوښتلو ویل کېږي.

۵۸- او موږ په دې قرآن کې د خلکو لپاره هر ډول مثالونه بیان کړي دي. او که ته هغوی ته کومه نښه راوړې نو دا چا چې انکار کړی هغوی به همدا ووایي چې تاسې ټول باطل یئ. ۵۹- په دې توګه الله د هغو خلکو په زړونو مهر لګوي چې نه پوهېږي. ۶۰- ته صبر وکړه. بېشکه د الله وعده ریښتیا ده. او ستا زغم دې هغه خلک نه کموي چې ایمان نه لري.

## سوره لقمان ۳۱

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.

۱- **الم.** ۲. دا د پُرحکمته کتاب آیتونه دي. ۳- هدایت او رحمت د نیکۍ کونکو لپاره. ۴- چې لمونځ قایموي او زکات ورکوي. او په آخرت ایمان لري. ۵- دا خلک د خپل رب په سمه لاره دي او همدا خلک فلاح موندونکي دي.

۶- او په خلکو کې ځینې داسې هم دي چې د هغو خبرو خریداران دي چې غافلونکې دي، په دې نیت چې (نور) د الله له لارې ګمراه کړي، بې له کوم علمه. او خندا ور پورې وکړي. د داسې خلکو لپاره ذلیلونکی عذاب دی. ۷- او کله چې هغوی ته زموږ آیتونه اورول کېږي هغوی په تکبر مخ اړوي، لکه بیخي یې چې اورېدلي نه وي، لکه د هغوی غوږونه

چې کانه وي. نو هغوی ته د یوه دردناکه عذاب زېری ورکړه. ۸- بېشکه چا چې ایمان راوړ او نېک کارونه یې وکړل، هغوی لپاره د نعمت باغ دی. ۹- په هغه کې به تل اوسېږي. دا د الله پخه وعده ده او هغه قوي دی، د حکمت خاوند دی.

۱۰- الله آسمان پیدا کړی، له داسې ستنو بغیر چې تاسې ته ښکاره شي. هغه په ځمکه غرونه کېښودل چې ونه خوځېږي. په هغه کې یې هر ډول ژوندي (موجودات) خپاره کړل. او موږ له آسمانه اوبه را ښکته کړې، بیا مو له ځمکې ښه ځیزونه را شنه کړل. ۱۱- دا د الله تخلیق دی، نو تاسې ووایئ چې له هغه بغیر څوک (ستاسې معبودان) دي هغوی څه پیدا کړي. بلکې ظالمان په ښکاره ګمراهۍ اخته دي.

۱۲- او موږ لقمان ته حکمت ورکړ (او ورته مو وویل) چې د الله شکر وکړه. او څوک چې شکر وکړي د خپل ځان لپاره به شکر وکړي او څوک چې ناشکري وکړي نو الله بې نیازه دی او د ښېګڼو خاوند دی.

۱۳- او کله چې لقمان خپل زوي ته په نصیحت کې وویل چې ای زما زویه، له الله سره شریک مه جوړوه، بېشکه شرک ډېر لوی ظلم دی.

۱۴- او موږ په انسان د هغه د مور او پلار په معامله کې ټینګار کړی. او د هغه مور په تکلیف پسې تکلیف تېر کړ او هغه یې په خېټه کې وساته او په دوؤ کالو کې یې شیدې پرېښودې، چې ته زما شکر وکړه او د خپل مور او پلار. ماته را ستنېدل دي. ۱۵- او که هغوی دواړو په تا زور راوړچې ته له ماسره داسې څه شریک کړه چې تاته معلوم نه وي، نو ته د هغوی خبره مه منه. او په دنیا کې هغوی سره نېک چلند کوه. او ته د هغه کس د لارې پیروي کوه چې ماته یې رجوع کړې ده. بیا به تاسې ټول ماته راځئ. بیا به زه درته وایم چې تاسې څه کول.

۱۶- (لقمان وويل) ای زما زويه، که کوم عمل د وري د دانې هومره وي او بيا هغه په کومه تيږه کې دننه وي يا په آسمانونو کې وي يا په ځمکه وي، الله به هغه حاضر کړي. بېشکه الله باريک بين دی، باخبره دی.
۱۷- ای زما زويه، لمونځ قايم کړه، د ښه کار نصيحت وکړه او له بدئ منع وکړه او کوم مصيبت چې در ورسيږي صبر پرې وکړه. بېشکه دا د همت کارونه دي. ۱۸- او له خلکو سره بې‌رُخي مه کوه. او په ځمکه مغرور مه ګرځه. بېشکه الله مغرور او کبرجن نه خوښوي. ۱۹- او په خپل تګ کې ميانه روي کوه او خپل غږ ټيټ ساته. بېشکه تر ټولو بد غږ د خره غږ دی.
۲۰- ايا تاسې نه ګورئ چې الله ستاسې په خدمت لګيا کړي څه چې په آسمانونو کې دي او څه چې په ځمکه دي. او هغه خپل ښکاره او پټ نعمتونه په تاسې تمام کړي. او په خلکو کې (ځينې) داسې هم شته چې د الله په هکله جګړې کوي، له کوم علم، کوم هدايت او کوم روښانه کتاب پرته. ۲۱- او کله چې هغوی ته وويل شي چې د هغه څه پيروي وکړه چې الله نازل کړي، نو هغوی وايي چې نه. موږ به د هغه څه پيروي کوؤ چې موږ (يې په پيروئ) خپل پلار نيکه ليدلي دي. ايا که شيطان هغوی د اور عذاب ته ور بولی بيا هم.
۲۲- او څوک چې خپل رُخ د الله لور ته ټيټ کړي او نېک عمله هم وي نو هغه کلکه رسۍ ونيوله. او د ټولو معاملاتو انجام د الله اړخ ته دی.
۲۳- او چا چې انکار وکړ د هغه په انکار ته مه خفه کېږه. موږ ته د هغوی را ستنېدل دي. نو موږ به ورته ووايو چې هغوی څه کول. بېشکه الله د زړونو په خبره هم خبر دی. ۲۴- هغوی ته به موږ د لنډ وخت لپاره ګټه ورکړو. بيا به يې يوه سخت عذاب ته را کش کړو.

۲۵- او که ته هغوی وپوښتې چې آسمان او ځمکه چا پیدا کړي، نو هغوی به حتماً ووایي چې الله. ووایه چې ټول تعریفونه الله لره دي. بلکې په هغوی کې زیاتره نه پوهېږي. ۲۶- د الله دي څه چې په آسمان کې دي او څه چې په ځمکه، بېشکه الله بې نیازه دی، د ښېګڼو خاوند دی. ۲۷- او په ځمکه چې کومې ونې دي که هغه قلمونه شي او سمندر، له اوو [۷] نورو سمندرونو سره، سیاهي شي، بیا به هم د الله خبرې ختمې نه شي. بېشکه الله قوي دی، د حکمت خاوند دی.
۲۸- ستاسې د ټولو پیدا کول او ژوندي ساتل داسې دي لکه د یوه شخص. بېشکه الله اورېدونکی او لیدونکی دی. ۲۹- ایا تا نه دي لیدلي چې الله شپه په ورځ کې داخلوي او ورځ په شپه کې داخلوي. او هغه لمر او سپوږمۍ په کار ګومارلي. هر یو ګرځېږي تر یوه ټاکلي وخته. او دا تاسې چې څه کوئ، الله پرې خبر دی. ۳۰- دا ځکه چې الله حق دی. او له هغه بغیر چې نور شیان دي د هغوی را بلل باطل دي او بېشکه الله برتر دی، لوی دی.
۳۱- ایا تا نه دي لیدلي چې کښتۍ د الله په فضل سمندر کې ګرځېږي، چې هغه تاسې ته خپلې نښې در وښیي. بېشکه په دې کې نښې دي د هر صبر کونکي، شکر کونکي لپاره. ۳۲- او کله چې مرګ د هغوی په سر لکه د وریځو خپور شي، نو هغوی الله را بولي هغه لپاره دین خالصوي. بیا یې چې کله هغه وساتي او وچې ته یې را وړي، نو لږ په کې په اعتدال پاتې کېږي. او زموږ له نښو انکار هغه خلک کوي چې بې وعدې او ناشکره دي.
۳۳- ای خلکو، له خپل رب ووېرېږئ او له هغې ورځې ووېرېږئ چې هېڅ پلار به د خپل زوي له اړخه بدل ور نه کړي او نه به کوم زوی د خپل پلار له اړخه څه بدل ورکوي. بېشکه د الله وعده رښتیا ده، نو د دنیا

ژوند دي تاسې تېر نه باسي او نه دې تګ (شيطان) تاسې د الله په هکله تېرباسلی شي. ۳۴- بېشکه الله ته د قيامت علم دی او هغه باران وروي او هغه پوهېږي چې (د مور) په رحم کې څه دي. او هېڅوک نه پوهېږي چې سبا به څه ګټي. او هېڅوک نه پوهېږي چې په کومه ځمکه به مري. بېشکه الله پوهېدونکی او باخبره دی.

## سوره السجده ۳۲

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- **الم.** ۲- دا نازل شوی کتاب، په دې کې هېڅ شک نشته، د رب العالمين له اړخه دی. ۳- ايا هغوی وايي چې دا دې شخص له ځانه جوړ کړی دی. بلکې دا حق دی ستاسې د رب له لوري، په دې خاطر چې ته هغه خلک ووېروې چې له تا مخکې ورته څوک وېرونکی نه دی راغلی، چې هغوی په لار شي.
۴- الله دی چې پيدا کړي يې دي آسمانونه او ځمکه او څه چې د دې تر منځ دي په شپږو ورځو کې، بيا هغه پر عرش قايم شو. له هغه بغير نه ستاسې مرستندوی شته او نه شفاعت کونکی. نو ايا تاسې پام نه کوئ.
۵- هغه له آسمانه تر ځمکې د ټولو معاملاتو تدبير کوي. بيا هر څه ستنېږي هغه ته په داسې يوه ورځ چې مقدار يې ستاسې په حساب کې زر کالو سره برابر دی. ۶- هغه په پټو او ښکاره پوه دی. قوی دی، د رحمت خاوند دی. ۷- هغه چې هر څه جوړ کړي ښه يې جوړ کړي. او هغه د انسان د پيدايښت پيل له خاورې وکړ. ۸- بيا يې د هغه نسل د حقيرو اوبو له خلاصې پيدا کړ. ۹- بيا يې د هغه غړي جوړ کړل. او په هغه کې يې خپله ساه پوو کړه. تاسې ته يې غوږونه، سترګې او زړه جوړ کړل. تاسې ډېر لږ شکر وباسئ.

۱۰- او هغوی وویل چې ایا کله موږ په ځمکه کې ورک شو بیا به له سره پیدا کیږو. بلکې هغوی د خپل رب له ملاقاته منکر دي. ۱۱- ووایه چې د مرګ ملایکه له تاسې روح اخلي چې په تاسې ګومارل شوې ده. بیا به تاسې خپل رب ته ستانه شئ. ۱۲- او کاش ته وګورې چې کله دا مجرمین د خپل رب پر وړاندې ټیټ سر ولاړ وي. ای زموږ ربه، موږ ولیدل، او موږ واورېدل، نو موږ بېرته ولیږه چې نېک کارونه وکړو. موږ باور کونکي شوي يو. ۱۳- او که موږ غوښتي وای نو هر کس ته به مو د هغه هدایت ورکړی وای. خو زما خبره ثابته شوه چې زه به دوزخ له پیریانو (جناتو) او انسانانو ډکوم. ۱۴- نو اوس د هغې خبرې خوند وڅکئ چې تاسې ملاقات هېر کړ. موږ هم تاسې هېر کړئ. او د خپلو کړو (اعمالو) له وجې تل عذاب ووینئ.
۱۵- زموږ په آیتونو هغه خلک ایمان راوړي چې کله هغوی ته په کومه وسیله یادونه وشي نو هغوی په سجده پرېوځي او د خپل رب د حمد تر څنګ د هغه تسبیح ووايي. او هغوی کبر نه کوي. ۱۶- د هغوی اړخونه له بسترو لرې وي. او هغوی خپل رب یادوي په وېره او هیله مندئ. او څه چې ورته موږ ورکړي، له هغو مصرف کوي. ۱۷- نو هېڅوک نه دي خبر چې هغو خلکو ته د هغوی د اعمالو په بدل کې د سترګو څه ډول یخووالی پټ کړی شوی دی.
۱۸- نو څوک چې مومن دی ایا هغه به د هغه کس په شان وي چې نافرمانه دی. دواړه یو ډول نه شي کېدلای. ۱۹- چا چې ایمان راوړی او ښه کارونه يې کړي د هغوی لپاره په جنت کې استوګنځای دی، مېلمستیا ده د هغو کارونو له وجې چې هغوی کول. ۲۰- او چا چې نافرماني کړې نو د هغوی ځای اور دی، هغوی چې کله له هغه (اوره) را وتل وغواړي نو بېرته به ور تېل وهل کیږي. او هغوی ته به ویل کیږي د هغه اور

خوند وڅکئ چې تاسې دروغ باله. ۲۱- او هغوی ته به موږ له لوی عذاب ورکولو مخکې کوچنی عذاب ورکوؤ، کېدای شي هغوی را وګرځيږي. ۲۲- او تر هغه کس به ډېر ظالم (بل) څوک وي چې هغه ته د خپل رب د آيتونو په وسيله نصيحت وشي او بيا ترې هغه مخ واړوي. موږ له داسې مجرمانو حتماً بدل اخلو.

۲۳- او موږ موسی ته کتاب ورکړ. نو ته د کتاب په ترلاسه کولو کې شک مه کوه. او موږ هغه د بني اسرائيلو لپاره هدايت کړ. ۲۴- او موږ په هغوی کې پيشوايان جوړ کړل چې زموږ په حکم يې خلکو ته لارښوونې کولې، په دې خاطر چې هغوی صبر وکړ. او زموږ په آيتونو يې ايمان لاره. ۲۵- بېشکه ستا رب به د قيامت په ورځ د هغوی تر منځ د هغو چارو فيصله وکړي چې هغوی يې په هکله خپلو کې اختلاف کاوه.

۲۶- ايا هغوی لپاره دا خبره د هدايت لامل نه شوه چې تر هغوی مخکې موږ څومره قومونه هلاک کړل. چې د هغوی کليو ته دا خلک ځي او راځي. بېشکه په هغو کې نښې دي. ايا دا خلک نه اوري.

۲۷- ايا هغوی نه دي ليدلي چې موږ اوبه د يوې خرابې ځمکې اړخ ته ور وړو. بيا له هغې فصل را شين کوؤ چې له هغه د دوی څاروي خوراک کوي او پخپله دوی هم. نو ايا هغوی نه ګوري. ۲۸- او هغوی وايي دا فيصله به کله کيږي که ته رښتينی يې. ۲۹- ووايه د فيصلې په ورځ به د هغو خلکو ايمان ګټه ونه کړي چې انکار يې کړی. او نه به هغوی ته مهلت ورکول شي. ۳۰- نو له هغوی مخ واړوه او په تمه اوسه، هغوی هم په تمه دي.

# سوره الاحزاب ۳۳

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- ای نبي، له الله ووېرېږه او د منکرانو او منافقینو اطاعت مه کوه، بېشکه الله پوهېدونکی او د حکمت خاوند دی. ۲- او د هغه څه پیروي وکړه چې ستا د رب له لوري تاته وحې شوی دی، بېشکه الله خبر دی په هغو چې دا خلک یې کوي. ۳- او په الله توکل وکړه، او هغه الله د کارساز کېدو لپاره کافي دی.
۴- الله د هېڅ انسان په سینه کې دوه زړونه نه دي ایښي. او نه یې ستاسې مېرمنې چا سره چې تاسې ظهار کوئ، ستاسې مېندې کړي او نه یې ستاسې په خوله بلل شوي زامن، زامن کړي دي. دا ټولې ستاسې د خپلې خولې خبرې دي. او الله حقه خبره کوي او سمه لاره ښیي. ۵- او په خوله بلل شوي زامن د هغوی د پلرونو په نسبت یاد کړئ، دا د الله په نزد ډېره عادلانه خبره ده. بیا که تاسې د هغوی پلرونه نه پېژنئ نو هغوی ستاسې دیني ورونه دي او ستاسې ملګري دي. او په څه کې چې له تاسې تېروتنه وشي، د هغه له وجې په تاسې ګناه نشته، مګر هغه څه چې د زړه په اراده یې وکړئ. او الله ښښونکی، رحم کونکی دی.
۶- او د نبي حق په مومنانو پخپله تر هغوی هم ډېر دی، او د نبي مېرمنې د هغوی مېندې دي. او خپلوان د الله په کتاب کې، د نورو مومنانو او مهاجرینو په نسبت، یو بل سره ډېره خپلوي لري. مګر دا چې تاسې له خپلو ملګرو سره کوم سلوک کول وغواړئ. دا په کتاب کې لیکلي دي.
۷- او کله چې موږ له پیغمبرانو د هغوی وعده واخیسته او له تا او له نوح او ابراهیم او موسی او عیسی ابن مریم نه. او موږ له هغوی پخه وعده واخیستله. ۸- په دې خاطر چې الله له رښتیني خلکو د هغوی د

ربښتینولئ په هکله پوښتنه وکړي، او د منکرانو لپاره یې له درده ډک عذاب تیار کړی دی.
۹- ای خلکو چې ایمان مو راوړی دی، په ځان د الله احسانونه یاد کړئ، چې کله په تاسې پوځونو بریدونه وکړل نو موږ پر هغوی یوه سیلئ ور ولیږله او داسې پوځ چې تاسې ته نه ښکارېده. او الله هغه څه ګوري چې تاسې یې کوئ. ۱۰-کله چې هغوی په تاسې درغلل، ستاسې له پورته اړخه او ستاسې له ښکته اړخه. او بیا چې سترګې پرانیستې پاتې شوې او زړونه خولې ته راغلي وو او تاسې د الله په هکله ډول ډول ګمانونه پیل کړل. ۱۱- هغه وخت د ایمان خاوندان په امتحان کې واچول شول او بالکل ټکان ورکول شو.
۱۲- او کله چې منافقینو او هغه خلک چې زړونو کې یې مرض دی، هغوی وویل الله او د هغه رسول چې موږ سره کومه وعده کړې وه هغه هسې فرېب و. ۱۳- او بیا چې په هغوی کې یوې ډلې وویل ای د یثرب اوسېدونکو، تاسې سره د پاتې کېدو موقع نشته، نو بېرته ستانه شئ. او په هغوی کې یوې ډلې له پیغمبر نه اجازه غوښتله، هغوی ویل چې زموږ کورونه خوندي نه دي، او هغوی ناخوندي نه وو. هغوی یوازې تښتېدل غوښتل. ۱۴- او که د مدینې له څنډو پر هغوی څوک را ښکته شوي وای او هغوی یې فتنې ته دعوت کړي وای نو هغوی به منلې او هغوی به ډېر لږ ځنډ کولای. ۱۵- او هغوی تر دې مخکې له الله سره وعده کړې وه چې په شا به نه ځي. او الله سره د شوې وعدې پوښتنه به کېږي. ۱۶- ووایه که تاسې له مرګ یا وژنې وتښتئ، نو دا تېښته به ستاسې په کار نه شي. او په هغه صورت کې به تاسې ته یوازې د څو ورځو ګټې اخیستو فرصت درکول شي. ۱۷- ووایه، څوک دی چې تاسې له الله وساتي که هغه تاسې ته تاوان در رسول وغواړي، یا هغه په تاسې رحم

کول وغواړي او هغوی به ځان سره د الله په مقابل کې څوک ملاتړی او مرستندوی ونه مومي.
۱۸- الله په تاسې کې هغه (خلک) پېژني چې منع کول کوي او خپلو ورونو ته وايي چې موږ ته راشئ. او هغوی جنګ ته لږ راځي. ۱۹- او هغوی له تا سره بخل کوي. نو کله چې وېره راشي هغوی تاته داسې ګوري او د سترګو ګاټې يې داسې څرخېږي لکه په ځنکدن کې چې وي. بيا چې خطر لرې شي نو هغوی د مال د حرص له وجې تا سره په خوله وهلو مخ کېږي. دې خلکو چې ايمان را نه وړ نو الله د دوی عملونه ضايع کړل. او دا الله ته آسانه ده. ۲۰- هغوی داسې ګڼي چې پوځونه لا نه دي تللي. او که پوځونه راشي نو هغوی به دا غوره وګڼي چې کاشکې له بدويانو سره په کليو کې وای، ستاسې خبرونه را رسېدلای. او که له تاسې سره وای په جنګ کې به يې لږه برخه اخيستی.
۲۱- تاسې لپاره د الله په رسول کې غوره نمونه وه، د هغه کس لپاره چې د الله او د آخرت د ورځې تمه لري او الله ډېر يادوي. ۲۲- او کله چې د ايمان خاوندانو پوځونه وليدل، ويې ويل دا هغه دي چې الله او د هغه رسول يې موږ سره وعده کړې وه او الله او د هغه رسول رښتيا ويلي. او هغه په ايمان او اطاعت کې اضافه وکړله. ۲۳- د ايمان په خاوندانو کې داسې خلک هم شته چې له الله سره کړې وعده يې پوره کړله. نو په هغوی کې ځينو خپل مسووليت پوره کړی او ځينې نور په تمه دي. او هغوی يوه ذره بدلون هم ونه کړ. ۲۴- چې الله رښتينو ته د هغوی د رښتينولۍ بدله ورکړي او منافقينو ته عذاب ورکړي که يې وغواړي، يا د هغوی توبه قبوله کړي. بېشکه الله بښونکی، مهربان دی.
۲۵- او الله منکران د هغوی له ټولې غوسې سره بېرته ستانه کړل او د هغوی هېڅ مراد پوره نه شو او د مومنانو له اړخه جنګېدو ته الله کافي

شو. الله د قوت خاوند، قوي دی. ۲۶- او الله د هغو اهلو کتابو چې د
بریدګرو ملګرتیا یې وکړله یا یې له کلاګانو را ښکته کړل او د هغوی
په زړونو یې رعب واچاوه. تاسې په هغوی کې یوه ډله ووژله او بله ډله
مو بندي کړله. ۲۷- او هغه تاسې د هغوی د ځمکو او د هغوی د کورونو
او د هغوی د مالونو وارثان کړئ. او د داسې ځمکې چې تاسې پرې قدم
نه دی ایښی. او الله په هر څه قدرت لرونکی دی.
۲۸- ای نبی، خپلو مېرمنو ته ووایه که تاسې د دنیا ژوند او زینت غواړئ
نو راشئ چې زه تاسې ته لږ مال او متاع درکړم او په خوښۍ مو رخصت
کړم. ۲۹- او که تاسې الله او د هغه رسول او د آخرت کور غواړئ نو
الله په تاسې کې نېک کردارو ته لوی اجر برابر کړی دی. ۳۰- ای د نبي
مېرمنو، په تاسې کې چې هره یوه ښکاره بې حیایي وکړي، هغې ته به
دوه چنده عذاب ورکول کېږي. او دا الله ته آسانه ده.
* ۳۱- او په تاسې کې چې څوک د الله او د هغه د رسول فرمانبرداري
وکړي او نېک عمل وکړي نو موږ به ورته دوه چنده اجر ورکړو. او
موږ د هغه لپاره باعزته روزي تیاره کړې ده. ۳۲- ای د نبي مېرمنو،
تاسې د نورو ښځو غوندې نه یئ. که تاسې له الله وېرېږئ نو په لهجه
کې نرمي مه اختیاروئ چې د چا په زړه کې مرض وي هغوی په حرص
کې ونه لوېږي او له معروف سره سمه خبره وکړئ.
۳۳- او په خپلو کورونو کې پاتې شئ او د پخواني جاهلیت غوندې ښکاره
مه ګرځېږئ. او لمونځ قایم کړئ او زکات ورکړئ او د الله او د هغه د
رسول اطاعت وکړئ. الله خو غواړی چې له تاسې اهل بیتو ناپاکي لرې
کړي او تاسې په مکمل ډول پاک کړي. ۳۴- او ستاسې په کورونو کې
چې د الله د آیتونو او حکمت کوم تعلیم کېږي هغه یاد ساتئ. بېشکه الله
باریک بینه دی، خبر دی.

۳۵- بېشکه اطاعت کونکي سړي او اطاعت کونکې ښځې. او د ایمان خاوندان سړي او د ایمان خاوندانې ښځې. او فرمانبرداره سړي او فرمانبرداره ښځې. او رښتیني سړي او رښتینې ښځې. او صبر کونکي سړي او صبر کونکې ښځې. او خشوع کونکي سړي او خشوع کونکې ښځې. او صدقه ورکونکي سړي او صدقه ورکونکې ښځې. او روژه نیونکي سړي او روژه نیونکې ښځې. او د خپلو شرمګاهو ساتونکي سړي او د خپلو شرمګاهو ساتونکې ښځې. او الله ډېر یادونکي سړي او الله ډېر یادونکې ښځې، د دوی لپاره الله مغفرت او لوی اجر برابر کړی دی.
۳۶- د هېڅ مومن سړي یا مومنې ښځې لپاره دا ګنجایش نشته چې کله الله او د هغه رسول په یوه معامله کې فیصله وکړي نو بیا په کې هغوی ته څه اختیار پاتې شي. او څوک چې د الله او د هغه د رسول نافرماني وکړي نو هغه په ښکاره ګمراهۍ کې ولوېده.
۳۷- او کله چې تا هغه سړي ته چې الله پرې انعام کړی و او تا پرې انعام کړی و (آزاد کړی دې و) ته وویل چې خپله مېرمنه وساته او له الله ووېرېږه. او تا په خپل زړه کې هغه خبره پټه ساتلې وه چې الله یې ښکاره کونکی و. او ته له خلکو وېرېدلې او الله ډېر حقدار دی چې ته ترې ووېرېږې. بیا چې کله زید له هغه خپل غرض پوره کړ، نو موږ هغه سره ستا نکاح وکړه چې مومانو لپاره په خوله د ویل شویو زامنو د مېرمنو په هکله کومه سختي پاتې نه شي. کله چې له هغوی خپل غرض پوره کوي. او د الله حکم کېدونکی و.
۳۸- پېغمبر لپاره په هغه څه کې هېڅ سختي نشته چې الله ورته مقرر کړی وي. د الله همدا طریقه د هغو پېغمبرانو لپاره هم ده چې مخکې تېر شوي دي. او د الله حکم قطعي فیصله وي. ۳۹- هغوی د الله پېغامونه

رسول او له هغه وېرېدل او له الله بغير له بل هېچا نه وېرېدل. او الله د حساب اخيستلو لپاره کافي دی. ۴۰- محمد ستاسې په سړيو کې د چا پلار نه دی، خو هغه رسول او د نبيانو خاتم دی. او الله په هر څه پوهېږي.
۴۱- ای د ايمان خاوندانو، الله ډېر يادوئ. ۴۲- او د هغه تسبيح وکړئ سهار او ماښام. ۴۳- هغه په تاسې رحمت نازلوي او د هغه ملايکې هم چې تاسې له تيارو را وباسي او رڼا ته مو راوړي. او هغه په مومنانو ډېر زيات رحم کونکی دی. ۴۴- په کومه ورځ به چې (مومنان) هغه سره ګوري، د هغوی استقبال به په سلام کېږي. او هغه د دوی (مومنانو) لپاره باعزته صله تياره کړې ده.
۴۵- ای نبي، موږ ته ګواهي ورکونکی، زېری ورکونکی او وېرونکی لېږلی يې. ۴۶- او د الله له لوري، د هغه له اذن سره سم، دعوت ورکونکی او يو روښانه څراغ. ۴۷- او مومنانو ته زېری ورکړه چې د هغوی لپاره د الله له لوري ډېر لوی فضل دی. ۴۸- او ته د منکرانو او منافقانو خبرې مه منه او د هغوی ځورول له نظره وغورځوه او په الله توکل وساته. او الله د توکل لپاره کافي دی.
۴۹- ای د ايمان خاوندانو، کله چې تاسې مومنو ښځو سره نکاح وکړئ، او بيا هغه له لمس کولو مخکې طلاقې کړئ نو د هغوی په هکله په تاسې هېڅ عدت لازم نه دی چې تاسې يې شمېر وکړئ. نو هغوی ته څه متاع ورکړئ او په ښه شان يې رخصت کړئ.
۵۰- ای نبي، موږ ستا لپاره حلالې کړې دي ستا هغه مېرمنې چې تا يې مهر ورکړی وي او هغه مېرمنې هم چې ستا مملوکې دي چې الله تاته په غنيمت کې درکړي او ستا د کاکا لورګانې او ستا د ترور لورګانې او ستا د ماما لورګانې او ستا د خاله لورګانې چې له تا سره يې هجرت کړی وي. او هغه مسلمانه ښځه هم چې خپل ځان پېغمبر ته ورکړی، په دې

شرط چې پیغمبر ورسره نکاح کول وغواړي، دا خاص ستا لپاره دي، له مسلمانانو جلا. او موږ ته معلوم دي هغه څه چې موږ په هغوی (مومنانو) د هغوی د مېرمنو او د هغوی د وینځو په هکله فرض کړي، چې په تا کومه تنګسه نه وي او الله بښونکی، مهربان دی.
۵۱- او ته چې په هغوی کې کومې غواړې جدا کړه او کومې چې غواړې له ځان سره یې وساته. او کومې چې دې لرې کړې که په هغوی کې بیا هم د کومې طلب وکړې نو په تا کومه ګناه نشته. په دې کې ډېره توقع ده چې د هغوی سترګې به یخې وي، او خفه به نه وي. او په هغه څه به راضي وي چې ته یې ورکوې. او الله پوهېږي څه چې ستاسې په زړونو کې دي. او الله خبردار دی او حلیم دی. ۵۲-له دې بغیر نورې مېرمنې تا لپاره حلالې نه دي. او نه دا سمه ده چې ته د هغوی په ځای نورې مېرمنې وکړې، که څه هم صورت تاته ښایسته ښکاري، مګر که ستا وینځې وي. او الله په هر څه نګران دی.
۵۳- ای د ایمان خاوندانو، د نبي کورونو ته مه ځئ مګر کله چې تاسې ته د خوړو لپاره اجازه درکول شي، هغه هم داسې چې په تمه یې مه پاتې کېږئ. خو کله چې تاسې ور وغوښتل شئ نو ننوځئ. بیا مو چې خوراک وکړ نو پاڅېږئ او لاړ شئ او په خبرو مصروف مه کېنئ. دا کار په نبي ښه نه لګېږي. خو هغه ستاسې لحاظ کوي. او الله د حق خبرې په کولو کې د چا لحاظ نه کوي. او کله چې تاسې د رسول له مېرمنو څه غواړئ نو په پرده کې یې وغواړئ. دا طریقه ستاسې د زړونو لپاره ډېره پاکه ده او د هغوی د زړونو لپاره هم. او ستاسې لپاره دا جایزه نه ده چې د الله رسول ته تکلیف ورسوئ او نه دا جایزه ده چې تاسې له هغه وروسته د هغه له مېرمنو سره نکاح وکړئ دا د الله په نزد ډېره بده خبره ده. ۵۴- که تاسې څه ښکاره کړئ یا یې پټ کړئ، الله په هر څه خبر دی.

۵۵- د پیغمبر په میرمنو د خپلو پلرونو، یا خپلو زامنو، یا خپلو ورونو، یا خپلو وریرونو، یا خپلو خورینو، یا خپلو سیالو ښځو یا خپلو وینځو مخې ته په راتګ هیڅ ګناه نشته. او له الله ووېرېږئ، هغه هر څه ویني.
۵۶- الله او د هغه ملایکې په نبي رحمت وایي. ای د ایمان خاوندانو، تاسې هم په هغه درود او سلام ووایئ. ۵۷- څوک چې الله او د هغه رسول ځوروي. الله په هغوی دنیا او آخرت کې لعنت کړی دی او ذلیلونکی عذاب یې ورته تیار کړی دی. ۵۸- او څوک چې مومن سړي او مومنې ښځې ځوروي بې له دې چې هغوی څه کړي وي، نو هغوی د تور پورې کولو او ښکاره ګناه پېټی پورته کړی دی.
۵۹- ای نبي، خپلو میرمنو ته ووایه او خپلو لوڼو ته او مسلمانو ښځو ته ووایه چې هغوی په ځان خپل ټیکري لږ را ښکته کړی، په دې به هغوی زر پیژندل کیږي او نه به ځورول کیږي. او الله بښونکی، مهربان دی.
۶۰- منافقین او هغه خلک چې په زړونو کې یې مرض دی او هغوی چې په مدینه کې دروغ خبرې خپروي، که هغوی منع نه شي نو موږ به تا د هغوی خلاف یوه ورځ ودروؤ. بیا به هغوی تا سره په مدینه کې ډیر لږ پاتې شي. ۶۱- رټل شوي به وي، چیرته چې ولیدل شي وبه نیول شي او په بد مرګ به ووژل شي. ۶۲- دا د الله دستور دی د هغو خلکو په هکله چې مخکې تېر شوي دي. او تاسې به د الله په دستور کې هیڅ بدلون ونه وینئ.
۶۳- خلک له تا د قیامت په هکله پوښتنه کوي. ووایه چې د دې علم یوازې له الله سره دی. او تاسې څه خبر یئ، کېدای شي قیامت را نږدې شوی وي. ۶۴- بېشکه الله منکران له رحمته لرې کړي دي. او د هغوی لپاره د اور لمبې تیارې دي. ۶۵- په هغه کې به تل اوسیږي. نه به کوم ملاتړی ومومي او نه کوم مرستندوی. ۶۶- په کومه ورځ به چې د دوی

مخونه په اور وران شي. هغوی به ووايي، ای کاش، موږ د الله اطاعت کړی وای او موږ د رسول اطاعت کړی وای. ۶۷- او هغوی به وايي ای زموږ ربه، موږ د خپلو سردارانو او خپلو مشرانو خبره ومنله او هغوی موږ له لارې بېلارې کړو. ۶۸- ای زموږ ربه، هغوی ته دوه چنده عذاب ورکړه او لوی لعنت پرې وکړه.

۶۹- ای د ايمان خاوندانو، تاسې د هغوی خلکو په شان مه کيږئ چې موسی يې وځوره نو الله هغه د هغو خلکو له خبرو بري ثابت کړ. او هغه د الله په نزد باعزته و. ۷۰- ای د ايمان خاوندانو، له الله ووېرېږئ او سمه خبره وکړئ. ۷۱- هغه به ستاسې اعمال سم کړي او ستاسې ګناهونه به وبښي. او څوک چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړي هغه به لويه کاميابي ومومي.

۷۲- موږ امانت آسمانونو او ځمکې او غرونو ته وړاندې کړ، هغوی يې له پورته کولو انکار وکړ او ترې ووېرېدل، او انسان پورته کړ. بېشکه هغه ظالم او جاهل و. ۷۳- په دې خاطر چې الله منافقو سړو او منافقو ښځو او مشرکو سړو او مشرکو ښځو ته جزا ورکړي. او مومنو سړو او مومنو ښځو ته توجه وکړي. او الله ښښونکی، مهربان دی.

## سوره سبا ۳۴

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.

۱- تعريف هغه الله لره دی چې، د هغه دي څه چې په آسمانونو کې دي او څه چې په ځمکه دي او هغه لره تعريف دی په آخرت کې او هغه د حکمت خاوند او پوهېدونکی دی. ۲- هغه پوهيږي په هغه څه چې ځمکه کې ننه دي او څه چې ترې بهر راځي، او څه چې له آسمانه را ښکته

کېږي او څه چې ور پورته کېږي. او هغه د رحمت لرونکی، ښونکی دی.
۳- او چا چې انکار کړی هغوی وایي چې په موږ قیامت نه راځي. ووایه چې ولې نه. قسم دې وي زما په عالم‌الغیب پروردګار، هغه به حتماً په تاسي راځي. له هغه د ذرې هومره شی پټ نه دی، نه په آسمانونو کې او نه په ځمکه. او نه کوم شی له هغه وړوکی او لوی، مګر هغه په یوه پرانیستي کتاب کې دي. ۴- په دې خاطر چې هغه، هغو خلکو ته بدله ورکړي چې ایمان یې راوړی او نېک کارونه یې کړي. همدا هغه خلک دي د چا لپاره چې ښښنه ده او د عزت روزي. ۵- او کومو خلکو چې زموږ د آیتونو د عاجزولو هڅه کړې ده، د هغوی لپاره د سختۍ دردناک عذاب دی. ۶- او چاته چې علم ورکول شوی، هغوی پوهېږي څه چې په تا نازل شوي هغه حق دی او د عزیز او حمید الله لاره ښیي.
۷- او چا چې انکار کړی هغوی وایي، ایا موږ تاته داسې کس در وښایو چې تاسې ته خبر درکوي چې کله تاسې بیخي مېده مېده شئ نو بیا به بېرته له سره جوړېږئ. ۸- ایا هغه په الله دروغ تړي او که کوم ډول جنون لري. بلکې څوک چې په آخرت ایمان نه لري هغوی په عذاب او په خطرناکه ګمراهۍ کې دي. ۹- نو ایا هغوی آسمان او ځمکې ته نظر نه دی کړی چې له هغوی مخکې او وروسته دي. که موږ وغواړو هغوی به په ځمکه ننباسو یا به پرې آسمان را وغورځوو. بېشکه په دې کې نښه ده د هر هغه بنده لپاره چې متوجه کېدونکی وي.
۱۰- او موږ داؤد ته له خپل لوري یو لوی نعمت ورکړ. ای غرونو، تاسې هم هغه سره په تبسیح کې ګډون وکړئ. او همداسې مو مرغانو ته حکم وکړ. او موږ اوسپنه د هغه لپاره نرمه کړله. ۱۱- چې ته پراخه

زغرې جوړې کړه او کړی په اندازې سره ولګوه او نېک عمل وکړه. تاسې چې څه کوئ هغه زه ګورم.
۱۲- او د سلېمان لپاره موږ باد مسخر کړ، د هغه د سهار مزل به یوه میاشت او د ماښام مزل یوه میاشت وو. او موږ هغه لپاره د مېسو چینه وبهوله. او په جناتو کې ځیني داسې وو چې د خپل رب په حکم یې هغه ته کار کاوه. او په هغوی کې چې څوک زموږ له حکم سرغړونه وکړي نو موږ به پرې د اور د عذاب خوند وڅکوؤ. ۱۳- هغوی به ورته هغه څه جوړول چې (سلېمان) به غوښتل، ودانۍ او انځورونه، او د لګن په شان ډنډونه او ایښي دېګونه، ای آل داؤده، په شکرګزارۍ عمل وکړئ او زما په بندهګانو کې لږ شکرګزاره دي.
۱۴- بیا چې موږ په هغوی د مرګ فیصله نافذه کړله نو هېڅ شي هغوی (جناتو) ته د هغه (سلېمان) د مړینې خبر ور نه کړ، مګر د ځمکې ویانه، چې د هغه امساء یې ووهله. نو بیا چې هغه را ولوېده جناتو ته ښکاره شوه چې که هغوی ته د غیبو علم وای نو د ذلت په دې مصیبت کې به نه وای پراته.
۱۵- سبا لپاره د هغه په خپل مسکن کې نښه وه. دوه باغونه ښي (اړخ ته) او چپ (اړخ ته)، د خپل رب له رزق وخورئ او د هغه شکر وکړئ. ښاپسته ښار او ښښونکی رب. ۱۶- بیا هغوی سرغړونه وکړله او موږ پرې د بند سېلاب ور پرېښود او د هغوی باغونه مو په دوؤ داسې باغونو بدل کړل چې بې خونده میوې، شاړ بوټي په کې وو او څو بېرې هم.
۱۷- موږ د هغوی د ناشکرۍ بدل ورکړ او داسې بدل موږ هغو ته ورکوؤ چې ناشکره وي.
۱۸- او موږ د هغوی او د هغوی د کلیو ترمنځ، په کوم ځای کې چې موږ برکت ایښی وو، داسې کلي آباد کړل چې ښکاره کېدل. او موږ د

هغوی تر منځ د سفر منزلونه وټاکل. په هغو شپه او ورځ په امن ګرځیږئ. ۱۹- بیا هغوی وویل ای زموږ ربه، زموږ په سفرونو کې لرې والی واچوه. او هغوی په خپلو ځناورو ظلم وکړ نو موږ هغوی افسانه کړل او موږ هغوی ذرې ذرې کړل. بېشکه په دې کې نښه ده د هر صبر لرونکي لپاره او شکر کونکي لپاره.
۲۰- او ابلیس په هغو باندې خپل ګمان رښتیا کړ. نو هغوی د ده پیروي وکړله، مګر د ایمان خاوندانو یوې ډلې. ۲۱- او ابلیس په هغوی هېڅ اختیار نه درلود، مګر دا چې موږ هغه خلک معلوم کړو چې په آخرت ایمان لري، له هغو خلکو (یې جدا کړو چې په هکله یې شکمن دي) او ستا رب په هر څه نګران دی.
۲۲- ووایه هغوی را وبولئ چې تاسې له الله بغیر معبودان بللي دي، هغوی نه په آسمانونو کې ذره اختیار لري او نه په ځمکه او په دې دواړو کې د هغو څه ونډه نشته. او نه یې په هغوی کې څوک مرستندوی دی.
۲۳- او د هغه په وړاندې هېڅ شفاعت نه په کارېږي مګر د هغه چا لپاره چې هغه یې اجازه ورکړي. تر دې چې کله د هغوی له زړونو وېره ورکه شي نو هغوی به پوښتنه وکړي چې ستا رب څه وفرمایل. هغوی به ووایي د حق خبرې حکم یې وکړ. او هغه تر ټولو لوړ دی، تر ټولو لوی دی.
۲۴- (ورته) ووایه څوک تاسې ته له آسمانه او ځمکې رزق درکوي. ووایه چې الله. او په ما او تاسې کې یو طرف یا په هدایت کې دی یا په ښکاره ګمراهۍ کې. ۲۵- ووایه کومه ګناه چې موږ کړې د هغې پوښتنه له تاسې نه کیږي. او کومه ګناه چې تاسې کوئ د هغه پوښتنه به له موږه نه کیږي. ۲۶- ووایه چې زموږ رب به موږ را ټول کړي، بیا به زموږ تر منځ له حق سره سمه فیصله وکړي. او هغه د فیصلې خاوند دی. ۲۷-

ووایه، ماته هغه را وښیه چې تاسې له الله سره شریک کړي دي. هېڅکله نه، بلکې هغه قوي دی، د حکمت خاوند دی.
۲۸- او موږ. ته ټولو انسانانو لپاره زېری ورکوونکی او وېروونکی لېږلی یې، خو زیاتره خلک نه پوهېږي. ۲۹- او هغه وایي دا وعده به کله وي که ته رښتینی یې. ۳۰- ووایه ستاسې لپاره د یوې خاصې ورځې وعده ده چې نه ترې ګړۍ وروسته کېدای شئ او نه ترې مخکې کېدای شئ.
۳۱- او چا چې انکار کړی هغوی وایي موږ. هېڅکله دا قرآن نه منو او نه هغه څه چې له دې مخکې دي. او که ته هغه وخت وګورې کله چې دا ظالمان د خپل رب مخې ته ودرول شي. په یو بل به ملامتي اچوي. څوک چې کمزوري ګڼل کېدل، هغوی به لویو ته وایي چې که تاسې نه وای، موږ. به حتماً ایمان لرونکي وای. ۳۲- لویان به کمزورو ته ځواب ورکوي. ایا موږ. تاسې له هدایته منع کړي وئ. سره د دې چې هغه تاسې ته را رسېدلی وو، بلکې تاسې پخپله مجرمان یئ. ۳۳- او کمزوري خلک به لویانو ته وایي، نه بلکې ستاسې د شپې او ورځې په تدبیرونو، چې کله به تاسې موږ. ته ویل چې له الله سره کفر وکړو او هغه سره شریکان جوړ کړو. او هغوی به خپله پښېماني پټوي چې کله هغوی عذاب ګوري. او موږ. به د منکرانو په غاړه کې طوق واچوؤ. هغوی به هماغه بدله ومومي څه یې چې کول.
۳۴- او موږ. چې هر کلي ته کوم وېروونکی لېږلی نو د هغه ځای خوشحاله خلکو دا ویلي موږ. له هغه څه منکر یو چې ته ورسره را لېږل شوی یې.
۳۵- او هغوی وویل چې موږ. په مال او اولاد کې زیات یو او موږ. به هېڅکله جزا نه وینو. ۳۶- ووایه زما رب چې چا ته وغواړي ډېره روزي ورکوي. او چا ته چې وغواړي کموي یې، خو زیاتره خلک نه پوهېږي.
۳۷- او تاسې مالونه او اولادونه هغه څه نه دي چې په مرتبه کې تاسې

موږ ته را نږدې کړي، البته څوک چې ایمان راوړ او نېک عمل یې وکړ، داسې خلکو ته د خپل عمل دوه چنده بدل دی. او هغوی به بالاخانو کې په اطمینان اوسېږي. ۳۸- او څوک چې زموږ د آیتونو په ټیټه ښودلو لګیا دي هغوی به عذاب ته داخل کړی شي. ۳۹- ووایه زما رب چې په خپلو بندهګانو کې چا ته وغواړي پراخه روزي ورکوي او په چا یې چې وغواړي تنګوي یې. او تاسې چې هر څه مصرفوئ د هغه بدل به درکول کېږي. او هغه غوره رزق ورکونکی دی.
۴۰- او په کومه ورځ به چې هغه دوی ټول راټول کړي نو هغه به له ملایکو پوښتنه وکړي، ایا دې خلکو ستاسې عبادت کاوه. ۴۱- هغوی به ووایي ستا ذات پاک دی، زموږ اړیکه له تا سره ده، نه له دې خلکو سره، بلکې دوی د جناتو عبادت کاوه، په دوی کې زیاتره د هغوی مومنان وو. ۴۲- نو نن به په تاسې کې یو هم نه بل ته ګټه رسولای شي او نه تاوان. او موږ به ظالمانو ته ووایو د اور خوند وڅکئ چې تاسې به دروغ باله. ۴۳- او کله چې هغوی ته زموږ ښکاره آیتونه اورول کېږي نو هغوی وایي چې دا خو هسې یو سړی دی او غواړي تاسې له هغو منع کړي چې ستاسې پلار نیکه یې عبادت کاوه. او هغوی وویل، دا خو یوازې جوړ شوي دروغ دي. او هغو منکرانو ته چې کله حق راغی نو هغوی وویل چې دا خو یوازې ښکاره جادو دی. ۴۴- او موږ هغوی ته کتابونه نه وو ورکړي چې هغوی لوستي وي. او موږ له تا مخکې هغوی ته وېرووونکی نه وو لېږلی. ۴۵- او تر هغوی مخکینیو هم دروغجن بللي او دا د هغو لسمې برخې ته هم نه رسېږي چې موږ ورکړي وو. نو هغوی زما رسولان دروغجن وبلل، نو څنګه دی په هغوی باندې زما عذاب.

۴۶- ووايه، زه تاسې ته د يوې خبرې نصيحت کوم، دا چې تاسې د الله لپاره ودرېږئ، دوه دوه او يو يو، بيا فکر وکړئ. ستاسې ملګرى جنون نه لري، هغه يوازې له يوه سخت عذاب مخکې تاسې وېروي. ۴۷- ووايه، که ما له تاسې څه معاوضه غوښتي وي نو هغه ستاسې ده. زما معاوضه الله سره ده. او هغه په هر څه ګواه دى.
۴۸- ووايه چې زما رب به (باطل) په حق وهي، هغه په پټو ځيزونو خبر دى. ۴۹- ووايه چې حق راغى او باطل نه څه پيدا کوي او نه يې تکراروى. ۵۰- ووايه که زه په ګمراهۍ کې يم نو زما د ګمراهۍ اوبال په ما دى او که زه په هدايت يم نو د هغې وحې له وجې يم چې زما رب يې ماته کوي. بېشکه هغه اورېدونکى، قريب دى.
۵۱- او که ته وګورې، کله چې هغوى وېرېدلي وي. نو هغوى به نه شي تښتېدلى او زر به نيول کيږي. ۵۲- او هغوى به وايي چې موږ په دې ايمان راوړ. په دومره لرې تللو به يې څنګه ومومي. ۵۳- او له دې مخکې هغوى انکار کړى وو. او له ليدلو بغير به يې له لرې ځايه خبرې کولې.
۵۴- او د هغوى او د هغوى د غوښتنو ترمنځ به بندونه رامنځته شي، لکه څنګه چې پخوا د دوى په شان خلکو سره شوي وو. هغوى په ډېر تېرايستونکي شک کې پرېوتي وو.

## سوره فاطر ۳۵

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دى.
۱- تعريف الله لره دى، د آسمانونو او ځمکې پيدا کونکى، چې ملايکې يې پيغام رسونکې کړې چې وزرې لري دوه دوه او درې درې او څلور څلور. هغه چې په مخلوق کې څه وغواړي زياتولاى يې شي. بېشکه الله په هر څه قادر دى. ۲- الله چې په چا رحمت پرانيزي نو هېڅوک يې

مخه نیونکی نشته. او که هغه یې بند کړي نو هېڅوک یې پرانیستونکی نشته. او هغه قوي دی، د حکمت خاوند دی.
۳- ای خلکو، په ځان د الله احسانونه یاد کړئ. ایا له الله بغیر بل خالق شته چې تاسې ته له آسمان او ځمکې رزق درکوي. له هغه بغیر بل معبود نشته. نو تاسې له کوم ځایه تېروځئ. ۴- او که دا خلک تا دروغجن بولي نو تر تا مخکې هم ډېر پېغمبران دروغجن بلل شوي دي. او ټولې چارې الله ته رجوع کونکې دي.
۵- ای خلکو، بېشکه د الله وعده حق ده. نو د دنیا ژوند مو تېر نه باسي. او نه هغه لوی تېرایستونکی تاسې د الله په هکله تېرباسي. ۶- بېشکه شیطان ستاسې دښمن دی نو تاسې یې دښمن وګڼئ، هغه خو خپلې ډلې ته خلک په دې خاطر ور بولي چې هغوی دوزخیان شي. ۷- چا چې انکار وکړ، د هغوی لپاره سخت عذاب دی. او چا چې ایمان راوړ، او نېک عمل یې وکړ، د هغوی لپاره بښنه ده او لوی اجر دی.
۸- ایا داسې کس چې د هغه بد عمل ورته ښه ښودل شوی دی، بیا هغه هم ښه ګڼلی دی، نو الله چې څوک وغواړي هغه بې لارې کوي او چا ته چې وغواړي هدایت کوي. نو په هغوی د افسوس کولو له وجې ځان مه هلاکوه. الله پوهېږي چې هغوی څه کوي.
۹- او الله دی چې بادونه (هواګانې) لګوي. بیا هغه وریځې پورته کوي. بیا هغه موږ د یوه مړه وطن خوا ته وړو. نو موږ په دې (وریځو) مړه شوې ځمکه له مرګ وروسته بېرته ژوندۍ کړله. همداسې به بیا را ژوندي کېدل وي. ۱۰- څوک چې عزت غواړي نو عزت ټول الله لره دی. پاکې خبرې د هغه پر لور ور خېژي او نېک عمل هغه پورته کوي. او څوک چې بد تدبیرونه کوي د هغوی لپاره سخت عذاب دی او د هغوی تدبیرونه به له منځه ځي.

۱۱- او الله تاسې له خاورې پیدا کړي یئ. بیا د اوبو له څاڅکي، بیا یې تاسې جوړې جوړې کړئ. او هېڅ یوه ښځه نه امیدواره کېږي او نه زېږون کوي مګر د هغه په علم سره. او نه څوک اوږد عمر لرونکی اوږد عمر مومي او نه د چا عمر کمېږي، مګر هغه په یوه کتاب کې ثبت دي. بېشکه دا الله ته آسانه ده.

۱۲- او دواړه سیندونه یو ډول نه دي. دا خوږ دی، د تندې ماتونکی، د څښلو لپاره خوندور او دا تریخ مالګین دی. او تاسې له دواړو تازه غوښه خورئ او د سینګار څیزونه را وباسئ چې تاسې یې اچوئ. او تاسې کښتۍ ګورئ چې دا څیري او مزل په کې کوي. د دې لپاره چې تاسې د هغه فضل ولټوئ او د دې لپاره چې تاسې شکر وباسئ. ۱۳- او هغه شپه په ورځې داخلوي او ورځ په شپې داخلوي. او هغه لمر او سپوږمۍ مسخر کړي دي. هر یو په یوه ټاکل شوي وخت چلېږي. دا الله دی ستاسې رب، د هغه لره پاچاهي ده. او له هغه بغیر چې تاسې څوک را بولئ هغوی د کجوري د زړي د پوټکي هومره د یوه سپک شي مالکان هم نه دي. ۱۴- که تاسې هغوی را وبولئ هغوی ستاسې فریاد نه شي اورېدی. او که یې واوري نو ستاسې فریاد ته رسیدګي نه شي کولای. او هغوی به د قیامت په ورځ ستاسې له شرکه انکار وکړي. او د یوه باخبر په شان یې هېڅوک تاسې ته نه شي ویلای.

۱۵- ای خلکو، تاسې الله ته محتاج یئ او الله بې نیازه دی، د تعریف خاوند دی. ۱۶- که هغه وغواړي نو تاسې به یوسي او یو نوی مخلوق به راوړي. ۱۷- دا الله ته سخته نه ده. ۱۸- او هېڅوک پورته کونکی به د بل پېټی پورته نه کړي. او که کوم د درونډ پېټي خاوند د خپل پېټي پورته کولو لپاره څوک را وبولي، نو له هغه به یوه ذره هم پورته نه شي، اګر که خپلوان یې هم وي. نو ته یوازې هغه خلک وېرولی شې چې

له لیدلو بغیر له خپل رب نه وېرېږي او لمونځ قایموي. او څوک چې پاک وي د ځان لپاره پاک وي او الله ته بېرته ستنېدل دي.
۱۹- او ړوند او بینا سره برابر نه دي. ۲۰- او نه تیاره او رڼا. ۲۱- او نه سیوری او لمر. ۲۲- او ژوندی او مړی سره نه شي سمېدلای. بېشکه الله یې په هغه چا اوروي چې هغه یې غواړي. او ته یې هغوی ته نه شې اورولای چې په قبرونو کې دي. ۲۳- ته خو یوازې خبرداری ورکونکی یې. ۲۴- موږ ته له حق سره لیږلی یې. زېری ورکونکی او وېرونکی. او هېڅ داسې امت نشته چې کوم وېرونکی په کې نه وي ورغلی. ۲۵- او که دا خلک تا دروغجن بولي نو له دوی مخکې چې کوم خلک وو، هغوی هم دروغجن بللي. هغوی ته پیغمبرانو ښکاره دلایل او صحیفې او روښانه کتاب راوړ. ۲۶- بیا چې چا ونه منل هغوی ما ونیول، نو وګوره چې په هغوی زما عذاب څنګه شو.
۲۷- ایا تا نه دي لیدلي چې الله له آسمانه اوبه را ښکته کړي دي. بیا موږ له هغې د بېلابېلو رنګونونو میوې پیدا کړې. او په غرونو کې هم سپینې او سرې، بېلابېل رنګه ټوټې دي او تکې تورې هم. ۲۸- او همداسې د انسانانو او ځناورو او څارویو هم بېلابېل رنګونه دي. له الله د هغه په بندهګانو کې یوازې هغوی وېرېږي چې د علم خاوندان دي. بېشکه الله قوي دی، بښونکی دی.
۲۹- څوک چې د الله کتاب لولي او لمونځ قایموي او څه چې موږ ور عطا کړي له هغې پټ او ښکاره مصرف کوي، هغوی د داسې تجارت په تمه دي چې هېڅکله به تاوان نه کوي. ۳۰- چې الله هغوی ته پوره اجر ورکړي. او هغوی ته یې په خپل فضل لا ډېر کړي. بېشکه هغه بښونکی دی، قدردان دی. ۳۱- او موږ چې تاته کوم کتاب وحې کړی

هغه حق دی، د هغو تصديقونکی دی چې تر ده مخکې موجود دي. بېشکه الله د خپلو بندهګانو خبر لرونکی، ليدونکی دی.
۳۲- بيا موږ د کتاب وارثان هغه خلک کړل چې موږ په خپلو بندهګانو کې غوره کړل. نو په هغوی کې ځيني په خپلو ځانونو ظالمان دي او ځيني په منځني حالت کې دي. او په هغوی کې ځيني د الله په توفيق په ښېګڼو کې مخکې دي. همدا تر ټولو لوی فضل دی. ۳۳- تلپاتې باغونه دي چې دا خلک به ور ننوځي، هلته به ورته د سرو زرو بنګي او مرغلرې اچول کېږي او هلته به يې جامې د ورېښمو وي. ۳۴- او هغوی به وايي، د الله شکر دی چې موږ يې له غمه لرې کړو. بېشکه زموږ رب ښښونکی او قدر کونکی دی. ۳۵- هغه چې موږ يې په خپل فضل د اوسېدو لپاره داسې ځای ته راوستي وو، چې نه به په کې کوم تکليف را رسېږي او نه به ستړيا راځي.
۳۶- او چا چې انکار وکړ د هغوی لپاره د دوزخ اور دی، نه به يې اجل راځي چې مړه شي او نه به ترې د دوزخ عذاب سپه کېږي. موږ هر منکر ته همداسې جزا ورکوؤ. ۳۷- او هغه خلک به په (دوزخ) کې چيغې وهي ای زموږ ربه، موږ وباسه. موږ به نېک عمل وکړو، له هغه بدل چې موږ پخوا کول. ايا موږ تاسې ته دومره عمر نه وو درکړی چې چا پوهېدل غوښتل هغوی په کې پوهېدی شول. او تاسې ته وېرونکی راغی. اوس زغمئ چې د ظالمانو هېڅ مرستندوی نشته.
۳۸- او الله د آسمانونو او ځمکې په غيبو پوه دی. بېشکه هغه د زړه په خبرو هم خبر دی. ۳۹- هغه دی چې تاسې يې په ځمکه آباد کړئ. نو څوک چې انکار وکړي د هغه انکار به په هماغه پرېوځي. او د منکرانو لپاره د هغوی انکار، د هغوی د رب په نزد، يوازې د نارضايتۍ د زياتېدو

لامل کېږي. او منکرانو لپاره به د هغوی انکار، د هغوی خپل تاوان زيات کړي.
۴۰- ووايه، تاسې لږ خپل شريکان وګورئ چې له الله بغير يې را بولئ، ماته را وښايئ چې هغوی له ځمکې کوم شی جوړ کړی دی. يا د هغوی په آسمان کې برخه ده. ايا موږ هغوی ته کوم کتاب ورکړی چې هغوی يې په کوم دليل دي، بلکې دا ظالمان يو بل سره يوازې د ټګی د خبرو وعدې کوي. ۴۱- بېشکه الله آسمانونه او ځمکه نيولي چې (له خپل ځايه) ونه خوځېږي. او که هغه وخوځېږي نو له هغه (الله) بغير يې بل څوک نه شي نيولای. بېشکه هغه د زغم خاوند دی، ښونکی دی.
۴۲- او هغوی په تاکيد سره په الله قسمونه کړي وو چې که وېرونکی ورته راغی نو هغوی به تر بل هر امت ډېر هدايت منونکي وي. بيا چې کله هغوی ته وېرونکی راغی نو د هغوی يوازې بېزاري زياته شوه.
۴۳- په ځمکه ځان لوی ګڼل، او بد تدبيرونه کول. او د بد تدبير اوبال خو يوازې په بد تدبير کونکو غورځېږي. نو ايا دوی داسې دستور ته په تمه دي چې د پخوانيو خلکو په هکله واضح شو. نو تاسې به د الله په دستور کې نه کوم بدلون ومومئ او نه به د الله دستور وځنډولی شي.
۴۴- ايا دا خلک په ځمکه نه دي ګرځېدلي چې ليدلی يې وای، د هغو خلکو انجام څنګه شو چې تر دوی مخکې تېر شوي دي، او هغوی په قوت کې تر دوی زيات وو. او الله داسې نه دی چې څه يې عاجز کړی شي، نه په آسمانونو کې او نه په ځمکه. بېشکه هغه د علم خاوند دی، د قدرت خاوند دی.
۴۵- او الله خلک د هغوی د عملونو له وجې نيولای نو په ځمکه به يې يو ژوندی هم نه وای پريښی، خو هغه تر يوه ټاکلي وخته مهلت ورکوي. بيا چې د هغوی موده پوره شي نو الله خپل بندګان پخپله ګوري.

## سوره یس ۳۶

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- **یس.** ۲. قسم دی په باحکمته قرآن. ۳- بېشکه ته په رسولانو کې یې.
۴- په ډېره سمه لاره. ۵- دا د عزیز او رحیم رب له لوري نازل شوی
دی. ۶- چې ته هغوی ووېروې چې پخواني (خلک) یې نه دي وېرول
شوي. نو هغوی بې خبره دي.
۷- په هغوی کې زیاترو باندې خبره ثابته شوې ده نو هغوی ایمان نه
راوړي. ۸- موږ د هغوی په غاړو کې طوق اچولی دی. هغه یې زنو ته
پورته شوی او د هغوی سرونه پورته کېږي. ۹- او موږ د هغوی مخې
ته هم یو بند جوړ کړی او د هغوی شا ته مو هم یو بند جوړ کړی دی.
بیا موږ هغوی پټ کړي نو هغوی نه شي لیدلای. ۱۰. او د هغوی لپاره
یو ډول ده، که ته یې ووېروې که نه، ایمان نه راوړي. ۱۱- ته یوازې
هغه څوک وېرولی شې چې په نصیحت لاړ شي او له الله بې لیدلو
ووېرېږي. نو داسې کس ته د بښنې او باعزته ثواب زېری ورکړه.
۱۲- یقیناً موږ به مړي را ژوندي کړو. او موږ هغه لیکو څه چې هغوی
له ځانه مخکې لېږلي وو څه یې چې شاته پرېښي دي. او موږ هر څه په
یوه پرانیستي کتاب کې ثبت کړي دي.
۱۳- او هغوی ته د هغه کلي مثال ووایه چې زموږ رسولان ورته راغلل.
۱۴- سره د دې چې موږ هغوی ته دوه رسولان ولېږل نو هغوی دواړه
دروغجن وبلل، بیا مو په دریم د هغو (دوؤ) تائید وکړ، هغوی وویل چې
موږ تاسې ته را لېږل شوي یو. ۱۵- خلکو وویل چې تاسې خو زموږ
غوندې انسانان یئ او رحمان داسې څه نه دي نازل کړي، تاسې هسې
دروغ وایئ. ۱۶- هغوی وویل زموږ رب پوهېږي چې موږ بېشکه تاسې

ته را لیږل شوي یو. ۱۷- او زموږ مسوولیت خو یوازې په ښکاره ډول (پیغام) رسول دي. ۱۸- خلکو وویل چې موږ خو تاسې منحوس ګڼو، که تاسې منع نه شوئ نو موږ به مو سنګسار کړو او زموږ له اړخه به سخت تکلیف در ورسیږي. ۱۹- هغوی وویل چې ستاسې نحوست له تاسې سره دی، ایا یوازې په دومره خبره چې تاسې ته نصیحت وشو. بلکې تاسې له حده وتونکي خلک یئ.

۲۰- او د ښار له لرې سیمې یو کس په منډه راغی. هغه وویل، ای زما قومه، د رسولانو پیروي وکړئ. ۲۱- د هغو خلکو پیروي وکړئ چې له تاسې څه بدله نه غواړي. او هغوی په سمه لار دي.

* ۲۲- او زه د هغه ذات عبادت ولې ونه کړم چې زه یې پیدا کړی یم او هغه ته به تاسې ټول ور ستنیږئ. ۲۳- ایا زه له هغه بغیر نور معبودان کړم. که رحمان (ذات) ماته کوم تکلیف را رسوي نو د دوی (شریکانو) شفاعت به زما  په کار نه شي او نه به دوی ما خلاص کړی شي. ۲۴- بېشکه هغه وخت به زه په ښکاره ګمراهۍ کې یم. ۲۵- ما چې ستاسې په رب ایمان راوړی نو تاسې هم زما خبره واورئ. ۲۶- ارشاد وشو چې جنت ته ننوځئ. هغه وویل، کاشکې زما قوم پوهېدای. ۲۷- چې زما رب زه ببښلی یم او زه یې د عزت په خاوندانو کې شامل کړی یم.

۲۸- او له هغه وروسته موږ د هغه په قوم له آسمانه پوځ را ښکته نه کړ، او موږ پورځ نه را ښکته کاوه. ۲۹- بس یوه چاودنه وشوه او هغوی له هر څه خلاص شول. ۳۰- افسوس دی په هغو بندهګانو، هر رسول چې ورته راغی هغوی ور پورې خنداګانې کولې. ۳۱- ایا هغوی ونه لیدل چې موږ له هغوی مخکې څومره قومونه هلاک کړل. اوس هغوی بېرته د دوی طرف ته نه راځي. ۳۲- او په هغوی کې داسې یو هم نشته چې را ټول نه شي او موږ ته را حاضر نه شي.

۳۳- او يوه نښه د هغوی لپاره مړه ځمکه ده. موږ هغه ژوندۍ کړله او له هغې مو غَلَه را وويسته. نو هغوی ترې خوراک کوي. ۳۴- او له هغې موږ د کجورو او انګورو باغونه جوړ کړل. او له هغې موږ چينې رواني کړلې. ۳۵- چې خلک ترې ميوې وخوري. او دا د هغوی لاسونو نه دي جوړ کړي. نو ايا هغوی شکر نه وباسي. ۳۶- پاک دی هغه ذات چې د هر څه جوړې يې پيدا کړې. له هغې هم چې ځمکه يې را شنه کوي او پخپله د هغوی له منځه هم. او له هغو هم چې هغوی يې نه پېژني.
۳۷- او يوه نښه د هغوی لپاره شپه ده، موږ له هغوی ورځ را کاږو نو هغوی په تياره کې پاتې شي. ۳۸- او لمر، هغه په خپله ټاکل شوې لاره ځي. او دا د عزيز او عليم (ذات) ټاکل شوې اندازه ده. ۳۹- او د سپوږمۍ لپاره موږ منزلونه ټاکلي دي، تر دې چې هغه داسې پاتې کيږي لکه د کجورې زړه څانګه. ۴۰- نه لمر دا وس لري چې سپوږمۍ را ونيسي او نه شپه له ورځې مخکې راتللی شي. او ټول په يوه دائره کې ګرځي.
۴۱- او د هغوی لپاره يوه نښه دا ده چې موږ د هغوی نسل په ډکو کښتيو کې سپور کړ. ۴۲- او موږ د هغوی لپاره د هغې (کښتۍ) په شان نور شيان پيدا کړي چې هغوی پرې سپريږي. ۴۳- او که موږ وغواړو هغوی غرقوؤ، بيا به نه څوک د هغوی د فرياد اورېدونکی وي او نه به هغوی وساتلی شي. ۴۴- خو دا زموږ رحمت دی او تر يوه ټاکلي وخته ګټه ورکول دي.
۴۵- او کله چې هغوی ته وويل شي چې له هغه ووېريږئ چې ستاسې مخ کې دی او ستاسې شا ته دی چې رحم در باندې وشي. ۴۶- او دوی ته دخپل رب له دليلونو نه هېڅ دليل نه راځي، مګر دوی له هغو نه مخ ګرځونکي دي. ۴۷- او کله چې هغوی ته وويل شي چې الله تاسې ته څه درکړي، په هغه کې مصرف وکړئ نو چا چې انکار کړی هغوی د ايمان

خاوندانو ته وايي ايا موږ په داسې خلکو وخورو چې که الله غوښتی وای پخپله به يې پرې خوړلي وای. ايا تاسې په ښکاره ګمراهۍ کې يئ.
۴۸- او هغوی وايي چې دا وعده به کله وي که تاسې رښتيني يئ. ۴۹- هغه خلک د يوه ناڅاپي کړنګ لارې څاري چې هغوی به ونيسي. او هغوی به همداسې جنګيږي. ۵۰- بيا به نه کوم وصيت کولای شي او نه به خپلو خلکو ته ستنيدی شي. ۵۱- او کله چې صور (شپيلۍ) پوو شي نو دوی به سمدستي له قبرونو خپل رب ته روان شي. ۵۲- هغوی به وايي، های افسوس، موږ چا له خپلو قبرونو را پورته کړو دا هغه دي چې رحمان يې وعده کړې وه او پيغمبرانو رښتيا ويلي وو. ۵۳- دا به يو ناڅاپي کړنګ وي، بيا به يو ټول په ګډه موږ ته را حاضر شي.
۵۴- نو نن ورځ به په چا ظلم نه کيږي، او تاسې ته به د هغه څه بدله درکول کيږي چې تاسې کول. ۵۵- بېشکه جنتيان به په خپل مصروفيت کې خوشحاله وي. ۵۶- هغوی او د هغوی مېرمنې به سيوري ته په پالنګونو کې ډډه وهلي ناست وي. ۵۷- د هغوی لپاره به هلته مېوې وي او د هغوی لپاره به هلته هغه ټول شيان وي چې غواړي يې. ۵۸- په هغوی به سلام ويل کيږي د مهربان رب له طرفه.
۵۹- او ای مجرمانو، نن تاسې جدا شئ. ۶۰- ای د آدم اولاده، ايا ما په تا ټينګار نه وو کړی چې د شيطان عبادت مه کوه. بېشکه هغه ستا ښکاره دښمن دی. ۶۱- او دا چې ته زما عبادت کاوه، همدا سمه لار ده. ۶۲- او هغه په تاسې کې يوه لويه ډله ګمراه کړله. نو ايا تاسې نه پوهيږئ. ۶۳- دا جهنم دی، چې له تاسې سره يې وعده کېدله. ۶۴- اوس د خپل کفر په بدل کې دې ته ننوځئ. ۶۵- نن به موږ د هغوی په خوله مهر ولګوو او د هغوی لاسونه به موږ سره خبرې وکړي او د هغوی پښې به ګواهي ورکړي چې دې خلکو څه کول.

۶۶- او كه موږ غوښتی وای د هغوی سترګې مو ختمولې. بیا كه هغوی لارې ته منډې را وهلی نو څنګه به یې لیدلای. ۶۷- او كه موږ غوښتی وای نو د هغوی څېرې به مو هلته بدلې كړې وای، نو نه به مخ ته تللای شوی او نه شا ته ګرځېدلای شوی. ۶۸- او موږ چې د چا عمر زیاتوؤ نو هغه بېرته د هغه پیدا كېدو خوا ته وړو. ایا هغوی نه پوهېږي.
۶۹- او موږ ده (پېغمبر) ته شاعري نه ده ښودلې او نه له ده سره مناسبه ده. او دا خو یوازې یو نصیحت دی او واضح قرآن دی. ۷۰- د دې لپاره چې دا هغه كس خبردار كړي چې ژوندی وي او په انكار كونكو حجت قایم شي.
۷۱- ایا هغوی نه دي لیدلي چې موږ په خپلو لاسو جوړو شویو شیانو كې هغوی ته څاروي پیدا كړي، نو هغوی یې مالكان دي. ۷۲- او موږ هغه (څاروي) د دوی تابع كړي، نو ځیني په كې سپرلۍ (لپاره) دي او ځینې دوی خوري. ۷۳- او په هغوی (څارویو) كې دوی ته ګټې دي او د څښاك څیزونه هم، نو ایا هغوی شكر نه وباسي. ۷۴- او هغوی له الله بغیر نور معبودان جوړ كړل چې كېدای شي مرسته ورسره وشي. ۷۵- خو هغه (معبودان) دوی سره مرسته نه شي كولای، او هغوی به د دوی د لښكر په توګه حاضر كړی شي. ۷۶- نو د هغوی په خبره ته خفه مه شې، موږ پوهېږو په هغه څه چې هغوی یې پټوي او هغه څه چې هغوی یې ښكاره كوي.
۷۷- ایا انسان نه دي لیدلي چې هغه موږ له یوه څاڅكي پیدا كړی، بیا هغه زر جنګېرک شو. ۷۸- او هغه زموږ پر وړاندې خبرې كوي او خپل پیداښت ترې هېر شو. هغوی وایي هډوكي به څوک را ژوندي كړي سره د دې چې هغه به بوسه شوي وي. ۷۹- ووایه، هغه به یې را ژوندي كړي چې په لومړي ځل یې پیدا كړل. او هغه په هر ډول پیدا

کولو پوهېږي. ۸۰ هغه دی چې تاسې ته يې له شنې ونې اور پيدا کړ.
بيا تاسې په هغه اور بلوئ. ۸۱- ايا چا چې اسمانونه او ځمکه پيدا کړل،
هغه په دې قادر نه دی چې د هغو په شان (نور) پيدا کړي. هو هغه قادر
دی. او هغه اصلي پيدا کونکی، پوهېدونکی دی. ۸۲- د هغه معامله خو
داسې ده چې کله د يوه څيز اراده وکړي نو وايي چې وشه، هغه کېږي.
۸۳- نو، پاک دی هغه ذات چې په لاس کې يې د هر څه اختيار دی او
هغه ته به تاسې ستنېږئ.

## سوره الصافات ۳۷

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- قسم دی په قطار قطار صف ولاړو ملايکو، ۲- بيا (د شيطانانو) په
سختو رټونکو . ۳- بيا په هغو چې نصيحت کونکې دي. ۴- چې ستاسې
معبود يو دی. ۵- د آسمانونو او ځمکې رب او څه چې د دوی تر منځ
دي او د ټولو مشرقونو رب.
۶- موږ د دنيا آسمان د ستورو په ښايست سينګار کړی دی. ۷- او له هر
سرکشه شيطان مو خوندی کړی دی.
۸- هغوی عالم بالا اړخ ته غوږ نه شي نيولای او هغوی له هر لوري
ويشتل کېږي. ۹- د شړلو لپاره، او د هغوی لپاره يو دايمي عذاب دی.
۱۰- مګر کوم شيطان چې خبره وتښتوي نو يوه بَله (لمبه) ورپسې کېږي.
۱۱- نو له هغوی پوښتنه وکړه چې د هغوی پېدايښت سخت دی که هغه
څيزونه چې موږ پيدا کړي دي. موږ هغوی له سرېښناکې خټې جوړ
کړي دي. ۱۲- بلکې ته تعجب کوې او هغوی خنداګانې کوي. ۱۳- او
کله چې هغوی پوهول کېږي نو هغوی نه پوهېږي. ۱۴- او کله چې
هغوی کومه نښه ګوري نو هغوی ته خندا ورولي. ۱۵- او وايي چې دا

خو ښکاره جادو دی. ۱۶- ایا کله چې موږ مړه شو او خاورې او هډوکي شو نو بیا به را پورته کیږو. ۱۷- او زموږ تېر پلار نیکونه هم. ۱۸- ووایه چې هو، او تاسې به ذلیله هم یئ.
۱۹- بیا به یو کړنګ وي، بیا به یې هغه وخت هغوی ووینې. ۲۰- او وبه وايي چې های افسوس، دا خو د جزا ورځ ده. ۲۱- دا هماغه د فیصلې ورځ ده چې تاسې به دروغ بلله. ۲۲- راټول کړئ هغوی چې ظلم یې کړی او د هغوی ملګري او د هغوی معبودان هم. ۲۳- هغه چې هغوی یې له الله بغیر عبادت کاوه؛ بیا هغوی ټولو ته د دوزخ لار وښیئ.
۲۴- او هغوی ودروئ، له هغوی څه پوښتنې دي. ۲۵-په تاسې څه شوي چې یو بل سره مرسته نه کوئ. ۲۶- بلکې نن خو هغه فرمانبردار دي.
۲۷- او هغوی به یو بل ته متوجه شي او سوال او ځواب به کوي. ۲۸- وايي به، تاسې به موږ ته له ښي اړخه راتللئ. ۲۹- هغوی به ځواب ورکړي، بلکې تاسې پخپله ایمان نه راوړ. ۳۰- او زموږ په تاسې څه زور نه و، بلکې تاسې پخپله سرکښه خلک وئ. ۳۱- نو په موږ ټولو به زموږ د رب خبره پوره کیږي، موږ به د دې خوند حتماً څکو. ۳۲- موږ تاسې ګمراه کړي یئ، موږ پخپله هم ګمراهان وو. ۳۳- نو هغوی ټول به د هغې ورځ په عذاب کې شریک وي.
۳۴- موږ له مجرمانو سره همداسې کوؤ. ۳۵- دا هغه خلک وو چې کله به ورته وویل شول چې له الله بغیر بل معبود نشته نو دوی به کبر کاوه.
۳۶- او ویل به یې چې ایا موږ د یوه لیوني شاعر په خوله خپل معبودان پرېږدو. ۳۷- بلکې هغه حق راوړی دی. او هغه د رسولانو د وړاندوینو مصداق دی. ۳۸- بېشکه تاسې به له درده ډک عذاب وګورئ. ۳۹- او تاسې ته د هغه څه بدله درکول کیږي چې تاسې کول.

۴۰- مګر څوک چې د الله غوره شوي بندهګان دي. ۴۱- د هغوی لپاره به رزق معلوم وي. ۴۲- میوې، او هغوی به په ډېر عزت وي. ۴۳- د آرام په باغونو کې. ۴۴- په تختونو یو بل ته مخامخ ناست.
۴۵- هغوی ته به داسې پیاله راوړل شي چې له روانو (بهېدونکو) شرابو به ډکه شي. ۴۶- پاک، رانه، د څښونکو لپاره خوندور. ۴۷- نه به په کې ضرر وي او نه به پرې عقل خرابېږي. ۴۸- او هغوی سره به د ټیټو نظرونو، لویو سترګو ښځې وي. ۴۹- ګویا هغه هګۍ دې چې پټې ساتل شوې وي.
۵۰- بیا به هغوی یو بل سره په توجه خبرې کوي. ۵۱- په هغوی کې به یو ویونکي وایي چې زما یو ملګری وو. ۵۲- هغه به ویل چې ایا ته هم د تصدیقونکو په ډله کې یې. ۵۳- ایا کله چې موږ مړه شو او خاورې او هډوکي شو نو بیا به جزا را کول کېږي. ۵۴- وبه وایي، ایا تاسې به (دوزخ ته) ګورئ. ۵۵- نو هغه به سر ور ښکته کړي او هغه (خپل ملګری) به د دوزخ په منځ کې ویني. ۵۶- وبه وایي چې په الله قسم، تا زه تباه کولم. ۵۷- او که زما د رب فضل نه وای نو زه به هم په هغو خلکو کې وای چې نیول شوي دي. ۵۸- ایا اوس به موږ نه مرو. ۵۹- مګر په لومړي ځل چې موږ مړه شو او اوس به راته عذاب نه وي. ۶۰- بېشکه همدا لویه کامیابي ده. ۶۱- عمل کونکي باید د دغسې کامیابۍ لپاره عمل وکړي.
۶۲- (ایا) دا مېلمستیا ښه ده، که د زقوم ونه. ۶۳- موږ هغه د ظالمانو لپاره فتنه کړې ده. ۶۴- هغه یوه ونه ده چې د دوزخ له تله راوځي. ۶۵- غونچه یې داسې ده لکه د شیطان سر. ۶۶- نو هغه خلک به له دې خوراک کوي. بیا به له دې خېټه ډکوي. ۶۷- بیا به هغوی ته جوش اوبه ګډې ورکول شي. ۶۸- بیا به هغوی بېرته دوزخ ته ستانه شي. ۶۹-

هغوی خپل پلار نیکه په ګمراهۍ کې ولیدل. ۷۰- بیا یې هغوی هم په پلونو روان شول. ۷۱- او له هغوی مخکې هم په خلکو کې زیاتره ګمراهان شول. ۷۲- او موږ هغوی ته هم وېرونکي ولېږل. ۷۳- نو وګوره، د هغو خلکو انجام څنګه شو چې وېرول شوي وو. ۷۴- مګر هغو چې د الله غوره شوي بندګان وو.

۷۵- او موږ ته نوح فریاد وکړ نو موږ څومره ښه فریاد اورېدونکي یو. ۷۶- او موږ هغه او د هغه خلک له ډېر لوی غم نه وساتل. ۷۷- او موږ د هغه نسل پاتې کړ. ۷۸- او موږ په راتلونکو کې د هغه په طریقه یوه ډله پرېښوده. ۷۹- په نوح سلام دی د دنیا ټولو خلکو کې. ۸۰- موږ نیکي کونکو ته همداسې بدله ورکوؤ. ۸۱- بېشکه هغه زموږ په مومنو بندګانو کې وو. ۸۲- بیا موږ نور غرق کړل.

۸۳- او ابراهیم هم د همدې طریقې په پیروانو کې وو. ۸۴- کله چې هغه خپل رب ته له سلیم زړه سره راغی. ۸۵- کله چې هغه خپل پلار او خپل قوم ته وویل چې تاسې د څه شي عبادت کوئ. ۸۶- ایا تاسې له الله بغیر خپل جوړ کړي معبودان غواړئ. ۸۷- نو د رب العالمین په هکله ستاسې څه خیال دی.

۸۸- بیا ابراهیم ستورو ته یو نظر وکتل. ۸۹- بیا یې وویل چې زه ناروغ یم. ۹۰- بیا هغو خلک دی پرېښود او لاړل. ۹۱- نو دی د هغوی بُتانو ته ورننوت، ویې ویل چې ایا تاسې خوراک نه کوئ. ۹۲- په تاسې څه شوي چې څه نه وایئ. ۹۳- بیا یې هغه په پوره قوت ووهل. ۹۴- بیا خلک هغه ته په منډه راغلل.

۹۵- ابراهیم وویل، ایا تاسې د هغه څه عبادت کوئ چې پخپله یې تراشئ. ۹۶- او الله تاسې هم پیدا کړي یئ او هغه شیان هم چې تاسې یې جوړوئ. ۹۷- هغوی وویل، د ده لپاره یو ځای جوړ کړئ بیا دا په سره اور کې

واچوئ. ۹۸- نو هغوی د ده په ضد یو عمل کول وغوښتل او موږ هغوی
ناکام کړل. ۹۹- او هغه وویل چې زه د خپل رب طرف ته ځم، هغه به
ماته لارښوؤنه وکړي. ۱۰۰- ای زما ربه، ماته صالح اولاد راکړه.
۱۰۱- نو موږ هغه ته د یوه حلیم زوي زیری ورکړ.
۱۰۲- نو کله چې هغه له ده سره د ګرځېدو عمر ته ورسېده، نو هغه
(ابراهیم) وویل، ای زما زویه، ما خوب لیدلی چې تا حلالوم. نو ته فکر
وکړه چې ستا څه نظر دی. هغه وویل چې ای زما پلاره، تاته چې هر
حکم کیږي هغسې وکړه، انشاءالله ته به ما په صابرینو کې ووینې.
۱۰۳- نو دواړه مطیع شول او ابراهیم هغه د تندي په خوا څملاوه. ۱۰۴-
او موږ هغه ته غږ وکړ چې ای ابراهیمه. ۱۰۵- تا خپل خوب رښتیا کړ.
بېشکه موږ نیکي کونکو ته همداسې بدله ورکوو. ۱۰۶- یقیناً دا یو ښکاره
ازمېښت وو. ۱۰۷- او موږ د یوې لویې قربانۍ په بدل هغه پرېښوده.
۱۰۸- او موږ د هغه (په لاره) راتلونکو نسلونو کې یوه ډله پرېښودله.
۱۰۹- سلامتي دې وي په ابراهیم. ۱۱۰- موږ نیکي کونکو ته همداسې
بدله ورکوؤ. ۱۱۱- بېشکه هغه زموږ په مومنو بندهګانو کې وو. ۱۱۲-
او موږ اسحاق ته زیری ورکړ، د صالحینو له ډلې یو نبي. ۱۱۳- او موږ
هغه (اسماعیل) او اسحاق ته برکت ورکړ. او د هغوی دواړو په نسل کې
ښه هم شته داسې هم چې په خپلو نفسونو ښکاره ظالمان دي.
۱۱۴- او موږ په موسی او هارون احسان وکړ. ۱۱۵- او هغه او د هغه
قوم مو له یوه لوی مصیبت وساته. ۱۱۶- او موږ هغوی سره مرسته
وکړه نو هغوی برلاسي شول. ۱۱۷- او موږ هغوی دواړو ته واضح
کتاب ورکړ. ۱۱۸- او موږ هغو دواړو ته سمه لاره ور وښودله. ۱۱۹-
او موږ د هغوی په طریقه راتلونکو نسلونو کې یوه ډله پرېښودله. ۱۲۰-

سلامتي دې وي په موسی او هارون. ۱۲۱- موږ نيکي کونکو ته همداسې
بدله ورکوؤ. ۱۲۲- بېشکه هغوی دواړه زموږ په مومنو بندهګانو کې وو.
۱۲۳- او الياس هم په پېغمبرانو کې و. ۱۲۴- کله چې هغه خپل قوم ته
وويل. ۱۲۵- ايا تاسې نه وېرېږئ. ايا تاسې بعل را بولئ او بهترين خالق
پرېږدئ. ۱۲۶- (چې) الله دی، چې ستاسې رب هم دی او ستاسې د تېرو
پلار نيکونو هم. ۱۲۷- هغوی هغه دروغجن وباله او هغوی په نيول
کېدونکو کې راغلل. ۱۲۸- مګر هغوی چې د الله خاص بندهګان وو.
۱۲۹- او موږ په پخوانيو خلکو کې د هغه په طريقه يوه ډله پرېښودله.
۱۳۰- سلامتي دې وي په الياس. ۱۳۱- موږ نيکي کونکو ته داسې بدله
ورکوؤ. ۱۳۲- بېشکه هغه زموږ په مومنو بندهګانو کې وو.
۱۳۳- بېشکه لوط هم په پېغمبرانو کې وو. ۱۳۴- کله چې موږ هغه او د
هغه خلک وساتل. ۱۳۵- مګر يوه بوډۍ چې په وروسته پاتې کېدونکو
کې وه. ۱۳۶- بيا موږ نور هلاک کړل. ۱۳۷- او تاسې د هغو په کليو
تېرېږئ سهار هم، ۱۳۸- او د شپې هم، نو ايا تاسې نه پوهېږئ.
۱۳۹- او بېشکه يونس هم په رسولانو کې وو. ۱۴۰- کله چې هغه
وتښتېده او ډکې کښتۍ ته ورسېده. ۱۴۱- بيا يې چې پچه واچوله نو هماغه
خطاوار راووته. ۱۴۲- بيا هغه کب (ماهي) تېر کړ. او هغه خپل ځان
ملامتاوه. ۱۴۳- بيا که هغه په تسبيح کونکو کې نه وای. ۱۴۴- نو د
خلکو د را پورته کولو تر ورځ به د هغه (کب) په خېټه کې وای. ۱۴۵-
بيا موږ هغه په يوه ميدان کې وغورځاوه او هغه ناروغه و. ۱۴۶- او
موږ په هغه د کدو لرونکې ونه را شنه کړه. ۱۴۷- او موږ هغه سل زرو
يا ډېرو خلکو ته ور ولېږه. ۱۴۸- بيا هغو خلکو ايمان راوړ نو موږ
هغوی ته تر يوه وخته د ګټې اخيستو مهلت ورکړ.

۱۴۹- نو له هغوی پوښتنه وکړه، ایا ستاسې د رب لوڼې دي او د هغه زامن (دي). ۱۵۰- ایا موږ ملایکې ښځې جوړې کړي او هغوی پرې ګواهان دي. ۱۵۱- واورئ، دا خلک یوازې د خپل زړه په خبره داسې وایي. ۱۵۲- چې الله اولاد لري او یقیناً هغوی دروغجن دي. ۱۵۳- ایا الله د زامنو په مقابل کې لوڼې خوښې کړې. ۱۵۴- په تاسې څه شوي دي، تاسې څنګه قضاوت کوئ. ۱۵۵- نو ایا تاسې له فکر کار نه اخلئ. ۱۵۶- ایا تاسې سره کوم واضح دلیل شته. ۱۵۷- تاسې خپل کتاب راوړئ که رښتیني یئ.

۱۵۸- او هغوی د الله او جناتو ترمنځ هم اړیکه جوړه کړې ده. او جناتو ته معلومه ده چې هغوی به یقیناً نیول شوي راځي. ۱۵۹- الله پاک دی له هغو خبرو چې هغوی یې کوي. ۱۶۰- مګر هغه چې د الله غوره شوي بندګان دي. ۱۶۱- نو تاسې او د چا چې تاسې عبادت کوئ. ۱۶۲- له الله څوک نه شئ اړولای. ۱۶۳- مګر هغوی چې په دوزخ کې غورځېدونکي دي. ۱۶۴- او موږ کې هر یوه لپاره یو ټاکلی مقام دی. ۱۶۵- او موږ ټول د الله په وړاندې صف تړلي ولاړ یو. ۱۶۶- او موږ د هغه تسبیح کونکي یو.

۱۶۷- او دې خلکو به ویل. ۱۶۸- که موږ سره هم د پخوانیو په شان علم وای. ۱۶۹- نو موږ به د الله خاص بندګان وای. ۱۷۰- بیا هغوی له دې انکار وکړ او ډېر زر به هغوی پوه شي. ۱۷۱- او د خپلو لېږلو بندګانو لپاره زموږ دا فیصله له مخکې شوې ده. ۱۷۲- چې بېشکه هغوی به برلاسي کیږي. ۱۷۳- او زموږ لښکر برلاسه کېدونکی دی. ۱۷۴- نو تر یو څه وخته له هغوی مخ واړوه. ۱۷۵- او ګوره، زر به یې هغوی هم وګوري.

۱۷۶- ایا هغوی زموږ عذاب ته تادي کوي. ۱۷۷- نو کله چې دا (عذاب) د هغوی انګړونو ته ور ښکته شي، ډېر بد به وي د هغو خلکو سهار چې وېرول شوي دي. ۱۷۸- نو د څه وخت لپاره له هغوی مخ واړوه. ۱۷۹- او ګوره، زر به یې هغوی هم وګوري.
۱۸۰- نو ستا رب، د عزت مالک، پاک دی له هغو خبرو چې دا خلک یې کوي. ۱۸۱- او سلام دی په پیغمبرانو. ۱۸۲- او ټول تعریفونه الله لره دي چې د ټول جهان رب دی.

## سوره ص ۳۸

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- ص. قسم دی په نصیحت لرونکي قرآن. ۲- بلکې چا چې انکار کړی هغوی په کبر او ضد کې دي. ۳- له هغوی مخکې موږ څومره قومونه هلاک کړل، نو هغوی فریادونه وکړل او هغه وخت د ساتلو نه وو.
۴- او هغو خلکو تعجب وکړ چې هغوی ته د هغوی له ډلې یو وېرونکی راغی. او انکار کونکو وویل چې دا جادوګر دی، دروغجن دی. ۵- ایا هغه د دومره معبودانو په ځای یو معبود کړی، دا خو ډېره عجیبه خبره ده. ۶- او د هغوی مشران ودرېدل او ویې ویل چې ځئ او په خپلو معبودانو کلک اوسئ، په دې خبره کې څه چل دی. ۷- موږ دا خبره په تېرو دینونو کې نه ده اورېدلې، دا له ځانه جوړه شوې خبره ده. ۸- ایا موږ ټولو کې په همدې کس الهي کلام نازل شو. بلکې دا خلک زما د خبرداري په هکله شکمن دي. بلکې دوی لا زما د عذاب خوند نه دی لیدلی.
۹- ایا ستا د رب د رحمت خزانې چې قوي او فیاض دی، له هغو سره دي. ۱۰- ایا د آسمانونو او ځمکې او د دې ترمنځ د څیزونو پاچاهي د

هغوی په اختیار کې ده. بیا دې هغوی پوړۍ کیږدي او پورته (دې) شي.
۱۱- یو لښکر به دا هم تباه شي په ټولو لښکرو کې. ۱۲- له دوی مخکې
د نوح او عاد قوم او د میخونو والا فرعون. ۱۳- او ثمود او د لوط قوم
او اصحاب ایکه دروغ وبلل. دا خلک لویې لویې ډلې وې. ۱۴- دې ټولو
رسولان دروغجن وبلل نو زما عذاب نازل شو. ۱۵- او دا خلک د یوه
ناڅاپي عذاب په تمه دي، چې هېڅ مهلت به په کې نه وي. ۱۶- او هغوی
وویل چې ای زموږ ربه، موږ ته خپله برخه د حساب له ورځې مخکې
راکړه.
۱۷- هغوی چې هر څه وایي صبر پرې وکړه، او زموږ بنده داؤد را یاد
کړه چې د قوت خاوند او رجوع کونکی وو. ۱۸- موږ غرونه له هغه
سره مسخر کړل چې له هغه سره به یې سهار او ماښام تسبیح کولې.
۱۹- او مرغان هم ورسره راټول. ټول د الله اړخ ته رجوع کونکي وو.
۲۰- او موږ د هغه پاچاهي قوي کړه، او هغه ته مو حکمت ورکړ. او د
معاملاتو د فیصلې کولو وړتیا مو ورکړه.
۲۱- ایا تاسې ته د هغو دعوی لرونکو خبر در رسېدلی چې په دېوالونو
اوښتي وو او عبادتځای ته ننوتي وو. ۲۲- کله چې داؤد ته ورغلل هغه
ترې ووېرېده. هغوی وویل چې ته مه وېرېږه، موږ د شخړې دوه اړخونه
یو، یوې ډلې په بلې زیاتی کړی دی نو ته زموږ تر منځ د حق فیصله
وکړه، بې انصافي مه کوه او موږ ته سمه لاره وښیه.
۲۳- دا زما ورور دی، د ده نهه نوي[۹۹] مېږې (ګډې) دي او زما یوه[۱] ده.
دا وایي چې هغه یوه هم ماته راکړه. او ده په خبرو کې زه لاندې کړم.
۲۴- داؤد وویل، ده چې ستا مېږه له خپلو سره د یو ځای کولو غوښتنه
کړې واقعاً یې په تا ظلم کړی دی. او زیاتره شریکان په یو بل ظلم کوي.
مګر هغوی چې ایمان لري او نېک عمل کوي، او داسې خلک ډېر لږ.

دي. او داؤد ته فکر ورغی چې موږ په هغه امتحان راوړی، نو هغه له خپل رب ښښنه وغوښته او په سجده پرېوت. او رجوع شو. ۲۵- بیا موږ د هغه (هغه تېروتنه) وبښله. او بېشکه زموږ سره د هغه تقرب دی او ښه انجام (هم).
۲۶- ای داؤده، موږ ته په ځمکه خلیفه (حاکم) کړې نو د خلکو تر منځ په انصاف فیصله وکړه او د خواهش پیروي مه کوه، هغه به تا د الله له لارې خطا کړي. څوک چې د الله له لارې خطا شي د هغوی لپاره سخت عذاب دی. په دې خاطر چې هغوی د حساب ورځ هېره کړې ده.
۲۷- او موږ ځمکه او آسمان او څه چې د دې تر منځ دې عبث نه دي پیدا کړي، دا د هغو خلکو ګمان دی چې انکار یې کړی دی، نو چا چې انکار کړی د هغوی لپاره په اور بربادي ده. ۲۸- ایا موږ به هغه خلک چې ایمان یې راوړی او ښه کارونه یې کړي، د هغو خلکو غوندې کړو چې په ځمکه فساد کونکي دي، یا به موږ پرهېزګاران د بدعملو په شان کړو. ۲۹- دا بابرکته کتاب دی چې موږ په تا نازل کړی دی، په دې خاطر چې خلک یې په آیتونو غور وکړي او د عقل خاوندان ترې نصیحت ومومي.
۳۰- او موږ داؤد ته سلېمان عطا کړ. بهترین بنده، خپل رب ته ډېر رجوع کونکی. ۳۱- کله چې ماښام هغه ته ښه او تېز آسونه وړاندې شول. ۳۲- نو هغه وویل، ما د مال مینه د خپل رب د یاد نه لوړه وګڼله، تر دې چې هغه (آسونه) له سترګو پناه شول. ۳۳- تاسې هغه ماته راوړئ، بیا یې د پنډیو او اورمېږونو ټپول شروع کړل.
۳۴- او موږ سلېمان وازمایه. او موږ د هغه په تخت جسد واچاوه. بیا هغه رجوع وکړله. ۳۵- هغه وویل ای زما ربه، ما وبښه او ماته داسې پاچاهي راکړه چې له ما وروسته هېچا ته مناسبه نه وي، بېشکه ته لوی

ورکونکی يې. ۳۶- نو موږ هوا د هغه تابع کړه. هغه به د ده په حکم په نرمۍ چلېدله هر خوا به چې ده غوښتل. ۳۷- او جنات مو هم د هغه تابع کړل. هر ډول معماران او غوپه وهونکي. ۳۸- او نور چې په زنځیرونو تړل شوي وو. ۳۹- دا زموږ عطیه ده، که يې ساتې که يې ورکوې، بې حسابه. ۴۰- او هغه لپاره موږ سره قرب دی او ښه انجام (هم).

۴۱- او زموږ بنده ايوب ياد کړه. کله چې هغه خپل رب ته فرياد وکړ چې شيطان زه په تکليف او عذاب اخته کړی يم. ۴۲- خپله پښه (په ځمکه) ووهه. دا يخې اوبه دي، د لمبا او څښلو لپاره. ۴۳- او موږ هغه ته کورنۍ ورکړله او ورسره د هغو غوندې نور هم، د خپل رحمت په توګه او د عقل خاوندانو ته د نصيحت په توګه. ۴۴- او په خپل لاس کې یوه ګېډۍ ونیسه او په هغه وهل کوه او قسم مه ماتوه. بېشکه موږ هغه صبر کونکی وموند. بهترين بنده، خپل رب ته رجوع کونکی.

۴۵- او زموږ بندهګان ابراهيم او اسحاق او يعقوب را ياد کړه، هغوی د لاسونو او سترګو لرونکي وو. ۴۶- موږ هغوی په یوه خاصې خبرې ځانګړي کړي وو چې د آخرت خبرداری ورکړي. ۴۷- او هغوی زموږ په نزد په غوره شويو نېکو بندهګانو کې دي. ۴۸- او اسماعيل او اليسع او ذوالکفل ياد کړه، ټول په نېکو خلکو کې وو.

۴۹- دا نصيحت دی، او بېشکه له الله وېرونکو لپاره ښه ځای دی. ۵۰- تلپاتې باغونه چې دروازې به يې هغوی ته پرانيستې وي. ۵۱- هغوی به په کې تکيه وهلي ناست وي. او ډېر میوې او مشروبات به غواړي. ۵۲- او هغوی سره به حياناکې همزولې مېرمنې وي. ۵۳- دا هغه څه دي چې تاسې سره يې د حساب د ورځې په راتللو وعده کېدله. ۵۴- دا زموږ رزق دی چې هېڅکله ختمېدونکی نه دی.

۵۵- دا خبره شوې ده. او سرکشانو لپاره بد ځای دی. ۵۶- دوزخ، هلته به دوی ورننوځي. نو ښنګه بد ځای دی. ۵۷- دا د جوش اوبه او (د زخم) نو دی، نو دا خلک دې يې وڅکي. ۵۸- او په دې ډول نور ځيزونه به هم وي. ۵۹- دا يوه ډله ستا لور ته را روان دي، د هغوی لپاره هېڅ ښه راغلاست نشته. هغوی اور ته غورځېدونکي دي. ۶۰- هغوی به وايي بلکې تاسې لپاره هېڅ ښه راغلاست نشته. دا په موږ تاسې راوړي دي، نو ښنګه بد دی دا ځای. ۶۱- هغوی به ووايي چې ای زموږ ربه، چا چې په موږ دا حال راوړی، ته ورته دوه چنده عذاب ورکړه، په دوزخ کې. ۶۲- او هغوی به ووايي، څه خبره ده چې موږ هغه خلک دلته نه ګورو چې موږ بد ګڼل. ۶۳- ايا موږ په هغوی پورې خندلي وو که له هغوی مو سترګې اوړي. ۶۴- بېشکه دا خبره رښتيا ده، د دوزخيانو په خپل منځ کې جنګ.
۶۵- ووايه چې زه خو يوازې وېرونکی يم. بل هېڅ معبود نشته مګر الله، يوازې او برلاسی. ۶۶- هغه د آسمانونو او ځمکې رب دی او څه چې د هغو تر منځ دي، هغه قوي دی، ښنونکی دی. ۶۷- ووايه چې يو لوی خبر دی. ۶۸- تاسې ترې بې پروايي کوئ. ۶۹- زه له لوړ مجلسه (ملا اعلی/عالم بالا) نه وم خبر چې کله هغوی په خپلو کې خبرې کولې. ۷۰- ماته خو وحې د دې لپاره راځي چې زه يو ښکاره وېرونکی يم.
۷۱- کله چې ستا رب ملايکو ته وويل چې زه له خاورې يو بشر جوړؤم.
۷۲- کله چې زه هغه جوړ کړم او خپل روح په کې وپوکم نو تاسې به ورته سجده کوئ. ۷۳- ټولو ملايکو سجده وکړله. ۷۴- مګر ابليس (نه)، چې هغه کبر وکړ او هغه په انکار کونکو کې شو. ۷۵- ويې فرمايل ای ابليسه، ته څه شي هغه ته له سجدې کولو منع کړې چې ما په خپلو لاسونو جوړ کړ. دا تا کبر وکړ که ته د لوړو درجو په لرونکو کې يې. ۷۶- هغه

وویل چې زه تر آدم ښه یم. تا زه له اوره پیدا کړی یم او هغه له خاورې.
۷۷- ویې فرمایل چې ته له دې ځایه ووځه، ځکه چې ته مردود یې. ۷۸-
او په تا زما لعنت دی د جزا تر ورځې.
۷۹- ابلیس وویل ای زما ربه، ماته تر هغې ورځې مهلت راکړه چې
خلک په کې بیا را پورته کیږي. ۸۰- ویې فرمایل چې مهلت درکول شو.
۸۱- د ټاکلي وخت لپاره. ۸۲- هغه وویل ستا په عزت قسم، زه به هغه
ټول گمراهان کوم. ۸۳- بې ستا له هغو بندهگانو چې تا غوره کړي دي.
۸۴- ویې فرمایل، نو حق همدا دی او زه حق وایم. ۸۵- چې زه به جهنم
له تا او هغو ټولو خلکو ډک کړم چې ستا پیروي وکړي.
۸۶- ووایه چې زه په دې (کار) له تاسې کوم اجر نه غواړم او نه په
تکلف کونکو کې یم. ۸۷- دا خو د دنیا خلکو ته یو نصیحت دی. ۸۸- او
تاسې به زر د ده په ورکول شوي خبر پوه شئ.

## سوره الزمر ۳۹

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- دا کتاب د الله له لوري نازل شوی چې قوي او د حکمت خاوند دی.
۲- بېشکه موږ دا کتاب په تا له حق سره نازل کړی دی، نو ته د الله
عبادت کوه او د هغه لپاره دین خاصوه. ۳- خبردار، خالص دین یوازې
د الله لپاره دی. او چا چې له هغه بغیر نور ملاتړي جوړ کړي، (او وایي)
چې موږ خو د دوی عبادت یوازې په دې خاطر کوؤ چې دا به موږ الله
ته نږدې کړي. بېشکه الله به د دوی تر منځ د دې خبرې فیصله وکړي
چې دوی یې په هکله اختلاف کوي. الله داسې چا ته هدایت نه کوي چې
دروغجن، حق نه منونکی وي.

۴- که الله غوښتي وای چې زوی جوړ کړي نو په خپل مخلوق کې يې چې څوک غوښتی هغه به يې غوره کړی وای، هغه پاک دی. هغه الله دی، يوازې، په ټولو برلاسی. ۵- هغه آسمانونه او ځمکه له حق سره پيدا کړي. هغه شپه په ورځ را پورته کوي او ورځ په شپې را پورته کوي. او هغه لمر او سپوږمۍ مسخر کړي دی. هر يو په ټاکلې موده ګرځيږي. واوره چې هغه قوي دی، ښونکی دی.
۶- الله تاسې له يوه ځانه پيدا کړئ، بيا هغه له همدې د هغه جوړه پيدا کړه. او هغه تاسې لپاره د ښځو او نرو څارويو اته[۸] ډولونه را ښکته کړل. هغه تاسې ستاسې د مېندو په خېټو کې جوړوي، له يوه خلقت پسې بل خلقت، په درېيو[۳] تيارو کې دننه. همدا الله ستاسې رب دی. پاچاهي د هغه ده. له هغه بغير بل معبود نشته. نو تاسې څنګه مخ اړوئ.
۷- که تاسې انکار وکړئ نو الله له تاسې بې نيازه دی. او هغه د خپلو بندهګانو لپاره انکار نه خوښوي. او که تاسې شکر وباسئ نو هغه يې تاسې لپاره خوښوي. او هېڅ پېټی پورته کونکی د بل چا پېټی نه پورته کوي. بيا ستاسې رب ته ستاسې ستنېدل دي. نو هغه به درته ووايي چې تاسې څه کول. بېشکه هغه د زړونو په خبره پوهيږي.
۸- او کله چې انسان ته تکليف ورسيږي نو هغه خپل رب ته فرياد کوي، هغه ته رجوع کوي. بيا چې هغه ورته له خپل اړخه نعمت ورکړي نو هغه (انسان) هغه څه هېروي چې چې مخکې يې له وجې فرياد کاوه او هغه نور له الله سره برابروي چې د هغه له لارې يې ګمراه کړي. ووايه چې ته له خپل کفر څو ورځې ګټه واخله، بېشکه ته د اور په خلکو کې يې. ۹- که يو کس د شپې په ګړيو کې سجده کوي او د قيام په حالت کې عاجزي کوي، له آخرت وېرېږي او د خپل رب د رحمت په تمه وي.

ووايه، ايا پوه او ناپوه سره برابرېدى شي. نصيحت خو هغه خلک اخلي چې د عقل خاوندان وي.
۱۰- ووايه اى زما بندهگانو چې ايمان مو راوړى، له خپل رب ووېرېږئ. څوک چې په دې دنيا نيکي وکړي د هغوى لپاره نېکه بدله ده. او د الله ځمکه پراخه ده. بېشکه صبر کونکو ته به د هغوى اجر بې حسابه ورکول شي.
۱۱- ووايه، ماته حکم شوى چې يوازې د الله عبادت وکړم، د هغه لپاره دين خالص کړم. ۱۲- او ماته حکم شوى چې تر ټولو لومړى زه مسلمان شم. ۱۳- ووايه که زه د خپل رب نافرماني وکړم نو زه د يوې سختې ورځې له عذابه وېرېږم. ۱۴- ووايه چې زه د الله عبادت کوم او د هغه لپاره دين خالصوم. ۱۵- نو تاسې چې له هغه بغير د هر چا غواړئ (د هغه) عبادت وکړئ. ووايه اصلي تاوان کونکي خو هغو دي چې خپل ځانونه او د خپلې کورنۍ غړي يې د قيامت په ورځ تاوان کې اچولي. واورئ همدا ښکاره تاوان دى. ۱۶- د هغوى لپاره به له پاسه هم د اور چتر وي او له لاندې هم. دا هغه څه دي چې الله ترې خپل بندهگان وېرول. اى زما بندهگانو، له ما ووېرېږئ.
۱۷- او څوک چې ځان د شيطان له حکم منلو وساتي او الله طرف ته رجوع وکړي، د هغوى لپاره زېرى دى، نو زما بندهگانو ته زېرى ورکړه. ۱۸- چې خبره په غور اوري. بيا د هغې بهتره پيروي کوي. همدا هغه خلک دي چې الله ورته هدايت کړى دى. او همدا د عقل خاوندان دي.
۱۹- که په چا عذاب ثابت شوى وي، نو ايا ته داسې کس ساتلى شې چې په اور کې وي. ۲۰- خو څوک چې له خپل رب نه ووېرېږي، د هغوى

لپاره جوړې شوې بالاخانې دي چې پاس پرې نورې بالاخانې دي. ور لاندې نهرونه بهېږي. دا د الله وعده ده. الله د خپلې وعدې خلاف نه کوي.
۲۱- ايا تاسې نه دي ليدلي چې الله له آسمانه اوبه را ښکته کړې. بيا هغه د ځمکې له چينو جارې کړې. بيا يې له هغه بېلابېلې کروندې را شنې کوي، بيا هغه وچېږي، نو تاسې يې زېړې ګورئ. بيا هغه يې مېده مېده کوي. بېشکه په دې کې نصيحت دی د عقل خاوندانو ته. ۲۲- ايا هغه کس چې سينه يې الله اسلام ته پرانيستې ده، هغه د خپل رب له لوري په يوه رڼا دی. نو بدي ده د هغو لپاره چې زړونه يې د الله د نصيحت په معامله کې سخت شول. دا خلک په ښکاره ګمراهۍ کې دي.
۲۳- الله بهترين کلام نازل کړی دی. داسې يو کتاب چې يو بل سره اړخ لګوي، بيا بيا تکرار شوی، په دې د هغو خلکو وېښته ودرېږي چې له الله وېرېږي. بيا د هغوی بدن او زړه نرمېږي او د الله ياد ته متوجه کېږي. دا د الله هدايت دی. (الله) هغه چاته هدايت کوي چې چاته يې غواړي. او هغه چې څوک ګمراه کړي نو هغه ته هېڅ هدايت کونکی نشته.
۲۴- ايا هغه کس چې د قيامت په ورځ به خپله څهره د بد عذاب لپاره سپر (ډال) کړي، او ظالمانو ته به وويل شي چې اوس د هغه څه خوند وڅکئ چې تاسې ګټل. ۲۵- له هغوی مخکې خلکو هم چې دروغ وبلل، نو عذاب پرې له داسې ځايه راغی چې د هغوی په خيال کې هم نه و.
۲۶- نو الله په هغوی د دنيا په ژوند کې د رسوايۍ خوند وليد او د آخرت عذاب نور هم لوی دی، کاشکې دا خلک پوهېدای.
۲۷- او موږ په دې قرآن کې هر ډول تمثيلونه بيان کړي چې هغوی نصيحت ومومي. ۲۸- دا عربي قرآن دی، په دې کې هېڅ کوږوالی نشته، چې خلک ووېرېږي. ۲۹- الله د داسې کس (غلام) مثال بيانوي چې په ملکيت کې يې څو ضدي مالکان شريک دي. او بل داسې کس (غلام)

چې ټول د يوه مالک غلام دی. ايا د دې دواړو حالت به يو شان وي. ټول
تعريفونه الله لره دي خو زياتره خلک نه پوهيږی. ۳۰. تاسې به هم مرئ
او هغوی به هم مري. ۳۱- بيا به تاسې د قيامت په ورځ د خپل رب پر
وړاندې خپله قضيه وړاندې کوئ.
* ۳۲- له هغه کس به بل ډېر ظالم څوک وي چې په الله يې دروغ تپلي
دي. او رښتيا يې دروغ بللي کله چې ورته راغلل. ايا د داسې منکرانو
ځای به دوزخ کې نه وي. ۳۳- او چا چې رښتيا راوړل او چا يې چې
تصديق وکړ، همدا خلک له الله وېرېدونکي دي. ۳۴- د دوی لپاره له خپل
رب سره هغه ټول شيان شته چې دوی يې وغواړي، دا د نيکي کونکو
بدله ده. ۳۵- په دې خاطر چې الله له هغوی د هغوی بد عملونه لرې کړي
او د هغوی د نېکو کارونو په بدل کې ثواب ورکړي.
۳۶- ايا الله د خپلو بندګانو لپاره کافي نه دی. دا خلک له هغه بغير له
نورو تا وېروي، او الله چې څوک ګمراه کړي هغه ته هېڅ لار ښوونکی
نشته. ۳۷- او الله چې چاته هدايت وکړي د هغه هېڅ ګمراه کونکی نشته،
ايا الله قوي، انتقام اخيستونکی نه دی.
۳۸- او که ته له هغوی وپوښتې چې آسمانونه او ځمکه چا پيدا کړي نو
هغوی به ووايي چې الله. ووايه، تاسې څه فکر کوئ، له الله بغير چې
تاسې څوک را بولئ، که الله ماته تکليف را رسول وغواړي، نو ايا دوی
د هغه راکړی تکليف لرې کولای شي، يا که الله په ما مهرباني کول
وغواړي نو ايا دوی د هغه مهربانۍ مخه نيولای شي. ووايه چې ما لپاره
الله کافي دی، توکل کونکي په هغه توکل کوي. ۳۹- ووايه چې ای زما
قومه، تاسې په خپل ځای عمل کوئ، زه به هم عمل کوم، نو تاسې به زر
پوه شئ. ۴۰-چې په چا رسوا کونکی عذاب راځي او په چا هغه عذاب
راځي چې وروسته کېدونکی نه دی. ۴۱- موږ د خلکو د هدايت لپاره دا

کتاب په تا له حق سره نازل کړی دی. نو څوک چې هدایت ومومي د ځان لپاره به یې مومي. او څوک چې بې لارې شي نو د هغه بې لارې توب به په هغه وي. او ته د هغوی مسوؤل نه یې.
۴۲- الله وفات ورکوي ژوندیو ته د هغوی د مرګ په وخت، او کومو چې مرګ نه وي راغلی د هغوی د خوب په وخت. بیا د هغه چا ساه ودروي چې د مرګ فیصله یې کړې ده او نور د یوه ټاکلي وخت لپاره پرېږدي. بېشکه په دې کې نښې دي د هغو خلکو لپاره چې غور کوي.
۴۳- ایا هغوی الله پرېښی او نور خلک یې واسطه کړي دي. ۴۴- ووایه، که څه هم هغوی نه څه اختیار لري او نه په څه پوهېږي. ووایه، شفاعت ټول د الله په اختیار کې دی. د آسمانونو او ځمکې پاچاهي د هغه ده. بیا به تاسې هغه ته ور ستنېږئ. ۴۵- او کله چې یوازې د الله ذکر کېږي نو د هغو خلکو زړونه رپېږي چې په آخرت ایمان نه لري. او کله چې له هغه بغیر د نورو ذکر کېږي نو هغه وخت هغوی خوشحالېږي. ۴۶- ووایه چې ای الله، د آسمانونو او ځمکې پیدا کونکیه، په غایب او حاضر پوهېدونکیه، ته به د خپلو بندهګانو ترمنځ د هغه څه فیصله کوې چې هغوی پرې اختلاف کوي. ۴۷- او که ظالمانو سره هغه ټول څیزونه وي چې په ځمکه دي او همدومره ورسره نور هم وي، او هغوی یې د قیامت په ورځ له سخت عذابه د خلاصون لپاره په فدیه کې ورکړي. او د الله له طرفه به هغوی له هغه معاملې سره مخ شي چې ګمان یې هم نه وو. ۴۸- او هغوی ته به خپل بد اعمال را مخې ته شي او هغه څه به یې ونیسي چې ور پورې یې خندا کوله.
۴۹- نو انسان ته چې هر تکلیف ورسېږي هغه موږ ته فریاد کوي، بیا چې موږ له خپله اړخه هغه ته نعمت ورکړو نو هغه ویل چې دا ماته د علم په بنیاد را کول شوی دی، بلکې دا امتحان دی خو په هغوی کې

زیاتره خلک نه پوهیږي. ۵۰- له هغوی مخکې خلکو هم دا خبره وکړه له نو څه یې چې ګټل هغه یې په کار نه شول. ۵۱- او په دوی کې چې کوم خلک ظالمان دي هغوی ته به هم د خپلو ګټو بده نتیجه زر را ښکاره شي. هغوی موږ نه شي عاجزولای. ۵۲- ایا هغوی نه پوهیږي چې الله چا ته وغواړي رزق یې پراخوي. او هماغه یې تنګوي. بېشکه په دې کې نښې دي د هغو خلکو لپاره چې ایمان راوړي.
۵۳- ووایه، ای زما بنده‌ګانو چې په ځان مو ظلم کړی دی، د الله له رحمته مه مایوسه کیږئ. بېشکه الله ټول ګناهونه ښښي، هغه ډېر ښښونکی، مهربان دی. ۵۴- او تاسې خپل رب ته رجوع وکړئ او د هغه فرمانبردار شئ له دې مخکې چې په تاسې عذاب راشي، بیا به تاسې سره هېڅ مرسته نه کیږي.
۵۵- او تاسې د خپل رب د در لیږل شوي کتاب د ښو اړخونو پیروي وکړئ، له هغې مخکې چې په تاسې ناڅاپه عذاب راشي او تاسې خبر هم نه شئ. ۵۶- هسې نه څوک دا ووایي چې افسوس زما په غفلت چې د الله طرف ته مې وکړ، او زه په خندا کونکو کې وم. ۵۷- یا څوک دا ووایي چې که الله ماته هدایت کړی وی نو زه به په وېرېدونکو کې وای.
۵۸- یا د عذاب په لیدو څوک دا ووایي چې کاش زه بیا دنیا ته لاړ شم نو په نېکو بنده‌ګانو کې به یم. ۵۹- هو تاته زما آیتونه راغلل بیا تا هغه دروغ وبلل او کبر دې وکړ او په منکرانو کې وې. ۶۰- او د قیامت په ورځ به د هغو خلکو مخونه تک تور وي چې په الله یې دروغ تپلي وو. ایا د متکبرینو ځای به دوزخ کې نه وي. ۶۱- او کوم خلک چې وېرېدل، الله به هغوی په کامیابۍ وساتي، او هغوی ته به هېڅ تکلیف نه رسیږي او نه به خفه وي.

۶۲- الله د هر څه خالق دی او هغه په هر څه څارونکی دی. ۶۳- د آسمانونو او ځمکې کونجیانې هغه سره دي. او چا چې د الله له آیتونو انکار کړی هغوی په زیان کې اوسېدونکي دي. ۶۴- ووایه چې ای نادانو، ایا تاسې ماته د غیر الله د عبادت وایئ. ۶۵- او له تاسې مخکې خلکو ته هم وحې لیږل شوې ده چې که تاسې شرک وکړ نو عمل به مو ضایع شي. او تاسې به په تاوان کې یئ. ۶۶- بلکې یوازې د الله عبادت وکړئ او شکر کونکي شئ.
۶۷- او خلکو د الله هغسې قدر ونه کړ څنګه یې چې حق دی. او ځمکه به د قیامت په ورځ د هغه په موټې کې وي او ټول آسمانونه به یې په ښي لاس کې نیولي وي. هغه پاک او لوړ دی تر هغه شرکه چې دا خلک یې کوي. ۶۸- او کله چې صور (شپېلۍ) ووهل شي نو په آسمانونو او ځمکه چې څه دي ټول به بې‌هوشه پرېوځي، مګر الله چې څوک وغواړي. بیا به دویم ځل په کې پوکی وشي او ټول به بېرته را پورته شي او وبه ګوري. ۶۹- او ځمکه به د خپل رب په نور روښانه شي. او کتاب به کېښودل شي او پیغمبران او ګواهان به حاضر کړی شي. او د خلکو ترمنځ به سمه فیصله وشي او په هغوی به هېڅ ظلم نه کېږي. ۷۰- او هر کس ته به د هغه د اعمالو پوره بدله ورکول شي. او هغه ښه پوهېږي چې دوی څه کول.
۷۱- او کومو خلکو چې انکار کړی هغوی به ډلې ډلې دوزخ ته په مخه کېږي. تر دې چې کله هلته ورسېږي نو د هغه (دوزخ) دروازې به ورته پرانیستل شي او د هغه ساتونکي به ورته ووایي، ایا تاسې ته ستاسې له ډلې پیغمبران نه وو درغلي چې تاسې ته یې ستاسې د رب آیتونه لوستل او تاسې یې ستاسې د نننۍ ورځې له ملاقاته وېرولئ. هغوی به وایي چې هو، خو د عذاب وعده په منکرانو پوره شوه. ۷۲- ورته به وویل شي

چې د جهنم په دروازو ور ننوځئ، په کې د تل اوسېدو لپاره. نو څومره بد ځای دی د کبر کونکو لپاره.
۷۳- او کوم خلک چې له خپل رب وېرېدلي هغوی به ډلې ډلې جنت ته بوتلل شي. تر دې چې کله هلته ورسېږي او د هغه دروازې پرانیستل شي او د هغه ساتونکي به ورته وایي چې په تاسې دې سلام وي، خوشحاله اوسئ، نو دې ته ورننوځئ د تل لپاره. ۷۴- او هغه به وایي شکر دی د هغه الله چې له موږ سره یې خپله وعده رښتیا کړله او موږ یې د دې ځمکې وارثان کړلو. موږ چې په جنت کې چېرته وغواړو اوسېدی شو. نو څومره ښه بدله ده د عمل کونکو لپاره. ۷۵- او ته به ملایکې وګورې چې د عرش نه به د حلقو په بڼه تاوې وي او د خپل رب حمد او تسبیح به کوي. او د خلکو ترمنځ به سمه سمه فیصله کېږي او وبه ویل شي چې ټول حمد الله لره دی، رب العالمین.

## سوره المومن ۴۰ (الغافر)

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- **حم**. ۲- دا کتاب د الله له لوري نازل شوی چې قوي دی، پوهېدونکی دی. ۳- ښونکی او توبه قبلونکی دی. سخت جزا ورکونکی، د لوی قدرت خاوند، له هغه بغیر بل معبود نشته. هغه ته ستنېدل دي.
۴- د الله په آیتونو کې هغه خلک شخړې را وباسي چې منکر دي، نو د هغو خلکو په ښارونو کې ګرځېدل تا تېر نه باسي. ۵- له دوی مخکې د نوح قوم دروغ وبلل، او له هغوی وروسته ډلو هم. او هر امت دا اراده کړې چې خپل رسول ونیسي او هغوی په ناحقه شخړې را ویستلې، په دې خاطر چې حق پرې لاندې کړي نو ما هغوی ونیول. نو څنګه وه زما

جزا. ۶- او په دې توګه ستا د رب خبره په هغو خلکو پوره شوې ده چې انکار یې کړی، هغوی د اور خلک دي.
۷- چا چې عرش پورته کړی دی او څوک چې ترې ګېرچاپېره دي هغوی د خپل رب تسبیح کوي، د هغه له حمد سره. او هغوی په هغه (رب) ایمان لري. او هغوی د ایمان خاوندانو ته د مغفرت دعا کوي. ای زموږ ربه، ستا رحمت او ستا علم په هر څه احاطه کړې ده. نو ته هغه خلک وبښه چې توبه وکړي، ستا د لارې پیروي وکړي او ته هغوی د دوزخ له عذابه وساته. ۸- ای زموږ ربه، او ته هغوی تلپاتې باغونو ته ننباسه چې تا یې ورسره وعده کړې ده. او هغوی هم چې صالح وي، د هغوی والدینو کې او مېرمنو کې او اولاد کې، بېشکه ته قوي یې، د حکمت خاوند یې. ۹- او هغوی له بدیو وساته. او څوک چې تا د نن ورځې له بدیو وساتل نو په هغوی تا رحم وکړ. او همدا لویه کامیابي ده.
۱۰- چا چې انکار کړی، هغوی ته به غږ کېږي او ویل کېږي، د الله بېزاري له تاسې تر هغې بېزارۍ ډېره ده چې نن یې تاسې له خپل ځانه لرئ. کله چې تاسې د ایمان طرف ته را بلل کېدئ، نو تاسې انکار کاوه.
۱۱- هغوی به وایي چې ای زموږ ربه، تا موږ ته دوه ځله مرګ راکړ او دوه ځله دې ژوند راکړ. نو موږ په خپلو ګناهونو اقرار وکړ، نو ایا د وتلو کومه لاره شته. ۱۲- دا په تاسې په دې خاطر ده چې کله د یو الله اړخ ته اواز کېده نو تاسې انکار کاوه. او کله به چې ورسره څوک شریک ګڼل کېدل نو تاسې به منل. نو فیصله د الله په لاس کې ده چې عظیم دی او د لوړې مرتبې خاوند دی.
۱۳- هغه دی چې تاسې ته خپلې نښې در ښیي او له آسمانه تاسې ته رزق را ښکته کوي. او نصیحت یوازې هغه کس مني چې الله اړخ ته رجوع کوونکی وي.

۱۴- نو الله ته فریاد وکړئ، دین د هغه لپاره خاص کړئ، که څه هم په منکرانو بد ولې ونه لګیږي. ۱۵- هغه د لوړو درجو خاوند، د عرش مالک دی. هغه چې په خپلو بندهګانو کې چا ته وغواړي هغه ته وحې کوي، چې هغه (خلک) د ملاقات له ورځې ووېروي. ۱۶- په کومه ورځ چې هغوی ظاهر شي. له الله به د هغوی هېڅ هم پټ نه وي. نن د چا پاچاهي ده. د واحد قهار الله! ۱۷- نن به هر انسان ته د هغه بدله ورکول شي. نن به هېڅ ظلم نه کیږي. بېشکه الله زر حساب کونکی دی.
۱۸- او هغوی د هغه را نږدې کېدونکي مصیبت له ورځې ووېروه چې زړونه به تر حلقه را ورسیږي، هغه به له غمه ډک شوي وي. د ظالمانو به نه څوک دوست وي او نه واسطه چې خبره یې ومنل شي. ۱۹- هغه د سترګو خیانت پېژني او هغه خبرې هم چې په سینو کې پټې دي. ۲۰- او الله به په حق فیصله وکړي. او څوک چې هغوی له الله بغیر را بولي، هغوی د هېڅ شي فیصله نه کوي. بېشکه الله اورېدونکی، لیدونکی دی.
۲۱- ایا هغوی په ځمکه نه دي ګرځېدلي چې لیدلي یې وای د هغو خلکو انجام څنګه شو چې له هغوی مخکې تېر شوي دي. هغوی تر دوی په قوت کې زیات وو او د هغو اثارو له مخې هم چې هغوی په ځمکه پرېښي دي. بیا الله هغوی په خپلو ګناهونو کې ونیول او هېڅوک له الله ساتونکی نه وو. ۲۲- دا په دې خاطر وشول چې هغوی ته رسول ښکاره نښې راوړلې او هغوی ترې انکار وکړ. نو الله هغوی ونیول. یقیناً هغه زورور دی سخت جزا ورکونکی دی.
۲۳- موږ موسی له خپلو نښو سره او ښکاره دلیلونو سره. ۲۴- فرعون او هامان او قارون ته ولیږه، هغوی وویل چې دا جادوګر دی، دروغجن دی. ۲۵- بیا چې هغه زموږ له لوري حق سره هغوی ته ورسېده، هغوی

وويل د هغو خلکو زامن ووژنئ چې ده سره ایمان یې راوړی او د هغوی ښځې ژوندۍ وساتئ. او د هغو منکرانو تدبیر بې تاثیره پاتې شو.
۲۶- او فرعون وویل، ما پرېږدئ، زه به موسی ووژنم او هغه دې خپل رب را وبولي، ماسره اندېښنه ده چې هسې نه هغه ستاسې دین بدل کړي یا په وطن کې فساد خپور کړي. ۲۷- او موسی وویل چې ما خپل او ستا رب ته پناه وړې له هر هغه متکبر نه چې د حساب په ورځې ایمان نه لري.
۲۸- او په آل فرعون کې یو مومن شخص چې خپل ایمان یې پټ ساتلی وو، هغه وویل ایا تاسې یو کس یوازې په دې خبره وژنئ چې هغه وایي زما رب الله دی، سره د دې چې هغه ستاسې د رب له لوري ښکاره دلیلونه هم راوړي دي. او که دروغجن وي دروغ به یې په هغه ورشي. او که هغه رښتینی وي نو د هغه څه یوه برخه به تاسې ته هم را رسېږي چې هغه یې درسره وعده کوي. بېشکه الله داسې کس ته هدایت نه کوي چې له حده اوښتونکی وي، دروغجن وي. ۲۹- ای زما قومه، نن ستاسې پاچاهي ده چې په ځمکه برلاسي یئ. بیا به د الله د عذاب په مقابل کې څوک موږ سره مرسته وکړي، که هغه په موږ راشي. فرعون وویل، زه تاته هغه نظر درکوم چې زه پرې پوهېږم او زه تاته د سمې لارې ښوونه کوم.
۳۰- او کوم کس چې ایمان راوړی وو هغه وویل چې ای زما قومه، زه وېرېږم هسې نه چې په تاسې د نورو قومونو غوندې ورځ راشي. ۳۱- کومه ورځ چې د نوح په قوم، عاد او ثمود او تر هغوی وروسته خلکو راغله. او الله په خپلو بندهګانو ظلم کول نه غواړي. ۳۲- او ای زما قومه، زه وېرېږم چې په تاسې د ژړا فریاد ورځ را نه شي. ۳۳- هغه ورځ چې تاسې به ترې مخ اړول او تېښتېدل وغواړئ. او الله به ستاسې ساتونکی

هېڅوک نه وي. او څوک چې الله ګمراه کړي هغه ته (بل) هدايت کونکی نشته.
۳۴- او له دې مخکې يوسف تاسې ته له ښکاره نښو سره درغی نو تاسې د هغه په راوړو خبرو هم شکمن شوئ، تر دې چې کله هغه وفات شو نو تاسې وويل چې الله له هغه وروسته هېڅکله بل رسول نه را لېږي. په دې توګه الله هغه خلک ګمراه کوي چې له حده وتونکي او شک کونکي وي. ۳۵- چې د الله په آيتونو شخړه کوي بې له کوم دليله چې هغوی سره وي. د الله او د ايمان د خاوندانو په نزد دا ډېره بده ده. داسې الله مهر لګوي د هر مغرور، سرکشه په زړه.
۳۶- او فرعون وويل چې ای هامانه، ماته يوه لوړه ودانۍ جوړه کړه، چې زه لارو ته ورسېږم. ۳۷- د آسمانونو تر لارې، (له هغه ځايه) د موسی معبود ووينم، او زه خو هغه دروغجن ګڼم. او په دې توګه فرعون ته يوه بدعملي ښاېسته کړی شوه او هغه له سمې لارې منع شو. او د فرعون تدبير برباد پاتې شو.
۳۸- او چا چې ايمان راوړی و هغه وويل چې ای زما قومه، تاسې زما پيروي وکړئ، زه تاسې ته سمه لاره درښيم. ۳۹- ای زما قومه، دا د دنيا ژوند يو څو ورځې دی او اصل د ژوند مقام آخرت دی. ۴۰- څوک چې بد کوي د هغه په بدل کې به بد مومي او څوک چې نېکي کوي، که سړی وي که ښځه، په دې شرط چې مومن وي، دا خلک به جنت ته ځي، هلته به بې حسابه رزق مومي. ۴۱- او ای زما قومه، څه خبره ده چې زه تاسې د نجات خوا ته را بولم او تاسې ما د اور خوا ته بولئ. ۴۲- تاسې ما در بولئ چې زه له الله سره کفر وکړم او داسې څيزونه (ورسره) شريک وګڼم چې زه يې په هکله علم نه لرم. زه تاسې د قوي مغفرت کونکي الله اړخ ته را بولم. ۴۳- يقيني خبره ده چې د کوم شي اړخ ته

تاسې ما ور بولئ د هغه نه په دنیا کې آواز شته او نه په آخرت کې. او بېشکه زموږ د ټولو ستنېدل د الله طرف دی او له حده اوښتونکي اور ته تلونکي دي. ۴۴- نو تاسې به وروسته زما خبره یادوئ. او زه خپله معامله الله ته سپارم. بېشکه الله د ټولو بندهګانو څارونکی دی.
۴۵- بیا الله هغه د هغوی له بدو تدبیرونو وساته. او د فرعون خلک بد عذاب ونیول. ۴۶- اور، چې هغوی پر سهار او ماښام ور وړاندې کېږي. او په کومه ورځ به چې قیامت قایمېږي، د فرعون خلک تر ټولو سخت عذاب ته ننباسئ.
۴۷- او کله چې هغوی په دوزخ کې له یو بل سره په شخړه شي نو کمزوري خلک به ځان لوی ښودونکو خلکو ته وایي چې موږ ستاسې تابع وو، نو ایا تاسې له موږه د اور کومه برخه لرې کولای شئ. ۴۸- لوی خلک به وایي چې موږ ټول په همدې کې یو. الله د بندهګانو ترمنځ فیصله کړې ده. ۴۹- او څوک چې په اور کې وي هغوی به د دوزخ ساتونکو ته وایي چې تاسې خپل رب نه غوښتنه وکړئ چې زموږ په عذاب کې یوه ورځ تخفیف وکړي. ۵۰- هغوی به وایي، ایا تاسې ته ستاسې رسول له واضح دلیلونو سره نه وو درغلی. هغوی به ووایي چې هو (راغلی وو)، ساتونکي به وایي نو تاسې غوښتنه وکړئ. او د منکرانو فریاد به ځای نه نیسي.
۵۱- بېشکه موږ خپلو رسولانو او د ایمان خاوندانو سره د دنیا په ژوند کې مرسته کوؤ، او په هغه ورځ هم چې ګواهان به ولاړ وي. ۵۲- په کومه ورځ به چې ظالمانو ته د هغوی معذرت څه ګټه ور ونه رسوي او په هغوی به لعنت وي او د هغوی لپاره به بد ځای وي. ۵۳- او موږ موسی ته هدایت عطا کړ او بني اسرائیلو مو د کتاب وارثان کړل. ۵۴- لارښوؤنه او نصیحت د عقل خاوندانو ته. ۵۵- نو ته صبر وکړه، بېشکه

د الله وعده برحقه ده او د خپل قصور ببښنه وغواړه. او سهار او ماښام د هغه تسبيح کوه له حمد سره.
۵۶- کوم خلک چې له ورته راغلي سند پرته، د الله په آيتونو کې شخړه را وباسي، د هغوی په زړونو کې يوازې لويي ده چې هغوی ورته هيڅکله رسېدونکي نه دي، نو ته د الله پناه وغواړه، بېشکه هغه اورېدونکی دی، ليدونکی دی.
۵۷- يقيناً آسمانونه او ځمکه پيدا کول د انسانانو د پيدا کولو په پرتله ډېر لوی کار دی، خو زياتره خلک نه پوهېږي. ۵۸- او ړوند او بينا يو شان نه شي کېدای، او نه ايماندار او نېکوکار او هغوی چې بدي کوي. تاسې ډېر لږ فکر کوئ. ۵۹- بېشکه قيامت به راځي. په دې کې هېڅ شک نشته، خو زياتره خلک يې نه مني.
۶۰- او ستاسې رب فرمايلي چې ماته فرياد کوئ، زه به ستاسې غوښتنه قبوله کړم. څوک چې زما له عبادته سرغړونه کوي هغوی به ډېر زر ذليل او دوزخ ته داخل شي. ۶۱- الله دی چې تاسې لپاره يې شپه جوړه کړې چې تاسې په کې آرام وکړئ او ورځ يې روښانه کړې. بېشکه الله په خلکو فضل کونکی دی، خو زياتره خلک شکر نه وباسي. ۶۲- همدا الله ستاسې رب دی، د هر څه پيدا کونکی، له هغه بغير بل معبود نشته، تاسې له کومه ځايه لمسول کېږئ. ۶۳- په دې توګه هغه خلک تېرايستل کېږي چې د الله له آيتونو يې انکار کاوه.
۶۴- الله دی چې ستاسې لپاره يې ځمکه د اوسېدو ځای کړ او آسمان يې چت کړ او ستاسې نقشه يې جوړه کړه، نو ښه نقشه يې جوړه کړه. هغه تاسې ته د ښو شيانو رزق درکړ. دا الله دی ستاسې رب، نو ډېر بابرکته دی الله چې د ټول جهان رب دی. ۶۵- هغه ژوندی دی، له هغه بغير بل

معبود نشته. نو تاسې هغه را وبولئ، دين د هغه لپاره خاص کړئ. ټول تعريفونه الله لره دي چې د ټول جهان رب دی.
۶۶- ووايه، زه له دې منع شوی يم چې د هغه څه عبادت وکړم چې تاسې يې له الله بغير را بولئ، سره د دې چې ماته ښکاره دليلونه راغلي. او ماته حکم شوی چې زه خپل ځان رب العالمين ته وسپارم. ۶۷- هغه دی چې تاسې يې له خاورې جوړ کړئ، بيا له نطفې، بيا د وينې له بوټي، بيا هغه تاسې د ماشوم په شکل را وباسي، بيا هغه تاسې لويوي چې تاسې خپل ټول قوت ته ورسيږئ، بيا چې تاسې بوډاګان شئ. او په تاسې کې ځيني مخکې مري. او تر هغې چې تاسې ټاکلي وخت ته ورسيږئ او په دې خاطر چې تاسې فکر وکړئ. ۶۸- هغه دی چې پيدا کول او مړه کول کوي. نو هغه چې د کوم څه فيصله وکړي هغه ته يوازې دومره وايي چې وشه، بيا هغه کيږي.
۶۹- يا تا هغه خلک نه دي ليدلي چې د الله په آيتونو کې شخړې را وباسي. هغوی له کوم ځايه بې لارې کيږي. ۷۰- هغو چې کتاب يې دروغ وباله او هغه څه هم چې موږ ورسره خپل رسولان ولېږل، نو زر به هغوی پوه شي. ۷۱- د هغوی په غاړو کې به طوقونه او زنځيرونه وي، هغوی به راښکل کيږي. ۷۲- په جوش اوبو کې، بيا به اور کې غوپه کيږي. ۷۳- بيا به ورته ويل کيږي، څه شول هغوی چې تاسې (له الله سره) شريکول. ۷۴- له الله پرته. هغوی به وو ايي هغوی له موږ ورک شول، بلکې موږ له دې مخکې هيڅ هم نه را بلل. په دې توګه الله منکران ګمراه کوي. ۷۵- دا په دې خاطر چې تاسې په ځمکه ناحقه خوشحاله کېدئ او په دې خاطر چې تاسې کبر کاوه. ۷۶- د جهنم په دروازو ور ننوځئ، په هغه کې د تل اوسېدو لپاره. نو څومره بد ځای دی د کبرجنو.

۷۷- نو صبر وکړئ، بېشکه د الله وعده برحقه ده. د څه شي چې موږ له هغه سره وعده کوؤ، د هغه یوه برخه به تاته در وښییو، یا به تاته وفات درکړو، نو د هغوی را ستنېدل موږ ته دي.

۷۸- او موږ له تا مخکې ډېر رسولان ولېږل، په هغوی کې د ځینو حالات مو در اورولي دي او ځینې په کې داسې هم دي چې حالات یې موږ نه دي در اورولي. او هېڅ رسول ته دا مقدوره نه وه چې د الله له اذن بغیر کومه نښه راوړي. بیا چې کله د الله حکم راغی نو له حق سره سمه فیصله وشوه. او غلط کاره خلک هغه وخت په تاوان کې پاتې شول.

۷۹- الله دی چې تاسې لپاره یې څاروي جوړ کړل چې تاسې له ځینو د سورلۍ کار واخلئ او ځینې تاسې خورئ. ۸۰- او تاسې لپاره په هغو کې نورې ګټې هم شته. او دا هم چې تاسې د هغو په وسیله خپل حاجت ته ورسېږئ چې ستاسې په زړونو کې وي او په هغو او په کښتیو کې تاسې سپرېږئ. ۸۱- او هغه تاسې ته نورې نښې هم در ښیي نو تاسې به د الله له کومې نښې انکار کوئ.

۸۲- ایا هغوی په ځمکه نه دي ګرځېدلي چې لیدلي یې وای د هغو خلکو انجام څنګه شو چې تر دوی مخکې تېر شوي. هغوی تر دوی زیات وو، او په قوت کې او په نښو کې چې هغوی په ځمکه پرېښودلې، هغوی تر دوی لوی وو. نو د هغوی ګټه یې هېڅ په کار نه شوه. ۸۳- نو کله چې د هغوی پیغمبران هغوی ته له ښکاره دلیلونو سره راغلل نو هغوی په هغه علم ویاړ وکړ چې لاره یې، او په هغوی هغه عذاب راغی چې خندا یې ور پورې کوله. ۸۴- بیا چې هغوی زما عذاب ولیده، هغوی وویل چې موږ په یوه الله ایمان راوړ او موږ له هغو انکار کوؤ چې له هغه (الله) سره مو شریکول. ۸۵- نو د هغوی ایمان د هغوی په کار نه شو چې کله

هغوی زموږ عذاب ولیده. همدا د الله سنت دی چې د هغه په بندهګانو کې جاري دی، او هغه وخت انکار کونکي په تاوان کې پاتې شول.

## سوره حم السجده ۴۱ (فصلت)

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- حم. ۲- دا د ډېر مهربان او رحم خاوند له لوري نازل شوی کلام دی.
۳- دا یو کتاب دی چې آیتونه یې ښکاره ښکاره بیان شوي دي، د عربۍ ژبې قرآن، د هغو خلکو لپاره چې پوهېږي. ۴- زېری ورکونکی او وېرونکی. نو په هغو خلکو کې زیاترو له دې مخ اړولی. نو هغوی نه اوري. ۵- او هغوی وویل زموږ زړه له هغه څه په پرده کې دی چې ته ورته موږ ور بولې او زموږ په غوږنو کې دروندوالی دی. او زموږ او ستاسې ترمنځ یو حجاب دی. نو ته خپل کار کوه، موږ به خپل کار کوؤ.
۶- ووایه، زه خو یو بشر یم تاسې غوندې. ماته وحې راځي چې ستا معبود یوازې یو معبود دی، نو ته په سمه لاره اوسه د هغه اړخ ته او له هغه ښښنه غواړه. او بدي ده د مشرکانو لپاره. ۷- چې زکات نه ورکوي او له آخرته منکر دي. ۸- بېشکه چا چې ایمان راوړ او چا چې نېک عمل وکړ هغوی ته داسې اجر دی چې ختمېدونکی نه دی.
۹- ووایئ ایا تاسې له هغه هستۍ انکار کوئ چې ځمکه یې په دوؤ[2] ورځو کې جوړه کړه، او تاسې له هغه سره سیال جوړوئ، هغه د ټولو مخلوقاتو رب دی. ۱۰- او هغه په ځمکه غرونه جوړ کړل. او په هغو کې یې د ګټې څیزونه کېښودل. او په هغه کې د هغوی لپاره خواړه کېښودل په څلورو[4] ورځو کې، پوره شوه د پوښتنه کونکو لپاره. ۱۱- بیا هغه آسمان اړخ ته متوجه شو. او هغه لوګی وو. بیا هغه آسمان او ځمکې ته وویل چې تاسې دواړه راشئ په خوښۍ یا په ناخوښۍ. دواړو وویل

موږ په خوښۍ حاضر یو. ۱۲- بیا هغه په دوؤ[۲] ورځو کې په دې کې
اووه[۷] آسمانونه جوړ کړل، او هر آسمان ته یې خپل حکم ولیږه. او موږ
د دنیا آسمان ته په څراغونو ښاپست ورکړ، او هغه مو خوندي کړ. دا
دډېر غالب، ښه پوه ذات اندازه کول دي.
۱۳- نو که هغوی مخ اړوي ووایه تاسې له هغسې عذابه وېروم لکه په
عاد او ثمود چې نازل شو. ۱۴- هغوی ته چې رسولان راغلل، د هغوی
له مخې او شا چې تاسې له الله بغیر د بل چا عبادت مه کوئ. هغوی وویل
که زموږ رب غوښتي وای نو ملایکې به یې را ښکته کړې وای، نو
موږ له هغه څه منکر یو چې تاسې ورسره را لیږل شوي یئ.
۱۵- د عاد حالت داسې وو چې په ځمکه یې ناحقه غرور وکړ، او هغوی
وویل، څوک په قوت کې تر موږ زیات دی. ایا هغوی ونه لیدل چې کوم
الله هغوی پیدا کړي هغه په قوت کې تر هغوی زیات دی او هغوی زموږ
له نښو انکار کاوه. ۱۶- نو موږ په څو منحوسو ورځو کې په هغوی
قوي توفاني هوا ور ولیږله چې هغوی د دنیا په ژوند کې له رسوایۍ ډک
عذاب وویني، او د آخرت عذاب تر دې هم رسوا کونکی دی او هغوی
ته به هېڅ مرسته ونه رسېږي. ۱۷- او ثمود چې وو، نو موږ هغوی ته
د هدایت لاره وښودله خو هغوی د هدایت په مقابل کې نابینایي خوښه
کړله، نو هغوی د خپلو بدو عملونو له وجې د رسوایۍ یوه عذاب را
ونیول. ۱۸- او موږ هغه خلک وساتل چې ایمان یې راوړ او وېرېدونکي
وو.
۱۹- او په کومه ورځ چې د الله دښمنان اور ته ور ټول شي، بیا به هغوی
جدا جدا کړی شي. ۲۰- تر دې چې را نږدې شي نو د هغوی غوږونه
او د هغوی سترګې او د هغوی څرمنې به د هغوی په اعمالو ګواهي
ورکړي. ۲۱- او هغوی به خپلو څرمنو (پوټکو) ته وایي، تاسې ولې

زموږ پر ضد ګواهي ورکړله. هغوی به وایي چې موږ ته هغه الله ګویایي راکړې چې هر څه یې ګویاکړي دي. او هغه تاسې لومړی ځل پیدا کړئ او هغه ته تاسې راوستل شوي یئ. ۲۲- او تاسې خپل ځانونه له دې نه شول پټولای چې ستاسې غوږونه او ستاسې سترګې او ستاسې څرمنې ستاسې په ضد ګواهي ور نه کړي، خو تاسې په دې ګمان کې وئ چې الله ستاسې ډېر اعمال نه ګوري چې تاسې یې کوئ. ۲۳- او ستاسې همدې ګمان تاسې برباد کړئ چې په خپل رب مو کړی وو، نو تاسې په تاوان کونکو کې شوئ. ۲۴- نو که هغوی صبر وکړي اور یې ځای دی، او که ښښنه وغواړي نو ښښنه به ورته نه کیږي.
۲۵- او موږ په هغوی ځیني ملګري مسلط کړل نو هغوی ورته د دوی مخ او شا ته ټول شیان ښاېسته وښودل. او په هغوی هغه خبره پوره شوه چې د جناتو او انسانانو په هغو ډلو پوره شوې وه چې تر هغوی مخکې تېرې شوې وې. بېشکه هغوی په تاوان کونکو کې وو.
۲۶- او کفر کونکو وویل دا قرآن مه اورئ او په دې کې خلل واچوئ، چې تاسې برلاسي اوسئ. ۲۷- نو موږ به انکار کونکو ته سخت عذاب ورکړو او د هغوی د عمل بدترینه بدله به ورکړو. ۲۸- دا د الله د دښمنانو بدله ده، یعنې اور. هلته به د دوی لپاره تلپاتې ځای وي، د دې خبرې په بدل کې چې هغوی زموږ له آیتونو انکار کاوه.
۲۹- او کفر کونکي به وایي چې ای زموږ ربه، موږ ته هغه خلک را وښیه چې موږ یې په پیریانو او انسانانو کې ګمراهان کړو، موږ به هغوی تر پښو لاندې کړو چې ذلیل شي. ۳۰- چا چې وویل چې الله زموږ رب دی او بیا هغوی ثابت قدمه پاتې شول، یقیناً هغوی ته ملایکې را ښکته کیږي او ورته وایي چې تاسې اندېښنه مه کوئ او مه خفګان کوئ او د دې جنت په زېري خوشحاله شئ چې تاسې سره یې وعده شوې ده. ۳۱-

موړ. د دنیا په ژوند کې ستاسې ملګري یو او په آخرت کې هم. او تاسې لپاره هلته هر هغه شی شته چې ستاسې زړه یې وغواړي او تاسې لپاره په هغه کې هر هغه شی شته چې تاسې یې وغواړئ. ۳۲- د غفور او رحیم له لوري د مېلمستیا په توګه.
۳۳- او تر هغه به د چا خبره ښه وي چې الله اړخ ته یې بلنه ورکړله او نېک عمل یې وکړ او ویې ویل چې زه په فرمانبردارو کې یم. ۳۴- او نېکي او بدي دواړه برابر نه دي، ته (د دې) په ځواب کې هغه ووایه چې تر دې بهتر وي، بیا به ته وګورې چې ستا ورسره دښمني وه هغه کس به داسې شي لکه ستا نږدې ملګری. ۳۵- او دا خبره هغه ته رسیږي چې صبر کونکی وي او هغه ته رسیږي چې نصیب یې ښه وي. ۳۶- او که شیطان ستا په زړه کې کومه وسوسه واچوي نو د الله پناه وغواړه. بېشکه هغه اورېدونکی، پوهېدونکی دی.
۳۷- او د هغه په نښو کې شپه او ورځ او لمر او سپوږمۍ دي. تاسې لمر او سپوږمۍ ته سجده مه کوئ بلکې الله ته سجده وکړئ چې دا ټول یې پیدا کړي دي، که تاسې د هغه عبادت کونکي یئ. ۳۸- نو که هغوی کبر وکړي نو څوک چې ستا له رب سره دي هغوی شپه او ورځ د هغه تسبیح وایي او هېڅکله نه ستړي کیږي.
۳۹- او د هغه په نښو کې دا ده چې ته ځمکه په شاړ حالت کې ګورې، بیا چې پرې موږ اوبه ووروو نو هغه را زرغونیږي او ژوندۍ کیږي. بېشکه چا چې دا (ځمکه) را ژوندۍ کړې، هغه به مړي هم را ژوندي کړي. بېشکه هغه په هر څه قادر دی. ۴۰- کوم خلک چې زموږ آیتونو ته اپوټه معنی ورکوي هغوی له موږه پټ نه دي. ایا څوک چې په اور کې اچول کیږي هغه ښه دی، که هغه کس چې د قیامت په ورځ به امن

سره راځي. هر څه چې غواړئ وکړئ، بېشکه هغه ګوري چې تاسې څه کوئ.
۴۱- چا چې د الله له نصیحت نه انکار وکړ کله چې ورته هغه راغی، او بېشکه دا یو زبردست کتاب دی. ۴۲- په دې کې باطل نه له مخکې راتللی شي او نه له وروسته، دا د حکیم او حمید (ذات) له لوري نازل شوی دی.
۴۳- تاته هغه خبرې کیږي چې له تا مخکې رسولانو ته شوې دي. بېشکه ستا رب د مغفرت خاوند دی او له درده ډکې جزا ورکونکی هم.
۴۴- که موږ دا عجمي قرآن کړی وای نو هغوی به ویلی چې د دې آیتونه ولې واضح نه دي بیان شوي. څه عجمي کتاب او عربي خلک. ووایه هغه ایمان راوړنکو ته هدایت او شفا ده، او څوک چې ایمان نه راوړي د هغوی په غوږونو کې درونوالی دی او هغوی ړانده دي. دا خلک داسې دي لکه له لرې ځایه چې ور ته غږ کیږي.
۴۵- او موږ موسی ته کتاب ورکړ نو په هغه کې اختلاف پیدا کړی شو. او که چېرې ستا د رب له لوري یوه خبره له مخکې نه وای ټاکل شوې نو د هغوی ترمنځ به فیصله شوې وای. هغوی د دې په هکله داسې شک کې دي چې زړه‌نازړه کړي یې دي. ۴۶- څوک چې نېک عمل کوي د ځان لپاره به یې کوي او څوک چې بدي کوي اوبال یې په ځان دی. او ستا رب په بندګانو ظلم نه کوي.
* ۴۷- د قیامت علم یوازې الله لره دی. او هېڅ یوه مېوه به له خپل پوښه نه راوتلی او نه به کومه ښځه امیدوارېدی شي او نه به ماشوم زیږوي، مګر ټول د هغه په اطلاع کیږي. او په کومه ورځ چې الله له هغوی پوښتنه وکړي چې زما شریکان کوم دي، هغوی به ووایي موږ تاته همدا عرض کوؤ چې په موږ کې یو هم د هغوی مدعي نشته. ۴۸- او څوک

چې هغوی پخوا را بلل هغوی به ټول ترې ورک شي، او هغوی به پوه شي چې د ساتل کېدو هېڅ لار يې نشته.
۴۹- انسان د ښېګڼې په غوښتو ستړی کېږي، او که کوم تکليف ور ورسيږي نو ناهيلی کېږي او زړه يې ماتيږي. ۵۰- او هغوی ته چې کوم تکليف رسېدلی که موږ پرې له هغه وروسته، د خپلې مهربانۍ خوند وڅکوؤ نو هغه وايي چې دا خو زما حق دی، او زه نه پوهېږم چې قيامت به کله راځي. او که زه خپل رب ته ور ستون شوم نو له هغه سره زما لپاره يوازې بهتري ده. نو موږ به هغه منکران د هغوی په اعمالو حتماً خبروؤ. او په هغوی به د سخت عذاب خوند څکوؤ.
۵۱- او کله چې موږ په انسان فضل کوؤ نو هغه مخ اړوي او موږ ته را شا کوي. او کله چې تکليف ور رسيږي نو بيا اوږدې اوږدې دعاګانې کوي. ۵۲- (ورته) ووايه چې وښيئ، که چېرې دا قرآن د الله له طرفه راغلی وي، بيا ترې تاسې انکار وکړئ، نو تر هغه کس به بل ګمراه څوک وي چې په مخالفت کې لرې لاړ شي.
۵۳- موږ به هغوی ته نښې په کايناتو او په خپله هغوی کې دننه وښييو. تر دې چې هغوی پوه شي چې دا قرآن حق دی. او ايا دا خبره نه ده چې ستاسې رب په هر څه ګواه دی. ۵۴- واورئ، دا خلک د خپل رب په ملاقات کې شک کوي. واورئ، هغه په هر څه احاطه کړې ده.

## سوره الشوری ۴۲

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- **حم**. ۲- **عسق**. ۳- په دې توګه غالب او حکيم الله وحې کوي ستا په طرف او د هغوی په طرف چې له تا مخکې تېر شوي دي. ۴- د هغه دي څه چې په آسمانونو کې دي او څه چې په ځمکه دي، هغه تر ټولو لوړ

دی، تر ټولو لوی. ۵- نږدې ده چې آسمان له خپلې پورته خوا را وشکیږي، او ملایکې د خپل رب تسبیح کوي د هغه له حمد سره او د ځمکې والاؤ ته ښښنه غواړی. واورئ چې یوازې الله ښښونکی دی، رحمت کونکی دی. ۶- او چا چې له هغه بغیر نور کارسازان جوړ کړي، الله په هغوی څارونکی دی او ته د هغوی مسوول نه یې.

۷- او موږ په دې توګه په تا عربي قرآن نازل کړی چې ته د مکې او شاؤخوا نور خلک ووېروې او هغوی د راټولېدو له ورځې ووېروې چې په راتګ کې یې هېڅ شک نشته. یوه ډله به جنت کې وي او یوه ډله اور کې.

۸- او که الله غوښتي وای دا ټول به یې یو امت کړی وای، خو هغه چې څوک وغواړي په خپل رحمت کې یې داخلوي او د ظالمانو هېڅ مل او مرستندوی نشته. ۹- ایا هغوی له ده (الله) بغیر نور کارسازان جوړ کړي، نو الله کارساز دی او هغه مړي ژوندي کوي او هغه په هر څه قادر دی.

۱۰- او په کومه خبره کې چې تاسې اختلاف کوئ د هغه فیصله الله ته سپارل شوې ده. هغه الله زما رب دی، په هغه ما توکل کړی دی او هغه ته زه رجوع کوم.

۱۱- هغه د آسمانونو او ځمکې پیدا کونکی دی. هغه ستاسې له جنسه ستاسې جوړې پیدا کړې او د څناورو جوړې یې هم پیدا کړې. د دې په وسیله هغه ستاسې نسل چلوي. هېڅ شی د هغه په مثال نه دی او هغه اورېدونکی دی، لیدونکی دی. ۱۲- د هغه په اختیار کې د آسمانونو او ځمکې کونجیانې دي. هغه چې چاته وغواړي ډېره روزي ورکوي او چاته چې وغواړي کموي. بېشکه هغه د هر علم لرونکی دی.

۱۳- الله تا لپاره هغه دین ټاکلی چې نوح ته یې د هغه حکم کړی وو او د کوم شي وحې چې موږ تاته کړې او د څه شي حکم چې موږ ابراهیم او

موسی او عیسی ته کړی وو چې دین قایم وساتئ او اختلاف په کې مه اچوئ. په مشرکانو هغه څه ډېر سخت دي چې ته ورته هغوی را بولې. الله چې څوک وغواړي خپل اړخ ته یې غوره کوي. او خپل ځان ته د هغوی لارښووڼه کوي چې هغه ته متوجه وي.
۱۴- او څوک چې متفرق شول هغوی له علم راتګ وروسته شول، یوازې د خپلمنځي ضد له وجې. او که ستا د رب له طرفه تر یوه ټاکلي وخت پورې خبره نه وای ټاکل شوې نو د دوی ترمنځ به فیصله شوې وای. او کومو خلکو ته چې له هغو (پخوانیو خلکو) وروسته کتاب ورکړل شوی هغوی یې په هکله شکمن شوي او هغوی یې زړه‌نازړه کړي دي.
۱۵- نو ته هغوی دې ته رابوله او په دې کلک اوسه لکه څنګه چې درته حکم شوی دی او د هغوی د خواهشونو پیروي مه کوه. او وایه الله چې کوم کتاب نازل کړی زه په هغه ایمان راوړم. او ماته دا حکم شوی چې زه ستاسې تر منځ انصاف وکړم. الله زموږ رب دی او ستاسې رب هم. زموږ عمل موږ لپاره دی او ستاسې عمل تاسې لپاره. زموږ او تاسې ترمنځ شخړه نشته. الله به موږ ټول راټول کړي او هغه ته ورتګ دی.
۱۶- او څوک چې د الله په هکله بحث کوي، له هغې وروسته چې هغه منل شوی دی، د هغوی بحث د هغوی د رب په نزد باطل دی او په هغوی غضب دی او د هغوی لپاره سخت عذاب دی.
۱۷- الله دی چې حق سره یې کتاب نازل کړی او تله (ترازو) هم. او تاسې څه پوهېږئ کېدای شي هغه ګړی را نږدې وي. ۱۸- څوک چې پرې باور نه لري هغوی ورته تادي کوي. او څوک چې باور لري هغوی ترې وېرېږي او پوهېږي چې حق دی. یاد ساتئ چې څوک د هغه ګړۍ په هکله شخړې کوي هغوی په ګمراهۍ کې ډېر لرې تللي دي.

۱۹- الله په خپلو بندهګانو مهربان دی. هغه چې چاته وغواړي روزي ورکوي. او هغه د قوت خاوند زبردست دی. ۲۰- څوک چې د آخرت کرونده وغواړي موږ به ورته په خپله کرونده کې پرمختګ ورکړو. او څوک چې د دنیا کرونده وغواړي هغه ته په کې یو څه ورکوؤ او په آخرت کې یې هیڅ برخه نشته.
۲۱- ایا د هغوی څوک شریکان شته چې هغوی لپاره یې داسې دین مقرر کړي چې الله یې اجازه نه ده ورکړې. او که د فیصلې خبره نه وای شوې نو د هغوی فیصله به شوې وای. او بېشکه ظالمانو لپاره له دردہ ډک عذاب دی. ۲۲- ته به ظالمان وګورې چې هغوی به له هغه څه وېرېږي چې هغوی ګټلي. او هغه په دوی حتماً راتلونکی دی. او چا چې ایمان راوړ او نېک کارونه یې وکړل هغوی به د جنت په باغونو کې وي. د هغوی لپاره به خپل رب سره هغه ټول څیزونه وي چې هغوی یې غواړي، همدا لوی انعام دی. ۲۳- دا هغه شی دی چې الله یې خپلو بندهګانو ته زېری ورکوي چا چې ایمان راوړ او چا چې نېک عمل وکړ. ووایه چې زه په دې (کار) له تاسې څه بدله نه غواړم مګر د خپلوۍ مینه. او څوک چې کومه نیکي وکړي موږ به ورته په کې ښېګڼه زیاته کړو. بېشکه الله ښنونکی، قدردان دی.
۲۴- ایا هغوی وایي چې ده (پېغمبر) په الله دروغ تپلي دي. نو که الله وغواړي ستاسې په زړونو به مهر ولګوي. او الله باطل ختموي او حق ثابتوي په خپلو خبرو. بېشکه هغه د زړونو په خبرو پوهېږي. ۲۵- او هغه دی چې د خپلو بندهګانو توبه قبلوي او بدۍ ښني او هغه پوهېږي چې تاسې څه کوئ. ۲۶- او هغه د هغو خلکو دعاګانې قبلوي چې ایمان یې راوړی او چې نیک عملونه کوي. او هغه دوی ته په خپل فضل، ډېر ورکوي. او څوک چې انکار کوي د هغوی لپاره سخت عذاب دی.

۲۷- او که الله خپلو بندهګانو ته روزي پراخه کړې وای نو هغو به په ځمکه فساد کولای. خو هغه په اندازه را ښکته کوي څومره چې غواړي. بېشکه هغه د خپلو بندهګانو پېژندونکی دی، لیدونکی دی. ۲۸- او هغه دی چې د خلکو له ناهیلي کېدو وروسته باران وروي او خپل رحمت خپروي او کارساز دی، د تعریف لایق دی. ۲۹- او د هغه په نښو کې د آسمانونو او ځمکې پیدا کول دي. او هغه ژوندي چې د دې ترمنځ خپاره کړي. او هغه د دوی په راټولولو قادر دی کله یې چې را ټولول وغواړي. ۳۰- او تاسې ته چې کوم مصیبت در رسېږي ستاسې د خپلو لاسونو د کړو کارونو له وجې در رسېږي او هغه ډېر زیات قصورونه بښي. ۳۱- او تاسې په ځمکه د الله له قابو نه شئ وتلی. او له الله بغیر نه ستاسې کارساز شته او نه څوک مرستندوی.
۳۲- او د هغه په نښو کې دا ده چې بېړۍ په سمندر کې ګرځېږي لکه غرونه. ۳۳- که وغواړي نو هوا به ودروي او بیا به هغه (بېړۍ) د سمندر په سطحه ولاړې پاتې شي. بېشکه په دې کې نښې دي د هر کس لپاره چې صبر کوي او شکر وباسي. ۳۴- یا به یې هغوی تباه کړي وای د هغوی د اعمالو په سبب او ښنلي به یې وای ډېر خلک. ۳۵- او په دې خاطر چې پوه شي زموږ په نښو شخړې کوي چې هغوی لپاره د تېښتې ځای نشته.
۳۶- نو څه چې تاسې ته درکول شوي هغه یوازې د دنیوي ژوند تېرولو لپاره دي. او څه چې له الله سره دي، هغه ډېر غوره او پاتې کېدونکي دي د هغو خلکو لپاره چې ایمان یې راوړی او په الله توکل لري.
۳۷- او کوم خلک چې له لویو ګناهونو او بې حیایۍ ځان ساتي او کله چې غوسه ورشي ښښنه کوي. ۳۸- او هغو چې د خپل رب بلنه یې ومنله او لمونځ یې قایم کړ او خپل کارونه خپلو کې په مشوره کوي. او موږ

چې څه ورکړي له هغه مصرف کوي. ۳۹- او هغه خلک چې کله پرې ظلم کیږي نو هغوی خپل انتقام اخلي. ۴۰- او د بدۍ بدل هغسې بدي ده. بیا چې چا ښښنه وکړه او اصلاح یې وکړه نو د هغه اجر د الله په ذمه دی. بېشکه هغه ظالمان نه خوښوي. ۴۱- او څوک چې له مظلوم واقع کېدو وروسته انتقام اخلي نو په داسې خلکو څه الزام نشته. ۴۲- الزام یوازې په هغو دی چې په خلکو ظلم کوي او په ځمکه ناحقه سرکشي کوي. همدا هغه خلک دي چې دوی لپاره له درده ډک عذاب دی. ۴۳- او چا چې صبر وکړ او ښښنه یې وکړله نو بېشکه دا د همت کار دی.
۴۴- او څوک چې الله بې لارې کړي نو له هغه وروسته یې هېڅ کارساز نشته. او ته به ظالمان وګورې چې هغوی کله عذاب وګوري نو وبه وایي چې ایا د بېرته تللو کومه لار شته. او ته به هغوی وګورې چې هغوی به د دوزخ مخې ته راوستل شي. ۴۵- هغوی به له ذلته ټیټ شوي وي. په ټیټو سترګو به ګوري. او د ایمان خاوندان به وایي چې په تاوان کې دي هغه خلک چې د قیامت د ورځې په راتګ یې خپل ځانونه او خپل خلک تاواني کړل. واورئ، ظالمان به په تلپاتې عذاب کې وي. ۴۶- او د هغوی به هېڅ مرستندوی نه وي چې د الله په مقابل کې ورسره مرسته وکړي. او الله چې څوک بې لارې کړي د هغه لپاره هېڅ لاره نشته.
۴۷- تاسې د خپل رب بلنه ومنئ د هغې ورځې له راتللو مخکې چې د الله له لوري ورته نه‌راتلل (مخنیوی) نشته. په هغه ورځ به تاسې هېڅ پناه نه لرئ او نه به تاسې څه رد کولای شئ. ۴۸- نو که هغوی مخ واړوي نو موږ ته په هغوی نګران نه یې لیږلی. ستا مسوولیت یوازې رسول دي. او انسان چې کله موږ په خپل رحمت ونازوؤ نو هغه په دې خوشحاله کیږي. او که د هغوی د اعمالو له کبله پرې څه مصیبت راشي نو انسان ناشکرۍ ته مخه کوي.

۴۹- د آسمانونو او ځمکې پاچاهي الله لره ده، هغه چې څه وغواړي پيدا کوي يې. هغه چې چاته وغواړي لوڼې ورکوي او چې چاته وغواړي زامن ورکوي. ۵۰- يا هغوی يو ځای کوي زامن هم او لوڼې هم. او څوک چې وغواړي هغه بې اولاده پرېږدي. بېشکه هغه پوهېدونکی او د قدرت خاوند دی.
۵۱- او په هېڅا کې دا طاقت نشته چې له الله سره کلام وکړي، مګر د وحې په وسيله يا د پردې له شا يا هغه کومه ملايکه را ولېږي چې هغه وحې وکړي د هغه (الله) په اذن څه چې هغه غواړي. بېشکه هغه تر ټولو لوړ دی، د حکمت خاوند دی. ۵۲- او په دې توګه موږ تاته هم وحې کړې ده، يو روح په خپل حکم. ته نه پوهېدې چې کتاب څه شی دی او نه په دې پوهېدې چې ايمان څه شی دی. خو موږ هغه يو نور کړ، په هغه موږ هدايت کوؤ خپلو بندهګانو کې چا ته چې وغواړو. او بېشکه ته سمې لارې ته لارښوؤنه کوې. ۵۳- د هغه الله لارې ته چې هغه ټول يې دي څه چې په آسمانونو کې دي او څه چې په ځمکه دي. واورئ، ټولې معاملې الله ته ور ستنېدونکې دي.

## سوره الزخرف ۴۳

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- **حم**. ۲- قسم دی په دې واضح کتاب. ۳- موږ دا د عربی ژبې قرآن کړی چې تاسې پوه شئ. ۴- او بېشکه دا اصل کتاب دی له موږ سره دی، لوړ او له حکمته ډک.
۵- ايا موږ به ستاسې د نصيحت نه يوازې په دې خطر صرفِ‌نظر وکړو چې تاسې له حده وتي يئ. ۶- او موږ تېرو خلکو ته څومره نبيان لېږلي دي. ۷- او هغوی ته داسې هېڅ نبي نه دی ورغلی چې هغوی ورپورې

خندا نه وي کړي. ۸- بیا چې څوک تر هغوی ډېر زورور وو هغه موږ هلاک کړ. او دا د پخوانیو خلکو لپاره مثال شو.
۹- او که ته له هغوی وپوښتې چې آسمانونه او ځمکه چا پیدا کړي نو هغوی به حتماً ووایې چې هغه قوي او پوهېدونکي (ذات) پیدا کړي دي.
۱۰- هغه چې تاسې لپاره یې ځمکه فرش کړه. او په دې کې یې تاسې لپاره لارې جوړې کړې چې تاسې لار ومومئ. ۱۱- او هغه چې له آسمانه یې اوبه را ښکته کړې په یوه اندازه. بیا موږ په هغو (اوبو) مړه ځمکه را ژوندۍ کړه، همداسې به تاسې هم را وویستل شئ. ۱۲- او هغه چې د هر شي جوړې یې پیدا کړې.او تاسې لپاره یې هغه کښتۍ او څاروي جوړ کړل چې تاسې پرې سورلي کوئ. ۱۳- چې تاسې پرې کلک سواره شئ. نو تاسې د خپل رب نعمتونه یاد کړئ چې په هغو سواره شئ. او ووایئ پاک دی هغه (ذات) چې دا څیزونه یې زموږ په وس کې کړل. او موږ داسې نه وو چې دا په خپله ولکه کې کړو. ۱۴- او بېشکه موږ خپل رب ته ستنېدونکي یو.
۱۵- او هغوی د الله په بندهګانو کې د هغه یوه برخه ټاکلې وه. بېشکه انسان ښکاره ناشکره دی. ۱۶- ایا الله په خپل مخلوق کې لونې غوره کړې او تاسې ته یې زامن درکړل. ۱۷- او کله چې په هغوی کې چاته د هغه څیز خبر ورکول شي چې هغوی یې رحمان (ذات) ته منسوبوي، نو د هغوی مخ تور شي او له غمه ډک شي. ۱۸- ایا هغوی چې په سینګار کې وپالل شي او په جنګ کې کومه خبره ونه کړی شي. ۱۹- او ملایکې چې د رحمان بندهګان دي، دا (ټول) هغوی ښځې ګڼلې دي. ایا دوی د هغوی د پیدایښت په وخت موجود وو. د هغوی دا دعوی به ولیکل شي او پوښتنه به ترې وشي.

۲۰- هغوی وایي که رحمان غوښتي وای موږ به د هغوی (نورو معبودانو) عبادت نه کولای. هغوی سره د دې هیڅ علم نشته. هغوی هسې بې تحقیقه خبره کوي. ۲۱- ایا موږ چې هغوی ته له دې مخکې کوم کتاب ورکړی وو، هغه یې کلک نیولی دی. ۲۲- بلکې هغوی وایي چې موږ خپل پلار نیکه په دې طریقه (روان) لیدلي دي او موږ په هغو پسې ځو. ۲۳- او په دې توګه چې موږ له تا مخکې کوم کلي ته نذیر ولېږه نو د هغه ځای خوشحاله خلکو وویل چې موږ خپل پلار نیکه په یوه طریقه لیدلي دي او موږ په هغو پسې روان یو. ۲۴- نذیر وویل، که زه درته تر هغې ښه لاره در وښییم چې تاسې پرې خپل پلار نیکه لیدلي دي. هغوی وویل موږ له هغه څه منکر یو چې ته ورسره را لېږل شوی یې. ۲۵- نو موږ له هغوی انتقام واخیست، نو وګوره چې د دروغ بلونکو انجام څنګه شو.

۲۶- او کله چې ابراهیم خپل قوم او خپل پلار ته وویل چې زه له هغو شیانو بري یم چې تاسې یې عبادت کوئ. ۲۷- مګر هغه چې زه یې پیدا کړی یم، نو بېشکه هغه به لار را وښيي. ۲۸- او ابراهیم همدا کلمه په ځان پسې وروسته اولاد ته پرېښوده چې هغوی هم ورته رجوع وکړي. ۲۹- بلکې ما هغه او د هغه پلار نیکه ته د دنیا سامان ورکړ تر دې چې هغوی ته حق راغی او داسې رسول چې ښکاره اورول یې کول. ۳۰- او کله چې هغوی ته حق راغی، هغوی وویل چې دا جادو دی، موږ ترې منکر یو.

۳۱- او هغوی وویل چې دا قرآن د دوؤ[۲] کلیو کې په کوم سړي ولې نازل نه شو. ۳۲ ایا دا خلک ستا د رب رحمت تقسیموي. د دنیا په ژوند کې هغوی ته روزي موږ تقسیم کړې ده او موږ پر یو بل فوقیت ورکړی دی چې هغوی له یو بل سره کار وکړي. او ستا د رب رحمت له هغه څه

غوره دی چې هغوی یې راټولوي. ۳۳- او که چېرې دا خبره نه وای چې ټول خلک به یو ډول شي، نو څوک چې له رحمان انکار کوي د هغوی لپاره به موږ د کور چتونه د سپینو زرو جوړ کړي وای او هغه پوړۍ هم چې هغوی پرې پورته کیږي. ۳۴- او د هغوی د کورونو دروازې او هغه تختونه چې هغوی پرې ډډې لګوي او کېني. ۳۵- او د سرو زرو هم. دا شی خو یوازې د دنیا د ژوند سامان دی او آخرت ستا د رب په نزد د متقیانو لپاره دی.
۳۶- او څوک چې د رحمان له نصیحت نه مخ اړوي نو موږ په هغه یو شیطان مسلطوؤ، هغه یې بیا ملګری کیږي. ۳۷- او هغه د حق له لارې منع کوي. دا خلک داسې ګڼي چې په هدایت دي. ۳۸- تر دې چې کله هغه موږ ته راشي چې کاش زموږ او ستا ترمنځ د مشرق او مغرب لرې والی وای. نو څومره بد ملګری وو. ۳۹- او دا چې تا ظلم کړی نو دا خبره تاته هېڅ ګټه نه شي در رسولای چې تاسې عذاب کې یو بل سره شریک یئ.
۴۰- نو ایا ته کڼو ته ور اوروې که ړندو ته لار ښیي او هغوی ته چې په ښکاره ګمراهۍ کې دي. ۴۱- نو که موږ تا واخلو (بوځو) له هغوی (خلکو)انتقام اخیستونکي یو. ۴۲- یا به تاته در وښییو هغه شی چې موږ یې له هغوی سره وعده کړې ده. ۴۳- نو موږ په دې پوره قادر یو. نو ته هغه څه کلک ونیسه چې تاته یې وحې شوې ده. بېشکه ته په سمه لار یې. ۴۴- او دا تا او ستا د قوم لپاره نصیحت دی. او ډېر زر به له تاسې پوښتنه وشي. ۴۵- او څوک چې موږ له تا مخکې لیږلي (ته) له هغوی نه پوښتنه وکړه چې ایا موږ له رحمان بغیر نور معبودان ټاکلي وو چې عبادت یې وشي.

۴۶- او موږ موسی له خپلو نښو سره فرعون او د هغه سردارانو ته ولېږه نو هغه وویل چې زه د رب العالمین رسول یم. ۴۷- نو کله چې هغوی ته زموږ له نښو سره ورغی، هغوی ور پورې وخندل. ۴۸- او موږ چې هغوی ته کومې نښې ښودلې هغه تر پخوانیو نښو لویې وې. او موږ هغوی په عذاب ونیول چې رجوع وکړي. ۴۹- او هغوی وویل چې ای جادوګره، موږ ته له خپل رب نه دعا وکړه، د هغه وعدې په اساس چې هغه له تا سره کړې ده، موږ به ضرور په لارې شو. ۵۰- بیا چې موږ هغه عذاب له هغوی لرې کړ نو هغوی خپله وعده ماته کړله.
۵۱- او فرعون د خپل قوم په منځ کې غږ وکړ چې ای زما قومه، ایا د مصر پاچاهي زما نه ده، او نهرونه چې تر ما ښکته بهېږي. ایا تاسې یې نه ګورئ. ۵۲- بلکې زه غوره یم تر هغه کس چې حقیر دی. او روانې خبرې نه شي کولای. ۵۳- نو بیا په ده د سرو زرو بنګړي ولې نازل نه شول یا ورسره ملایکې ولې را ښکته نه شوې. ۵۴- نو هغه خپل قوم ساده کړ. بیا یې هغوی خبره ومنله. دا نافرمانه غوندې خلک وو. ۵۵- بیا چې هغوی موږ ته غوسه راوپسته نو موږ ترې انتقام واخیست. او موږ هغوی ټول موږ غرق کړل. ۵۶- بیا موږ هغوی د ماضي داستان کړل او نورو لپاره د عبرت یوه نمونه.
۵۷- او کله چې د ابن مریم مثال ورکول شو نو ستا د قوم خلکو پرې شور جوړ کړ. ۵۸- هغوی وویل زموږ معبودان ښه دي که هغه. دا مثال هغوی یوازې تا سره د جنګ کولو لپاره کاروي. ۵۹- بلکې دا خلک جنګړک دي. عیسی خو زموږ یو بنده وو چې موږ پرې فضل وکړ او هغه مو د بني اسرائیلو لپاره یو مثال کړ. ۶۰- او که موږ وغواړو نو ستاسې په ډله کې به ملایکې جوړې کړو. چې په ځمکه ستاسې ځای ناستې شي. ۶۱- او بېشکه عیسی د قیامت یوه نښه ده، نو ته په دې کې

شک مه کوه او زما پیروي کوه. همدا سمه لار ده. ۶۲- او شیطان تا له دې منع نه کړي، بېشکه هغه ستا ښکاره دښمن دی.
۶۳- او کله چې عیسی له ښکاره نښو سره راغی، هغه وویل چې ما تاسې ته حکمت راوړی دی او چې تاسې ته دا واضح کړم ځینې خبرې چې تاسې په کې اختلاف کوئ. نو تاسې له الله ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ. ۶۴- بېشکه الله زما رب هم دی او ستاسې رب هم، نو تاسې د هغه عبادت وکړئ، همدا سمه لار ده. ۶۵- بیا ډلو په خپل منځ کې اختلاف وکړ. نو تباهي ده د هغو خلکو لپاره چې ظلم یې وکړ، د یوه دردناکه عذاب د راتګ له ورځې.
۶۶- دا خلک قیامت ته په تمه دي چې هغه پرې ناڅاپه راشي او دوی خبر هم نه وي. ۶۷- ټول ملګري به په هغه ورځ د یو بل دښمنان وي، بغیر له وېرېدونکو. ۶۸- ای زما بنده ګانو، نن په تاسې هېڅ وېره نشته او نه به خفه یئ. ۶۹- کومو خلکو چې ایمان راوړی او فرمانبرداره دي.
۷۰- جنت ته ننوځئ تاسې او ستاسې مېرمنې، تاسې به خوشحاله کړی شئ. ۷۱- هغوی ته به د سرو زرو رکابي (قابونه) او پیالې ور وړاندې شي. او هلته به هغه څیزونه وي چې د دوی زړه یې غواړي او په لیدلو به یې سترګې خوَږېږي. او دلته به تاسې تل اوسېږئ. ۷۲- او دا هغه جنت دی چې تاسې یې مالکان کړی شوئ د هغو (اعمالو) له وجې چې تاسې کول. ۷۳- تاسې لپاره په دې کې ډېرې میوې دي چې تاسې ترې خوراک کولای شئ.
۷۴- بېشکه مجرمان به تل د دوزخ په عذاب کې اوسېږي. ۷۵- هغه به ترې سپک نه شي او هغوی به په کې ناهیلي پراته وي. ۷۶- او موږ په هغوی ظلم نه دی کړی بلکې هغوی پخپله ظالمان وو. ۷۷- او هغوی به فریاد کوي چې ای مالکه (د دوزخ ملایکې)، ستا رب دې موږ ختم کړي.

ملایکه به ورته وایي چې تاسې باید همداسې پراته اوسئ. ۷۸- موږ تاسې ته حق راوړ خو په تاسې کې زیاتره خلک له حق بېزاره شول. ۷۹- که هغوی د کومې خبرې فیصله کړې ده، نو موږ به هم یوه فیصله وکړو.
۸۰- ایا هغوی داسې ګڼي چې موږ د هغوی رازونه او د هغوی مشورې نه اورو. هو، او زموږ لېږل شوې (ملایکې) له هغوی سره لیکل کوي.
۸۱- ووایه که د رحمان کوم اولاد وي نو تر ټولو لومړی یې زه عبادت کونکی یم. ۸۲- د آسمانونو او ځمکې رب، د عرش مالک. هغه له هغو خبرو پاک دی چې خلک یې په هکله کوي. ۸۳- نو هغوی پرېږده چې بحث او لوبې وکړي، تر دې چې له هغې ورځې سره مخ شي چې هغوی سره یې وعده کېږي.
۸۴- او هغه دی چې په آسمان کې رب دی او هغه دی چې په ځمکه رب دی او هغه د حکمت خاوند، د علم خاوند دی. ۸۵- او ډېر بابرکته دی هغه ذات چې پاچاهي یې په آسمانونو او ځمکې ده او څه چې د دې په منځ کې دي. او هغه سره د قیامت خبر دی. او هغه ته به تاسې ستنېږئ.
۸۶- او دا خلک چې له الله بغیر څوک را بولي هغوی د شفاعت اختیار نه لري، مګر هغو چې د حق ګواهي ورکړي او هغوی به پوهېږي. ۸۷- او که ته هغوی نه پوښتنه وکړې چې هغوی چا پیدا کړي نو وایي به چې الله، بیا هغوی چېرته سرګردانه روان دي. ۸۸- او هغوی د رسول په دې خبره خبر دي چې ای زما ربه، دا داسې خلک دي چې ایمان نه راوړي.
۸۹ نو له دوی مخ واړوه او ووایه چې تاسې ته سلام دی، زر به ور معلومه شي.

## سوره الدخان ۴۴

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- **حم**. ۲- قسم دی په دې واضح کتاب. ۳- موږ دا په یوه بابرکته شپه
نازل کړی دی، بېشکه موږ خبرونکي وو. ۴- په هغه شپه هره حکمت
لرونکې معامله ټاکل کیږي.
۵- زموږ په حکم، بېشکه موږ وو ستاسې لېږونکي. ۶- ستا د رب په
رحمت، هغه اورېدونکی دی، پوهېدونکی دی. ۷- د آسمانونو او ځمکې
رب او څه چې د دې په منځ کې دي، که تاسې یقین کونکي یئ. ۸- له
هغه بغیر هېڅ معبود نشته. هغه ژوندی کول کوي او هغه وژل کوي.
ستاسې رب هم او ستاسې د تېرو پلار نیکو رب هم.
۹- بلکې هغوی په شک کې پراته لوبیږي. ۱۰- نو هغه ورځ ته په تمه
شه چې آسمان له یوه ښکاره لوګي سره را واضح شي. ۱۱- هغه به خلک
را ونغاړي. دا له درده ډک عذاب دی. ۱۲- ای زموږ ربه، له موږ عذاب
لرې کړه، موږ ایمان راوړو. ۱۳- هغوی ته نصیحت چېرته، او هغوی
ته رسول راغلی وو چې ښکاره یې اورول. ۱۴- بیا ت‌رې هغوی مخ
واړوه او ویې ویل چې دا خو چا پوه کړی لیونی دی. ۱۵- موږ که د
څه وخت لپاره عذاب لرې کړو، تاسې به بېرته خپل حالت ته راشئ.
۱۶- په کومه ورځ چې موږ تاسې سخت ونیسو، په هغه ورځ به ټول
انتقام واخلو.
۱۷- او له دوی مخکې موږ د فرعون قوم وازمایه. هغوی ته یو معزز
رسول راغی. ۱۸- چې د الله بندګان ماته را وسپاره. زه ستاسې لپاره
معتبر رسول یم. ۱۹- او دا چې د الله په مقابل کې سرکشي مه کوئ. زه
تاسې ته یو ښکاره دلیل وړاندې کوم. ۲۰- او ما د خپل او ستاسې رب

پناه اخیستې له هغې خبرې چې تاسې ما سنګسار کړئ. ۲۱- او که تاسې
په ما ایمان نه راوړئ نو له ما جدا اوسئ.
۲۲- نو موسی خپل رب ته فریاد وکړ چې دا خلک مجرمان دي. ۲۳-
نو ته زما بندګان د شپې ځان سره کړه او لاړ شه، تاسې به تعقیب شئ.
۲۴- او ته سیند ساکن پرېږده، د هغوی لښکر ډوبېدونکی دی. ۲۵- هغوی
څومره ډېر باغونه او چینې، ۲۶- او کروندې او ښاېسته ودانۍ، ۲۷- او
د آرام سامان چې هغوی په کې خوشحاله وو، ټول پرېښودل. ۲۸-
همداسې وشول او موږ بل قوم د هغو (څیزونو) مالک کړ. ۲۹- نو نه په
هغوی پسې آسمان وژړل او نه ځمکې، او نه مهلت ورکول شو.
۳۰- او موږ بني اسرائیل د ذلت له عذابه وساتل. ۳۱- یعنې له فرعونه،
بېشکه هغه سرکشه او له حده وتونکو خلکو کې وو. ۳۲- او موږ هغوی
(بني اسرائیلو) ته د خپل علم له مخې په نورو خلکو ترجیح ورکړه. ۳۳-
او موږ هغوی ته داسې نښې ورکړې چې ښکاره انعام په کې وو.
۳۴- دا خلک وايي. ۳۵- بس همدا زموږ لومړی مرګ دی او موږ به بیا
نه را پورته کېږو. ۳۶- که ته رښتیني یې نو راوله زموږ پلار نیکه.
۳۷- ایا دوی غوره دي که د تبع قوم او چې له هغوی مخکې وو، موږ
هغوی هلاک کړل، بېشکه هغوی نافرمانه وو.
۳۸- او موږ آسمانونه او ځمکه او څه چې د دې په منځ کې دي د لوبو
په توګه نه دي جوړ کړي. ۳۹- دا موږ له حق سره جوړ کړي خو زیاتره
خلک یې نه مني. ۴۰- بېشکه د فیصلې ورځ د دې ټولو لپاره ټاکل شوی
وخت دی. ۴۱- په کومه ورځ به چې هېڅ خپلوان د بل خپلوان په کار نه
راځي او نه به یې څه ملاتړ کېږي. ۴۲- هو مګر هغه کس چې الله پرې
رحم وکړي. بېشکه هغه قوي دی، د رحمت خاوند دی.

۴۳- د زقمو ونه. ۴۴- به د ګنهګارو خوراک وي. ۴۵- لکه د تېلو خيرى (رسوب) چې په خېټه کې به جوشېږي. ۴۶- لکه ځنګه چې اوبه جوشېږي. ۴۷- دا ونيسئ او په راښکلو يې د دوزخ تل ته ورسوئ. ۴۸- بيا يې په سر د جوش کړو اوبو عذاب را پرېږدئ. ۴۹- ويې څکه، ته ډېر معزز او مکرم يې. ۵۰- دا هغه شى دى چې تا په کې شک کاوه.
۵۱- بېشکه له الله وېرېدونکي به په امن ځاى کې وي. ۵۲- په باغونو او چينو کې. ۵۳- د نازکو وربښمو او زري (زربفت) وربښمو جامي به يې اغوستې وي او (يو بل ته) به مخامخ ناست وي. ۵۴- دا خبره همداسې ده، او موږ به ورته واده کړو حورې د غټو سترګو (لرونکې). ۵۵- هغوى به هلته هر ډول ميوې په ډېر ډاډ غواړي. ۵۶- هغوى به هلته مرګ نه ويني مګر هغه مرګ چې مخکې راغلى او الله هغوى د دوزخ له عذابه وساتل. ۵۷- دا به ستا د رب په فضل وشي، همدا لويه کاميابي ده.
۵۸- نو موږ دا کتاب ستا په ژبه آسان کړى دى چې خلک نصيحت ومومي. ۵۹- نو ته هم په تمه شه، هغوى هم په تمه دي.

## سوره الجاثيه ۴۵

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دى.
۱- **حم**. ۲- دا نازل شوى کتاب دى. د غالب او د حکمت خاوند الله له طرفه. ۳- بېشکه په آسمانونو او ځمکه کې نښې دي د ايمان خاوندانو لپاره. ۴- او ستاسې په جوړولوکې او په هغو ځناورو کې چې په دې ځمکه خپاره کړى شوي دي. نښې دي د هغو خلکو لپاره چې يقين لري.
۵- او د شپې او ورځې په تګ راتګ کې او په هغه زرق کې چې الله له آسمانه را ښکته کړى، بيا يې په هغه ځمکه ژوندۍ کړله د هغې له مړينې

وروسته، او د بادونو په لګېدلو کې هم نښې دي د هغو خلکو لپاره چې
عقل لري. ۶- دا د الله آیتونه چې موږ یې له حق سره تاته در اوروؤ. بیا
له الله او د هغه له آیتونو وروسته کومه خبره ده چې هغوی به پرې ایمان
راوړي.
۷- خرابي ده د هر هغه چا لپاره چې دروغجن وي. ۸- چې د الله آیتونه
اوري کله چې د هغه مخې ته لوستل کېږي، بیا هغه په کبر کلک نښتی
وي، لکه اورېدلي یې چې نه وي. هو ته هغه ته د دردناکه عذاب زېری
ورکړه. ۹- او کله چې هغه زموږ په آیتونو کې د کوم شي خبر مومي نو
ټوکې ور پورې کوي. داسې خلکو ته د ذلت عذاب دی. ۱۰- د هغوی
مخې ته دوزخ دی. او څه یې چې ګټلي هغه یې په څه کار د راتلو نه
دي. او نه هغوی چې له الله بغیر یې (نور)کارسازان ټاکلي دي. او هغوی
لپاره لوی عذاب دی. ۱۱- دا هدایت دی، او چا چې د خپل رب له آیتونو
انکار کړی، هغوی لپاره د سختۍ دردناک عذاب دی.
۱۲- الله دی چې تاسې لپاره یې سمندر مسخر کړ چې د هغه په حکم په
کې کښتۍ وچلېږي او چې تاسې د هغه فضل ولټوئ او چې تاسې شکر
وباسئ. ۱۳- او هغه د آسمانونو او ځمکې ټول شیان تاسې لپاره مسخر
کړي، ټول له خپله اړخه. بېشکه په دې کې نښې دي د هغو خلکو لپاره
چې غور کوي.
۱۴- د ایمان خاوندانو ته ووایه چې هغه خلک پرېږدي چې د الله د ورځو
هیله نه لري، چې الله یوه قوم ته د هغوی د ګټې بدله ورکړي. ۱۵- څوک
چې نېک عمل وکړي ګټه یې خپله ده. او څوک چې بد وکړي نو اوبال
یې خپل دی. بیا به تاسې خپل رب ته ستانه کړی شئ.
۱۶- او موږ بني اسرائیلو ته کتاب او حکم او نبوت ورکړ او هغوی ته
مو پاک رزق ورکړ او موږ هغوی ته د دنیا په خلکو فضیلت ورکړ.

۱۷- او موږ هغوی ته د دين په هکله ښکاره ښکاره دليلونه ورکړل. بيا هغوی اختلاف ونه کړ مګر له هغې وروسته چې علم ورته راغلی وو، د خپلمنځي ضد له وجې. بېشکه ستا رب به د قيامت په ورځ د هغوی ترمنځ فيصله وکړي د هغو شيانو چې هغوی يې په هکله خپلو کې اختلاف لاره. ۱۸- بيا موږ ته د دين په يوه واضح طريقه قايم کړې. نو ته په هغې (طريقې) ځه او د هغو خلکو د خواهشونو پيروي مه کوه چې علم نه لري. ۱۹- دا خلک د الله په مقابل کې ستا په هېڅ کار نه شي راتللی. او ظالمان د يو بل ملګري دي. او د وېرېدونکو ملګری الله دی.
۲۰- دا د خلکو لپاره د بصيرت خبرې دي او هدايت او رحمت دی د هغو خلکو لپاره چې يقين کوي.
۲۱- ايا کومو خلکو چې بدي کړې ده، هغوی داسې ګڼي چې موږ به يې د هغو خلکو په شان کړو چې ايمان يې راوړی او نېک عمل يې کړی. د دې ټولو مرګ او ژوند به يو ډول شي. ډېره بده فيصله ده چې هغوی يې کوي. ۲۲- او الله آسمانونه او ځمکه له حکمت سره پيدا کړي او په دې خاطر چې هر چاته د هغه د اعمالو بدله ورکول شي او په هغوی به هېڅ ظلم نه کيږي.
۲۳- ايا تا هغه کس ليدلی چې خپل نفس يې خپل معبود کړی دی او الله هغه د علم باوجود بيا هم په ګمراهۍ کې واچاوه او د هغه په غوږونو او زړه يې مهر ولګاوه او د هغه په سترګو يې پرده واچوله. نو داسې کس ته څوک هدايت کولای شي، له هغې وروسته چې الله ګمراه کړی وي، ايا تاسې پام نه کوئ.
۲۴- او هغوی وايي چې زموږ د دې دنيا له ژوند بغير بل ژوند نشته. موږ مرو او ژوندي کيږو او موږ يوازې د زمانې ګردش هلاکوي. او هغوی په دې هکله هېڅ نه پوهيږي. هغوی يوازې د ګمان په اساس داسې

وايي. ۲۵- او کله چې هغوی ته زموږ ښکاره آیتونه اورول
کیږي، هغوی سره له دې بغیر بل دلیل نه وي چې زموږ پلار نیکه را
ژوندي کړه که ته رښتینی یې. ۲۶- ووایه چې الله تاسې ژوندي کوي بیا
تاسې وژني بیا به هغه د قیامت په ورځ تاسې راټول کړي، په دې کې
هېڅ شک نشته، خو زیاتره خلک نه پوهیږي.
۲۷- او د الله پاچاهي ده په آسمانونو او ځمکې او په کومه ورځ چې
قیامت وي په هغه ورځ به اهل باطل په تاوان کې وي. ۲۸- او ته به
وګورې چې هره ډله به په زنګونونو غورځیږي. هره ډله به خپلې اعمال
نامې ته را غوښتل کیږي. نن به تاسې ته د هغه عمل بدله درکول کیږي
چې تاسې کول. ۲۹- دا زموږ دفتر دی چې په تاسې سمه ګواهي درکوي.
موږ یې لیکو څه چې تاسې کوئ.
۳۰- نو چا چې ایمان راوړ او چا چې ښه عمل وکړ د هغوی رب به یې
خپل رحمت ته ننابسي. همدا ښکاره کامیابي ده. ۳۱- او چا چې انکار
کړی، ایا تاسې ته زما آیتونه نه لوستل کېدل. نو تاسې کبر وکړ او تاسې
مجرمان وئ. ۳۲- او کله به چې ویل کېدل چې د الله وعده حق ده او په
قیامت کې هېڅ شک نشته، نو تاسې به ویل موږ نه پوهیږو چې قیامت
څه شی دی، نو موږ هسې یو شک غوندې لرو، او موږ پرې باور نه
کوو.
۳۳- او هغوی ته به خپل بد اعمال وښودل شي او هغه څه به یې را
ونیسي چې دوی ور پورې ټوکې کولې. ۳۴- او وبه ویل شي نن به موږ
تاسې هېر کړو لکه څنګه چې تاسې د دې ورځې راتګ هېر کړ. او
ستاسې ځای اور دی او ستاسې هېڅ مرستندوی نشته. ۳۵- او د دې دلیل
دا دی چې تاسې د الله آیتونو پورې ټوکې وکړې. او د دنیا ژوند تاسې په

دهوکه کې وساتلئ. نو نن به نه هغوی له هغه را ویستل کیږي او نه به د هغوی عذر منل کیږي.
۳۶- نو ټول تعریفونه الله لره دي چې دی رب دی د آسمانونو او رب دی د ځمکې، رب دی د ټول عالم. ۳۷- او هغه لره لویي ده په آسمانونو او ځمکه. هغه قوي دی، د حکمت خاوند دی.

## سوره الاحقاف ۴۶

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
* ۱- **حم.** ۲- دا کتاب د قوي او د حکمت خاوند الله له طرفه نازل شوی دی. ۳- موږ آسمانونه او ځمکه او د دې ترمنځ څیزونه نه دي پیدا کړي مګر له حق سره او د ټاکلي وخت لپاره. او څوک چې منکر دي هغوی له هغه څه بې‌رُخي کوي چې هغوی ترې وېرول شوي دي.
۴- ووایه تاسې کله په هغو څیزونو فکر کړی چې له الله بغیر یې را بولئ، ماته را وښایئ چې هغوی په ځمکه څه جوړ کړي، یا یې په آسمانونو کې څوک شریک شته، ماته له دې مخکې کوم داسې کتاب راوړئ یا کوم علم راوړئ چې له پخوا را روان وي، که تاسې رښتیني یئ. ۵- او تر هغه کس به ډېر ګمراه څوک وي چې الله پرېږدي او هغه خلک را وبولي چې (دوی) ته تر قیامته ځواب نه شي ورکولای، او هغوی د دوی په غږ خبر هم نه دي. ۶- او کله چې خلک را ټول کړی شي نو هغوی به یې دښمنان وي او له عبادته به یې منکر وي.
۷- او کله چې هغوی ته زموږ واضح واضح آیتونه لوستل کیږي، او سره د دې چې هغوی ته رسیږي، منکران د دې په هکله وایي چې دا خو ښکاره جادو دی. ۸- ایا دا خلک وایي چې دا هغه (پېغمبر) له ځانه جوړ کړي دي. ووایه که دا ما له ځانه جوړ کړي وي نو تاسې ما له الله نه شئ

ساتلی. تاسې چې کومې خبرې جوړوئ، الله پرې ښه خبر دی. هغه زما او ستاسې ترمنځ ګواهۍ ته کافي دی. او هغه ښنونکی، د رحمت خاوند دی.
۹- ووایه چې زه لومړی پیغمبر نه یم. او زه نه پوهېږم چې ماسره به څه کیږي او تاسې سره به څه کیږي. زه خو یوازې د هغه څه اتباع کوم چې زما د رب له لوري ماته د وحې په وسیله را رسیږي او زه خو ښکاره خبرداری ورکونکی یم. ۱۰- ووایه، ایا تاسې کله دا فکر کړی چې که دا قرآن د الله له طرفه وي او تاسې دا ونه مانه، او په بني اسرائیلو کې کوم ګواه د دې په شان باندې ګواهي ورکړله. نو هغه ایمان راوړ او تاسې کبر وکړ. بېشکه الله ظالمانو ته هدایت نه کوي.
۱۱- او انکار کونکي د ایمان د خاوندانو په هکله وایي چې که دا ښه شی وای نو هغوی به پرې تر موږ مخکې نه ورتللی. او دا چې هغوی (منکرانو) په دې هدایت نه دی موندلی، نو اوس به وایي چې دا خو پخواني دروغ دي.
۱۲- او له دې مخکې د موسی کتاب لارښود او رحمت وو. او دا یو کتاب چې د هغه (کتاب) تصدیق کوي، په عربي ژبه، په دې خاطر چې هغو ووېروي چې ظلم یې کړی. او زېری دی د نېکو خلکو لپاره. ۱۳- بېشکه کومو خلکو چې وویل زموږ رب الله دی، بیا په همدې (خبره) کلک پاتې شول نو په هغو خلکو به هېڅ وېره نه وي او نه به هغوی خفه وي. ۱۴- دا خلک جنتیان دي چې تل به په کې اوسیږي، د هغو اعمالو په بدل کې چې دوی په دنیا کې کول.
۱۵- او موږ انسان ته حکم کړی چې له خپل مور او پلار سره ښه وکړي. د هغه مور هغه په تکلیف خېټه کې ساتلی. او په تکلیف یې زیږولی. او هغه ته شیدې ورکول په دېرشو میاشتو کې وشول. تر دې چې هغه بلوغ

ته ورسېده او څلوېښتو کالو ته چې ورسېده نو ويې ويل چې ای زما ربه، ماته توفيق را کړه چې ستا د احسان شکر ادا کړم چې تا په ما کړی او زما په مور او پلار دې کړی او دا چې زه هغه نېک عمل وکړم چې ته پرې راضي شې. او زما په اولاد کې هم ماته نېک اولاد راکړه. ما تاته رجوع کړې او زه په فرمانبردارو کې يم. ۱۶- دا هغه خلک دي چې نېک اعمال به يې مونږ قبول کړو او له بديو به يې تېر شو، دوی به په جنتيانو کې وي، رښتيا وعده وه چې له دوی سره کېدله.
۱۷- او چا چې خپل مور او پلار ته وويل چې زه له تاسې بېزاره يم. ايا ته ما په دې وېروې چې زه به له قبره را ويستل کېږم، سره د دې چې له ما مخکې ډېر قومونه تېر شوي، او هغوی دواړه الله ته فرياد کوي (بچي ته وايي) په تا دې افسوس وي، ايمان راوړه، بېشکه د الله وعده رښتيا ده. نو هغه (بچی) وايي چې دا د پخوانيو خلکو کيسې دي. ۱۸- دا هغه خلک دي چې د الله قول پرې پوره شوی له هغو ډلو سره چې پخوا تېرې شوې دي، په انسانانو او جناتو کې. بېشکه دوی په تاوان کې دي.
۱۹- او هر چاته به د هغوی د اعمالو له مخې درجې وي. او په دې خاطر چې الله د دوی ټولو اعمال پوره کړي او ظلم پرې ونه شي. ۲۰- او په کومه ورځ چې انکار کونکي د اور مخې ته راوستل شي، تاسې خپل ښه شيان د دنيا په ژوند کې اخيستي او هغه مو تېر کړی نو نن د ذلت جزا درکول کېږي، په دې خاطر چې تاسې په دنيا کې ناحقه کبر کاوه او په دې خاطر چې تاسې نافرماني کوله.
۲۱- او د عاد ورور (هود) ياد کړه. کله چې هغه خپل قوم په احقاف کې ووېروه او وېرونکي تر هغه مخکې هم تېر شوي وو او له هغه وروسته هم راغلل چې له الله بغير د بل چا عبادت مه کوئ. زه په تاسې د يوې وېرونکې ورځې له عذابه وېرېږم. ۲۲- هغوی وويل ايا ته مونږ ته د دې

لپاره راغلی یې چې موږ له خپلو معبودانو واړوې. نو که ته رښتینی یې په موږ هغه څه راوړه چې ته یې موږ سره وعده کوې. ۲۳- هغه وویل د هغه څیز علم الله ته دی، او زه تاسې ته هغه پیغام در رسوم چې زه ورسره را لیږل شوی یم، خو زه تاسې ګورم چې تاسې د ناپوهۍ خبرې کوئ.
۲۴- نو کله چې هغوی هغه (عذاب) د وریځو په شکل خپلو درو ته په راتللو ولیده نو ویې ویل چې دا خو وریځې دي او په موږ به را ووریږي. نه، بلکې دا هغه څیز دی چې تاسې ورته تادي کوله. یوه سیلۍ ده چې دردناکه عذاب په کې دی. ۲۵- هغه به هر څه د خپل رب په حکم له بېخه وباسي. نو هغوی داسې شول چې د هغو له کورونو بغیر هلته نور هېڅ نه ښکارېدل. مجرمانو ته موږ داسې جزا ورکوو.
۲۶- او موږ هغو خلکو ته داسې قوت ورکړی وو چې تاسې ته مو نه دی درکړی او موږ هغوی ته غوږونه او سترګې او زړه ورکړ، خو هغه غوږونه یې په کار نه شول، او نه سترګې او نه زړه. ځکه هغوی د الله له آیتونو انکار کاوه او هغوی هغه څیز ونیول چې ورپورې خندا یې کوله. ۲۷- او موږ تاسې ته نږدې کلي هم تباه کړل. او موږ څو څو ځله خپلې نښې وښودلې چې هغوی را منع شي. ۲۸- نو هغوی ورسره ولې مرسته ونه کړله چې هغوی الله ته نږدې کېدو لپاره خپل معبودان کړي وو. بلکې هغه ټول ترې ورک شول او دا د هغوی دروغ وو او د هغوی جوړه شوې خبره.
۲۹- او هغه چې موږ د جناتو (پیریانو) یوه ډله ستا خوا ته راوړله، هغوی د قرآن اورېدل پیل کړل. نو کله چې هغوی اورېدل پیل کړل ویې ویل چې غلي شئ. بیا چې کله قرآن ولوستل شو نو هغوی وېرېدونکي شول او خپلو قومونو ته ورغلل.

۳۰- هغوی وویل چې ای زموږ قومه، موږ یو کتاب اورېدلی چې تر موسی وروسته نازل شوی دی، د هغو وړاندوینو تصدیق کوي چې له مخکې موجود دي. هغه د حق طرف ته او د یوې سمې لارې طرف ته لارښووڼه کوي.
۳۱- ای زموږ قومه، الله ته د بلونکي دعوت ومنئ او په هغه ایمان راوړئ، الله به ستاسې ګناهونه وبښي او تاسې به له دردناک عذابه وساتي.
۳۲- او څوک چې د داعي دعوت ته لبیک ونه وایي، هغه په ځمکه نه شي تښتېدلی او نه به یې څوک مرستندوی وي. داسې خلک په ښکاره ګمراهۍ کې دي. ۳۳- ایا هغو خلکو ونه لیدل چې کوم الله آسمانونه او ځمکه پیدا کړل هغه د دې په پیدا کولو ستړی نه شو، هغه قدرت لري چې مړي را ژوندي کړي، هو هغه په هر څه قادر دی.
۳۴- او په کومه ورځ چې دا انکار کونکي خلک د اور مخې ته راوړل شي، ایا دا حقیقت نه دی. هغوی به ووایي چې هو، زموږ په رب قسم. ارشاد به وشي نو اوس عذاب وګورئ د هغه انکار په بدل کې چې تاسې کاوه.
۳۵- نو ته صبر وکړه لکه څنګه چې همت لرونکو پېغمبرانو صبر وکړ. او هغوی لپاره تادي مه کوه د هغې ورځې چې دا خلک به هغه څه وګوري چې وعده یې ورسره کېدله نو ګویا چې هغه ورځ له یوې ګړۍ ډېره نه ده پاتې. دا رَسول دي. نو هغه خلک به برباد شي چې نافرماني کوي.

## سوره محمد ۴۷

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.

۱- چا چې انکار وکړ او (نور یې) د الله له لارې منع کړل، الله د هغوی اعمال ضایع کړل. ۲- او چا چې ایمان راوړ او نېک عملونه یې وکړل او هغه څه یې ومنل چې په محمد نازل شوي او همدا د هغوی د رب له طرفه حق دي، (نو) الله د هغوی بدۍ لرې کړي او د هغوی حال به ښه کړي. ۳- په دې خاطر چې کومو خلکو انکار کړی هغوی د باطل پیروي کړې. او چا چې ایمان راوړ هغوی د خپل رب له طرفه د حق پېروي کړې ده. په دې توګه الله خلکو ته د هغوی مثالونه بیانوي.
۴- نو کله چې منکرانو سره ستاسې مقابله وي د هغوی اورمېږونه ووهئ. تر دې چې ښه مو ووژل، بیا یې قوي وتړئ. بیا یې له هغې وروسته یا د احسان په توګه پرېږدئ یا یې معاوضه واخلئ، تر هغې چې هغوی په جنګ کې وسله وغورځوي. دا حکم دی. او که الله غوښتي وای نو له هغوی یې بدله اخیستله، مګر په دې خاطر چې هغه تاسې په یو بل وازمايي. او څوک چې د الله په لاره کې ووژل شي، الله د هغوی اعمال هېڅکله نه ضایع کوي.
۵- هغه به ورته لارښوؤنه وکړي او د هغوی حال به ښه کړي. ۶- او هغوی به جنت ته ننباسي چې هغه یې پېژندنه کړې ده.
۷- ای د ایمان خاوندانو، که تاسې الله سره مرسته وکړئ نو هغه به تاسې سره مرسته وکړي او ستاسې ګامونه به قوي کړي. ۸- او چا چې انکار وکړ هغوی لپاره تباهي ده او الله به د هغوی اعمال ضایع کړي. ۹- په دې خاطر چې هغوی هغه څیز خوښ نه کړ چې الله نازل کړی. نو الله د هغوی اعمال ضایع کړل. ۱۰- ایا دا خلک په ځمکه نه دي ګرځېدلي چې د هغو خلکو انجام یې لیدلی وای چې له دوی مخکې تېر شوي دي، الله هغوی له بېخه وویستل او منکرانو ته به د هغوی مثالونه مخې ته

راځي. ۱۱- دا په دې خاطر چې د ايمان د خاوندانو کارساز شته او د منکرانو هېڅ کارساز نشته.
۱۲- بېشکه چا چې ايمان راوړ او نېک عمل يې وکړ الله به يې داسې باغونو ته ننابسي چې ور لاندې به نهرونه بهېږي. او چا چې انکار وکړ، هغوی دې اوسېږي او خوراک دې کوي لکه څاروي چې خوراک کوي، او اور د دې خلکو ځای دی. ۱۳- او څومره ډېر کلي وو چې په قوت کې تر هغه کلي زيات وو چې ته يې را ويستلی يې. موږ هغه هلاک کړل. نو د هغوی هېڅ مرستندوی نه و.
۱۴- ايا څوک چې د خپل رب له طرفه په يوه واضح دليل وي، د هغه په شان کېدای شي چې بدعملي يې ورته ښاېسته ښودل شوې ده او په خپلو خواهشاتو روان وي. ۱۵- د جنت مثال، چې وعده يې له وېرېدونکو سره شوې، د هغه کيفيت دا دی چې په هغه کې نهرونه دي د داسې اوبو چې بدلون به په کې نه وي، او نهرونه به وي د شيدو چې خوند به يې بدل شوی نه وي، او نهرونه به وي د شرابو چې څښونکو ته به خوندور وي او نهرونه به وي د شاتو (ګبينو) چې بالکل به پاک وي. او د هغوی لپاره به هلته هر ډول مېوې وي. او د هغوی د رب له طرفه به بخشش وي. ايا دا خلک له هغوی سره برابر دي چې تل به په اور کې اوسېږي او د څښلو لپاره به جوش اوبه ورکول کېږي، او د هغوی کولمې رېبي.
۱۶- او په هغوی کې ځينې خلک داسې هم دي چې تاته غوږ نيسي. تر دې چې کله ستا له څنګه بهر لاړ شي نو د علم خاوندانو ته وايي چې هغه (محمد) څه وويل. دا هغه خلک دي چې الله يې په زړونو مهر لګولی دی. هغوی په خپلو خواهشونو روان دي.
۱۷- او چا چې د هدايت لاره اختيار کړې نو الله هغوی ته لا ډېر هدايت کوي او هغوی ته پرهېزګاري عطا کوي.

۱۸- دا خلک خو د دې په تمه دي چې قيامت پرې ناڅاپه راشي نو د هغه نښې ښکاره شوې دي. کله چې هغه راشي دوی ته به د نصيحت موندلو موقع چرته پاتې وي. ۱۹- نو پوه شه چې له الله بغير هېڅ معبود نشته او د خپلو قصورونو ښښنه وغواړه او مومنو ښځو او مومنو سړو ته هم. او الله خبر دی ستاسې په تګ راتګ او ستاسې په استوګنځايونو.
۲۰- چا چې ايمان راوړی هغوی وايي چې کوم سورة ولې نه نازلېږي. بيا چې يو واضح سورة نازل شو او په هغه کې د جنګ يادونه هم وه نو تا وليدل د چا په زړه کې چې مرض دی، هغه تاته داسې ګوري لکه چا ته چې مرګ راغلی وي. نو هلاکت دی د هغوی (لپاره). ۲۱- (د الله لار) حکم منل او نېکه خبره کول دي. نو کله چې د معاملې فيصله کېږي که چېرې هغوی رښتيني وای، د هغوی لپاره به غوره وه. ۲۲- که تاسې مخ واړوئ له تاسې يوازې دا تمه کېدای شي چې په ځمکه فساد وکړئ او خپلوي پرې کړئ. ۲۳- دا هغه خلک دي چې الله له خپل رحمته لرې کړي، هغوی يې کاڼه کړي او د هغوی سترګې يې ړندې کړې دي.
۲۴- ايا دا خلک په قرآن کې غور نه کوي که د دوی زړونو ته قلفونه پراته دي. ۲۵- چا چې مخ واړوه او لاړل، له هغې وروسته چې هدايت ورته واضح شو، شيطان هغوی تېرايستل او الله هغوی ته مهلت ورکړ.
۲۶- دا په دې خاطر وشول چې په هغوی کې هغو خلکو چې د الله نازل کړی ځيز نه خوښوي، وويل چې په ځينو خبرو کې به موږ ستا ومنو. او الله د هغوی په رازدارۍ خبر دی. ۲۷- نو هغه وخت به څه کېږي کله چې به ملايکې د هغوی روحونه. د هغوی په مخ او ملاګانو ګوزارونه کوي. ۲۸- دا په دې خاطر چې هغوی د هغه څه پيروي وکړله چې الله ته يې غوسه وروړله او هغوی د هغه (الله) رضا خوښه نه کړه. نو الله د هغوی اعمال ضايع کړل.

۲۹- د چا په زړونو کې چې مرض دی، ایا هغوی داسې ګڼي چې الله به د هغوی کینه هېڅکله را ښکاره نه کړي. ۳۰- او که موږ غوښتي وای نو تاته به مو در ښودلي وای، تا به هغوی له نښو پېژندلي وای. او ته به هغوی د خبرو له طریقې حتماً وپېژنې. او الله ستاسې په عملونو خبر دی. ۳۱- او موږ به حتماً تاسې ازمایو چې موږ هغه خلک وپېژنو چې په تاسې کې جهاد کونکي دي او ثابت قدمه پاتې کېدونکي دي او موږ به ستاسې حالات وڅېړو. ۳۲- بېشکه چا چې انکار کړی او (نور یې) د الله له لارې منع کړي او د رسول مخالفت یې کړی په داسې حال کې چې هدایت ورته واضح شوی وو، هغوی به الله ته هېڅ تاوان ونه رسوي. او الله به د هغوی عملونه ضایع کړي.

۳۳- ای د ایمان خاوندانو، د الله اطاعت وکړئ او د رسول اطاعت وکړئ او خپل اعمال مه بربادوئ. ۳۴- بېشکه چا چې انکار وکړ او (نور یې) د الله له لارې منع کړل، بیا که منکر مړه شول، الله یې هېڅکله نه بښي.

۳۵- نو تاسې همت مه بایلئ او د سولې وړاندیز مه کوئ. او تاسې به برلاسي یئ. او الله له تاسې سره دی. او هغه به هېڅکله ستاسې په اعمالو کې کمی ونه کړي.

۳۶- د دنیا ژوند خو یوازې لوبې ټوکې دي او که تاسې ایمان راوړئ او تقوی اختیار کړئ، الله به تاسې ته اجر درکړي او هغه ستاسې مال له تاسې، نه غواړي. ۳۷- که چېرې هغه له تاسې ستاسې مالونه وغواړي نو تاسې به بخل وکړئ او الله به ستاسې کینه ظاهره کړي. ۳۸- هو، تاسې هغه خلک یئ چې د الله په لاره کې مصرف ته را بلل کېږئ، نو په تاسې کې ځینې خلک بخل کوي. او څوک چې بخل کوي له خپل ځان سره بخل کوي. او الله بې نیازه دی، تاسې محتاج یئ. او که تاسې مخ

واړوئ الله به ستاسې پر ځای بل قوم راوړي، بیا به هغه تاسې غوندې نه وي.

## سوره الفتح ۴۸

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- بېشکه موږ تاته ښکاره فتح درکړله. ۲- چې الله ستا تېرې او راتلونکې خطاوې وبښي. او په تا خپل نعمتونه تکمیل کړي. او تاته سمه لار در وښیي. ۳- او تاته قوي مرسته عطا کړي.
۴- هغه دی چې د مومنانو په زړونو کې یې ډاډ نازل کړ چې له شته ایمان سره یې نور ایمان هم زیات شي. او د آسمانونو او ځمکې پوځونه د الله دي. او الله پوهېدونکی او د حکمت خاوند دی. ۵- چې الله مومن سړي او ښځې داسې باغونو ته ننابسي چې ور لاندې به نهرونه بهېږي، هغوی به په کې تل اوسېږي. او په دې خاطر چې الله د هغوی بدۍ لرې کړي. او دا د الله په نزد لویه کامیابي ده. ۶- او په دې خاطر چې الله منافقو سړیو او منافقو ښځو ته او مشرکو سړیو او مشرکو ښځو ته عذاب ورکړي چې د الله په هکله بد ګمان لري. بدي هغوی ته ور ستنېږي. او په هغوی د الله عذاب وشو او هغه پرې لعنت وکړ. او د هغوی لپاره یې دوزخ تیار کړی دی او هغه ډېر بد ځای دی. ۷- او د آسمانونو او ځمکې پوځونه د الله دي. او الله قوي، د حکمت خاوند دی.
۸- بېشکه موږ ته ګواهي ورکونکی او زېری کونکی او وېرونکی لېږلی یې. ۹- په دې خاطر چې تاسې په الله او د هغه په رسول ایمان راوړئ او هغه سره مرسته وکړئ او د هغه درناوی وکړئ. او تاسې د الله تسبیح وکړئ سهار او ماښام. ۱۰- څوک چې له تا سره بیعت کوي هغوی په اصل کې له الله سره بیعت کوي. د الله لاس د هغوی د لاسونو دپاسه دی.

بیا چې څوک هغه (بیعت) مات کړي، نو د ماتولو اوبال به یې په هغه ورځي. او څوک چې هغه وعده پوره کړي چې له الله سره یې کړې ده نو الله به هغوی ته لوی اجر ورکړي.
۱۱- کوم کلیوال چې له تا وروسته پاتې دي هغوی به تاته وایي چې زموږ مالونو او زموږ بال بچو موږ مصروف کړي وو، نو زموږ لپاره د بښنې دعا وکړه. دوی په خوله هغه خبره کوي چې په زړه کې یې نه ده. تهووایه، څوک دی چې د الله پر وړاندې تاسې ته څه اختیار لري. که هغه تاسې ته څه زیان یا ګټه در رسول وغواړي، بلکې الله په هغه څه خبر دی چې تاسې یې کوئ. ۱۲- بلکې تاسې دا ګمان وکړ چې رسول او مومنان به بېرته خپلو کورونو ته را ستانه نه شي. او دا فکر ستاسې زړونو ته ډېر ښه ښکاره شو او تاسې ډېر بد ګمان وکړ. او تاسې هلاکېدونکي خلک شوئ. ۱۳- او چا چې په الله ایمان را نه وړ او د هغه په رسول هم، نو موږ داسې منکرینو ته ځورونکی اور تیار کړی دی. ۱۴- او د آسمانونو او ځمکې پاچاهي د الله ده، هغه چې څوک وغواړي ښښي یې او چا ته چې وغواړي عذاب ورکوي. او الله ښنونکی، رحکم کونکی دی.
۱۵- تاسې چې کله غنیمتونو پسې لاړ شئ نو هغه وروسته پاتې کېدونکي خلک به وایي چې موږ هم ځان سره تللو ته پرېږدئ. هغوی غواړي چې د الله خبره بدله کړي. ووایه چې تاسې هېڅکله موږ سره نه شئ تللی. الله مخکې همدا فرمایلي دي. نو هغوی به ووایي چې تاسې له موږ سره حسد کوئ، بلکې همدا خلک ډېر لږ پوهېږي.
۱۶- وروسته پاتې کېدونکو کلیوالو ته ووایه چې ډېر زر به تاسې د داسې خلکو له لوري ور وبلل شئ چې ډېر زورور دي، بیا به تاسې ورسره جنګېږئ یا به هغوی اسلام راوړي. نو که تاسې اجر ومنئ الله به تاسې

ته اجر درکړي او که تاسې مخ واړوئ، لکه څنګه چې تاسې مخ اړولی وو، نو تاسې ته به له درده ډک عذاب درکړي. ۱۷- نه په ړوند ګناه شته او نه په شل ګناه شته او نه په ناروغ ګناه شته. او څوک چې د الله او د هغه رسول اطاعت وکړي، هغوی به الله داسې باغونو ته ننباسي چې ور لاندې به نهرونه بهیږي. او څوک چې مخ اړوي هغوی ته به له درده ډک عذاب ورکوي.

۱۸- الله د ایمان له خاوندانو راضي شو کله چې هغوی د ونې لاندې بیعت کاوه، الله پوه شو په هغه څه چې د هغوی په سینو کې وو. نو هغه پرې سکینت نازل کړل او هغوی ته یې په انعام کې یوه نږدې فتح ورکړله. ۱۹- او ډېر غنیمتونه هم چې هغوی به یې ترلاسه کړي. او الله قوي دی، د حکمت خاوند دی. ۲۰- او الله تاسې سره د ډېرو غنیمتونو وعده کړې ده چې تاسې به یې ترلاسه کوئ، نو دا هغه تاسې ته په فوري توګه درکړل. او د خلکو لاسونه یې له تاسې منع کړل چې د ایمان خاوندانو ته یوه نښه شي. او چې هغه تاسې په سمه لار کړي. ۲۱- او یوه فتح بله هم ده چې تاسې پرې تر اوسه نه یئ قادر شوي. الله په هغې احاطه کړې ده. او الله په هر څه قادر دی.

۲۲- او که دا منکران له تاسې سره جنګېدلی نو حتماً به په شا تښتېدلي وای، بیا به یې نه ملاتړي موندلای او نه مرستندوی. ۲۳- دا د الله سنت دی چې له پخوا را روان دی. او تاسې به د الله په سنت کې بدلون ونه ګورئ. ۲۴- او هغه دی چې د مکې په دره کې یې ستاسې لاسونه له هغوی او د هغوی لاسونه له تاسې منع کړل، له هغې وروسته چې تاسې ته یې په هغوی غلبه درکړې وه. او الله ستاسې کارونه ګوري.

۲۵- کومو خلکو چې کفر وکړ او ته یې له مسجد حرام نه منع کړې او د قربانۍ څاروي یې هم ودرول چې خپل ځای ته ونه رسیږي. او که (په

مکه کې) ډېر مومن سړي او ډېرې مومنې ښځې نه وای چې تاسې به په ناخبرۍ ځپلي وای، بیا به د هغوی له وجې په تا ناخبرۍ کې تور پورې کېدای، نو په دې خاطر چې الله څوک وغواړي هغه په خپل رحمت کې داخلوي، او که هغه خلک جدا شوي وای نو په هغوی کې چې څوک منکر دي موږ به سخته جزا ورکړې وای.
۲۶- کله چې انکار کونکو په خپلو زړونو کې غیرت پیدا کړ، په جاهلیت غیرت، بیا الله له خپل هکله سکینت نازل کړ په خپل رسول او د ایمان په خاوندانو، او الله هغوی د تقوی په خبره کلک وساتل او هغوی د دې ډېر حقدار او اهل وو. او الله په هر څه پوهېږي.
۲۷- بېشکه الله خپل رسول ته سم خوب ښودلی چې له واقعیت سره سم دی. بېشکه که الله وغوښتل نو تاسې به مسجد حرام ته حتماً ننوځئ، په امن، سرونه به مو خریيلي وي یا به مو کم کړي وي، تاسې به هېڅ اندېښنه نه لرئ. نو الله ته هغه څه معلوم شول چې تاسې ته معلوم نه وو، نو له دې مخکې هغه یوه فتح درکړله.
۲۸- او الله دی چې خپل رسول ته یې هدایت وکړ او له حق دین سره یې ولېږه، چې هغه دا (دین) په ټولو دینونو برلاسی کړی. او الله کافي ګواه دی.
۲۹- محمد د الله رسول دی او څوک چې له ده سره ملګري دي هغه منکرانو ته ډېر کلک دي او په خپلو کې ډېر مهربان (دي). ته به هغوی په رکوع او سجده کې وګورې، هغوی به د الله د فضل او د هغه د رضا په لټون کې لګیا وي. د هغوی نښه د هغوی په څېرو ده د سجدو له وجې. د هغوی دا مثال په تورات کې دی. او په انجیل کې یې مثال داسې دی لکه پټی، لومړی یې تبغ را وویست، بیا یې هغه قوي کړ، بیا هغه نور هم پیړ (ډبل) شو، بیا په خپله تنه نبغ شو، هغه بزګرو ته ښه ښکارېږي

چې په مرسته يې منکران را وبولي. په هغوی کې چې چا ايمان راوړ
او نېک عمل يې وکړ، الله ورسره د بښنې او لوی ثواب وعده کړې ده.

## سوره الحجرات ۴۹

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- ای د ايمان خاوندانو، تاسې له الله او د هغه له رسول نه مه مخکې
کېږئ، او له الله ووېرېږئ، بېشکه الله اورېدونکی، پوهېدونکی دی.
۲- ای د ايمان خاوندانو، تاسې خپل غږونه د پېغمبر له غږه مه لوړوئ
او مه هغه ته داسې غږ کوئ لکه په خپلو کې يې چې يو بل ته کوئ.
هسې نه چې ستاسې اعمال برباد شي او تاسې خبر هم نه شئ. ۳- کوم
خلک چې د الله د رسول په مخ کې خپل غږ ټيټ وساتي، دا هغه خلک
دي چې زړونه يې الله د تقوی لپاره ازمايلي دي. د هغوی لپاره بښنه ده
او لوی ثواب دی. ۴- کوم خلک چې د حجرو (کوټو) له بهره تاسې ته
غږونه کوي، په هغوی کې زياتره ناپوهه دي. ۵- او که هغوی تر هغې
صبر کړی وای چې تاسې پخپله ور وتي وای نو دا به هغوی ته غوره
وای. او الله بښونکی، مهربان دی.
۶- ای د ايمان خاوندانو، که کوم فاسق تاسې ته څه خبر راوړي نو تاسې
ښه تحقيق وکړئ، هسې نه چې تاسې کومې ډلې ته په ناخبرۍ تاوان
ورسوئ، بيا به تاسې په خپلو کړو پښېمانه يئ. ۷- او پوه شئ چې ستاسې
په منځ کې د الله رسول دی. که هغه په ډېرو مسايلو کې ستاسې خبره
ومني نو تاسې به لويې ستونزې سره مخ شئ، ليکن الله تاسې ته د ايمان
مينه درکړې ده او هغه يې ستاسې په زړونو کې ګران کړ، او له کفر،
فسق او نافرمانۍ يې تاسې متنفره کړئ. ۸- همداسې خلک د الله په فضل
او انعام په سمه لار دي. او الله پوهېدونکی، د حکمت خاوند دی.

۹- او که د مسلمانانو دوه ډلې خپلو کې په جنګ شي نو ترمنځ يې سوله وکړئ. بيا که په هغوی کې يوه ډله په بلې ظلم کوي نو هغه ډلې سره وجنګيږئ چې ظلم کوي، تر هغې چې هغوی د الله حکم ته را ستانه شي. بيا که هغوی را ستانه شي نو د هغوی ترمنځ په عدل سوله او انصاف وکړئ، بېشکه الله انصاف کونکي خوښوي. ۱۰- د ايمان خاوندان ټول سره ورونه دي، نو د خپلو ورونو ترمنځ يووالی کوئ او له الله ووېرېږئ چې رحم در باندې وشي.

۱۱- ای د ايمان خاوندانو، نه دې سړی د نورو سړيو پورې خاندي، کېدای شي چې هغه تر ده غوره وي. او نه دې ښځه په نورو ښځو پورې خاندي، کېدای شي چې هغه تر دې غوره وي. او مه يو بل ته پېغور ورکوئ او مه يو بل په بد نوم يادوئ. له ايمان راوړلو وروسته ګناه بد نوم دی. او څوک چې منع نه شي هغوی ظالمان دي.

۱۲- ای د ايمان خاوندانو، له ډېرو ګمانونو ځان وساتئ، ځکه ځينې ګمانونه ګناه وي او چا پسې ګوتې مه وهئ. او په تاسې کې دې څوک غيبت نه کوي. ايا په تاسې کې څوک دا خوښوي چې د خپل مړه شوي ورور غوښه وخوري، دا تاسې پخپله نامناسبه ګڼئ. او له الله ووېرېږئ. بېشکه الله ښنونکی، رحم کونکی دی.

۱۳- ای خلکو، موږ تاسې له يوه سړي او يوې ښځې پيدا کړي يئ. او تاسې مو په قومونو او کورنيو ووېشلئ، چې يو بل وپېژنئ. بېشکه د الله په نزد په تاسې کې د ډېر عزت خاوند هغه دی چې تر ټولو ډېر پرهېزګار وي. بېشکه الله پوهېدونکی او خبر لرونکی دی.

۱۴- اعراب وايي چې موږ ايمان راوړی، ووايه چې تاسې ايمان نه دی راوړی. بلکې داسې ووايئ چې موږ اسلام منلی، او تر اوسه ايمان ستاسې زړونو ته نه دی ننوتی. او که تاسې د الله او د هغه د رسول

اطاعت وکړئ نو الله به ستاسې له اعمالو څه کم نه کړي. بېشکه الله بښونکی، رحم کونکی دی. ۱۵- مومنان خو هغو دي چې په الله او د هغه په رسول یې ایمان راوړ، بیا یې شک ونه کړ او په خپل مال و ځان یې د الله په لار کې جهاد وکړ، همدا رښتیني خلک دي.
۱۶- ووایه ایا تاسې الله د خپل دین نه خبروئ. سره د دې چې الله پوهېږې څه چې په آسمانونو کې دي او څه چې په ځمکه دي. او الله په هر څه خبر دی. ۱۷- دا خلک په تا احسان کوي چې اسلام یې قبول کړی دی. ووایه چې د خپل اسلام احسان په ما مه کوئ، بلکې الله په تاسې احسان کړی چې تاسې ته یې د ایمان هدایت کړی. که تاسې رښتیني یئ. ۱۸- بېشکه الله د آسمانونو او ځمکې په پټو خبرو خبر دی. او الله ګوري څه چې تاسې کوئ.

## سوره ق ۵۰

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- **ق**. قسم دی په باعظمته قرآن. ۲- بلکې هغوی حیران شول چې هغوی ته د هغوی له منځه یو وېرونکی راغی، نو منکرانو وویل چې دا تعجب د څه شي دي. ۳- ایا کله چې موږ مړه شو او خاورې شو، دا بیا را ژوندي کېدل ډېر (عقل نه) لرې دي. ۴- موږ ښه پوهېږو چې ځمکه له هغوی څه کموي او موږ سره کتاب دی چې هر څه په کې خوندي دي.
۵- بلکې هغوی حق دروغ بللی کله چې ورته رسېدلی دی، نو هغوی په سرګردانۍ کې دي.
۶- ای هغو خلکو د ځان دپاسه آسمان نه دی لیدلی چې موږ څنګه جوړ کړی او ښاېست مو ورکړی او هېڅ چاود په کې نشته. ۷- او موږ ځمکه خپره کړې او غرونه مو پرې ودرولي دي او هر ډول د ښاېست څیزونه

مو په کې را شنه کړي دي. ۸- د هر هغه بنده د پوهولو او خبرولو لپاره
چې رجوع کوي. ۹- او موږ له آسمانه د برکت اوبه را ښکته کړې، بیا
مو له هغوی باغونه را شنه کړل او ریبل کېدونکي فصلونه. ۱۰- او د
کجورو لوړې ونې چې قات په قات غونچې نیسي. ۱۱- د بندهګانو د
روزۍ لپاره. او موږ د هغه په وسیله مړه ځمکه ژوندۍ کړله. همداسې
به له ځمکې راوتل وي.
۱۲- تر دوی مخکې د نوح قوم او اصحاب الرس او ثمود. ۱۳- او عاد
او فرعون او د لوط ورونه. ۱۴- او د ایکه خلک او د تبع قوم هم دروغ
وبلل، ټولو پیغمبران دروغجن وبلل. نو زما وېرول په هغوی راتلونکي
وو. ۱۵- ایا موږ په لومړي ځل پیدا کېدو نه عاجز یو، بلکې دا خلک د
بیاځلي پیدا کولو په هکله شکمن دي.
۱۶- او موږ انسان پیدا کړ او موږ په هغو خبرو پوهېږو چې د هغه په
زړه کې را ګرځي. او موږ هغه ته له شارګ نه هم ډېر نږدې یو. ۱۷-
کله چې په ښي او چپ اړخ ناست دوه[۲]ګواهان د دې اعمال ثبتوي. ۱۸-
هغه هېڅ خبره نه کوي خو هغه سره یو مستعد څارونکی شته.
۱۹- او د مرګ بې‌هوشي په حقه راتلونکې ده. دا هغه شی دی چې ته
ترې تښتېدې. ۲۰- او صور به پوو کېږي، دا به د وېرې ورځ وي. ۲۱-
هر څوک به داسې راځي چې ورپسې به یو شړونکی او یو ګواه وي.
۲۲- ته له دې په غفلت کې وې. نو موږ له تا پرده پورته کړه. نو نن ستا
نظر تېز دی. ۲۳- او له هغه سره ملایکه به وایي، دا دی هغه شی چې
له ماسره حاضره وو. ۲۴ په دوزخ کې واچوئ ناشکره، مخالف. ۲۵-
له نېکۍ منع کونکی، له حده تېرېدونکی، شک اچونکی. ۲۶- چې له الله
سره یې نور معبودان جوړ کړل، نو دا په سخت عذاب کې واچوئ. ۲۷-
د هغه ملګری شیطان به وایي چې ای زموږ ربه، ما دا نه دی سرکشه

کړی بلکې ده خپله لاره هېر کړې وه او لرې پروت وو. ۲۸- ارشاد به وشي، زما په مخ کې جنګ مه کوئ او ما مخکې تاسې له عذابه وېرولي وئ. ۲۹- له ماسره خبره نه بدلېږي او زه په بندهګانو ظلم نه کوم.
۳۰- په کومه ورځ چې موږ دوزخ ته ووايو، ايا ته ډک شوې. او هغه به ووايي چې ايا څه نور هم شته. ۳۱- او جنت به وېرېدونکو ته را نږدې شي، لرې به نه وي. ۳۲- دا هغه دی چې له تاسې سره يې وعده کېدله، د هر رجوع کونکي او ياد ساتونکي لپاره. ۳۳- هغه څوک چې له رحمان ذات (نه) بې ليدلو وېرېدلی وي او له رجوع کونکی زړه يې راوړی وي. ۳۴- ورننوځئ دې ته په سلامتۍ سره، دا ورځ به تل وي. ۳۵- هلته به د هغوی لپاره هغه ټول څيزونه وي چې غواړي يې. او موږ سره لا ډېر دي.
۳۶- او موږ له هغوی مخکې څومره قومونه هلاک کړي دي، هغوی په قوت کې تر دوی ډېر وو، نو هغوی ملکونه ولټول چې د پناه ځای ومومي. ۳۷- په دې کې خبرداری دې د هغه کس لپاره چې زړه ولري يا غوږ کېږدي او متوجه شي.
۳۸- او موږ آسمانونه او ځمکه او څه چې د دې په منځ کې دي په شپږو ورځو کې پيدا کړل او هېڅ ستړي نه شو. ۳۹- نو هغوی چې څه وايي صبر پرې وکړه او د خپل رب تسبيح کوه له حمد سره، له لمرخاته مخکې او د هغه له ډوبېدو مخکې. ۴۰- او د شپې د هغه تسبيح کوه له سجدو وروسته.
۴۱- او غوږ کېږده چې کومه ورځ به غږ کونکی له نږدې غږ وکړي. ۴۲- په کومه ورځ به چې حتماً د يوه پوره کېدونکي عذاب غږ واوري، هغه به د راوتلو ورځ وي. ۴۳- بېشکه موږ ژوندي کول کوؤ او موږ وژل کوؤ او موږ ته را ستنېدل دي. ۴۴- په کومه ورځ به چې ځمکه

هغوی ته پرانیستل شي، هغوی ټول به په منډه وي، دا راټولول موږ ته آسانه دي.
۴۵- موږ پوهیږو چې څوک دا خبرې کوي. او ته په هغوی جبر کونکی نه یې. نو ته د قرآن په وسیله هغه شخص ته نصیحت وکړه چې زما له ویرولو ووېرېږي.

## سوره الذاریات ۵۱

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- قسم په هغو بادونو چې خاورې باودي. ۲- بیا پېټی پورته کوي. ۳- بیا روان شي ورو. ۴- بیا چې معاملات جدا جدا کوي. ۵- بېشکه تاسې سره چې کومه وعده کیږي رښتیا ده. ۶- او بېشکه انصاف کېدل ضرور دي. ۷- قسم دی په لار لرونکي آسمان. ۸- بېشکه په اختلاف کې اخته يئ. ۹- ګرځیږي هغه خلک چې ګرځول شوي وي.
۱۰- هلاک شول په اټکل خبرې کونکي. ۱۱- چې په غفلت کې هېر شوي (پراته) دي. ۱۲- هغوی پوښتنه کوي چې د بدلې ورځ کله ده. ۱۳- په کومه ورځ به چې هغوی په اور کېښودل کیږي. ۱۴- د خپلې سرکشۍ خوند وڅکئ، دا هغه شی دی چې ستاسې ورته تادي وه. ۱۵- بېشکه وېرېدونکي به په باغونو کې او په چینو کې وي. ۱۶- څه چې ورته عطا کیږي هغه به ترلاسه کوي، هغوی له دې مخکې نیکي کونکي وو. ۱۷- هغوی به د شپې لږ خوب کاوه. ۱۸- او د سهار په وختونو کې به یې بښنه غوښتله. ۱۹- او د هغوی په مال کې د سائل او محروم برخه وه.
۲۰- او په ځمکه نښې دي یقین کونکو لپاره. ۲۱- او پخپله په تاسې کې هم، ایا تاسې نه ګورئ. ۲۲- او په آسمان کې ستاسې روزي ده او هغه

ځيز هم چې تاسې سره يې وعده كېږي. ۲۳- نو د آسمان او ځمكې په رب قسم، دا داسې حقيقت دی لكه ستاسې خبرې كول.
۲۴- ايا تاته د ابراهيم د قدرمنو مېلمنو خبره در رسېدلې. ۲۵- كله چې هغه ته راغلل. بيا يې سلام واچاوه. هغه ووېل چې تاسې ته هم سلام دی. ځينې نابلده خلک دي. ۲۶- بيا هغه خپل كور ته لاړ او يو وريت شوی خوسی يې راوړ. ۲۷- بيا يې هغوی ته كېښوده، هغه ووېل، تاسې خوراک ولې نه كوئ. ۲۸- بيا ترې په زړه كې ووېرېده. هغوی ووېل چې مه وېرېږه. او هغه ته يې د عالم زوي بشارت وركړ. ۲۹- بيا د هغه مېرمنې خبرې كولې راغله، بيا يې تندي ته ټس وركړ او ويې ويل چې بوډۍ، شنډه (يم). ۳۰- بيا هغوی ووېل چې همداسې ستا رب فرمايلي دي. بېشكه هغه د حكمت خاوند، پوهېدونكی دی.
* ۳۱- ابراهيم ووېل چې ای ملايكو، تاسې څه ماموريت لرئ. ۳۲- هغوی ووېل چې موږ يوه مجرم (د لوط قوم) طرف ته را لېږل شوي يوو. ۳۳- چې په هغوی پخه شوې خاوره ووروو. ۳۴- هغه چې ستا د رب په نزد په نښه شوي د هغو خلكو لپاره چې له حده وتونكي دي. ۳۵- بيا چې هلته څومره د ايمان خاوندان وو هغوی موږ وويستل. ۳۶- نو هلته بيا موږ له يوه كور بغير نور هېڅ مسلمان كور ونه مونده. ۳۷- او موږ په هغه كې يوه نښه پرېښودله د هغو خلكو لپاره چې له خوفناک عذابه وېرېږي.
۳۸- او په موسی كې هم نښه ده چې كله موږ فرعون ته له يوه ښكاره دليل سره ولېږه. ۳۹- نو له خپل قوت سره په شا لاړ، او ويې ويل چې دا جادوګر دی يا مجنون دی. ۴۰- نو موږ هغه او د هغه پوځ ونيوه، بيا مو هغوی سمندر ته ور وغورځول او هغه د ملامتۍ وړ وو. ۴۱- او په عاد كې هم نښه ده كله چې پرې موږ يو بې ګټې باد ور پرېښوده. ۴۲- هغه

(باد) به چې په هر څه تېر شو، هغه به يې ذره ذره کړل. ۴۳- او په ثمود کې هم نښه ده چې کله هغوی ته وويل شول چې د لږې مودې لپاره ګټه واخلئ. ۴۴- نو هغوی د خپل رب له حکم سرکشي وکړله، نو هغوی تندر ووهل. او هغوی ليدل. ۴۵- بيا پورته نه شول. او نه يې ځانونه وساتلی شول. ۴۶- او د نوح قوم له هغه مخکې، بېشکه هغوی نافرمانه خلک وو.

۴۷- او موږ آسمان په خپل قدرت جوړ کړ او موږ پراخونکي يو. ۴۸- او ځمکه موږ خپره کړه، نو موږ څومره ښه خپرونکي يو. ۴۹- او موږ هر څه جوړه جوړه پيدا کړل چې تاسې متوجه شئ. ۵۰- نو منډه کړئ د الله طرف ته، زه د هغه له اړخه ښکاره وېرونکی يم. ۵۱- او له الله سره بل معبود مه جوړوئ، زه د هغه له اړخه ستاسې لپاره ښکاره وېرونکی يم.

۵۲- په دې توګه د دوی پخوانيو ته داسې پيغمبر نه دی راغلی چې هغوی ساحر يا مجنون نه وي بللی. ۵۳- ايا دوی يو بل ته د دې (کار کولو) وصيت کوي، بلکې دا ټول سرکشان دي. ۵۴- نو ته له هغوی مخ واړوه، په تا هېڅ مسووليت نشته. ۵۵- او (خلک) پوهوه، ځکه پوهول د ايمان خاوندانو ته ګټه رسوي.

۵۶- او ما جن او انسان يوازې د دې لپاره پيدا کړی چې زما عبادت وکړي. ۵۷- زه له هغوی رزق نه غواړم او نه دا غواړم چې هغوی ماته خوراک راکړي. ۵۸- بېشکه الله روزي ورکونکی دی، زورور او قوي دی. ۵۹- نو چا چې ظلم وکړ، د هغوی برخليک ټاکل شوی دی لکه ښنګه يې چې د ملګرو ټاکل شوی وو، نو هغوی دې تادي نه کوي. ۶۰- نو د منکرانو لپاره هلاکت دی، د هغوی له هغې ورځې چې ورسره يې وعده کيږي.

## سوره الطور ۵۲

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- قسم دی په طور. ۲- او په ليکلي کتاب. ۳- په پرانيستې پاڼې. ۴- او په آباد کور. ۵- او په لوړ چت. ۶- او په جوشېدونکي سمندر. ۷- بېشکه ستا د رب عذاب به واقع کيږي. ۸- د هغه مخه نيونکی نشته. ۹- په کومه ورځ چې آسمان څپې وهي(وخوځيږي) - ۱۰- او غرونه به روان شي.
۱۱- نو هلاکت دی د هغه ورځې په دروغ بلونکو. ۱۲- چې په بې کاره خبرو جوړولو کې لوبې کوي. ۱۳- په کومه ورځ چې دوی د دوزخ اور ته ور ټېل وهل شي. ۱۴ دا هغه اور دی چې تاسې به دروغ باله. ۱۵- ايا دا جادو دی که تاسې ته نه ښکاريږي. ۱۶- دې ته ورننوځئ. بيا که تاسې صبر وکړئ که ونه کړئ، تاسې ته يو ډول ده. تاسې د هغه بدله اخلئ څه مو چې کول.
۱۷- بېشکه متقيان خلک به په باغونو او نعمتونو کې وي. ۱۸- هغوی به خوشحاله وي له هغو شيانو چې رب به ورته ورکړي وي، او د هغوی رب هغوی د دوزخ له اوره وساتل. ۱۹- وخورئ وڅښئ په خوند د خپلو اعمالو په بدل کې. ۲۰- ډډې وهلې صف په صف په پالنګونو باندې. او موږ به د غټو سترګو حورې هغوی سره جوړه کړو.
۲۱- او چا چې ايمان راوړ او د هغوی اولاد هم د هغوی په لار له ايمان سره لاړ، هغوی سره به يې موږ اولاد هم يو ځای کړو، او د هغوی له عمله به هېڅ کم نه کړو. هر انسان په خپله ګټه کې نغاړل شوی دی. ۲۲- او موږ به هغوی ته د هغوی د خوښې غوښه او ميوې په منظم ډول ورکوؤ. ۲۳- د هغوی ترمنځ به د شرابو پيالې بدليږي چې له لغويت او ګناه به پاک وي. ۲۴- او د هغوی د خدمت لپاره به هلکان منډې را منډې

وهي. لکه هغوی چې خوندي اېښودل شوې مرغلرې وي. ۲۵- هغوی
به يو بل ته متوجه وي او خبرې به کوي. ۲۶- هغوی به وايي چې موږ
له دې مخکې په خپلو کورونو کې وېرېدلو. ۲۷- نو الله په موږ فضل
وکړ او موږ يې د تودوخې له عذابه وساتلو. ۲۸- موږ له دې مخکې هغه
را باله، بېشکه هغه د نېک سلوک خاوند، مهربان دی.
۲۹- نو ته نصيحت کوه، او د خپل رب په فضل نه ته کاهن يې او نه
مجنون. ۳۰- آيا هغوی وايي چې دا شاعر دی. موږ په دې د وخت تېرېدو
ته منتظر يو. ۳۱- ووايه چې په تمه اوسئ، زه هم له تاسې سره په تمه
يم. ۳۲- ايا د هغوی عقلونه همدا ورښيي که دا سرکشه خلک دي. ۳۳-
ايا هغوی وايي چې دا قرآن دې پخپله جوړ کړی دی. بلکې هغوی ايمان
راوړل نه غواړي. ۳۴- نو هغوی دې، د دې په شان کلام راوړي، که
رښتيني وي.
۳۵- ايا هغوی بې خالقه پيدا شوي که پخپله خالق دي. ۳۶- ايا ځمکه او
آسمان هغوی پيدا کړي، بلکې هغوی يقين نه لري. ۳۷- ايا هغوی سره
ستا د رب خزانې دي که هغوی واکداران دي. ۳۸- ايا هغوی سره کومه
پوړۍ ده چې هغوی پرې خبرې اوري، نو د هغوی اورېدونکی دې کوم
ښکاره دليل راوړي. ۳۹- او ايا الله لره لوڼې دي او تاسې لره زامن.
۴۰- ايا ته له هغوی معاوضه غواړې چې هغوی د تاوان د پېټي لاندې
کېږي. ۴۱- ايا هغوی سره غيب دی چې هغوی يې ليکي. ۴۲- ايا هغوی
کوم تدبير کول غواړي، نو انکار کونکي به پخپله په هغه تدبير کې
ونښلي. ۴۳- ايا له الله بغير د هغوی بل معبود شته. الله د هغوی له
شريکانو جوړولو پاک دی.
۴۴- او که هغوی له آسمانه کومه ټوټه را غورځېدونکې وګوري نو وبه
وايي چې دا قات په قات وريځې دي. ۴۵- نو هغوی پرېږده، تر هغې

چې هغوی پخپله له هغې ورځې سره مخ شي چې هوش به ترې تښتي.
۴۶- په کومه ورځ به چې د هغوی تدبیرونه د هغوی هېڅ په کار نه شي
او نه به ورسره مرسته وشي. ۴۷- او هغو ظالمانو ته له دې بغیر عذاب
هم دی، خو په هغوی کې زیاتره نه پوهېږي.
۴۸- او ته په صبر د خپل رب فیصلې ته په تمه شه. بېشکه ته زموږ په
نظر کې یې. او د خپل رب تسبیح کوه د هغه له حمد سره، کله چې ته را
ویښېږې. ۴۹- او د شپې هم تسبیح کوه، او د ستورو د شاته تللو په وخت
هم.

## سوره النجم ۵۳

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- قسم دی په ستوري چې کله ډوب وي. ۲- ستا ملګری نه خطا شوی
او نه بې‌لارې شوی دی. ۳- او هغه د خپله زړه نه خبرې نه کوي. ۴- دا
یوه وحې ده چې هغه ته کېږي. ۵- هغه ته د لوی قوت خاوند تعلیم
ورکړی دی. ۶- عاقل او پوه. ۷- بیا هغه را ښکاره شو او هغه د آسمان
په لوړې څنډې وو. ۸- بیا هغه نږدې شو. ۹- بیا هغه را ښکته شو. بیا د
دوؤ کمانونو هومره یا تر هغې هم لږه فاصله پاتې شوه. ۱۰- بیا الله د
خپل بنده طرف ته وحې وکړله، هغه چې وحې یې وکړله. ۱۱- دروغ
ونه ویل د رسول زړه څه چې هغه ولیدل. ۱۲- ایا تاسې اوس له هغه
سره په هغه څه جنګېږئ چې هغه لیدلي دي. ۱۳- او هغه یو ځل بل هم
هغه په راښکته کېدو لیدلی وو. ۱۴- سدرة المنتهی سره (نږدې). ۱۵-
هغه سره نږدې جنت دی د آرام اوسېدو لپاره. ۱۶- کله چې هغه په سدره
(ونې) خپرېدل څه چې خپرېدل. ۱۷- نظر نه کوږ شوی او نه له حده
وتلی. ۱۸- هغه د خپل رب لویې لویې نښې ولیدلې.

۱۹- ایا تاسې د لات او عُزّی په هکله فکر کړی دی. ۲۰- او د دریم یو او منات په اړه. ۲۱- ایا تاسې لره زامن دي او الله لره لوڼې. ۲۲- دا خو ډېر بدرنګه تقسیم شو. ۲۳- دا تش نومونه دي چې تاسې او ستاسې پلار نیکه ایښي دي. الله د هغوی په حق کې څه دلیل نه دی را ښکته کړی. هغوی یوازې د ګمان پیروي کوي او د نفس د خواهش، سره د دې چې هغوی ته د خپل رب له طرفه هدایت راغلی دی. ۲۴- ایا انسان هغه ټول مومي چې هغه یې غواړي. ۲۵- نو د الله په اختیار کې دي آخرت او دنیا.

۲۶- او په آسمانونو کې څومره ملایکې دي چې شفاعت یې هېڅ کار نه ورکوي، مګر له هغې وروسته چې الله اجازه ورکړي څوک چې غوره کړي او خوښ یې کړي. ۲۷- بېشکه څوک چې په آخرت ایمان نه لري، هغوی ملایکې د ښځو په نوم نوموي. ۲۸- سره د دې چې له هغوی سره هېڅ دلیل نشته. هغوی یوازې په ګمان روان دي. او ګمان په حق مسئله کې ذره ګټه هم نه لري. ۲۹- نو ته له هغه کس مخ واړوه چې زموږ له نصیحته مخ اړوي. او هغوی د دنیا له ژوند بغیر نور هېڅ هم نه غواړي. د هغوی عقل تر همدې ځایه کار کوي. ۳۰- ستا رب ښه پوهېږي چې څوک د هغه له لارې خطا شوي دي. او هغه هغوی هم ښه پېژني چې په سمه لار دي.

۳۱- او د الله دي څه چې په آسمانونو کې دي او څه چې په ځمکه دي، په دې خاطر چې هغه بد عمل کونکو ته د هغوی بدله ورکړي او نېک عمل کونکو ته د هغوی اجر ورکړي. ۳۲- څوک چې له لویو ګناهونو او بېحیایۍ ځان ساتي، مګر لږه ناپاکي. بېشکه ستا د رب بښنه پرېمانه ده. هغه تاسې ښه پېژني چې تاسې یې له ځمکې پیدا کړئ. او کله چې

تاسې د خپلو مېندو په خېټو کې د جنين په شکل وئ. نو تاسې ځانونه سپېڅلي مه ګڼئ. هغه تقوی لرونکي ښه پېژني.
۳۳- ايا ته هغه کس پېژنې چې مخ يې واړوه. ۳۴- لږ څه يې ورکړل او بيا يې بس کړل. ۳۵- ايا هغه ته غيب علم دی. نو هغه ګوري. ۳۶- ايا هغه ته خبر ونه رسېده د هغه څه چې د موسی په صحيفو کې دي. ۳۷- او د ابراهيم (کتاب) کې، چې خپل قول يې پوره کړ. ۳۸- چې هېڅ پورته کونکی به د بل پېټی نه پورته کوي. ۳۹- دا چې انسان لپاره هغه څه دي چې هغه ګټلي دي. ۴۰- او دا چې د هغه ګټه به ډېر زر وليدل شي. ۴۱- بيا به هغه ته پوره بدله ورکول شي. ۴۲- او دا چې ټول به ستاسې رب ته ورځي.
۴۳- بېشکه هماغه خندول او ژړول کوي. ۴۴- او هغه وژل او ژوندي کول کوي. ۴۵- او هغه دواړه ډوله نر او ښځه پيدا کړي. ۴۶- له يوه څاڅکي کله چې هغه وغورځول شي. ۴۷- او د هغه په ذمه دي بيا را پورته کول. ۴۸- او هغه شتمني ورکړي او شتمن کړي يې دي. ۴۹- او هغه د شعرا (ستوري) رب دی.
۵۰- او الله هلاک کړل لومړی عاد، ۵۱- او ثمود. بيا يې څوک پرې نه ښودل. ۵۲- او د نوح قوم له هغه مخکې، بېشکه هغوی ظالمان او سرکشه وو. ۵۳- او چپه شوي کلي يې وغورځول. ۵۴- نو هغوی ونيول، هغه څه چې ويې نيول. ۵۵- نو تاسې به د خپل رب کومې نښې دروغ ګڼئ.
۵۶- دا يو وېرونکی دی د پخوانيو وېرونکو په شان. ۵۷- نږدې کېدونکي را نږدې شول. ۵۸- له الله بغير د هغوی لرې کونکی نشته. ۵۹- ايا تاسې په دې حيرانېږئ. ۶۰- او تاسې خاندئ او تاسې ژاړئ نه. ۶۱- او تاسې کبر کوئ. ۶۲- نو الله ته سجده وکړئ او د هغه عبادت وکړئ.

## سوره القمر ۵۴

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- قیامت را نږدې شو او سپوږمۍ وچاؤدله. ۲- او هغوی چې هره نښه وګوري نو مخ به ترې اړوي. او وايي به چې دا خو جادو دی چې له پخوا را روان دی. ۳- او هغوی دروغ وبلل او د خپلو خواهشونو پیروي يې وکړله او د هر کار وخت ټاکل شوی دی. ۴- او هغوی ته هغه خبرونه رسېدلي چې کافي عبرت په کې دی. ۵- ډېر زیات حکمت، خو تنبیهات هغوی ته ګټه نه کوي. ۶- نو له هغوی مخ واړوه، په کومه ورځ به چې بلونکي د یوه بې خونده شي په هکله بلنه ورکړي. ۷- سترګې به يې ټيټې وي له قبرونو به راوځي ګویا چې هغوی شیندل شوي ملخان دي. ۸- په منډه به روان وي د بلونکي اړخ ته، منکران به وايي دا ډېره سخته ورځ ده.
۹- له هغوی مخکې د نوح قوم دروغ وبلل، هغوی زموږ بنده دروغجن وباله او ویې ویل چې لیونی دی او مردود شوی دی. ۱۰- نو هغه خپل رب ته فریاد وکړ چې زه مغلوب یم، ته انتقام واخله. ۱۱- نو موږ د آسمان دروازې شرک باران ته پرانیستلې. ۱۲- او له ځمکې مو چینې را وبهولې. نو ټولې اوبه د یوه کار لپاره یو ځای شوې چې ټاکل شوی وو. ۱۳- او موږ هغه د تختو او مېخونو (په کښتۍ) کې پورته کړ. ۱۴- هغه زموږ د سترګو وړاندې روانه وه. د هغه کس د انتقام اخیستو لپاره چې بې‌قدري يې شوې وه. ۱۵- او هغه موږ د نښې په توګه پرېښوده. نو ایا څوک فکر کونکی شته. ۱۶- نو څنګه وو زما عذاب او زما وېرول. ۱۷- او موږ قرآن د نصیحت لپاره آسانه کړی دی، نو ایا څوک نصیحت اخیستونکی شته.

۱۸- عاد دروغ وبلل نو څنګه وو زما عذاب او زما وېرول. ۱۹- موږ په هغوی یوه تېزه سیلۍ ور ولېږله د پرله پسې نحوست (سختې یخنۍ) په ورځ. ۲۰- هغې (سیلۍ) به خلک پورته کول لکه د کجورو راوتې تنې چې وي. ۲۱- نو څنګه وو زما عذاب او زما وېرول. ۲۲- او موږ قرآن د نصیحت لپاره آسانه کړی دی، نو ایا څوک نصیحت اخیستونکی شته.

۲۳- ثمود وېرونکي دروغ وبلل. ۲۴- بیا هغوی وویل چې ایا موږ له خپله منځه د یوه کس په خبره پسې لاړ شو، په دې توګه خو به موږ په غلطۍ او جنون کې پرېوځو. ۲۵- ایا موږ ټولو کې په ده نصیحت نازل شوی دی، بلکې هغه دروغجن دی، ځان لوی لوی کوي. ۲۶- اوس به هغوی سبا ورځ پوه شي چې څوک دروغجن دي او څوک ځان لوی ښودونکي دي. ۲۷- موږ د اوښې لېږونکي یو د هغوی لپاره د امتحان په توګه، نو ته په تمه شه، صبر وکړه. ۲۸- او هغوی خبره کړه چې اوبه په هغوی وېشل شوې دي. هر یو دې په وار راشي. ۲۹- نو هغوی خپل کس را وغوښت، هغه ګوزار وکړ او اوښه یې حلاله کړه. ۳۰- نو څنګه وو زما عذاب او زما وېرول. ۳۱- موږ په هغوی یو آسماني عذاب (صیحه)ور ولېږله او هغوی لکه شپول جوړونکي، ددورشته شوې ګیاه (په شان) شول. ۳۲- او موږ قرآن د نصیحت لپاره آسانه کړی دی، نو ایا څوک نصیحت اخیستونکی شته.

۳۳- د لوط قوم وېرونکي دروغجن وبلل. ۳۴- موږ په هغوی کاڼي ورونکې هوا ور ولېږله. یوازې د لوط کورنۍ ترې بچ شوه، هغوی موږ بچ کړل د سهار په وخت. ۳۵- زموږ له اړخه په فضل کولو. موږ داسې بدله ورکوؤ هغوی ته چې شکر وباسي. ۳۶- او لوط هغوی زموږ له نیونې ووېرول، بیا هغوی په دې وېرولو کې شخړې پیدا کړې. ۳۷-

او هغوی له ده (نوح) نه مېلمانه وړل. نو موږ د هغوی سترګې ورکې کړې. او وڅکئ زما د عذاب او زما د وېرولو خوند. ۳۸- او سهار وختي په هغوی عذاب راغی چې ټاکل شوی وو. ۳۹- اوس وڅکئ زما د عذاب او زما د وېرولو خوند. ۴۰- او موږ قرآن د نصیحت لپاره آسانه کړی دی، نو ایا څوک نصیحت اخیستونکی شته.
۴۱- او د فرعون خلکو ته وېرونکي ورسېدل. ۴۲- هغوی زموږ ټولې نښې دروغ وبللې نو موږ هغوی د یوه غالب او قوي نیونکي غوندې ونیول.
۴۳- ایا ستاسې (د مکې) منکران تر هغو خلکو ښه دي که تاسې لپاره په آسماني کتابونو کې ښښنه لیکل شوې ده. ۴۴- ایا هغوی وایي موږ داسې ډله یوو چې تل به برلاسې یو. ۴۵- ډېر زر به دا ډله ماته شي او په شا به وتښتي. ۴۶- بلکې قیامت د دوی د وعدې وخت دی او قیامت ډېر سخت دی او ډېر تریخ دی. ۴۷- بېشکه مجرمان په ګمراهۍ او بېعقلۍ کې دي. ۴۸- په کومه ورځ به چې هغوی پړمخې اور ته کش کېږي. وڅکئ اوس د اور خوند.
۴۹- موږ هر شی په اندازه پیدا کړی دی. ۵۰- او زموږ حکم به ناڅاپه راشي لکه د سترګو رپ. ۵۱- او موږ هلاک کړي دي ستاسې ملګري، نو ایا څوک فکر کونکی شته. ۵۲- او څه چې هغوی کړي ټول په کتابونو کې ثبت دي. ۵۳- او هره وړه او لویه خبره لیکل شوې ده. ۵۴- بېشکه وېرېدونکي به په باغونو او نهرونو کې وي. ۵۵- هغوی به د رښتیا په ځای ناست، د قدرت خاوند پاچا ته نږدې ناست وي.

## سوره الرحمان ۵۵

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- رحمان. ۲- د قرآن تعلیم ورکړ. ۳- هغه انسان پیدا کړ. ۴- هغه ته یې خبرې ور وښودلې. ۵- او لمر او سپوږمۍ لپاره یو حساب دی. ۶- او ستوري او ونې سجده کوي. ۷- او هغه آسمان لوړ کړ او هغه تله (میزان) کېښوده. ۸- چې تاسې په تول کې زیاتی ونه کړئ. ۹- او په عدل سره سم تول کوئ او په تول کې کمی مه کوئ.
۱۰- او ځمکه هغه د مخلوق لپاره هواره کړه. ۱۱- په هغې میوې دي او کجورې دي چې دپاسه پرې غلاف وي. ۱۲- او پوښ لرونکې غلې (دانې) هم دي او خوشبویه ګلان هم.۱۳- نو تاسې به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼئ.۱۴ او هغه پیدا کړی دی انسان له وچې کړنګېدلې خاورې نه. ۱۵- او جنات د اور د لمبې نه. ۱۶- نو تاسې به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼئ. ۱۷- او هغه مالک دی د دواړو مشرقونو او دواړو مغربونو. ۱۸- نو تاسې به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼئ.۱۹- هغه روان کړي دوه سیندونه، خوا په خوا سره روان. ۲۰- د دواړو ترمنځه یوه پرده ده چې هغوی ترې نه اوړي.
۲۱- نو تاسې به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼئ.۲۲- له هغو دواړو مرغلرې او مرجان راوځي. ۲۳- نو تاسې به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼئ. ۲۴- او هغه دي بېړۍ، په سمندر کې لوړې ولاړې لکه د غره. ۲۵- نو تاسې به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼئ.
۲۶- څه چې په ځمکه دي، هغه به فنا کیږي. ۲۷- او ستا د رب ذات پاتې کېدونکی دی، د عظمت او عزت خاوند. ۲۸- نو تاسې به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼئ. ۲۹- له هغه یې غواړي څه چې په

آسمانونو او ځمکه دي. هره ورځ د هغه يو کار دی. ۳۰- نو تاسې به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ گڼئ.
۳۱- ډېر زر تاسې ته در اوزگارېدونکي يو، ای دوۀ لويو قافلو (انسانانو او جناتو). ۳۲- نو تاسې به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ گڼئ. ۳۳- ای د پيريايو او انسانانو ډلو. که تاسې د آسمانونو او ځمکې له حدودو وتلی شئ نو ووځئ، تاسې بې له سنده نه شئ وتلی. ۳۴- نو تاسې به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ گڼئ. ۳۵- په تاسې به د اور لمبې او لوگی در خوشې شي او تاسې به نه شئ بچ کېدلای. ۳۶- نو تاسې به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ گڼئ.
۳۷- بيا چې کله آسمان وچوي او د څرمنې غوندې سور شي. ۳۸- نو تاسې به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ گڼئ. ۳۹- نو په هغه ورځ به له کوم انسان او جن (پېري) د هغه د گناه په هکله پوښتنه نه کيږي. ۴۰- نو تاسې به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ گڼئ. ۴۱- مجرمان به په خپلو نښو وپېژندل شي، بيا د تندي له وېښتو او پښو ونيول شي. ۴۲- نو تاسې به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ گڼئ. ۴۳- دا دوزخ دی چې مجرمانو به دروغ باله. ۴۴- بيا به هغوی د دې (دوزخ) او جوش اوبو ترمنځ گرځيږي. ۴۵- نو تاسې به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ گڼئ.
۴۶- او څوک چې د خپل رب مخې ته له ودرېدو ووېرېږي، د هغه لپاره دوه باغونه دي. ۴۷- نو تاسې به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ گڼئ. ۴۸- دواړه ډېر گڼ دي. ۴۹- نو تاسې به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ گڼئ. ۵۰- په هغو کې به دوه چينې روانې وي. ۵۱- نو تاسې به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ گڼئ. ۵۲- په دواړو باغونو کې د هرې ميوې دوه ډولونه. ۵۳- نو تاسې به د خپل رب کوم کوم نعمتونه

دروغ ګڼئ. ۵۴- هغوی به په داسې فرشونو ډډې وهلې وي چې استرونه به يې د زرباقتو وربښمو وي. او د باغونو ميوې به يې را ټيټېږي. ۵۵- نو تاسې به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼئ. ۵۶- په هغوی کې به لاندې کتونکې ښځې وي، چې له دوی مخکې به بل چا نه وي لمس کړي. ۵۷- نو تاسې به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼئ. ۵۸- داسې به وي لکه ياقوت او مرجان. ۵۹- نو تاسې به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼئ. ۶۰- د نېکۍ بدله له نېکۍ بغير نوره څه ده. ۶۱- نو تاسې به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼئ.

۶۲- او په هغوی سربېره دوه نور باغونه دي. ۶۳- نو تاسې به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼئ. ۶۴- دواړه تک شنه تور ته نږدې. ۶۵- نو تاسې به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼئ. ۶۶- هغو کې به دوه چينې وي را خوټېدونکې. ۶۷- نو تاسې به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼئ. ۶۸- په هغو کې به ميوې او کجورې او انار وي. ۶۹- نو تاسې به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼئ. ۷۰- په هغو کې به د ښه سيرت او ښه صورت ښځې وي. ۷۱- نو تاسې به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼئ. ۷۲- په خېمو کې مېشتې حورې. ۷۳- نو تاسې به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼئ. ۷۴- مخکې به نه کوم انسان لمس کړې وي او نه کوم پېري (جن). ۷۵- نو تاسې به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼئ. ۷۶- تکيه به يې وهلې وي شنو بالښتونو او قيمتي نازکو فرشونو باندې. ۷۷- نو تاسې به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼئ. ۷۸ ډېر بابرکته دی ستا رب نوم د لويۍ او عظمت خاوند.

## سوره الواقعه ۵۶

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- کله چې واقع کېدونکي واقع شي. ۲- د هغه په واقع کېدو کې هېڅ دروغ نشته. ۳- هغه به ټيټونکي، لوړونکي وي. ۴- کله چې ځمکه وخوځول شي. ۵- او غرونه مات او ميده ميده شي. ۶- بيا به هغه شيندلی ګرد شي. ۷- او تاسې به درې[3] ډوله شئ.
۸- بيا ښي اړخ والا، څومره ښه دي د ښي اړخ والا. ۹- او چپ اړخ والا، څومره بد خلک دي د چپ اړخ والا. ۱۰- او مخکې خلک خو مخکې خلک دي. ۱۱- هغه مقرب خلک دي. ۱۲- د نعمت په باغونو کې. ۱۳- د هغوی لويه برخه به له لومړنيو خلکو وي. ۱۴- او لږ به له وروستيو خلکو وي. ۱۵- په ګلدارو پالنګونو. ۱۶- (به يې) تکيه وهلې وي او (يو بل ته) مخامخ به ناست وي. ۱۷- بيا به هغوی سره ځوان هلکان د تل لپاره اوسېږي. ۱۸- د اوبو لوښي او کوزې به يې لاسو کې وي او د شرابو پيالې. ۱۹- په هغه به نه سر درد کوي او نه به عقل کې خرابوالی راځي. ۲۰- او ميوې چې کومې غواړي. ۲۱- د هغو مرغانو غوښې چې د هغوی خوښېږي. ۲۲- او د غټو سترګو حورې. ۲۳- لکه د مرغلرو دانې په خپل غلاف کې. ۲۴- بدله د هغو کارونو چې هغوی کول. ۲۵- هلته به هغوی هېڅ د لغو او ګناه خبره نه اوري. ۲۶- مګر يوازې د سلام سلام غږ.
۲۷- او ښي اړخ والا، څومره ښه دي ښي اړخ والا. ۲۸- د بېرې په ونو کې (به اوسي) چې اغزي به نه لري. ۲۹- او کيلې قات په قات. ۳۰- او پراخه سيوري. ۳۱- او روانې اوبه. ۳۲- او پرېمانه ميوې. ۳۳- چې نه به ختمېږي او نه به ودرېږي. ۳۴- او لوړ تختونه. ۳۵- موږ هغه ښځې په خاص ډول جوړې کړې دي. ۳۶- بيا مو هغوی پېغلې ساتلې دي. ۳۷-

زړه راښکونکې او همزولې. ۳۸- د ښي اړخ والا لپاره. ۳۹- له لومړنيو
به يوه لويه ډله وي. ۴۰- او له وروستنيو به هم يوه لويه ډله وي.
۴۱- او چپ اړخ والا، څومره بد دي چپ اړخ والا. ۴۲- په اور کې او
په جوش اوبو کې. ۴۳- او د تور لوګي سيوري ته. ۴۴- نه يخ او نه د
عزت. ۴۵- دا خلک له دې مخکې خوشحاله وو. ۴۶- په ډېرې ګناه يې
ټينګار کاوه. ۴۷- او هغوی به ويل، ايا کله چې موږ مړه شو او موږ
خاورې او هډوکي شو نو ايا بيا به را پورته کېږو. ۴۸- او ايا زموږ
لومړني پلار نيکه هم. ۴۹- ووايه چې لومړني او وروستني. ۵۰- ټول
به راټول شي په يوه ټاکلي وخت. ۵۱- بيا به تاسې، ای بې لارې شويو
او دروغ بلونکو. ۵۲- د زقوم له ونې خوراک کوئ. ۵۳- بيا به له
هغې خپله خېټه ډکوئ. ۵۴- بيا به پرې دپاسه جوش اوبه څښئ. ۵۵- بيا
به يې د تږيو اوښانو غوندې څښئ. ۵۶- دا به د هغوی مېلمستيا وي د
عدالت په ورځ.
۵۷- موږ تاسې پيدا کړي يئ، نو تاسې تصديق ولې نه کوئ. ۵۸- ايا
تاسې په هغه څه فکر کړی چې تاسې يې غورځوئ. ۵۹- ايا تاسې هغه
جوړوئ که موږ يې جوړونکي يو. ۶۰- موږ ستاسې ترمنځه مرګ ټاکلی
او موږ له دې عاجز نه يو. ۶۱- چې ستاسې په ځای ستاسې په شان پيدا
کړو او تاسې په داسې صورت جوړ کړو چې تاسې يې نه پېژنئ. ۶۲-
او تاسې لومړی پيدايښت پېژنئ، نو بيا ولې سبق نه اخلئ. ۶۳- ايا تاسې
په هغه څه فکر کړی چې تاسې يې کرئ. ۶۴- ايا تاسې يې را شنه کوئ
که موږ يې را شنه کونکي يو. ۶۵- که موږ وغواړو هغه ذره ذره کړو،
بيا به تاسې خبرې جوړولو ته پاتې شئ. ۶۶- (چې) موږ خو تاوان وکړ.
۶۷- بلکې موږ بيخي محروم شو. ۶۸- ايا تاسې په هغو اوبو فکر کړی
چې تاسې يې څښئ. ۶۹- ايا تاسې له وريځو را ښکته کړي. ۷۰- که

موږ يې را ښکته کونکي يو. که موږ وغواړو نو هغه به ډېرې ترخې کړو. نو تاسې شکر ولې نه وباسئ. ۷۱- ايا تاسې په هغه اور فکر کړی چې تاسې يې بلوئ. ۷۲- ايا تاسې هغه ونه پيدا کړې که موږ يې پيدا کونکي يو. ۷۳- موږ دا خبرتيا کړې ده او د مسافرو لپاره د ګټې څيز.
۷۴- نو ته د خپل عظيم رب د نوم تسبيح کوه. ۷۵- نو نه، زه قسم کوم د ستورو په چاؤدنه. ۷۶- او که تاسې فکر وکړئ دا ډېر لوی قسم دی.
۷۷- بېشکه دا د عزت لرونکی قرآن دی. ۷۸- په يوه خوندي کتاب کې.
۷۹- هغوی يې لمسوي چې پاک جوړ شوي دي. ۸۰- نازل شوی دی د رب‌العالمين له اړخه. ۸۱- نو ايا تاسې له دې کلام سره بې اعتنايي کوئ.
۸۲- او تاسې خپله برخه همدلته اخلئ چې تاسې دا دروغ بولئ.
۸۳- بيا ولې نه، کله چې ساه مری ته رسېږي. ۸۴- او تاسې هغه وخت ګورئ. ۸۵- او موږ له تاسې هغه کس ته ډېر نږدې يو خو تاسې نه ګورئ. ۸۶- بيا ولې نه، که تاسې محکوم نه يئ. ۸۷- نو تاسې هغه ساه ولې بېرته نه را ګرځوئ، که تاسې رښتيني يئ. ۸۸- نو که هغه په مقربينو کې وي.
۸۹- نو راحت دی او ښه روزي ده او د نعمت باغ دی. ۹۰- او که هغه د اصحاب‌ِيمين له ډلې وي. ۹۱- نو تاته سلامتي، ته د اصحاب‌ِيمين له ډلې يې. ۹۲- او که هغه په دروغ بلونکو ګمراه خلکو کې وي. ۹۳- د جوش اوبو مېلمستيا ده. ۹۴- او دوزخ ته ننوتل. ۹۵- بېشکه دا کوټلی حق دی. ۹۶- نو د خپل عظيم رب د نوم تسبيح کوه.

## سوره الحديد ۵۷

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- د الله تسبيح کوي هر څه چې په آسمانونو او ځمکه دي او هغه قوي دی، د حکمت خاوند دی. ۲- د آسمانونو او ځمکې پاچاهي د هغه ده. هغه ژوندي کولکوي او وژل کوي او هغه په هر څه قادر دی. ۳- هغه اول هم دی او آخر هم دی او ظاهر هم دی او باطن هم. او هغه په هر څه پوه دی. ۴- هغه دی چې آسمانونه او ځمکه يې پيدا کړل په شپږ.و ورځو کې، بيا پر عرش متمکن شو. هغه خبر دی چې څه په ځمکه ننوځي او چې څه ترې راوځي او څه چې له آسمانه را ښکته کيږ.ي او څه چې ور پورته کيږ.ي، او هغه له تاسې سره دی هر چېرته چې يئ او الله ګوري څه چې تاسې کوئ. ۵- د آسمانونو او ځمکې پاچاهي د هغه ده، او الله ته ورستنيږ.ي ټولې چارې. ۶- هغه شپه په ورځ کې داخلوي او ورځ په شپه کې داخلوي، او هغه د زړه په خبرو پوهيږ.ي.
۷- ايمان راوړئ په الله او د هغه په رسول او مصرف کړئ له هغه څه چې هغه په کې تاسې خپل امين کړي يئ، نو په تاسې کې چې چا ايمان راوړ او مصرف يې وکړ د هغوی لپاره لوی اجر دی. ۸- او په تاسې څه شوي چې په الله ايمان نه راوړئ. سره د دې چې رسول تاسې ته وايي چې په خپل رب ايمان راوړئ هغه له تاسې وعده اخيستې ده، که تاسې مومنان يئ. ۹- هغه دی چې په خپل بنده واضح آيتونه نازلوي چې تاسې له تيارو د رڼا اړخ ته راوړي، او الله په تاسې نرمي کونکی، مهربان دی. ۱۰- او په تاسې څه شوي چې د الله په لاره کې مصرف نه کوئ، سره د دې چې ټول آسمان او ځمکه به آخر د الله پاتې کيږ.ي. په تاسې کې چې څوک له فتح وروسته مصرف وکړي او وجنګيږ.ي هغوی له هغو خلکو سره نه شي برابرېدی چې له فتح مخکې يې مصرف وکړ

او وجنګېدل، او الله له ټولو سره د نېکۍ وعده کړې ده، الله پوهېږي چې تاسې څه کوئ.
۱۱- څوک دی چې الله ته قرض ورکړي، ښه قرض، چې هغه یې ورته زیات کړي، او د هغه لپاره باعزته اجر دی. ۱۲- په کومه ورځ چې ته مومن سړي او مومنې ښځې وګورې چې د هغوی رڼا به له هغوی مخکې او د هغوی ښي لاس ته روانه وي، نن ورځ تاسې ته زېری دی د باغونو چې ور لاندې به نهرونه روان وي، دا لویه کامیابي ده. ۱۳- په کومه ورځ به چې منافق سړي او منافقې ښځې د ایمان خاوندانو ته وایي چې موږ پرېږدئ چې ستاسې له رڼا لږه ګټه واخلو. ورته به وویل شي چې تاسې شاته تاؤ شئ، بیا رڼا ولټوئ. بیا به د هغوی ترمنځ یو دیوال ودرول شي چې په کې به یوه دروازه وي. د هغه دننه به رحمت وي او بهر به یې عذاب وي. ۱۴- هغوی به ورته غږونه کوي چې ایا موږ له تاسې سره نه وو. دوی به وایي چې هو، خو تاسې ځانونه په فتنه کې واچول او لارې ته مو لیدل او شکمن وئ او د دروغو هیلو تاسې تېرایستلئ، تر دې چې د الله فیصله راغله او تېرایستونکي تاسې د الله په مسئله کې تېرایستئ. ۱۵- نو نن به نه له تاسې کومه فدیه قبلېږي او نه له هغو خلکو چې کفر یې کړی دی. ستاسې ځای اور دی. هغه ستاسې ملګری دی. او هغه بد ځای دی.
۱۶- ایا د ایمان په خاوندانو هغه وخت نه دی راغلی چې زړونه یې د الله د نصیحت په وړاندې ټیټ شي. او د هغه حق په وړاندې چې نازل شوی دی. او د هغو خلکو غوندې نه شي چې پخوا کتاب ورکول شوی وو، بیا پرې ډېره موده تېره شوه نو د هغوی زړونه کلک شول. او په هغوی کې زیاتره خلک نافرمانه دي. ۱۷- پوه شئ چې الله ځمکه را

ژوندی کوي د هغې له مرګ وروسته، موږ تاسې ته نښې بیان کړې چې تاسې پوه شئ.
۱۸- بېشکه صدقه ورکونکي سړي او صدقه ورکونکې ښځې. او هغه خلک چې الله ته يې قرض ورکړی، ښه قرض، نو د هغوی لپاره به زیات شي او د هغوی لپاره باعزته اجر دی. ۱۹- او چا چې ایمان راوړ په الله او د هغه په رسولانو، هغه خلک د خپل رب په نزد صدیقان او شهیدان دي. د هغوی لپاره د هغوی اجر او رڼا ده، او چا چې انکار وکړ او زموږ آیتونه یې دروغ وبلل هغوی د دوزخ خلک دي.
۲۰- پوه شئ چې د دنیا ژوند له لوبو ټوکو بغیر هېڅ هم نه دی او له زینت او خپل منځي ویاړ او په مال او اولاد کې له یو بل د مخکې کېدو له هڅې. لکه باران چې پیداوار یې بزګرو ته ښه معلوم وي، بیا هغه (فصل) وچېږي، بیا یې هغوی زیړ (پوخ) ګوري، بیا هغه میده میده شي. او په آخرت کې سخت عذاب دی او د الله له طرفه بښنه او رضا هم. او د دنیا ژوند د تېګۍ له سود بغیر هېڅ هم نه دی. ۲۱- منډه کړئ د خپل رب د بښنې په طرف او د داسې جنت په طرف چې پراخوالی یې د آسمان او ځمکې د پراخوالي هومره دی. دا د هغو خلکو لپاره تیار شوی چې په الله او د هغه په رسول یې ایمان راوړی، دا د الله فضل دی. هغه یې هغه چاته ورکوي چې هغه یې غواړي او الله د لوی فضل خاوند دی.
۲۲- هېڅ مصیبت په ځمکه نه راځي او نه په تاسې، مګر هغه په یوه کتاب کې لیکل شوي له هغې مخکې چې موږ یې پیدا کړو. بېشکه دا الله ته آسانه ده. ۲۳- په دې خاطر چې تاسې په هغه څه خفه نه شئ چې ورک کړي مو دي. او نه په هغه څه وویاړئ چې هغه تاسې ته درکړي، او الله لافې وهونکی او کبرجن نه خوښوي. ۲۴- هغو چې بخل کوي او

نورو ته هم بخل ور زده کوي. او څوک چې مخ واړوي نو الله بې نیازه دی، د ښېګڼو خاوند دی.
۲۵- موږ خپل رسولان له نښو سره لیږلي او هغوی سره مو کتاب او تله (ترازو) نازل کړل، چې خلک په عدالت قایم شي. او موږ اوسپنه را ښکته کړله چې ډېر قوت په کې دی او د خلکو لپاره په کې ګټې دي او چې الله پوه شي چې څوک بې له لیدو هغه او د هغه رسولانو سره مرسته کوي، بېشکه الله د قوت خاوند دی، قوي دی.
۲۶- او موږ نوح او ابراهیم ولیږل. او د هغو په اولاد کې موږ پېغمبري او کتاب کېښودل. بیا په هغوی کې ځینې په لاره دي او په هغوی کې ډېر نافرمانه دي. ۲۷- بیا د هغوی په پلونو موږ خپل رسولان ولیږل او د هغه په پلونو مو عیسی ابن مریم ولیږه او موږ هغه ته انجیل ورکړ. او چا چې د هغه پیروي وکړه موږ د هغوی په زړونو کې شفقت او رحمت واچاوه. او رهبانیت هغوی پخپله رامنځته کړ، موږ هغه په هغوی نه و لیکلی. خو هغوی د الله د رضا لپاره هغه اختیار کړ، بیا یې هغه پوره رعایت نه کړ، نو په هغوی کې چې چا ایمان راوړ موږ هغوی ته اجر ورکړ. او په هغوی کې زیاتره خلک نافرمانه دي.
۲۸- ای د ایمان خاوندانو، له الله ووېرېږئ او د هغه په رسول ایمان راوړئ. الله به تاسې ته د خپل رحمت دوه برخې درکړي. او تاسې ته به رڼا درکړي چې تاسې به ورسره ځئ. او تاسې به وبښي. او الله بښونکی، مهربان دی. ۲۹- په دې خاطر چې اهل کتاب پوه شئ چې هغوی د الله په فضل کې څه واک نه لري او دا چې فضل د الله په لاس کې دي. هغه یې چې چاته وغواړي ورکوي. او الله د لوی فضل خاوند دی.

## سوره المجادله ۵۸

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
* ۱- الله د هغې ښځې خبره واورېدله چې د خپل مېړه په هکله یې تا سره لانجه کوله او له الله یې شکایت کاوه، او الله ستاسې د دواړو خبرې اورېدې، بېشکه هغه اورېدونکی، پوهېدونکی دی.
۲- په تاسې کې که څوک خپلو مېرمنو ته (د مور غړ) ظهار وکړي نو هغوی یې نه مېندې کیږي. د هغوی مېندې هغو دي چې هغوی یې زیږولي. او دې خلکو بېشکه نامعقوله او دروغ خبره کوله. او الله بښونکی دی، د بښنې خاوند دی. ۳- او که څوک خپلو مېرمنو ته ظهار وکړي او بیا (د هغه خبرې ماتولو ته) رجوع وکړي په څه چې هغوی ویلي، نو یو غلام به آزادوي، له هغې مخکې چې یو بل لمس کړي. په دې تاسې ته نصیحت کیږي، او الله پوهیږي چې تاسې څه کوئ. ۴- بیا که څوک (غلام) ونه مومي نو هغه دې دوه میاشتې پرله پسې روژه ونیسي، له هغې مخکې چې یو بل لمس کړي. که څوک دا نه شي کولای نو شپېتو[۶۰] مسکینانو ته دې ډودۍ ورکړي. دا په دې خاطر چې تاسې په الله او د هغه په رسول ایمان راوړئ. دا د الله حدود دي او منکرانو لپاره له درده ډک عذاب دی.
۵- څوک چې د الله او د هغه د رسول مخالفت کوي هغوی به ذلیله شي، لکه هغه خلک چې ذلیله شول چې تر دوی مخکې وو او موږ واضح آیتونه نازل کړي دي، او منکرانو ته د ذلت عذاب دی. ۶- په کومه ورځ چې الله ټول را پورته کوي او د هغوی کړي کارونه ورته وایي. الله هغه شمارلي دي. او هغو خلکو هېر کړي او هر څه د الله مخې ته دي.
۷- تاسې نه دي لیدلي چې الله پوهیږي په هغه څه چې آسمانونو کې دي او څه چې په ځمکه دي. هېڅ درې تنه داسې پټ مجلس نه شي کولای

چې څلورم په کې الله نه وي. او نه پنځه پټ مجلس کولای شي چې شپږم
په کې هغه نه وي او تر دې لږ او ډېر. مگر هغه ورسره وي دوی چې
هر چېرته وي، بیا هغه دوی په دې خبروي د قیامت په ورځ. بېشکه الله
د هرې خبرې علم لري. ۸- ایا تا نه دي لیدلي چې هغوی له پټو خبرو
منع شوي، خو بیا هم هغه کار کوي چې هغوی ترې منع شوي وو. او د
گناه او ظلم او د رسول د نافرمانۍ پټ مجلسونه کوي، او کله چې تاته
راځي نو په داسې طریقه درته سلام اچوي چې الله پرې تاته سلام نه دی
کړی. هغوی په خپلو زړونو کې وايي چې زموږ په دې خبرو موږ ته
الله عذاب ولې نه راکوي. د هغوی لپاره دوزخ کافي دی، هغه کې به
غورځېږي، نو هغه بد ځای دی.
۹- ای د ایمان خاوندانو، تاسې چې کله پټ مجلس کوئ نو د گناه او ظلم
او د رسول د نافرمانۍ پټ مجلس مه کوئ. او تاسې د نېکۍ او
پرهېزگارۍ پټ مجلس وکړئ. او له الله ووېرېږئ هغه ته به تاسې ور
ټولېږئ. ۱۰- دا پټ مجلس د شیطان له طرفه دی چې د ایمان خاوندانو
ته تکلیف ورسوي، او هغوی ته هېڅ شی هم تکلیف نه شي رسولای،
مگر د الله په حکم. او د ایمان خاوندان باید په الله توکل وکړي.
۱۱- ای د ایمان خاوندانو، کله چې تاسې ته وویل شي چې په مجلسونو
کې آزاد کېنئ نو آزاد کېنئ، الله به تاسې ته پراختیا درکړي. او کله چې
وویل شي چې پاڅېږئ، نو پاڅېږئ. په تاسې کې چې څوک د ایمان
خاوندان دي او چا ته چې علم ورکول شوی دی، الله به د هغوی درجې
لوړې کړي. او تاسې چې څه کوئ، الله په هغه خبر دی.
۱۲- ای د ایمان خاوندانو، تاسې چې کله له رسول سره د راز خبره کوئ
نو د راز له خبرې مخکې لږه صدقه ورکړئ. دا تاسې لپاره غوره ده او
ډېره پاکه ده. بیا که تاسې سره څه نه وي نو الله بښونکی، مهربان دی.

۱۳- ایا تاسې په دې خبره ووېرېدئ چې د راز له خبرې مخکې صدقه ورکړئ. نو که داسې نه کوئ، او الله تاسې وبښلئ، نو تاسې لمونځ قایم کړئ او زکات ورکړئ او د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړئ. او تاسې چې څه کوئ، الله پرې خبر دی. ۱۴- ایا تا هغه ونه لیدل چې له داسې خلکو سره ملګرتیا کوي چې په هغوی د الله غضب شوی دی. هغوی نه ستاسې له ډلې دي او نه د هغوی، او هغوی په دروغ خبره قسمونه خوري سره د دې چې پوهېږي. ۱۵- الله د هغو خلکو لپاره سخت عذاب تیار کړی دی، بېشکه بد کارونه دي چې هغوی یې کوي. ۱۶- او هغوی له خپلو قسمونو ډالونه (سپرونه) جوړ کړي، بیا هغوی د الله له لارې منع کول کوي، نو هغوی لپاره د ذلت عذاب دی.
۱۷- د هغوی مال او اولاد به هغوی د الله نه لږ هم ونه وساتي. دا خلک دوزخیان دي، په هغه کې به اوسېږي. ۱۸- په کومه ورځ چې الله دوی ټول را پورته کړي نو دوی به الله ته هم داسې قسمونه کوي لکه تاته چې قسمونه کوي. دوی داسې ګڼي چې په کوم څه (دلیل) دی، واورئ، چې دا خلک دروغجن دي. ۱۹- شیطان په دوی غلبه کړې ده، هغه له دوی د الله یاد هېر کړی دی. دا خلک د شیطان ډله ده. واورئ د شیطان ډله به حتماً هلاکېږي. ۲۰- څوک چې د الله او د هغه د رسول مخالفت کوي، هغوی تر ټولو ډېر ذلیله خلک دي. ۲۱- الله لیکلي دي چې زه او زما رسول به برلاسي یو. بېشکه الله د قوت خاوند، قوي دی.
۲۲- ته به داسې قوم ونه مومې چې په الله او د آخرت په ورځ ایمان ولري او بیا له داسې خلکو سره ملګرتیا وکړي چې د الله او د هغه د رسول مخالف وي. سره د دې چې هغه د دوی پلرونه یا د دوی زامن یا د دوی د کورنۍ غړي هم وي. دا هغه خلک دي چې الله یې په زړونو کې ایمان لیکلی دی. او په خپل فیض یې قوت ورکړی دی. او داسې

باغونو ته به يې ننباسي چې ور لاندې به نهرونه بهيږي، دوی به په کې تل اوسيږي. الله له دوی راضي شو او دوی له الله راضي شول. همدا خلک د الله ډله ده، او د الله ډله کاميابېدونکې ده.

## سوره الحشر ۵۹

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- د الله پاکي بيانوي ټول شيان چې په آسمانونو کې دي او په ځمکه دي، او هغه قوي دی، د حکمت خاوند دی. ۲- هغه دی چې اهل کتاب منکران يې د هغوی له کورونو ټول په لومړي ځل وويستل. تاسې فکر نه کاوه چې هغوی به ووځي او هغوی داسې ګڼل چې د هغوی کلاکانې به يې ګني له الله نه وساتي، بيا الله هغوی ته له هغه ځايه ور ورسېده چې د هغوی خيال کې هم نه راته. او د هغوی په زړونو کې يې رعب واچاوه، هغوی خپل کورونه په خپلو لاسونو ورانول او د مسلمانانو په لاسونو هم. نو ای سترګورو، عبرت واخلئ.
۳- او که الله هغوی ته جلاوطني نه وای ليکلی نو په دنيا کې به يې عذاب ورکړی وای او په آخرت کې د هغوی لپاره د اور عذاب دی. ۴- دا ځکه چې هغوی د الله او د هغه د رسول مخالفت وکړ. او څوک چې د الله مخالفت کوي نو الله د سخت عذاب لرونکی دی. ۵- د کجورو کومې ونې چې تاسې ووهلې يا مو هغه په خپلو ريښو ولاړې پرېښودې دا د الله په حکم وو، او په دې خاطر چې هغه نافرمانه رسوا کړي.
۶- او الله چې له هغوی کوم څيزونه د خپل رسول طرف ته را وګرځول، تاسې په هغه نه آسونه وځغلول او نه اوښان، خو الله چې خپلو رسولانو ته څنګه وغواړي هغسې تسلط ورکوي. او الله په هر څه قادر دی. ۷- څه چې الله خپل رسول ته له کليوالو را وګرځوي هغه د الله لپاره دي او

د رسول لپاره دي او خپلوانو او یتیمانو او مسکینانو او مسافرو لپاره دي چې هغه (مال) ستاسې د شتمنو ترمنځ ونه ګرځېږي. او رسول چې تاسې ته څه درکوي هغه واخلئ او هغه مو چې له څه منع کوئ له هغه منع شئ او له الله ووېرېږئ، الله سخت جزا ورکونکی دی. ۸- د هغو بېوزله مهاجرو لپاره چې له خپلو کورونو او مالونو را ویستل شوي دي. هغوی د الله فضل او رضا غواړي. او هغوی له الله او د هغه له رسول سره مرسته کوي. همدا خلک ربښتیني دي.
۹- او څوک چې له مخکې په مدینه کې مېشت شوي او ایمانونه یې قوي کړي، څوک چې هجرت کوي او دوی ته راځي هغوی ورسره مینه کوي او هغوی په هغو څیزونو زړه نه تنګوي چې مهاجرینو ته ورکول کېږي. او دوی هغوی تر ځانه مخکې ګڼي، که څه هم په دوی لوږه وي. او چا چې خپل نفس له حرصه (لالچ) وساته، هغه خلک کامیابېدونکي دي.
۱۰- او څوک چې له دوی وروسته راغلل هغوی وایي چې ای زموږ ربه، موږ وبښه او زموږ هغه ورونه هم چې تر موږه مخکې یې ایمان راوړی دی. او زموږ په زړونو کې د ایمان خاوندانو ته کینه مه اچوه، ای زموږ ربه، ته ډېر شفیق او ډېر مهربان یې.
۱۱- ایا تا هغه خلک نه دي لیدلي چې په نفاق اخته دي. هغوی په اهل کتابو کې خپلو هغو ورونو ته چې کفر یې کړی وایي، که تاسې وویستل شوئ نو موږ هم له تاسې سره وځو. او ستاسې په مسئله کې موږ د چا خبره نه منو. او که له تاسې سره جنګ وشو موږ به درسره مرسته وکړو. او الله ګواهي ورکوي چې هغوی دروغجن دي. ۱۲- که هغوی وویستل شول نو دوی ورسره نه وځي. او که له هغوی سره جنګ وشو دوی ورسره مرسته نه کوي. او که هغوی سره مرسته وکړي نو په شا به تختي او بیا به هېڅ مرسته نه مومي.

۱۳- بېشکه ستاسې وېره د هغوی په زړونو کې تر الله ډېره ده، دا ځکه چې هغه خلک پوهه نه لري. ۱۴- دا خلک به ټول په ګډه تاسې سره هېڅکله ونه جنګېږي، مګر په خوندي کليو او د ديوالونو تر شا. د هغوی جنګ په خپلو کې سخت دی. تاسې هغوی متحد ګڼئ او د هغوی زړونه جدا کېږي، دا ځکه چې هغوی عقل نه لري.
۱۵- دا خلک د هغوی غوندې دي چې له دوی لږ مخکې يې د خپلو کړو (اعمالو) خوند ليدلی، او د هغوی لپاره له درده ډک عذاب دی. ۱۶- لکه شيطان چې انسان ته وايي چې منکر شه، بيا چې هغه منکر شي نو هغه ورته وايي چې زه له تا بري يم. زه له الله وېرېږم چې د ټول جهان رب دی. ۱۷- بيا د دواړو انجام دا شو چې دواړه دوزخ ته لاړل هلته به تل اوسېږي، او د ظالمانو جزا همدا ده.
۱۸- ای د ايمان خاوندانو له اللهووېرېږئ، او هر کس وګورئ چې هغه د سبا لپاره څه لېږلي دي. او له الله ووېرېږئ، بېشکه الله خبر دی په هغه چې تاسې يې کوئ. ۱۹- او تاسې د هغو خلکو غوندې مه کېږئ چې الله يې هېر کړ نو الله هغوی پخپله د هغوی له خپلو ځانونو غافل کړل، همدا خلک نافرمانه دي. ۲۰- دوزخيان او جنتيان نه شي برابرېدی. جنتيان په اصل کې کامياب دي.
۲۱- که موږ دا قرآن په غره نازل کړی وای نو تا به ليدلي وای هغه به د الله له وېرې ناست او چاؤدلی وای، او دا مثالونه موږ خلکو ته بيانوؤ چې هغوی فکر وکړي. ۲۲- هغه الله دی چې له هغه بغير بل معبود نشته، په پټو او ښکاره خبر، ډېر مهربان دی، ډېر د رحم خاوند دی. ۲۳- هغه الله دی چې له هغه بغير بل معبود نشته، له عيبونو پاک پاچا، سراسر سلامتي، امن ورکونکی، ساتونکی، برلاسی، زورور، د عظمت خاوند، الله له هغه شرک پاک دی چې خلک يې (ورسره) کوي. ۲۴- هغه الله

دی پیدا کونکی، رامنځته کونکی، صورت ورکونکی، د هغه لپاره دي ټول ښه نومونه. هر څه چې په آسمانونو او ځمکه دي د هغه تسبيح کوي او هغه قوي دی، د حکمت خاوند دی.

## سوره الممتحنه ۶۰

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- ای د ايمان خاوندانو، تاسې زما دښمنان او خپل دښمنان مه ملګري کوئ، تاسې هغوی سره د ملګرتيا اظهار کوئ، خو هغوی له هغه حق انکار کړی چې تاسې ته راغلی، هغوی رسول او تاسې په دې خاطر جلاوطنه کوي چې تاسې په خپل رب، الله ايمان راوړی دی. که تاسې زما په لار کې جهاد او زما رضا لټولو پسې راوتي يئ. تاسې په پټه هغوی ته د ملګرتيا پيغام لېږئ. او زه پوهېږم چې تاسې څه پټوئ او څه ښکاره کوئ. او په تاسې کې چې څوک داسې وکړي هغه له سمې لارې بې‌لارې شو. ۲- که هغوی په تاسې برلاسي شي نو ستاسې دښمنان به شي. او هغوی به خپل لاس او ژبه تاسې ته تاوان در رسوي. او غواړي به چې تاسې هم هغوی غوندې منکران شئ. ۳- ستاسې خپلوان او ستاسې اولاد به د قيامت په ورځ ستاسې په کار نه شي، هغه به ستاسې ترمنځه فيصله کوي، او الله ګوري تاسې چې څه کوئ.
۴- تاسې لپاره په ابراهيم او د هغه په ملګرو کې ښه نمونه ده، کله چې هغوی خپل قوم ته وويل چې موږ له تاسې جدا يو او له هغو شيانو چې تاسې يې له الله بغير عبادت کوئ، موږ له تاسې منکر يو او زموږ او تاسې ترمنځه به د تل لپاره دښمني او بېزاري وي، تر دې چې تاسې په يوه الله ايمان راوړئ. مګر خپل پلار ته د ابراهيم دا خبره چې زه به تا لپاره ښښنه وغواړم، او زه تا لپاره د الله په وړاندې د څه خبرې اختيار نه

لرم. ای زموږ ربه، موږ په تا توکل وکړ او موږ تاته رجوع وکړه او تاته ستنېدل دي. ۵- ای زموږ ربه، موږ منکرانو ته مه فتنه کوه، او ای زموږ ربه موږ وبښه، بېشکه ته قوي يې، د حکمت خاوند يې. ۶- بېشکه تاسې لپاره په دې کې ښه نمونه ده، د هغه چا لپاره چې د الله او د آخرت د ورځې تمه لري. او څوک چې مخ واړوي نو الله بې نيازه دی، د تعريفونو لايق دی. ۷- هيله ده چې الله ستاسې او هغو خلکو ترمنځ ملګرتيا پيدا کړي چې تاسې ورسره دښمني کړې. او الله هر څه کولای شي، او الله بښونکی، مهربان دی.

۸- الله تاسې له هغو خلکو نه منع کوي چې د دين په معامله کې يې له تاسې سره جنګ نه دی کړی. او تاسې يې له خپلو کورونو ونه ويستلئ چې له هغوی سره نېکي وکړئ او هغوی سره عدل وکړئ. بېشکه الله عدل کونکي خوښوي. ۹- الله تاسې له هغو خلکو منع کوي چې د دين په مسئله کې تاسې سره جنګېږي او تاسې يې له خپلو کورونو را وويستئ. او ستاسې په ويستلو کې يې مرسته وکړله چې تاسې له هغوی سره ملګرتيا وکړئ، نو څوک چې له هغوی سره ملګرتيا وکړي هغوی ظالمان دی.

۱۰- ای د ايمان خاوندانو، کله چې مسلمانې ښځې هجرت وکړي او تاسې ته درشي نو تاسې يې وڅېړئ، الله د هغوی په ايمان ښه خبر دی. نو که تاسې پوه شئ چې هغه مومنې دي نو هغوی منکرانو ته مه ستنوئ. نه هغه ښځې هغوی ته حلالې دي او نه هغوی دې ښځو ته حلال دي. او منکرو مېړونو چې څه مصرف کړی هغه بېرته ورکړئ. او په تاسې څه ګناه نشته که تاسې هغوی سره نکاح وکړئ چې کله يې مهر ورکړئ. او تاسې منکرې ښځې په خپلو نکاحګانو کې مه ساتئ. او تاسې چې څه مصرف کړی هغه وغواړئ. او څه چې منکرانو مصرف کړی هغوی

دې له تاسې وغواړي. دا د الله حکم دی، هغه ستاسې ترمنځ فیصله کوي او الله پوهېدونکی او د حکمت خاوند دی. ۱۱- او که ستاسې د مېرمنو په مهر کې د منکرانو له اړخه څه پاتې شي، بیا ستاسې نوبت راشي نو د چا مېرمنې چې تللي، هغوی چې څه مصرف کړی بېرته یې ورکړئ. او له الله ووېرېږئ چې تاسې پرې ایمان راوړی دی.
۱۲- ای نبي، کله چې تاته مومنې ښځې په دې خبرې بیعت کولو لپاره راشي چې هغوی به الله سره څه نه شریکوي. او غلا به نه کوي. او بدکاري به نه کوي. او خپل اولاد به نه وژني. او د خپلو لاسونو او پښو مخې ته به کوم له ځانه جوړ کړی تهمت نه راوړي. او په کوم معروف کې به ستا نافرماني نه کوي نو ته له هغوی سره بیعت وکړه او هغوی ته له الله د بخښش دعا وکړه، بېشکه الله ببنونکی، مهربان دی.
۱۳- ای د ایمان خاوندانو، هغه خلک مه ملګري کوئ چې د الله غضب پرې شوی دی، هغوی له آخرته ناهیلي شوي، داسې لکه څنګه چې په قبرونو کې پراته منکران ناهیلي دي.

## سوره الصّف ۶۱

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- د الله تبسیح کوي هر څه چې په آسمانونو کې او په ځمکه دي. او هغه غالب دی، حکیم دی. ۲- ای د ایمان خاوندانو، تاسې داسې خبره ولې کوئ چې (عملي) کوئ یې نه. ۳- د الله په نزد دا د خفګان وړ ده چې تاسې یوه خبره کوئ او (عملي) کوئ یې نه. ۴- الله خو هغه خلک خوښوي چې د هغه په لاره کې داسې په صفونو کې ولاړ جنګېږي لکه په قلعي (فلز) کلک شوی دیوال.

۵- او کله چې موسی خپل قوم ته وویل چې ای زما قومه، تاسې ما ولې ځوروئ، سره د دې چې تاسې ته معلومه ده چې زه تاسې ته د الله را لیږل شوی رسول یم. بیا چې هغوی مخ واړوه نو الله د هغوی زړونه واړول. او الله نافرمانه خلکو ته هدایت نه کوي.
۶- او کله چې عیسی ابن مریم وویل چې ای بني اسرائیلو، زه تاسې لپاره د الله را لیږلی شوی رسول یم، تصدیق کوم د هغه تورات چې تر ما مخکې موجود دی، او زیری ورکوم د یوه داسې رسول چې له ما وروسته به راځي، د هغه نوم به احمد وي. بیا چې ده هغوی ته ښکاره نښې راوړلې نو هغوی وویل چې دا خو ښکاره جادو دی. ۷- او تر هغه لوی ظالم به څوک وي چې په الله دروغ وتړي سره د دې چې هغه اسلام ته را بلل کیږي، او الله ظالمانو ته هدایت نه کوي. ۸- هغوی غواړي چې د الله رڼا په خپله خوله مړه کړي، سره د دې چې الله به خپله رڼا پوره کوي، که دا منکرانو ته هر څومره سخته وي. ۹- هغه دی چې خپل رسول یې له هدایت سره او له رښتیني دین سره را ولیږه، په دې خاطر چې هغه دا (دین) په ټولو دینونو غالب کړي که څه هم په مشکرانو دا ډیره سخته وي.
۱۰- ای د ایمان خاوندانو، ایا تاسې ته داسې یو تجارت در وښیم چې له دردناک عذابه (مو) وساتي. ۱۱- تاسې په الله او د هغه په رسول ایمان راوړئ او د الله په لار کې په خپلو مال او ځان جهاد وکړئ، داسې تاسې لپاره غوره ده که تاسې پوه شئ. ۱۲- الله به ستاسې ګناه وبښي او تاسې به داسې باغونو ته ننباسي چې ور لاندې به نهرونه بهیږي. او ښاپسته ودانیو ته چې په تلپاتې باغونو کې به وي، دا لویه کامیابي ده. ۱۳- او یو بل شی هم چې تاسې یې هیله لرئ، د الله مرسته او زر فتح، او مومنانو ته زیری ورکړه.

۱۴- ای د ایمان خاوندانو، تاسې الله سره مرسته وکړئ. لکه څنګه چې
عیسی ابن مریم خپلو حواریونو ته وویل، څوک به د الله لپاره زما
مرستندوی شي. حواریونو وویل چې موږ د الله مرستندوی یوو، نو په
بني اسرائیلو کې ځینو خلکو ایمان راوړ او ځینو انکار وکړ. بیا موږ د
ایمان خاوندانو سره د دښمنانو په مقابل کې مرسته وکړه، نو هغوی
برلاسي شول.

## سوره الجمعه ۶۲

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- د الله تسبیح کوي هغه څه چې په آسمانونو کې دي او څه چې په ځمکه
دي، څوک چې پاچا دی، پاک دی، قوي دی، د حکمت خاوند دی. ۲-
هغه دی چې امیانو ته یې یو رسول د هغوی له منځه را پورته کړ، چې
هغوی ته آیتونه لولي او هغوی پاکوي او هغوی ته کتاب او حکمت ور
ښیي، او هغوی له دې مخکې ښکاره ګمراهان وو. ۳- او په هغو کې
نورو ته هم چې لا تر اوسه دوی سره شامل شوي نه دي. او هغه قوي
دی، د حکمت خاوند دی. ۴- دا د الله فضل دی. هغه چې چاته وغواړي
ورکوي یې. او الله د لوی فضل خاوند دی.
۵- څوک چې د تورات پورته کونکي وټاکل شول او هغوی پورته نه
کړ، مثال یې د هغه خره دی چې کتابونه پرې بار وي. څومره بد مثال
دی د هغو خلکو لپاره چې د الله آیتونه یې دروغ بللي او ظالمانو ته هدایت
نه کیږي. ۶- ووایه چې ای یهودو، که تاسې دا ګڼئ چې تاسې د نورو په
پرتله الله ته ډېر ګران یئ نو تاسې مرګ وغواړئ، که رښتیني یئ. ۷-
او هغوی به هېڅکله دا ونه غواړي، د هغو کارونو له وجې چې د دوی
لاسونو مخکې لیږلي دي. او الله ظالمان ښه پېژني. ۸- ووایه له کوم

مرګه چې تاسې تښتئ هغه به تاسې ته راځي، بيا به په پټو او ښكاره
پوهېدونكي ته ورل كېږئ، بيا به هغه تاسې ته وايي چې تاسې څه كول.
۹- ای د ايمان خاوندانو، كله چې د جمعې د لمانځه بلنه راشي نو د الله د
ياد طرف ته ورشئ او اخيستل خرڅول پرېږدئ، دا تاسې ته غوره ده كه
پوه شئ. ۱۰- بيا چې كله لمونځ پوره شي نو په ځمكه خواره شئ او د
الله فضل ولټوئ، او الله ډېر يادوئ چې كاميابي ومومئ. ۱۱- او كله چې
هغوی كوم تجارت يا لوبه تماشه ګوري نو هغې ته په منډو كېږي. او تا
ولاړ پرېږدي، ووايه څه چې له الله سره دي هغه له لوبو او تماشو غوره
دي، او الله ښه رزق وركونكی دی.

## سوره المنافقون ۶۳

شروع كوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- كله چې منافقين تاته راځي نو وايي مونږ ګواهي وركوو چې ته بېشكه
د الله رسول يې، او الله پوهېږي بېشكه ته د هغه رسول يې، او الله ګواهي
وركوي چې دا منافقين دروغجن دي. ۲- هغوی خپل قسمونه ډالونه
(سپرونه) كړي دي، بيا هغوی د الله له لارې منع كول كوي، بېشكه ډېر
بد (كار) دی چې هغوی يې كوي. ۳- دا په دې خاطر چې هغوی ايمان
راوړ بيا يې كفر وكړ، نو د هغوی په زړونو مهر ولګېده، نو هغوی نه
پوهېږي.
۴- او كله چې ته هغوی وګورې نو د هغوی بدنونه درته ښه ښكارېږي،
او كه هغه خبرې كوي نو ته د هغوی خبرې اورې، (خو هغوی داسې
دي) لكه لرګي چې ودرول شوي وي. هغوی هر لوړ غږ د ځان خلاف
ګڼي. همدا خلک دښمنان دي، نو له هغوی ځان ساته. الله دې هغوی هلاک
كړي، هغوی چېرته روان دی. ۵- او كله چې هغوی ته وويل شي چې

راشئ د الله رسول درته استغفار وکړي نو هغوی سر تاووي. او ته به هغوی ګورې چې په ډېر کبر به بې رُخي کوي. ۶- هغوی ته یو شان ده که ته ورته د مغفرت دعا وکړې که نه. الله به هېڅکله هغوی ونه ښښي. الله نافرمانه خلکو ته هدایت نه کوي.
۷- دا هغه (خلک) دي چې وايي څوک چې د الله له رسول سره دي په هغوی مصرف مه کوئ تر دې چې هغوی خپاره شي. او د آسمانونو او ځمکې خزانې د الله دي، خو منافقین نه پوهېږي. ۸- هغوی وايي چې موږ مدینې ته ستانه شو نو عزت والا به له هغه ځایه د ذلت والا وباسي. سره د دې چې عزت الله لپاره، د هغه د رسول لپاره او مومنانو لپاره دی، خو منافقین نه پوهېږي.
۹- ای د ایمان خاوندانو، ستاسې مال او ستاسې اولاد (ګوری) تاسې د الله له یادولو غافله نه کړي، او څوک چې داسې وکړي هغوی تاوان کونکي خلک دي. ۱۰- او موږ چې تاسې ته څه درکړي په هغه کې مصرف کوئ تر هغې مخکې چې چاته مرګ راشي، بیا به ووايي چې ای زما ربه، تا ماته لږ نور مهلت ولې را نه کړ چې ما صدقه کړې وای او په نېکو خلکو کې شامل شوی وای. ۱۱- او الله هېڅکله هېڅ ژوندي ته مهلت نه ورکوي کله یې چې (ټاکلی) وخت راشي، او الله پوهېږي چې تاسې څه کوئ.

## سوره التغابن ۶۴

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- د الله تسبیح کوي هر څه چې په آسمانونو کې دي او هر څه چې په ځمکه دي. د هغه پاچاهي ده او هغه لره تعریف دی او هغه په هر څه قادر دی. ۲- هغه دی چې تاسې یې پیدا کړئ، بیا په تاسې کې څوک

منکران دي او څوک مومنان، او الله ګوري څه چې تاسې کوئ. ۳- هغه آسمانونه او ځمکه په سم ډول پیدا کړل او هغه ستاسې صورت ساز کړ نو ډېر ښاېسته صورت یې ساز کړ، او هغه ته دي ستنېدل. ۴- هغه خبر دی څه چې په آسمانونو کې دي او څه چې په ځمکه دي. او هغه پوهېږي څه چې تاسې پټوئ او څه چې تاسې واضح کوئ. او الله د زړه په خبرو هم خبر دی.
۵- ایا تاسې ته د هغو خلکو خبر نه دی در رسېدلی چې مخکې یې انکار وکړ، بیا یې د خپلو کړو (کارونو) اوبال ولیده او هغوی لپاره له درده ډک عذاب دی. ۶- دا ځکه چې هغوی ته د هغوی رسولان ښکاره دلیلونو سره راغلل، نو هغوی وویل چې (اوس به) انسان موږ ته لارښوؤنه کوي. هغوی انکار وکړ او مخ یې واړوه، او الله له هغوی بېپروا شو، او الله بې نیازه دی، د تعریف لایق دی.
۷- انکار کونکو دعوه کړې چې هغوی به هېڅکله بېرته را پورته نه کړی شي، ووایه چې هو، زما په رب قسم، تاسې به حتماً را پورته کېږئ، بیا به تاسې ته وویل شي چې تاسې څه کول، او دا الله ته آسان دي. ۸- نو په الله ایمان راوړئ او د هغه په رسول او په هغې رڼا چې موږ نازله کړې ده. او الله پوهېږې چې تاسې څه کوئ. ۹- په کومه ورځ به چې هغه تاسې ټول د را ټولېدو په ورځ را ټول کړي، هغه به د کامیابۍ او ناکامۍ ورځ وي. او چا چې په الله ایمان راوړی وي او نیک عمل یې کړی وي، الله به ترې ګناه لرې کړي او هغوی به داسې باغونو ته ننباسي چې ور لاندې به نهرونه بهېږي، او هغوی به په کې تل اوسېږي. همدا د الله لویه کامیابي ده. ۱۰- او چا چې انکار وکړ او زموږ آیتونه یې دروغ وبلل هغوی د اور خلک دي، په هغه کې به تل اوسېږي، او هغه بد ځای دی.

۱۱- هر مصیبت چې راځي د الله په اذن راځي. او څوک چې په الله ایمان لري الله د هغه زړه ته لار ښیي، او الله په هر څه پوهېدونکی دی. ۱۲- او تاسې د الله اطاعت وکړئ او د رسول اطاعت وکړئ بیا که تاسې مخ واړوئ نو زموږ په رسول یوازې ښکاره رسَول دي. ۱۳- الله، له هغه بغیر بل اله (معبود) نشته، او د ایمان خاوند باید په الله توکل وکړي.

۱۴- ای د ایمان خاوندانو، ستاسې ځینې ښځې او ځینې بچې ستاسې دښمنان دي، نو تاسې پام کوئ، او که تاسې ببښنه وکړئ او ګذشت وکړئ او ویې ښئ نو الله ببښونکی، مهربان دی. ۱۵- ستاسې مال او ستاسې اولاد د امتحان شی دی، او له الله سره ډېر لوی اجر دی. ۱۶- نو تاسې له الله ووېرېږئ تر کومه چې کېږي. او واورئ او ومنئ او مصرف کړئ، دا تاسې ته غوره ده، او کوم انسان چې د زړه له تنګېدو خوندي وو، نو همداسې دي کامیابېدونکي. ۱۷- که تاسې الله ته ښه قرض ورکړئ نو هغه به یې تاسې ته لس چنده زیات کړي او تاسې به وبښي، او الله قدران دی، زغم لرونکی دی. ۱۸- په غایب او حاضر پوه دی، قوي دی، حکیم دی.

## سوره الطلاق ۶۵

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.

۱- ای پېغمبره، کله چې تاسې ښځو ته طلاق ورکوئ نو د هغوی په عدت طلاق ورکړئ او عدت وشمارئ، او الله ووېرېږئ چې ستاسې رب دی. هغه ښځې د هغوی له کورونو مه را وباسئ او مه دې هغوی پخپله وځي، مګر دا چې کومه ښکاره بې حیایي وکړي، او دا د الله حدود دي، او څوک چې د الله له حدودو واوړي نو هغه په ځان ظلم کړی، تاسې نه

پو هېږۍ کېدای شي الله له دې طلاق وروسته کوم نوی صورت پیدا کړي.
۲- بیا چې کله خپله مدت ته ورسېږي نو هغوی یا له معروف سره سمې وساتئ یا یې له معروف سره سمې پرېږدئ او له خپلو نه دوه معتبر کسان ګواهان کړئ او د الله لپاره سمه ګواهي ورکړئ. دا نصیحت هغه چاته کېږي چې په الله او د آخرت په ورځ ایمان لري. او څوک چې له الله وويرېږي، الله به هغه ته لاره پيدا کړي. ۳- او هغه ته به له هغه ځایه رزق ورکړي چې ګمان به یې هم نه وي، او څوک چې په الله توکل وکړي نو د هغه لپاره الله کافي دی، بېشکه الله ستاسې کار پوره کوي. الله د هر څه لپاره یوه اندازه ټاکلې ده.
۴- او ستاسې په ښځو کې چې څوک له حیض نه ناهیلي شوي دي، که تاسې شکمن يئ نو د هغوی د عدت وخت درې میاشتې دی. او همداسې د هغوی عدت هم چې حيض يې نه راځي، او د امیدوارو ښځو عدت د هغوی د حمل پیدا کېدل دي، او څوک چې له الله وويرېږي، الله به د هغه کار آسانه کړي. ۵- دا د الله حکم دی چې هغه تاسې ته نازل کړی دی. او څوک چې له الله وويرېږي، الله به ترې ګناه لرې کړي او لوی اجر به ورکړي.
۶- تاسې هغو ښځو ته د خپل وس سره سم ځای ورکړئ په کوم کور چې تاسې اوسېږئ او د هغوی د تنګولو لپاره ورته تکلیف مه رسوئ، او که هغوی امیدوراې وي نو مصرف پرې وکړئ تر دې چې د هغوی وضِع حمل وشي. بیا که هغوی ستاسې لپاره (ستاسې بچي) ته شیدې ورکوي نو اجوره یې ورکړئ. او تاسې په خپلو کې یو بل ته نېکي ور زده کړئ. او که تاسې خپلو کې ضد وکړئ نو کومه بله ښځه به شیدې ورکړي. ۷- په کار ده چې د وس خاوند له خپل وس سره سم مصرف وکړي او د چا چې عاید لږ وي هغه ته چې الله څه ورکړي له هغه باید مصرف وکړي.

الله په چا پېټی نه اچوي مګر څومره یې چې ورکړي دي، الله به له سختۍ
وروسته زر آساني پیدا کړي.
۸- او ډېر داسې قومونه دي چې د خپل رب له حکم او د هغه له رسولانو
یې سرغړونه کړې ده، نو موږ هغوی سره سخت حساب وکړ او موږ
هغوی ته وېرونکې جزا ورکړه. ۹- نو هغوی د خپل کړو (کارونو)
اوبال ولید او د هغوی انجام تاواني شو.
۱۰- الله هغوی ته یو سخت عذاب تیار کړی دی. نو له الله ووېرېږئ، ای
د عقل خاوندانو چې ایمان مو راوړی دی. الله تاسې ته یو نصیحت نازل
کړی دی. ۱۱- یو رسول چې تاسې ته د الله واضح آیتونه در اوروي، په
دې خاطر چې هغه خلک له تیارو رڼا ته را وباسي چې ایمان یې راوړی
او نېک عمل یې کړی دی. او چا چې په الله ایمان راوړ او نېک عمل یې
وکړ، هغه به یې داسې باغونو ته ننباسي چې ور لاندې به نهرونه بهېږي
هغوی به په کې تل اوسیږي، الله هغوی ته ډېره ښه روزي ورکړه.
۱۲- الله دی چې اووه[۷] آسمانونه یې جوړ کړل او هماغسې ځمکه هم. له
هغه (ځایه) د هغه (الله) حکم راځي چې تاسې پوه شئ چې الله په هر څه
قادر دی. او الله په خپل علم د هر څه احاطه کړې ده.

## سوره التحریم ۶۶

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- ای نبي، ته ولې هغه څه حراموې چې الله تا لپاره حلال کړي دي، د
خپلو مېرمنو د راضي کولو لپاره، او الله ښنونکی، مهربان دی. ۲- الله
تاسې لپاره ستاسې د قَسمونو خلاصول مقرر کړی دی، او الله ستاسې
کارساز دی، او هغه پوهېدونکی، د حکمت خاوند دی.

۳- او کله چې نبي خپلې یوې مېرمنې ته یوه خبره پټه وکړله، نو کله چې هغې (مېرمنې) بل چاته وویل او الله پرې نبي خبر کړ، نو نبي لږه خبره وکړله او لږه یې پرېښودله، بیا چې کله نبي هغې ته دا خبره وکړله، هغې وویل چې تاته چا د دې خبر درکړ. نبي ورته وویل چې ماته پوهېدونکي، باخبره وویل. ۴- که تاسې دواړه (مېرمنې) الله ته رجوع وکړئ نو ستاسې زړونه مایل شوي دي، او که تاسې دواړه د نبي په مقابل کې کوم کار وکړئ نو الله د هغه ملګری دی او جبریل صالح او اهل ایمان او په هغه سربېره ملایکې د هغه مرستندوی دي. ۵- که نبي تاسې ټولو ته طلاق درکړي نو د هغه رب به (ورته) ستاسې په بدل کې له تاسې ښې مېرمنې ورکړي، مسلمانې، ایمانداري، فرمانبرداري، توبه کونکې، عبادت کونکې، روژه‌دارې، کونډې او پېغلې.
۶- ای د ایمان خاوندانو، خپل ځانونه او خپلې کورنۍ له هغه اوره وساتئ چې خاشاک به یې انسانان او کاڼي وي، په هغه تریخ خویه او قوي ملایکې مقررې دي، الله چې ورته هر حکم وکړي هغوی په کې نافرماني نه کوي، او هغه څه کوي چې حکم یې ورته کېږي. ۷- ای هغو خلکو چې انکار مو کړی، نن عذر مه وړاندې کوئ، هغه په بدل کې ترلاسه کوئ څه مو چې کول.
۸- ای د ایمان خاوندانو، د الله په وړاندې رښتیني توبه وکړئ. هیله ده چې ستاسې رب ستاسې ګناه وبښي او تاسې داسې باغونو ته ننباسي چې ور لاندې به نهرونه بهېږي، په کومه ورځ به چې الله نبي او د هغه ملګري د ایمان خاوندان نه رسوا کوي. د هغوی رڼا به له هغوی مخکې او ښي اړخ ته روانه وي، هغوی به وایي چې ای زموږ ربه، موږ لپاره زموږ رڼا مکمله کړه او موږ ته مغفرت وکړه، بېشکه ته په هر څه قادر یې.

۹- ای نبي، له منکرانو او منافقینو سره جهاد وکړه او په هغوی سختي
وکړه او د هغوی ځای دوزخ دی او هغه ډېر بد ځای دی. ۱۰- الله
منکرانو ته مثال بیانوي د نوح د مېرمنې او د لوط د مېرمنې، دواړه
زموږ په بندهګانو کې د دوؤ نېکو بندهګانو په نکاح کې وې، بیا ورسره
هغوی (مېرمنو) خیانت وکړ نو دواړه (پېغمبران) د الله به مقابل کې د
هغوی هېڅ په کار نه شول، او هغه دواړو (مېرمنو) ته وویل چې اور ته
ننوځئ، له ننوتونکو سره.
۱۱- الله د ایمان خاوندانو ته مثال بیانوي د فرعون د مېرمنې، کله چې
هغې وویل ای زما ربه، ماته ځان سره په جنت کې یو کور ساز کړه او
ما له فرعون او د هغه له عمله وساته او ما له ظالم قوم وساته. ۱۲- او د
عمران د لور مریم، چې د خپلې پاکۍ ساتنه یې وکړله، بیا موږ په هغې
کې خپله ساه پوو کړه او هغې د خپل رب د کلمو او د هغه د کتابونو
تصدیق وکړ. او هغه په فرمانبردارو کې وو.

## سوره الملک ۶۷

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
* ۱- ډېره بابرکته دی هغه چې په لاس کې یې پاچاهي ده او په هر څه
قادر دی. ۲- هغه چې مرګ او ژوند یې په دې خاطر پیدا کړل چې تاسې
امتحان کړي (وګوري) چې څوک ښه کار کوي. او هغه قوي دی،
ښونکی دی. ۳- هغه چې اووه[۷] آسمانونه یې پیدا کړل درجه په درجه.
ته به د رحمان (ذات) په پیدایښت کې څه خلل ونه وینې، نو نظر واچوه

وګوره، ایا چېرته کوم خلل وینې. ۴- څو څو ځله وګوره، ناکام نظر به دې سترې شي او بېرته به در وګرځي.
۵- او موږ نږدې آسمان په څراغونو سینګار کړ. او موږ هغه د شیطانانو د ویشتلو وسیله کړل. او موږ د هغوی لپاره د دوزخ عذاب تیار کړی دی. ۶- او کومو خلکو چې له خپل رب انکار کړی، د هغوی لپاره د دوزخ عذاب دی. او هغه بد ځای دی. ۷- کله چې په هغه کې واچول شي، هغوی به یې غړمبېدل واوري. ۸- او هغه به جوشېږي، داسې به ښکاري لکه له غوسې چې چوي. په هغه کې چې کومه ډله وغورځول شي، ساتونکی به یې ترې پوښتي، ایا تاسې ته کوم وېرونکی نه وو درغلی. ۹- هغوی به وایي هو، موږ ته وېرونکی راغلی وو. بیا موږ هغه دروغجن وباله او موږ وویل چې الله څه نه دي نازل کړي، تاسې په لویې ګمراهۍ کې پرېوتي یئ. ۱۰- او هغوی به ووایي چې که موږ اورېدلي وای یا پوهېدای نو موږ به دوزخیانو کې نه وای. ۱۱- هغوی به په خپله ګناه اقرار وکړي، نو لعنت دې وي په دوزخیانو.
۱۲- او څوک چې له رب نالیدلي وېرېږي، د هغوی لپاره مغفرت او لوی اجر دی. ۱۳- او تاسې که خپله خبره پټه وکړئ که ښکاره، هغه د زړونو په خبرو پوهېږي. ۱۴- ایا هغه به نه پوهېږي چې پیدا کړي یې دي، او هغه باریک بین دی، خبر لرونکی دی.
۱۵- هغه دی چې ځمکه یې تاسې لپاره هواره کړله، نو د هغه په لارو وګرځئ او د هغه له رزق وخورئ او هغه ته (بېرته) ورتګ دی.
۱۶- ایا په تاسې کې د هغه وېره ختمه شوه چې په آسمان کې دی چې هغه به تاسې په ځمکه ننباسي، او هغه به ولړزېږي. ۱۷- ایا په تاسې کې د هغه وېره ختمه شوه چې آسمان کې دی چې په تاسې به د کاڼو ورونکی باد در ولېږي، بیا به تاسې پوه شئ چې زما وېرول څنګه دي.

۱۸- او هغوی هغه دروغ وبلل چې تر هغوی مخکې وو. نو څنګه دی زما د وهلو آواز.
۱۹- ایا هغوی پورته مرغان نه ګوري چې وزرې یې پرانیستې وي او بېرته یې راټولوي هم. له رحمان بغیر بل هېڅوک نشته چې هغوی یې نیولې وي. بېشکه هغه هر څه ګوري. ۲۰- نو هغه څوک دي چې ستاسې لښکر شي او د رحمان په مقابل له تاسې سره مرسته وکړی شي. انکارکونکي په تېروتنه کې دي. ۲۱- څوک دی چې تاسې ته رزق درکړي که چېرې الله خپل رزق ودروي، بلکې هغوی په سرکشۍ او حق نه د تښتېدو په عادت کې لرې تللي دي.
۲۲- ایا څوک چې پړمخې روان وي هغه ډېر سمه لار موندونکی دی که هغه شخص چې سم په صراط مستقیم روان وي. ۲۳- (ورته) ووایه، هماغه (الله) دی چې تاسې یې پیدا کړئ او تاسې ته یې غوږونه او سترګې او زړونه جوړ کړل. تاسې ډېر لږ شکر وباسئ. ۲۴- (ورته) ووایه هماغه دی چې تاسې یې په ځمکه خپاره کړئ او تاسې به هغه ته ور ټولېږئ.
۲۵- او هغوی وایي دا وعده به کله وي که ته رښتینی یې. ۲۶- ووایه چې دا علم الله ته دی او زه یوازې ښکاره وېرونکی یم. ۲۷- نو کله چې هغه په نږدې راتللو وګوري، نو د هغوی مخونه به وران شي چې انکار یې کړی، او ورته به وویل شي دا هغه څیز دی چې تاسې به غوښته.
۲۸- ووایه که الله ما هلاک کړي او هغه خلک هم چې له ماسره دي، یاپه موږ رحم وکړي نو منکران به له دردناک عذابه څوک وساتي. ۲۹- ووایه، هغه رحمان دی، موږ په هغه ایمان راوړی او په هغه مو توکل کړی دی. نو تاسې به ژر پوه شئ چې څوک په ښکاره ګمراهۍ کې دی.

۳۰- (ورته) ووایه چې وښیه، که ستاسې اوبه لاندې ښکته شي نو څوک دی چې تاسې ته به پاکې اوبه راوړي.

## سوره القلم ۶۸

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- ن، قسم دی په قلم او هغه څه چې خلک یې لیکي. ۲- ته د خپل رب په فضل لیونی نه یې. ۳- او بېشکه تا لپاره نه ختمېدونکی اجر دی. ۴- او بېشکه ته لوړ اخلاق لرې. ۵- نو زر به یې ته هم وګورې او هغوی به یې هم وګوري. ۶- چې په تاسې کې چا جنون درلود. ۷- ستا رب ښه پوهېږي، چې څوک یې له لارې خطا شوی، او هغه په لاره سم (خلک) هم ښه پېژني.
۸- نو ته د هغو دروغ بلونکو خبره مه منه. ۹- هغو دا غواړي چې ته نرم شې نو هغوی به هم نرم شي. ۱۰- او ته د داسې کس خبره مه منه چې ډېر قسمونه کوي. ۱۱- غندونکی، پېغور کونکی، (او چې) چغلي کوي. ۱۲- له نېک کار منع کول کوي، له حده وځي، د حق ځپونکی وي. ۱۳- په زړه کلک وي، او بله دا چې بې نسبه وي. ۱۴- په دې خاطر چې هغه د مال او اولاد خاوند دی. ۱۵- کله چې هغوی ته زموږ آیتونه لوستل کېږي نو هغوی وایي چې دا د تېرو خلکو بې سنده خبرې دي. ۱۶- زر به موږ د هغوی په پوزه داغ پورې کړو.
۱۷- موږ هغوی په امتحان کې اچولي دي، لکه څنګه چې موږ د باغونو والا په امتحان کې اچولي وو. کله چې هغوی قسم کړی وو چې سبا سهار به یې حتماً میوه راټولوي. ۱۸- او هغوی انشاءالله ونه ویل. ۱۹- نو د هغوی په باغ ستا د رب له طرفه مصیبت نازل شو او هغوی ویده وو.
۲۰- بیا سبا داسې وو لکه رېبل شوی فصل. ۲۱- نو سبا هغوی یو بل ته

غږ کړ. ۲۲- چې خپل پټي ته سهار وختي لاړ شئ که میوه را ټولوئ.
۲۳- بیا هغوی روان شول او خپلو کې پټ پټ غږېدل. ۲۴- چې درنه کوم محتاج باغ ته در نه شي. ۲۵- او هغوی ځانونه په (څه) نه ورکولو قادر وګڼل. ۲۶- بیا یې چې باغ ولیده نو ویې ویل چې موږ لاره غلطه کړې ده. ۲۷- بلکې موږ محروم شو. ۲۸- په هغوی کې چې ښه انسان وو هغه وویل، ایا ما تاسې ته نه وو ویلي چې تاسې تسبیح ولې نه کوئ.
۲۹- هغوی وویل چې زموږ رب پاک دی. بېشکه موږ ظالمان وو. ۳۰- بیا هغوی خپلو کې یو بل ملامتول. ۳۱- هغوی وویل، په موږ افسوس دی، بېشک موږ له حده وتونکي خلک وو. ۳۲- کېدای شي زموږ رب موږ ته تر دې ښه باغ په بدل کې راکړي. موږ هغه ته رجوع کوؤ. ۳۳- داسې راځي عذاب، او د آخرت عذاب تر دې هم لوی دی، کاشکې دا خلک پوهېدای.
۳۴- بېشکه وېرېدونکو لپاره د هغوی له رب سره د نعمت باغونه دي.
۳۵- ایا موږ به فرمانبرداره او نافرمانه سره برابر کړو. ۳۶- په تاسې څه شوي، تاسې څنګه فیصله کوئ. ۳۷- ایا تاسې سره کوم کتاب شته چې تاسې یې په کې لولئ. ۳۸- چې تاسې څه خوښوئ هغه به مومئ.
۳۹- ایا تاسې لپاره به په موږ قسمونه تر قیامته پاتې وي چې تاسې لپاره هغه څه دي چې فیصله یې کوئ. ۴۰- له هغوی پوښتنه وکړه چې څوک په کې د دې مسوؤل دی. ۴۱- ایا د هغوی څوک (الله سره) شریک شته، نو هغوی دې خپل شریکان راوړي که رښتیني وي.
۴۲- په کومه ورځ چې له حقیقته پرده واخیستل شي او خلک سجدې ته را وبلل شي نو هغوی به سجده نه شي کولای. ۴۳- د هغوی سترګې به ټیټې وي، ذلت به پرې خپور وي، او هغوی سجدې ته را بلل کېدل (چې) روغ جوړ وو. ۴۴- نو ما او څوک چې دا کلام دروغ ګڼي (سره) پرېږده،

موږ هغوی ورو ورو له هغه ځایه را وړو چې نه يې پېژني. ۴۵- او زه
هغوی ته مهلت ورکوم، بېشکه زما تدبير قوي دی.
۴۶- ايا ته له هغوی بدله غواړې چې په هغوی يې د تاوان زور راځي.
۴۷- يا هغوی سره غيب (علم) دی نو هغوی يې ليکي. ۴۸- نو ته د خپل
رب تر فيصلې صبر وکړه او د ماهي والا (يونس) غوندې مه کوه، کله
چې هغه فرياد وکړ او له غمه ډک وو. ۴۹- که د هغه د رب مهرباني په
کې نه وای نو هغه به ملامت شوی وچ ميدان ته غورځول شوی وای.
۵۰- بيا د هغه رب هغه ونازوه، نو هغه يې نېکانو کې شامل کړ. ۵۱-
او دا منکر خلک چې کله نصيحت اوري نو تاته داسې در ګوري لکه په
خپلو سترګو به چې تا وغورځوي، او وايي چې دا حتماً ليونی دی. ۵۲-
او هغه د دنيا خلکو ته يوازې يو نصيحت دی.

## سوره الحاقه ۶۹

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- هغه (واقع) کېدونکی. ۲- څه دی هغه کېدونکی (ساعت). ۳- او ته
څه پوهېږې چې څه دی هغه کېدونکی (ساعت). ۴- ثمود او عاد هغه
قارعه (د عذاب خبره) دروغ بللې وه. ۵- نو ثمود (قوم) خو په يوه سخته
ييبنه هلاک کړی شو. ۶- او عاد، په يوه تېز باد هلاک کړی شو. ۷- هغه
(باد) الله اووه[۷] شپې او اته[۸] ورځې په هغوی مسلط وساته، نو تاسې ګورئ
چې هغوی هلته داسې پراته وو لکه د کجورو بوسه شوي ډډونه. ۸- ايا
تاسې ته په هغوی کې څوک ساتل شوی ښکارېږي. ۹- او فرعون او تر
هغوی مخکې خلکو او د ړنګو شويو کليو خلکو ظلم وکړ. ۱۰- هغوی د
خپل رب د رسول نافرماني وکړله نو الله هغوی ډېر سخت ونيول. ۱۱-
او کله چې اوبه له حده تېرې شوې نو موږ ته په کښتۍ کې سپور کړې.

۱۲- په دې خاطر چې مونږ هغه تاته يادګار کړو. او ياد ساتونکي غوږونه هغه ياد وساتي.

۱۳- نو کله چې شپېلۍ په لومړي ځل وو هل شي. ۱۴- او ځمکه او غرونه ټول په يوه ځل ميده ميده شي. ۱۵- نو په هغه ورځ به واقع کېدونکې واقع شي. ۱۶- او آسمان به وچوي نو په هغه ورځ به بيخي کمزورى وي. ۱۷- او ملايکې به يې په څنډو وي، او ستاسې د رب عرش به په هغه ورځ اته[۸] ملايکو پورته کړى وي. ۱۸- په هغه ورځ به تاسې وړاندې شئ. ستاسې هېڅ خبره به پټه نه وي.

۱۹- نو چاته چې اعمال نامه په ښي لاس کې ورکول شي هغه به وايي چې واخله زما اعمال نامه ولوله. ۲۰- ما فکر کړى وو چې ماته زمونږ حساب را مخې ته کېدونکى دى. ۲۱- نو هغه به په خوشحالۍ کې وي. ۲۲- په لوړ باغ کې. ۲۳- ميوې به يې (له درونډوالي) را ټيټې شوې وي. ۲۴- په مزه وخورئ او وڅښئ، د هغو اعمالو په بدل کې چې تاسې په تېرېدونکو ورځو کې کړي دي. ۲۵- او چا ته چې اعمال نامه په چپ لاس کې ورکول شي، هغه به وايي کاشکې دا اعمال نامه نه واى راکول شوې. ۲۶- او زه نه پوهېداى چې زما حساب څنګه دى. ۲۷- کاشکې هغه مرګ وروستى واى. ۲۸- زما مال زما په کار نه شو. ۲۹- زما واک ختم شو. ۳۰- دا کس را ونيسئ او طوق ور په غاړه کړئ. ۳۱- بيا يې دوزخ ته ننباسئ. ۳۲- بيا يو زنځير دى چې اوږدوالى يې اويا[۷۰] زراع (ګزه) دى، دا پرې وتړئ. ۳۳- ده په لوى الله باور نه درلود. ۳۴- او غريبانو ته يې خواړه نه ورکول. ۳۵- نو نن يې دلته خواخوږى نشته. ۳۶- او دزخمونو له نو بغير يې بل څه خوراک نشته. ۳۷- دا له ګنهګارو بغير بل څوک نه خوري.

۳۸- نو نه، زه قسم کوم په هغو شیانو چې تاسې یې ګورئ. ۳۹- او هغه چې تاسې یې نه ګورئ. ۴۰- بېشکه دا د باعزته رسول کلام دی. ۴۱- او دا د کوم شاعر کلام نه دی، تاسې ډېر لږ ایمان راوړئ. ۴۲- او دا د کوم کاهن کلام نه دی، تاسې ډېر لږ فکر کوئ. ۴۳- د رب العالمین له طرفه نازل شوی دی. ۴۴- او که هغه کومه خبره جوړه کړې وای او په موږ پورې یې تړلای. ۴۵- نو موږ به د هغه ښي لاس نیولی وای. ۴۶- بیا به مو د هغه رګ پرې کړی وای. ۴۷- بیا به تاسې کې څوک زموږ مخه نیونکی نه وای. ۴۸- او بېشکه دا یادونه ده د وېرېدونکو لپاره. ۴۹- او موږ پوهېږو چې په تاسې کې د دې دروغ بلونکي شته. ۵۰- او هغه منکرانو ته پښېماني ده. ۵۱- او دا یقیني حق دی. ۵۲- نو تاسې د خپل عظیم رب د نوم تسبیح کوئ.

## سوره المعارج ۷۰

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- غوښتونکي واقع کېدونکی عذاب (سمدستي) وغوښت. ۲- منکرانو لپاره د دې هېڅ لرې کونکی نشته. ۳- د الله له طرفه چې د پوړیو مالک دی. ۴- د هغه په طرف به ملایکې او جبریل پورته کیږي، په یوه داسې ورځ چې اندازه یې پنځوس زره کاله ده. ۵- نو ته صبر وکړه، په ښه شان صبر. ۶- هغوی ته دا لرې ښکاري. ۷- او موږ ته را نږدې ښکاري. ۸- په کومه ورځ به چې آسمان د تېلو خیري (رسوب) غوندې شي. ۹- او غرونه د وهل شوې وړۍ غوندې. ۱۰- او هېڅ ملګری به د ملګري پوښتنه نه کوي. ۱۱- هغوی به دوی ته ښودل کیږي. مجرمان به غواړي چې کاشکې د دې ورځ له عذابه خلاصون لپاره خپل زامن. ۱۲- خپله

مېرمنه او خپل ورور. ۱۳- او خپله کورنۍ چې ده ته يې پناه ورکوله. ۱۴- او ټول د ځمکې خلک په فديه کې ورکړي او ځان وساتي.
۱۵- هېڅکله نه، هغوی به د اور د لمبو په غېږ کې وي. ۱۶- هغه به پوټکی اړوي. ۱۷- هغه به هر هغه کس را بولي چې په شا تللی وو او مخ يې اړولی وو. ۱۸- (هغه کس هم چې (مال) يې راټول کړ او ويې ساته. ۱۹- بېشکه انسان کم همته پيدا شوی دی. ۲۰- هغه ته چې تکليف ورسيږي نو وېرېږي. ۲۱- او کله چې مطمئين وي نو بخيلي کوي. ۲۲- مګر هغه لمونځګزار. ۲۳- چې د خپل لمونځ پابندي کوي. ۲۴- او په مالونو کې يې حق ټاکل شوی دی. ۲۵- د سوالګر او محروم . ۲۶- او څوک چې د عدل په ورځ باور لري. ۲۷- او چې د خپل رب له عذابه وېرېږي. ۲۸- بېشکه د هغوی د رب د عذاب وېره دې هېڅوک نه ختموي . ۲۹- او هغه چې د خپلو شرمګاهو ساتنه کوي. ۳۰- مګر له خپلو مېرمنو او خپلو وينځو، نو په هغوی څه ملامتي نشته. ۳۱- نو څوک چې په دې سربېره څه نور وغواړي هغه خلک له حده وتونکي دي. ۳۲- او څوک چې امانتونه (ساتي) او وعده پوره کوي. ۳۳- او څوک چې په خپلو ګواهيو (ګواهۍ) کلک ودرېږي. ۳۴- او څوک چې د خپل لمونځ حفاظت کوي. ۳۵- همدا خلک به په درناوي جنت کې وي.
۳۶- نو په هغو منکرانو څه شوي چې ستا طرف ته را روان دي. ۳۷- د ښي او چپ اړخ نه ډلې ډلې. ۳۸- ايا په هغوی کې هر څوک دا حرص (لالچ) لري چې هغه به د نعمت باغ ته ننويستل شي. ۳۹- هېڅکله نه، موږ هغوی له هغه څه پيدا کړي چې هغوی يې پېژني.
۴۰- نو نه، زه قسم کوم د مشرقينو او مغربينو په رب چې، موږ په دې قادر يو. ۴۱- چې دوی بدل کړو او تر دوی غوره انسانان راوړو، او موږ عاجز نه يو. ۴۲- نو هغوی پرېږده چې خبرې جوړې کړي او

ولوبېږي، تر هغې چې هغوی له خپلې هغې ورځ سره مخ شي چې وعده يې ورسره کېږي. ۴۳- په کومه ورځ به چې له قبرونو را پاڅېږي په منډه، لکه د کومې نښې طرف ته چې منډې وهي. ۴۴- د هغوی سترګې به ټيټې وي. ذلت به پرې خپور وي، دا هغه ورځ ده چې هغوی سره يې وعده شوې وه.

## سوره نوح ۷۱

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- موږ نوح د هغه قوم ته د رسول په توګه ور ولېږه چې د خپل قوم خلک خبر کړه له هغې مخکې چې يو دردناک عذاب پرې راشي. ۲- هغه وويل ای زما د قوم خلکو، زه تاسې لپاره يو ښکاره وېرونکی يم. ۳- چې تاسې د الله عبادت وکړئ او له هغه ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ. ۴- الله به ستاسې له ګناهونو تېر شي او تاسې به تر يوه ټاکلي وخته پاتې کړي. بېشکه کله چې د الله ټاکلی وخت راشي بيا هغه نه وروسته کېږي. کاشکې تاسې په دې پوهېدای.
۵- نوح وويل چې ای زما ربه، ما خپل قوم ته شپه او ورځ وويل. ۶- خو زما خبرو هغوی لا ډېر لرې کړل. ۷- او ما چې هر کله هغوی را بللي چې ته يې وبښې، نو هغوی په خپلو غوږونو کې ګوتې ورکړي او په ځان يې خپلې جامې تاوې کړي او ضد يې کړی او ډېر کبر يې کړی. ۸- بيا ما هغوی ته ښکاره بلنه ورکړه. ۹- بيا مې هغوی ته ښکاره تبليغ وکړ او هغوی مې پټ پوه کړل. ۱۰- ما ورته وويل چې له خپل رب ښښنه وغواړئ، بېشکه هغه لوی ښښونکی دی. ۱۱- هغه به په تاسې له آسمانه باران را ووروي. ۱۲- هغه به تاسې په مال او اولاد کې مخکې کړي. او تاسې ته به باغونه پيدا کړي. او تاسې ته به نهرونه وبهوي.

۱۳- په تاسې څه شوي چې تاسې الله نه د عظمت تمه نه کوئ. ۱۴- سره د دې چې هغه تاسې ډول ډول جوړ کړئ. ۱۵- ایا تاسې نه دي لیدلي چې الله څنګه اووه[۷] آسمانونه درجه په درجه جوړ کړل. ۱۶- او په هغه کې يې سپوږمۍ رڼا او لمر څراغ کړل. ۱۷- او الله تاسې لپاره له ځمکې په خاص اهتمام (فصلونه) را شنه کړل. ۱۸- بیا به هغه تاسې بېرته ځمکې ته یوسي. او بیا به تاسې له هغې بېرته را وباسي. ۱۹- او الله تاسې لپاره ځمکه هواره کړه. ۲۰- چې تاسې د هغه په ښکاره لارو لاړ شئ.
۲۱- نوح وویل چې ای زما ربه، هغوی زما خبره ونه منله او د داسې خلکو پیروي يې وکړله چې د هغوی مال او اولاد د هغوی تاوان زیات کړ. ۲۲- او هغوی لوی تدبیرونه وکړل. ۲۳- او هغوی وویل چې ته خپل معبودان هېڅکله مه پرېږده. او ته مه پرېږده وَد او سواع او یَغوث او یعوق او نَسر. ۲۴- او هغوی ډېر خلک تېرایستي. اوس ته د هغو ګمراهانو ګمراهي لا ډېره کړه. ۲۵- هغوی د خپلو ګناهونو په سبب غرق کړی شول، بیا اور ته ننویستل شول. نو هغوی ځان ته له الله هېڅ ساتونکی پیدا نه کړ.
۲۶- او نوح وویل چې ای زما ربه، ته په هغو منکرینو کې څوک په ځمکه مه پرېږده. ۲۷- که تا هغوی پرېښودل نو هغوی به ستا بندهګان ګمراه کړي او د هغوی له نسله چې څوک پیدا کیږي، هغه به بدکاره او سخت مجرم وي. ۲۸- ای زما ربه، ماته مغفرت وکړه. او زما مور او پلار ته مغفرت وکړه او څوک چې زما کور ته مومن را ننوځي، ته هغه ته مغفرت وکړه. او ټول مومنان او مومنانې وبښه او د ظالمانو لپاره له هلاکت بغیر نور څه مه زیاتوه.

## سوره الجن ۷۲

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- وو ایه ماته وحې شوې چې د جناتو (پیریانو) یوې ډلې قرآن واورېده
نو ویې ویل چې موږ یو عجیب قرآن اورېدلی دی. ۲- چې د هدایت لاره
ښیي نو موږ په هغه ایمان راوړ او له خپل رب سره به څوک نه شریکوؤ.
۳- او دا چې زموږ د رب شان لوړ دی. هغه نه (ځان ته) مېرمن جوړه
کړې او نه اولاد. ۴- او دا چې زموږ ناپوه کس د الله په هکله د حق ډېرې
خلاف خبرې کولې. ۵- او موږ داسې ګڼلې وه چې انسان او جن، به د
الله په شان کې کله دروغ خبره نه کوي. ۶- او دا چې په انسانانو کې
ځیني داسې وو چې په جناتو کې به یې ځینو ته پناه وړله، نو هغوی د
جناتو غرور لا ډېر کړ. ۷- او دا چې هغوی هم ګمان وکړ، لکه ستاسې
چې دا ګمان وو چې الله به څوک (بیا) نه را پورته کوي.
۸- او موږ چې آسمان وڅاره نو ومو لیدل چې له سختو ساتونکو او لمبو
ډک دی. ۹- او د هغه په ځینو ځایونو کې د (خبرو) اورېدو لپاره کېناستلو،
نو اوس چې څوک اورېدل غواړي هغه د ځان لپاره یوه تیاره لمبه مومي.
۱۰- او موږ نه پوهېږو چې د ځمکې والاو لپاره کومه بدي غوښتل شوې
ده که د هغوی رب ورسره د نېکۍ کولو اراده کړې ده. ۱۱- او دا چې
په موږ کې ځینې نېکان دي او ځیني بل ډول. موږ په بېلابېلو طریقو یو.
۱۲- او دا چې موږ پوه شو چې موږ په ځمکه الله نه شو ماتولی. او نه
یې په منډه هغه نه ګټلی شو. ۱۳- او دا چې موږ کله د هدایت خبره
واورېدله نو موږ پرې ایمان راوړ. نو څوک چې په خپل رب ایمان
راوړي نه به د کوم کمي اندېښنه لري او نه د زیاتي. ۱۴- او دا چې په
موږ کې ځینې فرمانبردار دي او په موږ کې ځینې بې‌لارې دي، نو چا

چې فرمانبرداري وکړله هغوی د کامیابۍ لاره وموندله. ۱۵- او څوک چې بې‌لارې شول هغوی به د دوزخ خاشاک وي.
۱۶- او (ماته وحې شوې ده چې) که دا خلک په لاره قایم شوي وای، نو موږ به ښه خړوب کړی وای. ۱۷- چې موږ په دې هغوی وازمایو او څوک چې د خپل رب له یادولو مخ واړوي نو هغه به یې په سخت عذاب اخته کړي. ۱۸- او دا چې مسجدونه د الله لپاره دي نو تاسې له هغه سره بل څوک مه را بولئ. ۱۹- او دا چې کله د الله بنده د هغه را بللو ته ودرېده نو دوی (د مکې خلک) پرې ور دانګلو ته تیار شول. ۲۰- ځکه چې زه یوازې خپل رب را بولم او له هغه سره څوک نه شریکوم. ۲۱- ووایه چې زه تاسې لپاره نه د کوم تاوان اختیار لرم او نه د کومې ښېګڼې.
۲۲- ووایه چې ما له الله بغیر هېڅوک نه شي ساتلای. او نه زه له هغه بغیر بله پناه موندلای شم. ۲۳- بس د الله له طرفه را رَسول دي او د هغه د پیغامونو سپارل دي او څوک چې د الله او د هغه د رسول نافرماني وکړي نو د هغه لپاره د دوزخ اور دی چې تل به په کې اوسيږي.
۲۴- تر دې چې کله هغوی هغه څه وګوري چې وعده یې ورسره کیږي نو هغوی به پوه شي چې د چا مرستندوی کمزوری دی او څوک په شمېر کې لږ دي. ۲۵- ووایه زه نه پوهیږم چې تاسې سره د کوم شي وعده کیږي هغه نږدې دی که زما رب ورته اوږده موده ټاکلې ده. ۲۶- په غیبو یوازې هغه پوهیږي. هغه په خپلو غیبو څوک نه خبروي. ۲۷- بې له هغه رسول چې هغه خوښ کړی دی، نو د هغه مخې او شا ته ساتونکي مقرروي. ۲۸- چې الله پوه شي چې هغوی د خپل رب پیغامونه رسولي دي او د هغوی د چاپېریال احاطه یې کړې ده او هر څه یې شمېرلي دي.

## سوره المزمل ۷۳

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- ای په ټوټه کې پېچلیه. ۲- د شپې قیام کوه مګر لږه برخه. ۳- نیمه شپه یا له هغې لږه کمه کړه. ۴- یا ترې لږه زیاته کړه، او قرآن ورو ورو لوله. ۵- موږ په تا یوه درنه خبره نازلوؤ.
۶- بېشکه د شپې را پاڅېدل سخت ځپل کوي او خبره سمه خېژي. ۷- بېشکه ته د ورځې ډېر کارونه لرې. ۸- او د خپل رب نوم یادوه او هغه ته متوجه شه له ټولو جدا. ۹- هغه د مشرق او مغرب مالک دی، له هغه بغیر هېڅ اله (معبود) نشته، نو ته هغه خپل کارساز کړه. ۱۰- او خلک چې څه وایي صبر پرې وکړه. او په ښه شان له هغوی جدا شه. ۱۱- او د دروغ بلونکو خوشحاله خلکو معامله ماته پرېږده او هغوی لږ سست کړه. ۱۲- موږ سره زولنې دي او دوزخ دی. ۱۳- او په ستوني کې نښتونکې خواړه دي او له درده ډک عذاب دی. ۱۴- په کومه ورځ چې ځمکه او غرونه وخوځېږي او غرونه به لکه د شګو ډېري وښويږي.
۱۵- موږ تاسې ته یو رسول در لېږلی دی، په تاسې مو ګواه کړی، لکه څنګه مو چې فرعون ته رسول ولېږه. ۱۶- بیا فرعون د رسول خبره ونه منله نو موږ هغه ونیوه، په سخته نیونه. ۱۷- نو که تاسې انکار وکړ د هغې ورځې له عذابه به څنګه بچ کېږئ چې ماشومان به بوډاګان کوي.
۱۸- چې آسمان به په کې وچوي، بېشکه د دې وعده به پوره کېږي. ۱۹- دا یو نصیحت دی، نو څوک چې غواړي د خپل رب طرف ته لار دې اختیار کړي.
۲۰- بېشکه ستا رب پوهېږي چې ته د شپې په درېیو کې دویمې برخې ته نږدې یا نیمه شپه یا د شپې په درېیو برخو کې په لومړۍ کې قیام کوې، او ستا د ملګرو یوه ډله هم. او الله د شپې او ورځې اندازه ټاکي،

هغه پوه شو چې تاسې يې نه شئ پوره کولای نو بيا هغه په تاسې رحم وکړ، اوس قرآن ولولئ څومره چې درته آسان وي. هغه پوه شو چې تاسې کې به ناروغان وي او څومره خلک به د الله د فضل په لټون په ځمکه سفر کوي، او داسې خلک به هم وي چې د الله په لاره کې به جهاد کوي. نو له دې (قرآن) ولولئ څومره چې درته آسان وي، او لمونځ قايم کړئ او زکات ورکړئ او الله ته قرض ورکړئ، ښه قرض. او کومه نېکي چې تاسې له ځانه مخکې لېږئ هغه به دلته ومومئ. هغه غوره ده او ثواب يې ډېر دی، او له الله ښننه وغواړئ، بېشکه الله ښښونکی، مهربان دی.

## سوره المدثر ۷۴

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- ای په چپنه کې پېچلیه. ۲- پاڅېږه او خلک وو‌ېروه. ۳- او د خپل رب لويي بيان کړه. ۴- او خپله جامه پاکه ساته. ۵- او ګندګي پرېږده. ۶- او داسې مه کوه چې احسان وکړې او بيا يې بدله وغواړې. ۷- او خپل رب ته صبر وکړه.
۸- کله چې شپېلۍ ووهل شي. ۹- نو هغه به ډېره سخته ورځ وي. ۱۰- په منکرانو به آسانه نه وي. ۱۱- ما او هغه کس يوازې پرېږده چې ما پيدا کړی. ۱۲- او هغه ته مو ډېر مال ورکړ. ۱۳- او ورسره اوسېدونکي زامن. ۱۴- او هر ډول سامان مو ورته مهيا کړ.۱۵- بيا هغه تمه ساتي چې لا نور هم ورکړم. ۱۶- هېڅکله نه، هغه زموږ د آيتونو مخالف دی.
۱۷- زر به هغه په سخته چړايی پورته کړم.
۱۸- هغه فکر وکړ او خبره يې جوړه کړله. ۱۹- نو هغه هلاک شو، هغه څنګه خبره جوړه کړه. ۲۰- بيا هغه هلاک شو، هغه څنګه خبره

جوړه کړه. ۲۱- بیا هغه ولیدل. ۲۲- بیا هغه تندی تریو کړ او مخ یې
وران کړ. ۲۳- بیا یې مخ واړوه او کبر یې وکړ. ۲۴- بیا یې وویل دا
خو هسې جادو دی چې له پخوا را روان دی. ۲۵- دا خو د انسان کلام
دی.
۲۶- زه به هغه زر سقر (دوزخ) ته وغورځوم. ۲۷- او ته څه پوهېږې
چې سقر څه شی دی. ۲۸- نه به یې ساتي او نه به یې پرېږدي. ۲۹-
څرمن سوځوي. ۳۰- په هغه نولس[۱۹] ملایکې (مقررې) دي. ۳۱- او
موږ د دوزخ کارکونکي یوازې ملایکې ټاکلي. او موږ چې د هغوی
شمېره شمېر ساتلی یوازې د منکرانو د ازمایلو لپاره، چې یقین ترلاسه
کړي هغه خلک چې کتاب ور عطا شوی دی. او د ایمان خاوندان دې
خپل ایمان زیات کړي او اهل کتاب او مومنان دې شک نه کوي، او چې
د کومو خلکو په زړونو کې مرض دی او منکر خلک به وایي چې له
دې د الله څه هدف دی. په دې توګه الله ګمراه کوي څوک چې غواړي او
هدایت کوي چاته چې غواړي، او ستا د رب لښکر یوازې هغه پېژني،
او دا خو یوازې پوهول دي د خلکو لپاره.
۳۲- هېڅکله نه، قسم دی په سپوږمۍ. ۳۳- او بیا په شپې چې کله په تللو
شي. ۳۴- او په سهار چې کله روښانه شي. ۳۵- یقیناً دوزخ د لویو شیانو
له ډلې دی. ۳۶- انسان لپاره وېره. ۳۷- د هغوی لپاره چې په تاسې کې
مخ ته لاړل یا وروسته لاړل. ۳۸- هغه کس د خپلو اعمالو په بدل کې
ګانه (ګرو) دی. ۳۹ - له ښي اړخو پرته. ۴۰- هغوی به باغونو کې وي،
پوښتنه به کوي. ۴۱- له مجرمانو. ۴۲- تاسې څه شي دوزخ ته یوړئ.
۴۳- هغوی به وایي، موږ په لمونځ کونکو کې نه وو. ۴۴- او موږ غریبو
ته خواړه نه ورکول. ۴۵- او موږ به بحث کونکو سره بحث کاوه. ۴۶-
او موږ به د عدل ورځ دروغ بلله. ۴۷- تر دې چې هغه یقیني خبره په

موړ راغله. ۴۸- نو د هغوی د شفاعت کونکو شفاعت به څه ګټه ونه کړي.
۴۹- بیا په هغوی څه شوي چې هغوی له نصیحته مخ اړوي. ۵۰- لکه وحشي خر چې وي. ۵۱- چې له زمري تښتي. ۵۲- بلکې په هغوی کې هر کس دا غواړي چې ښکاره لیکل ورکول شي. ۵۳- هېڅکله نه، بلکې دا خلک له آخرته نه وېرېږي. ۵۴- هېڅکله نه، دا خو یو نصیحت دی. ۵۵- نو دا چې زړه غواړي، له دې نه دې نصیحت ومومي. ۵۶- او هغوی له دې نصیحت نه شي موندلای مګر چې الله یې وغواړي. هغه دی چې وېرېدل ترې په کار دي او هغه دی د ښښنې کولو لایق.

## سوره القیامه ۷۵

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- نه، زه قسم کوم د قیامت په ورځ. ۲- او نه، زه قسم کوم په ملامتونکي نفس. ۳- ایا انسان داسې ګڼي چې موږ به د هغه هډوکي را ټول نه کړو. ۴- ولې نه، په دې قادر یو چې د هغه د ګوتې (یو یو) بند بېرته جوړ کړو. ۵- بلکې انسان غواړي چې مخکې ژوند په فجورو تېر کړي ۶- هغه پوښتنه کوي چې د قیامت ورځ به کله راځي. ۷- نو کله چې د هغوی په سترګو تیاره شي. ۸- او سپوږمۍ به بې‌نوره شي. ۹- او لمر او سپوږمۍ به را یو ځای شي. ۱۰- په هغه ورځ به انسان ووایي چې تښتئ. ۱۱- هېڅکله نه، هېڅ ځای کې پناه نشته. ۱۲- په هغه ورځ یوازې ستاسې رب سره ځای دی. ۱۳- په هغه ورځ به انسان ته وویل شي چې څه یې مخکې لیږلي او څه شاته پریښي دي. ۱۴- بلکې انسان پخپله ځان پېژني. ۱۵- که هر څومره بهانې وکړي.

۱۶- د دې (قرآن) لوستلو لپاره ژبه زر مه خوځوه چې زر يې زده کړې.
۱۷- د دې راټولول او (نورو ته) اورول زموږ (مسوؤليت) دی. ۱۸- نو
کله يې چې موږ اوروؤ ته د هغې اورېدو پيروي کوه. ۱۹- بيا يې بيانول
زموږ (مسوؤليت) دی.

۲۰- هېڅکله نه، بلکې ته غواړې چې زر راشي. ۲۱- او ته هغه پرېږدې
چې په ځنډ راځي. ۲۲- ځينې شانې به په هغه ورځ روښانه وي. ۲۳-
خپل رب ته به ګوري. ۲۴- او ځينې څېرې به په هغه ورځ خفه وي.
۲۵- داسې فکر به کوي چې هغوی سره به ملا ماتونکې معامله کېږي.
۲۶- هېڅکله نه، کله چې ساه تر مرۍ را ورسېږي. ۲۷- او وبه وايي
چې څوک دی نن دم کولو والا. ۲۸- او هغوی به داسې وګڼي چې دا د
بېلېدو وخت دی. ۲۹- او پنډۍ به يو بل سره ولګېږي. ۳۰- هغه به ستا
رب ته د تللو ورځ وي.

۳۱- نو هغه نه رښتيا ومنل او نه يې لمونځ وکړ. ۳۲- بلکې دروغ يې
وبلل او مخ يې واړوه. ۳۳- بيا په غرور خپلو خلکو ته لاړ. ۳۴- افسوس
دی په تا افسوس. ۳۵ بيا افسوس دی په تا افسوس. ۳۶- ايا دا ګڼي چې
همداسې به پرېښودل شي. ۳۷- ايا هغه د لوېدونکې مني يو څاڅکی نه
وو. ۳۸- بيا هغه علقه شو، بيا الله جوړ کړ، بيا يې غړي جوړ کړل. ۳۹-
بيا يې هغه دوه ډوله کړل، ښځه او نر. ۴۰- ايا هغه په دې قادر نه دی
چې مړي را ژوندي کړي.

## سوره الدهر ۷۶ (الانسان)

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.

۱- ايا په انسان داسې يو وخت هم تېر شوی (نه دی) چې هغه د يادولو
وړ څيز نه وو. ۲- موږ انسان له يوه مخلوط څاڅکي پيدا کړ، موږ هغه

ازمايه. بيا موږ هغه اورېدونکی، ليدونکی کړ. ۳- موږ هغه ته لاره وښودله، خوښه يې چې شکر کونکی کيږي او که انکار کونکی (کيږي). ۴- موږ منکرانو ته زنځيرونه او طوقونه او د لمبو اور تيار کړی دی. ۵- نيک خلک به له داسې پيالو څښاک کوي چې د کافورو خوند به په کې وي. ۶- له دې چينې به يې د الله بندهګان څښي. ۷- هغوی به د دې (چينې) رګونه را وباسي. هغه خلک واجبات پوره کوي او له داسې ورځې وېرېږي چې سختي به يې عامه وي. ۸- او د هغه په مينه محتاجو او يتيمو او بنديانو ته خواړه ورکوي. ۹- (ووايئ) موږچې په تاسې څه خورو د الله د رضا لپاره (يې کوو.) موږ له تاسي بدله غواړو او نه شکرګزاري. ۱۰- او موږ د خپل رب له طرفه د يوې سختې او ترخې ورځې انديښنه لرو. ۱۱- نو الله هغوی د دې ورځې له سختۍ وساتل. او هغوی ته يې تازهوالی او خوښي ورکړل. ۱۲- او د هغوی د صبر په بدل کې يې جنت او وريښمين لباس ورکړ. ۱۳- هغوی به په تختونو تکيهګانې وهلې وي، نه به يې ګرمي کيږي او نه يخني. ۱۴- د جنت سيوري به په هغوی را ښکته شوی وي، او ميوې به يې په وس کې وي. ۱۵- او د هغوی مخې ته به د سپينو زرو لوښي او د شيشې پيالې ګرځول کيږي. ۱۶- شيشې (پيالې) به د سپينو زرو وي چې ډکونکو به تر مناسبې اندازې ډکې کړې وي.
۱۷- او هلته به هغوی ته يو بل ګيلاس ورکول کيږي چې د سونډو (زنجبيل) خوند به په کې وي. ۱۸- دا په هغه کې يوه چينه ده چې سلسبيل يې بولي. ۱۹- او هغوی سره به داسې ځوانان ګرځيږي چې تل به ځوانان وي. که ته هغوی وګورې داسې به وګڼې چې خورې ورې مرغلرې دي.
۲۰- او ته چې هر خوا ګورې هغه عظيم نعمت او هغه پاچاهي به ګورې.
۲۱- په هغو به د وريښمو شنه نازکه ټوټه وي او د زربافت وريښمو ټوټه

هم. او هغوی ته به د سپینو زرو بنګړي اچول کیږي. او د هغوی رب به پاک څښاک ورکوي. ۲۲- بېشکه دا ستاسې اجر دی او ستاسې کوشش قبول شو.
۲۳- او موږ په تا قرآن لږ لږ نازل کړی دی. ۲۴- نو ته د خپل رب په حکم صبر وکړه او په هغوی کې د چا ګنهګار یا ناشکره خبره مه منه.
۲۵- او د خپل رب نوم سهار او ماښام یادوه. ۲۶- او د شپې هم ورته سجده کوه. او د هغه تسبیح کوه د شپې په اوږده برخه کې. ۲۷- دا خلک زر ترلاسه کېدونکی شی غواړي او هغوی په ځان پسې یوه درنه ورځ پرېښې ده. ۲۸- موږ هغوی پیدا کړي او موږ د هغوی جوړونه قوي کړل، او کله چې موږ وغواړو د هغوی په څیر خلک به یې ځایناستي کړو. ۲۹- دا یو نصیحت دی. نو څوک چې غواړي، د خپل رب طرف ته لاره دې اختیار کړي. ۳۰- او ته یې نه شې غوښتلی مګر دا چې الله یې وغواړي. بېشکه الله پوهېدونکی، د حکمت خاوند دی. ۳۱- هغه چې څوک وغواړي خپل رحمت کې یې داخلوي، او ظالمانو ته هغه له درده ډک عذاب تیار کړی دی.

## سوره المرسلت ۷۷

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- قسم په بادونو چې لیږل کیږي. ۲- بیا هغه په توفاني رفتار لګیږي.
۳- او وریځې اخلي او خپروي. ۴- بیا معامله جدا کوي. ۵- بیا خبرتیا اچوي. ۶- د عذر په توګه یا د وېرولو په توګه. ۷- کومه وعده چې تاسې سره کیږي هغه حتماً واقع کیږي.
۸- نو کله چې ستوري بېنوره شي. ۹- او کله چې آسمان وچوي. ۱۰- او کله چې غرونه میده میده کړل شي. ۱۱- او کله چې پېغمبران په ټاکلي

وخت را ټول کړی شي. ۱۲- د کومې ورځې لپاره هغوی ځنډول شوي دي. ۱۳- د فیصلې د ورځې لپاره. ۱۴- او ته څه خبر یې چې د فیصلې ورځ څنګه ده. ۱۵- هلاکت دی په هغه ورځ دروغ بلونکو ته. ۱۶- ایا موږ پخواني نه دي هلاک کړي. ۱۷- بیا موږ په هغوی پسې نور پخواني لېږو. ۱۸- موږ له مجرمانو سره همداسې کوؤ. ۱۹- هلاکت دی په هغه ورځ دروغ بلونکو ته.
۲۰- ایا موږ تاسې له حقیرو اوبو پیدا نه کړئ. ۲۱- بیا مو هغه په خوندي ځای کې وساتلې. ۲۲- د یوه ټاکلي وخت لپاره. ۲۳- موږ یوه اندازه وټاکله، موږ څومره ښه اندازه ټاکونکي یو. ۲۴- هلاکت دی په هغه ورځ دروغ بلونکو ته. ۲۵- ایا موږ ځمکه راټولونکې جوړه نه کړه. ۲۶- د ژوندیو لپاره او د مړو لپاره. ۲۷- او موږ په دې لوړ غرونه جوړ کړل او په تاسې مو خوږې اوبه وڅښلې. ۲۸- هلاکت دی په هغه ورځ دروغ بلونکو ته.
۲۹- لاړ شئ د هغه څه په طرف چې تاسې دروغ باله. ۳۰- لاړ شئ د دریو څانګو سیوري طرف ته. ۳۱- چې نه په کې سیوری شته او نه له ګرمۍ خوندي کوي. ۳۲- هغه به سپرغۍ بادوي لکه د لوړې مانۍ (هومره) . ۳۳- د زیړو اوښانو غوندې. ۳۴- هلاکت دی په هغه ورځ دروغ بلونکو ته. ۳۵- دا هغه ورځ ده چې نه به په کې خلک خبرې کولای شي. ۳۶- او نه به ورته اجازه وي چې عذر وړاندې کړي. ۳۷- هلاکت دی په هغه ورځ دروغ بلونکو ته. ۳۸- دا د فیصلې ورځ ده. موږ تاسې او پخواني خلک راټول کړل. ۳۹- نو که کوم تدبیر وي په ما تدبیر وکاروئ. ۴۰- هلاکت دی په هغه ورځ دروغ بلونکو ته.
۴۱- بېشکه وېرېدونکي به په سیورو او چینو کې وي. ۲۴- او میوو کې چې هغوی یې غواړي. ۴۳- په مزه وخورئ او وڅښئ. د هغه عمل په

بدل کې چې تاسې کاوه. ۴۴- موږ نېکو خلکو ته داسې بدله ورکوؤ. ۴۵
هلاکت دی په هغه ورځ دروغ بلونکو ته. ۴۶- وخورئ او تېرې کړئ
یو څو ورځې، بېشکه تاسې ګنهګار یئ. ۴۷- هلاکت دی په هغه ورځ
دروغ بلونکو ته. ۴۸- او کله چې هغوی ته وویل شي چې ټیټ شئ نو
هغوی نه ټیټېږي. ۴۹- هلاکت دی په هغه ورځ دروغ بلونکو ته. ۵۰-
اوس به له دې وروسته هغوی په کومه خبره ایمان راوړي.

## سوره النبا ۷۸

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
* ۱- خلک د څه شي په هکله پوښتنه کوي. ۲- د هغه لوی خبر په اړه.
۳- چې خلک په کې مختلف دي. ۴- هېڅکله نه، زر به هغوی پوه شي.
۵- هېڅکله نه، زر به هغوی پوه شي. ۶- ایا موږ ځمکه نه ده فرش
کړې. ۷- او غرونه مېخونه. ۸- او تاسې موږ جوړې جوړې پیدا کړئ.
۹- او خوب مو جوړ کړ ستاسې د ستړیا رفع کولو لپاره. ۱۰- او موږ
شپه پرده کړله. ۱۱- او موږ ورځ د کار وخت کړ. ۱۲- او موږ په تاسې
پورته اووه[۷] قوي آسمانونه جوړ کړل. ۱۳- او موږ په هغه کې یو
ځلېدونکی څراغ کېښود. ۱۴- او موږ د اوبو نه له ډکو وریځو په شړق
باران را ووروه. ۱۵- چې موږ د دې په مرسته غَله او سابه را شنه کړو.
۱۶- او ګڼ باغونه. ۱۷- بېشکه د فیصلې ورځ یو ټاکلی وخت دی.
۱۸- په کومه ورځ چې شپېلۍ ووهل شي، بیا به تاسې پوځ پوځ راشئ.
۱۹- او آسمان به پرانیستل شي، بیا به هغه دروازې دروازې شي. ۲۰-
او غرونه به روان شي د شګو غوندې به شي. ۲۱- بېشکه دوزخ په تمه
دی. ۲۲- د سرکشانو ځای. ۲۳- هغه کې به مودې مودې پراته وي. ۲۴-

نه به یخني په کې ګوري او نه د څښاک کوم څیز. ۲۵- مګر جوش اوبه
او نو (د زخمونو). ۲۶- بدله د هغوی له عمل سره سمه. ۲۷- هغوی
سره د حساب اندېښنه نه وه. ۲۸- او هغوی زموږ آیتونه دروغ وبلل.
۲۹- او موږ هر څه په حساب لیکلي دي. ۳۰- او خوند وڅکه چې موږ
به ستاسې جزا لا پسې زیاتوؤ.
۳۱- بېشکه وېرېدونکو ته کامیابي ده. ۳۲- باغ او انګور. ۳۳- او پېغلې
همزولې نجونې. ۳۴- او ډک جامونه. ۳۵- هلته به هغوی لغو او دروغ
خبرې نه اوري. ۳۶- بدله به ستا د رب له طرفه وي، د هغوی د عمل له
مخې. ۳۷. - د رحمان له اړخه چې آسمانونو او ځمکې د دې ترمنځ د
ټولو څیزونو رب دی، هېڅوک دا قدرت نه لري چې هغه سره وغږېږي.
۳۸- په هغه ورځ چه جبرائیلٔ او ټولے فرښتے به صف تړلے ولاړے
وی هیڅوک به دا قدرت نه لري چه هغه سره وغږیږی. مګر هغوی چې
رحمان (ورته) اجازه ورکړي، او هغوی به سمه خبره کوي ۳۹- دا ورځ
حق ده، نو څوک چې غواړي د خپل طرف ته دې ځای جوړ کړي. ۴۰-
موږ تاسې له را نږدې کېدونکي عذاب نه وېرولي یئ. هغه ورځ چې
انسان به په کې هغه څه ګوري چې په خپلو لاسو یې له ځانه مخکې
لیږلي دي، او منکر به وایي، کاشکې زه په خاورو کې وای.

## سوره النازعات ۷۹

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- قسم دی له بېخه په ویستونکو بادونو. ۲- او قسم دی په ورو لګېدونکو
بادونو. ۳- او قسم دی په لمبېدونکو وریځو. ۴- بیا په سبقت کونکو
مخکې کېدونکو. ۵- بیا د معاملې په تدبیر کونکو. ۶- چې په کومه ورځ
خوځېدونکي وخوځول شي. ۷- په هغې پسې به یو بل راتلونکی شی

راشي. ۸- ځومره زړونه به په هغه ورځ لړزيږي. ۹- د هغوی سترګې به ښکته وي. ۱۰- هغوی وايي چې ايا موږ به په پخواني حالت بېرته راځو. ۱۱- ايا کله چې موږ بوسه شوي هډوکي شو. ۲۱- هغوی وويل چې دا بيا راتګ خو به ډېر د تاوان وي. ۱۳- هغه به يوازې يوه رټل وي. ۱۴- بيا به سمدستي هغوی په ميدان کې موجود وي.
۱۵- ايا تاته د موسی خبره در رسېدلې ده. ۱۶- چې کله هغه خپل رب د طوی په مقدسه دره کې را وباله. ۱۷- فرعون ته ورشه، هغه سرکشه شوی دی. ۱۸- بيا هغه ته ووايه، ايا ته دا غواړې چې سم شې. ۱۹- او زه تاته ستا د رب لار در وښيیم او ته ووېرېږې. ۲۰- نو موسی هغه ته لويه نښه وښودله. ۲۱- بيا هغه دروغ وبلل او ويې نه منل. ۲۲- بيا هغه مخ واړوه او کوشش يې وکړ. ۲۳- بيا هغه راټول کړل، بيا هغه را وبلل. ۲۴- نو هغه وويل چې ستاسې لوی رب يم. ۲۵- نو الله هغه د آخرت او دنيا په عذاب کې ونيوه. ۲۶- بېشکه په دې کې نصيحت دی د هر هغه چا لپاره چې وېرېږي.
۲۷- ايا ستاسې پيدا کول ډېر سخت دي که د آسمان، الله هغه پيدا کړی دی. ۲۸- د هغه چت يې پورته کړ بيا يې هغه سم جوړ کړ. ۲۹- او هغه شپه يې تياره کړه او د هغه ورځ يې روښانه کړله. ۳۰- او ځمکه يې له هغې وروسته هواره کړه. ۳۱- او له هغې يې اوبه او ګياه را وويستل. ۳۲- او غرونه يې کېښودل. ۳۳- د ژوند د سامان په توګه تاسې او ستاسې د څارويو لپاره. ۳۴- بيا چې کله هغه لوی آفت راشي. ۳۵- په کومه ورځ به چې انسان خپل کړي (کارونه) را ياد کړي. ۳۶- او د ليدونکو مخې ته به دوزخ را ښکاره کړی شي. ۳۷- نو چا چې سرکشي کړې. ۳۸- او د دنيا ژوند ته يې ترجيح ورکړې. ۳۹- نو ځای به يې دوزخ وي. ۴۰- او څوک چې د خپل رب مخې ته له ودرېدو ووېرېده او نفس

يې له خواهشونو منع کړ. ۴۱- نو جنت به يې ځای وي. ۴۲- هغوی د قيامت په هکله پوښتنه کوي چې کله به وي. ۴۳- ستا (يې) د هغه د ذکر سره څه . ۴۴- دا معامله ستا رب سره ده. ۴۵- ته خو يوازې وېرونکی يې د هغه چا لپاره چې وېرېږي. ۴۶- په کومه ورځ چې دوی هغه وګوري، ګويا دوی په دنيا کې نه دي پاتې شوي، مګر يو ماښام يا يو سهار.

## سوره عبس ۸۰

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- تندی يې تروش کړ او بې‌رُخي يې وکړه. ۲- په دې خبره چې ړوند ورته راغی. ۳- او ته څه خبر يې که هغه روغ شي. ۴- يا (که) نصيحت واوري او نصيحت يې  په کار شي. ۵- څوک چې بې پروايي کوي. ۶- ته د هغه غم کوې. ۷- سره د دې چې په تا کوم مسوؤليت نشته که هغه سم نه شي. ۸- او څوک چې تاته په منډه راځي. ۹- او  هغه وېرېږي. ۱۰- نو ته له هغه بې‌پروايي کوې. ۱۱- هېڅکله نه، دا خو يو نصيحت دی. ۱۲- نو څوک چې غواړي نصيحت دې ومومي. ۱۳- هغه په داسې صحيفو کې دی چې مکرمې دي. ۱۴- لوړرتبه دي، پاکې دي. ۱۵- د کاتبانو په لاسونو کې. ۱۶- معزز او نېکان.
۱۷- هلاک دې شي انسان، هغه څومره ناشکره دی. ۱۸- هغه الله له څه شي پيدا کړی دی. ۱۹- له يوه څاڅکي يې، هغه پيدا کړ. بيا يې هغه ته اندازه وټاکله. ۲۰- بيا يې هغه ته لاره آسانه کړه. ۲۱- بيا يې هغه ته مرګ ورکړ، بيا يې هغه قبر ته يووړ. ۲۲- بيا چې کله هغه وغواړي بيا به يې را ژوندی کړي. ۲۳- هېڅکله نه، هغه پوره نه کړ څه چې ورته الله حکم کړی وو. ۲۴- نو انسان بايد خپلو خوړو ته وګوري. ۲۵- موږ

اوبه را وورولې په ښه طريقه. ۲۶- بيا مور. ځمکه په ښه طريقه وڅيرله.
۲۷- بيا مو په کې غَلې را شنې کړې. ۲۸- او انګور او سابه. ۲۹- او
زيتون او کجورې. ۳۰- او ګڼ باغونه. ۳۱- او ميوې او سبزي. ۳۲-
تاسې لپاره او ستاسې څارويو لپاره د ژوند د سامان په توګه.
۳۳- نو کله چې هغه غوږ. کڼونکی شور پيل شي. ۳۴- په کومه ورځ به
چې انسان تښتي له خپل وروره. ۳۵- او له خپلې مور او له خپل پلاره.
۳۶- او له خپلې مېرمنې او خپلو زامنو. ۳۷- په هغه ورځ به هر چا سره
داسې غم وي چې بل ته متوجه کېدو ته به يې نه پرېږدي. ۳۸- ځينې
مخونه به په هغه ورځ روښانه وي. ۳۹- خاندي به، خوشحالي به کوي.
۴۰- او په ځينو مخونو به په هغه ورځ ګرد پروت وي. ۴۱- توروالی
به پرې خپور شوی وي. ۴۲- دا خلک منکران دي، بدکاره دي.

## سوره التکوير ۸۱

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- او کله چې لمر را ونغاړل شي. ۲- او کله چې ستوري بېنوره شي.
۳- او کله چې غرونه روان کړی شي. ۴- او کله چې د لسو مياشتو
بلاربې اوښې پرېښودل شي. ۵- او کله چې ځناور راټول شي. ۶- او کله
چې سمندرونه سرکشه شي. ۷- او کله چې يو يو ډول خلک راټول کړل
شي. ۸- او کله چې له ژوندۍ ښخې شوې نجلۍ پوښتنه وشي. ۹- چې
هغه په څه قصور وژل شوې وه. ۱۰- او کله چې اعمال نامې پرانيستل
شي. ۱۱- او کله چې آسمان را پرانيستل شي. ۱۲- او دوزخ تودکړی
شي. ۱۳- او کله چې جنت را نږدې کړی شي. ۱۴- هر انسان به پوهېږي
چې هغه څه راوړي دي.

۱۵ نو نه، زه قسم کوم په شا تلونکو، ۱۶- په ګرځېدونکو او پاتې
کېدونکو ستورو. ۱۷- او په شپه چې کله په تللو شي. ۱۸- او په سهار
چې کله په راتللو شي. ۱۹- چې دا د یوه باعزته رسول راوړی کلام دی.
۲۰- د قوت خاوند، د عرش مالک په نزد د لوړې مرتبې خاوند دی. ۲۱-
د هغه خبره منل کېږي، هغه امانتداره دی. ۲۲- او ستاسې ملګری لیونی
نه دی. ۲۳- او هغه یې په ښکاره افق کې لیدلی دی. ۲۴- او هغه د غیبو
خبرو حریص نه دی. ۲۵- او هغه د شیطان مردود قول نه دی. ۲۶- نو
تاسې چېرې ځئ. ۲۷- دا خو د دنیا مخلوق ته یو نصیحت دی. ۲۸- په
تاسې کې د هغوی لپاره چې سیده تلل غواړي. ۲۹- او تاسې یې نه شئ
غوښتلی، مګر چې رب‌العالمین یې وغواړي.

## سوره انفطار ۸۲

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- کله چې آسمان وچوي. ۲- او کله چې ستوري خواره واره شي. ۳-
او کله چې سمندرونه وبهېږي. ۴- او کله چې قبرونه پرانیستل شي. ۵-
هر څوک به پوه شي چې څه یې (له ځانه) مخکې لېږلي او څه یې (په
ځان پسې) پریښي. ۶- ای انسانه، ته څه شي د خپل رب کریم په هکله
تېروتنې سره مخ کړی یې. ۷- هغه چې ته یې پیدا کړې، بیا یې ستا غړي
جوړ کړل، بیا یې ته متناسب کړې. ۸- هغه چې په هره بڼه وغوښتل، ته
یې ترتیب کړې. ۹- هېڅکله نه، بلکې تاسې د عدل ورځ دروغ بولئ.
۱۰- سره د دې چې په تاسې څارونکي مقرر دي. ۱۱- معزز لیکونکي.
۱۲- هغوی پوهېږي چې تاسې څه کوئ. ۱۳- بېشکه نېکان خلک به
خوشحاله وي. ۱۴- او بېشکه ګنهګار په دوزخ کې. ۱۵- د عدل په ورځ
به هغه کې وغورځول شي. ۱۶- هغوی ترې جدا کېدونکي نه دي. ۱۷-

او ته څه خبر يې چې د عدل ورځ څه ده. ۱۸- بيا ته څه خبر يې چې د عدل ورځ څه ده. ۱۹- په هغه ورځ به هېڅ ژوندی د بل ژوندي لپاره هېڅ نه شي کولای. او معامله به په هغه ورځ د الله په اختيار کې وي.

## سوره التطفيف ۸۳

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- هلاکت دی ناپ تول کې په کمي کونکو. ۲- چې له خلکو ناپ کوي نو پوره اخلي. ۳- او چې خپله ناپ يا تول کوي نو لږ ورکوي. ۴- ايا دا خلک نه پوهېږي چې دوی (بيا) را پورته کېدونکي دي. ۵- د يوې لويې ورځې لپاره. ۶- په کومه ورځ به چې ټول خلک د ربالعالمين مخې ته ودرېږي. ۷- هېڅکله نه، بېشکه د ګنهګارو اعمالنامه به په سجين کې وي. ۸- او ته څه پوهېږې چې سجين څه شی دی. ۹- هغه يو ليکلی کتاب دی. ۱۰- هلاکت دی د هغه ورځ په دروغ بلونکو. ۱۱- چې د عدل ورځ دروغ ګڼي. ۱۲- او دا هغه خلک دروغ بولي چې له حده وتونکي وي، ګنهګار وي. ۱۳- کله چې هغوی ته زموږ آيتونه اورول کېږي نو وايي چې دا د پخوانيو خلکو کيسې دي. ۱۴- هېڅکله نه، بلکې د هغوی په زړونو د هغوی د اعمالو زنګ ختلی دی. ۱۵- هېڅکله نه، بلکې په هغه ورځ به هغوی خپل رب ته له مخامخ کېدو منع کړی شي. ۱۶- بيا به هغوی دوزخ ته ننوځي. ۱۷- بيا به وويل شي همدا هغه شی دی چې تاسې دروغ باله.
۱۸- هېڅکله نه، بېشکه د نېکو خلکو اعمالنامه په عيلين کې ده. ۱۹- او ته څه پوهېږې چې عيلين څه شی دی. ۲۰- ليکل شوی کتاب دی. ۲۱- د مقربو ملايکو تر څار لاندې. ۲۲- بېشکه نېکان خلک به په آرام کې وي. ۲۳- هغوی به په تختونو ناست وي او ګوري به. ۲۴- په مخونو

کې به يې د آرام تازه‌والی احساس کړي. ۲۵- هغوی ته به خالص مهر شوي شراب ورکول کيږي. ۲۶- چې د مشکو مهر به پرې وهل شوی وي. او دا هغه شی دی چې حريصان يې بايد حرص وکړي. ۲۷- او په هغو شرابو کې به د تسنيم خوند وي. ۲۸- دا هغه چينه ده چې مقرب خلک به ترې څښاک کوي. ۲۹- بېشکه څوک چې مجرمان وو هغوی د ايمان خاوندانو پورې خندل. ۳۰- او کله به چې هغوی د دوی مخې ته تېرېدل نو خپلو کې يې د سترګو اشارې کولې. ۳۱- او کله به چې خپلو خلکو ته ستنېدل نو په خوشحالۍ به ور ستنېدل. ۳۲- او کله به يې چې د ايمان خاوندان ليدل ويل به يې چې دا بې‌لارې شوي خلک دي. ۳۳- سره د دې چې هغوی په دوی څارونکي نه وو ګومارل شوي. ۳۴- نو نن به د ايمان خاوندان منکرانو پورې خاندي. ۳۵- هغوی به په تختونو ناست وي او ګوري به. ۳۶- نن منکرانو ته د خپل عمل ښه بدله ورکول شوه.

## سوره الانشقاق ۸۴

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- کله چې آسمان وچوي. ۲- او هغه د خپل رب حکم واوري او هغه د همدې لايق دی. ۳- او کله چې ځمکه هواره شي. ۴- او په ځان کې شته شيان بهر را وغورځوي او تشه شي. ۵- او د خپل رب حکم واوري او هغه د دې لايقه ده. ۶- ای انسانه، ته په زور زور د خپل رب طرف ته روان يې، بيا هغه سره مخ کېدونکی يې. ۷- نو چاته چې اعمال‌نامه په ښي لاس کې ورکول شي. ۸- هغه سره به آسانه حساب کيږي. ۹- او هغه به خپلو خلکو ته په خوښۍ راځي. ۱۰- او چاته چې اعمال‌نامه په چپ لاس کې ورکول شي. ۱۱- هغه به مرګ وغواړي. ۱۲- او جهنم ته ننويستل شي. ۱۳- هغه په خپلو خلکو کې بېغمه وو. ۱۴- داسې يې ګڼلي

وو چې بېرته به نه ستنېږي. ۱۵- ولې نه، د هغه رب هغه لیده. ۱۶- نو نه، زه قسم کوم په شفق. ۱۷- او په شپه او په هغو شیانو چې هغه یې رانغاړي. ۱۸- او په سپوږمۍ چې کله هغه پوره شي. ۱۹- چې تاسې به حتماً له یوه حالته وروسته دویم حالت ته رسیږئ. ۲۰- نو په هغوی څه شوي چې ایمان نه راوړي. ۲۱- او کله چې د هغوی په مخ کې قرآن لوستل کیږي نو هغوی الله طرف ته نه ټیټیږي. ۲۲- بلکې منکرین (یې) دروغ بولي. ۲۳- او الله پوهیږي چې هغوی څه را ټولوي. ۲۴- نو هغوی ته د یوه دردناکه عذاب زېرى ورکړه. ۲۵- خو چا چې ایمان راوړ او نېک عملونه یې وکړل، هغوی لپاره نه ختمېدونکی اجر دی.

## سوره البروج ۸۵

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- قسم په برجونو والا آسمان. ۲- او په وعده کړی شوې ورځ. ۳- او د لیدونکي په لیدلو. ۴- هلاک شول خندق والا. ۵- چې په (خندقونو) کې د سرو سکروټو اور وو. ۶- او هغوی پرې ناست وو. ۷- او دا یې لیدل چې د ایمان له خاوندانو سره څه کوي ۸- او له هغوی سره یې دښمني یوازې له دې امله وه چې هغوی په هغه الله ایمان راوړی چې قوي دی، د ستاینې وړ دی. ۹- د هغه پاچاهي ده په آسمانونو او ځمکې، او الله هر څه ګوري. ۱۰- چا چې مومنان او مومنانې ځورولي، بیا یې توبه نه ده ویستې نو د هغوی لپاره د دوزخ عذاب دی. ۱۱- او د هغوی لپاره د سوځېدو عذاب دی، بېشکه چا چې ایمان راوړ او نېک عمل یې وکړ د هغوی لپاره باغونه دي چې ور لاندې به نهرونه بهیږي، دا لویه کامیابي ده. ۱۲- بېشکه ستا د رب نیول ډېر سخت دي. ۱۳- هغه پیل کوي او هغه یې (ځان ته) بېرته ستنوي. ۱۴- او هغه بښونکی دی، مینه ناک دی.

۱۵- د عرشِ برین مالک دی. ۱۶- څه چې وغواړي د هغه کونکی. ۱۷- ایا تاته د لښکرو خبر در رسېدلی. ۱۸- د فرعون او ثمود. ۱۹- بلکې منکران په دروغ بللو کلک دي. ۲۰- او الله هغوی له هر طرفه ګېر کړي دي. ۲۱- بلکې هغه باعظمته قرآن دی. ۲۲- په لوح محفوظ کې لیکل شوی.

## سوره الطارق ۸۶

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- قسم دی په آسمان او د شپې په را ښکاره کېدونکي. ۲- او ته څه پوهېږې چې هغه د شپې را ښکاره کېدونکی څه شی دی. ۳- ځلېدونکی ستوری. ۴- هېڅ ژوندی داسې نشته چې څارونکی پرې (مقرر) نه وي. ۵- نو انسان باید وګوري چې هغه له څه شي پیدا کړی شوی دی. ۶- هغه له غورځېدونکو اوبو پیدا شوی دی. ۷- چې د خېټې او سینې له منځنۍ برخې راوځي. ۸- بېشکه هغه د دې په بیا پیدا کولو قادر دی. ۹- په کومه ورځ به چې پټې خبرې ښکاره کېږي. ۱۰- هغه وخت به انسان سره نه څه زور وي او نه څوک مرستندوی. ۱۱- قسم دی په څرخېدونکي آسمان. ۱۲- او په چاودېدونکې او را ویستونکې ځمکه. ۱۳- بېشکه دا کوټلې خبره ده. ۱۴- او د خندا خبره نه ده. ۱۵- هغوی په تدبیرونو اخته دي. ۱۶- او زه هم په تدبیر لګیا یم. ۱۷- نو منکرانو ته مهلت ورکړه، وخت ورکړه د یو څو ورځو لپاره.

## سوره الاعلی ۸۷

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- د خپل رب د نوم پاکي بیان کړه چې تر ټولو لوړ دی. ۲- چې پیدا یې
کړ او سم یې جوړ کړ. ۳- چې اندازه یې وټاکله او لاره یې ور وښودله.
۴- او چې شنه ګیاه یې را وویستله. ۵- بیا یې هغه توره خځله کړله. ۶-
موږ به تاته درس درکړو بیا به درنه نه هېرېږي. ۷- مګر څه چې الله
وغواړي، هغه په ښکاره هم خبر دی او په هغو هم چې پټ دي. ۸- او
موږ به تا په آسانه لار بوځو. ۹- نو نصیحت وکړه که نصیحت ګټه
رسوي. ۱۰- هغه کس به نصیحت ومني چې وېرېږي. ۱۱- او هغه به
ترې وتښتي چې بدبخته وي. ۱۲- هغه به اور کې غورځېږي. ۱۳- بیا
به په کې نه مري او نه ژوند کوي. ۱۴- کامیاب شو هغه چې ځان یې
پاک کړ. ۱۵- او د خپل رب نوم یې واخیست، بیا یې لمونځ وکړ. ۱۶-
بلکې تاسې دنیوي ژوند ته لومړیتوب ورکوئ.
۱۷- او آخرت غوره دی او پایداره دی. ۱۸- همدا په پخوانیو صحیفو
کې هم دي. ۱۹- او د موسی او ابراهیم په صحیفو کې.

## سوره الغاشیه ۸۸

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- ایا تاته د خپرېدونکي خبر در رسېدلی. ۲- ځیني مخونه به په هغه
ورځ ذلیله وي. ۳- زیار ویستونکي، ستړي شوي. ۴- په سوځونکي اور
کې پراته. ۵- د جوش چینې اوبه به ورکول کېږي. ۶- هغوی ته به له
اغزنې ونې بغیر د خوراک نور هېڅ نه وي. ۷- چې نه به (یې) چاغوي
او نه مړوي. ۸- ځینې مخونه به په هغه ورځ ښاپسته وي. ۹- په خپله
ګټه به خوشحال وي. ۱۰- په لوړ باغ کې. ۱۱- هلته به لغو خبره نه

اوري. ۱۲- په هغه (باغ) کې به رواني چينې وي. ۱۳- په کې به لوړ
ايښودي تختونه وي. ۱۴- او ګيلاسونه به مخې ته ايښي وي. ۱۵- او
منظم ايښودل شوي بالښتونه. ۱۴- او هر طرف ته هوارې قالينې. ۱۷-
نو ايا هغوی اوښ نه ګوري چې څنګه پيدا کړی شوی دی. ۱۸- او آسمان
چې څنګه پورته شوی دی. ۱۹- او غرونه چې څنګه ودرول شوي دي.
۲۰- او ځمکه چې څنګه هواره کړی شوې ده. ۲۱- نو ته يادونه وکړه،
ته خبرداری ورکونکی يې. ۲۲- ته په هغوی ځارونکی نه يې. ۲۳- مګر
چا چې مخ واړوه او انکار يې وکړ. ۲۴- نو الله به هغه ته لوی عذاب
ورکړي. ۲۵- زموږ طرف ته د هغوی راستنېدل دي. ۲۶- بيا زموږ
مسوؤليت دی هغوی سره حساب کول.

## سوره الفجر ۸۹

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- قسم دی په فجر (سهار). ۲- او په لسو[۱۰] شپو. ۳- او په جفت او طاق.
۴- او په شپه چې کله په تلو وي. ۵- ولې، په دې کې د عقلمندو لپاره
کافي قسم (شهادت) دی. ۶- تا ونه ليدل، چې ستا رب له عاد سره څه
وکړل. ۷- د ستنو لرونکو ارم (قوم) سره. ۸- چې هغوی ته ورته قوم په
وطنونو کې نه دی پيدا شوی. ۹- او ثمود سره چې په درو کې يې غرونه
وتراشل. ۱۰- د ميخونو والا فرعون سره. ۱۱- چې په وطنونو کې يې
سرکشي وکړله. ۱۲- بيا يې په کې ډېر فساد خپور کړ. ۱۳- نو ستا رب
په هغوی د عذاب دُرې وورولې. ۱۴- بېشکه ستا رب په کمين کې دی.
۱۵- نو انسان داسې دی چې کله يې د هغه رب ازمايي او هغه ته عزت
او نعمت ورکوي نو هغه وايي زما رب ماته عزت راکړ.

۱۶- او کله یې چې هغه ازمایی او رزق پرې تنګوي نو هغه وایي چې
زما رب زه ذلیل کړم. ۱۷- هېڅکله نه، بلکې تاسې د یتیم عزت نه کوئ.
۱۸- او تاسې مسکین ته د خوراک ورکولو لپاره یو بل نه هڅوئ. ۱۹-
او تاسې میراث ټول خورئ. ۲۰- او تاسې له مال (شتمنۍ) سره ډېره
مینه کوئ. ۲۱- هېڅکله نه، کله چې ځمکه ماته او میده میده کړی شي.
۲۲- او ستا رب راشي او ملایکي راشي قطار په قطار. ۲۳- او په هغه
ورځ به دوزخ راوړل شي، په هغه ورځ به انسان پوه شي، او اوس د
پوهېدو فرصت چرته دی. ۲۴- او هغه به وایي، کاشکې ما په خپل ژوند
کې څه له ځانه مخکې لیږلي وای. ۲۵- نو په هغه ورځ به نه څوک د
الله غوندې عذاب ورکوي. ۲۶- او نه به څوک د الله په شان تړل کوي.
۲۷- ای مطمئین نفسه. ۲۸- لاړ شه د خپل رب په طرف، ته له هغه
راضي، هغه له تا راضي. ۲۹- بیا شامل زما په بندهګانو کې. ۳۰- او
ننوځه زما جنت ته.

## سوره البلد ۹۰

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- نه، زه قسم کوم په دې ښار. ۲- او ته په کې استوګن یې. ۳- او قسم
دی په پلار او د هغه په اولاد. ۴- موږ انسان په سختۍ کې پیدا کړی دی.
۵- ایا هغه داسې ګڼي چې په ده به د چا زور نه رسي. ۶- وایي چې ما
ډېر مال مصرف کړ. ۷- ایا هغه داسې ګڼي چې هغه چا نه دی لیدلی. ۸
ایا موږ هغه ته دوه[۲] سترګې نه دي ورکړي. ۹- او یوه ژبه او دوه[۲]
شونډې. ۱۰- او موږ هغه ته دواړه لارې وښودلې. ۱۱- بیا هغه د غره
په څوکه ور پورته نه شو. ۱۲- او ته په څه پوهېږې چې هغه څوکه څه
ده. ۱۳- د غاړې (غلام) آزادول. ۱۴- یا د لوږې په وخت خوراک

ورکول. ۱۵- خپلوان يتيم ته. ۱۶- يا په ځمکه ناست محتاج ته. ۱۷- بيا هغه په هغو خلکو کې وي چې ايمان يې راوړ او يو بل ته يې د صبر او خواخوږۍ نصيحت وکړ. ۱۸- همدا خلک بختور دي. ۱۹- او څوک چې زموږ له آيتونو منکر شول، هغوی بدبخته دي. ۲۰- په هغوی به اور خپور شوی وي.

## سوره الشّمس ۹۱

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- قسم دی په لمر او د هغه په خپرېدونکې رڼا. ۲- او سپوږمۍ چې په لمر پسې راځي. ۳- او ورځ چې هغه يې روښانه کړي. ۴- او شپه چې هغه يې پټه کړي. ۵- او آسمان او څنګه يې چې هغه جوړ کړ. ۶ او ځمکه چې څنګه يې هغه هواره کړه. ۷- او ژوندی (نفس) چې څنګه يې جوړ کړ. ۸- بيا يې پوهه ورکړه، د هغه د بدۍ او د هغه د نېکۍ. ۹- کامياب شو چا چې هغه پاک کړ. ۱۰- او نامراده شو چا چې ناپاک کړ. ۱۱- ثمود د خپلې سرکشۍ په اساس دروغ وبلل. ۱۲- کله چې د هغوی تر ټولو لوی بدبخت ودرېده. ۱۳- نو د الله رسول ورته وويل چې د الله له اوښې او د هغې له اوبو خبردار (اوسه). ۱۴- نو هغوی دا دروغجن وباله، بيا يې اوښه مړه کړه، بيا د هغوی رب په هغوی هلاکت نازل کړ، بيا يې ټول برابر کړل. ۱۵- هغه نه وېرېږي چې وروسته به څه کېږي.

## سوره الليل ۹۲

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- قسم دی په شپې چې کله خپره شي. ۲- او ورځ چې کله روښانه شي. ۳- او هغه چې هغه پيدا کړل نر او ښځه. ۴- چې ستاسې کوششونه

مختلف دي. ۵- نو چا چې (صدقه) ورکړه او ووېرېده. ۶- او نیکي یې رښتیا وګڼله. ۷- نو هغه ته به موږ د آساني لارې سهولت ورکړو. ۸- او چا چې بخل وکړ او بې پروا شو. ۹- او نیکي یې دروغ وبلله. ۱۰- نو موږ به ورته د سختې لارې سهولت ورکړو. ۱۱- او د هغه مال به د هغه په کار نه شي چې کله کندې ته وغورځېږي. ۱۲- بېشکه زما مسوؤلیت لار ښودل دي. ۱۳- او بېشکه زموږ په اختیار کې دي آخرت او دنیا. ۱۴- نو ما تاسې ووېرولئ د اور د لمبو نه. ۱۵- په هغه کې به هغه غورځېږي چې ډېر بدبخته وي. ۱۶- چا چې دروغ بللي او مخ یې اړولی. ۱۷- او موږ به هغوی وساتو چې ډېر وېرېدونکي وي. ۱۸- چې خپل مال ورکوي د پاکۍ موندلو لپاره. ۱۹- او له سره د هېچا احسان نشته چې هغه یې بدله خلاصول غواړي. ۲۰- مګر یوازې د خپل الله د خوشحالولو لپاره. ۲۱- او زر به هغه خوشحاله شي.

## سوره الضحی ۹۳

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- قسم دی په رڼا ورځ. ۲- او شپه چې کله خپره شي. ۳- ستا رب ته نه یې پرېښی او نه له تا بېزاره شوی. ۴- او یقیناً آخرت تاسې لپاره له دنیا غوره دی. ۵- او ډېر زر به (یې) الله تاته درکړي او ته به راضي شې. ۶- ایا الله ته یتیم ولیدې، بیا هغه تاته ځای در نه کړ. ۷- او ته یې چې پلټونکی ولیدې نو تاته یې لاره در وښودله. ۸- او ته یې چې نادار ولیدې نو ته یې غني کړې. ۹- نو ته په یتیم سختي مه کوه. ۱۰- او سوالګر مه رټه. ۱۱- او د خپل رب نعمت بیان کړه.

## سوره النشراح ۹۴

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- ایا موږ ستا سینه تا لپاره پرانیستې نه ده. ۲- او ستا هغه بوج مو لرې کړ. ۳- چې ستا ملا یې کږه کړې وه. ۴- او موږ ستا شان اوچت کړ. ۵- نو له مشکل سره آساني شته. ۶- بېشکه مشکل سره آساني شته. ۷- نو ته چې کله اوزګار شې محنت کوه. ۸- او خپل رب ته توجه ساته.

## سوره التین ۹۵

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- قسم دی په تین (اینځر) او زیتون. ۲- او په طور سینا. ۳- او په دې امین ښار. ۴- موږ انسان په ښه شان پیدا کړی دی. ۵- بیا موږ هغه تر ټولو ښکته وغورځاوه. ۶- خو چا چې ایمان راوړ او نېک عملونه یې وکړل نو هغوی ته نه ختمېدونکی اجر دی. ۷- نو څه شي تا د بدلې تر لاسه کولو په هکله انکاري کوي. ۸- ایا الله تر ټولو حاکمانو لوی حاکم نه دی.

## سوره العلق ۹۶

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- ولوله د خپل رب په نوم چې پیدا یې کړل. ۲- انسان یې له علق پیدا کړ. ۳- ولوله او ستا رب ډېر کریم دي. ۴- چې علم یې وښود په قلم. ۵- انسان ته یې هغه څه وښودل چې هغه پرې نه پوهېده. ۶- هېڅکله نه، انسان سرکشي کوي. ۷- په دې خاطر چې هغه ځان بې نیازه ګڼي. ۸- بېشکه ستا رب ته ستنېدل دي. ۹- ایا تا لیدلی هغه کس چې منع کوي. ۱۰- یو بنده چې کله هغه لمونځ کوي. ۱۱- ته څه خبر یې، که هغه په

هدايت وي. ۱۲- يا د وېرې خبره ښيي. ۱۳- ته څه خبر يې که هغه دروغ بللي وي او مخ يې اوړولی وي. ۱۴- ايا هغه نه دی پوه شوی چې الله ګوري. ۱۵- هېڅکله نه، که هغه منع نه شو نو موږ به يې د تندي له وېښتو را ونيسو او را کاږو. ۱۶- هغه تندی چې دروغجن، ګنهګار دی. ۱۸- اوس دې هغه خپل ملاتړي را وغواړي. ۱۸- موږ به هم د دوزخ ملايکې را وغواړو. ۱۹- هېڅکله نه، د هغوی خبره مه منه او سجده وکړه او نږدې شه.

## سوره القدر ۹۷

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- موږ دا د قدر په شپه نازل کړی دی. ۲- او ته څه پوهېږې چې د قدر شپه څه ده. ۳- د قدر شپه له زرو مياشتو غوره ده. ۴- ملايکې او روحونه په دې (شپه) د خپل رب په اجازه ښکته کېږي، له هر حکم سره. ۵- هغه شپه ټوله سلامتي ده، تر سهار راتللو پورې.

## سوره البينه ۹۸

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- په اهل کتابو او مشرکينو کې چې چا انکار کړی، هغوی تر هغې نه را منع کېږي چې تر څو ورته ښکاره دليل را نه شي. ۲- د الله له طرفه يو رسول چې پاکې صحيفې ولولي. ۳- چې سم مضامين په کې ليکلي وي. ۴- او څوک چې اهل کتاب وو هغوی د واضح دليل له راتګ سره بدل شول. ۵- سره د دې چې هغوی ته دا حکم شوی وو چې د الله عبادت دې وکړي. د هغه لپاره دې دين خاص کړي. هغه ته دې وقف شي او لمونځ دې قايم کړي او زکات دې ورکړي، او همدا سم دين دی. ۶-

بېشکه په اهل کتابو او مشرکینو کې چې کومو خلکو کفر وکړ هغوی به د دوزخ اور ته غورځېږي، په هغه کې به تل اوسېږي، دا خلک بدترینه مخلوق دی. ۷- چا چې ایمان راوړ او نېک کارونه یې وکړل، هغه خلک بهترین مخلوق دی. ۸- د هغوی بدله د هغوی له رب سره تلپاتې باغ دی چې ور لاندې به نهرونه بهېږي، هغوی به په کې د تل لپاره اوسېږي. الله له هغوی راضي او هغوی له الله راضي، دا د هغه کس لپاره چې د خپل رب نهووېرېږي.

## سوره الزلزال ۹۹

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- کله چې ځمکه په شدت وخوځول شي. ۲- او ځمکه خپل پېټی را وباسي او بهر (یې) را وغورځوي. ۳- او انسان به ووایي چې په دې څه وشول. ۴- په هغه ورځ به دا خپل حالت بیان کړي. ۵- ځکه چې ستاسې د رب به ورته همدا حکم وي. ۶- هغه ورځ به خلک جدا جدا را وځي، چې د هغوی اعمال ور وښودل شي. ۷- نو چا چې د ذرې هومره نېکي کړې وي، هغه به وګوري. ۸- او چا چې د ذرې هومره بدي کړې وي، هغه به وګوري.

## سوره العادیات ۱۰۰

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- قسم دی په هغو آسونو چې شنهېږي او ځغلي. ۲- بیا په نعل لګېدو سپرغۍ کونکي. ۳- بیا د سهار په وخت چاپه اچونکي. ۴- بیا په هغه کې ګرد پورته کونکي. ۵- بیا هغه په پوځ ننوتونکي. ۶- بېشکه انسان د خپل رب ناشکره دی. ۷- او هغه پخپله په دې ګواه دی. ۸- او هغه د مال

(ښتمنۍ) په مینه کې ډېر شدید دی. ۹- ایا هغه نه دی خبر په هغه وخت چې له قبرونو به راویستل کیږي. ۱۰- او را وبه ویستل شي څه چې په زړونو کې دي. ۱۱- بېشکه په هغه ورځ به د هغوی رب ښه باخبره وي.

## سوره القارعه ۱۰۱

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- او هغه وهونکی (مصیبت) ۲- څه شی دی هغه وهونکی. ۳- او ته څه پوهیږی چې څه دی هغه وهونکی. ۴- په کومه ورځ به چې خلک د پتنګانو غوندې خواره واره وي. ۵- او غرونه به د رنګه وړیو غوندې ووهل شي. ۶- بیا چې د چا تله درنه وي. ۷- هغه به په زړه‌پورې آرام کې وي. ۸- او د چا چې تله سپکه وي. ۹- نو د هغه ځای کنده ده. ۱۰- او ته څه پوهیږي چې هغه څه شی دی. ۱۱- د اور لمبې.

## سوره التکاثر ۱۰۲

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- د ډېر (مال) غوښتو حرص تاسې غافله کړي یئ. ۲- تر دې چې تاسې قبرونو ته ورسیږئ. ۳- هېڅکله نه، تاسې به زر پوه شئ. ۴- بیا هېڅکله نه، تاسې به ډېر زر پوه شئ. ۵- هېڅکله نه، که تاسې په یقین سره پوهېدای. ۶- چې تاسې به حتماً دوزخ ګورئ. ۷- بیا به تاسې هغه د یقین په سترګه وګورئ. ۸- بیا به هغه ورځ یقیناً له تاسې د نعمتونو په هکله حتماً پوښتنه کیږي.

## سوره العصر ۱۰۳

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.

۱- قسم دی په زمانې. ۲- بېشکه انسان په تاوان کې دی. ۳- مګر هغه خلک چې ایمان یې راوړ او نیک عمل یې وکړ او یو بل ته یې د حق نصیحت وکړ او یو بل ته یې د صبر نصیحت وکړ.

## سوره الهمزه ۱۰۴

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- هلاکت دی هر پېغور ورکونکي او عیب لټونکي ته. ۲- چې مال یې راټول کړ او په شمېر یې کېښود. ۳- هغه داسې ګڼي چې مال به یې تل ورسره وي. ۴- هېڅکله نه، هغه به وغورځول شي ځپونکي ځای ته. ۵- او ته څه پوهېږې چې هغه ځپونکی ځای څه دی. ۶- د الله غړمبېدونکی اور. ۷- چې تر زړونو به رسېږي. ۸- هغه به ورته بند کړی شي. ۹- په لوړو وړو ستنو کې.

## سوره الفیل ۱۰۵

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- ایا تاسې ونه لیدل چې ستاسې رب د فیل له خاوندانو سره څه وکړل. ۲- ایا هغه د هغوی تدبیرونه یې ضایع نه کړل. ۳- او په هغوی یې مرغۍ ور ولېږلې سیل په سیل. ۴- چې په هغوی یې پاخه شوي کاڼې غورځول. ۵- بیا الله هغوی د خوړل شویو بوسو غوندې کړل.

## سوره قریش ۱۰۶

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.

۱-په دې خاطر چې قریشو الفت پیدا کړ. ۲- د ژمي او اوړي له سفر (سره) الفت. ۳- نو هغوی باید د دې کور د رب عبادت وکړي. ۴- چې دوی ته یې په لوږه کې خواړه ورکړل او په وېره کې یې امن ورکړ.

## سوره الماعون ۱۰۷

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- ایا تا نه دی لیدلی هغه کس چې د عدل ورځ دروغ ګڼي. ۲- هغه دی چې یتیم ځوروي. ۳- او مسکین ته د خوړو ورکولو ترغیب نه کوي. ۴- نو هلاکت دی د هغه لمونځ کونکو لپاره. ۵- چې د خپل لمونځ نه غافل دي. ۶- چې ریا کوي. ۷- او د عادي ضرورت څیزونه هم نه ورکوي.

## سوره الکوثر ۱۰۸

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- موږ تاته کوثر عطا کړ. ۲- نو ته د خپل رب لپاره لمونځ کوه او قرباني کوه. ۳- بېشکه ستا دښمن بې نومه بې نښانه دی.

## سوره الکافرون ۱۰۹

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- ووایه چې ای منکرانو. ۲- زه د هغو عبادت نه کوم چې تاسې یې عبادت کوئ. ۳- او نه تاسې د هغه عبادت کونکي یئ چې زه یې عبادت کوم. ۴- او زه د هغه عبادت کونکی نه یم چې تاسې یې عبادت کوئ. ۵- او نه تاسې د هغه عبادت کونکي یئ چې زه یې عبادت کوم. ۶- تاسې لپاره ستاسې دین دی او ما لپاره زما دین.

## سوره النصر ۱۱۰

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- کله چې د الله مرسته راشي او فتح. ۲- او ته به وګورې چې خلک به د الله دين ته ننوځي ډلې ډلې. ۳- ته د خپل رب تسبيح کوه د هغه له حمد سره او له هغه بخشش غواړه، بېشکه هغه ډېر بښونکی دی.

## سوره اللهب ۱۱۱

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- د ابولهب لاسونه دې مات شي او هغه دې هلاک شي. ۲- نه دې د هغه مال د هغه په کار شي نه هغه چې ګټلي يې دي. ۳- هغه به زر د اور لمبو کې پرېوځي. ۴- او د هغه مېرمنه هم چې په سر خاشاک ګرځوي. ۵- په غاړه يې د کجورو له ونې جوړه کلکه رسۍ وي.

## سوره الاخلاص ۱۱۲

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- ووايه، هغه الله يو دی. ۲- الله بې نيازه دی. ۳- نه د هغه څوک اولاد دی او نه هغه د چا اولاد دی. ۴- او د الله هېڅ سيال نشته.

## سوره الفلق ۱۱۳

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- ووايه زه پناه غواړم د سهار د رب. ۲- د هر شي له شره چې هغه پيدا کړی. ۳- او د تيارې له شره کله چې هغه خپره شي. ۴- او په غوټو (ګنډو) کې د پوکي کونکو له شره. ۵- او د حاسد له شره، کله چې هغه حسد کوي.

## سوره الناس ۱۱۴

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان او د رحم خاوند دی.
۱- ووایه، زه پناه غواړم د خلکو د رب. ۲- د خلکو د پاچا. ۳- د خلکو د معبود. ۴- د هغه له شره چې وسوسه واچوي او پټ شي. ۵- چې د خلکو په زړونو کې وسوسه اچوي. ۶- د جناتو له ډلې، او د انسانانو له ډلې.

قرآن د خدای کتاب دی. دا په بشپړه توگه په خپل اصلي عربي ژبه کې ساتل کيږي، د داسې کتاب ژباړه نشي کولی د اصلي کتاب ځای ونيسي. خو د دې مانا دا نه ده چې هغه څوک چې په عربي نه پوهيږي په قرآن نه پوهيږي. قرآن په ظاهره په عربي ژبه کې دی، خو په حقيقت کې د فطرت په ژبه کي دی.

هر کتاب يوه موضوع لري. د قرآن موضوع دا ده چې انسان د خدای له تخليقي پلان څخه خبر کړي. يعنی انسان ته بايد وويل شی چې خدای دا دنيا ولی پيدا کړی ده؟ په ځمکه کې د انسان د اوسيدلو موخه څه ده، د مرگ څخه مخکې په ژوند کې انسان ته څه اړتيا ده؟ او د مرگ نه وروسته په ژوند کې به د انسان سره څه کيږي. انسان يو ابدي مخلوق دی، سفر يې له ژوند او مرگ وروسته هم دوام لري قرآن د ژوند د دې ټول سفر لارښود دی.

www.goodwordbooks.com
www.cpsglobal.org